بسم الله الرحمن الرحيم

# د سرور کائنات ﷺ ژوند

ترتیب

الحاج ملا [illegible]

المكتبة الغفارية

کانسی روڈ کوئټه

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم اللہ الرحمن الرحیم

کفایت دینی کتب خانہ

حنفی شافعی

کفایت اللہ ابن صدیق

واٹس ایپ گروپ ٹیلی گرام چینل

اس گروپ میں کتابیں اہل السنۃ والجماعت، حنفی، شافعی، مالکی، حنبلی، دیوبند ، علماء حق کے عقائد کے مطابق ہوں گی مختلف زبانوں میں اسلامی کتابیں پشتو عربی اردو فارسی جیسے تفسیریں، فتاویٰ درسی کتب خارجی کتب و غیرہ۔

کفایت اللہ ابن صدیق

easypaisa

+923052488551
+923247442395

مالکی حنبلی

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

لا اله الا الله محمد رسول الله

# د سرور کائنات صلی الله علیه وسلم ژوند

## ددریم ټوک

اصلاح سوې نسخه

تألیف :

الحاج ملا عنایت الله "عِلمي" ابن مولانا محمد انور رحمة الله علیه

المکتبة الغفاریة ارګ بازار کندهار افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټول حقوق د ليکوال سره خوندي دي

**د کتاب پېژندنه:**

| | | |
|---|---|---|
| د کتاب نوم | :: | د سرور کائنات صلی الله علیه وسلم ژوند |
| تألیف | :: | الحاج ملا عنایت الله "علمي" |
| | | ابن مولانا محمّد انور رحمة الله علیه |
| خپروونکی | :: | پخپله مؤلف. |
| کمپوزر | :: | پخپله مؤلف. |
| ۱تم چاپ | | ۱۳۹۵ |

دغه کتاب او د ليکوټکي نور کتابونه په پاکستان کي په لاندي ځايو کي تر لاسه کيږي:

- مکتبهٔ رشيديه: سرکي روډ کويټه.
- مکتبهٔ محمّديه: شاپ نمبر ۱۴ گرو مندر بنوري ټاون کراچي.
- مکتبة القرآن والسّنة: محله جنگي پشاور.

المكتبةُ الغَفّاريةُ ارگ بازار کندهار افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

الله أكبر

بسم الله الرحمن الرحيم

(c) ketabton.com: The Digital Library


بسم الله الرحمن الرحیم

## د خیبر د دوهمې حصې فتحه کېدل

رسول الله ﷺ د مسلمانانو سره د خیبر هغه بلې دوهمې منطقې ته چې کُتیبه ورته ویل کېده ورغلی ځکه د خیبر اوله حصه چې نِطاة او شق وه تېوله فتحه سوه، اوس نو دغه دوهمه منطقه رسول الله ﷺ او مسلمانانو محاصره کړه، رسول الله ﷺ و فرمایل: منجنیق هم راکش کړی ځکه منجنیق د قلاوو د نیولو دپاره ډېر اهمیت لري او ډېر کار ځني اخیستل کیږي، اوس نو دغه تېوله مسافه منجنیق کَشَوَل کیږي.

مسلمان ورونو! دغه یوه شي ته ډېر متوجه سی په عربي کي مثل دی چې وایي: (الحِکمةُ ضالة المؤمن) یعني: حِکمت د مسلمان ورک سوی شئ دی، هر چیري چې یې پیدا کړي منګولي پوري نیسي، هر چیري چې فن او حِکمت پیدا سي، مسلمان هغه اول حقداره او د دې مستحِق دی چې کار ځني واخلي او د خپل ځان په فایده یې استعمال کړي، مومن مسلمان د ساینس او تکنالوژي، تخنیک او حکمت، طب او ډاکتري په مقابله کي نه دریږي.

مسلمانانو منجنیق نه پېژندی خو کله چې په لاس ورغلی سمدستي یې د هغه په استعمالولو شروع وکړه، نو په هر شي کي چې د مسلمانانو ګټه او فایده وي هغه باید ژر تر ژره زده او استعمال کړي حتّی د هغه په استعمالولو کي ځنډ او تاخیر هم باید و نه سي، نن ورځ هم طب او تخنیک زده کړی، ساینس او تکنالوجي زده کړی، د اسلام او وطن د لوړوالي او ترقۍ دپاره یې استعمال کړی څو ترڅو به مو مشین آلات او دواوي د کفري ملکو څخه راځي؟ څو تر څو به د تعلیم او علاج دپاره کفري ملکو ته سفرونه کوو؟ الله ته وګورئ که د کفارو تقلید کوئ په موډ او فېشن کي یې مه کوئ، په بد اخلاقي او عیاشي کي یې تقلید مه کوئ، د حجاب په غورځولو او په بې ستري کي یې تقلید مه کوئ، په علم او تخنیک کي ځانونه پسي ورسوئ، بلکه باید تر هغو د مخه

(c) ketabton.com: The Digital Library


سی، لکه څرنګه چې د اسلام په اولو قرنو کې هم داسې وه، یهودو او نصاراوو اسلامي ملکو ته د زده کړې او تعلیم دپاره سفرونه کول، خو په کراره کراره یې زموږ د غفلت څخه ګټه اخیستل په موږ کې یې فسق او فساد نشر کړه، له خپله دینه یې لیرې کړو، په فحشاء یې مشغوله کړو، پوهه او تعلیم دوی را څخه یو وړه، په نتیجه کې یې استعمار راباندې شروع کړې، اوس هم فُرصه او موقع سته د غفلت له خوبه را ویښ سی د خپلو نوو نسلو اصلاح کولو ته متوجه سی د تاریخ د بد نامیو او الٰهي عذابو څخه وبېرېږي.

*بیرته قصې ته راسه!*

مسلمانانو د خیبر و دوهمې حصې ته منجنیق وروستی او د یهودو قلا یې محاصره کړه، خو یهود یې د قلا څخه په غشو ولې او د قلا څخه نه را وزې.

رسول الله ﷺ په یوه فارغه وخت کې هغه غنیمتونه وېشل چې د نزار د قلا څخه مسلمانانو ته په لاس ورغلي وه، دغه د غنیمتو د وېشلو په وخت کې یو صحرایي عرب و رسول الله ﷺ ته راغلی او مسلمان سو، رسول الله ﷺ امر وکړی چې ده ته هم په دغه غنیمتو کې حصه ورکړی نو خود مسلمانانو څه مال ورکړی، صحرایي و ویل: دا څه شي دي چې ما ته مو راکړه؟ رسول الله ﷺ ویل: دا ستا حصه ده، صحرایي و ویل: ما د دغه مال دپاره ستا متابعت نه دی کړی، یعني: زه د غنیمتو دپاره نه یم مسلمان سوی، بلکه ما د دې دپاره ستا متابعت کړی دی چې پر دغه ځای په غشي و ویشتل سم (په ګوته یې خپلې غاړې ته اشاره وکړه) او د دغې لازې جنت ته داخل سم، رسول الله ﷺ و فرمایل: که ته د الله جل جلاله سره صادق وې هغه رب به ستا تصدیق وکړي، لږ وخت وروسته مسلمانانو د حملې إراده وکړه او دغه صحرایي هم ور سره ملګری دی، هلته بیا یهودو په غشو ویشتل شروع کړه او دغه صحرایي پر هغه ځای په غشي و ویشتل سو کوم چې ده په ګوته اشاره ورته کړې وه، د الله جل جلاله قدرت دی، د ده د مسلمانېدلو څو لحظې وروسته پر هغه ځای په غشي و ویشتل سو کوم چې ده اشاره ورته کړې وه او شهید و وژل سو، نو یې و رسول الله ﷺ ته راوړی رسول الله ﷺ و فرمایل: آیا هغه نفر دی دا په خپله هغه سړئ دی؟ ویل هو، رسول الله ﷺ د ده د غاړې و هغه ځای ته وکتل چې دغه صحرایي اشاره ورته کړې وه،

(c) kotabton.com: The Digital Library

واقعاً هم عیناً په هغه ځای کي غشی بند ؤ، رسول الله ﷺ و فرمایل: دئ د الله جل جلاله سره صادق ؤ نو الله جل جلاله هم د ده تصدیق وکړی، بیا نو رسول الله ﷺ دعاء ورته وکړه ویل: الهي دا ستا بنده دی او ستا په لار کي مهاجر را ووتی او ستا په لار کي شهید و وژل سو او زه پر دغه شاهد یم.

د صحابهٔ کرامو مشران چي دلته حاضر وه هغه وایي: زموږ د هر یوه دا تمنّا او خواهش وو چي کشکي موږ د ده پر ځای وای، سبحان الله! څو لحظې عمر په اسلام کي او بیا شهادت او بیا رسول الله ﷺ پر ده شاهدي آداء کوي، دا څومره لوړه درجه او عظیم مقام دی چي یو څوک یې په څو لحظو کي تر لاسه کوي، جنت و هغه چا ته آسانه دی چي الله جل جلاله یې ورته آسانه کړي، خو زموږ په عقیده او عمل، صدق او اخلاص پوري هم تعلق لري، دا سي نه لکه د نن ورځي ځیني مسلمانان چي د ده خبري او د ده قیافه د ده د عمل او د ده د معاملې سره مځکه او آسمان فرق لري.

کله چي رسول الله ﷺ غنیمتونه وېشل د هغو مریضانو حصه یې هم کښېښوول کوم چي په حدیبیه کي یې ګډون کړی ؤ او اوس خیبر ته د ناروغۍ په سبب نه دي حاضر سوي، هغه نفر یې هم پر حاضرو نفرو حساب کړه او د هغو کسانو حصه یې هم کښېښوول چي په حدیبیه کي حاضر سوي وه او بیا وفات سوي وه او هغو نفرو ته یې هم حصه ورکړه چي په دغه خیبر کي شهیدان سوي وه، د هغو د کورنیو دپاره یې حصه جلا کړه، مقصد دا چي رسول الله ﷺ د غنیمتو په وېشلو کي د ټولو کسانو مراعت وکړی.

دغه د غنیمتو د وېشلو په وخت کي د غطفان لښکر بیا را ورسېدی، عُیینه (مُطاعِ احمق) او پنځه زره نفره لښکر ور سره دی را ورسېدل، رسول الله ﷺ غنیمتونه وېشي، عُیینه اجازه وغوښتل چي د رسول الله ﷺ سره وګوري اجازه ورکول سوه عُیینه چي د غنیمتو وېش ولیدی پوه سو چي د خیبر خبره خلاصه سوه، نو یې رسول الله ﷺ ته وویل: یا محمّد! ﷺ ما ته هم د دغه مکافات را کړه چي د یهودو ملګرتیا مي پرېښوول او زه ولاړم، یعني: ما ته هم په دغه غنیمتو کي څه را کړه، رسول الله ﷺ و فرمایل: یا عُیینه! تا یهود د هغي نارې په سبب پرېښوول هغه چي یوه نفر ناري کړه چي د خپل قوم ساتنه وکړی، عُیینه پوه سو چي رسول الله ﷺ په قصه خبر دی،

(c) ketabton.com: The Digital Library


د مخه د ده دا خیال نه ؤ چي رسول الله ﷺ دي زموږ د بیرته تللو په سبب خبر وي، بیا یې و ویل: یا محمّد! ﷺ خیر دی ته کریم یې سخي او جواد یې، بیا هم یو شئ راکړه، رسول الله ﷺ و فرمایل: ذو رقبه یې ستا، عُیینه ویل: مقصد دي څه دی؟ رسول الله ﷺ و فرمایل: یا عُیینه! ته تېره شپه بیده وې او خوب دي لیدی چي زما څخه په غنیمتو کي حصه غواړې او ما درته و ویل: ذو رقبه یې ستا، عُیینه ته یې هغه د ده خوب و وایه، عُیینه په تعجب کي سو چي دا څه قصه ده؟ ویل: هو ما خوب ولیدی! ښه اوس ذو رقبه راکړه، رسول الله ﷺ و فرمایل: ذو رقبه یو خالي غر دی شئ پکښي نسته ورسه وایې خله.

نو عُیینه مطاع احمق ته هیڅ نه ور ورسېدل، نه په غنیمتو کي حصه او نه هغه تر جنګ د مخه چي رسول الله ﷺ ورکول چي ویل: د خیبر د یوه کال مېوې واخله او بیرته ولاړسه، عُیینه د خپلي بیعقلۍ په سبب خالي لاس پاته سو.

اوس چي عُیینه ولیده چي د مسلمانانو څخه هیڅ په لاس نه ورغله نو بیا د یهودو قلا ته دننه ورغلی او هغه و جنګ ته تشویقوي، وایي: صبر وکړی تینګ سی، مقاومت وکړی زه ستاسي سره یم زما سره لښکر را سره دی، یهودو ویل: ستا د لاسه موږ ته مصیبت پېښ دی، ته وې چي بني قریظه دي په حلال کړه، ته وې چي موږ دي پرې ښوولو او ته ولاړې، دا ټوله ستا د لاسه را پېښ دي.

په دغه وخت کي د بني مُرّه د قبیلې مشر او سردار حارث بن عوف هم راغلی غواړي چي حالات و ویني، هغه هم عُیینه ملامتاوه، ویل: که دي د خیبر د یوه کال مېوې اخیستي وای دا ستا دپاره ښه نه وه؟

اوس نو د خیبر د دوهمي حصې (کُتیبه) محاصرې هم څوارلس ورځي دوام وکړی، یهود هیڅ د قلاوو څخه نه را وزي، په دغه څوارلسمه یا آخري ورځ رسول الله ﷺ د دې إراده وکړه چي دوی ته هم منجنیق و دروي، هلته دننه په قلا کي د خیبر پاچا کنانه بن أبي الحُقیق چي زړه یې د بیري ډک ؤ، یوازي دئ نه بلکه ټول یهود په بېره او وارخطایي کي وه، دوی دننه په قلاوو کي دي او قلاوي هم محکمه او مظبوطه قلاوي دي چي څوک نه سي ور تلای، بیا هم بېره او وارخطایي پر غالبه وه،

(c) Ketabton.com: The Digital Library


نو دغه کنانه بن أبي الحُقيق د خيبر پاچا د ده څخه يوه لينډۍ ورسره وه،

ورونړو! غشی او لینډۍ درې شیه دي، لینډۍ هغه کوږ، نیم دائرېي، لرګۍ دی چې دوه سره یې په یوه تناو تړلي دي، چې دا لینډۍ سوه او یو تناو دی چې د لینډۍ په دوو سرو پوري تړل کیږي او یو هم غشی دی چې په تناو کې ایښوول کیږي، اوس کنانه د یهودو پاچا غوارې چې دغه تناو په لینډۍ پوري وتړي، تناو یې د لینډۍ په یوه سر پوري تړلی دی او غواړي چې د تناو دغه بل سر په لینډۍ پوري وتړي، مګر د ډيري بيري څخه رېږدي او تناو نه سي تړلای، دا یې د پاچا حال ؤ چې د بيري او رېږدېدلو په سبب په لینډۍ پوري تناو نه سي تړلای نو جنګ به څنګه کوي؟ نو یې د دغه بيري په سبب د تسليمېدلو نيت او إراده وکړه او د دغه کار دپاره یې د يهودو نور مشران را وغوښتل چې مشوره ور سره وکړي، مشران راغله کنانه ورته وويل: خوښه مو نه ده چې د مسلمانانو سره صلحه وکړو؟ هغو هم صلحه خوښه او قبوله کړه.

کنانه بن أبي الحُقيق و رسول الله ﷺ ته حال ولېږی چې زه د خبرو دپاره درکښته کېږم، رسول الله ﷺ د ده غوښتنه قبوله کړه او دئ ورغلی اوس پر صلحه خبري ور سره کوي، يهود غواړي چې د خپل تسليمېدلو دپاره شرطونه کښېږدي د ځان دپاره امتيازاتِ غواړي، رسول الله ﷺ نه شرطونه قبلوي نه امتيازات ورکوي، بيا یې وويل: جزيه به درکوو، رسول الله ﷺ وفرمايل: اوس چې جنګ وسو د جزيې خبري نسته، جزيه ترجنګ د مخه وه اوس صلحه ده او پر هر شي چې اتفاق در سره کوم هغه زما اختيار دی، خبري ډيري وسوې خو په آخر کي اتفاق ته ورسېدل چې هغه اتفاق داسي ؤ:

۱ – هر هغه څوک چې په قلاوو کي دي هغه به نه وژل کيږي او د هغو اولادونه به هغو ته ورکول کيږي.

۲ – ټول يهود به د خپلو اولادو سره د خيبره څخه وزي.

۳ – خپله اسلحه او نقد مالونه به ټول پرېږدي، خاصتاً سره او سپين زر.

دغه شرط چې سره او سپين زر به هيڅ نه وړي د يهودو دپاره تر ټولو شرطو سخت او مشکل ؤ، يعني بېله اسلحې او زرو څخه کوم شئ چې يهود ور سره وړلای سي هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library


دي يُوسي، خو زر او اسلحه به نه وړي.

چي د شرطو خلاصه داسي ده: د خيبر ټول يهود به خيبر پرېږدي، حتّی په جزيرةُ العرب کي به نه اوسيږي بلکه شام ته به فراره کيږي، زر او اسلحه به نه وړي او د دې په مقابل کي به رسول الله ﷺ څوک نه وژني او اولادونه به يې ورايله کوي. خو پر يهودو يې يو بل شرط هم کښېښاوه، چي د خپلو خزانو څخه به هيڅ شئ نه پټوي. يعني: داسي نه چي سپين او سره زر پټ کړي، بلکه مسلمانانو ته به يې ښکاره کوي او تسليموي او که بيا چيري د سرو يا سپينو زرو يوه ټوټه پيدا سي بيا نو هيڅ اتفاق نسته.

يعني: ټول يهود وژل کيږي، پر يهودو دا تاکيد وسو چي نقد مال به نه پټوی.

رسول الله ﷺ دغه شديد شرط په دې سبب پر يهودو کښېښووی چي يهود سرد او سپين زر پټ نه کړي، ځکه ممکنه وه چي يهود زر پټ کړي او د رسول الله ﷺ دا إراده وه چي يهود بايد خپل مالونه ټول تسليم کړي.

اوس نو يهودو قلاوي خلاصي کړې، اسلحې يې تسليم کړې، سره او سپين زر يې تسليم کړه او ځانونه د فراره کېدلو دپاره تياروي، کومه اسلحه چي مسلمانانو ته په دغه آخرنيو قلاوو کي په لاس ورغله هغه داسي وه:

زر نېزې، څلور سوه توري، پنځه سوه لېندۍ او ټول هغه غشي چي موجود وه، دا بېله سرو او سپينو زرو او څلوېښت زره د خرما يا کجور وني، دغه ټول شيان يوازي د کُتيبه څخه وه، دا بېله هغو شيانو څخه وه چي مسلمانانو په نطاة او شق کي اخيستي وه، دغه مالو ته فکر وکړه چي مسلمانانو ته په خيبر کي ور و رسېدل، پر دې ټولو سربېره چي د خيبر په قلاوو کي مسلمانانو ته په لاس ورغلي وه يو هم د تورات ډېري پخواني نسخې وې، مګر يهود رسول الله ﷺ ته ورغله او ويل: يا محمّد! ﷺ دغه زموږ مقدس کتابونه دي دا بيرته موږ ته را کړه، که څه هم د رسول الله ﷺ په وسه پوره وه چي دغه کتابونه څيري کي يا يې و سوځي، ځکه دغه کتابونه تر صلحي د مخه د خيبر په اولو قلاوو کي په لاس ورغلي وه، مګر رسول الله ﷺ مهربانه او بخښونکی ؤ او مسلمانان د اقلياتو سره نرمه او پسته ګذاره کوي، نو يې دغه کتابونه بيرته دوی ته ورکړه، بيا نو يهودو مشوره سره وکړه او رسول الله ﷺ ته ورغله ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

يا محمّد! ﷺ تاسي ته د خيبر ځکه او زراعت داسي نه دي در معلوم لکه موږ ته او په دغه کښتو هم تاسي داسي نه پوهېږی لکه موږ.

واقعاً په خيبرکي دومره کښتونه او باغونه وه چي په ټوله جزيرةُ العرب کي يې مثل نه ؤ يوازي په کُتيبه کي بېله شق او نطاة څخه د خرما څلوېښت زره وني وې، نو ويل: يا محمّد! ﷺ که چيري ستا خوښه وي او موږ د نوکرانو او بزګرانو پر قسم په خيبرکي پرېږدې؟ ځکه يهود اوس په خيبرکي د هيڅ شي مالکان نه دي، نو ويل: فقط د نوکرانو او خدمت ګارانو په شکل غواړو چي پاته سو، د اُجرې او مزدورۍ په مقابل کي به دغه باغونه روزو او موږ تر تاسي ښه په پوهېږو، رسول الله ﷺ هم موافقه ورسره وکړه چي يهود دي په خيبرکي د مسلمانانو په کورو کي فقط نوکران پاته سي، کورونه، ځمکه او باغونه ټول د مسلمانانو دي او دوی د مسلمانانو نوکران دي کارونه به کوي او د دوی مزدوري د خيبر نيم حاصلات دي، هر کال به د خيبر د حاصلاتو څخه په سلو کي پنځوس خپله مزدوري اخلي، لکه زموږ په وطن کي کښتګران.

او دا چي رسول الله ﷺ دوی پرېښوول د هغه اساسي علت دا ؤ چي مسلمانانو د خيبر د روزنې دپاره مريان او نوکران نه درلودل او په خپله مسلمانان په جهاد مشغول وه، نو که مسلمانان ځانونه د خيبر د زراعت په روزلو مشغول کړي جهاد پاته کيږي، نو ځکه رسول الله ﷺ دوی ته اجازه ورکړه چي په دغو کورو کي واوسيږي، کورونه د دوی مِلک نه دی کورونه اصلاً د مسلمانو دي، خو چاره نه وه دوی هم بايد په يوه ځای کي اوسېدلي وای، نو ځکه دوی ته اجازه وسوه چي په دغو کورو کي واوسيږي او د خيبر د زراعت روزنه او مسئوليت پر غاړه واخلي، رسول الله ﷺ امر وکړی چي يهود پرېږدی خپل کارونه دي کوي او په دغو کورو کي دي اوسيږي.

## د أبي الحُقيق يهودي د دوو زامنو وژل

رسول الله د يهودو پاچا کنانه او د هغه ورور رُبيّع را وغوښتل چي د دوی سره د بني النضير د يهودو خزانه ورسره وه، رسول الله ﷺ د هغې خزانې پوښتنه ځني وکړه چي هغه مو څه کړه؟ کنانه انکار وکړی چي نه په هغه خبر يم او نه يې ځای

(c) ketabton.com: The Digital Library


را معلوم دی، خو د یهودو څخه یو بل نفر چې د دغه کنانه د اکا زوی ؤ رسول الله ﷺ ته ورغلی او ویل: ما به کنانه لیدی چې هر سهار به پر دغه خرابه ګرځېدی. رسول الله ﷺ بیا وکنانه ته و ویل: که مې خزانه ستا سره پیدا کړه و دې وژنم؟ کنانه ویل هو، رسول الله ﷺ امر وکړی چې دغه خرابه وکنی، خرابه وکندل سوه او د هغه ځای څخه هغه د دوی د خزانې څه مال را وایستل سو، رسول الله ﷺ د هغه نور پاته مال پوښتنه ځنې وکړه، کنانه بیا هم نه غوارې چې هغه مال ور تسلیم کړي، نو یې کنانه د زبیر رضی الله عنه په لاس ورکړی چې عذاب ورکړه ترڅو چې هغه پاته مال راوړي خو کنانه د پاته مال اقرار نه کاوه، بیا نو رسول الله ﷺ محمّد بن مسلمه رضی الله عنه امر کړی چې کنانه او د ده ورور و وژني، اصلاً د یهودو سره داسې اتفاق سوی ؤ: که چیري په یهودو کې د هر چا سره پټ سوی مال چې سره او سپین زر دې پیدا سود نو ټول یهود وژل کیږي، مګر رسول الله ﷺ د خپل رحم او مهربانۍ په سبب یوازې کنانه او د ده ورور رُبیّع د دغه خیانت او هغه اتفاق پر اساس و وژل، ځکه دوی دوو دغه خیانت کړی ؤ او نور یهود یې پرېښوول، پر دغه سربېره بیا هم یهودو نور زر پټ کړي وه، ځکه مال او پیسې د یهودو د زړه ټوټه ده او بیا په وروسته کې یې په هغو مالو سره تجارت کاوه، خو مسلمانانو په دغه وخت کې نور مال نه کړی ځنې پیدا.

## په زهرو لړل سوی پُسه

اوس د خیبر جنګ خلاص سو او رسول الله ﷺ د خیبر پر شا وخوا خېمې درولي دي چې د یهودو څخه یوه ښځه و رسول الله ﷺ ته ورغله چې نوم یې زینب بنت الحارث ؤ او د سلام بن مشکم ښځه وه، هغه سلام چې د صعب بن زبیر په قلا کې و وژل سو او دغه زینب د مرحب پهلوان وریره وه، دغه ښځه راغله ویل: یا محمّد! ﷺ تا کولای سوای چې د هغه عهد او اتفاق په اساس (چې که سره یا سپین زر پیدا سوه بیا نو ټول یهود وژل کیږي) موږ ټول یهود و وژنې ځکه موږ خیانت کړی ؤ خو تا موږ ته عفوه وکړه، نو ما تا ته یوه مېلمستیا جوړه کړې ده چې دا د هغه شکر دی چې تا موږ نه و وژلو، نو یې رسول الله ﷺ ته خواړه راوړل چې هغه کباب سوی پُسه ؤ او په

زهرو لړل سوی ؤ، ښځي د مخه پوښتنه کړې وه چي د رسول الله ﷺ په پسه کي د کوم ځای غوښي خوښي دي؟ په جواب کي ورته ویل سوي وه چي د رسول الله ﷺ د اوږې غوښي خوښي دي (چي موږ وزر ورته وایو) نو دې د دغه پسه په وزر کي ډیر زهر اچولي وه دغه په زهرو لړل سوی پسه یې و رسول الله ﷺ ته را وړی، رسول الله ﷺ او اصحاب کرام کښېنستل چي دغه پسه و خوري، رسول الله ﷺ یوه ګوله یا لقمه واخیستل په خوله کي یې کښېښوول چي وې خوري صحابهٔ کرامو هم په خوړلو شروع وکړه، اول هغه څوک چي ګوله یا لقمه یې تېره کړه هغه بِشر بن البراء بن معرور ﷺ ؤ، هغه دغه ګوله تېره کړل مګر نورو اصحاب کرامو هغه اوله ګوله چي یې په خوله کي وه هغه یې ژوول، چي رسول الله ﷺ ږغ پر وکړی: خوړل بس کړی.

رسول الله ﷺ هغه خپله ژوولې ګوله تو کړه، البته ډیره لږ توته تېره سوې وه، نو ویل: خورک پرېږدی او د خولې خواړه مو تو کړی، صحابهٔ کرامو و ویل: یا رسول الله! څه پېښه ده؟ رسول الله ﷺ و فرمایل: دغه پسه را ته وایي: ښه متوجه سی (حلال سوی او کباب سوی پسه خبري کوي) ویل: دغه پسه را ته وایي: ما مه خوره زه په زهرو لړل سوی یم.

دا د رسول الله ﷺ معجزه وه حلال سوی او کباب سوی پسه خبري ورته کوي او په حال یې خبروي چي ما مه خوره زه په زهرو لړل سوی یم، بیا یې هغه ښځه را وغوښتل ویل: ولي دي دا کار وکړی؟ هغې و ویل: ما د ځان سره و ویل: که دغه سړئ پاچا ؤ موږ به څني فارغ سوا او که نبي ؤ الله جل جلاله به یې په حال خبر کړي.

په اول کي رسول الله ﷺ دغي ښځي ته عفوه وکړه، خو بِشر ﷺ د دغو زهرو د خوړلو په سبب په اول کي شَل سو او بیا څه موده وروسته وفات سو، بیا نو رسول الله ﷺ دغه ښځه د بِشر ﷺ په قصاص کي و وژل او په خپله رسول الله ﷺ پاته ټول عمر د دغو زهرو څخه تکلیف لیدی، همېشه به څه موده ترمنځ یا په کال کي یو وار د دغه زهرو په سبب درد ورته پېښېدی او رسول الله ﷺ به ویل: همېشه د هغه پسه د خوړلو څخه چي ما د خیبر په ورځ وخوړی درد حسوم.

او په هغه حدیث شریف کي چي امام بخاري یې د حضرت عائشې رضي الله عنها څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



روايتوي چي رسول الله ﷺ د رحلت يا وفات په ناروغي کي و فرمايل:

« مَا أَزَالُ أَجِدُ أَلَمَ الطَّعَامِ الَّذِي أَكَلْتُ بِخَيْبَرَ فَهَذَا أَوَانُ وَجَدْتُ انْقِطَاعَ أَبْهَرِي مِنْ ذَلِكَ السُّمِّ » [رواه: البخاري]

ژباړه: همېشه د هغو خوړو درد حسوم چي ما په خيبر کي وخوړل نو دا هغه وخت دی چي له هغو زهرو څخه ما ته زما د أبهر پرې کېدل پېښ سوه. (أبهر مي پرې سو)

أبهر هغه رګ يا شريان دی چي د زړه وينه پکښي تېرېږي، نو د رسول الله ﷺ د رحلت په وخت کي د ده ﷺ د زړه رګ د هغو زهرو د خوړلو په سبب پرې يا قطعه سو چي په خيبر کي يې خوړلي وه.

ډېر علماء کرام وايي: دا د رسول الله ﷺ شهادت دی، دئ ﷺ دغه د خيبر د زهرو په واسطه شهيد وفات سو، رسول الله ﷺ لره ټول صفتونه پوره وه حتّى شهيد هم دی.

اوس نو د خيبر جنګ او غزاء په پوره ډول د هره اړخه پای ته ورسېدل.

په خيبر کي د مسلمانانو د شهيدانو شمېر (١٦) نفره دی، رضی الله تعالى عنهم اجمعين او د يهودو د وژل سوو کسانو شمېر (٩٣) نفره دی.

کله چي د خيبر ټول جنګ خلاص سو که ګوري د سپرو يوه ډله را رهي ده چي دا د مسلمانانو هغه مهاجرين وه چي حبشې ته تللي وه او اوس بيرته راغله ځکه رسول الله ﷺ عَمرو بن اُميه الضُمري ﷜ ور لېږلی ؤ چي بيرته راسی، دوی هم د رسول الله ﷺ د امره سره سم د حبشې څخه را رهي سوه او مديني منورې ته ورسېدل، هلته يې وليدل چي رسول الله ﷺ د مديني منورې څخه د خيبر د فتحه کولو دپاره تللی دی نو دوی هم پسي ور رهي سوه چي د خيبر په فتحه کولو کي ګډون وکړي، مګر خيبر ته په داسي وخت کي ور ورسېدل چي خيبر فتحه سوی ؤ او اوس چي يې د رسول الله ﷺ سره وليدل هغه ﷺ ډېر په خوشاله سو او وې فرمايل:

« ما أدرى بأيهما أنا أفرح ؟ بقدوم جعفر أو بفتح خيبر؟»

يعني: نه پوهېږم چي په کوم يوه خوشالي وکړم يا په کوم يوه خوشاله سم؟

آيا د جعفر ﷜ په راتګ سره ؟ که د خيبر په فتحه سره ؟

او تاسي ته معلومه ده چي د حبشې د مهاجرو مشر جعفر بن أبي طالب ﷺ د حضرت علي ﷺ ورور او د رسول الله ﷺ د اکا زوی ؤ، بیا نو رسول الله ﷺ امر وکړی چي د غنیمتو څخه دي د حبشې و مهاجرو ته هم حصه ورکول سي، ځکه دوی په دغه نیت خیبر ته راغله چي د رسول الله ﷺ سره په جهاد کي حصه واخلي خو دوی په داسي وخت کي خیبر ته ورورسېدل چي خیبر فتحه سوی ؤ.

## د فَدَک د یهودو سره صلحه

تاسي پوهېږی چي په ټوله جزیرةُ العرب کي یهود په څو ځایو کي اوسېدل؟

په جزیرةُ العرب کي د یهودو د استوګني ځایونه پنځه وه چي هغه په داسي ډول سره وه:

١ – مدینه منوره، چي هلته د یهودو هغه درې عمده قبیلې: بني نظیر، بني قینُقاع، بني قُریظه د نورو عربو تر څنګ اوسېدلې.

٢ – خیبر، چي دا د یهودو لوی او اساسي مرکز ؤ او بېله یهودو بل څوک هلته نه وه موجود.

٣ – فَدَک، چي دلته هم یوازي یهود اوسېدل.

۴ – واديُ القرٰی، چي دلته هم یهود اوسېدل خو یو څه لږ مشرک عرب هم ور سره اوسېدل.

۵ – تَیماء، چي دلته هم خالص یهود اوسېدل.

نور نو په ټوله جزیرةُ العرب کي یا بُت پرستان اوسېدل، یا په ځینو ځایو کي نصارا اوسېدل، لکه نجران او ځیني نور ځایونه.

څرنګه چي د مدینې منورې څخه یهود وایستل سوه، خیبر فتحه سو، اوس د فدک نوبت دی، د خیبر تر فتحه کېدلو د مخه کله چي رسول الله ﷺ د مدینې منورې څخه خیبر ته ورسېدی په دغه وخت کي یې مُحَیصه بن مسعود ﷺ د فَدَک و یهودو ته ور ولېږی چي اسلام ته یې دعوت کړي، خو هغو دغه دعوت نه کړی قبول او اوس چي رسول الله ﷺ خیبر فتحه کړی الله جل جلاله د فدک د یهودو په زړو کي بېره ور واچول، نو یې رسول الله ﷺ ته حال ولېږی چي موږ هم داسي صلحه در سره کوو

(c) ketabton.com: The Digital Library


لکه د خیبر یهودو چي در سره وکړه، رسول الله ﷺ هم صلحه قبوله کړه او فدک د مسلمانانو سو، یهود فقط د نوکرانو په شکل هلته په فدک کي اوسیږي.

## د واديُ القریٰ فتحه کېدل

اوس چي رسول الله ﷺ د خیبر د فتحه کولو ځخه فارغه سو او فدک په خپله صلحه قبوله کړه نو د واديُ القریٰ پر طرف رهي سو چي هلته هم یهود اوسېدل او ځه لږو عربو هم ژوند ور سره کاوه، د واديُ القریٰ یهودو د جنګ دپاره پوره آمادګي او تیاري نیولې وه، د مسلمانانو لښکر لا هلته نه وه اړولي چي د یهودو له طرفه د غشو ویشتل شروع سوه، چي په دغه غشي ویشتلو کي د رسول الله ﷺ یو مریئ چي (مُدعِم) نومېدی په غشي و ویشتل سو او و وژل سو، صحابهٔ کرامو و ویل: ده ته دي د جنت مبارکي وي، رسول الله ﷺ و فرمایل: هیڅکله داسي نه ده زما دي قسم په هغه ذات وي چي زما د نفس اختیار د هغه په قدرت کي دی هغه کالئ چي ده د خیبر په ورځ د غنیمتو ځخه واخیستی او د تقسیم یا وېشلو دپاره یې را نه وړی هغه به پرده باندي اور بلوي، خلکو چي د رسول الله ﷺ دغه قول واورېدی نو یوه سړي و رسول الله ﷺ ته د چوتي یوه یا دوې تسمې را وړې، چي دا یې هم تر وېش د مخه د غنیمت د مالو ځخه اخیستي وې او اوس یې د اور له بیري و رسول الله ﷺ ته ور تسلیم کړې، رسول الله ﷺ و فرمایل: د چوتي یوه یا دوې تسمې د اور، یعني: هر هغه ځوک چي د غنیمت هر شئ تر تقسیم د مخه واخلي هغه شئ به د قیامت په ورځ د ده دپاره له اوره ځخه جوړ سي او عذاب به په ورکول کیږي.

د مجاهدینو د پام وړ مسئله: هر هغه شئ چي د دښمن ځخه په غنیمت اخیستل کیږي هغه باید خپل آمر ته تسلیم سي او آمر یې باید په شرعي طریقه پر مجاهدینو و وېشي، که داسي و نه سي هغه شئ به د قیامت په ورځ د هغه د اخیستونکي دپاره د اور سي او ده ته به عذاب په ورکول کیږي او دا هم فرق نه لري چي دغه شئ آمر د ځان دپاره واخلي یا یې افراد واخلي دواړو ته یو قسم جزاء ورکول کیږي.

او بیا رسول الله ﷺ خپل اصحاب د جنګ دپاره تیار او آماده کړه، د لښکر

(c) kotabton.com: The Digital Library


عمومي بيرغ يې سعد بن عُباده ﷺ ته ورکړی، يو بيرغ يې حُباب بن منذر ﷺ ته ورکړی، يو بيرغ يې سهل بن حُنيف ﷺ ته ورکړی او يو بيرغ يې عُباده بن بِشر ﷺ ته ورکړی، بيا يې د واديُ القرٰی يهود و اسلام ته دعوت کړل، خو هغو اسلام نه قبلاوه بلکه د هغو له طرفه يو پهلوان د مبارزې دپاره را ووتی و ده ته زبير بن العوام ﷺ ور ووتی او يهودي يې ووژی.

بيا د يهودو بل پهلوان را ووتی دا هم زبير ﷺ ووژی، د يهودو له طرفه بل پهلوان را ووتی، د هغه د مبارزې دپاره حضرت علی ﷺ ور ووتی او يهودي يې ووژی، ترڅو چې د يهودو له طرفه په دغه مبارزه کې (۱۱) نفره پهلوانان ووژل سوه او د هر پهلوان تر وژلو وروسته به مسلمانانو يهود و اسلام ته دعوتول او هغو به د اسلام د قبلولو څخه انکار کاوه، په دغه ورځ مسلمانانو خپل لمنځونه پر وخت او په جماعت سره آداء کول، هر وخت چې به رسول الله ﷺ لمونځ آداء کړی بيا به يې يهود و اسلام، الله او رسول الله ته دعوت کړه او د هغو تر انکار وروسته به بيا جنګ شروع سو، په دغه ورځ تر مابنامه پوري جنګ وسو، په دا سبا سهار تر لمانځه وروسته بيا جنګ شروع سو خو د لمر د را ختلو سره يهود تسليم سوه او واديُ القرٰی په جنګ سره فتحه سوه، الله جل جلاله مسلمانانو ته د يهودو ډير مالونه او سامانونه په غنيمت ور کړه.

## د تيماء د يهودو سره پر جزيه صلحه

تيماء چې د يهودو بله منطقه وه کله چې د هغه ځای يهودو ته د خيبر د فتحه کېدلو خبر ور ورسېدی او بيا يې د فدک د يهودو اخبار واورېدل او بيا د واديُ القرٰی د يهودو په تسليمېدلو خبر سوه يوازې دا نه چې د مسلمانانو پر ضد يې هيڅ مقاومت و نه کړی بلکه په خپله دوی و رسول الله ﷺ ته حال ولېږی چې موږ نه جنګ غواړو نه صلحه بلکه مسلمانانو ته جزيه ورکوو، رسول الله ﷺ هم د دوی دغه غوښتنه قبوله کړه او پر جزيه يې فيصله ور سره وکړه، رسول الله ﷺ دوی ته د أمان ليک ور وليکی چې د دغه ليک نوشته کوونکی خالد بن سعيد ﷺ ؤ او ليک داسې ليکل سوی ؤ:

دا د محمّد رسول الله ﷺ له طرفه و بني عاديا ته ليک دی چې د دوی ساتنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


د مسلمانانو پر ذمه ده او دوی به مسلمانانو ته جزیه ورکوي، پر دوی نه تجاوز کیږي او نه د خپله ځایه څخه ایستل کیږي، شپه یې د راحت ده او ورځ یې د کار کولو ده.

## د جزیرة العرب څخه د یهودو ایستل

د یهودو ټولي منطقې فتحه سوې او یهود بیا هم د رسول الله ﷺ په وخت او زمانه کي په جزیرةُ العرب کي پاته وه، د حضرت ابوبکر الصدّیق رضي الله عنه د خلافت په دوره کي هم یهود موجود وه خو د حضرت عمر فاروق رضي الله عنه د خلافت په وختو کي په خیبر کي یو مسلمان سړئ د یهودو له طرفه ووژل سو.

دغي قصې ته ښه متوجه سی چي د یوه مسلمان سړي وینه یواړي د هغه وخت و حاکمانو او آمرانو ته نه بلکه په هر وخت کي یې د مسلمانانو و آمرانو ته څومره اهمیت درلودی، د یوه مسلمان د وژلو په سبب وکفارو ته په کومه اندازه جزاء ورکول کېده؟ خو تاسي یې د نن ورځي د حاکمانو او آمرانو د حالاتو سره مقایسه کړی! دغه د عدل ترازو او حکم به تاسي ته پرېږدم، آیا د مسلمان تر ويني بل ارزانه شئ سته؟

حضرت عمر رضي الله عنه په دغه باره کي تحقیقات شروع کړه خو یهود هیڅ حال نه وایي او نه اقرار کوي، یو مسلمان نفر په خیبر کي د یهودو له طرفه وژل سوی دی خو یهود حال نه وايي چي چا وژلی دی، حضرت عمر رضي الله عنه ورته و ویل: که قاتل په لاس را نه کړی تاسي ټول فراره کوم، خو یهود پر خپل انکار ټینګ وه او قاتل یې نه ورښاوه، نو حضرت عمر رضي الله عنه ټول یهود فراره کړه، د خیبر یهود، د فدک یهود، د واديُ القرٰی یهود د یوه مسلمان سړي د وژلو په سبب ټول فراره کړل سوه، بالکل د جزیرةُ العرب څخه وایستل سوه، په ټوله جزیره کي نور یهود نه سوه پاته بېله د تیماء د یهودو څخه، دا ولي پاته سوه؟ ځکه د تیماء یهود په جزیه اوسېدل مال او ملک د دوی ؤ او دوی مسلمانانو ته جزیه ورکول، خو د هغه نورو یهودو سره اول جنګ وسو او بیا په صلحه پاته سوه، د هیڅ مځکي او جایداد مالکان نه وه فقط نوکران او خدمتګاران وه او د هغو اختیار د مسلمانانو په لاس ؤ هر وخت چي یې ایستل کولای یې سوای مګر د جزیې یهودو ته امان ؤ.

(c) ketabton.com: The Digital Library


نو ځکه حضرت عمر فاروق رضي الله عنه د یوه مسلمان د وژل کېدلو په سبب هغه نور یهود تول و شړل او یوازي د تیماء یهود په جزیرة العرب کي پاته سوه. دا د جزیرة العرب څخه د یهودو د ایستلو سِر او سبب ؤ.

پسله هغه چي رسول الله ﷺ او مسلمانانو د یهودو ټولي منطقې فتحه کړې نو د یهودو د منطقو څخه بیرته د مدینې منورې پر طرف رهي سوه، که ګوري په لار کي د غطفان قبیله هغه چي عُیینه بن حِصن یې رئیس ؤ ولاړه ده، د دوی لا تر اوسه و مسلمانانو ته امید سته او غواړي چي پر مسلمانانو حمله وکړي، رسول الله ﷺ ولیدل چي عُیینه اوس هم موږ نه پرېږدي او لا را پسې دی نو یې لښکر امر کړی چي د عُیینه پر طرف درځی، د مسلمانانو لښکر د عُیینه پر طرف ور رهي سو، د الله جل جلاله کارونه دي عُیینه چي د مسلمانانو د لښکر حرکت د ده پر طرف ولیدی په زړه یې ېېره ننوتل او په تېښته یې شروع وکړه، ځکه دئ پوهېدی چي د مسلمانانو دغه کوچنئ لښکر په خیبر کي پر لسو زرو نفرو غالبه سو حال دا چي هغه په قلاوو کي هم وه، نو عُیینه د ځان دپاره فِرار تر قَرار بهتر ولیدی او د لښکره سره وتښتېدی، دا هم هغه الٰهي نصرت دی چي د رسول الله ﷺ سره وعده سوی ؤ.

*اوس به هغه حالات درته بیان سي چي د مکې مکرمې مشرکانو ته د خیبر د فتحي حالات څنګه ورسېدل؟*

یو نفر چي نوم یې حَجاج او مشرک ؤ د خیبر د فتحي په وختَ کي د دغې منطقې په شا وخوا کي موجود ؤ، کله چي یې د خیبر د فتحه کېدلو واورېدل او د اسلام کامیابۍ ور ښکاره سوې نو یې د اسلام سره علاقه پیدا سوه او رسول الله ﷺ ته ورغلی مسلمان سو، خو په دغه وخت کي یې مکې مکرمې ته د تللو إراده هم وه، نو یې رسول الله ﷺ ته و ویل: یا رسولَ الله! زما ډیر مالونه په مکه مکرمه کي د خلکو سره پاته دي غواړم چي ولاړ سم او هغه خپل مالونه را ټول کړم، رسول الله ﷺ ویل: ولاړ سه او خپل مالونه دي د خلکو څخه واخله، حَجاج ویل: بېله درواغ ویلو مالونه نه سم را ټولولای، ویل: وې وایه، نو دغه حجاج هغه اول نفر دی چي د خیبر د منطقې څخه مکې مکرمې ته ځي او قریش هم د خَبَرُو په انتظار دي چي محمّد ﷺ ته به په

(c) ketabton.com: The Digital Library

خیبر کې څه پېښه سوې وي، ځکه د دوی خیال نه بلکه یقین ؤ چې یهود پر مسلمانانو غالبه کېږي، ځکه یهود لس زره د جنګ نفر لري او بیا په قلاوو کي دي، نو څوک پر غالبه کېدلای سي؟ خیر حجاج رهي سو او مکې مکرمې ته ورسېدی او هلته قریش پر را ټول سوه ویل: ها! ژر وایه د خیبر څخه دي څه خبر را وړی دی؟

حجاج ویل: محمّد ﷺ د خپله لښکره سره ماته وخوړه او دئ بندي ونیول سو، ژر ده چې تاسي ته به یې راولي، قریش ډېر خوشاله سوه، مهماني او مبارکۍ شروع سوې، عبّاس بن عبدالمطلب د رسول الله ﷺ اکا چې دلته حاضر ؤ او د حجاج خبرې یې واورېدې د ډېرې خوابدی څخه غځار او بېهوښه سو، زړه یې د رسول الله ﷺ سره ؤ چې هغه څنګه بندي نیول کېږي نو غځار سو خلکو چې را پورته کړی د تنګ یا تللو نه ؤ، خلکو واخیستی او خپل کور ته یې ورساوه.

حجاج و قریشو ته و ویل: د دغه زیرې په مقابل کې هغه زما مالونه چې ستاسي سره دي هغه راکړی، څرنګه چې د حجاج مالونه د تجارانو او نورو خلکو سره پاشلي وه، ویل مالونه مې راکړی چې ولاړ سم په خیبر کې بندي مسلمانان را نیسم او بیا یې په عربو کې خرڅ کړم، قریشو ویل: هو د دغه زیرې په مقابل کې په هر څه ارزې.

حجاج وایي: زما ټول مالونه یې په درو ورځو کې را ټول کړه، زما خیال نه ؤ چې په میاشت یې سره یو ځای کړم مګر د هغه زیرې په بدل کې زما مالونه په درې ورځې را ټول سوه او د دغو ورځو په شروع کې عبّاس ﷺ ته شدیده ناروغي پېښه سوه، تر داسي اندازې چې د ولاړو نه دی او ډېر غمجن دی، اوس غواړې چې د دغه خبر ښه تاکید وکړې نو ویل: تاسي یو وار بیا دغه حجاج راته راولی، حجاج ورغلی او عبّاس ﷺ ورته وایي: ته دغه قصه یو وار بیا په ښه تفصیل سره راته بیان کړه، حجاج ویل: دغه ناست نفر دباندې وباسه، نفر وایستل سوه حجاج و ویل: یا عبّاس! والله محمّد ﷺ په خیر دی یهودو ته یې ماته ورکړه د هغو قلاوې یې فتحه کړې او د یهودو د پاچا لور یې په نکاح کړه ټوله قصه یې په تفصیل سره ورته وکړه، د عبّاس ناروغي ورکه سوه، یو دم جوړ سو ځکه عصبي ناروغي وه د پخوا په شان جوړ روغ سړئ سو، غواړې چې دباندې ور ووزي مګر حجاج ورته و ویل: یا عبّاس! غوښتنه او

خواهش کوم چي دباندي مه وزه ځکه قريش اوس زما مالونه را ټولوي، کله چي دي وليدل چي زه د مکې مکرمې څخه ولاړم بيا ور ووزه او قريش خبر کړه، عبّاس رضی الله عنه ويل: هو دا دي حق دى فقط درې ورځي انتظار درته کوم او بيا قريش خبروم. حجاج ويل صحي ده، حجاج خپل مالونه په درو ورځو کي سره را ټول کړه او بيرته و رسول الله ﷺ ته ورغلى، پسله درو ورځو عبّاس رضی الله عنه هغه خپل ښه کالي واغوستل ځان يې ښه پاک او خوشبويه کړى او قريشو ته ور ووتى، په دغه پاک او سپېځلي شکل پر کعبه شريفه طواف کوي، څرنګه چي ښځه حجاجه تر اوسه بل څوک مکې مکرمې ته نه دى راغلى نو د خيبر صحي او واقعي خبرونه هم نه دى را رسېدلى، قريش په هغه خپله خوشالي کي دي، اوس چي يې عبّاس په دغه فېشن او ښه لباس کي وليدى ويل: إيه يا عبّاس! دا د مصيبت سره مقابله ده؟ يعني: د غم په وخت کي داسي ځان تيارول، دا خپل ځان ته دلاساينه او تسلّي ورکوې؟

عبّاس رضی الله عنه و ويل: يا والله داسي نه ده، قريشو ويل: نو دا درې ورځي چيري وې؟ عبّاس رضی الله عنه ويل: حجاج تاسي خطايستلاست اصلاً قصه داسي او داسي ده، د قريشو زړه ته نه لوېږي نو انتظار کوي چي يو څوک راسي، پسله پنځه ورځي هغه واقعي خبرونه را ورسېدل او قريش وارخطا سوه، پوه سوه چي اسلام ورځ په ورځ کاميابه کيږي او د اسلام دين لوړېږي. *(دا د خيبر قصه وه).*

رسول الله ﷺ او مسلمانانو ته مدينې منورې ته د بيرته تګ په وخت کي دغه يوه کوچنۍ واقعه پېښه سوه چي اوس به درته بيان سي، هغه داسي: کله چي رسول الله ﷺ او مسلمانان بيرته مدينې منورې ته تله، پر لاري يې ټوله شپه تګ وکړى او د شپې په آخره کي د لاري په يوه حصه کي بيده سوه، تر بيدېدلو د مخه رسول الله ﷺ و بلال رضی الله عنه ته و ويل: يا بلال! ته بيداره اوسه چي د سهار لمانځه ته مو راويښ کړې، بلال رضی الله عنه ويل: ښه دى يا رسولَ الله! بلال رضی الله عنه ناست دى او خپل اوښ ته يې تکيه کړې ده، د الله جل جلاله کارونه دي د بلال رضی الله عنه هم په ناستي ستري پټي سوې او بيده سو، د لمر تر راختلو پوري هيڅوک نه سوه را ويښ څو د لمر حرارت را ويښ کړه، اول هغه څوک چي را ويښ سو هغه رسول الله ﷺ وٌ نو ويل: يا بلال! څه درته

(c) Ketabton.com: The Digital Library


ښه سوه؟ بلال ﷺ وویل: یا رسولَ الله! هغه را ته ښه سوه چي تا ته ښه سوې وه. بیا نو رسول الله ﷺ د مسلمانانو سره له دغې شپلې څخه و وتی لږ مخ ته ولاړی او هلته یې په خلکو د سهار لمونځ آداء کړی او رسول الله ﷺ بیر ته مدینې منورې ته کامیابه او فاتح ورسېدی.

## د هجرت په اوم کال کي د ځینو ټولیو لیږل

کله چي رسول الله ﷺ د مثلث د دوو قوي اضلاعو د ماتولو څخه فارغه سو اوس د دریېمي ضلعي د ماتولو وخت را ورسېدی، لکه دمخه چي مو درته وویل: د اسلام او مسلمانانو عمده دښمنان درې ډلي وه، اول قریش، دوهم یهود، دریم هغه صحرایي عرب چي په نجد او شا وخوا کي اوسېدل، د هغو دوو عمده دښمنانو لکه قریش او یهودو د ماتولو او د منځه وړلو حالات خو په تفصیل سره درته بیان سوه، مګر هغه په زړه سخت صحرایي او قبیلوي عرب تر اوسه پوري څه وخت تر منځ د چور او چپاول حملې کوي، ځرنګه چي دغه صحرایي عرب په یوه ښار یا یوه منطقه کي نه وه سره یو ځای، په کښتو او قلاوو پوري نه وه تړلي، کله دلته او کله هلته، نو پر دوی پوره تسلط او سیطره را وستل او د دوی له شره په پوره ډول ځان ساتل نسبت د مکې مکرمې و مشرکانو او نسبت د خیبر و یهودو ته ډیر سخت او مشکل وه، نو ځکه بېله دې څخه چي پر دوی تأدیبي او بېرووتکي حملې وسي بله چاره نه وه او مسلمانانو هم پر أعرابو دغه تأدیبي حملې په پرله پسې شکل کولې، چي دغه حملې ډیري او په تکرار سره سوي دي چي اوس به د مسلمانانو څه درته بیان سي. *(البته د ترتیب مراعت پکښي نسته)*

لکه ځرنګه چي مخ کي مو درته و ویل: رسول الله ﷺ هغو قبیلو یا اعرابو ته جزاء ورکول کوم چي د مسلمانانو پر ضد یې د خندق په غزاء کي ګډون او اشتراک کړی ؤ، یا یې د مسلمانانو سره دښمني کړې وه یا یې کول، نو رسول الله ﷺ دغو قبیلو ته د مجاهدینو ډلي یوه په بله پسې ورلېږلې، چي د دغو ډلو یا سَرِیو څخه یوه هم د تُربَه سریه ده.

۱ – د هجرت په اووم کال د شعبان په میاشت کي رسول الله ﷺ یوه دیرش

نفریزه تولۍ د حضرت عمر فاروق رضی الله عنه په مشرۍ د هوازن و یوې قبیلې ته ور ولېږل چې هوازن هم د هغو قبیلو څخه یوه قبیله ده چې د خندق په جنګ کې یې د مسلمانانو پر ضد اشتراک کړی ؤ، دغه سریې به د شپې تګ کاوه او د ورځې به پټېدل خو پر دغه سربېره د هوازن قبیلې ته د مسلمانانو د ورتګ خبر ورسېدی او د خپلې منطقې څخه و تښتېدل، عمر فاروق رضی الله عنه د دوی کورو ته ورغلی خو هلته هیڅوک نه وه نو بیرته د مدینې منورې طرف ته رهي سو، مسلمانان د بیرته را ګرځېدلو په وخت کې د خُثعُم د قبیلې پر یوه ډله پېښ سوه، یوه د مسلمانانو و حضرت عمر فاروق رضی الله عنه ته وویل: که دي خوښه وي پر دغه ډله به حمله وکړو، مګر حضرت عمر فاروق رضی الله عنه و ویل: یا! هیڅکله داسي نه کوم ځکه رسول الله ﷺ د خُثعُم پر قبیله د حملې امر نه دی را ته کړی، فقط هوازن یې را ته ویلي دي، سره د دې چې مسلمانانو د خثعم پر خلکو حمله کولای سوای چې دا هم کفار وه، مګر یا، په مسلمانانو کې پوره إطاعت او پوره انضباط موجود ؤ، کوم څوک چې ورته ویل سوي وه هغه یې په کار وه نه یې غوښتل چې د آمر تر امر تجاوز وکړي، د مسلمانانو مقصد د ځایو نیول یا د غنیمتو جمعه کول نه وه بلکه هر هغه مصلحت چې رسول الله ﷺ لیدی او دوی یې د هغه مصلحت دپاره لېږل، اصحاب کرامو هغه امر په پوره اطاعت او کامل انضباط عملي کاوه.

۲ – همدارنګه د هجرت د اوم کال د شعبان په میاشت کي یوه بله سریه د ابوبکر الصدّیق رضی الله عنه په مشرۍ و بني فُزاره او بني کلاب ته ولېږل سوه چې دغو قبیلو هم د خندق په جنګ کي ګډون او اشتراک کړی ؤ، ابوبکر الصدّیق رضی الله عنه وکولای سوای چي پر هغو حمله وکړي، هم یې مشرکان و وژل، هم یې بندیان ځني ونیول، هم یې غنیمتونه ځني راوړل.

۳ – دغه رنګه په دغه میاشت کي رسول الله ﷺ یوه بله سریه د فدک منطقې ته ولېږل. تاسي متوجه یاست؟ تاسي دغه پرله پسې جهاد ته ګورئ: مسلمانان هیڅکله په راحت او آرامه نه کښېنستل بلکه د کلمةُ الله د لوړ والي او د اسلام د نشرولو دپاره همېشه سترې او ستومانه، په وړې نس حتّی په لڅو پښو په سفر او جهاد کي وه.

(c) Ketabton.com: The Digital Library


نو رسول الله ﷺ دغه د شعبان په میاشت کې یوه دېرش نفریزه سَریه د فدک و منطقې ته ولېږل چې بني مُرّه ته جزاء ورکړي، بني مُرّه د غطفان د قبیلو څخه دي او په نسب کې سره نژدې دي، د بني مُرّه رئیس حارث بن عوف ؤ، حارث بن عوف هغه څوک دی چې د خیبر په غزاء کې یې عُیینه د مسلمانانو له جنګه منعه کاوه، ځکه اوس یې عقل سر ته ورغلی ؤ او احتیاط یې کاوه، مګر بیا هم دئ او د ده قبیله هغه څوک وه چې د خندق په غزاء کې یې د مسلمانانو پر ضد ګډون کړی ؤ، نو خامخا باید جزاء ورکول سي، د همدغه مقصد دپاره رسول الله ﷺ بشیر بن سعد رضی الله عنه د دېرشو نفرو اصحاب کرامو سره ولېږی چې بني مُرّه ته جزاء ورکړي، مګر څرنګه چې دغو قبیلو ډیر احتیاط کاوه او همېشه به یې په لارو کې کمین نیوی او پټ به وه ځکه دوی هم د مسلمانانو د حملو څخه په ببره کې وه، دغه د کمین نفرو وکولای سوای چې د مسلمانانو ډله د مخه تر دې چې بني مُرّه ته ورسیږي محاصره کړي، مسلمانان محاصره سوه او د دوی په منځ کې جنګ شروع سو تر څو چې د مسلمانانو سره ور سره ټول غشي خلاص سوه او د کفارو له طرفه غشي پر اورېدل، مسلمانان یو په بل پسې شهیدېدل، بشیر بن سعد رضی الله عنه د زمري غوندي جنګ وکړی خو په آخر کې دئ رضی الله عنه هم زخمي سو، څرنګه چې د ده ملګري مسلمانان ټول شهیدان سوي وه او ده یوازي د شپې تر تاریکې پوري جنګ وکړی نو په شپه کې د فدک کلي ته ورغلی، په فدک کې یهود اوسېدل، د دغو یهودو او مسلمانانو په منځ کې هغه صلحه وه چې د مخه یې بیان درته وسو، نو بشیر بن سعد رضی الله عنه دوی ته ورغلی او هغو هم ځای ورکړی، بشیر بن سعد رضی الله عنه د دغي سریې آمر په دغه طریقه سره له مرګه خلاص سو.

دغه د مسلمانانو شهادت بیا په کفارو کې جرئت پیدا کړی او اعرابو به ویل: په والله کېدلای سي چې دغه خلک مات سي او شکست وخوري، مخ کې چې کفارو د مسلمانانو پر له پسې کامیابی لیدلې خاصتاً چې په خیبر کې یې د دوی کامیابي ولیدل نو یې دا فکر کاوه چې د مسلمانانو قوم هیڅ ماته او شکست نه خوري.

او اوس چې دغه غمجنه او زړه دردوونکې حمله پر مسلمانانو وسوه او د رسول الله ﷺ د اصحاب کرامو څخه دېرش نفره پکښې شهیدان سوه، نو بیا د کفارو د قبیلو

(c) ketabton.com: The Digital Library


امید پیدا سو او بیا یې په سر او دماغ کې د مدینې منورې د حملې خیالونه ورګرځېدل.

۴ - د دغه کال د روژې په میاشت کې رسول الله ﷺ یوه ټولۍ چې شمیر یې (۱۳۰) نفره ؤ د غالب اللیثي ﷺ په مشرۍ د بني عوایل او بني ثعلبه قبیلو ته د جزاء ورکولو دپاره ولېږل، د غالب اللیثي ﷺ ټولۍ وکولای سوای چې کفارو ته جزاء ورکړي او مدینې منورې ته بندیان او حیوانات په غنیمت ځني را ولي، ځرنګه چې غالب ﷺ ډیر احتیاط کاوه خاصتاً پسله هغې واقعې چې بشیر بن سعد ﷺ او د ده ملګرو ته په تېره میاشت کې پېښه سوه او دېرش نفره مسلمانان پکښې شهیدان سوه، نو یې ترخپلې ټولۍ تر ورتګ د مخه و هرځای ته د معلوماتو دپاره نفر لېږل چې د دغه معلوماتو دپاره یو وار په خپله غالب ﷺ د بني عوایل د قبیلې و منطقې ته ورغلی، ځرنګه چې بني عوایل هم د مسلمانانو د حملې څخه په بېره کې وه او احتیاط یې کاوه نو همېشه به یې په لاروکې د معلوماتو دپاره نفر کښېنول.

غالب ﷺ وایي: د ماښام وخت ؤ او تاریکه شروع کېدل په دغه وخت کې د معلوماتو دپاره یوې غونډۍ ته وختم چې شا وخوا وګورم او لوړ پر غونډۍ مي ځتګ واچاوه، و مي لیدل چې بني عوایل هم د مدینې منورې د حملې دپاره ځانونه تیاروي، زه پر دغه غونډۍ وم چې د دوی پیره دار را ته متوجه سو خو د تاریکې په سبب دا فرق نه سي کولای چې دغه سیاهي انسان دی که بل شئ، مګر پیره دار چې ولیدم نو یې خپلې ښځې ته و ویل: (غالب ﷺ وایي: زه د دوی خبري اورم چې پیره دار و خپلې ښځي ته وایي) ښځې! پرون دغه سیاهي پر دغه غونډۍ نه وه، نو ښه راته متوجه سو، خو زه هیڅ حرکت نه کوم، ځکه که حرکت وکړم پوهیږي چې انسان دی او پوه به سي چې موږ د دوی د حملې دپاره راغلي یو، نو زه بې حرکته ناست یم او دئ بیا د دغې سیاهي څخه په شک کې دی نو یې خپلې ښځې ته و ویل: ته هغه زما لېندۍ او دوه غشي راکړه، ما ویل: (لا حول ولا قوة الا بالله) اوس پوهېږم چې دغه نفر مي وُلي او زه بیا په دې سبب حرکت نه سم کولای چې زموږ په حال به خبر سي، نو یې غشي واخیستی او زه یې په و ویشتم، غشی زما پر اوږه ومښتی او زه پر هغه خپل ځای مېخ یم هیڅ حرکت نه کوم بلکه صبر او تحمل کوم، سرې خپلې ښځې ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

وويل: والله واري مي نه دي خطا سوی مګر ته دغه بل غشی هم راکړه، بل غشی یې هم واخیستی اوزه یې په وویشتم، دامي هم پر اوږه ومښتی اوزه حرکت نه کوم، سړي و ویل: که چیرې ژوندئ شئ ؤای ښورېدلی به وای، زه پر دغه خپل ځای لکه مېخ ثابت ورته ناست یم، څو ښه توره تاریکه سوه نو خپلو ملګرو ته ورغلم او ورته و مي ویل: خلک زموږ په راتګ نه دي خبر، نو مو حمله پر وکړه، غالب اللیثي ﷺ هم د هغه خپله زخمه سره په دغه جنګ او حمله کي اشتراک وکړی ځکه زخم یې ډېر شدید نه ؤ.

غالب ﷺ په دغه حمله کي خپل افراد امر کړه چي هر دوه نفره به یو ځای سره ځی جلا کېږی به نه، بیا داسي نه وي چي یو نفر راسي او وایي: په هغه خپل ملګري نه یم خبر، دا امر په دې سبب ؤ چي دغه حمله پر یوه پوره او کامله قبیله وه او د شپې په تاریکه کي وه، نو پر دې بېرېدی چي نفر یې ورک نه سي، خیر حمله یې شروع کړه او په خپل مقصد کي کامیابه سو، د دغي قبیلې څخه یې ښه پوره غنیمتونه را وړل.

مګر دلته یوه کوچنۍ واقعه پېښه سوه، هغه دا چي: د بني عوایل د قبیلې څخه یو نفر چي مرداس بن نُهَیک نومېدی په أسامه بن زید ﷺ پسخندونه وهل، اسلام او رسول الله ﷺ ته یې بد ویل، د أسامه ﷺ د طاقته و وتل او پر دغه سړي یې حمله وکړه، سړي ځني وځغستل، اسامه بیرته را وګرځېدی،٠سړئ بیا پسي راغلی بیا هم اسلام او رسول الله ﷺ ته بد الفاظ وایي، اسامه بیا مجبوره سو پر سړي یې حمله وکړه پسي ځغلي، څرنګه چي د دغي ټولۍ آمر امر کړی ؤ چي دوه نفره به سره یو ځای وي نو د اسامه ﷺ ملګری یو انصاري ؤ، دغه انصاري و اسامه ته و ویل: یا اسامه! پرې یې ږده درځه چي ځني ځو، اسامه ویل: دئ رسول الله ﷺ ته بد وایي هیڅکله یې نه پرېږدم، هغه کافر ځغلي او بد وایي اسامه پسي ځغلي، څو اسامه پسي ور ورسېدی او انصاري په پسې دی، ځکه د غالب ﷺ امر دغسي ؤ چي ملګری به نه پرېږدی، مقصد دا چي دغه دوه نفره مسلمانان په دغه کافر پسي ځغلي څو د یوې وُني سره اسامه او ملګری یې په کافر پسي ور ورسېدل، اسامه او انصاري دواړو توري پر پورته کړې غواړي چي وې وژني، په دغه وخت کي هغه کافر چي اسلام او رسول الله ﷺ ته یې بد ویل اوس چي توري پر پورته سوې ویل (أشهد أن لا إله إلاّ الله

(c) Ketabton.com: The Digital Library


و أشهد أن محمّداً رسولُ الله) انصاري توره څنې را وګرځول نه يې و واهه، مګر اسامه خپله توره پر ور ايله کړه او مِرداس يې و وژی، انصاري ورته و ويل: يا اسامه! تا داسي سړئ و وژی چي هغه و ويل (لا إله إلا الله محمّد رسول الله) اسامه ويل: ده دغه کلمه د توري د بيري و ويل، تا نه ليدی چي اسلام او رسول الله ﷺ ته يې بد ويل؟ تا د ده بد ويل نه واورېدل؟ مګر کله چي يې توره پر خپل سر وليده نو يې کلمه و ويل.

خير د مِرداس تر وژلو وروسته دواړه بيرته راغله، خو انصاري دغه قصه و غالب رضي الله عنه ته وکړه، غالب رضي الله عنه اسامه ته ور بغ کړه: يا اسامه! تا څنګه هغه سړئ وژی چي هغه ويل (لا إله إلا الله محمّد رسول الله) اسامه ويل: هغه دغه کلمه د توري د بيري و ويل، خبره ښکاره او معلومه ده څو لحظې مخ کي يې اسلام او رسول الله ﷺ ته بد ويل، مګر کله چي يې پر خپل سر توره وليدل د دې دپاره چي ځان له مرګه خلاص کړي نو يې کلمه و ويل، څرنګه چي غالب رضي الله عنه په دې مسئله زيات نه پوهېدی نو چپ سو او دغه ټولی بيرته مدينې منورې ته ولاړه هلته يې رسول الله ﷺ ته حالات و ويل.

اول يې د سريې د کاميابۍ حالات ورته بيان کړه او بيا يې د أسامه رضي الله عنه په قصه خبر کړی، رسول الله ﷺ اسامه ور وغوښتی او ويل: يا اسامه! څنګه دي هغه څوک وژی؟ چي هغه ويل (لا إله إلا الله محمّد رسول الله) اسامه ويل: يا رسولَ الله! هغه د توري د بيري څخه کلمه و ويل، رسول الله ﷺ و فرمايل: آيا تا د هغه زړه ور څيري کړی او پوه سوې چي هغه صادق دی که کاذب؟ يعني: ته څه په خبر يې چي د توري له بيري يې کلمه و ويل؟ ښايي په دغه وخت کي يې ايمان زړه ته ننوتلی وي، رسول الله ﷺ و فرمايل: د قيامت په ورځ به د (لا إله إلا الله) له حقه چيري ځې؟ اسامه ويل: والله د توري د بيري څخه يې کلمه و ويل، رسول الله ﷺ و فرمايل: د قيامت په ورځ به د (لا إله إلا الله) د حقه چيري ځې؟ د قيامت په ورځ به د (لا إله إلا الله) د حقه چيري ځې؟ اسامه وايي: رسول الله ﷺ دغه جمله څو واره په تکرار راته و ويل، تر داسي اندازې چي ما د ځان سره و ويل کشکي زه په دغه نن ورځ مسلمان سوی وای.

اسامه ولي غوښته چي په دغه نن ورځ مسلمان سوی وای؟ ځکه اسلام هغه د مخني ټول ګنهونه محوه کوي او پاکوي، نو که په دغه ورځ مسلمان سوی وای دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library


گناه به یې هم د عفوې په جمله کې راغلې وای او الله جل جلاله د سورة النساء په (۹۴) نمبرآیات کې دغسې موضوعاتو ته اشاره کوې او فرمایي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا ضَرَبۡتُمۡ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ فَتَبَيَّنُواْ وَلَا تَقُولُواْ لِمَنۡ أَلۡقَىٰٓ إِلَيۡكُمُ ٱلسَّلَٰمَ لَسۡتَ مُؤۡمِنٗا تَبۡتَغُونَ عَرَضَ ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا فَعِندَ ٱللَّهِ مَغَانِمُ كَثِيرَةٞ﴾.

یعني: اې مومنانو! کله چې تاسي د الله جل جلاله په لارکې سفر کوی یعني: جهاد ته ځی نو ښه تحقیق کوی او هغه چا ته چې سلام درته و وایې مه وایاست چې ته مومن نه یې (او د اسلام کلمه دې د بیرې و ویل) آیا تاسي د دې دنیا دنیوې اسباب غواړی؟ د الله جل جلاله سره ډیر غنیمتونه سته.

پسله دغې ورځې بیا اسامه په هیڅ داسې جنګ کې ګډون او اشتراک نه دی کړی چې د مسلمانانو په منځ کې پېښ سوی دی، حتّی کله چې د مسلمانانو په منځ کې هغه فتنه پېښه سوه اسامه رضی الله عنه به ویل: زه پوهېږم چې علي رضی الله عنه پر حق دی، مګر پسله هغې واقعې چې زما او د مِرداس په منځ کې پېښه سوه، زه بیا هیڅ وخت پر مسلمان توره نه پورته کوم.

ورونو! دغه واقعه او مسئله زموږ دپاره درس دی موږ د خلکو د ظاهره سره کار لرو د خلکو سره مو باید معامله د دوی پر ظاهري شکل وي مګر زړونه د الله جل جلاله په قدرت، اختیار او علم کې دي، د زړو مالک الله جل جلاله دی او ده جل جلاله ته یې حال معلوم دی رب عزوجل د زړو پر حال حکم کوي، هو، که موږ د یو چا څخه داسې حرکت و وینو چې هغه کار د ده کفر او نفاق ثابتوي دا بیا بله خبره ده او که د یو چا آخري جمله لا إله إلا الله محمّد رسول الله وي نو موږ د ظاهري حالت سره موافق په عمل کولو مکلف یو او دا هم د اسلام حکم دی چې د اشخاصو سره زموږ معامله باید د دوی د ظاهري حاله سره موافقه او برابره وي، فقط الله جل جلاله د زړو په حال خبر دی او حکم پر کوي نه موږ، د زړو عالم او حاکم یوازې الله جل جلاله دی.

۵ – اوس خو د مسلمانانو تولیو او حملو دوام درلودی، څو دغه د هجرت د اوم کال د شوال په میاشت کې رسول الله ﷺ بشیر بن سعد رضی الله عنه د دوهم وار دپاره د بني

مُرّه و قبیلې ته ولېږی چې جزاء ورکړي، د بشیر بن سعد ؓ د اول وار لېږل خو به مو په یاد وي چې د بني مُرّه د قبیلې د کمین له طرفه حمله پر وسوه او د ده دېرش نفره ملګري ټول شهیدان سوه او دیؓ پسله زخمي کېدلو د فدک و یهودو ته ورغلی.

نو اوس د دوهم وار دپاره بیا رسول الله ﷺ دغه بشیر بن سعدؓ د هغه بني مُرّه قبیلې ته ور ولېږی چې جزاء ورکړي مګر دا وار یې (۳۰۰) نفره مسلمانان ور سره ملګري کړه، بشیر بن سعد ؓ د بني مُرّه پر طرف رهي سو او دا وار یې زړه هم ورته ډک دی ځکه په هغه اول وار کي یې د ده ملګري شهیدان کړي وه، نو یې هغه انتقام او بدله هم پاته وه، اوس فقط دوې میاشتي وروسته د درو سوو نفرو سره د بني مُرّه پر طرف ور رهي سو او هلته ور ورسېدی، د هغو په بېخبري کي یې حمله پر وکړه د هغو څخه ځیني وتښتېدل او ځیني و وژل سوه او ده ؓ پسونه، اوښان او نور مالونه په غنیمت څني واخیستل او بیرته مدینې منورې ته په داسي حال کي راغلی چې د هغه اول وار د خپلو ملګرو بدله او انتقام یې اخیستي وه.

دلته نو د بني مُرّه رئیس حارث بن عوف فکر وکړی او ویل: والله د محمّد ﷺ دین لوړ او ورځ په ورځ غالبه کېږي، قریشو صلحه ور سره وکړه، خیبر یې فتحه کړی او هغو قبیلو ته چې د ده ﷺ سره مخالفت کوي جزاء ورکوي، موږ دوې میاشتي د مخه پر دوی کامیابه سوو او دیرش نفره مو ور و وژل، مګر اوس یې په موږ داسي کارونه وکړه چې تر اوسه چا نه وه را سره کړي، پسله ډیره فکره دې نتیجې ته ورسېدی چې باید اسلام ته داخل سي، نو عُیینه بن حِصن هغه د غطفان مشر او رئیس ته ورغلی د هغه سره یې خبري وکړې د اسلام او مسلمانانو په باره کي یې دلایل ور سره و ویل او ویل: زما په فکر زموږ دپاره دا ښه او بهتره ده چې د محمّد ﷺ ملګري سو، د دې پر ځای چې مسلمانان زموږ څخه غنیمتونه وړي موږ به د مسلمانانو په ملګرتیا د نورو قبیلو څخه غنیمتونه اخلو، نور یې هم دلایل ور سره و ویل څو عُیینه بن حصن یې په دې قانع کړی چې مسلمان سي، نو دوی په دواړو دا اتفاق وکړي چې دواړه به مدینې منورې ته ځو او هلته به د خپل اسلام یا مسلمانېدلو اعلان کوو.

اوس نو د غطفان او د بني مُرّه رئیسان چې دواړي د عربو لویې او قوي قبیلې

(c) ketabton.com: The Digital Library


دي د مدینې منورې طرف ته رهي سوه چې اسلام ته داخل سي خو سبحان الله! د الله جل جلاله تقدیر او إراده بیا بل شئ وه، دغه دوو نفرو ته په لار کې د عربو یو بل مشر په مخه ورغلی چې فَروَه بن هُبَیره نومېدی چې هغه بیا عمرې ته رهي ؤ، اوس چې فروه د حارث بن عوف او عُیینه بن حصن سره په لار کې یو ځای سو فَروه ورته و ویل: د خیره چیري ځی؟ دوی ویل: مدینې منورې ته ځو چې اسلام ته داخل سو، فَروه ویل: تاسي څه صبر وکړی تلوار مه کوی زه دا دی عمرې ته رهي یم، پرېږدی چې زه وګورم چې اهل مکه د محمّد ﷺ په باره کې څه فکر او إراده لري؟ که داسي ؤ چې اهل مکه د محمّد ﷺ سره د جنګ إراده درلودل نو دا نه ده صحي چې تاسي اوس مسلمانان سی صبر وکړی او هغه جنګ چې د قریشو او محمّد ﷺ په منځ کې پېښیږي هغه به و وینی، بیا تر هغه وروسته فیصله وکړی او که چیري د مکې خلکو جنګ نه کاوه او تسلیم وه بیا مسلمانان سی، دوی ویل: دا ښه خبره ده، نو دغه دوه نفره بیرته د مدینې منورې څخه را وګرځېدل او اوس د فَروه د بیرته راتګ انتظارکوي چې هغه به د مکې مکرمې څخه څه حال او خبر را وړي؟

فَروه مکې مکرمې ته ولاړی او عمره یې وکړه، فَروه مشرک ؤ او دا خو هم درته معلومه ده چې مشرکانو هم هغه د دوی پر قسم حج او عمره کول، فروه د عمرې تر آداء کولو وروسته د قریشو د مشرانو سره ولیدل او پوښتنه یې ځني وکړه چې تاسي د هغې صلحي په باره کې چې د محمّد ﷺ سره مو کړې ده څه إراده لری؟ قریشو ویل: د دغې صلحي په موده کي موږ د محمّد ﷺ د جنګ دپاره خپل ځانونه آماده کوو، غواړو چې په دغه موده کي د هغه د جنګ دپاره پوره تیاري ونیسو، اصلاً زموږ صلحه نه ده مقصد بلکه په دغه موده کي خپلي قواوي سره یو ځای کوو چې وکولای سو د محمّد خطر بالکل له منځه یو سو.

اوس نو د فَروه په فکر خبره بل ډول سوه، له بله طرفه د بنو بکر د قبیلې رئیس نوفل بن معاویه هم په دغه وخت کي مکې مکرمې ته راغلی ؤ او دئ هم د قریشو د مشرانو سره خبري کوي غواړي چې د قریشو مشران دې ته تشویق کړي چې د خزاعه د قبیلې پر ضد د بنو بکر سره مرسته وکړي، یعني: بنو بکر غواړي چې د خزاعه سره جنګ

وکړي او قریش د خزاعه په وژلو او جنګ کولو کي د بنو بکر سره مرسته وکړي.

هغه خو ستاسي په یاد دي چي خزاعه هغه قبیله ده چي د حدیبیې په صلحه کي د رسول الله ﷺ په طرف کي داخله سوه او د هغه وخته څخه د خزاعه قبیله د رسول الله ﷺ حُلفاء او متعاهدین بلل کیږي، د خزاعه پر قبیله هر تېرئ او تجاوز پر رسول الله ﷺ او مسلمانانو تجاوز بلل کیږي او بنو بکر بیا د حدیبیې د صلحي په وخت کي د قریشو په طرف کي داخل سوه، چي بنو بکر بیا د قریشو حُلفاء او متعاهدین بلل کیږي او د بنو بکر هر تجاوز که پر مسلمانانو وي که پر خزاعه، د قریشو تجاوز بلل کیږي، مګر دا هم باید درمعلومه وي چي د پخوا څخه د بنو بکر او خزاعه د قبیلو په منځ کي ډیري لویي دښمنۍ پرتې وې.

اوس فَروه بن هُبیره ورته ګوري چي د بنو بکر رئیس نوفل بن معاویه قریش و دې ته را بولي چي دخزاعه د قبیلې پر ضد د ده او د بنو بکر مرسته وکړي او قریش هم دغه د ده خبري نه ور رَدوي او نه ورته وایي چي زموږ او د هغو په منځ کي صلحه ده، بلکه د رَدَولو پر ځای د دغو خبرو سره علاقه هم لري او په شوق غوږ ورته نیسي، نو فَروه بن هُبیره پوه سو چي دغه ټوله د دې علامې دي چي د قریشو او مسلمانانو په منځ کي به ژر جنګ پېښ سي او دغه د دوی په منځ کي چي د صلحي په نامه سره یادیږي صلحه نه ده بلکه اصلاً د بل جنګ دپاره هوسایي او آمادګي ده، نو کله چي فَروه د مکې مکرمې څخه ولاړی هلته عُیینه بن حصن او حارث بن عوف ته ورغلی او دا بیان یې ورته وکړی چي ډیر ژربه د قریشو او مسلمانانو په منځ کي جنګ پېښ سي، هغو و ویل: ځرنګه چي خبره داسي ده موږ به خپل مسلمانېدل اوس وځنډوو او د دې جنګ نتیجې ته به معطله سو، مقصد دا چي دغه دوه نفره چي د لویو قبیلو مشران وه اسلام ته داخلېدل خو دغه د فَروه اخبار د دې سبب سوه چي د هغه خپله فکره څخه واوښتل، په دغه موده کي رسول الله ﷺ نوري ټولیاني هم شا وخوا لېږلې.

خو د دغه وخت هغه مهمه واقعه دا ده چي دغه د هجرت د اووم کال د شوال په میاشت کي رسول الله ﷺ مسلمانان دې ته را بلل چي د ده ﷺ سره د عمرةُ القضاء د آداء کولو دپاره ولاړ سي، ځکه اوس د حدیبیې پر صلحه یو کال تېر سو او اتفاق هم

(c) ketabton.com: The Digital Library


داسي ؤ چي په را تلونکي کال کي به مسلمانان عمرې ته ورځي، اوس نو مسلمانانو ته پوره اجازه ده چي مکې مکرمې ته د عمرې د آداء کولو دپاره داخل سي، د دغه مقصد دپاره رسول الله ﷺ په مسلمانانو کي د عمرې کولو اعلان وکړی.

## عمرة القضاء

د هجرت د اووم کال د ذوالقعدې په میاشت کي ټول هغه کسان چي د حدیبیې په صلحه کي حاضر وه، بېله هغو کسانو چي شهیدان سوي یا وفات سوي وه ټول د رسول الله ﷺ سره یو ځای سوه، دغه د حدیبیې پر نفرو زیات نور هم شپږ سوه نفره د رسول الله ﷺ سره د مدینې منورې څخه د عمرې د آداء کولو دپاره را ووتل.

چي دانو بېله ښځو او کوچنیانو ټول دوه زره نفره سوه چي په دغه عمرة القضاء کي د رسول الله ﷺ سره ملګري دي، رسول الله ﷺ امر وکړی چي پر اوښانو اسلحه در سره واخلی، ابو بکرالصدّیق ﷛ و ویل: یا رسولَ الله! زموږ او د قریشو عهد داسي نه ؤ چي د اسلحې سره به مکې مکرمې ته نه داخلیږو؟ رسول الله ﷺ و فرمایل: هو! عهد دغسي ؤ، ابو بکر الصدّیق ﷛ و ویل: اوس نو موږ دغه اسلحه څه په کوو؟ او تا امر وکړی چي اسلحه در سره واخلی، رسول الله ﷺ و فرمایل: یا ابا بکر! زه د قریشو د غدر او خیانته مطمئن نه یم، ابوبکر الصدّیق ﷛ و ویل: نو هغه وعده؟ رسول الله ﷺ و فرمایل: موږ پر خپل عهد ولاړ یو د اسلحې سره و حرم ته نه داخلیږو، اسلحه تر حرم دباندي پرېږدو مګر زموږ سره باید اسلحه موجوده وي، که مو ضرورت ورته پیدا سو اسلحه به لرو.

دا د خیر البشر او اکمل البشر رسول الله ﷺ پوهي او حکمت ؤ چي ویل موږ څنګه خپل ځانونه و خپلو دښمنانو ته بېله اسلحې تسلیم کړو؟ مسلمان باید پوه، زیرک او هوښیار وي، کارونه باید سطحي او سر سري و نه نیول سي، مسلمان باید همېشه په حذر او احتیاط کي وي خپل ځان باید د دښمن په مقابل کي بې اسلحې نه کړي، خپله اسلحه باید دښمن ته تسلیم نه کړي، نو ځکه رسول الله ﷺ و فرمایل: اسلحه در سره واخلی.

رسول الله ﷺ او مسلمانانو د ذوالحُلیفه څخه احرام وتړی او تلبیه یې و ویل،

(c) kitabton.com: The Digital Library


په داسي حال کي يې مخ پر مکه مکرمه حرکت وکړی چي اسلحه ور سره وه او د جنګ دپاره تيار او آماده وه، دا هم د دې دپاره چي د قريشو د غدر مخه يې نيولې وي.

کله چي مسلمانان و مکې مکرمې ته نژدې سوه هلته قريش تر مکې مکرمې دباندي ورته را وتلي دي او ورته ګوري، خو وې ليده چي د مسلمانانو سره اسلحه ور سره ده، قريشو و رسول الله ﷺ ته حال ولېږی چي اسلحه مو د څه دپاره راوړې ده؟ زموږ او ستاسي په منځ کي داسي وعده نه وه چي تاسي به د اسلحې سره نه راځی؟ رسول الله ﷺ و فرمايل: موږ پر هغه خپله وعده ولاړ يو او اسلحه تر مکې مکرمې دباندي پاته کيږي، واقعاً هم رسول الله ﷺ خپله اسلحه لکه سپرونه، غشي، نېزې، زغري او داسي نور تر مکې مکرمې دباندي پرېښوول او دوه سوه نفره يې د أوس بن خولي الأنصاري په مشرۍ د اسلحې د ساتني دپاره مؤظف پرېښوول او بيا يې دغه دوه سوه نفره په هغو کسانو بدل کړه چي عمره يې کړې وه،او هغه اول پاته دوه سوه نفره عمرې ته ولاړل، مګر دوه سوه نفره په هر وخت کي د اسلحې سره موجود وه، دې ته تيار او آماده وه چي د ضرورت په وخت کي دغه اسلحه د مکې مکرمې و داخل ته ورسوي او پر مسلمانانو يې و وېشي، که چيري د قريشو له طرفه کوم غدر او خيانت وسي اسلحه موجوده او د استعمال دپاره تياره ده.

اوس چي رسول الله ﷺ او مسلمانان مکې مکرمې ته د داخلېدلو دپاره تيار سوه په دغه وخت کي قريشو نه غوښتل چي د مسلمانانو سره يې کوم مشکل او شخړه پېښه سي، ځکه قريش غواړي چي دغه د عمرې مناسک ډير ژر پای ته ورسيږي او مسلمانان ولاړ سي او قريش داهم نه غواړي چي مسلمانان د اهل مکې سره په تماس کي سي، نو ابوسفيان د مکې مکرمې ټول اهل په دې سره مکلف کړه چي د مکې مکرمې څخه ووزي او څوک دې په مکه مکرمه کي نه پاته کيږي، د مکې مکرمې خلکو هم د مکې مکرمې څخه په وتلو شروع وکړه او ووزي خو هلته نژدې په هغو غرو کي کښيني چي د کعبې شريفي پر شا وخوا دي، بيا نو د قريشو مشرانو د دغه امر د ښه عملي کولو دپاره يوه آوازه هم واچول هغه دا چي ويل: دغه مسلمانان چي د مدينې منورې څخه راغلي دي په يوه داسي مرض اخته دي چي هغه مرض ساري مرض دی يعني له يوه

(c) ketabton.com: The Digital Library


څخه بل ته نقل کيږي چي په هغه وخت کي ژړه تبه ورته ويل کېده، نو ځکه بايد ټول خلک د مکې مکرمې څخه ووزي، اوس د دغي آوازې سره هغه پاته کسان چي تر اوسه نه وه وتلي هغو هم د مرض له بيري پر وتلو تلوار کاوه چي په دغه مرض اخته نه سي.

نو په مکه مکرمه کي بېله د قريشو د ځينو مشرانو لکه صفوان بن اُميه، عِکرمه بن أبي جهل او داسي نور، بل څوک نه سوه پاته نور ټول مشرکان د مکې مکرمې څخه ووتل.

مسلمانان چي مکې مکرمې ته داخل سوه د الله اکبر تکبيرونه وايي، د لا إله إلا الله تهليل وايي، د اسلام تلبيه وايي، مسلمانان په ډير شوق کي دي ځکه پسله ډيرو کلو څخه د اول وار دپاره مکې مکرمې او خپلي قبلې ته داخليږي.

او رسول الله ﷺ پسله اوو کلو څخه د اول وار دپاره خپل اصلي وطن او خپلي قبلې مکې مکرمې ته داخليږي، نو ټول تر اندازه زيات خوشاله وه، طواف، تلبيه، سعيه او عمره ټول عبادتونه په شوق او خوشالي سره آداء کوي.

مګر رسول الله ﷺ په هغه آوازه خبر سو چي ويل: په مسلمانانو کي ژړه تبه سته نو د دغي آوازې په مقابل کي رسول الله ﷺ داسي قصد او إراده وکړه چي دا ثابته او معلومه کړي چي په مسلمانانو کي هيڅ ناروغي نسته، کله چي مسلمانانو په طواف شروع کول رسول الله ﷺ و فرمايل: الله جل جلاله دي پر هغه چا ورحميږي چي نن ورځ کفارو ته د خپل ځان صحت او قوت ور ښکاره کړي.

بيا نو رسول الله ﷺ خپل دَ احرام پټو په داسي ډول تر راسته اوږه لاندي کړی چي راسته اوږه يې ښکاره سوه، چي دغه ته په عربي کي (إضطِباع) وايي او بيا يې په طواف شروع وکړه په دغه طواف کي يې چابک چابک تګ کاوه، چي دغه چابک تګ ته په عربي کي (رَمَل) وايي، رَمَل او هَروَلَه هغه چابک تګ دی چي کوچني کوچني ګامونه اخلي او داسي تېز تېز ځي چي و ځغستا ته نژدې وي، خو ګامونه يې کوچني وي او اوږې هم ور سره ښوروي، چي دغه قسم تګ مريض، ناجوړه او ضعيفه سړئ نه سي کولای، قوي او صحتمن نفر دغسي تګ کولای سي، رسول الله ﷺ د طواف درې شوطه دغه تېز تګ کاوه او اصحاب کرامو هم دغه قسم تګ ور سره کاوه، په دغه تګ يې دا ثابته کړه چي مسلمانان روغ رمټ دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

قریشو د غرو ځخه ورته کتل او ویل یې: په والله که د مسلمانانو سره یا تبه ور سره وي یا بل مرض، مریض سړئ دغسي تګ نه سي کولای، نو دغه د اوږې لڅېدل او دغه قسم تېز تګ زموږ دپاره سنت سو، نو هر هغه څوک چي د حج دپاره طواف قدوم کوي یا د عمرې دپاره طواف کوي، یا هر هغه طواف چي تر هغه وروسته د صفا او مروا په منځ کي تګ او راتګ وي په اولو درو شوطو کي باید رَمَل او هَروله وکړي چي تېز تېز به ځي، خو راسته اوږه به په ټوله طواف کي لڅه وي او دغه کار فقط د نارینه وو دپاره سنت دی، پر ښځو نه تېز تګ سته نه د اوږو لڅېدل او بېله طواف قدوم یا د عمرې له طوافه په نورو طوافو کي هم دا کار نسته، او هغه کسان چي تر طواف د مخه یا وروسته یې اوږه لڅه کړې وي هغه هم صحي کار نه دی، اوږه فقط د طواف په وخت کي لڅېږي، هغه هم په هغه طواف کي چي تر هغه وروسته سعيَ یا د صفا او مروا تګ وي. (دا یوه فقهي مسئله وه)

د طواف په منځ کي عبدالله بن رواحهرضي الله عنه چي شاعر ؤ او توره په لاس د رسول اللهﷺ مخ ته تلی دغه بیتونه یې په لوړ آواز ویل:

خَلّوا بني الکفارِ عن سبیلهِ خلّوا فکُلَّ الخیرِ في رسولهِ
قد أنزل الرّحمٰن في تنزیلهِ في صُحُفٍ تُتلی علی رسولهِ
یاربِّ إنی مؤمن بقیلهِ إنی رأیتُ الحق فی قبولهِ
بانّ خیرالقتلِ فی سبیله الیومَ نضربکم علی تنزیلهِ
ضرباً یزیل الهام عن مقیله ویُذهِلُ خلیلاً عن خلیلهِ

دا داسي بیتونه دي چي په هغو کي پر کفارو تېرئ او تجاوز ؤ.

یعني: کفارو! د رسول اللهﷺ له لاري ایسته سی، موږ مو وهو، موږ مو وژنو، موږ مو سرونه درپرې کوو، دلته حضرت عمررضي الله عنه ته قهر ورغلی او ویل: یا بن رواحه! ته څه وایې؟ د رسول اللهﷺ په حضور او د الله جل جلاله په حرم کي شعر وایې؟ رسول اللهﷺ ورته وویل: یا عمر! دئ پرېږده، دغه د ده اشعار پر کفارو تر غشو زیات تاثیر کوي.

حضرت عمر فاروقرضي الله عنه ته ولي قهر ورغلی؟ د هغه دوه سببه وه، یو دا چي عبدالله بن رواحهرضي الله عنه په طواف کي شعر وایه حال دا چي طواف عبادت دی لکه لمونځ،

(c) ketabton.com: The Digital Library


انسان باید شعر پکښي و نه وایي، بل دا چي اوس د مسلمانانو سره اسلحه نسته په خالي لاس دي او دغه اشعار کفار و جنګ ته رابولي، نو عمرﷺ و ویل:

«لا إله إلاّ الله وحدهُ، صدقَ وعدَه، ونَصرَ عبدَهُ، و أعَزّ جُندَهُ، وهَزَمَ الأحزابَ وحدَهُ»

او دغه تهلیل یې په زوره وایه، نو دا هم زموږ د پاره سنت سوه، هر هغه څوک چي عمره کوي خاصتاً په صفا او مروا کي دغه تهلیل ویل د هغه د پاره سنت دي.

کله چي رسول اللهﷺ د عمرې د آداء کولو څخه فارغه سو هَديَ یې حلاله کړه، د هَديِ حلالول په عمره کي سنت کار دی، واجب او لازمي نه ده چي خامخا یې باید څوک حلاله کړي مګر ثواب یې ډیر زیات دی، رسول اللهﷺ او اصحاب کرامو هَديِ حلالي کړې، بیا نو رسول اللهﷺ قریشو ته حال ولیږی چي د کعبې شریفي کِلی، را وړی او اجازه را کړی چي کعبې شریفي ته دننه ورسم.

خو قریشو جواب را ولیږی چي یا! زموږ او ستاسي په عقد او اتفاق کي دا نه دي لیکل سوي چي ته به کعبې شریفي ته دننه داخلېږې.

که څه هم دا نوی او مشکل کار نه ؤ، د عربو مشرانو ته به یې همېشه کعبه شریفه ور خلاصول، مګر قریشو بیا هم دلته د ضِد او عناده کار واخیستی او دروازه یې نه کړه ور خلاصه، رسول اللهﷺ چي دغه د دوی عناد ولیدی نو یې بلالﷺ ته و ویل: یا بلال! لوړ د کعبې شریفي بام ته وخېژه او آذان وکړه، بلالﷺ هم د کعبې شریفي بام ته وختی او آذان کوي، قریش ورته ګوري د اسلام آذان اوري:

« الله اکبر، الله اکبر الله اکبر، أشهد أن لا إله إلا الله، أشهد أن محمّداً رسول الله»

بلالﷺ سر بېره پر کعبه شریفه په خپل رنګین او خواږه آواز سره د:

« أشهد أن محمّداً رسولُ الله »

شاهدي آداء کوي او قریش ورته ګوري، عِکرمه بن أبي جهل چي تر دغه

وخته پر هغه خپل شرک ؤ و ویل: الله د ابو الحکم سره ډیر ښه وکړه (چي مقصد یې خپل پلار ابوجهل ؤ) چي دغه مړیئ یې نه ولیدی چي لوړ پر کعبه آذان کوي، یعني: دا د هغه سره د اللهﷻ نیکي وه چي تر دغه د مخه و وژل سو، دغه ورځ او دغه حال یې نه ولیدل. دا د کفارو غرور ؤ، مګر د بلالﷺ آذان د مکې مکرمې مشرکانو ته ډیر

زیات آزار او تکلیف ور کړی، دا چې بلال ﷺ د اسلام آذان لوړ پر کعبه شریفه کوي دا کار و قریشو ته د کعبې شریفې تر ننوتلو سخت تمام سو.

اوس نو د مسلمانانو درې ورځې پوره سوې او اتفاق هم داسي ؤ چې مسلمانان به درې ورځې په مکه مکرمه کې تېروي او بیا به ځي، په دغو درو ورځو کې مسلمانانو طوافونه کول، لمنځونه یې کول د الله جل جلاله عبادت یې کاوه.

مګر کله چې درې ورځې پوره سوې د رسول الله ﷺ زړه غوښته چې څه نور هم په مکه مکرمه کې پاته سي خو د قریشو له طرفه عِکرمه د ابوجهل زوی او حُوَیطب بن عبد العزیٰ د څو نورو نفرو سره ورته راغله چې ورته و وایي: ستاسي وخت پوره سو نور نو ولاړ سی، کله چې دغه نفر ورته راغله رسول الله ﷺ ورته و ویل: یا عِکرمه! نه غواړې چې زما سره ډوډۍ وخورې؟ یعني: زما مېلمانه سی ځکه رسول الله ﷺ غوښتل چې نور هم په مکه مکرمه کې پاته سي خو عِکرمه ورته و ویل: زه ستا ډوډۍ ته ضرورت نه لرم زموږ د مځکي څخه ووزه، د سعد بن عُباده ﷺ د توانه و وتل او ویل: دا ستاسي مځکه نه ده بلکه دا د رسول الله ﷺ ښار دی او عِکرمه ته یې په بد ویلو شروع وکړه، خو رسول الله ﷺ سعد بن عُباده ﷺ منعه کړی ویل: یا سعد! زموږ په اُطاق یا زموږ په خېمو کې باید چا ته بد و نه ویل سي که څه هم هغه زموږ دښمن وي، دا عیب دی چې هغه زموږ پر کمبله ناست وي او موږ بد ورته وایو.

بیا نو رسول الله ﷺ امر وکړی چې ځانونه د بارېدلو دپاره تیار کړی، دلته بیا هغه د قریشو بېباکه خلکو، لچکانو او اوباشانو چې د هغو په مسلک کې عهد او اتفاق، وعده او امانت هیڅ اهمیت نه لري غوښته چې د موقع څخه استفاده وکړي او مسلمانانو ته آزار او تکلیف ورکړي، ویل: اوس خو نو عمره خلاصه سوه او زموږ اتفاق داسي ؤ چې مسلمانان به عمره کوي او اوس یې عمره وکړه نو عهد خلاص او پوره سو ځانونه یې تیارول چې پر مسلمانانو حمله وکړي.

مګر تاسي ته معلومه ده چې اتفاق یوازې د عمرې دپاره نه ؤ بلکه اتفاق داسي ؤ چې لس کاله به یو پر بل تجاوز نه کوي مګر دغو اوباشانو غوښتل چې مسلمانان په قهر کړي او جنګ شروع سي، رسول الله ﷺ چې دغه د دوی حرکتونه ولیدل نفر یې

(c) Ketabton.com: The Digital Library

ورولېږل او ویل: که تاسي جنګ غواړی موږ به هغه خپله اسلحه چي تر مکې مکرمې دباندي پرته ده راوړو او بیا به جنګ در سره وکړو، د دغو کفارو دا خیال ؤ چي د مسلمانانو سره اسلحه نسته دوی نه وه خبر چي مسلمانانو خپله اسلحه تر مکې مکرمې دباندي ایښې ده، خو کله چي پوه سوه چي د مسلمانانو سره اسلحه سته وبېرېدل او شا وخوا سره وپاشل سوه.

اوس چي رسول الله ﷺ او مسلمانان د مکې مکرمې څخه و وتل او تر مکې مکرمې دباندي یې خېمې ودرولې دلته یوه کوچنۍ حادثه پېښه سوه، هغه دا چي هلته رسول الله ﷺ یو نفر ولیدی چي څوک وایي دغه نفر ولید بن ولید بن مغیره ؤ، مګر صحي خبره دا ده چي دغه نفر أبان بن ولید بن مغیره ؤ، رسول الله ﷺ ورته و ویل: یا ابان! خالد چیري دی؟ (چي مقصد یې خالد بن ولید ؤ) ویل: خالد چیري دی؟ خالد خو داسي عقل لري چي سمي لاري ته یې را بولي، دئ عاقل او هوښیار سړئ دی د ده عقل څنګه دئ تر اوسه و اسلام ته نه دی را بللی؟ آیا د اسلام ښه والی پټ دی؟ چا ته نه ور معلومېږي؟ خالد چي ذکي او هوښیار سړئ دی ده ته ولي تر اوسه د اسلام ښه والی نه دی ور معلوم سوی، که چیري د ده شوکت او تېزي زموږ سره سي موږ به د ده اکرام او عزت وکړو تر نورو به یې د مخه او مقدم کړو، دغه خبري تر مکې مکرمې دباندي پیښي سوې.

أبان چي په دې خبرو خوشاله ؤ نو خالد بن ولید ته یې یو لیک ولیکی او مکې مکرمې ته یې ور ولېږی چي په هغه لیک کي یې لیکلي وه: یا خالد! ته داسي عقل لرې چي هغه تا ته سمه لار درښوولای سي او د اسلام ښه والی د هیڅ عاقل او هوښیار څخه پټ نه دی پاته، نو راسه او مسلمان سه، ځکه رسول الله ﷺ ته په خیر یاد کړې او وې فرمایل: که خالد موږ ته راغلی موږ به یې عزت وکړو او تر نورو به یې د مخه کړو، د أبان لیک وخالد ته ورسېدی او وې وایه، د خالد و اسلام ته شوق پیدا سو خو مسلمان نه سو، بیا هم د اسلام په باره کي فکر کوي.

رسول الله ﷺ مدینې منورې ته ورسېدی، په دغه وختو کي بیا عَمرو بن العاص د حبشې څخه مکې مکرمې ته راغلی او خپل ځان و هجرت ته تیاروي غواړي چي

مدینې منورې ته هجرت وکړي، د عَمرو بن العاص رضي الله عنه د اسلام قصه خو مو د مخه درته بیان کړه چې دئ په حبشه کې د نجاشي پر لاس مسلمان سو او مکې مکرمې ته مسلمان راغلی اوس غواړي چې هجرت وکړي، خالد بن ولید ولیدی ویل چیرې ځې؟ عَمرو بن العاص ویل مدینې منورې ته ځم، خالد ویل آیا له دینه واوښتې؟ عَمرو ویل: یا! بلکه مسلمان سوم او خالد ته یې و ویل چې نجاشي مسلمان سوی دی، خالد په تعجب کې سو، نو یې د اسلام او د اسلام د احکامو په باره کی نور معلومات هم ځني وکړه، خو نو ریې هم اسلام و زړه ته لار پیدا کړه او اسلام یې په زړه کې ثابت او قائم سو، خالد بن ولید رضي الله عنه هم مسلمان سو، هلته یو بل دریم نفر هم د دوی سره اسلام ته داخل سو چې هغه هم د قریشو د سردارانو څخه ؤ، دغه نفر عثمان بن طلحه رضي الله عنه ؤ چې دغه عثمان بن طلحه هم په قریشو کې د خالد بن ولید او عَمرو بن العاص په درجه کې ؤ.

دغو درو نفرو چې د قریشو د سردارانو څخه وه د هجرت نیت او إراده وکړه او د هجرت د اتم کال په شروع کې یې مدینې منورې ته هجرت وکړی، کله چې رسول اللهﷺ دغه درې نفره ولیدل چې مدینې منورې ته مهاجر ورغله تکبیر یې وو ایه او وې فرمایل: مکې د خپلې اینې ټوټې درته را وغورځولې، د مکې مکرمې هغه ښه ځوانان درته راغله، خالد بن ولید، عَمرو بن العاص، عثمان بن طلحه، دغه کسان چې د مسلمانانو ملګري سي تر دې به لویه کامیابي څه شي وي.

د هجرت د اتم کال د جمادي الأول په میاشت کې د خُزاعه د قبیلې یوه ډله و رسول اللهﷺ ته ورغله چې د خزاعه د قبیلې اسلام یې اعلان کړی، خزاعه هغه قبیله ده چې د حدیبیې په صلحه کې د رسول اللهﷺ په طرف کې شامله سوه او د رسول اللهﷺ متحالفین او متعاهدین سوه او اوس یې اسلام هم قبول کړی، یعني: اکثریت یې په اسلام کې داخل سوه چې اوس نو یوه بله قبیله د مسلمانانو سره یو ځای او په اسلام مشرفه سوه، دې کار نور هم د اسلام دبدبه او شوکت ور زیات کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# پاچهانو او آمرانو ته
# د رسول الله ﷺ رسالې یا لیکونه

اوس چې په جزیرةُ العرب کې تر ډیره حده د مسلمانانو تسلط او سیطره زیات سوه او د اسلام شان او شوکت لوړ سو، رسول الله ﷺ دې ته فارغه سو چې خپل دعوت تر جزیرةُ العرب دباندې وباسي ځکه دغه دین یوازې د عربو یا د جزیرةُ العرب دپاره نه دی بلکه د ټول عالَم دپاره دی، نو رسول الله ﷺ د شا وخوا پاچهانو او آمرانو ته د لیک او رسالو د لېږلو إراده وکړه، کله چې رسول الله ﷺ د رسالو د لېږلو او لیکلو إراده وکړه ځینو اصحاب کرامو ورته و ویل چې پاچهان هغه لیک او رساله نه قبلوي چې هغه مُهر سوې نه وي، نو رسول الله ﷺ هم د خپل ځان دپاره د سپینو زرو څخه مُهر یا انګشتری جوړه کړه چې پر هغه لیکل سوي وه (محمّد رسول الله) چې دغه لیکنه په درو لیکو کې وه تر ټولو کښته لیکه (محمّد) او د منځ لیکه (رسول) او لوړه لیکه (الله) وه.

البته رسول الله ﷺ د دغو رسالو د لېږلو دپاره داسې قاصدان اختیار کړه چې هغو هغه د دوی د ورتګ د ملکو په باره کې معلومات او پخوانۍ معرفت درلودی او د هغو ژبه یې څه نا څه زده وه، اوس نو د دغو رسالو د لېږلو په وخت او تاریخ کې لږ اختلاف سته ځوک وایي د دغو رسالو د لېږلو شروع د حدیبیې تر صلحې وروسته د هجرت د شپږم کال په آخر کې وه، ځوک وایي د هجرت د اووم کال په شروع کې ولېږل سوې، چې د دغو دوو قولو په منځ کې فقط یوه میاشت یا تر هغه هم لږ فرق راځي.

او ځوک وایي چې د دغو رسالو لېږل تر عمرة القضاء وروسته یعني: د هجرت د اوم کال په آخر کې وه، خو په حقیقت کې دغه لیکونه په یوه ورځ یا یوه میاشت کې نه وه بلکه په مختلفو تاریخو لېږل سوي دي چې ځیني یې د هجرت په اووم کال کې وه او ځیني یې د هجرت په اتم کال کې وه چې په دې حساب ټول قولونه صحي دي، په هر صورت زه به د دغو رسالو یا لیکونو عبارت او مضمون، حالات او واقعات درته بیان کړم.

(البته د رسالو د لېږلو ترتیب د تاریخ په حساب نه دی مراعت سوی).

(c) ketabton.com: The Digital Library


# د روم پاچا یا قیصر ته لیک

د روم پاچا چي نوم یې هِرَقل او لقب یې قَیصر ؤ، پایتخت یې (قُسطُنطِینِیَه) ؤ چي اوس اَستَنبُول ورته ویل کیږي، ټوله اُروپا، ترکیه، مصر، شام او نوري ډیري منطقې د ده تر حکم لاندي او د ده تابع وې، رسول الله ﷺ دغه قیصر ته رساله وږ ولېږل چي په هغه رساله کي یې اسلام ته را بلی او رسول الله ﷺ دغه رساله د دِحیهُ الکلبي رضی الله عنه په لاس د روم پاچا قیصر ته ور ولېږل، په دغه وخت کي چي دِحیة بن خلیفه الکلبي قیصر ته وررهي دی هلته په شام کي څه واقعې پېښي سوې چي هغه داسي وې:

په دغه وختو کي قیصر د روم پاچا په خپله په شام کي موجود ؤ او شام ته د ده د را تګ سبب دا ؤ: چي په تېرو کلو کي د روم او فارس په منځ کي ډیر لوی جنګ پېښ سوی ؤ او په دې جنګ کي روم پر فارس غالبه سو، فارس ته یې ماته او شکست ورکړه چي دغه واقعه یعني: پر فارس د روم کامیابي الله جل جلاله د هغه تر پېښېدلو څو کاله د مخه په قرآن مجید کي ذکر کړې او بیان کړې وه، الله عزوجل د سورةُ الروم په شروع کي فرمایي:

﴿الٓمٓ ۝١ غُلِبَتِ ٱلرُّومُ ۝٢ فِيٓ أَدۡنَى ٱلۡأَرۡضِ وَهُم مِّنۢ بَعۡدِ غَلَبِهِمۡ سَيَغۡلِبُونَ ۝٣ فِي بِضۡعِ سِنِينَۗ﴾.

یعني: و عربو ته په نژدې ځکه کي (یا په کښته ځکه کي) روم مغلوبه سو او دغه رومیان به د دوی تر دغه مغلوبیت وروسته په څو کلو کي بیرته پر فارسیانو غالبه سي.

د آیات شریف د ترجمې د پوره پوهېدلو دپاره به اول هغه قصه درته بیان کړم کوم چي دغه آیاتونه د هغې په باره کي نازل سوي دي نو بیا د آیاتو په ترجمه په ډیره آساني سره پوهېدلای سو، په دغو آیاتو کي قرآن عظیم الشان یوه عجبه پېش ګویي کړې ده چي د قرآن مجید پر صداقت او حقانیت لوی دلیل دی، قصه داسي وه:

د هغې زمانې د ځکي د مخ دوې لویې پاچهۍ چي فارس او روم وې د ډیرو کلو راهیسي په خپل منځ کي په شدیدو جنګو سره اخته او مشغوله وې د (٦٠٢) عیسوي کال څخه بیا د(٦١٤)عیسوي کال تر آخره د دوی د سختو جنګو سلسله جاري وه،

(c) ketabton.com: The Digital Library


په (۵۷۰) عیسوي کال کې د محمّد مصطفٰی ﷺ مبارک ولادت واقع سو او په (۶۱۰) عیسوي کال کې په نبوت مبعوث کړل سو، په پخوا کې به هم اهل مکې یا سشرکانو ته د فارس او روم د جنګو خبرونه رسېدل، خو د نبوت او د اسلام د دعوت په وخت کې دغه د جنګو خبرو د اهل مکې په زړو کې یو بل شکل او خاصه علاقه پیدا کړې وه، د فارس آتش پرستانو د مکې مکرمې بُت پرستان د ځان ډله بلل، د دین د نژدې والي په سبب یې بُت پرستان خپل بلل او بالمقابل د روم نصاراوو بیا مسلمانان خپل بلل، ځکه چې دواړه اهل کتاب وه او د دواړو دین آسماني دین ؤ، نو کله چې به د فارسیانو د غالبه کېدلو خبر را ورسېدی د مکې مکرمې مشرکانو به خوشالي کول او ویل به یې: موږ هم دغه رنګه پر تاسي غالبه کیږو، مسلمانان به هم په دغو خبرو او واقعو زهیرېدل او ویل به یې: نصارا چې اهل کتاب دي ولې د آتش پرستو مجوسیانو په مقابل کې شکست خوري؟ چې موږ ته دغه مشرکان پېغورونه را کوي خو په (۶۱۴) عیسوي کال کې چې د رسول الله ﷺ د بعثت پنځه کاله تېر سوي وه فارسیانو و رومیانو ته ډېره سخته ماته ورکړه او د روم د قیصر څخه یې ډېر ځایونه ونیول حتّٰی په خپله هرقل یا قیصر هم په قُسطُنطینیه کې محاصره او قلا بند سو، د رومیانو پایتخت تر خطر لاندي سو، ډېر لوی لوی اُسقُفان یا و وژل سوه یا بندي ونیول سوه، د بیت المقدس څخه ډېر لوی او مقدس صلیب د ایراني فاتحانو لاس ته ورغلی، د روم د قیصر عزت او اقتدار بالکل ختم او له منځه ولاړ، په ظاهره خو داسي هیڅ دلیل او علامه نه وه موجود چې رومیان دي بیا دومره قوت او طاقت پیدا کړي چې د فارسیانو په مقابل کې دي سر را پورته کړي، نو د دغو حالاتو او اخبارو په لیدلو او اورېدلو سره به د مکې مکرمې مشرکان ډېر خوشاله کېدل، مسلمانانو ته به یې پېغورونه ورکول او زهېرول به یې تر داسي اندازې چې د مکې مکرمې د مشرکانو څخه یوه نفر ابوبکر الصدّیق رضی الله عنه ته و ویل: نن زموږ فارسي ورونه ستاسي پر رومي ورونو غالبه سوه او شکست یې ورکړی، محوه او نابود یې کړه، سبا به موږ هم تاسي ته دغسي ماته درکړو او له منځه به مو یو سو، په دغه وخت کې قرآن مجید د ظاهري اسبابو څخه مخالف یو داسي اعلان او بیان وکړی چې د منکرو مشرکانو هیڅ زړه ته نه لوېدی چې

(c) ketabton.com: The Digital Library


هغه دغه آیات شریف دی چې مور مخکې تلاوت کړی:

﴿الٓمٓ ۝ غُلِبَتِ الرُّومُ ۝ فِيٓ أَدۡنَى الۡأَرۡضِ وَهُم مِّنۢ بَعۡدِ غَلَبِهِمۡ سَيَغۡلِبُونَ ۝ فِي بِضۡعِ سِنِينَ﴾.

یعني: عربو ته په نژدې ځمکه کې (یا په کښته ځمکه کې) روم مغلوبه سو او دغه رومیان به د دوی تر دغه مغلوبیت وروسته په څو کلو کې بیرته پر فارسیانو غالبه سي.

په عربي کې د درو څخه نیولې بیا تر نهو پورې، بِضع ورته ویل کیږي، چې دا د (بِضعَ) د لفظ ترجمه سوه، نو الله جل جلاله و فرمایل: چې نن ورځ خو رومیان د فارسیانو له طرفه مغلوبه کړل سوه، مګر د نهو کلو په موده کې به بیرته رومیان پر فارسیانو غالبه او کامیابه سي، د دغه پېشګویي په اساس حضرت ابوبکر الصدّیق رضی الله عنه د ځینو مشرکانو سره شرط وتړی (البته په دغه وخت کې شرط تړل نه وه حرام سوي) داسې شرط یې ورسره وتړی چې ویل: که تر دومره کلو پورې رومیان پر فارسیانو نه سوه کامیابه زه به تاسې ته سل اوښان درکوم او که په دغه موده کې رومیان کامیابه سوه تاسې به ما ته سل اوښان را کوی، که څه هم ابوبکر الصدّیق رضی الله عنه په اول کې د بضع سنین ترجمه د خپله فکره سره برابر په لږو کلو کړې وه، نو یې خود د کفارو سره شرط هم په لږو کلو اېښی ؤ، مګر بیا د رسول الله صلی الله علیه وسلم په لار ښوونه سره یې د بضع سنین ترجمه په نهو کلو سره وکړه او شرط یې هم په دغو نهو کلو وتړی او په دغو کلو کې د روم پاچا هِرَقل د جنګ دپاره ترتیبات نیول چې هغه د لاسه وتلی عزت او اقتدار بیرته را وګرځوي او په عین حال کې یې دا نذر هم پر ځان اېښی ؤ، ویل: که الله جل جلاله مونږ رومیان پر فارسیانو کامیابه کړو نو د حِمص یا قُسطَنطِینیې څخه به تر إیلیا پوري چې بیت المقدس دی د حج او زیارت دپاره پیاده او پر پښو ځم.

خو تاسې د الله جل جلاله شان او قدرت ته وګورئ چې د قرآن مجید د دغې پېشګویي سره برابر د نهو کلو په موده کې یعني: تر هجرت یو کال وروسته عیناً د بدر په ورځ هغه چې الله جل جلاله مسلمانانو ته پر مشرکانو ښکاره فتحه او بریٔ ورکړی، مسلمانان د بدر د فتحې په خوشالۍ کې وه چې دا خبر هم را ورسېدی چې الله جل جلاله کتابي نصارا پر

(c) ketabton.com: The Digital Library


فارسي مجوسيانو او آتش پرستانو بريالي او کامیابه کړه، چي د دغه خبر په اورېدلو سره د مکي مکرمې مشرکان نور هم سپک او ذليله سوه او د قرآن کريم دغه عجبه او حيرانوونکې پېشګويي د دې سبب سوه چي ډير نفر اسلام ته داخل سوه، ابو بکر الصدّيق رضي الله عنه هغه د شرط سل اوښان د مکې مکرمې د مشرکانو څخه واخیستل او د رسول الله ﷺ په امر سره يې ټول خيرات کړه. *(بیرته قصې ته راسه)*

هغه دا چي رسول الله ﷺ د دحيةُ الکلبي رضي الله عنه په واسطه د روم پاچا هرَقل ته رساله ولېږل او په دغه وختو کي په خپله هرقل په شام کي ؤ او دئ هم په دې سبب شام ته راغلی ؤ چي په تېرو کلو کي د روم او فارس په منځ کي هغه لوی جنګ پېښ سوی ؤ چي قصه مو درته بيان کړه او روم پر فارسيانو غالبه سوی ؤ، اوس چي هرقل په جنګ کي کاميابه سو نو غواړي چي په هغه خپل نذر وفاء وکړي، نو د قُسطُنطينيې څخه بيت المقدس ته پياده راغلی، خو قيصر په لار کي يو خوب وليدی هغه دا چي د ده پاچهي د داسي قوم او داسي خلکو په واسطه د ده د لاسه وزي چي هغه قوم سنت سوی دی.

تاسي ته معلومه ده چي نصارا ځانونه او خپل اولادونه نه سنتوي، نو ده دغه خوب وليدی چي د ده پاچهي د داسي خلکو په واسطه د ده د لاسه وزي چي هغه قوم سنت سوي وي، کله چي قيصر شام ته ورسېدی د علماوو، احبارو، وزيرانو څخه يې پوښتنه وکړه چي په دې وطنو کي څوک ځانونه سنتوي؟ هغو ورته و ويل: بېله يهودو بل څوک سنتېدل نه کوي، نو قيصر د ټولو يهودو د وژلو قصد او إراده وکړه (که يې دا کار کړی وای دنيا به يې د يهودو له شره خلاصه کړې وای مګر د الله جَلَّ جَلالُهُ إراده بيا بله وه) اوس قيصر د يهودو د وژلو دپاره ترتيبات نيسي، خپلي قواوي آماده کوي چي په شام کي ټول موجود يهود حلال کړي ځکه ده غوښتل چي هغه د ده د خوب رښتيا نه سي، په دغه وخت کي چي ده د يهودو د وژلو دپاره ځان جوړاوه په شام کي يو غل ونيول سو چي هغه غل د عربو څخه ؤ، عرب ؤ او په شام کي يې غلا کول نو خلکو د هغه غله عرب په تلاښي شروع وکړه تر داسي اندازې چي کالي يې ځني وکښل، کله چي عرب لڅ سو نصاراوو و ليده چي دئ هم سنت سوی دی، نو يې عرب ته و ويل: ته يهودي يې؟ سړي ويل يا! ويل: د کوم ځای يې؟ ويل:

د جزیرةُ العرب یم، ویل: تاسي عرب هم ځانونه سنتوی؟ ویل: هو، دغه خبر یې و قیصر ته ورساوه چې صبر وکړه یهود مه وژنه ځکه بېله یهودو بل قوم هم سته چې ځانونه سنتوي، ویل: هغه څوک دي؟ ویل: عرب دي او د غله حال یې ورته و وایه.

قیصر ویل: غل ما ته راولی، اوس قیصر ته د غلا تر موضوع هغه بله د خوب موضوع مهمه ده، خیر غل و هِرقل ته ور وستل سو (د الله جل جلاله کارونه دي په دغه وختو کي ابوسفیان او د قریشو څو نفره نور هم په شام کي دي چې د تجارت دپاره تللي وه) هلته هِرقل په خپله د دغه عرب څخه تحقیقات او پوښتني کوي، ویل تاسي څوک یاست؟ څنګه ژوند مو دی؟ دین مو څه شي دی؟ عرب ویل: مورِ د جزیرةُالعرب اوسېدونکي یو، مشهوره قومونه او قبیلې یو، ټول خلک مو پېژني چې مورِ عرب یو، د هرقل چې په اوړو کي شکه وه ویل: آیا په تاسي کي یو نوی شئ، نوی دین، نوی تحوّل پېښ سوی دی؟ عرب ویل: هو! په مورِ کي یو نفر پیدا سوی دی چې نوم یې محمّد دی او وایي: زه نبي یم، د رسول الله ﷺ د ژوند او دعوت څه حالات یې ورته و ویل، څرنګه چې هرقل عالم ؤ په تورات او انجیل کي یې معلومات درلودل او پوهېدی چې اوس د هغه وعده سوي نبي د را تګ وخت دی نو شک ورته پیدا سو، د ښه تحقیق دپاره یې د دغه نبي په باره کي پوښتني او معلومات ځني کول څو علامې ټولي داسي دي چې دا هغه نبي دی چې د دوی سره په کتابو کي ذکر سوی دی، هرقل امر وکړی چې داسي عرب را ته راولی چې د دغه محمّد ﷺ د قوم څخه وي، د هرقل قوم او عمله ګرځي او پوښتنه کوي چې په شام کي داسي عرب پیدا کړي چې د محمّد ﷺ له قومه څخه وي.

د هرقل عمله دلې پرېږده چې په شام کي د مکې مکرمې په قریشو پسي ګرځي او غواړي چې هرقل ته یې ورولي.

په دغه وخت کي د رسول الله ﷺ هغه لیک چې د دِحیةُ الکلبي رضي الله عنه په واسطه یې قیصر ته ورلېږلی ؤ دِحیةُ الکلبي و قیصر ته ورساوه (د رسول الله ﷺ لیک قیصر ته ورسېدی، د دغه لیک د رسېدلو واقعات به وروسته درته بیان کړم خو اوس به بیرته د قصې هغه ځای ته ور سم چې د هرقل عمله د رسول الله ﷺ په قوم پسي ګرځي)

(c) ketabton.com: The Digital Library


ځو د قیصر عملې ابوسفیان د نورو قریشو سره پیدا کړی، نو د قیصر عملې ابوسفیان او د قریشو هغه نور مشران ونیول او د روم پاچا قیصر ته یې ور وستل.

اوس نو قیصر د ابوسفیان څخه پوښتني کوي او ابوسفیان د هغه د پوښتنو جوابونه ورته وايي، چې دغه د دوی د سوال او جواب موضوع په بخاري شریف کې په یوه اوږده حدیث کې بیان سوې او ذکر سوې ده چې زه به اوس هغه حدیث شریف درته را نقل کړم، خو دا به هم درته و وایم: چې په دغه وختو کې ابوسفیان د رسول الله ﷺ هغه اشد یا تر ټولو خلکو شدید دښمن دی خو تاسي د هرقل د پوښتنو په مقابل کې د ده جوابونه په دقت سره واوری.

د عبدالله بن عبّاس رضي الله عنهما څخه روایت دی چې ابوسفیان بن حرب راته و ویل: هرقل ما او د قریشو یوې ډلې ته چې شام ته د تجارت دپاره تللي وو نفر را ولیږل او دا هغه وخت وو چې رسول الله ﷺ زما او د قریشو د کفارو سره د حدیبیې صلحه کړې وه.

هرقل په دغه وخت کې په بیت المقدس کې ؤ، هرقل موږ خپل مجلس ته ور وغوښتلو چې د ده په مجلس کې د ده پر شا وخوا د روم ډیر لوی خلک هم ناست وه او بیا یې ترجمان را وغوښتی، زموږ څخه یې د ترجمان په واسطه پوښتنه وکړه چې په تاسي کې کوم یو په نسب کې و هغه سړي ته ډیر نژدې دی چې وايي زه نبي یم؟

ابوسفیان وايي: ما ورته و ویل: زه تر دغه نورو نفرو ورنژدې یم.

*(ځکه ابوسفیان په پنځم نیکه کې د رسول الله ﷺ سره یوځای کېدی)*

هرقل و ویل: دئ زما مخ ته کښېنوی او د ده ملګري دي د ده شا ته کښیني او بیا هرقل خپل ترجمان ته و ویل: دغه نورو خلکو ته و وایه: زه د دغه سړي څخه پوښتني کوم که یې په جواب کې درواغ را ته و ویل تاسي د ده خبره ور رَدوی، خو ابوسفیان بیا وايي: که ما ته د دې څخه شرم او حیاء نه درېدلای چې بیا به درواغجن معرفي سم، یعني: خلک به مې درواغجن بولي ما به درواغ ورته ویلي وای.

هرقل په پوښتنو شروع وکړه او اوله پوښتنه یې داوه:

د دغه سړي نسب په تاسي کې څنګه دی؟

ما ورته و ویل: هغه په موږ کې د ښه نسب خاوند دی.

هرقل ویل: آیا په تاسي کي دغه د نبوت دعوه او خبري تر ده د مخه یو بل چا هم کړي دي؟ چي ویلي یې وي زه نبي یم.

ما ویل یا، په موږ کي تر اوسه چا د نبوت دعوه نه ده کړې.

هرقل ویل: آیا د محمد ﷺ په نیکه ګانو کي یو پاچا تېر سوی دی؟

ما ویل: یا.

هرقل ویل: آیا د شرف او عزت خاوندان یې متابعت کوي که ضعیفه خلک؟

ما ویل: یا، هغه ضعیفه خلک یې متابعت کوي.

هرقل ویل: آیا دغه د ده متابعین زیاتیږي که کمیږي؟

ما ویل: زیاتیږي.

هرقل ویل: یو څوک چي د ده دین ته داخل سي بیا بیرته څني اوړي؟

ما ویل: یا، داسي څوک نه دی را معلوم چي د ده دین ته دي داخل سوی وي او بیرته دي څني اوښتی وي.

هرقل ویل: آیا تر دغه د مخه چي د نبوت خبري وکړي تاسي په ده کي درواغ لیدلي وه؟

ما ویل: یا.

هرقل ویل: آیا غدر، وعده خلافي او خیانت کوي؟

ما ویل: یا، مګر اوس زموږ او د ده په منځ کي د یو څه مودې دپاره پر صلحه عهد او اتفاق سوی دی خو په دې نه یم خبر چي په دغه صلحه او وعده کي به څه را سره وکړي (د ابوسفیان مقصد هغه د حدیبیې صلحه وه چي اوس هم جاري او برحاله وه).

ابوسفیان وایي: په دغه ټول سوال او جواب کي مي داسي خبره نه کړه پیدا چي زه یې پر زیاته کړم بېله دغه خبري څخه.

هرقل ویل: ستاسي او د ده په منځ کي جنګ پېښ سوی دی؟

ما ویل: هو.

هرقل ویل: د دغه جنګ نتیجه به څنګه وه؟

ما ویل: جنګ زموږ او د ده په منځ کي سلواغه وه کله زموږ و طرف ته او کله د ده

(c) ketabton.com: The Digital Library


و طرف ته وي، يعني: کله موږ کامیابه یو کله دئ.

هرقل ویل: په څه شي موامرکوي؟

ما ویل: وايي يوازي د الله جل جلاله عبادت کوی، هیڅ شئ مه ور سره شریکوی او هغه ستاسي پلرو چي ويل او کول هغه پرېږدی او موږ په لمانځه، صداقت، پاکي او صلۀ رحمي امرکوي.

هرقل و ترجمان ته وويل: ده ته ووایه:

ما يې د نسب پوښتنه درڅخه وکړه: او تا ویل: هغه د شریف نسب څخه دی، رسُولان هم دغه رنګه وي د خپل قوم په نسب کي رالېږل کيږي.

او پوښتنه مي درڅخه وکړه: چي تر ده د مخه په تاسي کي یو بل چا هم دغه خبري کړي دي؟ تا ویل: یا، نوکه چیري په تاسي کي یو بل چا هم دغه د نبوت دعوه کړې وای، ما به ويلي وای: چي دئ هم د هغه نفر تقليد کوي او هغه خبري کوي.

او پوښتنه مي درڅخه وکړه: چي آیا په نیکه ګانو کي يې پاچا تېر سوی دی؟ تا ویل: یا، ما ويل: که يې په کورنۍ کي پاچا تېر سوی وای نو به مي ویلي وای چي سړئ د خپلو پلرو او نیکه ګانو پاچهي غواړي.

او پوښتنه مي درڅخه وکړه: چي دغه د نبوت تر خبرو د مخه تاسي دئ په دروغو متهماوه؟ يعني: کومه د دروغو خبره څني سوې ده.

تا ویل: یا. نو زه پوه سوم: هغه څوک چي د خلکو سره دروغ نه وايي دا امکان نه لري چي هغه دي پر الله جل جلاله دروغ و وايي، دا ممکنه نه ده چي یو څوک دي په خپل عادي او معمولي ژوند کي د خلکو سره دروغ نه وي ویلي، او بیا دي په یوه وار پر الله جل جلاله دروغ و وايي، دا هیڅ عقل نه مني.

او پوښتنه مي درڅخه وکړه: أشراف او با عزته خلک يې متابعت کوي که ضعیفه خلک؟ تا ویل: ضعیفه خلک يې متابعت کوي او دا معمول دی چي د انبیاوو متابعین همېشه د ضعیفه طبقې څخه وي، هغه چي په ابتداء او شروع کي د رسُولانو متابعت کوي هغه أشراف او سرداران نه وي بلکه ضعیفه خلک وي.

او پوښتنه مي درڅخه وکړه: چي د ده متابعین زیاتیږي که کمیږي؟

تا ویل: زیاتیږي. د ایمان کار هم داسي دی ترڅو چي پوره کیږي. خلک په کراره کراره سره مسلمانیږي څو بالکل ایمان او اسلام عام سي.

او پوښتنه مي درڅخه وکړه: آیا یو څوک پسله هغه چي د ده دین ته داخل سي بیرته د ده له دینه اوړي؟ تا ویل یا، ایمان هم داسي دی چي زړه ته ننوزي زړه په رونبانه کیږي او په زړه کي ځای نیسي.

بیا مي پوښتنه درڅخه وکړه: آیا غدر او خیانت کوي؟ تا ویل یا.

انبیاء هم داسي وي چي هیڅ غدر نه کوی.

او پوښتنه مي درڅخه وکړه: په څه شي مو امر کوي؟ تا ویل د یوه الله په عبادت او وایي هیڅ شئ مه ور سره شریکوی او د بتانو له عبادته مو منعه کوي، په لمانځه، صداقت او پاکي مو امر کوي.

دلته نو قیصر یوه لویه او د معنٰی ډکه جمله وویل، ویل: که دغه ستا خبري حق او رشتیا وي، نو به دئ د دغه ځای چي دغه زما پښې پر پرتې دي آمر او مالک سي، یعني: حکم به یې تر دغه ځایه را ورسیږي.

قیصر وویل: زه پوهېدم چي دغه نبي را تلونکی دی خو دا ګمان مي نه کاوه چي هغه دي په تاسي عربو کي وي، که زه پوه سم چي زه ده ته ور رسېدلای سم ما به د ده د ملاقات په لار کي ډېر تکلیف تحمل کړی وای او که زه د ده سره وای: متوجه سی دا د قیصر خبري دي(د روم پاچا) په دنیا کي د هغو دوو لویو مملکتو څخه د یوه مملکت پاچا خبري کوي او وایي: که زه د ده سره وای ما به یې پښې ورپرېوللای او بیا یې د رسول الله ﷺ هغه لیک را وغوښتی چي دِحیة الکلبي رضي الله عنه ورته راوړی ؤ او هغه یې دغه حاضر مجلس ته و وایه، کله چي د لیک د ویلو څخه فارغه سو په مجلس کي آوازونه پورته سوه غالمغال جوړ سو، قیصر موږ امر کړو چي تاسي ولاړ سی.

ابوسفیان چي بیا په وروسته کي مسلمان سو هغه وایي: کله چي موږ قریش د هرقل له درباره را ووتلو او زه د خپلو ملګرو سره تنها سوم نو مي ورته وویل: په والله د محمّد دین لوړ او غالبه سو، د هغه څخه د روم پاچا قیصر هم بیریږي.

ابوسفیان وایي: له دغه وخته مي دا یقین سو چي د رسول الله ﷺ دین غالبه

(c) ketabton.com: The Digital Library


کيږي ترڅو چې الله جل جلاله زما په زړه کې اسلام را واچاوه.

*اوس به هغه واقعات درته بيان سي چې قيصر ته د رسول الله ﷺ د ليک د رسېدلو په وخت کې او د ليک په سبب پېښ سوه.*

لکه څرنګه چې د مخه مو درته وويل: دِحيةُ الکلبي رضي الله عنه د رسول الله ﷺ ليک و قيصر د روم پاچا ته ورساوه او هغه ليک داسې ليکل سوی ؤ:

اول به هغه ليک په عربي او هغه ډول چې ليکل سوی ؤ درته وړاندي کړم ځکه دا تاريخي اثر او د رسول الله ﷺ هغه رساله يا مکتوب دی چې قيصر ته يې لېږلی ؤ، په خپله هغه رساله په هغه الفاظو تر اوسه هم ساتل سوې ده او د تاريخي آثارو څخه ده، د لندن موزيم دا ثابته کړې ده چې دغه رساله د هجرت په اوم کال کې ليکل سوې ده او هغه رساله داسي ده:

﴿بسم الله الرّحمٰن الرّحيم، مِن محمّد رسولِ الله اِلی هِرقلَ عظيمِ الروم، سلامٌ علی مَنِ اتّبعَ الهُدٰی، امّا بعد:

فَاِنّی أدعُوکَ بِدِعَايَةِ الإسلامِ، أسلِم تَسلَم، وأسلِم يُؤتِکَ اللهُ أجرکَ مَرتَين، فَاِن تولّيتَ فَاِنّ علَيکَ اِثمُ الاَرِيسِيينَ، وَقُلْ يَٰٓأَهْلَ ٱلْكِتَٰبِ تَعَالَوْا۟ إِلَىٰ كَلِمَةٍ سَوَآءٍۭ بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ أَلَّا نَعْبُدَ إِلَّا ٱللَّهَ وَلَا نُشْرِكَ بِهِۦ شَيْـًٔا وَلَا يَتَّخِذَ بَعْضُنَا بَعْضًا أَرْبَابًا مِّن دُونِ ٱللَّهِ ۚ فَإِن تَوَلَّوْا۟ فَقُولُوا۟ ٱشْهَدُوا۟ بِأَنَّا مُسْلِمُونَ ﴿٦٤﴾﴾.

د ليک ترجمه داسې ده:

بسم الله الرّحمٰن الرّحيم،

د محمّد رسول الله ﷺ له طرفه د روم مشر هرقل ته: سلامتيا دي پر هغه چا وي چې د حق او سمي لاري متابعت کوي، امابعد: زه تا په بلنه د اسلام، و اسلام ته دعوتوم او را بولم، مسلمان سه چې سالم پاته سې، مسلمان سه چې الله جل جلاله به دوه واره أجر او ثواب درکړي او که دي له اسلامه مخ واړاوه (انکار دي وکړی) نو د بزګرانو او باغوانانو ګناه هم ستا پر غاړه ده. (ځکه په هغه وخت کې د روم ټول خلک د کښت او زراعت په کار مشغول وه) تقريبًا ټول خلک بزګران او باغوانان وه،

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو ويل: که دي انکار وکړی د هغو ګناه هم ستا پر غاړه ده. یا اهل الکتاب! (څرنګه چې د روم پاچا او ملت ټول نصارا وه نو يې يا اهل الکتاب ورته وويل) او له دغه ځايه هغه نور پاته ليک د سورة آل عمران (٦۴) نمبر آيات دی، يعني: اې کتابيانو! راسی رجوع وکړی وهغي کلمې ته چې زموږ او ستاسي په منځ کي يوه او يو شئ ده، هغه دا چې بېله الله جل جلاله به بل د هيچا عبادت نه کوو او الله جل جلاله ته به هيڅ شئ نه شريکوو او نه به ګرځوي ځيني زموږ ځيني نور خدايان (بېله الله جل جلاله به بل څوک د خپلو ځانو دپاره مالک او معبود نه ګرځوو) او که چيري دوی مخ واړاوه (توحيد او اسلامي احکامو ته يې شا ور وګرځول) نو اې مسلمانانو! تاسي دغو کتابيانو ته ووايا ست چې تاسي پر دې خبره شاهدان اوسی چې موږ مسلمانان يو.

کله چې هرقل ته د رسول الله دغه ليک او رساله وويل سوه او ترجمه سوه هرقل ورېږدېدی، ځکه د مخه يې د ابوسفيان سره ملاقات، سوال او جواب کړي وه او هغه سوالونه او جوابونه يې په دماغ کي پاته وه او دلته دغه رساله ورته و ويل سوه، په چرت او فکر کي ډوب سو فکر وهي، بيا يې انجيل را واخيستی او د راتلونکي نبي علامې يې پکښي وکتلې، هغه ټولي علامي پر محمّد ﷺ جوړي او موافقي وې، نو يې دِحيهٔ الکلبي رضي الله عنه ور وغوښتی او ويل: يا دِحيه! دغه د رسول الله ﷺ ليک و سَفاطِر ته ور وړه، سفاطِر د نصاراوو د عالمانو رئيس ؤ او په هغه زمانه کي په مسيحيت کي تر ټولو احبارو لوی او لوړ عالم ؤ او د هرقل سره دغه د شام په سفر کي ملګری ؤ، يوازي دئ نه بلکه نور هم د مسيحيت لوی لوی علماء ور سره ملګري وه چې ټوله د بيت المقدس د حج دپاره د قيصر سره راغلي وه.

دِحيهٔ الکلبي رضي الله عنه هم دغه ليک سفاطِر هغه د نصاراوو لوی عالم ته ور وړی، سفاطر چې دغه ليک و وايه ورېږدېدی او د دِحيه رضي الله عنه څخه يې د رسول الله ﷺ د حالاتو او علامو پوښتني شروع کړې، دِحيهٔ الکلبي رضي الله عنه هم جوابونه ورته وايي، سفاطر ډيري پوښتني کوي او د هري پوښتني جواب هم مفصل غواړي، دِحيهٔ الکلبي رضي الله عنه هم د رسول الله ﷺ ټول حالات په تفصيل سره ورته بيانوي، سفاطر نور هم سوالونه کوي خو ډيري پوښتني يې وکړې او د ټولو جوابونه يې په غور او دقت سره واورېدل،

(c) ketabton.com: The Digital Library


کله چې یې پوښتنې خلاصې سوې نو یې و ویل: زه پوهېدم چې دا وخت د هغه وعده سوي نبي د راتګ وخت دی، مګر دا ګمان مې نه کاوه چې هغه دې په تاسي کې پیدا سي یا معشرَ العرب! او زه شاهدي آداء کوم: (لا إله إلا الله وأن محمّداً رسول الله) د مسیحیانو لوی عالم سفاطر رحمه الله مسلمان سو.

بیا نو سفاطر د نصاراوو هغه نور علماء سره را ټول کړه او دئ هم ورسره کښېنستی د رسول الله ﷺ هغه رساله یې ورته و ویل کوم چې دِحیةُ الکلبي رضی الله عنه را وړې وه او د را تلونکي نبي ټولې علامې یې ورته بیان کړې او بیا یې د دوی د انجیل څخه هغه دلایل ورته و ویل چې د محمّد ﷺ پر نبوت یې دلالت کاوه او دا یې ثابتول چې محمّد ﷺ هغه موعود او را تلونکی نبي دی، کله چې سفاطر خپل ټول دلائل و ویل او د رسول الله ﷺ علامې یې هم بیان کړې نو یې و ویل: زه اوس تاسي اسلام ته را بولم او مسلمانان سی، زه په خپله دا شاهدي آداء کوم چې (لا إله إلا الله وأن محمّداً رسول الله) دلته د نصاراوو دغه نور علماء و بېرېدل ویل: که خلک خبر سوه چې سفاطر مسلمان سو د مسیح علیه السلام دین پرېږدي، نو یې د سفاطر رحمه الله د وژلو إراده وکړه او سفاطر رضی الله عنه یې په شهادت ورساوه.

اوس په نصاراوو کې یوه واقعه پېښه ده چې ټول په فکر کې دي او نه پوهیږي چې څه وکړي؟ په خپله هرقل په حیرت کې دی چې څنګه وکړي؟ دِحیة الکلبي رضی الله عنه هم د سفاطر په وژلو خبر سو او هرقل ته ورغلی چې اوس څه وایې؟ هرقل ویل: والله په دوی کې سفاطر تر ما عزتمن ؤ، وعلماوو ته د ده درجه او مقام زما تر مقام لوړ وه، دا چې دوی د ده اطاعت و نه کړی او وې وژی نو زما اطاعت به څنګه وکړي؟ مګر بیا هم ته صبر وکړه، هرقل امر وکړی چې د نصاراوو ټول علماء، أشراف او مشران دې را ټول سي، هغه یې ټوله په یوه قصر کې سره یو ځای کړه، هرقل امر وکړی چې د قصر دروازې بندې او وتړی او د قصر پر شا وخوا یې مسلح فوج و دراوه چې چا ته د وتلو اجازه ور نه کړي، اوس نو علماء، أشراف او مشران ټول په دغه قصر کې ناست دي او د قیصر د راتلو په انتظار دي، په دغه وخت کې قیصر د دغه قصر د لوړ منزل په یوه برنډه کې ور ته را و وتی او هلته لوړ داسي و درېدی چې حاضر

خلک ده ته نه سي ور رسېدلای، قیصر له هغه ځایه د رسول الله ﷺ لیک ورته ولوست او بیا یې هغه علامې ورته بیان کړې کومې چې په انجیل کې د را تلونکي نبي په باره کې راغلي وې او بیا یې داسي دلایل ورته و ویل چې په هغه سره یې دا ثابتول چې محمّد ﷺ هغه نبي دی کوم چې د راتګ وعده یې سوې ده. پسله دغي مقدمې قیصر و ویل: زه په خپله شاهدي آداء کوم چې (لا إله إلا الله وأن محمّداً رسول الله) او غواړم چې تاسي هم مسلمانان سی، یو وار په دغه راټول سوو خلکو کي نارې جوړي سوې، غالمغال سو او د قصر د دروازو پر طرف ځغلي غواړي چې ووزي او نارې وهي قیصر مسلمان سو. قیصر مسلمان سو. خو د قصر دروازې تړلي وې او مسلح فوج ولاړ دی خلک له مجبوریه بیرته را وګرځېدل او سره یو ځای سوه. قیصر ولاړ دی او ورته ګوري.
دغو نفرو قیصر ته و ویل: په والله که ته موږ ټوله و وژنې بیا به هم موږ د مسیح دین پرې نږدو، اوس د قیصر په مخ کي دوه کاره دي چې د هغو څخه به یو قبلوي او عملي کوي او تر هغه بل به تېرېږي، چې هغه دوه: اسلام، یا پاچهي ده، که دئ مسلمان پاته سي دغه را ټول سوي نفر او د هغو قبیلې او متابعین د ده پرضد درېږي چې په دې صورت کي ده ته پاچهي نه پاته کیږي، یا دا چې تر اسلام به تیرېږي خو پاچهي به ورپاته وي.
متوجه سه! دا الٰهي امتحانونه دي چې نن ورځ هم ډېر خلک په مبتلاء دي.
قیصر په دې فکر کي دی چې کوم یو اختیار کړي؟ خو په آخر کي قیصر ورته و ویل: یا قوم! زه نه مسلمان سوی یم او نه مسلمان یم، فقط ما تاسي تجربه کولاست، کله چې ما ولیدل چې د محمّد ﷺ دین نشرېږي زه پر تاسي و بېرېدم، نو مي غوښته چې دا ځان ته معلومه کړم چې تاسي پر خپل دین څومره ټینګ یاست او څومره علاقه ور سره لری؟ ما ولیدل چې تاسي پر خپل دین ټینګ ولاړ یاست او نه یې پرېږدی زه هم په دې کار ډېر خوشاله سوم او ستاسي سره پر دغه دین یم، بیا یې امر وکړی چې دروازې دي خلاصي سي.
دغه علماء او د قومو مشران د قیصر په خبرو خوشاله سوه، خو قیصر پسله هغه چې اسلام ته داخل سو بیرته مرتد سو، رسول الله ﷺ فرمایي: « اسلام د قیصر زړه ته ننوتی او بیرته مرتد سو پر دنیا او پاچهي وبېرېدی» وروسته قیصر دِحیةُ الکلبي رضی الله عنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


ور وغوښتی ځحفې او د سرو زرو دینارونه یې ورکړه ویل: دغه زما له طرفه و رسول الله ﷺ ته هدیه او تحفه ده او زما له طرفه ورته و وایه: زه شاهدي آداء کوم چي (لا إله إلا الله وأن محمداً رسول الله) او دا چي ما دغو خلکو ته و ویل چي زه ستاسي سره پر دغه مسیحیت یم د هغه سبب دا ؤ چي پاچهي مي ولاړه نه سي مګر ایمان زما په زړه کي دی، دِحیهُ الکلبي رضی الله عنه بیرته د مدینې منورې پر طرف رهي سو.

اوس چي دِحیهُ الکلبي رضی الله عنه د مدینې منورې پر لار د (حسمي) منطقې ته ورسېدی هلته په لار کي د جُذام د قبیلې خلک پر پېښ سوه او هغه د ده سره ور سره ټول شیان یې په زور ځني واخیستل د ده سره یې هیڅ شئ نه پرېښاوه، کله چي دحیهُ الکلبي رضی الله عنه مدینې منورې ته ورسېدی د مخه تر دې چي خپل کور ته ولاړ سي رسول الله ﷺ ته ورغلی او په قصه یې خبر کړی، اول یې د قیصر پیغام ورته و وایه چي قیصر وایي: زه په زړه کي مسلمان یم مګر په ظاهره د دې دپاره کفر ښکاره کوم چي پاچهي مي ولاړه نه سي خو رسول الله ﷺ و فرمایل: دغه د الله دښمن درواغ وایي دئ مسلمان نه دی بلکه دنیا پر غالبه سوه.

دا د قیصر د زړه پټ حال او حقیقت ؤ چي رسول الله ﷺ ښکاره کړی، دئ د نجاشي په مثل نه ؤ بلکه دنیا ورکش کړی د پاچهي او د دنیا حُب پر غالبه سو.

پاته سوه د جُذام د قبیلې د خلکو موضوع! رسول الله ﷺ هغو ته د جزاء ورکولو دپاره زید بن الحارثه رضی الله عنه حسمي ته د (۵۰۰) نفرو سره ولېږی، حسمي یوه منطقه ده چي د وادیُ القُری شا ته ده، زید رضی الله عنه هم د جذام پر قبیله حمله وکړه کوم کسان چي وژل کېده و وژل سوه او نور وتښتېدل، زید بن الحارثه رضی الله عنه د دوی څخه ډیر غنیمتونه مدینې منورې ته راوړل چي د غنیمتو په جمله کي زر اوښان، پنځه زره پسونه او سل ښځي او ماشومان وه.

خو هلته بیا د رسول الله ﷺ او د جُذام د قبیلې په منځ کي د نه تعارض وعده موجوده وه، نو زید بن رِفاعه الجذامي چي د جذام د قبیلې د مشرانو څخه ؤ، دئ او د ده د قوم څو نفره مسلمانان سوي هم وه او په هغه وخت کي چي پر دِحیهُ الکلبي رضی الله عنه حمله کېدل دوی د ده رضی الله عنه مرسته هم کړې وه، نو دغه زید بن رِفاعه و رسول الله ﷺ

(c) ketabton.com: The Digital Library


ته عرض او شکایت وکړی چې زموږ سره داسي وسوه، رسول الله ﷺ هم د ده شکایت قبول کړی د دوی بندیان یې ور ایله کړه او غنیمتونه یې بیرته ورکړه.

دا د رسول الله ﷺ یوه رساله او یو لیک ؤ خو تاسي وګورئ چې د هغه وخت د مځکي د مخ پر هغه لوی پاچا یې څومره اثر او تاثیر ؤ؟ تول مملکت یې ور وربړداوه.

نن ورځ هم ټول کفار د اسلام څخه بیریږي او د هغه د ختمولو دپاره کوښښونه کوي خو هیهات! دا دین به د قیامت تر ورځي پوري موجود وي، الله جل جلاله د سورة التوبه په (۳۲، ۳۳) نمبر آیاتو کي فرمایي:

﴿ يُرِيدُونَ أَن يُطْفِـُٔواْ نُورَ ٱللَّهِ بِأَفْوَٰهِهِمْ وَيَأْبَى ٱللَّهُ إِلَّآ أَن يُتِمَّ نُورَهُۥ وَلَوْ كَرِهَ ٱلْكَٰفِرُونَ ﴿٣٢﴾ ﴾. [التوبه: ۳۲]

یعني: کتابي کفار غواړي چې د الله جل جلاله د دین او شریعت رڼا په خپلو خولو سره و وژني، یا الهي نور په پوکلو سره ورک کړي، مګر الله جل جلاله دغه کار تر هغو پوري منعه کوي تر څو چې خپل نور یعني: توحید او محمّدي شریعت پوره کیږي، که څه هم کفار د دغه شریعت په نشرولو ناراضه وي.

د اسلام د ورکولو دپاره دکفارو هلي ځلي داسي مثال لري لکه یو بیعقل او ناپوه انسان چې په پوکلو سره د لمر یا سپوږمۍ شعاع یا روښنایي وژني.

﴿ هُوَ ٱلَّذِىٓ أَرْسَلَ رَسُولَهُۥ بِٱلْهُدَىٰ وَدِينِ ٱلْحَقِّ لِيُظْهِرَهُۥ عَلَى ٱلدِّينِ كُلِّهِۦ وَلَوْ كَرِهَ ٱلْمُشْرِكُونَ ﴿٣٣﴾ ﴾. [التوبه: ۳۳]

الله جل جلاله هغه ذات دی چې خپل رسول محمّد ﷺ یې په هدایت سره (چې قرآن مجید دی) او په حق دین سره (چې اسلام دی) د دې دپاره رالیږلی دی، چې دغه دین پر نورو ادیانو که څه هم آسماني ادیان وي لوړ کړي، که څه هم مشرکان په دې کار سره نا راضه وي.

الحمد لله په هر وخت او هره زمانه کي د حُجت، معقولیت او دلائلو په لحاظ د اسلام دین پر نورو ټولو أدیانو که څه هم آسماني أدیان وي په ښکاره ډول سره غالبه او کامیابه دی، خو د سلطنت او حکومت په اعتبار هم تر هغه وخته پوري پر نورو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ادیانو غالبه ؤ چې مسلمانانو اسلامي اصول او قوانین مراعتول، د ایمان او تقوٰی پر لار سم رهي وه، په جهاد في سبیل الله کې ثابت قدمه وه او که تر دې وروسته هم مسلمانان پر ایمان او اسلام، تقوٰی او جهاد ثابت و درېږي بیا به هم کامیابي او سلطنت، حکومت او حاکمیت د دوی وي او د حق دین داسې کامله غلبه چې نور ادیان د مځکې له مخه په کُلي ډول سره محوه او نابود کړي هغه وخت به وي چې قیامت ته نژدې مسیح علیه السلام له آسمانه را کښته سي.

## د دِمشق آمر حارث بن أبي شمر الغساني ته لیک

دغه رنګه رسول الله ﷺ د شجاع بن وهب الأسدي رضي الله عنه په لاس یو لیک و حارث بن أبي شمر الغساني ته چې د دمشق آمر ؤ ولېږی او دا لیک داسې لیکل سوی ؤ:

«بسم الله الرّحمٰن الرحیم، من محمّد رسولِ الله الی الحارث بن أبي شمر! سلامٌ علٰی من إتّبعَ الهُدٰی وَآمنَ باللهِ وصَدّق، وإنّي أدعوکَ أن تؤمِنَ باللهِ وحدهُ لا شریکَ لهُ، فَیَبقٰی لکَ مُلکُکَ».

یعني: پر هغه چا دې سلامتیا وي چې د حق او سمې لارې متابعت کوي او پر الله یې ایمان را وړی وي او د هغه تصدیق کوي او زه تا دې ته را بولم چې یوازې پر یود الله هغه چې شریک نه لري ایمان را وړه، نو ستا پاچهي به تا ته درپاته سي.

حارث چې دغه لیک وواېه ډېر په قهر سو او د رسول الله ﷺ رساله یې پر مځکه وغورځول، ویل: ما زما په خپله پاچهي بېروي څوک زما څخه زما پاچهي اخیستلای سي؟ حال دا چې زه سل زره جنګي فوج لرم، دغه د دمشق آمر د غساسنه پر قبیلو حاکم ؤ چې دغه قبیلې د جزیرةُ العرب په شمال کې اوسېدې، د حارث دغه شدید جواب د دې سبب سو چې بیا په وروسته کې یې د (مؤته) جنګ په وجود را وړي او له دغه وخته حارث د لښکر په تیارولو او آماده کولو شروع وکړه، هغه خپل سل زره نفریزه لښکر یې تیاراوه چې پر مدینه منوره او مسلمانانو حمله وکړي.

*حارث نو دلې د خپل لښکر د تیارولو په حال کې پرېږده.*

(c) ketabton.com: The Digital Library


## د بُصرىٰ آمر ته د رسول الله صلی الله علیه وسلم ليک

رسول الله صلی الله علیه وسلم يو بل ليک د حارث بن عُمير الأزدي رضی الله عنه په لاس د بُصرىٰ و آمر ته ولېږى چي د هغه خط مضمون او معنىٰ هم داسي وه لکه د دمشق آمر حارث بن أبي شمر ته چي يې لېږلى ؤ او د بُصرىٰ آمر يې اسلام ته دعوتا وه، حارث رضی الله عنه د ليکه سره د بُصرىٰ د آمر پر طرف رهي سو، په لار کي شُرحبيل بن عَمرو الغساني پر پېښ سو چي دغه شرحبيل کافر او د غسان د قبيلې د آمرانو څخه ؤ، شرحبيل دغه د رسول الله صلی الله علیه وسلم قاصد وليدى چي د بُصرىٰ آمر ته د ليک د ورړلو دپاره رهي دى نو يې دغه د رسول الله صلی الله علیه وسلم قاصد حارث بن عُمير الأزدي رضی الله عنه ونيوى او شهيد يې کړى چي دا د غسان د قبيلې له طرفه د اسلام پر ضد دوهم مخالفت او دښمني وه چي پېښېږي، د دغي واقعې په سبب د مسلمانانو او غساسِنه په منځ کي حالات او مناسبات نور هم خراب سوه.

رسول الله صلی الله علیه وسلم هم د لښکر په جوړولو شروع وکړه چي پر غساسنه يا د غسان پر قبيلو د مخه تر دې حمله وکړي چي هغه پر مسلمانانو حمله کوي، دغه د رسول الله صلی الله علیه وسلم د قاصد شهيدېدل د (مُؤته) د جنګ دپاره دوهم سبب وګرځېدى، چي د غسان د قبيلې له طرفه د رسول الله صلی الله علیه وسلم د دوو رسالو سره نا وړه حرکتونه وسوه، اوله رساله يې وغورځول سوه او د دوهمي رسالې قاصد شهيد کړل سو چي د دغو حرکتو په نتيجه کي د مُؤته جنګ په وجود راغلى چي د هغه جنګ قصه به إن شاء الله تعالىٰ پرخپل وخت او ځاى درته بيان سي.

## د مصر پاچا مُقوقِس ته د رسول الله صلی الله علیه وسلم ليک

رسول الله صلی الله علیه وسلم يوه بله رساله د حاطِب بن أبي بلتَعه رضی الله عنه په لاس د مصر او اسکندريې و پاچا مقوقس ته ور ولېږل چي د دغه پاچا نوم جُرَيج بن متي ؤ او مقوقس يې لقب ؤ، دغه رساله تر اوسه پوري ساتل سوې ده او دا ليک داسي ليکل سوى ؤ:

﴿بسم الله الرّحمٰن الرّحيم، مِن محمّد رسولِ الله إلى المُقوقس عظيم القبط، سلامٌ علىٰ مَنِ اتّبعَ الهُدىٰ، امّا بعد: فَاِنّي أدعُوکَ بِدعَايَةِ الإسلام، أسلِم تَسلَم،

(c) ketabton.com: The Digital Library


وأسلِم يُؤتِکَ اللهُ أجرکَ مرّتين، فَان تولّيتَ فإنّ عليکَ اِثمُ اهلِ القِبط،

﴿قُلْ يَـٰٓأَهْلَ ٱلْكِتَـٰبِ تَعَالَوْا۟ إِلَىٰ كَلِمَةٍ سَوَآءٍۭ بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ أَلَّا نَعْبُدَ إِلَّا ٱللَّهَ وَلَا نُشْرِكَ بِهِۦ شَيْـًٔا وَلَا يَتَّخِذَ بَعْضُنَا بَعْضًا أَرْبَابًا مِّن دُونِ ٱللَّهِ ۚ فَإِن تَوَلَّوْا۟ فَقُولُوا۟ ٱشْهَدُوا۟ بِأَنَّا مُسْلِمُونَ ﴿٦٤﴾﴾.

دا ليک عيناً هغسي ليک دی لکه قيصر ته چي ليکل سوی ؤ نو ځکه يې ترجمه کولو ته ضرورت نسته، حاطِب رضی الله عنه چي ډير هوښيار او ذکي سړئ ؤ کله چي د مُقوقِس دربار ته ورننوتی نويې ورته وويل: تر تا د مخه پر دغه پاچهي يو سړئ ؤ چي هغه داسي ګمان کاوه چي دئ رب اعلٰی دی، چي مقصد يې فرعون ؤ او هغه به ويل: «أنا ربّکمُ الأعلٰی» زه ستاسي لوی او لوړ رب يم، نو الله جل جلاله هغه د دنيا او آخرت په عذاب اخته کړی، د ځينو څخه يې په ده سره انتقام واخيستی او بيا يې له ده څخه انتقام واخيستی، نو ته په نورو سره عبرت واخله داسي مه کېږه چي نور په تا سره عبرت واخلي، بيا يې د رسول الله ﷺ رساله ورکړه، د رسالې تر ويلو وروسته د مقوقس او حاطِب رضی الله عنه په منځ کي سوال او جواب شروع سو، تاسي ښه ورته متوجه سی څومره خوږې خبري دي، مقوقس چي نصراني ؤ وويل: موږ يو دين لرو چي هغه نه پرېږدو مګر خو بيا يې و هغه دين ته پرېږدو چي زموږ تر دين ښه وي.

حاطِب رضی الله عنه و ويل: موږ دي و دينِ اسلام ته رابولو، هغه دين چي د الله جل جلاله له طرفه راغلی دی او په هغه دين سره نور اديان باطل سوه، بېشکه دغه نبي خلک و اسلام ته دعوت کړه خو په خلکو کي هغه تر ټولو شديد خلک قريش وه او تر ټولو ډير دښمنان يې يهود وه او هغه چي ده ته تر ټولو نژدې دي هغه نصارا دي او زما دي قسم وي چي د موسٰی زيری په عيسٰی سره نه دی مګر داسي دی لکه د عيسٰی زيری په محمّد سره، يعني: لکه تاسي چي خلکو ته تر موسٰی وروسته په عيسٰی سره زيری ورکوی موږ تاسي ته تر عيسٰی وروسته په محمّد ﷺ سره زيری درکوو او زموږ له طرفه و قرآن ته ستا دعوتول داسي دي لکه ته چي د تورات خلک و انجيل ته دعوتوې، هر نبي چي په يو قوم کي پيدا سي هغه ټول قوم د ده امت دی او پر هغه ټول قوم

دا لازمه ده چي د ده متابعت وکړي او ته د هغو کسانو څخه يې چي د دغه نبي وخت دي ونيوی، نو بايد متابعت يې وکړې او موږ تا د مسيح علیه السلام له دينه نه منعه کوو بلکه په هغه سره دي امر کوو ځکه د هغه په دين او کتاب کي دا راغلي دي چي [تر ما وروسته يو نبي راځي چي نوم يې محمّد دی او تاسي يې متابعت وکړی] نو زه دي اوس په هغه دين سره امر کوم.

د پوښتنو په جمله کي مقوقس داهم و ويل: د رسول الله ﷺ او قريشو په منځ کي څه پېښه سوه؟ حاطِب رضی الله عنه و ويل: هغو جنګونه ور سره وکړه، مقوقس ويل: نو ولي يې و هغو ته ښرا نه کول؟ څرنګه چي دئ نبي دی دعاء او ښرا يې قبلېږي نو يې ولي د جنګ پر ځای خپل قوم ته ښرا نه کول؟ چي د هغه قوم انسانان يې مات کړي او خراب کړي وای؟ حاطِب رضی الله عنه و ويل: عيسیٰ علیه السلام ولي خپل قوم ته ښرا نه کول؟ مقوقس چي نصراني او عيسايي ؤ چپ او بې جوابه سو، ځکه محمّد ﷺ او عيسیٰ علیه السلام دواړه نبيان او رسولان وه دوی دواړو خپل قوم ته د رحمت او شفقت په سبب ښرا نه کول بلکه د قوم هدايت يې د الله جل جلاله څخه غوښتی.

بيا مقوقس و ويل: ما د دغه نبي په باره کي فکر وکړی په داسي شي سره امر نه کوي چي هغه دي د پرېښوولو وړ وي او د داسي شي څخه منعه نه کوي چي هغه دي د کولو وړ وي، يعني: په هر هغه شي سره چي خلک امر کوي واقعاً هغه داسي شئ دی چي بايد وسي او له هر هغه شي څخه چي خلک منعه کوي هغه داسي شئ دی چي حقيقتاً بايد پرېښوول سي، دئ نه ګمراه ساحر دی او نه درواغجن کاهن دی بلکه په ده کي مي د نبوت علامې وليدلې او زه به نور هم فکر وکړم، بيا يې د رسول الله ﷺ رساله د عاج په يوه قُطي، کي کښېښوول هغه يې لاک او مهر کړه او د ساتلو دپاره يې يوې مينځي ته ورکړه چي دا وساته.

وروسته يې داسي ليکونکی را وغوښتی چي په عربي يې ليکنه کول او د رسول الله ﷺ د ليک په جواب کي يې دغه ليک وليکی:

بسم الله الرّحمٰن الرّحيم، و محمّد بن عبدالله ته د مقوقس عظيم القِبط له طرفه، سلامٌ عليک امّا بعد: ستا ليک مي و وايه هغه څه چي تا ليکلي وه او په هغه څه پوه

(c) ketabton.com: The Digital Library


سوم چې خلک ور بولې او په دې پوهېدم چې یو نبي پاته دی ما دا سې فکر کاوه چې هغه به په شام کې پیدا سي، ستا د قاصد عزت مې وکړی او تا ته مې دوې جارېې در ولېږلې چې دغه دواړې په قِبط کې د لوړ مقام خاوندانې دي (قبط یوه لویه قبیله او قوم دی چې په مصر کې اوسېدی او قبطیان ورته ویل کېږي) او یوه غاطره مې ستا د سپرتیا دپاره په هدیه کې در ولېږل. والسّلام علیک.

تر دغه زیات یې څه نه وه لیکلي او مسلمان هم نه سو، هغه دوې جارېې چې یې را لېږلې وې: یوه ماریه رضي الله عنها او بله سیرین وه او هغه غاطره چې دلدل ورته ویل کېده د معاویه رضي الله عنه تر وخته پاته وه، رسول الله ﷺ هم د مقوقس هدیه قبوله کړه، ماریه القبطي رضي الله عنها چې د اهل مصر څخه وه با عزته او با شرفه ښځه وه د جمال او کمال خاونده وه، رسول الله ﷺ په نکاح کړه او د دې څخه د رسول الله ﷺ هغه زوی پیدا سو چې ابراهیم نومېدی او هغه بله جاریه چې سیرین نومېدل رسول الله ﷺ و حَسّان بن ثابت الأنصاري رضي الله عنه ته ورکړه.

رسول الله ﷺ د مقوقس په باره کې فرمایي: ده ایمان را نه وړی ځکه دئ بېرېدی که دئ مسلمان سي روم به له ده څخه پاچهي واخلي، نو که د مقوقس سره دغه د پاچهۍ بېره نه وای ور سره مسلمان سوی به وای، ځکه دئ پوه سو چې محمّد ﷺ نبي دی مګر څرنګه چې د مصر پاچا مقوقس د روم د پاچا قیصر چې نصراني ؤ د حکم تابع او هغه تر اثر لاندي ؤ، نو ویل: که زه مسلمان سم روم به پاچهي را څخه واخلي.

## د حبشې پاچا نجاشي رضي الله عنه ته لیک

دغه رنګه رسول الله ﷺ د حبشې پاچا نجاشي ته لیک ولیکی چې د دغه نجاشي نوم أصحمه بن الأبجر ؤ او دغه لیک یې د عَمرو بن اُمیه الضمري رضي الله عنه په لاس د هجرت د شپږم کال په آخري میاشت یا د هجرت د اووم کال په اوله میاشت کې ور ولېږی، خو د دغه لیک په لفظ او عبارت کې د علماء کرامو څخه مختلف قولونه را نقل سوي دي، امام طبري رحمه الله د دغه لیک لفظ او عبارت ذکر کړی دی مګر که د هغه لیک په الفاظو او عبارت کې په دقیق شکل سره وکتل سي داسې ځني معلومېږي چې

(c) ketabton.com: The Digital Library


دغه لیک هغه لیک نه دی چې د حدیبیې تر صلحې وروسته نجاشي ته لېږل سوی دی بلکه ښايي دا د هغه لیک الفاظ یا عبارت وي چې د مکې مکرمې په وختو کې و جعفر رضي الله عنه او د ده ملګرو ته هغه وخت ورکول سو چې دوی حبشې ته هجرت کاوه، ځکه دغه لیک چې امام طبري ذکر کړی دی د هغه په آخر کې د دغو مهاجرینو ذکر په داسي ډول سره راغلی دی چې رسول الله ﷺ نجاشي ته لیکلي دي:

ما و تاسي ته زما د اکا زوی جعفر او د ده سره څو نفره مسلمانان در ولېږل، کله چې دوی تا ته درسي عزت یې وکړه او جبروت پرېږده.

او امام بیهقي د ابن اسحاق څخه د دغه لیک چې رسول الله ﷺ نجاشي ته لیکلی ؤ عبارت داسي روايتوي:

« هٰذا کتاب من محمّد النّبي الی النجاشي الأصحَم عظیم الحبشه: سلامٌ علٰی من إتبع الهدٰی وامنَ بالله ورسوله، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شریک لهُ لم یتخذ صاحبةً ولا ولداً، وأن محمّداً عبدهٗ و رسولُهٗ، و أدعوکَ بِدعایةِ الاسلام، فإنّي أنا رسولهُ فأسلِم تَسلَم،

﴿ قُلۡ يَٰٓأَهۡلَ ٱلۡكِتَٰبِ تَعَالَوۡاْ إِلَىٰ كَلِمَةٖ سَوَآءِۢ بَيۡنَنَا وَبَيۡنَكُمۡ أَلَّا نَعۡبُدَ إِلَّا ٱللَّهَ وَلَا نُشۡرِكَ بِهِۦ شَيۡـٔٗا وَلَا يَتَّخِذَ بَعۡضُنَا بَعۡضًا أَرۡبَابٗا مِّن دُونِ ٱللَّهِۚ فَإِن تَوَلَّوۡاْ فَقُولُواْ ٱشۡهَدُواْ بِأَنَّا مُسۡلِمُونَ ﴿٦٤﴾ ﴾ « فإن أبیتَ فإنّ علیکَ إثم النّصارٰی مِن قومِکَ ».

دا د رسول الله ﷺ د لیک هغه لفظ او عبارت ؤ چې امام بیهقي رحمه الله د ابن اسحاق رحمه الله څخه را نقل کړی ؤ.

مګر هغه لوی محقق او دانشمن: ډاکټر حمیدالله د دغه لیک لفظ او عبارت چې په دغه نزدو وختو کې یې لاس ته را وړی دی او د دغه لیک په لاس ته را وړلو کې یې ډېر تکلیف او زحمت ګاللی دی او د هغه د حاصلولو دپاره یې د نوي عصر د اکتشافاتو او وسايلو څخه کار اخیستی دی او په خپل هغه کتاب کي چې په اردو ژبه سره دی او د (رسول اکرم کې سیاسي زندګي) په نامه سره یادېږي د دغه لیک عکس یا تصویر هم را وړی دی، په هغه کي دغه لیک داسي لیکل سوی دی:

﴿بسم الله الرّحمٰن الرّحیم﴾ « من محمّد رسولِ الله الی النّجاشي عظیم الحبشه، سلامٌ علٰی

(c) ketabton.com: The Digital Library


من إتبع الهدى، امّابعد: فإني أحمدُ إليک اللهَ الذي لا إله إلا هوَ الملکُ القدوسُ السلامُ المؤمنُ المهيمنُ، وأشهدُ أنّ عيسى بن مريم روحُ الله وكلمتُهُ ألقاها الى مريم البتول الطيبة الحصينة، فحملت بعيسى من روحه ونفخه كما خلق آدم بيده، وإني أدعو إلى الله وحده لا شريك له، والموالاة على طاعته، وأن تتبعني، وتؤمن بالذي جاءني، فإني رسولُ الله وإني أدعوكَ وجنودکَ الى الله عزوجل، وقد بلغتُ ونصحتُ فاقبل نصيحتي، والسلامُ على من إتبع الهدى».

اوس نو محترم ډاکتر حميدالله پر دې تاکيد کوي چې دغه د هغه ليک لفظ او عبارت دی چې رسول الله ﷺ پسله حديبيې و نجاشي ته ليکلی دی، خوکه پسله کتلو د هغو دلايلو چې محترم ډاکتر ذکر کړي دي په دې کي هيڅ شک نه پاته کيږي چې هو! دغه هغه لفظ او عبارت دی چې رسول الله ﷺ نجاشي ته ليکلی دی مګر دا چې دا هغه ليک دی چې پسله حديبيې ليکل سوی دی د دغه د اثبات دپاره کوم دليل نسته او هغه لفظ يا عبارت چې امام بيهقي د ابن اسحاق څخه را نقل کړی دی هغه! د هغو ليکونو سره مشابه دی کوم چې رسول الله ﷺ تر حديبيې وروسته د نصاراوو و پاچهانو او آمرانو ته ليږل، ځکه په هغه کي هغه آيات شريف سته چې د دغه وخت په ليکونو کي د رسول الله ﷺ د دغه آيات شريف ليکل عادت ؤ، چې هغه دغه آيات شريف دی:

﴿قُلْ يَٰٓأَهْلَ ٱلْكِتَٰبِ تَعَالَوْاْ إِلَىٰ كَلِمَةٖ سَوَآءِۭ بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ أَلَّا نَعْبُدَ إِلَّا ٱللَّهَ وَلَا نُشْرِكَ بِهِۦ شَيْـٔٗا وَلَا يَتَّخِذَ بَعْضُنَا بَعْضًا أَرْبَابٗا مِّن دُونِ ٱللَّهِۚ فَإِن تَوَلَّوْاْ فَقُولُواْ ٱشْهَدُواْ بِأَنَّا مُسْلِمُونَ ﴿٦٤﴾﴾.

او په هغه ليک کي د اصحمه نوم هم په صراحت سره ذکر سوی دی.

مګر دغه لفظ او عبارت چې ډاکتر حميدالله ذکر کړی دی ممکن دا د هغه ليک لفظ او عبارت وي چې رسول الله ﷺ د اصحمه تر مرګ وروسته د هغه و خليفه ته ور ليږلی وي، نو ځکه يې په دغه ليک کي د اصحمه نوم هم نه دی ذکر کړی، خو بيا هم د دغه إدعا د اثبات دپاره کوم قطعي دليل نسته بيله دې څخه چې د دغو رسالو د لفظ او عبارته څخه ځيني داخلي دلايل په لاس را تلای سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

معافي غواړم! تاسي پوهېږئ چي ما ولي د دغه ليک د لفظ او عبارت د تعينولو او معلومولو دپاره د علماوو دغه مختلف قولونه را نقل کړه؟ کېدلای سوای چي دغه موضوع مي په مختصر ډول سره بيان کړې وای، مګر څرنګه چي ما مخکي هم ويلي دي چي دغه کتاب د مختلفو استعدادو خلک مطالعه کوي او هلته داسي طالب علمان سته چي د يوې موضوع پوره څېړنه غواړي، نو ځکه د دغه ليک د لفظ د تعينولو دپاره دغه ټول قولونه را نقل سوه چي د هر چا د ذوق مراعت سوی وي.

د رسول الله ﷺ ليک د عَمرو بن أميه الضمري په واسطه نجاشي ته ورسېدی، نجاشي د رسول الله ﷺ ليک واخيستی او پر سترګو يې کښېښاوه له خپله تخته را کښته سو او پر مځکه کښېنستی او د جعفر بن أبي طالب ﷺ پر لاس يې ايمان راوړی.

نجاشي د رسول الله ﷺ د ليک په جواب کي بل ليک وليکی چي هغه په داسي ډول سره ؤ:

بسم الله الرّحمٰن الرّحيم، و محمّد رسول الله ته د نجاشي اصحمه له طرفه: سلامٌ عليکَ يا نبي الله! من الله و رحمة الله و برکاته، الله الّذي لا إله إلا هو، امّابعد: يا رسولَ الله! ستا هغه ليک ما ته را ورسېدی چي په هغه کي دي د عيسٰى عليه السلام حال ذکر کړی ؤ، د آسمانو او مځکي په رب مي دي قسم وي چي عيسى عليه السلام تر هغه هيڅ زيات نه دی چي تا ذکر کړی ؤ، هغه هم واقعاً داسي دی لکه تا چي فرمايلي وه او موږ په هغه شي پوه سوو چي تا موږ ته را ليږلي وه، يا موږ په هغه شي وپوهېدلو چي ته د هغه دپاره موږ ته را لېږل سوی يې، ما ستا د اکا د زوی او ستا د اصحابو عزت وکړی او زه دا شاهدي آداء کوم چي ته د الله رسول يې، صادق او مصدوق يې او ما ستا سره بيعت کړی دی او ستا د اکا د زوی سره مي بيعت وکړی او د ده پرلاس و الله رب العالمين ته تسليم سوم.

همدارنګه رسول الله ﷺ د نجاشي څخه دا غوښتي وه چي جعفر ﷺ او د ده سره په حبشه کي مهاجر مسلمانان ورته را وليږي، نو نجاشي دغه نفر په دوو کښتيو کي د عَمرو بن أميه الضمري ﷺ سره ورته را ولېږل، کله چي رسول الله ﷺ په خيبر کي ؤ دوی ور ورسېدل، نجاشي د هجرت د نهم کال د رجب په مياشت کي د تبوک تر غزاء وروسته وفات سو او رسول الله ﷺ د غائب د جنازې لمونځ پر آداء کړی، کله چي

(c) ketabton.com: The Digital Library


نجاشي رضی الله عنه وفات سو د ده پر ځای بل پاچا کښېنستی او رسول الله ﷺ هغه ته هم یو بل لیک ور ولېږی خو دا نه ده معلومه چي هغه مسلمان سو که یا؟ دا هغه نجاشي رضی الله عنه ؤ چي د اسلام قصه يې مخ کي هم درته بيان سوې وه مګر رسول الله ﷺ دوهم وار بيا قاصد ور ولېږی چي د ده پر اسلام تائيد او تاکيد وسي.

## د فارس پاچا کسریٰ ته لیک

همدارنګه رسول الله ﷺ د فارس پاچا کسریٰ ته لیک ولېږی، د دغه لیک د رسولو دپاره يې عبدالله بن حُذافه السهمي رضی الله عنه خوښ او انتخاب کړی، دغه لیک هم ساتل سوی دی مګر په خپله هغه لیک نه دی موجود ځکه هغه لیک کسریٰ څيري کړی خو د لیک مضمون يې موجود دی، د دغه وخت د فارس د پاچا نوم پرویز ؤ چي لقب يې کسریٰ ؤ، نو دغه لیک عبدالله بن حُذافه السهمي يو وړی او هلته يې په خپله وکسریٰ ته و وایه چي د ترجمان له طرفه ترجمه کېدی او لیک داسي لیکل سوی ؤ:

﴿بسم الله الرّحمٰن الرّحيم﴾

« من محمّد رسولِ الله إلی کسریٰ عظیم فارس: سلامٌ علیٰ من إتبع الهُدیٰ، وامنَ بالله ورسوله، وشَهدَأن لا إلٰه إلا اللهُ وحده لا شریک له، وأن محمّداً عبدهُ ورسوله، وأدعوکَ بدعایة الله، فَإنّي أنا رسول الله الی النّاسِ کافه، لِیُنذرَ من کان حیّاً و یحِقّ القولُ علی الکافرین، فأسلِم تَسلَم، فَإن أبیتَ إثمَ المجُوسِ علیک ».

کله چي کسریٰ ته دغه لیک فقط دومره و ویل سو « من محمّد رسولِ الله الیٰ کسریٰ عظیم فارس» کسریٰ سندستي په قهر سو لیک لا پوره نه دی ویل سوی کسریٰ په غضب سو په تکبر او غرور سره يې و ویل: زما د رعیت څخه یو خوار مریئ خپل نوم زما تر نامه د مخه لیکي؟ او وایي: من محمّد الیٰ کسریٰ، ده باید لیکلي وای: الیٰ کسریٰ من محمّد، دا غرور او تکبر ؤ، لیک پوره نه دی ویل سوی چي د قاصد د لاسه يې واخیستی څيري او ټوټه ټوټه يې کړی، کله چي دغه خبر و رسول الله ﷺ ته ورسېدی نو يې و فرمایل: الله جل جلاله دي د ده پاچهي ور ټوټه ټوټه کړي.

دغه د رسول الله ﷺ ښرا په یاد ولری بیا به د حضرت ابوبکر الصدّیق رضی الله عنه په سیرت کي و وینی چي د کسریٰ پاچهي څنګه ټوک ټوک سوه او په څلور کاله کي یې څوارلس پاچهان مړه یا رَد او بدل سوه، اوس نو کسریٰ د دغه لیک په مقابل کي څه وکړه؟ څرنګه چي باذان د کسریٰ له طرفه په یمن کي والي ؤ او دغه قصه مومخ کي درته بیان کړې ده چي د فارس حکومت څنګه یمن ته داخل سو او یمن یې د ځان مستعمره وګرځول، هغه قصه به موپه یاد وي، نو کسریٰ دغه خپل والي ته چي باذان نومېدی لیک ولېږی او په لیک کي یې ورته ولیکل: دغه څوک چي په حجاز کي پیدا سوی دی او د نبوت دعوه کوي ستا له طرفه دوه قوي نفره ورولېږه چي ما ته یې راولي.

باذانِ هم د خپلو نفرو څخه دوه نفره اختیار کړه او رسول الله ﷺ ته یې د یوه لیکه سره ورولېږل چي په هغه لیک کي یې رسول الله ﷺ امر کاوه چي د دغو دوو نفرو سره ما ته راسه چي کسریٰ ته دي ورولېږم، دغه دوه نفره چي ږیري یې خرولي وې او لوی لوی برېتونه یې وه مدینې منورې ته ورسېدل او رسول الله ﷺ ته یې وویل: شاهنشاه، یعني: د پاچهانو پاچا (کسریٰ) باذان ته امر وکړی چي تا ته یو څوک در ولېږي او تا کسریٰ ته ور ولي، نو باذان موږ تا ته راولېږلو چي را سره ولاړ سې، نو اوس ته باذان ته تسلیم سه چي هغه دي بیا کسریٰ ته ولیږي، رسول الله ﷺ تبسم وکړی او وې فرمایل: تاسي اوس ولاړ سی استراحت وکړی او سبا بیا ما ته راسی چي ستاسي د غوښتني جواب درته ووایم.

ورونو! د فارس د ټولو خلکو دا عقیده وه چي د کسریٰ په کورنۍ کي الٰهي نسب سته نو خود کسریٰ ته یې رب ویل او رب یې باله.

رسول الله ﷺ د دغو دوو نفرو څخه پوښتنه وکړه چي تاسي ولي ږیري خروی او برېتونه لویوی؟ دوی و ویل: زموږ رب موږ دغسي امر کړي یو، رسول الله ﷺ وفرمایل: زما رب بیا زه امر کړی یم چي ږیره پرېږدم او برېتونه کوچني کړم.

تاسي پوه سواست چي د ږیري پرېښوول یوازي سنت او د رسول الله ﷺ امر نه دی بلکه دا الٰهي امر دی چي خپل رسول او مسلمانان یې په امر کړي دي.

خیر سبا چي هغه دوه نفره د جواب اورېدلو دپاره رسول الله ﷺ ته ورغله رسول

(c) ketabton.com: The Digital Library


الله ﷺ ورته و ویل: باذان ته و وایاست: نن شپه چې د شپې اووه ساعته تېر سوي وه زما رب ستا رب کسرىٰ و واژه.

ابن سعد رحمه الله وايي: "دغه شپه دسه شنبې شپه وه او د هجرت د اوم کال د جمادي الأول يوولسم تاريخ ؤ او په دغه شپه الله جل جلاله د کسرىٰ زوی چې شيرويه نومېدی پر کسرىٰ مسلط کړی او خپل پلار يې و وژی".

هغو دوو نفرو و ويل: ته پوهېږې چې ته څه وايې؟

رسول الله ﷺ و فرمايل: هو زما له طرفه باذان ته و وایاست چې نن شپه ستا رب پرويز زما د رب په إراده د هغه د زوی شيرويه له طرفه و وژل سو.

د باذان نفرو و ويل: چې هغه نن شپه وژل سوی وي نو تا ته خبر څنګه راغلی؟ د فارس څخه تر دغه ځايه په يوه مياشت خبر را رسيږي.

رسول الله ﷺ و فرمايل: زه الله جل جلاله خبر کړم.

هغو ويل: ستا دغه جواب دی؟ آيا دغه شئ و پاچا ته وليکو؟

رسول الله ﷺ و فرمايل: هو! زما جواب دغه دی او باذان ته دغه خبر ور وړی او ورته و وایاست چې زما دين او سلطه به تر هغه ځايه ورسيږي چې د کسرىٰ پاچهي رسېدلې ده او ورته و وایاست: که مسلمان سوې دغه چې ستا تر لاس لاندي دي دغه به در کړم او پر خپل قوم به دي پاچا پرېږدم.

نفر هم بيرته يمن ته ولاړل او باذان ته يې دغه خبر و وايه، باذان په تعجب کي سو چې دا څنګه جواب دی؟ او تر دغه وخته يمن ته د پروېز د وژل کېدلو خبر نه ؤ را رسېدلی، باذان و ويل: دغه خبر يې په کومه شپه تاسي ته و وايه؟ دوی هغه شپه ور وښوول، باذان و ويل: تر هغو به انتظار وکړو چې مونږ ته څه خبر را رسيږي.

خو واقعاً هم د هغه وخته څخه چې د کسرىٰ لښکرو د قيصر په مقابل کي بده ماته خوړلې وه هلته په فارس کي د کسرىٰ پر ضد د خپلي کورنۍ له طرفه يو لوی انقلاب شروع سوی ؤ خو په دغه شپه چې د سه شنبې شپه وه او د هجرت د اووم کال د جمادي الأول يوولسمه وه د کسرىٰ زوی شيرويه خپل پلار و واژه او پاچهي يې پر خپل نامه اعلان کړه، پسله لږو شپو و يمن ته د شيرويه له طرفه ليک را ورسېدی چې

(c) ketabton.com: The Digital Library


باذان ته يې د خپل پلار د وژلو سبب او تاريخ ليکلی ؤ او دا يې هم ورته ليکلي وه چې هغه ځوک کوم چې د هغه په باره کې زما پلار ليک در لېږلی ؤ په هغه اوس کار مه لرئ ترڅو زما امر در رسيږي، (يعني د رسول الله ﷺ موضوع تر امر ثاني پورې معطله کړه) او دا هغه شېبه وه چې رسول الله ﷺ ورته ويلي وه چې نن شپه، دلته نو باذان و ويل (أشهد أن لا إله إلا الله و أن محمّداً رسول الله) باذان مسلمان سو او هغه فارسيان چې په يمن کې د باذان سره وه هغه هم مسلمانان سوه، په دغه ورځ باذان اعلان وکړی چې موږ د فارس په عوض او پر ځای د مدينې منورې د حکم تابع يو، نو يمن د مسلمانانو د امر تابع سو، دا هغه معلومات وه چې اسلام څنګه ويمن ته داخل سو.

## د بحرين پاچا منذر بن ساوي ته ليک

همدارنګه رسول الله ﷺ د علاء بن الحضرمي رضي الله عنه په لاس منذر بن ساوي ته چې د بحرين آمر او پاچا ؤ ليک ولېږی چې په هغه ليک کې يې اسلام ته دعوتا وه.

هغه وخت بحرين يوازې دغه اوسنئ بحرين نه ؤ بلکه موجوده بحرين او د إحساء ټوله منطقه پکښې داخله وه، دغې ټولې منطقې ته بحرين ويل کېده او دغه ليک هم د تاريخ په کتابو کې موجود دی، د دغه ليک لفظ او عبارت هغه د کسرٰی د ليک سره يو شئ دی، څرنګه چې منذر بن ساوی عاقل او هوښيار سړئ ؤ نو يې د علاء بن الحضرمي رضي الله عنه څخه د رسول الله ﷺ په باره کې ډيرې پوښتنې وکړې او علاء رضي الله عنه پوره جوابونه ورته و ويل او د نجاشي په اسلام يې هم خبر کړی، د باذان د اسلام حال يې ورته و وايه او هغه نورې لويې قبيلې چې اسلام ته داخلې سوې وې لکه خزاعه او داسې نورې د هغو په اسلام يې خبر کړی او ويل: اسلام په ټوله جزيرةُ العرب کې نشر سوی دی.

دلته نو د منذر بن ساوي زړه ته اسلام داخل سو او د بحرين پاچا هم مسلمان سو، وروسته يې خپل قوم هم اسلام ته دعوت کړی چې ځينې يې مسلمانان سوه او ځينو يې اسلام رَد کړی، يعني: قبول يې نه کړی، بيا نو د بحرين پاچا منذر رضي الله عنه و رسول الله ﷺ ته و ليکل: امّابعد: يا رسولَ الله! ما ستا ليک د بحرين اهل يا اوسېدونکو ته

(c) ketabton.com: The Digital Library


ووايه، ځينو يې اسلام خوښ کړی او پکښي داخل سوه او ځينو رَد کړی. څرنګه چي زما په مځکه کي يهود او مجوس هم سته د هغو په باره کي ستا امر را ته بيان کړه چي هغسي ور سره وکړم.

رسول الله ﷺ ورته وليکل:

﴿بسم الله الرّحمٰن الرّحيم﴾ من محمّدٍ رسولِ الله إلى منذر بن ساوى: سلامٌ عليک! فإني أحمدُ إليک الله الّذي لا إله إلا هو، و أشهد أنّ محمّداً عبدُه و رسوله، أمّا بعد:

« زه الله جلّ جلاله در په يادوم او هر هغه څوک چي نصيحت کوي په حقيقت کي هغه خپل ځان ته نصيحت کوي (يعني: ګټه يې ده ته رسيږي) او هر هغه څوک چي زما د قاصد اطاعت کوي او د دوی د امر متابعت کوي هغه زما اطاعت او متابعت کوي، که چا دوی ته نصيحت وکړی هغه ما ته نصيحت وکړی او زما قاصدانو، ته په خير سره يادولې، زه تا ته ستا د قوم شفاعت کوم، مسلمانو ته هغه څه ور پرېږده چي دوی پر هغه اسلام راوړی دی، که ګنهکاران د ګنهو څخه توبه وکاږي توبه يې قبوله کړه، تر کومه وخته چي ته د اصلاح کارونه کوې مونږ تا له خپله کاره څخه نه معزوله کوو او هر هغه څوک چي پر يهوديت او مجوسيت پاته وي پر هغو جزيه کښېږده ».

اوس نو د بحرين هغه کسان چي اسلام ته نه سوه داخل پرخپل يهوديت او مجوسيت پاته سوه د بحرين پاچا د رسول الله ﷺ په امر پر هغو جزيه کښېښوول، په دې ډول سره بحرين او د هغه شا وخوا د اسلام د امر تابع سوه، دغه د حديبيې د صلحي په موده کي رسول الله ﷺ شا و خوا ته پرله پسې ليکونه لېږل او خلک يې د يوه الله جلّ جلاله عبادت او د اسلام دين ته دعوتول.

## د يمن پاچا حارث الحَميَري ته ليک

همدارنګه رسول الله ﷺ د مهاجر بن أميه المخزومي رضي الله عنه په لاس د يمن پاچا حارث الحَميَري ته ليک ولېږی، چي دغه حارث د يمن د يوې حصې پاچا ؤ ځکه يمن په هغه وخت کي هم پر دوې حصې وېشل سوی ؤ، يوه حصه يې د فارسيانو په لاس کي وه چي باذان يې آمر او پاچا ؤ او بيا مسلمان سو او يوه حصه يې د دغه حارث

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر امر لاندي وه، خو حارث ته د ليک په رسېدلو سره ډېر قهر او غضب ورغلی او د رسول الله ﷺ دعوت يې نه کړی قبول.

## د يمامې رئيس هَوذه بن علي ته ليک

دغه رنګه رسول الله ﷺ د سُليط بن عَمرو العُمري رضي الله عنه په لاس يو ليک و هَوذه بن علي ته ولېږی چي د يمامې مشر او پاچا ؤ، يمامه د جزيرةُ العرب په منځ کي ده او دلته د بنو حنيفه قبيله اوسېدل چي دغه قبيله په جزيرةُ العرب کي هغه ډېره لويه قبيله وه او د دغي قبيلې مشر او رئيس هوذه بن علي ؤ، ويل کيږي چي هوذه سل زره جنګي نفر درلودل، رسول الله ﷺ دغه هوذه ته ليک ور ولېږی چي داسي يې ورته ليکلي وه:

﴿بسم الله الرّحمٰن الرّحيم﴾

« من محمّدٍ رسول الله الی هَوذه بن علي، سلامٌ علی من إتبع الهُدٰی، واعلم أنّ ديني سيظهر إلی منتهٰی الخُفِّ والحافر، فأسلِم تَسلَم، وأجعَلُ لکَ ما تحتَ يَديکَ».

سُليط رضي الله عنه چي دغه ليک هوذه ته ور وړی، هوذه ته معلومه وه چي اسلام ورځ په ورځ غالبه کيږي، نشريږي او ډېريږي نو يې د رسول الله ﷺ د قاصد سُليط بن عَمرو رضي الله عنه ښه هرکلئ وکړی او د رسول الله ﷺ د ليک په جواب کي يې ليک وليکی چي داسي يې ليکلي وه:

دا څومره ښه او ښايسته دين دی چي ته خلک ور بولې او عربو ته هم زما مقام او درجه ور معلوم دي نو ته ما ته په امر کي يوه حصه راکړه چي زه دي متابعت وکړم.

او سُليط رضي الله عنه ته يې هم ښه لباس او هِديې ورکړې، سُليط رضي الله عنه ټول شيان و رسول الله ﷺ ته ور وړه او د خپل سفر په حال يې خبر کړی، رسول الله ﷺ چي د هَوذه ليک و وايه نو يې و فرمايل: چي د ځمکي يوه ټوټه را څخه وغواړي ور به يې نه کړم، دئ او هر څه چي د ده په لاس کي دي نيست او نابود دي سي.

کله چي رسول الله ﷺ د مکې مکرمې د فتحې څخه راغلی جبريل علیه السلام خبر ور ته راوړی چي هَوذه مړ سو، رسول الله ﷺ و فرمايل: مګر يمامه! په هغه کي به يو کذّاب پيدا سي چي د نبوت دعوه به کوي او تر ما وروسته وژل کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


يوه د اصحاب کرامو څخه وويل: يا رسولَ الله! څوک به يې وژني؟

رسول الله ﷺ وفرمايل: ته او ستا ملګري، چې داسي هم وسوه، په يمامه کي مسيلمة الكذاب پيدا سو چي د نبوت دعوه يې وکړه او د ابوبکر الصدّيق رضی الله عنه په خلافت کي د مسلمانانو په لاس ووژل سو.

نو هوذه د يمامې پاچا د دنيا او آمريت طمعه وکړه، د ده د اسلام قبلول د صدق او ايمان په سبب نه وه بلکه طمعه پکښي پيدا سوه، ده ليدل چي اسلام ورځ په ورځ کاميابه کيږي او په ټوله جزيرةُ العرب کي نشريږي، نو يې دا اميد پيدا سو چي تر رسول الله ﷺ وروسته پر مسلمانانو خليفه وي خو نتيجه يې هغه سوه چي پر کفر مړ سو.

## د عُمان پاچا ته ليک

دغه رنګه رسول الله ﷺ د عمان پاچا ته د عَمرو بن العاص رضی الله عنه په لاس ليک ولېږی، د عُمان دوه پاچهان وه چي دواړه ورونه وه. يو جَيفَر او بل عبد نومېدی چي د جُلندي زامن وه، دواړه ورونه په شراکت د عُمان پاچهان او رئيسان وه.

هغه ليک چي د عمان پاچهانو ته ولېږل سو داسي ليکل سوی ؤ:

﴿بسم الله الرّحمٰن الرّحيم﴾

« من محمّدِ بن عبدالله الى جيفر و عبد ابنَى الجُلندي، سلامٌ على من إتّبعَ الهُدٰى، امّا بعد: فإنّي أدعو كُما بدعاَية الإسلام، أسلما تَسلَما، فإنّي رسولُ الله الى النّاس كافّةً لأنذر مَن كان حياً و يَحقّ القولُ على الكافرين ٠ فَإنّكُما إن أقررتُما بالإسلامِ ولّيتكُما، وإن أبيتُما أن تقرّا بالإسلامِ فَإنّ مُلككُما زائلٌ، وَخيلٌ تَحلّ بِساحَتِكُما، وتَظهر نُبوّتي على مُلكِكُما».

يعني: زه تاسي دواړه اسلام ته را بولم مسلمانان سی چي سالم پاته سی، زه ټولو خلکو ته رسول الله يم چي ژوندي انسانان د الله جل جلاله څخه وبېروم او پر کافرانو به د عذاب قول حق او صادقه سي، که تاسي په اسلام سره اقرار وکړی تاسي به پر خپله پاچهي پرېږدم او که مو د اسلام څخه انکار وکړی ستاسي پاچهي زائلېدونکې ده، آسان به ستاسي مځکه تر پښو لاندي کړي او زما نبوت به ستاسي پر ملک ښکاره او غالبه سي.

لکه څرنګه چي د مخه مو درته و ويل: رسول الله ﷺ د دغه ليک د رسولو دپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library


عَمرو بن العاص رضي الله عنه اختيار کړی، اوس نو د مدينې منورې څخه تر عُمان پورې ډيره زياته لار ده خاصتًا چې په لار کې هغه رُبع خالي هم سته چې وچ دښت دی نو عَمرو بن العاص رضي الله عنه مستقيم عُمان ته نه ولاړی، اول إحساء ته ولاړی چې بحرين دی او بيا له هغه ځايه څخه پر خليج ور رهي سو څو عُمان ته ورسېدی، نورو قاصدانو چې به د رسول الله ﷺ ليک واخيستی مستقيم به و هغه پاچا ته ورغله، مګر عَمرو بن العاص رضي الله عنه چې ډير هوښيار او ذکي سړئ ؤ داسي يې و نه کړه، بلکه څو ورځي يې په عُمان کي تيري کړې او پاچا ته نه ورغلی، د دغو دوو پاچهانو د حالاتو او خويو پوښتنه کوي، د طبيعت او اخلاقو پوښتنه يې کوي چې څه شي يې خوښ څه شي يې ناخوښ دي؟ د څه شي څخه بېرېږي او په څه شي خوشاله کيږي؟ څو په پوره تفصيل سره يې د دوی معلومات ځان ته حاصل کړه او دا يې هم و سنجول چې په کومه طريقه سره به دوی اسلام ته دعوتوم، دا معلومات يې هم وکړه چې په دوی دوو ورونو کي کوم يو حليم او نرم دی چې ژر نه په قهر کيږي، په نتيجه کي دا ور معلومه سوه چې کشر ورور چې عبد نومېږي تر جيفر پوست او حليم سړئ دی، نو يې د عبد د ملاقات غوښتنه وکړه، اوس به قصه په خپله عَمرو بن العاص رضي الله عنه ته پرېږدو.

عَمرو رضي الله عنه وايي: د مدينې منورې څخه و وتم څو عُمان ته ورسېدم هلته مي د عبد د ملاقات إراده وکړه ځکه په دوی دوو ورونو کي دئ حليم او د پاسته طبيعت خاوند ؤ، نو عبد ته ورغلم او ورته و مي ويل: زه تا او ستا ورور ته د رسول الله ﷺ له طرفه قاصد يم، عبد ويل: زما ورور په عمر تر ما ډير او په پاچهي کي تر ما د مخه دی، زه به دي هغه ته ورولم چې دغه ستا را وړی ليک و وايي او بيا يې را ته و ويل: ته مونږ څه شي ته دعوتوی؟

ما ويل زما دعوت: هغه الله جل جلاله لره دی چې وَحدَهُ لاَ شَرِيکَ لَهُ دی، بېله الله به بل د هر شي عبادت پرېږدی او دا شاهدي به آداء کوی چې محمّد ﷺ د الله بنده او رسول دی.

عبد و ويل: يا عَمرو! ته د خپل قوم د يوه سردار زوی يې ستا پلار څه وکړه؟ مونږ د هغه متابعت کوو، ما ويل: هغه مړ سو او پر محمّد ﷺ يې ايمان نه راوړی او زما

(c) ketabton.com: The Digital Library


دا خوښه وه چې کشکې مسلمان سوی وای او د محمّد ﷺ تصدیق یې کړی وای او زه هم تر ډېره وخته د ده پر رأیه وم څو الله جل جلاله اسلام ته هدایت کړم.

عبد ویل: له کومه وخته دي د محمّد ﷺ متابعت اختیار کړی دی؟

ما ویل: د دغه نژدې وختو څخه.

عبد ویل: څنګه او چیري مسلمان سوې؟

ما ویل: د نجاشي سره او د نجاشي د اسلام قصه مي ورته وکړه چې هغه هم مسلمان سوی دی.

عبد ویل: نو د هغه قوم څه ورسره وکړه او د ده پاچهي څنګه سوه؟

ما ویل: هغو قبول کړی او د ده متابعت یې وکړی.

عبد ویل: رُهبان او اساقفه هم د نجاشي متابعت وکړی؟

ما ویل: هو.

عبد ویل: یا عَمرو! پر خپلو خبرو دي پام کوه په سړي کي بل داسي بد او رسوا کوونکی خوی نسته لکه درواغ، ما ویل: نه ما درواغ ویلي دي او نه زموږ په دین کي درواغ حلال دي.

بیا عبد و ویل: زما په خیال چې هرقل د نجاشي په اسلام نه دی خبر سوی.

ما ویل: یا! بلکه هرقل د نجاشي په اسلام خبر سو.

عبد ویل: ته څه پوه او خبر سوې چې هرقل د نجاشي په اسلام خبر سو؟

ما ویل: نجاشي و هرقل ته د کاله څه مال ورکاوه خو کله چې نجاشي مسلمان سو او د محمّد ﷺ تصدیق یې وکړی نو یې وویل: یا والله! که هرقل د کاله یو دَرهِم را څخه و غواړي هم به یې ورنه کړم، و هرقل ته دغه د نجاشي خبره ورسېده او د هرقل ورور نِیاق و هرقل ته و ویل: آیا ته هغه ستا مریئ پرېږدې چې اوس تا ته هغه کلنئ مصرف نه درکوي؟ او بېله ستا له دینه یې بل نوی دین اختیار کړی دی؟

هرقل ورته و ویل: یو سړئ ؤ یو دین یې خوښ سو او هغه یې د ځان دپاره اختیار کړی نو زه څه په وکړم؟ او په والله که زه پر خپله پاچهي نه بېربدلای ما به هم داسي کړي وای لکه ده چې وکړه.

(c) Ketabton.com: The Digital Library

عبد ویل: پام دي سته چي ته څه وایې؟

ما ویل: په والله رشتیا وایم.

عبد ویل: ښه دا راته و وایه چي محمّد ﷺ خلک په څه شي امرکوي او د څه شي څخه یې منعه کوي؟

ما ویل: د الله جل جلاله په إطاعت او بندګي یې امر کوي او د هغه د معصیت او نافرمانۍ څخه یې منعه کوي، په نېکي او صلهٔ رحمي یې امرکوي، د ظلم او تجاوز، د زنا او شرابو، د بتانو او د صلیب د عبادت څخه یې منعه کوي.

عبد و ویل: دغه د ده دعوت څومره ښه دعوت دی که زما ورور زما سره موافقه وکړي موږ به دواړه ده ته ورسوپر ده به ایمان راوړو او تصدیق به یې وکړو، مګر زما ورور پر خپله پاچهي ببربړي وایي پاچهي به مي د لاسه ووزي او زه به دغسي پاته سم.

ما ورته و ویل: که دي ورور اسلام قبول کړی رسول الله ﷺ یې پرخپل قوم پاچا پرېږدي چي د اغنیاوو څخه به زکات او صدقه اخلي او پر فقیرانو به یې ویشي.

عبد ویل: دا خو ډېر ښه کار دی مګر صدقه څه شي ده؟

ما په مالو کي د اسلام په هغهٔ فرض سوي زکات خبرکړی تر څو چي د اوښانو زکات ته را ورسېدم.

عبد ویل: یا عَمرو! آیا زموږ څخه هغه حیوانات هم اخیستل کیږي چي دښتي وُني خوري او اوبه چښي؟

ما ویل: هو.

ده ویل: والله زه فکر نه کوم چي زموږ قوم دي د دغه کار اطاعت وکړي.

عَمرو رضي الله عنه وایي: زه څو ورځي دالته ورته پاته سوم او عبد زما ټولي خبري خپل ورور ته ورسولې څو د ده ورور جَیفر یوه ورځ زه ور وغوښتم او زه هم ورغلم، په دروازه کي دروازه وانانو تر اوږو ونیولم ویل: چیري ځې؟ جیفر ویل: پرې یې ږدی، هغو پرېښوولم زه د ده مجلس ته ورغلم غواړم چي کښېنم حاضر باشانو ناستي ته نه پرېښوولم، ما جیفر ته وکتل، ده ویل: خپل حاجت دي و وایه، ما هغه د رسول الله ﷺ مهر سوی لیک ورکړی، جیفر یې مهر خلاص کړی او لیک یې تر آخره و وایه،

(c) ketabton.com: The Digital Library


بیا یې لیک خپل ورور عبد ته ورکړی هغه هم لیک و وایه، مګر ما ولیدل چې ورور یې ترده نرم او پوست ؤ، نو جیفر پوښتنه را څخه وکړه چې قریشو څه وکړه؟

ما ویل: د محمّد ﷺ متابعت یې وکړی، یا دا چې دغه دین یې خوښ ؤ په خپله یې اختیار کړی یا د توري په زور تابع سوه؟

ده ویل: د محمّد ﷺ سره نور څوک ملګري دي؟

ما ویل: هغه خلک چې اسلام یې خوښ سو او تر نورو ادیانو یې ښه وباله، اسلام یې په خپلو عقلو سره و پېژندی، سره د هغه هدایته چې الله جل جلاله دوی پوه کړه چې دوی په ضلالت او ګمراهي کي وه، یعني: الله جل جلاله دغه توفیق ورکړی چې حق او باطل یې سره و پېژندل او د حق متابعت یې وکړی، او ما ته په دغه منطقه کي بېله تا بل څوک نه دی را معلوم چې پر خپل دین دي پاته وي او که ته نن ورځ مسلمان نه سې او د محمّد ﷺ متابعت و نه کړې ستا مځکه به د مسلمانانو د آسانو تر پښو لاندي سي او ستا کښتونه به ټول نېست او نابود سي نو مسلمان سه چې سالم پاته سې او رسول الله ﷺ به دي پر خپل قوم آمر پرېږدي ستا منطقې ته به نه انسانان او نه آسان راځي (یعني: لښکر به نه درته راځي) جیفر و ویل: نن ورځ مهلت را کړه او سبا راسه.

د ده څخه ولاړم او بیا د ده ورور عبد ته ورغلم، عبد راته و ویل: یا عَمرو! زه ګمان کوم چې ورور به مي مسلمان سي که پر پاچهي و نه بېرېدی، خیر دغه ورځ تېره سوه او سبا جیفر ته ورغلم خو دروازه وانانو اجازه را نه کړه چې ورسم، بېرته د ده ورور عبد ته ورغلم او ورته ومي ویل: زه یې ستا ورور ته نه ورپرې ښوولم.

عبد و جیفر ته ورروستم او جیفر را ته و ویل: ما په هغه شي کي فکر وکړی چې تا ور ته دعوت کړم ستا د دعوت معنٰی دا سوه چې زه تر ټولو عربو ضعیفه یم که مي دغه سړي ته (مقصد یې رسول الله ﷺ ؤ) که مي دغه سړي ته ټول هغه شیان ورکړه چې زه یې مالک یم نو د ده آسان دلته نه راځي مګر هو، دا دي هم درته معلومه وي: که د ده لښکر دلته راغلی داسي جنګ او مقابله به و وینې چې د هغه نورو جنګو په مثل به نه وي چې ده کړي دي.

ما ویل: ما خپله وظیفه پای ته ورسول او زه سبا له دې ځایه ځم، کله چې یې زما

(c) kitabton.com: The Digital Library


د تللو یقین سو نو هغه ورور یې چې عبد نوښدی د ده سره کوښه سوا او ورته ویې ویل: مور باید د هغو کسانو څخه نه سو چې د محمّد ﷺ مقابله یې کړې ده او هر چا ته چې یې قاصد ور لیږلی دی هغوی یې دعوت قبول کړی دی.

کله چې سهار سو ما ته یې نفر را ولیږی او دواړو ورونو اسلام قبول کړی او د رسول الله ﷺ تصدیق یې وکړی، ما ته یې هلته د اسلامي احکامو په عملي کولو کي اختیار راکړی او د هغه چا په مقابل کي چې زما مخالفت به یې کاوه دوی زما ښه کومکیان وه.

د دغي قصې څخه دا معلومیږي چيٰ دغه لیک د نورو پاچهانو تر رسالو ډیر وروسته لیږل سوی دی او ښایي د دغه لیک لیږل د مکې مکرمې تر فتحې وروسته وه.

اوس نو د دغو رسالو په لیږلو سره رسول الله ﷺ خپل دعوت د مځکي و ډیرو پاچهانو ته ورساوه چې چا ایمان راوړی او چا انکار وکړی، په هر حال د کافرانو فکر په دغه موضوع مشغوله سو او دوی د رسول الله ﷺ د نامه او دینه سره آشنا او باخبره سوه.

دا د رسول الله ﷺ د رسالو او لیکونو په باره کي معلومات وه چې د هغو په نتیجه کي دا را معلومه سوه چې د جزیرةُ العرب د شا وخوا پاچهان څنګه اسلام ته داخل سوه.

## د ځینو سَرِیو لیږل

په دغه موده کي د رسول الله ﷺ له طرفه د شا وخوا وځینو سرکښو قبیلو ته سَریې یا ټولۍ هم لیږل کېدلي چې د هغې جملې څخه دغه د هجرت د اتم کال د ربیع الأول په میاشت کي رسول الله ﷺ شجاع بن وهب رضی الله عنه هوازن ته ولیږی چې هغو ته یې جزاء هم ورکړه او غنیمتونه یې هم ځني راوړل.

دغه رنګه رسول الله ﷺ یوه لس نفریزه ټولۍ د غالب بن عبدالله رضی الله عنه په مشرۍ و قُدید او د بني مُلَوّح قبیلې ته ولیږل چې غالب رضی الله عنه د هغو څخه ډیر غنیمتونه راوړل، حال دا چې دغه قبیله ډیره لویه او قوي قبیله وه د مسلمانانو څخه وتښتېدل او مسلمانانو یې حیوانات په غنیمت را وستل، سره د دې چې د مسلمانانو شمیر فقط لس نفره ؤ خو د دغي کامیابۍ سبب دا ؤ: چې د دغه بنو مُلَوِح د قبیلې مشر حارث بن مالک

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل منظم لښکر د یو بل ځای د حملې او چورولو دپاره لېږلی ؤ، په دغه وخت کې چې د هغو لښکر د حملې دپاره بل ځای ته تللی ؤ غالب بن عبدالله رضی الله عنه حمله پر وکړه او غنیمتونه یې ځنې را رهي کړه، کله چې د مسلمانانو دغه کوچنۍ ډله د بنو مُلَوّح ځخه را و وتل د هغو لښکر را ورسېدی او قوم حال ورته و وایه چې مسلمانانو حمله راباندې وکړه زموږ مالونه یې واخیستل او حیوانات یې بوتله، هغه لښکر په مسلمانانو پسې رارهي سو، اوس نو د بني مُلَوِّح پوره لښکر په لسو نفرو مسلمانانو پسې دی.

غالب رضی الله عنه وایي: د دوی لښکر دومره رانژدې سو چې موږ یې وینو، هغه پوره او کامل لښکر دی او موږ څو نفره یو، دا مو یقین سو چې اوس مو نیسي او وژل کیږو موږ په دغه فکر کې یو، غالب رضی الله عنه وایي: والله آسمان صاف ؤ هیڅ اوریځ نه وه چې په یوه وار پر آسمان اوریځې پیدا سوې څو باران شروع سو، هغه لښکر را پسې دی او قریبه ده چې په موږ پسې را ورسیږي، څو باران دومره شدید ؤ چې سېلونه وبهېدل (د سېل قدرت څو درمعلوم دی چې موټر د باره سره وړي) په دښتو کې چې سېل راسي لکه یوه ډېره لویه واله یا رود چې بهیږي او څوک نه سي تر اوښتلای یا پوري وتلای، غالب رضی الله عنه وایي: دغه لوی سېل زموږ مسلمانانو او د بني مُلَوِّح د کفارو په منځ کې وبهېدی او بهیږي، کفار نه سي کولای چې تر دغه سېل را تېر سي او موږ الله جل جلاله د دغه سېل په واسطه د کفارو له شره خلاص کړو.

بیانو د مؤته تر جنګ د مخه آخرنۍ ټولۍ چې رسول الله ﷺ ولېږل هغه د عَمرو بن کعب رضی الله عنه ټولۍ وه، دغه ټولۍ د هجرت د اتم کال د ربیع الأول په میاشت کې ولېږل سوه، رسول الله ﷺ څوارلس نفره ذات الأطلاع ته د دعوت او تبلیغ دپاره ولېږل، ذات الأطلاع د واديُ القرٰی و شمال ته واقع دی چې شام ته ډېر نژدې دی، دغه ټولۍ د جنګ او حملې دپاره نه وه بلکه د دعوت او د اسلام د تبلیغ دپاره وه، د دوی سره د جنګ دپاره اسلحه هم نه وه ور سره، دغه ډله (٦٠٠) کیلو متره لیري د دین دعوت دپاره ولاړل.

د اصحاب کرامو همت او صداقت ته متوجه یاست؟ (٦٠٠) کیلو متره د کفارو په مځکه کې پیاده ځي چې هلته د الله جل جلاله عبادت ته خلک را وبولي، څو زه او ته هم

(c) ketabton.com: The Digital Library


باید خپلو ځانو ته متوجه سو او په خپله د خپل ځان څخه دا پوښتنه وکړو چي آیا موږ هم په خپل کور او خپل کلي کي د اسلام د نشرولو دپاره د خپل ځان په سترې کولو یا د مال په مصرفولو څه کړي دي او که فقط په دغه خوشاله یو چي په خوله سره وایو: موږ مسلمانان یو، لمنځونه کوو او روژې نیسو، نور مو نو ټوله ژوند د پیسو د ګټلو دپاره دی.

خیر! دغه ډله نژدې و شام ته ورسېدل، هلته د غساسنه قبیله په خبره سوه او حمله یې پر وکړه بیله یوه نفره نور یې ټول شهیدان کړه، هغه یو نفر چي هغه هم زخمي سوی ؤ خو شهید نه سو و رسول الله ﷺ ته یې حال او خبر ور وړی.

اوس نو د غسان له طرفه پر مسلمانانو څو واره تېرئ او تجاوز وسو، دا درېیم وار دی چي د دوی له طرفه پر مسلمانانو تجاوز کیږي، دلته نو رسول الله ﷺ إراده وکړه چي د غسان قبیلې ته جزاء ورکړي او د دغه مقصد دپاره یې مسلمانان راټول کړه، مګر د غسان قبیله تر اندازې زیاته لویه قبیله ده او په عین حال کي د روم سره عهد او اتفاق هم لري چي د ضرورت په وخت کي به روم د دوی مرسته کوي او همدارنګه به دوی د ضرورت په وخت کي د روم څخه دفاع کوي (لکه امریکا او اسرائیل) نو د غسان د قبیلې سره جنګ آسانه کار نه دی، خو رسول الله ﷺ د غساسنه وو پر ضد د جهاد اعلان وکړی او وې فرمایل: هر مسلمان چي دغه جنګ ته وتلای سي باید ووزي.

رسول الله ﷺ ته ټول درې زره نفره راټول سوه چي تر دغه وخته پوري د مسلمانانو هغه لوی لښکر دغه دی چي سره یو ځای کیږي، دا اول وار دی چي د مسلمانانو د لښکر شمېر درو زرو نفرو ته رسیږي، مقصد دا چي د غسان د قبیلې د جنګ دپاره درې زره نفره مسلمانان سره یو ځای سوه.

## د مؤته جنګ

دغه جنګ هغه لوی او سخت جنګ دی چي مسلمانانو د رسول الله ﷺ په حیات کي کړی دی، دغه جنګ د نصاراوو د ښارو د فتحه کولو دپاره شروع او مقدمه بلل کیږي، دغه جنګ د هجرت د اتم کال د جمادي الأول په میاشت کي پېښ سو چي د ٦٢٩ عیسوي کال د اګست یا سپتمبر میاشت وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library


مُؤته يو کلی دی چي په شام کي د بلقاء ښار ته نژدې دی او د بيت المقدس څخه دوه منزله ليري دی او د دې جنګ اساسي سبب دا دی: لکه د مخه چي مو درته و ويل: رسول الله ﷺ د حارث بن عمير رضي الله عنه په لاس د بُصرٰی و پاچا ته ليک ولېږی، په لار کي شُرحبيل بن عَمرو الغساني پر پېښ سو چي دغه شرحبيل د شام د مځکي پر بلقاء حاکم ؤ او د رسول الله ﷺ قاصد حارث بن عمير رضي الله عنه يې ونيوی او بيا يې شهيد کړی، د سفير يا قاصد وژل دومره لويه ګناه ده چي د جنګ تر اعلان لا هم لوړه ده، دغه کار پر رسول الله ﷺ ډير سخت او شديد تاثير وکړی نو ځکه يې دغه لښکر چي شمير يې درې زره نفره ؤ د غسان د جنګ دپاره آماده کړی.

رسول الله ﷺ د دغه لښکر دپاره آمران يا قومندانان وټاکل او وې فرمايل: د لښکر آمر زيد بن الحارثه دی که چيري زيد و وژل سو بيا نو جعفر بن أبي طالب قومندان دی او که بيا جعفر هم و وژل سو نو عبدالله بن رواحه قومندان دی او که هغه هم و وژل سو بيا دي مسلمانان له خپله منځه يو نفر خوښ او انتخاب کړي.

رسول الله ﷺ دوی امر کړه چي د حارث بن عمير رضي الله عنه د وژلو ځای ته به ورسی او له هغه ځايه به د اسلام په دعوت شروع وکړی که خلکو اسلام قبول کړی خو ډير ښه او که يې اسلام نه قبلاوه نو د الله جل جلاله څخه پر دوی مدد وغواړی او جنګ ور سره شروع کړی او وې فرمايل: د هغوکسانو سره چي پر الله کافران سوي دي په بسم الله او د الله په لار کي جهاد شروع کړی، مکر هو، غدر او خيانت به نه کوی، کوچنۍ او ښځه به نه وژنی او نه به شيخ فاني سپين ږيری وژنی، نه به هغه څوک وژنی چي تنهايي يې اختيار کړې وي او په صومعه يا عبادت خانه کي ناست وي، نه به د خرما يا نوري وُني پرې کوی او نه به کوم تعمير نړوی.

سبحان الله! د رسول الله ﷺ په امر د اسلامي جنګ قوانين دغه او دغسي دي، خو تاسي يې د نن ورځي د هغو کسانو د جنګ د قوانينو سره قياس کړی چي د بشر د حقوقو بيرغ يې په لاس کي نيولی دی، ځانونه د تهذيب او تمدن پروفيسران بولي، د ښځو او ماشومانو د حقوقو په نارو خو يې د غاړو رګونه وشکېدل، آيا دوی په خپلو جنګو کي د ښځو او ماشومانو، د سپين ږيرو او بېطرفه انسانانو، د بشريت او انسانيت

(c) ketabton.com: The Digital Library


کوم مراعت کړی دی؟ او که زهرآلوده بمان پر کورو او ښارو غورځوي چې د وژلو پرته د ناروغیو او خرابیو آثار یې تر ډیرو کلو او نوو نسلو پوري پاته کیږي، پردې موضوع ډیري خبري کېدلای سي خو فقط تاسي وګوری چې دغه بشر دوستان د بشر د حقوقو څومره مراعت کوي؟ او اسلام یې څومره مراعت کړی دی؟

تبصرې به تاسي ته پرېږدم مګر د حق او عدالت په ترازو سره حکم وکړی.

دغه لښکر رسول الله ﷺ د جمعې په ورځ په حرکت امر کړی او لښکر هم د جمعې د ورځي په سهار کي حرکت وکړی، په دغه وتلو کي دې ته اشاره ده چې د جمعې په ورځ سفر جائز او روا دی، که څه هم ځیني خلک په دې کي شک لري چې آیا د جمعې په ورځ سفر جائز دی که یا؟ خو دغه لښکر د جمعې د ورځي په سهار کي حرکت وکړی، هو، د جمعې په ورځ سفر منعه دی خو هغه وخت چې د جمعې د لمانځه وخت داخل سي او لمونځ پر خلکو واجب سي بیا نو سفر منعه دی.

خیر لښکر د غسان و طرف ته حرکت وکړی، مګر عبدالله بن رواحه رضی الله عنه د لښکر څخه پاته سو ځکه ده د ځان سره فکر وکړی چې لښکر د حرکت او وتلو په وخت کي کرار کرار ځي، خلک ځانونه سره یو ځای کوي او خپل ضروریات پوره کوي، نو دئ رضی الله عنه د لښکر سره نه و وتی ویل: د جمعې لمونځ به د رسول الله ﷺ سره آداء کړم او بیا به په لښکر پسي ور رهي سم او ور رسېدلای سم، د جمعې تر لمانځه وروسته رسول الله ﷺ ولیده چې عبدالله بن رواحه دلې دی نو ویل: ولي پاته سوی یې؟ عبدالله بن رواحه رضی الله عنه و ویل: یا رسولَ الله! زه به لښکر پسي ور رسېدلای سم دا مي خوښه وبلل چې د جمعې لمونځ ستاسره آداء کړم او بیا په لښکر پسي رهي سم.

یوازي د ده په فکر نه بلکه مونږ ټول داسي فکر کوو چې د جمعې لمونځ او هغه هم د رسول الله ﷺ سره دا ډیر لوی ثواب دی.

مګر رسول الله ﷺ ده ته یوه ډیره لویه خبره وکړه چې زموږ ټولو دپاره درس او عبرت دی، بلکه داسي معلومات دي چې په دیني اعمالو کي مو د هر شي په درجه او مقام خبروي، رسول الله ﷺ و فرمایل: قسم په الله که د ځمکي د مخ ټول شیان خیرات کړې، هغه د دوی د سهار په حرکت کي چې کوم اجر او ثواب ؤ هغه ته به نه ور رسېږې.

(c) ketabton.com: The Digital Library


ښه متوجه سی: هغه ثوابونه چي د مجاهدینو دغه د سهار په تګ کي موجود وه.
ویل: که ته د ځمکي د مخ ټول موجود شیان خیرات کړې خو ثواب یې د هغه ثوابه سره نه برابرېږي چي دغه مجاهدینو فقط دغه د سهار په تګ کي ګټلی دی، هغه نور جنګ او سترپیا، لوږي او زحمتونه، وژني او زخمونه چي دوی ته ور رسیږي د هغو د اجر او ثواب پوښتنه مه کوه، نو عبدالله بن رواحه ﷺ وژړل.
ذ دغه حدیث شریف روایت امام ترمذي رحمه الله کوي، عبدالله بن رواحه ﷺ وژړل، خلکو ورته و ویل: څه شي دي ژړوي؟ عبدالله بن رواحه ﷺ و ویل: والله زما سره د دنیا محبت نسته او نه مي تاسي یا ستاسي ملاقات ته ډیر شوق دی، خو ما د رسول الله ﷺ څخه د قرآن مجید یو آیات واورېدی چي په هغه کي اور ذکر سوی ؤ:

﴿وَإِن مِّنكُمْ إِلَّا وَارِدُهَا ۚ كَانَ عَلَىٰ رَبِّكَ حَتْمًا مَّقْضِيًّا ﴿٧١﴾﴾.[مریم :۷۱]

یعني: ستاسي څخه هیڅوک نسته مګر و دغه اور ته د دوږخ واردېدونکی یا ورتلونکی دی (چي مومنان پر پل صراط تېرېږي او ترهغه لاندي اور دی او کافران ور لوېږي) او دغه د اور پر تېرېدلو ستا رب یقیني حکم کړی دی.
نو عبدالله بن رواحه ﷺ ویل: زما ژړا د دغه اور له بیري څخه ده.
ورونو! دئ خو د ثواب دپاره پاته سوی ؤ او د جمعې لمانځه ته راغلی مګر ثوابونه هلته د مجاهدینو په ملګرتیا کي وه، نو ځکه یې و ویل: د اور د بیري ژاړم او بیا یې و ویل: الٰهي ستا په لار کي شهادت درڅخه غواړم.
خیر د مسلمانانو لښکر حرکت وکړی او د لښکر د حرکت خبر شا وخوا نشر سو، د مدینې منورې د یهودو څخه یوه نفر و رسول الله ﷺ ته و ویل: یا محمّد! ﷺ موږ ته په تورات کي ویل سوي دي: که یو نبي د خلکو نومونه په داسي طریقه سره یاد کړي: که فلانئ و وژل سو بیا فلانئ او که فلانئ و وژل سو بیا فلانئ، هغه نفر ټول وژل کیږي حتّٰی که یې د سلو نفرو نومونه هم یاد کړي وي هغه ټول وژل کیږي، یعني: تا اوس د خپلو درو قومندانانو نومونه یادکړه، رسول الله ﷺ و فرمایل: دا داسي کار دی چي د الله جل جلاله إراده داسي وه.
د دغه لښکر سره خالد بن ولید ﷺ چي نوی مسلمان سوی ؤ هم ملګری دی،

(c) Ketabton.com: The Digital Library


لښکر د غسان پر طرف رهي سو هلته بيا روميانو ته د مسلمانانو د حرکت خبر ورسېدی ځکه د غسان رئيس او حاکم چي حارث نومېدی د روم پاچا هرقل ته حال ولېږی چي يا قيصر! د محمّد ﷺ لښکر را رهي دی څرنګه چي زموږ او ستاسي په منځ کي داسي عهد او پيمان موجود دی: که چا پر موږ حمله کول تاسي به مو مرسته کوی او که پر تاسي چا حمله وکړه موږ مو مرسته کوو نو اوس هغه دی محمّد ﷺ پر موږ حمله کوي.

دلته د هرقل کفر او اسلام معلومېږي چي اوس د رسول الله ﷺ پر ضد د غسان د قبيلو مرسته او کومک کوي که يا؟ مګر پر هرقلُ دنيا غالبه سوې وه هغه مرتد او کافر ؤ غسان ته يې حال ولېږی چي هو، زه ستاسي سره يم او سل زره نفره جنګي لښکر يې ورته را ولېږی نو د غسان قبيلې ته دوه لکه نفره سره يو ځای سوه، يو لک نفر يې خپل درلودل او يو لک نفره د روم قيصر ورته را ولېږل، اوس نو د کفارو په دغه دوه لکه نفريزه لښکر کي پنځوس زره د آس سپاره وه او دا هم درته معلومه ده چي په جنګو کي پر آس هغه قوي او مشهوره پهلوانان سپرېدل، نو و غسان ته دومره لښکر سره يو ځای سو چي مسلمانانو يوازي دا نه چي هيڅ وخت يې د دومره لښکره سره جنګ نه دی کړی بلکه دومره انسانان يې ليدلي هم نه دي، اوس خو د مسلمانانو لښکر د دښمن په شمېر هيڅ نه دی خبر او د هغو پر طرف ور رهي دی.

هلته بيا روميانو او غسان د معلوماتو دپاره مخته جاسوسان را لېږلي دي چي په دغو جاسوسانو کي يو نفر د (سدوس) په نامه سره موجود ؤ او د هغه شرحبيل بن عَمرو ورور دی چي د غسان د رئيسانو څخه ؤ او د رسول الله ﷺ قاصد حارث بن عُمير رضي الله عنه يې شهيد کړی ؤ، نو سدوس او د هغه ملګري د جاسوسۍ دپاره را رهي دی مګر دلته د مسلمانانو د لښکر قومندان زيد بن الحارثه رضي الله عنه هم د کشف او معلوماتو دپاره نفر لېږل او هلته به په مخ کي ناست وه او کمين به يې نيولی ؤ، نو د مسلمانانو دغه د کشف ټولۍ دغه سدوس او د هغه ملګري ونيول او وې وژل.

دا د رسول الله ﷺ د قاصد انتقام او بدله سوه چي ترجنګ د مخه واخيستل سوه او د غسان د قبيلې د يوه رئيس ورور و وژل سو چي دې کار نور هم د روميانو او غسان د قبيلې قهر او غضب ور زيات کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library


د مسلمانانو لښکر بيا هم د شمال پر طرف رهي دی څو په (مَعان) کي يې واړول.
معان د شام په مځکه کي د يوه ښار نوم دی چي د حجاز و شمال ته نژدې دی. په دغه وخت کي د مسلمانانو استخباراتو زيد بن الحارثه رضی الله عنه ته دا خبر راوړی چي هرقل د يو لک نفرو سره د بلقاء په مځکه کي اړولي دی او هلته د ده د لښکره سره د غسان د قبيلو يو لک نفره نور هم يو ځای سوي دي چي په دې حساب د دښمن د لښکر شمېر دوه لکه نفره کيږي.

اوس چي مسلمانان په معان کي دي او دوی ته دا خبر ورسېدی چي د دښمن لښکر دوه لکه نفره دی، مسلمانو هيڅ دا فکر نه کاوه چي دوی به د دوه لکه نفريزه دښمن سره مخامخ کيږي خو ناڅاپه په دغه مځکه کي چي د خپل مرکز څخه هم ډيره ليري وه دغه خبر ورته راغلی، نو زيد بن الحارثه رضی الله عنه د صحابهٔ کرامو مشران سره راټول کړه، د مهاجرينو مشران، د انصارو مشران، د لښکر مشران ټول سره يو ځای سوه او مشوره کوي چي موږ بايد څه وکړو؟ موږ درې زره نفره يو او دښمن دوه لکه نفره دی لکه يو درياب چي را بهيږي ستاسي څه فکر او نظر دی؟ مسلمانان په حيرت کي دي، په معان کي يې دوې شپې تيري کړې او په دغه باره کي مشورې سره کوي، خو دغه مشورې فقط پر دوو نظريو وې، يو نظر دا وُ چي ويل جنګ ور سره کوو او بله نظريه دا وه چي رسول الله ﷺ ته به حال و ليږو ښايي نور مدد او مرسته را وليږي، يا به مو په جنګ کولو امر کړي نو به جنګ کوو، د دوی په منځ کي هيڅ داسي څوک نه وُ چي و دې وايي: دښمن ډېر دی د جنګ طاقت يې نه لرو موږ به بيرته پر شا ولاړ سو.

دغه همت او جرئت، شجاعت او شهامت ته وګورئ: درې زره نفره د دوو لکو نفرو په مقابل کي جنګيږي، او په زړو کي يې بېره هم نسته.

صحابهٔ کرامو دوې ورځي د دغو دوو نظريو په باره کي مشوره وکړه چي يا جنګ، يا به رسول الله ﷺ ته حال وليږو، خو عبدالله بن رواحه رضی الله عنه ولاړ سو او ويل: يا قوم! موږ او تاسي ولي مسلمانان سوي يو؟ تاسي جنت نه غواړئ؟ زموږ اسلام او مسلمانېدل اصلاً د جنت دپاره دی او اوس دغه دی جنت ستاسي مخته دی آيا تاسي شهادت نه غوښتئ؟ نو ولي په تشويش کي ياست او ولي انتظار کوئ؟ موږ د خلکو په

شمېر یا د اسلحې په قوت او کثرت نه جنګیږو، موږ له دوېه سره د بل شي په قوت نه جنګیږو بېله دغه دینه چې الله جل جلاله موږ په مکرم کړي یو، پر دښمن درځئ د دوو کامیابیو څخه یوه لاس ته را وړئ، یا کامیابي یا شهادت، خو د ټولو رأیه دا سوه چې جنګ کوو د مرستي او مدد انتظار نه کوو.

پسله هغه چې اسلامي لښکر دوې شپې په معان کي تیري کړې نو یې د دښمن مځکي ته حرکت وکړئ ترڅو چې د هرقل د لښکرو یوه حصه یې د بلقاء د کلو څخه په یوه کلي کي چې مشارف ورته ویل کېده ولیدل، نو مسلمانانو د (مُؤته) پر طرف حرکت وکړئ، مُؤته په خپله یو کوچنئ کلی دی او مسلمانانو خیمې تر کلي دباندي و درولې، مګر وروسته زید بن الحارثه رضی الله عنه دا بهتره ولیدل چې د کلي په داخل کي واړوي ځکه که چیري محاصره هم سي بیا هم جنګ کولای سي او دا معلومه خبره ده چې دوه لکه نفره په ډېره آساني سره کولای سي چې پر درو زرو نفرو را وګرځي او له هره طرفه یې محاصره کړي، نو ویل: که موږ دننه په مؤته کي محاصره هم سو بیا هم جنګ کولای سو ځکه د دښمن دپاره د یوه کلي یا ښار په منځ کي جنګ کول د صحرا تر جنګ ډېر سخت دي او که مسلمانان په دښت کي محاصره سي هلته بیا هیڅ نه سي کولای او که د ننه په کلي کي وي بیا هم خپل جنګ ته دوام ورکولای سي، نو مسلمانانو د ننه په مؤته کي واړول او د جنګ دپاره به دباندي را وتل، او س مسلمانان د کفارو د لښکر انتظار کوي.

دا دی د کفارو لښکر را ورسېدی دوی یې ویني د لښکر سر او شروع معلومیږي خو د پای او آخر یې درک نسته، لښکر را رهي دی خو آخر یې نه معلومیږي، د کفارو لښکر دوه لکه نفره دی د اول وار دپاره مسلمانان په دغه ډېر والي انسانان ویني، ځیني مسلمانان په بېره کي سوه چې دا څه حال دی؟ دومره لښکر رارهي دی چې پای او انتهاء نه لري نو خود و بېرېدل، په دغه وخت کي ثابت بن اقرم رضی الله عنه و درېدی او په مسلمانانو کي یې تقریر شروع کړی او ویل: زه د هغو کسانو څخه یم چې په بدر کي مي ګډون او اشتراک کړی دی، حال دا چې موږ لږ وو او کفار ډېر، مګر الله جل جلاله موږ کامیابه کړو، خبره د ډېر او لږ نه ده بلکه خبره د الله جل جلاله سره د صدق او اخلاص ده،

(c) ketabton.com: The Digital Library


نوري يې هم داسي خبري وکړې چي د مسلمانانو د زړو څخه يې بېره وايستل.

بیا نو زيد بن الحارثهؓ خپل لښکر و پنځو حصو ته و وېشی چي مقدمه، قلب، مؤخره، میمنه او میسره ورته ویل کیږي او د جنګ دپاره آمادګي ونیول سوه او هلته د روم لښکر سره یوځای سو، د مسلمانانو لښکر د جنګ دپاره تیار او آماده دی او سبا جنګ شروع کیږي.

په سبا سهار د لمانځه تر آداء کولو وروسته سمدستي زيدؓ د هجوم او حملې امر وکړی، د روم او غسان د لښکرو هیڅ دا خیال نه ؤ چي دغه درې زره نفره دي پر دوی حمله وکړي ځکه دا داسي مثال لري لکه درې نفره چي پر دوو سوو نفرو حمله کوي نو روم او غسان هیڅ دا فکر نه کاوه چي حمله دي د مسلمانانو له طرفه شروع سي او ځانونه يې هم د جنګ دپاره نه وه تيار کړي ځکه سهار وختي د لمانځه وخت دی مګر مسلمانان تيار وه په روم او غسان کي يې قتل او وژنه شروع کړه، د سهار څخه تر ماښامه يې کفار و وژل، رومیانو او غسانیانو مرګ ولیدی حتّی و بېرېدل چي ماته او شکست خورو مګر د کفارو شمېر دومره ډېر دی چي خلاصېدل نه لري.

په دغه ورځ د کفارو څخه په سوو نفر و وژل سوه او مسلمانان ماښام بېرته خپل ځای ته صحي او سالم را غله، نه شهيد او نه زخمي پکښې موجود ؤ، رومیان په تعجب کي دي چي دا څنګه خلک دي؟ دا بشر دی که جن؟ دا انسانان دي که پېرانان؟ درې زره نفره پر دوو لکو نفرو حمله کوي او دغه حال يې پر جوړ کړی، رومیان او غسانیان پوه سوه چي د يوه عادي لښکره سره نه دي مخامخ، دا شپه تېره سوه په دوهمه ورځ بيا مسلمانانو د سهار د لمانځه سره حمله پر وکړه او د روم په لښکر کي بيا نفر وژل کیږي په لسهاوو نفر پر مځکه لوېږي او مري، د دغې ورځي تر ماښامه بیا دغه حال دی ماښام بېرته مسلمانان خپل ځای ته ولاړل، د کفارو لښکر ټوک ټوک دی او په حيرت کي دي چي څنګه دغو لږو نفرو پر موږ دغه حال جوړ کړی؟ پنځه ورځي پرله پسې دغه حال ؤ چي مسلمانان د سهار د لمانځه پر وخت حمله شروع کړي او تر ماښامه کفار وژني، مګر د کفارو شمېر دومره ډېر دی چي خلاصېدل يې امکان نه لري، دوه لکه نفره نه خلاصیږي نه څه په کولای سي.

(c) Ketabton.com: The Digital Library


رومیانو چې دا حال ولیدی په شپږمه شپه کې هغو د حملې دپاره ځانونه تیار کړه او د سهار د لمانځه سره رومیانو حمله وکړه، ویل: هره ورځ حمله د دوی له طرفه شروع کیږي نن به موږ حمله پر وکړو نو د مُؤته په شپږمه ورځ ډیر لوی او شدید جنګ شروع سو، ډیر زورور جنګ دی.

هلته په مدینه منوره کې رسول الله ﷺ ږغ کړه: الصّلٰوة جامعةٌ. چې دغه ناره د مسلمانانو د را ټولېدلو دپاره ږغ او خبرتیا وه، ټول مسلمانان په مسجد نبوي کې سره را ټول سوه او ویل: خیر یا رسولَ الله! څه پېښه ده؟ رسول الله ﷺ و فرمایل: اوس د روم او مسلمانانو په منځ کې جنګ ډیر شدید سو، رسول الله ﷺ هلته په مدینه منوره او مسجد نبوي کې پر منبر ناست دی اصحاب کرام پر را ګرځېدلي دي او د مُؤته د جنګ حالات ورته بیانوي، لکه دیٔ ﷺ چې ورته ګوري او دوی ته حالات بیانوي (د جبهې مستقیم خبرونه ورته وایي) لکه دیٔ ﷺ چې د تلویزیون پردې ته ګوري او دوی ته د هغه جنګ حالات بیانوي، رسول الله ﷺ و فرمایل: د مسلمانانو بیرغ زید واخیستی او د کفارو منځ ته ور داخل سو، زید بیرغ په لاس کفار وژني.

ورونو! زید رضی الله عنه په همت او شجاعت په مړانه او دلاوري سره داسي شدید جنګ کاوه چې بېله هغو قهرمانانو څخه د اسلام بل څوک یې مثل او سیال نه ؤ، رسول الله ﷺ و فرمایل: اوس کفار پر ده راټول سوه او زید په تورو او نېزو وهي، مسلمانان د ده پر شا وخوا د ده څخه دفاع کوي او کفار یې د لیري څخه په نېزو ولي ترڅو چې رسول الله ﷺ و فرمایل: زید په نېزو ټوک ټوک او زخمي سو، زید ولوېدی غځار او شهید سو. دا هغه زید رضی الله عنه دی چې رسول الله ﷺ تر اسلام د مخه په زوی واله نیولی ؤ او زید بن محمّد ورته ویل کېده، دا هغه زید دی چې د رسول الله ﷺ په کور کې لوی سو او پر رسول الله ﷺ تر اندازې زیات ګران ؤ، دا هغه زید دی چې تر نورو ټولو خلکو د مخه په اسلام مشرف سوی دی، د زید رضی الله عنه د ژوند څه حالات مي د بحث په شروع کې درته بیان کړي دي او نن د زید رضی الله عنه د شهادت ورځ وه چې د مُؤته په جنګ کې شهید و وژل سو.

رسول الله ﷺ نور هم اصحاب کرامو ته د جنګ د میدان مستقیم حالات

(c) ketabton.com: The Digital Library


بیانوي، کله چې رسول الله ﷺ و فرمايل: چې زيد شهيد سو نو ويل: اوس د مسلمانانو بيرغ جعفر بن أبي طالب واخيستی (چې د رسول الله ﷺ د اکا زوی او د حضرت علي رضي الله عنه ورور ؤ) او د روم په لښکر ور ننوتی، د روم د لښکر ډير نفر پر را گرځېدلي دي، د دغه حديث شريف روايت ابو رافع رضي الله عنه کوي او وايي: رسول الله ﷺ و فرمايل: د نفرو د ډير والي په سبب جعفر رضي الله عنه نه سي کولای چې يو قدم هم مخ ته ولاړ سي (تاسي د دغه جنګ فکر او تصور وکړی چې د کفارو ازدحام. را ټولېدل او حملې پر جعفر رضي الله عنه دومره ډيري وې چې يو ګام مخ ته نه سي تلای) رسول الله ﷺ و فرمايل: جعفر له خپله آسه را کښته سو آس يې په توره و واهه او وې وژی (دا هغه اول آس دی چې په اسلامي جنګو کي وژل کيږي) او جعفر رضي الله عنه په جنګ شروع وکړه پر پښو ولاړ دی او پياده جنګ کوي تر څو روميانو په توره حمله پر وکړه او راسته لاس يې ور پرې کړی، جعفر رضي الله عنه بيرغ په چپه لاس ونيوی، کفارو پر چپه لاس و واهه چپه لاس يې هم پرې سو، جعفر رضي الله عنه بيرغ د لاسو په هغه پاته حصه نيولی دی پر دغه حال يې هم بيرغ لوړ ساتلی دی خو جنګ نه سي کولای ځکه دواړه لاسونه يې پرې دي، په دغه وخت کي د روميانو څخه يوه نفر حمله پر وکړه او په توره يې داسي و واهه چې پر دوې حصې يې تقسيم کړی او جعفر رضي الله عنه دوې ټوټې پر مځکه ولوېدی.

ورونو! موږ ته اسلام په مفته او آسانه نه دی راغلی او نه تر موږ پوري په خپله را رسېدلی دی بلکه په هر وخت او هره زمانه کي د صحابهٔ کرامو څخه رانيولې بيا تر دغه اوسه پوري خلکو د اسلام د نشرولو او ساتلو دپاره مالي او ځاني قرباني ورکړي دي، د دغو قربانيو يو مثال او نمونه دغه اوسنۍ قصه ده.

خوکه زه اوس ستا څخه پوښتنه وکړم چې تا د اسلام د نشرولو دپاره کومه قرباني ورکړې ده؟ د اسلام د لوړ والي او کاميابۍ دپاره دي څومره مال مصرف کړی دی؟ آيا دومره پيسې چې د يوه زوی په واده کي يې مصرفوې يو وخت دي د اسلام د ترقۍ دپاره هم مصرف کړي دي؟ د دغو پوښتنو په باره کي به ستا جواب څه وي؟ ما ته يې جواب مه وايه خو د ځان سره فکر وکړه چې آيا د اسلام د ترقۍ دپاره دي ځاني او مالي قرباني ورکړي دي؟ او که دي بالمقابل د اسلام په نړولو کي حصه

(c) Ketabton.com: The Digital Library


اخیستې ده؟ د اسلام نړول دا نه دي چې کلنګ دي په لاس کعبې شریفې یا یوه مسجد ته ولاړ یې او نړوې یې، یا قرآن مجید سوځې، بلکه په اوله درجه کې د اسلام نړول دا دي چې ته د اسلام د آبادولو څخه آرام او ښېغمه کښېنې، که زه او ته د اسلام د ترقۍ او آبادۍ، د اسلام د نشرولو او خپرولو دپاره کار و نه کړو آیا کفار به راسي زموږ د دین د نشرولو او قائمولو دپاره به کار وکړي؟

د اسلام دوهم نړول دا دي چې په خپل ژوند، په خپل او د خپلې کورنۍ په لباس او کړو وړو کې د کفارو تقلید او متابعت اختیار کړې، اسلامي اوامر هېر او تر شا کړې.

د اسلام دریم نړول دا دي: چې یو څوک دې ښه کار ته ور وبولي ته د هغه ضد او مقابل و دریږې، پر هغه نفر حق او نا حقه عیبونه او تورونه وایې، داسي نوري ډیرې خبرې سته چې دغه ځای یې د بیانولو دپاره مناسب نه بولم، فقط دومره وایم چې ډیر د افسوس ځای دی چې دغه الٰهي دین کوم چې تر موږه په وینو را رسول سوی دی، خو موږ دغه ډکه پیاله په خپله چپه کوو، د اسلام احکام پرېږدو او کفري اصطلاحات یا نفساني او شهواني غوښتني په خپل ژوند کې رواجوو، په خوله اسلام اسلام وایو خو عملونه او لباسونه مو د بل چا دي، په ښکاره د اسلام نارې وهو خو زړونه مو په هغو شیانو پورې تړلي دي چې هغه ضد د اسلام دي، په هغه ورځ چې د الله جل جلاله په حضور کې و دریږو څه جواب به ورته وایو؟ او هغه ورځ هم ډیره را نژدې ده، فقط چې سترګې دې پټې سوې دغه الٰهي محکمې ته ولاړ یې.

هو کفار به د اسلام پر ضد او د مسلمانانو د سپکولو دپاره قرآن مجید سوځي، خو بد بختانه مسلمانانو د قرآن مجید تر سوځولو د مخه په قرآن مجید عمل کول پرې ایښي دي، قرآن مجید د پوښو او مچولو دپاره نه دی را لېږل سوی، د قرآن مجید آیاتونه د دېوالو د ښایسته کولو دپاره نه دي نازل سوي، بلکه قرآن مجید د مسلمانانو د ژوند طریقه او قانون دی، قرآن مجید عمل غواړي او د هغه په احکامو سره د عمل کولو پوښتنه راڅخه کیږي. *بیرته به خپلې قصې ته ولاړ سو:*

راوي د حدیث ابو رافع رضی الله عنه وایي: پسله جنګه څخه چې د شهیدانو بدنونه را ټولېدل د جعفر رضی الله عنه د بدن په نیمه حصه کې څو دیرش زخمونه ولیدل سوه او په ټول

(c) ketabton.com: The Digital Library


بدن کې يې د تورو، نېزو او غشو څو نيوي زخمه موجود وه.

په بل روايت کې عبدالله بن عمر رضي الله عنه وايي: زه د مُؤته په جنګ کې موجود وم موږ په جعفر بن أبي طالب رضي الله عنه پسې ګرځېدو چې په شهيدانو کې مو پيدا کړی او د ده په بدن کې مو څو نيوي زخمه وليدل چې د تورو او نېزو يا د غشو واري وه او دغه ټوله هم د ده د مخ په حصه يا طرف کې وه، د دغو احاديثو روايت امام بخاري رحمه الله کړی دی.

او هلته رسول الله ﷺ په مدينه منوره کې اصحاب کرامو ته و ويل: جعفر پسله هغه چې دواړه لاسونه يې پرې سوه شهيد و وژل سو، الله جل جلاله ده ته د دغو لاسو په عوض کې د ياقوتو وزرونه ورکړه او دئ به د قيامت تر ورځي په جنت کې په دغو وزرو سره هر چيري چې د ده خوښه وي الوزي.

نو ځکه ده رضي الله عنه ته (جعفر طيّار) ويل کيږي، يعني: الوتونکی.

دا يې تر قيامت د مخه أجر او بدله ده خو هغه درجې او نعمتونه چې الله جل جلاله يې د قيامت په ورځ ده او نورو في سبيل الله شهيدانو ته ورکوي، هغه تر دې ډيري لوړي دي چې موږ يې بيان کړو بلکه موږ يې هيڅ تصوّر او خيال هم نه سو کولای.

اوس نو د جعفر رضي الله عنه په شهادت د دوهم وار دپاره بيا د مسلمانانو بيرغ و لوېدی، خو عبدالله بن رواحه رضي الله عنه ورغلی او بيرغ يې پورته کړی، دلته رسول الله ﷺ و فرمايل: بيرغ عبدالله بن رواحه پورته کړی، بيا نو رسول الله ﷺ چپ او ساکت سو، په خبرو کې يې سکته وکړه، څرنګه چې عبدالله بن رواحه رضي الله عنه د انصارو څخه ؤ د رسول الله ﷺ په سکته کولو يا چپېدلو سره انصار په تشويش کې سوه، وارخطا سوه چې څه پېښه سوه؟

رسول الله ﷺ ولې ساکت سو؟ ځکه هلته عبدالله بن رواحه رضي الله عنه په شک او تردد کې سو چې بيرغ واخلم که يا؟ ده وليدل: هغه دوه نفره چې بيرغ يې اخيستی ؤ د ده په حضور د جنګ په دغه شديد او خطرناکه حالت کې يو په بل پسې شهيدان سوه، نو دئ رضي الله عنه د لږ وخت دپاره په فکر او تردد کې سو او هلته رسول الله ﷺ ساکت او چپه خوله سو، په هغه نورو دوو نفرو کې به رسول الله ﷺ و ويل: فلاني بيرغ واخيستی او ور د مخه سو او د عبدالله بن رواحه رضي الله عنه په وار رسول الله ﷺ و فرمايل: عبدالله بيرغ

(c) ketabton.com: The Digital Library


واخیستی او بیا ساکت سو، نو خود د انصارو چهرو او رنګو د دې بیرې څخه تغیر وکړی چې عبدالله داسې کار نه وي کړی چې د دوی نه وي خوښ. خو عبدالله رضي الله عنه د لږ وخت دپاره په شک او تردد کې ؤ او بیرته ژر متوجه سو او دا شعرونه یې وویل:

أقسمتُ یا نفس لَتنزِلنّه کارهةً او لتُطاوعنّه
قد اَقبلَ الناسُ وَ شدّوا الرّنه مالي أراکِ تکرهینَ الجنّه

یعني: اې زما نفس او ځانه! ما قسم کړی دی که خوښ یې که نا خوښ چې ته به دې میدان ته ور داخلېږې، خلک ور د مخه سوه خپلې کمانې او لښندې یې ټینګې کړې، زه ولې تا وینم چې جنت نه خوښوې؟ نور شعرونه یې هم وویل: چې په هغو کې یې د زید او جعفر رضي الله عنه همت او شجاعت، مړانه او قرباني بیانول او ستایل او وې ویل:

إن تفعَلِ فعلاَهُما هُدیت وَمَا تَمَنَّیْت فَقد اُعطیت

یعني: که ته د هغو دوو د زید او جعفر کارونه وکړې نو هدایت درته وسو او هغه شئ چې تا غوښتی هغه درکول سو، چې مقصد یې في سبیل الله شهادت او جنت ؤ، نور بیتونه یې هم وویل: او ور د مخه سو پر کفارو یې حمله وکړه، دغه د ده د حملې او هجوم په وخت کې یو د اصحاب کرامو څخه چې د ده د اکا زوی ؤ ده ته ورغلی.

دا خو درته معلومه ده چې جنګ به د سهار څخه تر ماښامه پورې دوام درلودی په جنګ کې د تفریح، هوسایي او ډوډۍ خوړلو وخت نه ؤ. سهار چې به جنګ شروع سو تر ماښامه به پرله پسې جنګ کېدی نو خود مسلمانان به ډیر وږي وه، په دغه وخت کې چې عبدالله بن رواحه رضي الله عنه شعر وایي او غواړي چې د کفارو په لښکر ورننوزي هغه د اکا زوی یې راغلی او یو څه غوښې ور سره وې چې هغه د پسه د ورانه هډ ؤ او غوښې پورې مښتې وې، ویل: ستړی او وږی یې دغه وخوره ځان قوي او تکړه کړه، عبدالله بن رواحه رضي الله عنه په دغه هډ غاښ ولګاوه او څه غوښې یې په خوله کړې خو هلته په لښکر کې د تورو شرنګئ او نارې دې نو یې ځان ته وویل: ته لا په دنیا کې یې؟ غوښو ته یې وکتل او ویل: چې دغه غوښې خورم دا ډیر اوږد ژوند دی، غوښې یې و غورځولې او توري ته یې ورحمله کړه د روم په لښکر ورننوتی د روم په لښکر کې د نصراني عربو یوه

(c) ketabton.com: The Digital Library


ډله وه چې د غسان د قبيلې څخه وه او د هغو مشر او قوماندان مالک بن رافله نومېدی پر دغه ډله يې حمله وکړه او هغه مالک د دوی مشر يې و وژی، نور يې هم شديد جنګ وکړی څو هغه نصارا عرب پر دهٔ رضی الله عنه را تول سوه او دئ رضی الله عنه يې شهيد و وژی.

هلته رسول اللهﷺ په مدينه منوره کې خپلو اصحابو ته د دغه جنګ حالات وايي او وې فرمايل: عبدالله د کفارو سره جنګ وکړی تر څو چې شهيد و وژل سو، او بيا رسول اللهﷺ و فرمايل: دوی درې سره د سرو زرو پر چپرکټو جنت ته يو وړل سوه او زه د دوی تختونه په جنت کې وينم، مګر د ابن رواحه تخت د هغه نورو دوو د تختو څخه لږ ليري يا وروسته دی، صحابهٔ کرامو و ويل: ولې؟ يا رسولَ الله! رسول اللهﷺ و فرمايل: کله چې عبدالله بيرغ واخيستی لږ څه په تردد کې سو، دغه لږ تردد او تأخير د ده درجه د هغو نورو دوو ملګرو تر درجې لږ ورکمه کړه.

اوس د عبدالله بن رواحه رضی الله عنه په شهادت د مسلمانانو بيرغ بيا و لوېدی او کښته سو، رسول اللهﷺ هم پسله ده څخه بل څوک د بيرغ په اخيستلو نهٔ مکلف کړی، نو خود د مسلمانانو لښکر سره وپاشل سو، ځکه مشر، آمر او قوماندان نه لري او بيرغ هم ولوېدی او تاسي ته معلومه ده چې د فوج او لښکر دپاره مهم شئ بيرغ ؤ، د لښکر افراد به پر بيرغ سره را ټولېدل، د لښکر شکست او ثبات هم په بيرغ معلومېدل، اوس چې بيرغ ولوېدی او نسته په مسلمانانو کې ماته او تېښته شروع سوه هر يو پر خپل سر يوې او بلې خوا ته ځغلي، د حديث شريف راوي ابو رافع رضی الله عنه وايي: مسلمانانو داسي شکست وخوړی چې د دغه په مثل يې هيڅ شکست نه ؤ ليدلی او قسم په الله د مسلمانانو دوه نفره يو ځای نه سره ليدل کېدل، هر يو جلا جلا دی مسلمانان ځغلي او ميدان جنګ پرېږدي، په دغه وخت کې د مسلمانانو د پهلوانانو څخه يو قهرمان پهلوان چې ثابت بن أرقم رضی الله عنه ؤ او دئ د هغو کسانو څخه دی چې بدر ته حاضر سوی ؤ، ور د مخه سو او ځان يې بيرغ ته ورساوه د مسلمانانو بيرغ يې پورته کړی.

تاسي فکر وکړی په دغسي حالت کې څوک بيرغ پورته کوي يا يې پورتهٔ کولای سي؟ په هغه وخت کې چې لښکر منظم ؤ د کوم چا څخه چې به بيرغ ور سره ؤ د هغه پر شا وخوا به ډير شديد امنيت نيول سوی ؤ، صحابهٔ کرام به پر را ګرځېدلي وه

(c) ketabton.com: The Digital Library


او د هغه څخه به يې دفاع کول مګر اوس چې ثابت رضي الله عنه بيرغ پورته کړی نه څوک ور سره دي او نه د ده څخه څوک دفاع کوي، لکه د مخه چې مو درته و ويل: مسلمانان دوه نفره هم نه دي سره يو ځای خو بيا هم ثابت رضي الله عنه بيرغ پورته کړی، هغه مسلمانان چې په دغه منطقه کې وه او وې ليدل چې بيرغ پورته سو په کراره کراره خپل بيرغ ته ور نژدې کېدل، خو اول هغه څوک چې ثابت رضي الله عنه ته ور ورسېدی هغه خالد بن وليد رضي الله عنه ؤ، په دغه وخت کې ثابت رضي الله عنه بيرغ و خالد ته ونيوی ويل واخله يا خالد! خالد رضي الله عنه ويل: يا ثابت! ته تر ما مشر يې او د اهل بدر څخه يې، ثابت رضي الله عنه و ويل: واخله يا خالد! په والله ما نه کړی را پورته مګر ستا دپاره دا د جنګ ميدان دی دا د بحث او نقاش وخت نه دی، دا کار يو تجربه کاره سړئ غواړي او ته د تجربې خاوند يې، خالد رضي الله عنه هم نور دلايل و نه ويل او بيرغ يې واخيستی.

هلته په مدينه منوره کې رسول الله ﷺ و فرمايل: «اوس يوه سيف مِن سيوف الله خالد بن وليد بيرغ واخيستی» او د دغې ورځې څخه خالد رضي الله عنه په سيف الله سره مسمّٰی سو يعني: د الله جل جلاله توره چې پر کفارو يې مسلطه کړې دی.

اوس چې خالد رضي الله عنه بيرغ واخيستی بيرغ بښوروي او په لوړ آواز ناری وهي: را تول سی، راټول سی، مسلمانانو بيرغ وليدی چې بيا پورته سو نو سره را ټولېدل او يو ځای کېدل، هغه تښتېدلو نفرو هم مراجعه وکړه او سره يو ځای کيږي، خالد رضي الله عنه هم ډير ژر او سمدستي امرونه صادرول او اوامر يې په لښکر کې نشريږي، په څو لحظو کې يې هغه تښتېدلی لښکر بيرته منظم کړی حتّٰی روميانو هيڅ فکر نه کاوه چې مات سوی لښکر دي بيرته سره يو ځای سي، په څو لحظو کې دي هغه مات سوی او تښتېدلی لښکر بيرته سره را ټول سي دا د هيچا زړه ته نه لوېدل، کله چې لښکر سره يو ځای او منظم سو خالد رضي الله عنه امر وکړی چې د روميانو پر لښکر يو ځايي حمله وکړی، مسلمانانو هم پر روميانو حمله وکړه هغه په تعجب کې سوه يوازې دا نه چې مات سوی لښکر سره را ټول سو بلکه په نوې حمله يې هم لاس پورې کړی، مسلمانانو په کفارو کې قتل او وژنه شروع کړه.

امام بخاري د خالد بن وليد رضي الله عنه څخه روايت کوي چې وايي: د مُؤته په ورځ زما په

(c) ketabton.com: The Digital Library


لاس کي (۹) توري ماتي سوې، په لاس کي مي ښېله يوې يمنۍ توري بله نه سوه پاته.

لکه څرنګه چي د مخه مو درته و ويل: رسول الله ﷺ هلته په مدينه منوره کي خپلو اصحابو کرامو ته د جنګ حالات بيانول او کله چي عبدالله بن رواحه ﷛ شهيد سو او د مسلمانانو بيرغ و لوېدی رسول الله ﷺ و فرمايل: عبدالله شهيد سو او بيرغ ولوېدی، بيا نو رسول الله ﷺ د څه وخت دپاره چپ او ساکت سو، يقينًا صحابهٔ کرام وارخطاء او غمجن دي، رسول الله ﷺ ته ګوري او هغه هم څه نه وايي تر سترګو يې اوښکي بهيږي، خو کله چي خالد بن وليد ﷛ بيرغ واخيستی دلته رسول الله ﷺ و فرمايل: اوس بيرغ سيف من سيوف الله واخيستی او جنګ شروع سو، واقعًا هم په مُؤته کي د مسلمانانو او روميانو تر منځ ډېر شديد جنګ جاري ؤ، دې جنګ تر ماښامه دوام وکړی او په روميانو کي يې ډېر قتل او وژنه وکړه، مسلمانان په ډېر شجاعت او مړانه، په صبر او تحمل د دغه لوی لښکر په مقابل کي ودرېدل، روميان په تعجب کي وه چي دغه کوچنۍ لښکر څنګه د دغه لوی او بې پايانه لښکر د داسي حملو مخ ته لکه د درياب څپې چي را رواني وي طاقت کوي؟ کله چي ماښام سو او دوه لښکره سره جلا سوه د روميانو هيڅ زړه ته نه لوېدل، په حيرت کي دي چي دا په دوی څه وسوه؟ پسله هغه چي روم کامیابه سو خبره بيرته د دوی و ماتي او شکست ته واوښتل.

## د مُؤته د جنګ انتهاء

بيا نو په دغه شپه کي چي د مؤته د جنګ اوومه شپه ده خالد ﷛ خپل عسکري او حربي نبوغ ښکاره کړی، د ځان سره فکر کوي چي مسلمانان څنګه او په کومه طريقه سره د دغه دام او جال څخه چي دوی پکښي لوېدلي دي خلاص کړي، دا يې حسَول چي اوس يو جنګي چم او حيله په کار ده چي د دښمن په زړه کي هم بېره ور واچوي او هم مسلمانان په داسي قسم د جنګ له ميدانه وباسي چي د روم لښکر د دوی په شړلو او تعقيبولو پسې نه سي، خالد ﷛ په دې ښه پوهېدی که موږ ښېله حيلې پر شا ولاړ سو د روم لښکر په موږ پسې کيږي او په هغه وخت کي يو مسلمان هم ژوندئ نه پاته کيږي، نو يې په دغه شپه ډېره لويه، عظيمه او با تدبيره نقشه جوړه کړه چي

(c) ketabton.com: The Digital Library


مور بايد بېله ځاني او روحي تلفاتو پر شا ولاړ سو او نور جنګ ته دوام ورنه کړو، چې په عربي کي انسحاب ورته وايي او دا هغه کامياب ترين انسحاب يا پر شا تګ دی چې په ټول تاريخ کي يې مثل نسته، خالد ﷺ په دغه شپه څه وکړه؟ ډېر کارونه يې وکړه.

ټوله شپه يې تر سهاره پر دغه خپله نقشه کار وکړی او ښه فکر يې پکښې وواهه، مور پخوا هم درته ويلي وه چې د هغه وخت په جنګو کي لښکر پر پنځه حصې وېشل کېدی چې يوه حصه يې مقدمه وه چې دا به تر لښکر د مخه وه، بله حصه يې مؤخره وه چې د لښکر تر شا به وه او بله حصه يې ميمنه وه چې راسته طرف ته به وه، بله حصه ميسره وه چې چپه طرف ته به وه او يوې حصې ته قلب ويل کېده چې دغه حصه به د ټولو حصو يا ټول لښکر په منځ او مرکزي منطقه کي وه.

د خالد بن وليد ﷺ د دغې شپې دکارو څخه يو دا ؤ چې ميمنه يې د ميسره پر ځای و دروول او ميسره يې د ميمنه پر ځای، دغه رنګه قلب، مقدمه او مؤخره يې ټول د خپلو ځايو څخه سره واړول او بل يې امر وکړی چې ټولو بيرغو ته تغير ورکړی هغه بيرغونه چې د مخه په لښکر کي موجود وه او خلک پر را ټولېدل د ټولو بيرغو شکل او رنګ ته يې تغير ورکړی، بيا يې د مسلمانانو څخه د سپرو يوه ډله امر کړه چې تاسي به په دغه شپه کي د مدينې منورې طرف ته ولاړ سی، کله چې ډېر ښه ليري ولاړاست تر داسي اندازې چې مور تاسي نه وينو او تاسي مور نه وينی، نو شپه به هلته تېره کړی، سبا چې ورځ سوه تاسي به څه کوی؟ د هغه په باره کي يې هم پوره تعليمات ورکړه، هغه داسي: تاسي به پر څو حصو تقسيم سی، يوه يوه حصه يا ډله به پسله نيم نيم ساعته پر آسانو سپاره د مسلمانانو لښکر ته راځی، خو دغه را تګ به مو پر داسي ليارو وي چې خاورني او مټني وي او ډېري دوړي کوي.

خالد ﷺ دلته د پاته خلکو سره د جنګ د اوومي ورځي په سهار کي د جنګ دپاره آمادګي ونيول، کله چې سهار سو او اوس جنګ شروع کيږي روميان او کفار چې ورته ګوري نور نوي خلک دي او نوي بيرغونه دي، نوي خلک خو په دې ورته معلوم سوه چې د هر طرف خلک بل طرف ته تللي وه نو نوي ور ته معلومېدل، کفارو سره و ويل: نوي خلک او نوي بيرغونه! مور پر هغه درو زرو نفرو نه سوای کاميابه کېدلای

(c) ketabton.com: The Digital Library


او اوس دوی ته د شپې نور کومک هم راغلی دی، کفار په دغه بېره او خوف کې وه چې د سپرو هغه اوله ډله را رهي ده او پر داسې لار راځي چې ټوله خاوره ده او یوه لویه دوړه را رهي ده، که څه هم دوي لږ نفر وه خو د لیرې او د دوړو په منځ کې داسې معلومیږي لکه بل لښکر چې را رهي وي، خالد ﷺ دا هم ورته ویلي وه چې را نژدې سی د الله اکبر تکبیرونه په لوړ آواز وایاست، دغه ډله هم په لوړ آواز تکبیرونه وایي، دلته د مسلمانانو لښکر هم تکبیرونه ور سره شروع کړه، رومیان او کفار وارخطا سوه ویل: دا خو هغه دي نور هم پسې را رهي دي، لږ وخت وروسته بله ډله پر دغه ترتیب را رهي ده، لږ وخت وروسته بله ډله پر دغه قسم را رهي ده او بیا بله ډله، د کفارو زړونه لویږي او وارخطاء کیږي چې دا څه حال دی لښکر په لښکر پسې را رهي دی، موږ په هغه اولو نفرو څه نه سوای کولای او اوس دغه دومره لښکري نوري هم را رهي دي، اصلاً دغه راتلونکي نفر لږ نفر وه خو په دوړو کي نه معلومېدل او د کفارو په خیال ډېر زیات نفر ورتله، دلته رومیان وارخطاء دي او هلته خالد ﷺ د هجوم او حملې امر وکړی، اوس نو د مؤته د اوومي ورځې جنګ شروع سو.

ابو رافع ﷺ وایي: قسم په الله چې نه مي تردغه ورځې د مخه او نه مي تر دغه ورځې وروسته دغسې شدید جنګ لیدلی دی په ټول عمر بیا ما داسې جنګ نه ولیدی، تاسې فکر وکړی چې دا به څومره شدید جنګ ؤ؟ په دغه ورځ هم د خالد ﷺ په لاس کې څو توري ماتې سوې، د اوسپني توري د انسانانو پر سرو ماتیږي دا به څنګه او څومره شدید جنګ ؤ؟!

د دې دپاره چې د خالد بن ولید ﷺ په جنګ او قوت پوه سو، خالد ﷺ په جنګ کې ډېر ماهر او په قوت دومره قوي پهلوان ؤ چې مثل یې نه لیدل کیږي، دئ ﷺ ډېر جګ او لوی سړئ ؤ پر آس چې به سپور ؤ پښې به یې مځکې ته رسېدلې، په ټولو مسلمانانو کې نه بلکه په ټولو خلکو کې که مسلمانان وه که کفار فقط دغه دوه نفره وه چې په دوو تورو یې جنګ کاوه، یو خالد بن ولید ﷺ او بل زبیر بن العوام ﷺ چې په یوه وخت کې یې په راسته او چپه لاس جنګ او وهل کول، نور ټول خلک په یوه لاس جنګ کوي خو دوی په دواړو لاسو جنګ کاوه، کله چې به خالد ﷺ په

(c) ketabton.com: The Digital Library


جنګ کې پر آس سپور ؤ پښې به يې ځکې ته رسېدلې نو آس به يې يوې او بلې خوا ته په پښو شړی، خالد ﷺ زموږ او ستاسې تر فکر لوړ جنګ کاوه چې نه يې هغه وخت مثل ؤ او نه يې اوس مثل سته.

دلته چې د مؤته په اوومه ورځ پر کفارو دغه شديده حمله شروع سوه په کفارو کې ډير قتل او وژنه وسوه، ابو رافع ﷺ وايي: و مې ليدل چې روميان او غساسنه ځغلې، تښتې ماته يې وخوړل، د جنګ ميدان پرېږدي يوه او بل طرف ته ځغلي ځانونه باسي او مسلمانان ور د مخه کيږي خو د غسان و پاچا ته ورسېدل چې نوم يې فېدور ؤ او د هرقل ورور ؤ، دغه فېدور په دغه جنګ کې د کفارو عمومي قومندان هم ؤ، په دغه وخت کې خالد ﷺ امر وکړی چې ټول مسلمانان دې د جنګ له ميدانه را ووزي د دغه امره سره د مسلمانانو لښکر ټول پر شا ځي، روميان بيا په تعجب کې سوه چې دا څه قصه ده؟ کاميابه لښکر ولې پر شاځي؟ کفارو ويل: کمين يې راته نيولی دی دا چم دی موږ خطاباسي پام کوی چې حمله پر و نه کړی او پسې ور نه سی پرې يې ږدی، خالد ﷺ په کراره کراره د خپله لښکره سره پر شا ځي.

تاسې پوهېږی چې د لښکر د مرګ او ژوبلې دپاره خطرناکه حالت دغه د انسحاب يا پرشا تللو وخت دی، په دغه وخت کې لښکر ډير تاوانونه او تلفات ويني ځکه هغه لښکر چې شا ته ځي پر هغه د ډيرو شديدو حملو امکانات سته، لکه څرنګه چې دغسې واقعې په تاريخ کې ډيرې پېښې سوي دي، د انسحاب او پرشا تللو په وخت کې بشري خساره او تاوان ډير زيات وي، مګر خالد ﷺ غوښته چې بېله خسارې څخه پر شا ولاړ سي نو خالد ﷺ په کراره کراره پرشا ځي او داسې معلومېږي لکه دئ چې د روم د حملې انتظار کوي، مګر هلته د روم قومندان فيدور امر وکړی: پرې يې ږدی، پرې يې ږدی او خالد ﷺ نور هم د خپله لښکره سره پر شا ځي څو دغه انسحاب او رجوع يې تر مدينې منورې پوري وه، يعني: بيرته مدينې منورې ته ورسېدل او په دغه انسحاب کې د مسلمانانو څخه يو نفر هم و نه وژل سو.

د جنګو په ټول تاريخ کې دغه انسحاب اول او آخر انسحاب دی چې پوره لښکر دې پر شا ولاړ سي او يو نفر دې ځنې و نه وژل سي، دا د خالد ﷺ لوی فکر او عظيمه

(c) ketabton.com: The Digital Library


نقشه وه، رومیان هلته په انتظار کي وه چي مسلمانان به بیا راسي او حمله به راباندي وکړي خو هغه هیڅ نه سوه پېښ، بیا یې د معلوماتو دپاره جاسوسان ولېږل خو هغه وخت مسلمانان مدینې منورې ته رسېدلي وه، وروسته نو د روم او غسان لښکري هم ولاړې.

کله چي د مسلمانانو لښکر بیرته مدینې منورې ته ورسېدی، تر دوی د مخه د مدینې منورې خلکو ته خبر رسېدلی ؤ چي د مسلمانانو لښکر د مُؤته له جنګه بېله کومي قطعي نتیجې ځانونه خلاص کړه او بیرته را رهي سوي دي، د مدینې منورې ښځي او ماشومان مخ ته ورته را وتلي وه او د دغه لښکر استقبال او ښه راغلئ یې د ډېرو په ویشتلو کاوه، یعني: دغه خپل لښکر یې په ډېرو ویشتی او ویل: دا د مسلمانانو اول لښکر دی چي تښتي، یا به کامیابه کېدلای یا به وژل کېدلای، نو یې دغه خپل لښکر په ډېرو ویشتی، ویل: د في سبیل الله جهاده څخه را وتښتېدلاست؟ او ناري یې پر وهلې یا فُرار، یا فُرار، د مسلمانانو لښکر په دې کار ډېر زهیر ؤ، یو صحابي چي د مُؤته په جنګ کي یې ګډون کړی ؤ وایي: زه په مدینه منوره کي خپل کور ته ورغلم خو ښځي مي دروازه نه را خلاصول کور ته یې نه پرېښوولم، خپلي ښځي مي راته ویل: ته د الله جل جلاله په لار کي د جهاد څخه وتښتېدې؟ والله که زما کور ته را ننوزې.

دا هغه مسلماني ښځي وې چي خپل نارینه یې په دغه طریقه سره جهاد ته تشویقول، رسول اللهﷺ ته چي دغه خبر ورسېدی نو یې امر وکړی چي خلک دي را ټول سي، کله چي خلک را ټول سوه رسول اللهﷺ و فرمایل«لَیسُوا بالفُرار ولٰکنّهُم الکُرار إن شاء الله، أنا فِئَةُ کلِ مُؤمن» یعني: دوی تښتېدلي نه دي بلکه دوی بیا حمله کوونکي دي إن شاء الله او زه د هر مومن ډله یم، د رسول اللهﷺ په دغه قول کي چي زه د هر مومن ډله یم د سورةُ الأنفال و(۱۵، ۱٦) نمبر آیاتو ته اشاره ده چي الله جل جلاله فرمایي:

﴿یَـٰٓأَیُّهَا ٱلَّذِینَ ءَامَنُوٓا۟ إِذَا لَقِیتُمُ ٱلَّذِینَ كَفَرُوا۟ زَحْفًا فَلَا تُوَلُّوهُمُ ٱلْأَدْبَارَ ﴿١٥﴾﴾.

یعني: اې مومنانو! کله چي په جنګ کي د هغو کسانو سره ملاقي او مخامخ سی چي کافران سوي دي، په داسي حال کي چي دوی ډېر او زیات وي نو تاسي دوی ته خپلي شاوي مه ورګرځوی چي تښتی، یا د تېښتي په نیت شاوي مه ورو ګرځوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


تر دغه ځایه پوري د دغه آیات شریف په امر او حکم د کفارو څخه تېښتېدل نه دي روا، که څه هم کفار ډېر او زیات وي او په وروستني آیات شریف کي الله جل جلاله فرمايي: که چا په میدان جنګ کي کفارو ته شا ور وګرځول یعني وتښتېدی، هغه د الله عزوجل په قهر او غضب اخته او ګرفتاره سو او د هغه تښتېدلي ځای جهنم دی.

مګر هو، هغه کسان په دغه حکم کي نه دي شامل کوم چي د بلي حملې دپاره ځانونه آماده کوي، یا هلته د مسلمانانو ډلې ته ځان ور رسوي لکه څرنګه چي الله جل جلاله په وروستني آیات شریف کي فرمايي:

﴿ وَمَن يُوَلِّهِمۡ يَوۡمَئِذٍ دُبُرَهُۥٓ إِلَّا مُتَحَرِّفًا لِّقِتَالٍ أَوۡ مُتَحَيِّزًا إِلَىٰ فِئَةٍ فَقَدۡ بَآءَ بِغَضَبٍ مِّنَ ٱللَّهِ وَمَأۡوَىٰهُ جَهَنَّمُ وَبِئۡسَ ٱلۡمَصِيرُ ﴾.

ژباړه: هر هغه څوک چي کفارو ته د جنګ په ورځ شا ور وګرځوي، بېله هغو کسانو څخه چي بیرته را ګرځېدونکي وي (یعني: د بلي حملې دپاره ځان تیاروي یا دښمن ته چم کوي) یا دا چي د مجاهدینو بلي ډلې ته ځان رسوي، بیله دغو کسانو څخه کوم نور کسان چي تښتي هغه د الله جل جلاله په غضب اخته او مبتلا سوه او د هغو د اوسېدلو ځای دوږخ دی او دغه دوږخ د ورتلو بد ځای دی.

مقصد دا چي که په جنګ کي یو څوک د مسلمانانو د یوې ډلې و طرف ته ورسي، یا د خپلي قومندې مرکز ته ورسي دلته هم دښمن ته شا ګرځول کیږي مګر دغه شا ګرځول جائز او روا دي، نو رسول الله ﷺ و فرمايل: «أَنَا فِئَةُ كُلِّ مُؤْمِنٍ» زه د هر مسلمان ډله او مرسته کوونکی یم، هغه څوک چي ما ته رجوع وکړي هغه نه دی تښتېدلی بلکه زه د دوی ډله او کومک کوونکی یم، چي ما ته راسي لکه خپل د قومندې مرکز ته چي ورسي، رسول الله ﷺ دا ښکاره او معلومه کړه چي دغه د دوی انسحاب او پر شا تګ د دوی أجر او ثواب نه ورلړوي، د دغه جنګ قدر او عظمت نه په کمیږي.

دغه د مُؤته جنګ ته غزا نه ویل کیږي، ځکه رسول الله ﷺ اشتراک نه دی پکښي کړی نو ځکه د مؤته جنګ یا د مؤته سریه ور ته ویل کیږي او د دغه جنګ په نتیجه کي د کفارو وژل سوي کسان په سوو وه خو دقیق حساب یې نه دی معلوم او

(c) ketabton.com: The Digital Library


د مسلمانانو شهيدان هم ډېر دي چي صحيح عدد يې نه دی معلوم، مګر هغه کسان چي نومونه يې ياد سوي دي چي وايي دغه کسان د مؤته په جنګ کي شهيدان سوي دي هغه دوولس نفره دي، خو حقيقتًا د مسلمانانو شهيدان تر دغه ډېر وه.

## د مُؤته د جنګ اثر او نتيجه

د دغه جنګ په نتيجه کي که څه هم مسلمانانو د غسان د قبيلې څخه خپل هغه انتقام او بدله نه کړه حاصله کوم چي دوی د هغه دپاره دغه زحمتونه او تکاليف و زغمل مګر د دغه جنګ اثر د مسلمانانو د شهرت او عزت دپاره ډېر زيات ؤ، د مسلمانانو دغه جنګ عرب په حيرت او دهشت کي واچول، ځکه په هغه وخت کي روم د مځکي پر مخ هغه لوی دولت او عظيم قوت ؤ او عربو داسي خيال کاوه چي د روم سره جنګ کول د خپل ځان بربادي او تباهي ده او اوس د مسلمانانو دغه کوچنئ لښکر چي ټول شمير يې درې زره نفره ؤ د روميانو د هغه لوی لښکره سره جنګ کوي چي شمېر يې دوه لکه نفره ؤ او په ليدلو کي داسي معلومېدی لکه يو درياب! چي شروع يې معلومېږي خو د آخر او انتهاء يې هيڅ درک نه وي معلوم او بيا هم مسلمانان له دغه جنګه په داسي ډول سره بيرته راغله چي د يادولو وړ تاوان نه ؤ ورته پېښ سوی، دا جنګ د زمانې او تاريخ د عجائبو څخه ؤ او د دې تاکيد يې کاوه چي مسلمانان بل قسم انسانان دي، دا د هغې جملې خلکو څخه نه دي چي عربو عادت ورسره درلودی يا يې پېژندل، دغه د مسلمانانو د ډلي مرسته او تائيد د الله ﷻ له طرفه څخه کيږي او د دوی لار ښوونکی په حقه سره د الله ﷻ رسول دی.

نو ځکه موږ وينو چي د عربو هغه سر سخته او شريري قبيلې چي تر اوسه يې پر مسلمانانو حملې کولې پسله دغه جنګه يې اسلام ته مخ وروا ړاوه، د بنو سُليم، أشجع، غطفان، ذَبيان، فزاره او نوري عربي قبيلې په اسلام کي داخلي سوې.

دغه جنګ د روم سره د خونړيو جګړو شروع وه، دغه جنګ د روم د ښارو د فتحه کولو دپاره مقدمه او تمهيد ؤ، دغه جنګ ؤ چي په وروسته کي يې مسلمانان پر دې قادره کړه چي ډېري ليري مځکي تر خپل تسلط لاندي راولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


هغه وخت چې رسول الله ﷺ په مسجد نبوي کې مسلمانانو ته د جنګ حالات بیانول، پسله هغه چې له دغه مجلسه څخه ولاړ سو نو د جعفر رضي الله عنه کور ته ورغلی، تر دغه وخته د مسلمانانو لښکر په مؤته کې ؤ او مدینې منورې ته حال نه دی راغلی خو رسول الله ﷺ د جعفر رضي الله عنه کور ته و رغلی، د دغه حدیث شریف روایت په خپله عبدالله بن جعفر رضي الله عنه کوي چې دغه عبدالله په دغه وخت کې کوچنئ ؤ او بیا په وروسته کې د مسلمانانو د لويو علماوو څخه سو، نو دغه عبدالله بن جعفر رضي الله عنه روایت کوي چې د مؤته د جنګ په وخت کې رسول الله ﷺ زموږ کور ته راغلی او موږ د جعفر رضي الله عنه اولادونه پر راټول سوو، موږ یې په غېږ کې و نیولو او په خپله رسول الله ﷺ ډېر شدید ژړل، کله چې د جعفر رضي الله عنه ښځې ولیده چې رسول الله ﷺ د دې اولادونه په غېږ کې نیولي دي او ژاړي ویل: یا رسولَ الله! آیا د جعفر له طرفه کوم حال او خبر راغلی دی؟ رسول الله ﷺ و فرمایل: هو، جعفر د الله جل جلاله په لار کې شهید و وژل سو، دښځې څخه لویه چغه وسوه، رسول الله ﷺ و فرمایل: نه به کالي څیرې او نه به ځان او ځیګر په چپلاخو وهې فقط وژاړه.

دا د رسول الله ﷺ له طرفه موږ او تاسي ټولو ته لار ښوونه ده چې د غم او مصیبت په وخت کې په پټه خوله ژړا جائزه او روا ده، مګر د کالو څیرل، د ځان وهل، د وربښتانو شکول، چغې او بغاري، ښځایه خبري یا په لوړ آواز سره ژړا نه دي روا.

په دغه وخت کې چې رسول الله ﷺ په خپله هم ژړل وې فرمایل: هر هغه څوک چې غواړي چې و ژاړي پر مثل د جعفر دي و ژاړي، یعني جعفر غوندي خلک په ژړا ارزي، جعفر رضي الله عنه د ښو او بهترینو مسلمانانو څخه ؤ، جعفر رضي الله عنه د هغو اولو مهاجرینو څخه ؤ چې حبشې ته یې هجرت کړی ؤ جعفر رضي الله عنه د هغو مسلمانانو څخه ؤ چې د اسلام دپاره یې ډېره قرباني ورکړې ده، اسلام یې پر خپل ځان تطبیق کړی او عملي کړی ؤ.

وروسته رسول الله ﷺ انصارو ته و ویل: د جعفر د اهل او کورنۍ څخه مه بېخبره کېږی، یعني: حال یې نیسی او وې فرمایل: د جعفر کورنۍ ته خواړه ور جوړ کړی ځکه دوی په خپل غم مشغوله دي، یعني: د خوړو وجوړولو او خوړلو ته یې پام او فکر نسته نو تاسي خواړه ور ته راوړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروڼو او خوندو! دا د رسول اللهﷺ له طرفه و ټول امت مسلمه ته لارښوونه ده او دغه د اسلام امر دی، کوم کورته چې د یوه قریب په وفات سره غم او مصیبت پېښ سي خواړه او د ژوند ضروریات یې تاسي ور وړی، واقعي غم شریکي او همدردي ور سره وکړی، دغه اوسني رواجونه او عادات نه صحي دي او نه شرعي دي، د هغه وفات سوي شخص کورنۍ په خپل غم مشغوله وي، دوی ته د هغه دوست په وفات سره د ځومره مشکلاتو دروازې را خلاصي سوې او د بلي خوا نور نه را بلل سوي میلمانه هم ورسي او پر واړوي، بیا نو ښه عزت، ښه خواړه او مناسبات هم غواړي، د هغې کورنۍ پر غم یو بل تکلیف او زحمت هم ور زیات کړي چې د دغه نه بلل سوو میلمنو په خدمت او د خواهشاتو په پوره کولو مشغوله سي، خاصتاً چې بیا دغه درد رسېدلې کورنۍ غریبه او ناداره هم وي، نو د دغه اجباري مېلمنو د مصارفو د پوره کولو دپاره د پیسو و پورولو ته اړ او مجبوره سي، په زیاته بیا د ښځو فاتحه، چې دوه منه د چلم خوارې تنباکو پکښي کارېږي، کشکي مورِ او تاسي د دغسي غیر معقول او غیر شرعي رواجو او عادتو مخه ونیسو او د غمزده سره په واقعي او اسلامي ډول غمشریکه او همدرده سو، داسي نه چې د هغه پر غم نور تکالیف هم ور زیات کړو.

مورِ خو په ودو او ښادیو کي اسراف، فسادونه او نا روا کارونه رواج کړي دي، سیالۍ او رقابتونه سره کوو خو بد بختانه نن ورځ مو فاتحې او د غم ورځي هم د فساد او سیالیو څخه نه دي خالي، د فاتحو مصرفونه مو هم د سیالیو او حرامو رواجو په سبب په لکو کالداري او افغانۍ کیږي او هغه هم فقط د نامه او ریاء دپاره.

دغه بېځایه فخرونه او سیالۍ پرېږدی که سیالي کوی د دین او آخرت په کارو کي یې وکړی، په علم او تقوٰی کي یې وکړی، خپلو کړو وړو ته لږ متوجه سی! خپل خیر او شر و سنجوی، د ښه او بد کار فرق وکړی! په فاتحو او ودو کي سیالۍ مه سره کوی.

*دا د جعفرؓ د شهادت واقعه وه او هغه د سید البشر رحمةٌ للعالمین لارښووني وې.*

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ذات السلاسل سريه يا ټولۍ

(ذاتُ السَلاسل) د يوه ځای نوم دی چې د واديُ القُرٰی شا ته پروت دی خو ابن اسحاق وايي: د مسلمانانو دغه ټولۍ يا سريې د جُذام د قبيلې په مځکه کې پر يو اوبو واړول چې دغو اوبو ته سَلسَل ويل کېده، نو ځکه دغي سريې ته د (ذاتُ السلاسل سريه) وويل سوه، د ذاتُ السلاسل سريه د مُؤته د جنګ د نتائجو څخه ده، د مؤته جنګ د هجرت د اتم کال د جمادي الأول په مياشت کې ؤ خو د دغه کال د جمادي الاٰخري په مياشت کې يعني: د مؤته تر جنګ يوه مياشت وروسته دغه سريه و هغي منطقې ته ولېږل سوه چې و مؤته ته نژدې وه.

د دغي سريې د لېږلو دپاره علماء کرام دوه سببه بيانوي خوک وايي: کله چې رسول الله ﷺ ته د هغو عربي قبيلو کومي چې د شام پر حدودو اوسېدلې موقف او دريز د مؤته په جنګ کي ور معلوم سو چې دغه قبيلې د مسلمانانو پر ضد د روم سره يو ځای سوې، نو رسول الله ﷺ د دې دپاره يو اشد ضرورت حس کړی چې د يوه داسي حکمته څخه کار واخلي چې په هغه حکمت سره د دغو قبيلو او د روم په منځ کې تفرقه او جلا والی را ولي چې د بل وار دپاره د مسلمانانو پر ضد دومره لوی لښکر نه سي سره يو ځای او د دې پر ځای چې دغه قبيلې د روم سره اتحاد و لري بايد د مسلمانانو سره يې ولري، نو ځکه يې د دغي نقشې د عملي کولو دپاره عَمرو بن العاص رضي الله عنه اختيار کړی، ځکه د عَمرو بن العاص رضي الله عنه د پلار مور په دغو قبيلو کې د بلی د قبيلې څخه وه، نو يې عَمرو بن العاص رضي الله عنه د مؤته تر جنګ يوه مياشت وروسته د هجرت د اتم کال د جمادي الاٰخري په مياشت کې دغي منطقې ته ولېږی.

او ځيني علماء وايي: د مدينې منورې استخباراتو و رسول الله ﷺ ته خبر را وړی چې د قضاعه قبيلې خلک راټول کړي دي غواړي چې پر مدينه منوره حمله وکړي خو په حقيقت کې بنايي دغه دواړه سببه موجود وه، هغه اول سبب خو مو درته بيان کړی او اوس به دغه دوهم سبب په تفصيل سره درته بيان سي:

هلته يوه قبيله وه چې د قضاعه قبيله ورته ويل کېده، دغي قبيلې شام او د غسان

(c) ketabton.com: The Digital Library


وقبیلو ته نژدې ژوند کاوه، کله چې دغې قبیلې د مؤته په جنګ کې د مسلمانانو پر شا تلل ولیدل د دوی هم امید پیدا سو چې د مسلمانانو څخه غنیمتونه یوسي. نو یې د دې دپاره چې پر مدینه منوره حمله وکړي تیاري او آمادګي نیول او اوس په دغه کوښښ کې وه چې رومیان او غسان هم د دغې حملې دپاره د ځان ملګري کړي، و هغو ته یې و ویل: مسلمانانو په مؤته کې ستاسي څخه ماته وخوړل او ولاړل، راسی چې اوس موږ د دوی پر مرکز یعني مدینه منوره حمله وکړو.

او اول هغه څوک چې په دغه کار یې شروع وکړه هغه د قُضاعه قبیله وه.

ورونو! یوه فرق ته متوجه سی: د عربو یوه بله قبیله سته چې د خُزاعه په نامه سره یادیږي چې هغه اکثره مسلمانان او د رسول الله ﷺ متعاهدین دي او د مکې مکرمې پرشا وخوا اوسیږي، خو دغه بیا بله قبیله ده چې قضاعه ورته ویل کیږي چې ټوله قبیله کفار وه او د شام پر حدودو اوسېدل، نو دغه د قضاعه قبیلې د مدینې منورې د حملې دپاره ځانونه تیارول او په عین وخت کې یې دا کوښښ هم کاوه چې روم او غسان دواړه د مدینې منورې د حملې دپاره را وپاروي او د ځان ملګري یې کړي.

رسول الله ﷺ د کفارو له دغه حرکته په تشویش کې سو او ویل: که دغه موضوع دغسې پاته سي او کفار ځانونه آماده کړي نو به د مسلمانانو دپاره لوی خطر وي ځکه هغه دوه لکه نفریزه لښکر چې په مُؤته کې یې مسلمانانو ته شکست ور نه کړی ښايي اوس پر مدینه منوره راسي. نو رسول الله ﷺ غوښته چې د مخه تر دې چې دغه موضوع لویه سي باید هلته په خپله ځانګو کې مړه او فیصله سي او قضاعه په خپل مقصد کې کامیابه نه سي، د دغه مقصد دپاره رسول الله ﷺ یو لښکر جوړ کړی چې پر قُضاعه حمله وکړي، هغه قضاعه چې دغه اوس د دغې لویې حملې دپاره ترتیبات نیسي، رسول الله ﷺ د دغه لښکر مشر او قوماندان عَمرو بن العاص رضي الله عنه ټاکی.

خالد بن ولید رضي الله عنه د مؤته په جنګ کې د مسلمانانو د لښکر امیر او قوماندان سو حال دا چې د ده د اسلام فقط څلور میاشتې کېدې او اوس عَمرو بن العاص رضي الله عنه د مسلمانانو د لښکر امیر او قوماندان مقرره کیږي حال دا چې د ده د اسلام فقط پنځه میاشتې کیږي.

نو دا معلومه سوه چې د جنګ په آمریت کې دا خبره نه ده لازمه چې دغه نفر په

(c) Ketabton.com: The Digital Library


اسلام کي مقدم او د مخه دی یا یې په اسلام کي ډیر وخت تیر کړی دی بلکه خبره د لیاقت او استعداد ده خو دغه خبره یوازي په جنګ پوري هم تعلق نه لري بلکه هر څوک چي په هر کار کي پوهه او استعداد ولري هغه باید د هغه کار آمر وګرځول سي او إداره وده ته پرېښوول سي، یعني: کار و اهل کار ته باید وسپارل سي.

د دغي سریې د جوړولو په وخت کي رسول الله ﷺ عَمرو بن العاص رضي الله عنه ته و ویل: یا عَمرو! زه غواړم چي د یوې سریې یا ټولۍ قوماندان دي وټاکم چي هم به غنیمتونه واخلې او هم به د الله جل جلاله څخه أجر او ثواب واخلې، مګر عَمرو رضي الله عنه و ویل: یا رسولَ الله! قسم په الله ما د مال او غنیمتو دپاره ایمان نه دی راوړی، رسول الله ﷺ و فرمایل:

« نعمَ المَالُ الصّالح لِرُجلِ الصالح »

ژباړه: پاک او حلال مال د صالح سړي دپاره ښه دی.

هو، که مال د ښه او صالح سړي سره وي ضرر نه لري ځکه هغه به یې د الله جل جلاله په لار کي مصرف کړي، ښه او صالح انسان خپل مال د جهاد، مدرسو، کتابو، علماوو، مسجدو، څاهانو، پُلانو، شفاخانو، بلکه د عامو مسلمانانو د مصلحت دپاره مصرفوي، خو که د فاسد او فاجر انسان سره مال موجود وي یا خو به بخیل وي چي د ده له ماله به کومه فایده او مصلحت نه سي حاصلېدلای، یا به یې دغه مال مُضر او تاواني وي، ځکه د فاجر او فاسد سړي سره د مال د مصرفولو لاري معلومي دي، پر سینماوو، پر شراب خانو، زنا خانو، ظُلم او استبداد، تکبر او خود نمایي، فخر او سیالیو به مصرفیږي، یا به د حق د منعه کولو په لار کي استعمالیږي، نو ځکه رسول الله ﷺ فرمایي: پاک او حلال مال د صالح سړي دپاره ښه دی.

بیا نو رسول الله ﷺ یو کوچنئ لښکر جوړ کړی چي ټوله درې سوه نفره وه او د دغه لښکر قوماندان یې عَمرو بن العاص رضي الله عنه وټاکی، خو په دغه لښکر کي د صحابهٔ کرامو مشران هم موجود وه، که څه هم د عَمرو بن العاص رضي الله عنه د اسلام پنځه میاشتي کېدې خو په دغه لښکر کي د ده تر امر لاندي لوی او مشرفه اصحاب کرام موجود وه، چي د هغې جملې څخه ابوبکر الصدِّیق، سعد بن أبي وقاص، أسید بن حُضیر، سعد بن عُبادة رضي الله عنهم او داسي نور

(c) ketabton.com: The Digital Library


موجود وه، عَمرو بن العاصؓ د دغه لښکر سره د مقصد پر طرف حرکت وکړی د شپې تګ کوي او د ورځي پټېږي، ترڅو د قضاعه قبیلې ته ور نژدې سوه، خو دلته عَمروؓ ته خبر راغلی چي قضاعه ډېر لوی او مجهز لښکر جوړ کړی دی.

عَمرو بن العاصؓ د قضاعه پر قبیله حمله و نه کړه بلکه رسول اللهﷺ ته یې نفر ولیږل چي په حال یې خبر کړي او مرسته ځني وغواړي، رسول اللهﷺ هم نور نفر د مرستي او کومک په شکل ورته را ولېږل چي د دغه کومکي لښکر مشر او آمر ابو عبیده عامر بن جراحؓ وُ او په دغه کومکي لښکر کي عمر بن الخطابؓ هم موجود وُ، اوس نود اصحاب کرامو ټول مشران په دغه لښکر کي موجود دي، کله چي دغه کومکي لښکر رهي کېدی رسول اللهﷺ ابو عبیدهؓ ته و ویل: د عَمرو سره اختلاف مه کوه.

دغه د مرستي ډله و عَمرو بن العاصؓ ته ور ورسېدل، کله چي د لمانځه وخت سو ابو عبیدهؓ غوښته چي د مخه سي یعني: د لمانځه امام سي ځکه دئ امیر دی او دا هم معلومه خبره وه چي د خلکو امامت به د هغو امیر کاوه، دې ته نه کتل کېده چي هغه حافظ دی که نه دی دا بیا بله خبره ده خو اصلاً امامت د امیر حق وُ، خرنګه چي ابو عبیدهؓ د دغي کومکي ډلي امیر وُ غوښتل یې چي د مخه سي مګر عَمرو بن العاصؓ ورته و ویل: یا ابا عبیده! ته زما کومک یې امیر نه یې، امیر زه یم او خلکو ته زه لمونځ ورکوم، ابو عبیدهؓ و ویل: رسول اللهﷺ امر کړی یم چي ستا سره باید اختلاف و نه کړم. (د مخه سه)

نو د لښکر عمومي قوماندان عَمرو بن العاصؓ وُ او د اصحاب کرامو لوی لوی مشران د ده تر امر لاندي وه حال دا چي دئ نَوَی مسلمان دی او د اول وار دپاره د لښکر امیر مقررېږي، فقط پنځه میاشتي کي د مخه د کفارو د رئیسانو څخه وُ او اوس د مسلمانانو آمر دی، خیر لښکر د قضاعه پر طرف ور رهي دی د شپې تګ ، کوي او د ورځي پټېږي خو بالکل د قضاعه و قبیلې ته ور نژدې سوه.

اوس چي د دوی او قضاعه په منځ کي ډېره لږ فاصله پاته ده شپه ده او ډېر شدید یخ دی، دا هغه شپه ده چي سبا حمله ´کېږي خو په دغه شپه عَمروؓ ټول لښکر د اور بلولو څخه منعه کړی، خلک د یخه څخه ډېر په عذاب سوه، تاسي پوهېږی چي په

(c) ketabton.com: The Digital Library


دښت کي يخ ډېر شديد وي خاصتاً دغه سلقه چي د شام حدود دي ډېره يخه ده او بيا اور هم نه وي، نو خود ټول لښکر د يخه څخه په عذاب او تکليف ؤ، د حضرت عمر فاروق رضي الله عنه له طاقته و وتل او عَمرو رضي الله عنه ته ورغلی ويل: يا عَمرو! خلک دي په تکليف کړه پرېږده چي اور بل کړی، عَمرو رضي الله عنه ويل: يا، قسم په الله يو نفر به هم اور نه کړي بل، عُمر فاروق رضي الله عنه په قهر او غُصه بيرته ځني راغلی، خير شپه تېره سوه سهار سو، په شپه کي پر عَمرو بن العاص رضي الله عنه د جنابت غسل لازم سوی ؤ پسله استنجاء څخه يې تيمم و واهه، حضرت عمر فاروق رضي الله عنه وليدی چي عَمرو تيمم وهي، ويل ولي تيمم وهې؟ عَمرو رضي الله عنه ويل: پر ما د جنابت غسل لازم سوی دی، عُمر رضي الله عنه ويل: اوبه موجودي دي، عَمرو ويل: يا په اوبو غسل نه کوم، ويل: څنګه غسل نه کوې؟ اوبه چي موجودي وي تيمم نه دی روا، عَمرو رضي الله عنه ويل: ډېر زورور يخ دی غسل نه سم کولای، خير تيمم يې و واهه او خلکو ته يې هم په دغه تيمامه لمونځ ورکړی، اوس نو پر مسلمانانو دغه د ده کارونه نور هم درانه سوه، عُمر بن الخطاب رضي الله عنه ته قهر ورغلی مګر بيا هم غواړي چي د ابو بکر الصدّيق رضي الله عنه سره مشوره وکړي، ويل: يا ابا بکر! ته نه وينې چي عَمرو څه کارونه کوي؟ څکه عَمرو رضي الله عنه نسبت و دوی ته نوی مسلمان ؤ د دين په کارو او مسئلو دومره نه ؤ خبر لکه دوی او پر هغه سربېره په دين کي او د دين په کارو کي پر دوی آمريت کوي او داسي مخالف کارونه کوي، نو څکه مسلمانان دغه د ده په تصرفاتو نه وه راضي، مګر ابوبکر الصدّيق رضي الله عنه چي په ټول عمر کي صديق ؤ و ويل: يا عُمر! په والله که عَمرو د دغه کار دپاره تر تا بهتر نه وای رسول الله ﷺ به پر تا نه وای آمر کړی.

دغه د صديق اکبر ژوند، عقيده او حالت ؤ، د رسول الله ﷺ پر دغه اختيار بلکه د هغه ﷺ پر هر تصرف يې پوره اطمينان درلودی، نو عمر رضي الله عنه د ابوبکر الصدّيق رضي الله عنه په دغه جواب چپ او ساکت سو څه يې و نه ويل.

کله چي مسلمانان د سهار د لمانځه څخه فارغه سوه، مسلمانانو د عَمرو بن العاص رضي الله عنه په امر د قُضاعه پر قبيله په يوه وار حمله وکړه، حمله ډېره شديده او يو ځايي وه د قضاعه د قبيلې هيڅ دا خيال او ګمان نه ؤ چي مسلمانان دي پر دوی حمله وکړي، جاسوسانو يې هم خبر نه ؤ ورته را وړی دا حمله ناځاپه وه، د قضاعه

(c) ketabton.com: The Digital Library


د قبیلې خلکو په تېښته شروع وکړه بالکل د خپلې منطقې څخه و وتل، خپله ځمکه او قبیله یې پرېښوول، مسلمانان په پسې دي وژني یې بندیان ځني نیسي، په دغه وخت کې عَمرو بن العاصرضي الله عنه امر وکړی چې پرې یې بږدی او ځني را وګرځی.

دلته بیا مسلمانان ناراضه سوه وایې موږ اوس پر کامیابه سوو پرېږده چې بندیان ځني ونیسو، وې وژنو، هغه دي دوی تښتي، عَمرورضي الله عنه ویل: یا، پرې یې بږدی او ځني را وګرځی، مسلمانان نور هم د ده په دغه امر سره ناراضه سوه، ویل: ممکن ټوله قبیله بندیان ونیسو، خو دهرضي الله عنه امر وکړی چې ځني را وګرځی، مسلمانان که څه هم ناراضه وه خو د خپل امیر اطاعت یې وکړی او را وګرځېدل، هغه شیان چې د قضاعه په قبیله کې موجود وه لکه پسونه، اوښان او نور سامانونه چې دوی را وړلای سوای هغه یې په غنیمت واخیستل او د غنیمتو سره بیرته مدینې منورې ته راغله.

کله چې لښکر مدینې منورې ته ورسېدی مسلمانانو و رسول اللهﷺ ته د عَمرو بن العاصرضي الله عنه د اعمالو او تصرفاتو څخه شکایت وکړی چې د دوی سره یې داسي او داسي کول، رسول اللهﷺ عَمرورضي الله عنه راوغوښتی او ویل: یا عَمرو! ولې دي خلک په تکلیف کړه چې د اور بلولو ته دي نه پرېښوول؟ عَمرورضي الله عنه و ویل: یارسولَ الله! زموږ شمېر او عدد لږ ؤ، قُضاعه او هغه کسان چې د دوی ترشا ولاړ وه که په موږ خبر سوي وای والله موږ ټول به یې وژلي وای، نو که موږ اور بل کړی وای یقینًا او ښه شکه هغه په موږ خبرېدل او قسم په الله چې بیا به مو نجات نه وای پیدا کړی، رسول اللهﷺ و فرمایل: صَدَقتَ، رشتیا او صحي دي و ویل.

رسول اللهﷺ بیا ورته و ویل: ولې دي د خلکو امامت وکړی او تا تیمم وهلی ؤ؟ حال دا چې اوبه هم درسره وې، عَمرورضي الله عنه و ویل: یا رسولَ الله! دومره زورور او شدید یخ ؤ که مې غسل کړی وای هلاکېدم، مړ کېدم او اللهجل جلاله فرمایي:

﴿وَلَا تُلْقُوا۟ بِأَيْدِيكُمْ إِلَى ٱلتَّهْلُكَةِ﴾. [البقره:۱۹۵]

یعني: خپل ځانونه په خپل لاس په هلاک کې مه اچوی، رسول اللهﷺ و فرمایل: صَدَقتَ. رشتیا او صحي دي و ویل.

رسول اللهﷺ بیا و فرمایل: ولې دي خلک د بندیانو د نیولو څخه منعه کړه؟

(c) Kotabton.com: The Digital Library


عَمروﷺ ووبل: یا رسولَ الله! که دوی په هغو پسې تللي وای سره پاشل کېدل او که پاشل سوي وای بیا دښمن را باندې غالبه کېدی، دا نه ده صحې چې موږ په داسې ځکه کې چې هلته زموږ دښمنان ډېر وې یو یو او سره وپاشل سو، په داسې ځای کې چې د دښمن شمېر زیات وي لښکر باید سره یو ځای وي او ما هم دغه امر ورته کړی دی چې را ټول سی مه سره پاشل کېږی، بیا هم رسول الله ﷺ ورته و فرمایل: صدقتَ، رسول الله ﷺ د عَمرو بن العاص ﷺ ټول تصرفات او اوامر صحې او پرځای وبلل او هغه یې ور تائید کړه.

دغه لښکر د قضاعه د قبیلې ښځه په لسهاوو نفر و وژل او ډېر غنیمتونه یې ځني راوړل، دغه جنګ د خپل لوی والي سره سره او هغه ډېره وژنه چې یې په قضاعه کې وکړه بیا هم د مسلمانانو ښځه یو نفر نه شهید سوی ؤ او نه زخمي سوی ؤ، ببله یوه نفره چې زخمي ؤ او د هغه زخم هم ډېر سپک او عادي ؤ.

هغه چې وایي: (زموږ قواوي خپل مرکز ته سالمې را وګرځېدې) دلته په دغه جنګ کې دغه خبره حقیقت او پر ځای وه، هیڅ خلاف او درواغ پکښې نه وه.

دا د عَمرو بن العاص ﷺ عسکري پوهه او قدرت ؤ چې د اول وار دپاره په سریهٔ ذاتُ السلاسل کې ښکاره سو او په وروسته کې بیا د ده عسکري عظمت د مصر په فتحه کولو کې ښکاره او روښانه سو چې د مصر هغه لویه او کامیابه فتحه هم د عَمرو بن العاص ﷺ پر لاس وسود.

دغه د مصر د فتحه کېدلو واقعات به په هغه سلسله کې واوری کومه چې زما له طرفه د (خلفاء الراشدین) په نامه سره نشر سوې ده.

دا ټوله ،هغه مهم واقعات وه کوم چې د حدیبیې د صلحې او د مکې مکرمې د فتحې په منځ کې پېښ سوي دي، خیبر فتحه سو، شا وخوا ټولیاني ولېږل سوې، پاچهانو ته لیکونه او رسالې ولېږل سوې او بیا د مکې مکرمې تر فتحې د مخه یوه کوچنۍ واقعه پېښه سوه چې هغه د خَبَط سریه ده او دغه د خبط سریه به موږ ته هغه فرق را وښوي کوم چې د مسلمانانو په ژوندکې د مکې مکرمې په فتحه سره راغلی چې د مکې مکرمې تر فتحې د مخه او بیا تر فتحې وروسته د مسلمانانو ژوند څومره

(c) ketabton.com: The Digital Library


فرق وکړی، که څه هم د مکې مکرمې تر فتحې د مخه ډیرې قبیلې اسلام ته داخلې سوې وې او ډیر خلک د اسلام تابع سوي وه، مسلمانانو ډیرې فتحې کړې وې، خو بیا هم په مسلمانانو کې اقتصادي ضعف موجود ؤ، غریبي او مسکنت پکښې زیات وه او رسول الله ﷺ تر اوسه د هغو قبیلو په مقابل کې مقاومت کاوه چې تر اوسه اسلام او مسلمانانو ته په کمین کې ناستې وې او په موقع پسې ګرځېدې، مثلاً ټولې هغه قبیلې چې د خندق په غزاء کې د مسلمانانو پر ضد سره یو ځای سوې وې، هغه ټولې د اسلام دښمنې وې او همېشه به یې په موقع پسې کتل چې کله به پر مدینه منوره حمله وکړو، اسلام او مسلمانان له منځه یوسو، یا لږ تر لږه یو ضرر او تاوان ور ورسوو.

## د خَبَط سریه

د سیرت په عامو کتابو کې ویل کیږي چې دغه سریه د هجرت په اتم کال د رجب په میاشت کې لېږل سوې ده، خو هلته داسې یو قول هم سته چې وایي: دغه د خبط سریه د حدیبیې تر صلحې د مخه وه او د هغه قول ویونکي خپل ځان ته دلائل لري، خو ما د عامو کتابو په متابعت دغه سریه د هجرت په اتم کال کې ذکر او بیان کړه.

د هجرت د اتم کال د رجب په میاشت کې رسول الله ﷺ یوه سریه د ابو عبیده عامر بن الجراح رضی الله عنه په مشری د جُهَینه قبیلې ته د جزاء ورکولو دپاره ولېږل چې په دغه سریه کې درې سوه نفره وه او په دغو نفرو کې یو هم حضرت عمر فاروق رضی الله عنه ؤ، دغه د جُهَینه قبیله د بحر احمر ساحل ته نژدې پرته وه، د دغې سریې حرکت د رجب په میاشت کې ؤ او د رجب میاشت د هغو میاشتو څخه ده چې جنګ پکښې حرام ؤ نو نقشه داسې وه چې جنګ به په شَعبان کې کیږي ځکه شعبان بیا د هغو میاشتو څخه دی چې جنګ پکښې جائز او روا دی.

مسلمانانو د خپل مقصد پر طرف حرکت وکړی خو د دوی د خوړلو دپاره فقط یوه کڅوړه یا یوه ګونۍ خرما ورسره وه چې د دوی آمر به د خوړلو پر وخت پر نفر یوه یوه خرما ورکول، د دغه سریې د افرادو څخه یو نفر وایي: ما د ځان سره و ویل: په دغه یوه دانه خرما به زموږ څه ښه وسي؟ خو د دغې یوې دانې خرما په قدر هغه وخت

(c) ketabton.com: The Digital Library


یوه سوم چي هغه زموږ خرما خلاصه سوه، اوس مسلمانان پر لار دي تر مقصده لا نه دي رسېدلي چي هغه د دوی خوراکه خلاصه سوه، دا د مسلمانانو هغه د مسکنت او غریبۍ حال را ښکاره کوي چي خوراکه یې که څه هم یوه دانه خرما وه پرلاري خلاصه سوه، په هغه وخت کي ټوله جزیرةُ العرب په صورت عموم سره غریبان او مسکینان وه، کله چي د مسلمانانو خواړه بالکل ختم سوه او د خوړلو دپاره هیڅ شئ نه لري نو د لوږي او مجبورۍ څخه یې د درختو بلګونه یا د وُنو پاڼي خوړلې.

او د وُني و هغو پاڼو ته چي ښاخ راکش کړې او پاڼي یې پرې کړې په عربي کي خَبط ویل کیږي، نو دغه سریه چي په دغه طریقه سره یې د وُنو پاڼي یا د درختو بلګونه خوړل په دغه نامه سره وبلل سوه او سریةُ الخَبَط ورته ویل سوه، چي مسلمانانو د لوږي په سبب د وُنو پاڼي خوړلې.

په دغه سریه کي د مسلمانانو سره د سپرلۍ دپاره اوښ یا بل حیوان هم نه وُ ور سره، پیاده او پر پښو تله، د دغو درو سوو نفرو سره فقط دوه اوښه ور سره وه چي پر هغو یې خواړه او اوبه بارولې، خواړه خویې پر لاري خلاص سوه.

د دغې سریې سره قیس بن سعد بن عُباده رضي الله عنه هم ملګری وُ چي د عربو د اشرافو څخه وُ او سخي سړئ وُ، ده چي د مسلمانانو دغه بد حال ولیدی چي له لوږي پاڼي خوري نو یې داسي نیت وکړی چي د مسلمانانو د لوږي د لیري کولو دپاره باید یو څه وکړي، بیا یې ډېر لیري صحرایي عرب ولیدل چي د هغو سره اوښان ور سره وه، قیس رضي الله عنه هلته و عربو ته ورغلی او ورته وې ویل: د دغو اوښانو څخه یو څه پر ما نه خرڅوی؟ هغو ویل: خرڅوو یې، قیس رضي الله عنه ویل: مګر اوس زما سره مال او پیسې نسته خو کله چي موږ بیرته مدینې منورې ته ولاړ سو بیا به تاسي یې ته د دغو اوښانو په قیمت کي د مدینې منورې خرما درکړم، عربو ویل: د دې سودا ضامن به څوک وي؟ زموږ اوښان اوس را څخه اخلې او خرما بیا په مدینه منوره کي را کوې، قیس ویل: زه قیس بن سعد بن عُباده یم، عرب ویل: هو والله، نسب دي اصل دی پر تا یې په پور هم خرڅوم، نو قیس له دغه صحرایي عربه څخه پنځه اوښه رانیول، اوس نو دئ او هغه عرب د مسلمانانو لښکر ته راغله غواړي چي د دغې معاملې دپاره شاهدان و دروي

(c) ketabton.com: The Digital Library


چي دغه بيعه په پور ده، اوښان اوس تسليموي او قيمت يې بيا وروسته په مدينه منوره کي راکوي، د شاهدانو په جمله کي يې د عمر بن الخطاب رضی الله عنه څخه هم شاهدي وغوښتل، مګر عمر رضی الله عنه و صحرايي عرب ته و ويل: پر ده يې مه خرڅوه دئ غريب سړئ دی، دئ مال نه لري مال يې ټول د پلار دی او دئ اوس د پلار په مال سودا کوي دا نه صحي کيږي، خو صحرايي و ويل: ګمان نه کوم چي پلار دي خپل زوی وشرموي، سعد بن عُباده داسي سړئ نه دی چي زوی دي يې يو شئ را نيسي او پلار دي يې د هغه قيمت ور نه کړي، نو يې قيس رضی الله عنه ته و ويل: راځه اوښان دي راوله، قيس رضی الله عنه هم اوښان لښکر ته را وستل، کله چي مسلمانانو ته راغلی د هغو اوښانو څخه يې يو ور حلال کړی او په وې خوړی، سبا يې بل اوښ حلال کړی دا بله ورځ يې بل حلال کړی، خو عمر رضی الله عنه په دغه کار نهٔ راضي چي قيس د پلار بې اجازې د هغه مال مصرفوي، نو عمر رضی الله عنه و ابو عبيده رضی الله عنه ته ورغلی او ويل: يا ابا عبيده! قيس د پلار په بېخبري او د هغه بې اجازې د هغه مال په نورو خوري، ابو عبيده رضی الله عنه قيس له دغه کاره څخه منعه کړی او مسلمانان بيا وږي پاته سوه.

خير د جُهَينه د قبيلې سره هم جنګ و نه سو او مسلمانان پر دغه ساحلي منطقو ګرځي غواړي چي د درياب د غاړي منطقې تسخير کړي، خو وږي دي او د خوړلو دپاره شئ نه لري چي يوه عجبه پېښه وسوه، هغه دا چي الله جل جلاله دوی ته درياب مسخره کړی، کله چي دوی بحر احمر ته نژدې رهي وه (بحر احمر د جدې سمندر يا درياب دی) پر بحر احمر يې لکه يوه توره غونډۍ داسي شئ وليدی، مسلمانان په تعجب کي سوه پر درياب غونډۍ؟ عجبه ده! نو ور نژدې سوه که ګوري يو تور ماهئ دی چي الله جل جلاله له دريابه د درياب غاړي ته را غورځولی دی، څرنګه چي مسلمانان وږي وه نو يې د دغه ماهي په خوړلو شروع وکړه، دغه ماهئ د دوی د خوړلو ذخيره سوه، دالته يې خوري او په دغه منطقه کي چي د جهادي ګزمو دپاره يوې او بلي خواته ځي خواړه د دغه ماهي د غوښو څخه ور سره اخلي، مسلمانان تقريباً يوه مياشت په دغه منطقه کي پاته سوه، په دغه منطقه کي پر هغه شا وخوا قبيلو ګرځي منطقه تر خپل تسلط لاندي کوي خو غذاء او خواړه يې له دغه ماهي څخه دي،

(c) ketabton.com: The Digital Library


د دغه ماهي لوی والی په حديث شريف کې بيانيږي او وايي:

ابو عبيده رضي الله عنه غوښتل چې د دغه ماهي لوی والی معلوم کړي نو يې نفر امر کړه چې د دغه ماهي د سترګي په کاسه کي کښيني، پنځه نفره د ماهي د سترګي په کاسه کي کښېنستل، دا د دغه ماهي يوه سترګه وه، بيا يې د دغه ماهي د پوښتۍ دوه هډوکي دکمان يا شڼک پر ډول ودرول، نو يې په دغه درو سوو نفرو کي وکتل چې کوم يو ډير جګ دی خو په ټولو کي قيس بن سعد بن عباده رضي الله عنه جګ ؤ، قيس ته يې وويل: پر اوښ په ولاړي ودرېږه او اوښ رهي کړه تر دغه کمان لاندي تېر سه، قيس رضي الله عنه هم په ولاړي پر اوښ ودرېدی او تر دغه کمان يا شڼک لاندي تېر سو او سر يې هم نه کړي کښته ځکه هغه کمان يا د ماهي د پښتيو ځخه جوړ سوی قوس د ده تر سر لوړ ؤ، دا د دغه ماهي لوی والی ؤ.

کله چې دغه سريه بيرته مديني منورې ته تله د دغه ماهي غوښي او غوړي يې ور سره واخيستل پر لاري يې د هغه ځخه خورک کاوه تر څو مديني منورې ته ورسېدل، په مدينه منوره کي يې د سريې ټول واقعات و رسول الله ﷺ ته بيان کړه چې د واقعاتو په جمله کي دغه د ماهي قصه هم وه.

بيا نو رسول الله ﷺ و فرمايل: د هغه ماهي ځخه يو شئ اوس هم درسره سته؟ اصحاب کرامو ويل: هو، نو يې و رسول الله ﷺ ته هغه پاته ماهئ را وړی او رسول الله ﷺ هم د هغه ماهي له غوښو ځخه څه وخوړي، چې دا هم د صحابۀ کرامو د زړه د ښه کولو دپاره ؤ، د دغي سريې لېږل هم د هغو واقعاتو ځخه دي چې د مکې مکرمې تر فتحي د مخه پيښي سوي دي.

## د مکې مکرمې د فتحي غزاء

اوس به د مکې مکرمې د فتحي واقعات درته بيان سي، هغه فتحه: کوم چې الله جل جلاله په دغه فتحه سره اسلام معززه کړی، په دغه فتحه سره قريش د اسلامي حکومت تابع سوه، په دغه فتحه سره ټوله جزيرةُ العرب فتحه سوه، دا هغه لويه فتحه ده چې الله جل جلاله په هغه سره خپل دين، خپل رسول، خپل لښکر او خپله ډله معزز کړه،

(c) ketabton.com: The Digital Library


په دغه فتحه سره الله جل جلاله خپل ښار او خپل کور هغه چې د عالم دپاره یې هدایت او قبله ګرځولې ؤ د کفارو او مشرکانو د لاسه وایستی، دا هغه فتحه ده چې په هغه سره به اهلُ السّماء یا ملائکو یو و بل ته زیري ورکول، د دغې فتحې په واسطه خلک د الله جل جلاله دین ته په ډلو ډلو داخلېدل، د دغې فتحې په واسطه د مځکې مخ په الٰهي نور سره روښانه سو، په دغه فتحه سره د اسلام شان او شوکت پر نورو ټولو ادیانو لوړ او قوي سو، اسلام معزز او منل سوی دین وګرځېدی، مکه مکرمه چې د عربو د مجد او عزت مرکز ؤ د اسلام د امر تابع سوه.

لکه څرنګه چې د حدیبیې د صلحې په وخت کې مو درته و ویل: چې د دغې صلحې د مادو څخه د یوې مادې مضمون او مفهوم داسې ؤ: هره قبیله چې و غواړي چې په دغه صلحه کې د محمّد ﷺ په طرف او عهد کې شامله سي کولای سي او هره قبیله چې و غواړي چې په دغه صلحه کې د قریشو په عهد او طرف کې شامله سي کولای سي او هره قبیله چې په هر طرف کې داخله او شامله سوه هغه قبیله د هغه طرف جزء بلل کیږي او پر دغه قبیله هر تجاوز یا تعارض پر هغه اصلي طرف تجاوز او تعارض بلل کیږي.

نو د دغې مادې په اساس د خزاعه قبیله د رسول الله ﷺ او مسلمانانو په طرف کې شامله سوه او د بنو بکر قبیله د قریشو په طرف کې داخله سوه، که څه هم دغو دوو قبیلو په خپل منځ کې د جاهلیت د وختو راهیسې پخوانې عداوتونه درلودل، خو اوس د دغې صلحې په سبب یو د بل څخه په أمن او امان کې سوې.

*(دا خو د حدیبیې د صلحې ماده او نتیجه وه)*

مګر د مکې مکرمې د فتحه کولو سبب هم هغه پخوانۍ دښمني سوه چې د بنو بکر او خزاعه د قبیلو په منځ کې موجوده او پرته وه چې دغه د دوی دښمني د جاهلیت د وختو څخه پیدا او موجوده وه او د هجرت تر وروسته پورې یې دوام درلودی او دغه دواړي قبیلې کافرې وې، مګر د خزاعه قبیله لکه د مخه چې مو درته و ویل: د حدیبیې تر صلحې وروسته د دوی ډېر نفر اسلام ته داخل سوه خو په عمومي ډول د حدیبیې د صلحې په واسطه د خزاعه ټوله قبیله که مسلمانان وه که کفار د مسلمانانو متعاهدین او متحالفین وه او د بنو بکر قبیله چې د خزاعه د قبیلې دښمنان

(c) ketabton.com: The Digital Library


وه د قریشو په طرف کي شامل سوه چي د هغو حلفاء او متعاهدین بلل کېدل.

څرنګه چي د بنو بکر او خزاعه د قبیلو په منځ کي د پخوا څخه جنګونه او دښمني موجود وه خو هر وخت چي به د دوی په منځ کي جنګ پېښ سو بنو بکر به ماته وخوړل، هم به یې نفر و وژل سوه هم به یې جنګ بایلاوه، څو واره بنو بکر پر خزاعه حمله کړې وه چي خپله بدله او انتقام واخلي خو بیا به هم ماته او شکست د دوی په نصیب سوه هم به یې نفر و وژل سوه هم به پرشا ولاړل، چي دغه شکست او وژني به نور هم د دوی زړونه د حسد او عناده ورډک کړه او همېشه په دې انتظار کي وه چي کله به پر خزاعه د هغو په بېخبري کي حمله وکړي چي خپله بدله او انتقام واخلي، مګر خزاعه بیا همېشه په احتیاط او مسلح ګرځېدل، بنو بکر ته یې هیڅ داسي موقع نه ورکول چي هغه دي په خپل مقصد کي کامیابه سي، خپل پوره احتیاط یې کاوه.

*(دا د بنو بکر او خزاعهد قبیلو زوړ تاریخ ؤ)*

کله چي د حدیبیې صلحه وسوه او بنو بکر ځان په قریشو کي داخل کړی او خزاعه بیا د مسلمانانو په طرف کي داخل سوه، اوس چي صلحه جاري او روانه ده نو زړې دښمنۍ هم آرامي سوې، هغه خزاعه چي پخوا به یې احتیاط کاوه اوس مطمئن او بېغمه سوه چي صلحه وسوه او جنګونه آرام سوه، پردې سربېره دوی د رسول الله ﷺ متعاهدین او حلفاء هم دي، د حدیبیې د صلحي د شرطو یا مادو څخه د یوې مادې مضمون داسي ؤ: هر تجاوز او تېرئ چي پر خزاعه وسي هغه پر مسلمانانو تېرئ او تجاوز بلل کیږي نو د خزاعه قبیلې ته پوره اطمینان حاصل ؤ چي بنو بکر اوس پر دوی حمله نه کوي ځکه چي دوی اوس په اور بند کي دي او د دغه اوربند موده هم لس کاله ده نو ځکه دوی په فارغه زړه ګرځېدل، بېله بیرې او تشویشه به مکې مکرمې ته تله طوافونه او عبادتونه به یې کول، پخوا خو همېشه په بېره کي وه مسلح او په احتیاط به ګرځېدل، خو اوس یې د دغې صلحې او اتفاق په سبب هغه پخوانۍ احتیاط پرېښاوه.

دلته بیا د بنو بکر قبیلې ولیدل چي د خزاعه د قبیلې خلک مطمئن او بېغمه دي د پخوا په شان نه احتیاط کوي او نه اسلحه ور سره ګرځوي نو د بنو بکر قبیلې د غدر

(c) ketabton.com: The Digital Library


او خيانت کولو دپاره وخت او موقع مناسب وليدل.

د دغه غدر د عملي کولو دپاره د بنو بکر د قبيلې رئيس نوفل بن معاويه الدَيلي و قريشو ته ورغلی او ويل: تاسي خو وينی چي خزاعه اوس مطمئن او بې غمه دي نو زما نيت دی چي غدر ور سره وکړم او غواړم چي تاسي مي مرسته وکړی، د مکې مکرمې او قريشو د ډيرو مشرانو سره يې په دې باره کي مشورې وکړې خو د قريشو ډيرو مشرانو له دې کاره څخه منعه کړی، مګر د قريشو ځيني مشران لکه صفوان بن أُميه، عِکرمه بن أبي جهل، سهيل بن عَمرو او ځينو نورو موافقه ور سره وکړه.

دلته بنو بکر او قريشو پر غدر او خيانت اتفاق سره وکړی، هلته بيا د خزاعه د قبيلې نفر د عمرې دپاره مکې مکرمې ته را رهي سوي دي او هلته دباندي تر حرم يې په يوه منطقه کي د يو اوبو سره واړول چي دغه اوبو ته (الوَتير) ويل کېده، دغه منطقه تر هغه لوی حرم چي مخ کي مو در ښوولی دی دباندي وه، دوی ويل: نن شپه به دلته راحت وکړو سبا به حرم ته داخل سو او بيا به د کعبې شريفي سره خپل عبادتونه کوو.

دغه د خزاعه په خلکو کي مسلمانان هم سته او کفار هم سته، مسلمانانو يې د شپې لمونځ او عبادت کاوه او مشرکان يې بيده وه، د بنو بکر قبيله چي د خزاعه په دغه ډله خبر سوه چي دلته شپه تېروي او د هرڅه څخه بې خبره دي نو يې د حملې دپاره خپل ځانونه آماده کړه او په نيمه شپه کي يې د خزاعه پر دغه ډله حمله وکړه، هغه خلک چي د خوبه سره را پورته کېدل بنو بکر بيا په دغه اوله حمله کي د خزاعه درې نفره وژلي وه، خزاعه چي دغه حال وليدی ټول د حرم شريف و طرف ته ځغلي، تښتي او د حرم شريف منطقې ته داخل سوه، په حرم شريف کي خو جنګ او وژل نه دي روا، دلته نو د بنو بکر څو نفرو هغه خپل رئيس ته ورناري کړه ويل:

يا نوفل! الحرم الحرم، إلٰهک إلٰهک.

يعني: مورِ او خلک حرم ته داخل سوو د الله څخه دي وبېرېږه.

د دوی مشر نوفل د ډير لوی فسق او فساد خبره وکړه ويل:

(لاَ إله لکُمُ اليوم، اُصِيبُوا ثَأرَکُم، فَلَعَمري إنَّکُم لَتسرُقُونَ فِي الحرم اَفَلا تَأخُذُونَ ثَأرَکُم فِيه؟)

ژباړه: نن تاسي لره رب او إله نسته خپله بدله مو اخلی، تاسي په حرم کي

(c) ketabton.com: The Digital Library


غلاوي كوى او اوس په حرم کي خپله بدله او انتقام نه اخلی؟
اوس نو بنو بکر د حرم شریف په داخل کي جنګ کوي او په حرم کي د خزاعه د قبیلې په خلکو پسي ګرځي، د مخه خو هغو کوښښ کاوه چي حرم ته ننوزي او ځان خلاص کړي، مګر اوس دغه فاجران توري په لاس په حرم کي هم په پسې دي اوس چیري ولاړ سي؟ نو د بُدیل بن ورقاء کور ته ورغله.
بُدیل د خزاعه د قبیلې د مشرانو څخه ؤ او په مکه مکرمه کي یې هم کور درلودی، کله چي به مکې مکرمې ته راغلی په دغه خپل کورکي به اوسېدی، بیا چي به یې عمره، زیارت او کارونه خلاص سوه بیرته به خپلي قبیلې ته ولاړی.
دغه د خزاعه د قبیلې خلک د بُدیل کورته ورغله چي هلته به خلاص سي خو نیمه شپه ده د بدیل د کور دروازه هم تړلې وه، دلته بنو بکر پسي را ورسېدل او د بُدیل بن ورقاء د کوره سره یې حملې او د تورو وارونه پر شروع کړه، د خزاعه خلکو قریش هم ولیدل چي د بنو بکر په ملګرتیا جنګ کوي، صفوان بن اُمیه، عِکرمه بن أبي جهل او ځیني نور کسان دا هم د بنو بکر سره د خزاعه په وژلو کي ملګري دي او مرسته یې کوي، دلته د بدیل بن ورقاء د کور مخ ته یا د کور د دروازې سره د خزاعه شل نفره نور و وژل سوه، که څه هم د خزاعه نفر کوښښ کوي چي د خپلو ځانو څخه دفاع وکړي مګر دفاع چیري ده؟ بنو بکر پوره لښکر دی او مسلح دي، د قریشو أشراف او مشران هم د دوی مرسته کوي، تر څو چي د سهار روښنايي ښکاره کېدل دوی لا په دغه جنګ مشغوله وه.
خو په دغه وخت کي د قریشو مشرانو ځانونه ګوښه کړه او خپلو کورو ته ولاړل، ویل: که روښنايي سوه پېژندل کیږو او پر هغه نورو یې هم ږغ وکړی چي راځی ځکه موږ نه غواړو چي د دغه غدر او خیانت حال ښکاره سي، د خزاعه نفر یې پرېښوول او دوی په داسي حال کي ولاړل چي د خزاعه د قبیلې څخه یې درویشت نفره په غدر او خیانت سره وژلي وه هغه هم په حرم کي او د قریشو په حضور، حتّی ځینو قریشو هم په دې جنګ کي حصه واخیستل چي دغه نو په ښکاره سره د هغه لیکل سوي عهد څخه تېرئ او تجاوز ؤ او د حدیبیې د صلحي ماتېدل وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library


د خزاعه د قبیلې مشران ډیر ژر سره یو ځای سوه ویل: موږ باید څه وکړو؟ پردې یې اتفاق سو چې تر هرڅه د مخه باید و رسول الله ﷺ ته نفر و لیږو چې هغه په دغه مسئله خبر کړي بیا چې موږ هرڅه کول د هغه دپاره به تیار او آماده سو، د خزاعه د قبیلې مشرانو عَمرو بن سالم چې شاعر هم ؤ د څو نفرو سره مدینې منورې ته و لیږی ویل: ته خو ډیر ژر و رسول الله ﷺ ته دغه خبر و رسوه او موږ هم پسې در رهي یو، عَمرو بن سالم هم په ډیر تلوار او چابکي مخ پر مدینه منوره رهي سو حتّی پر لاري د آرام او راحت دپاره هم نه معطله کېدی، د شپې او ورځي تګ کوي هیڅ راحت نه کوي، تر څو مدینې منورې ته ورسېدی او مسجد نبوي ته ورغلی، رسول الله ﷺ په مسجد کي د څو نفرو اصحاب کرامو سره ناست ؤ چې عَمرو بن سالم مسجد ته ورننوتی څرنګه چې دئ شاعر ؤ (یوازي دئ نه بلکه ټولو عربو شعر وایه) نو یې دغه موضوع و رسول الله ﷺ ته په اشعارو سره وویل چې هغه شعرونه داسي وه:

اللّهـــم إنّـــي ناشـــدٌ محمّـــداً حلفُنا وحلـــفُ أبيـــه الأتلَـــدًا
قَد كُنتُم ولِـــدًا وَكُنّـــا والـــدًا ثَمّـــةَ أسلَمنا وَلَم نَـــنزِع يـــدًا

یعني: الٰهي زه و محمّد ﷺ ته ورناري کوم او هغه حِلف وریادوم چې زموږ او د ده په منځ کي دی او هغه پخوانۍ حِلف وریادوم چې زموږ او د ده د پلار په منځ کي ؤ. [ په دې کي و هغه پخواني حِلف ته اشاره ده چې د خزاعه او د بني هاشم په منځ کي د عبدالمطلب د وخته څخه موجود ؤ ].

او وایي: تاسي زموږ اولاد یاست او موږ ستاسي پلرونه یو، په دې کي بیا هغي پخوانۍ دوستۍ ته اشاره ده (کومه چې د عبدمناف مور د خزاعه د قبیلې څخه وه) نو خزاعه د رسول الله ﷺ ماماګان بلل کیږي، نو ځکه یې و ویل: تاسي زموږ د اولادو څخه یاست او موږ ستاسي نیکه ګان یو، او بیا موږ مسلمانان سوو او له دغه بیعته څخه هیڅکله لاس نه کاږو.

انّ قريشًا أخلَفُوکَ المَوعِـــدًا وَنَقَضُوا مِيثَاقَکَ المُوَکـــدًا
فَانصُر هَدَاکَ اللهُ نَصرًا إعتَدَا وَادعُ عِبادَاللهِ يَـــأتوا مَـــدَدًا

(c) ketabton.com: The Digital Library


بېشکه قریشو ستا سره د هغې وعدې مخالفت وکړی (چي د حدیبیې صلحه یې مقصد وه) او هغه ستاسره ټینګه وعده یې ماته کړه، یعني: پر موږ یې تېرئ او تجاوز وکړی، نو زموږ مرسته وکړه الله هدایت درته کړی دی، کومک مو وکړه څکه دوی تجاوز وکړی او د الله بندګان را وبوله چي هغه هم زموږ په مرسته راسي.

فِيهِم رسولُ اللهِ قَــد تَجَــرّدًا  في طَيلَقٍ كَالبَحرِ يَجرِى مُزبدًا
هُم بَيــتُونا بالوَتِيرِ هُجّــــدًا  نَتلُوالقُرآنَ رُكّـعًا وسُجــدًا

په هغو کي به رسول الله ﷺ وي او توري به یې لڅي کړي وي یعني: د جنګ دپاره تیار او آماده راسی په ایله سوو آسانو کي راسی چي داسي را بهیږي لکه څک کوونکی دریاب، اوس عَمرو بن سالم ټوله قصه په شعر ورته وایي، وایي: موږ د وتیر په منطقه کي ؤ چي هلته یې د شپې په داسي حال کي حمله را باندي وکړه چي موږ قرآن وایه رکوع او سجدې مو کولې، یعني: موږ لمنځونه او عبادتونه کول د بنو بکر د قبیلې خلکو حمله راباندي وکړه.

وَجَعَلُوا لِي فِي كُــدَاءِ رَصَــدًا  وَزَعَمُوا أنْ لَستُ أدعُوا اَحَــدًا
وَهُــم أذَلّ وَ أقَــلّ عَــدَدًا

او دوی په کَداء کي (چي دیوه ځای نوم دی) راته پټ سوي وه او دوی دا خیال کاوه چي زه به د خپل کومک دپاره څوک نه را وبولم او د دوی شمیر لږ او دوی خوار دي.

رسول الله ﷺ د دغو اشعارو څخه په ټوله قصه پوه سو او هغه خپل مشهوره ږغ یې وکړی او وې فرمایل:

« نُصِــرتَ یا عَمرو بن سالِم! نُصِــرتَ یا عَمرو بن سالِم!»

ژباړه: مرسته دي کوویا عَمرو بن سالم! مرسته دي کوویا عَمرو بن سالم!

هغه اصحاب کرام چي دلته موجود او ناست وه هغه وایي: رسول الله ﷺ ته ډیر شدید قهر ورغلی چي څنګه د ده ﷺ د حُلفاوو او متعاهدینو سره دننه په حرم کي غدر او خیانت کیږي د هغو سره څنګه دغه ظالمانه او وحشیانه عمل کیږي؟ نو وایي: رسول الله ﷺ له ډیره قهره ولاړ سو او خپل مبارک ورون یې په خپله واهه،

(c) ketabton.com: The Digital Library


د دغې وژنې او واقعې په سبب د رسول الله ﷺ قهر او غضب هغې درجې او اندازې ته رسېدلی ؤ چې ولاړ سو او خپل مبارک ورون یې په خپله لاس په خپله واهه.

هلته بیا د خزاعه مشرانو د دوهم وار دپاره یوه ډله جوړه کړه چې مشر یې بُدیل بن ورقاء ؤ او دې ډلې هم د مدینې منورې پر طرف حرکت وکړی او تر عَمرو بن سالم دوې ورځې وروسته مدینې منورې ته ورسېدل، رسول الله ﷺ ته ورغله او هغه یې په ټوله قصه مفصل خبر کړی، وژل سوي کسان یې ور وښوول او دا یې هم ورته و ویل: چې قریشو په دغه حمله کې د بنو بکر مرسته کول.

بېله شکه او تردیده د قریشو او د هغو د حُلفاوو دغه عمل یو ښکاره غدر او معلوم خیانت ؤ، په صریح او ښکاره ډول سره د حدیبیې د صلحې او اتفاق داسې ماتېدل وه چې قریشو د هغه دپاره هیڅ عذر نه سوای پیدا کولای، قریش ډېر ژر په خپل غدر او خیانت پوه سوه، نو خود د هغه خیانت د عواقبو او نتیجې څخه په بېره او تشویش کې سوه نو یې څه وکړه؟ د قریشو مشران ډېر ژر په دارالندوه کې سره راټول سوه او یو مشورتي مجلس یې جوړ کړی چې موږ باید څه وکړو؟

په دې اجتماع کې عبدالله بن سعد بن أبي سرح هم موجود ؤ، دغه عبدالله بن سعد هغه څوک دی چې څه موده مخ کې مسلمان سوی ؤ او هلته په مدینه منوره کې د رسول الله ﷺ سره ؤ، څرنګه چې د ده د خط لیکل زده وه نو د هغو کسانو څخه ؤ چې قرآن مجید یې لیکی، رسول الله ﷺ چې به وحيِ او قرآن مجید وایه ده هم لیکل او بیا مرتد سو یعني: د مخه د وحیو لیکونکی ؤ او بیا مرتد سو نو مکې مکرمې ته راغلی او داسې آوازې یې هم نشرولې: چې کله به ما قرآن لیکی ځیني ځایو ته مې تغیر ورکاوه، مګر رسول الله ﷺ د ده د دغې خبري په مقابل کې و فرمایل: په والله دروغ وایي په قرآن کې تغیر نه دی راغلی او نه ده اړولی دی، هو لیکی یې مګر تغیر یې نه دی پکښې راوستلی، خو عبدالله په دغه خبره سره غوښته چې په مسلمانانو کې تشویش، شک او شبهه پیدا کړي.

خیر دغه عبدالله د قریشو په دغه ټولنه او مشورتي اجتماع کې موجود ؤ، ده و ویل: تر تاسي ټولو زه د محمّد ﷺ په خوی او اخلاقو خبر یم ځکه ما ژوند ور سره

(c) ketabton.com: The Digital Library


کړی دی او په مدینه منوره کې مې وخت ور سره تېر کړی دی، محمد ﷺ ترڅو چې ویوه ته د دغو درو کارو تاسي ور و نه بولي جنګ نه در سره کوي، تاسي ته اختیار درکوي په دغه درو کارو کې چې مو هر یو خوښ ؤ هغه در سره کوي، نو ستاسي څه رأیه او فکر دی؟ قریشو ویل: هغه درې کاره څه شي دي؟

عبدالله و ویل: دغه درویشت نفره چې و وژل سوه د خزاعه قبیلې ته به د هغو دیت ورکوی، دیت ورکړی خبره خلاصه ده هغه هم که خزاعه په دیت راضي سوه، قریشو و ویل: په والله که موږ خپل ټول مالونه خزاعه ته ورکړو هغه نه راضي کیږي مالونه به هم را څخه واخلي خو راضي کیږي نه، نو موږ مال نه ورکوو.

قریشو ویل: دا خو و نه سوه، هغه دوهم به څه شي وي؟ عبدالله و ویل: دوهمه خبره دا ده: محمد ﷺ او بنو بکر سره پرېږدی ځکه بنو بکر هغه خلک دي چې غدر او خیانت یې کړی دی، نو هغه خائنان او خپل عمل سره پرېږدی تاسي خپل ځانونه ګوښه کړی او محمد ﷺ ته و وایاست چې موږ په دغه جنګ نه راضي ؤ او نه موږ په دغه جنګ کي حصه او مداخله درلودل حتّٰی د دغه جنګ په سبب موږ د بنو بکر حلفاء او متعاهدین هم نه یو اوکه تاسي مسلمانان غواړی چې د بنو بکره څخه بدله او انتقام واخلی وایې خلی موږ هیڅ مداخله نه کوو، ځکه دوی وه چې غدر او خیانت یې وکړی.

عبدالله دا هم ورته و ویل: چې دغه کار ستاسي دپاره عدل او انصاف هم دی، قریشو ویل: که موږ خپل حُلفاء او متعاهدین یوازي پرېږدو په راتلونکي وخت کي بیا هیڅوک زموږ سره عهد او تحالُف نه کوي او بیا موږ یوازي پاته کیږو نو ځکه خپل حُلفاء هم نه سو پرېښوولای او دریم نظر دي څه ؤ؟

عبدالله ویل: دریم نو توره ده دیت نه ورکوی، قاتلان یوازي نه پرېږدی چې دوی خپله بدله ځني واخلي د دې معنٰی دا ده چې تاسي د مجرمانو دفاع کوی او د هغو پر طرف ولاړ یاست، نو بیله جنګ او توري بله لار نسته.

قریش له جنګه هم بیرېږي ځکه دوی ویني چې مسلمانان اوس ډېر قوي دي نو یې په مشورو شروع وکړه چې باید څه وکړو؟ ابوسفیان و ویل: زما سره یو فکر سته، هغه دا چې محمد ﷺ ته به ورسو او هغه زوړ عقد به بیا ور سره نوی کړو او موده به

(c) ketabton.com: The Digital Library


نوره هم پکښې زياته کړو، يعني: د حديبيې صلحه به نوې او تازه کړو او د صلحي موده به هم زياته کړو نو دغه د عهد تجديد يا نوی والی او د مودې زيات والی به پسله دغي حادثې يا واقعې څخه وي، بيا نو محمّد ﷺ نه سي کولای چي تر دغه نوي عهد تېر سي.

يعني: که موږ دغه عهد پسله دغي حادثې څخه نوی کړو بيا نو محمّد ﷺ د نوي عقد څخه ځان نه سي خلاصولای، ځکه حادثه خو د پخواني عقد يا عهد په وخت کي پېښه سوې وه او دغه نوی عهد تر حادثې وروسته وسو.

نورو قريشو و ويل: آيا موږ کولای سو چي دغه عهد تر هغه د مخه نوی کړو چي دیٔ ﷺ په دغه حادثه خبرېږي؟ ځکه که محمّد ﷺ په دغه حادثه خبرسو بيا عهد نه نوی کوي، ابوسفيان و ويل: تلوار به وکړو چي ژر ورسو، قريشو ويل: بس نو ته دغه اوس ور رهي سه، ابوسفيان هم مخ پر مدينه منوره حرکت وکړی چي ژر و رسول الله ﷺ ته ځان ورسوي.

دا معلومه خبره ده چي عَمرو بن سالم رضي الله عنه تر دغه وخت د مخه و رسول الله ﷺ ته ورغلی ؤ او په حال يې خبر کړی ؤ بلکه بُديل بن ورقاء هم و رسول الله ﷺ ته ورغلی دی او اوس بيرته د مديني منورې څخه را رهي کيږي، هلته رسول الله ﷺ خپل اصحاب کرام په هغه څه خبر کړه چي اوس يې قريش د دغه غدر د پټولو دپاره کوي او وې فرمايل: لکه ابوسفيان چي اوس را رهي سوی وي او تاسي ته راځي چي دغه عهد نوی او موده يې زياته کړي، دا د رسول الله ﷺ د نبوت د علامو څخه يوه علامه وه.

ابوسفيان له دې طرفه مديني منورې ته ور رهي دی او بديل بن ورقاء د هغه ځايه را رهي سو، کله چي د خزاعه د قبيلې مشر بُديل بن ورقاء او ملګري يې د مديني منورې څخه را و وتل نو بُديل خپلو ملګرو ته و ويل: سره جلا سی چي څوک مو پرلاري يو ځای و نه ويني ځکه بيا قريش پوهيږي چي موږ و رسول الله ﷺ ته ورغلي وو او بيا دوی هم د جنګ دپاره خپل ترتيبات او آمادګي نيسي، د بُديل ملګري هم سره جلا سوه هر يو پر جلا جلا لار رهي سو خو بُديل بن ورقاء د دوو درو نفرو سره د مديني منورې پر هغه عمومي لار رهي سو، د عسفان په منطقه کي بُديل بن ورقاء او ابوسفيان سره مخامخ سوه، د ابوسفيان دا خيال سو چي بُديل رسول الله ﷺ ته

(c) ketabton.com: The Digital Library


ورغلی ؤ نو یې ورته و ویل: له کومه ځایه راغلې؟ یا بُدیل! بُدیل ویل: په دغه شپله کي د خُزاعه خلکو ته ورغلی وم.

ابوسفیان ویل: محمّد ﷺ ته نه وې ورغلی؟

بُدیل ویل: یا.

ابوسفیان ویل: د مدینې خرما در سره سته؟

بدیل ویل: یا! خرما یې هم را سره نسته.

خیر دوی سره جلا سوه هر یو پر خپله لار ولاړی، بُدیل مخ پر مکه مکرمه او ابوسفیان مخ پر مدینه منوره رهي سوه.

کله چي بدیل تر سترګو نهام سو ابوسفیان هغه ځای ته ورغلی چي بدیل رضی الله عنه اوښ چوک کړی ؤ او د هغه د اوښ پُچي یې وکتلې وې لیده چي د بدیل د اوښ په پُچو کي د خرما منډکي سته او اوښانو ته بېله مدینې منورې د خلکو بل چا د خوړلو دپاره خرما نه ورکول، ځکه په مدینه منوره کي خرما ډېره وه او اوس د بُدیل د اوښ په پُچو کي د خرما منډکي پیدا سوې نو ابوسفیان پوه سو چي والله خلک مدینې منورې ته تللي وه او رسول الله ﷺ یې په حال خبر کړی دی.

خیر ابوسفیان هم مدینې منورې ته ورسېدی نو یې فکر وکړی چي اول باید چیري ولاړ سي؟ په مدینه منوره کي و ده ته هغه تر ټولو نژدې نفر څوک دی؟ هغه ام حبیبه رضی الله عنها وه چي د ده لور او د رسول الله ﷺ زوجه ده، نو ویل: اول د هغې کره ورځم (لور یې ده) او بل ویل: ښایي ځیني معلومات هم ور سره وي او ممکن په دغه موضوع کي مي مرسته هم وکړي، ابوسفیان د خپلي لور ام حبیبه رضی الله عنها کور ته ورغلی، هغې هم دروازه ور خلاصه کړه او دئ کور ته ورننوتی، هلته پر مځکه یو زوړ فرش آوار ؤ چي هغه د رسول الله ﷺ د ناستي فرش ؤ، دا د رسول الله ﷺ د عجز او تواضع، فقر او مسکنت ژوند ؤ چي پر زاړه فرش کښېنستی.

کله چي ابوسفیان ځان جوړ کړی چي پر دغه فرش کښیني، ام حبیبه رضی الله عنها په تلوار راغله او دغه فرش یې ځني ټول کړی، ابوسفیان په تعجب کي سو او ویل: اې لوري! زه د دغه فرش لائق نه وم چي را څخه ټول دي کړی؟ او که فرش زما لائق نه ؤ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library


یعني: تا ویل: دا د قریشو سردار دی او زما پلار دی څنګه پر دغه زاړه فرش کښیني؟ یا دا چي دغه فرش ترما ښه او تر ما معتبره دی زه د دې لائق نه وم چي پر کښېنم نو را څخه ټول دي کړی؟ ام حبیبه ؓ ورته وویل:

«یَا أَبَتا! هذا فِراشُ رسولِ الله وَأَنتَ مُشرِكٌ نَجِسٌ».

اې پلاره! دا د رسول الله ﷺ فرش دی ته مشرک او نجس یې ته د دغه فرش وړ نه یې.

پلار ته یې دغسي سخت او شدید جواب ورکړی، ابوسفیان په تعجب کي سو او ویل: والله چي زما څخه جلا سوې یې شر درته پېښ سوی دی.

(پلار ته څوک داسي جواب ورکوي؟).

تاسي د ازواجو مطهراتو احترام ته وګوری چي د رسول الله ﷺ فرش یې پر خپل پلار هم نه ؤ پرېږزو چي پر کښیني ځکه چي هغه کافر او مشرک ؤ، ابوسفیان پوه سو چي د لور څخه مي فایده نه را رسیږي او مرسته هم نه راسره کوي، نو په خپله د رسول الله ﷺ پر طرف و مسجد نبوي ته ور رهي سو، رسول الله ﷺ د اصحاب کرامو سره ناست ؤ او هغو ته یې و فرمایل: ګمان کوم چي اوس به ابوسفیان دلته راسي غواړي چي عهد نوی او د صلحي موده زیاته کړي.

دا ځکه چي قریشو ته بله لار نه وه پاته، په دیت نه وه راضي، خپل حُلفاء او معاهدین یې یوازي نه پرېښوول او جنګ هم نه غواړي، نو دوی ته بله لار او حیله نه وه پاته بېله دې څخه چي صلحه نوې او د عهد موده زیاته کړي، رسول الله ﷺ خپله خبره نه وه پوره کړې چي ابوسفیان ورغلی، رسول الله ﷺ و فرمایل:

یا ابا سفیان! څنګه او د څه شي دپاره راغلی یې؟

هغه ویل: یا محمّد! ﷺ دغه صلحه چي زموږ او ستاسي په منځ کي ده دا د خیر صلحه ده د دغي صلحي فایدې مو ولیدلې، تجارت مو په اطمینان سره چلیږي، قافلې مو په امان تیریږي، له جنګه فارغه یو نو غواړو چي دغه عهد او عقد نوی کړو او د صلحي موده هم زیاته کړو.

رسول الله ﷺ و فرمایل: آیا نوی شئ پېښ سوی دی؟ داسي یو کار مو کړی دی چي د هغه په سبب غواړې چي عقد نوی کړې؟ او موده یې هم زیاته کړې؟

(c) kitabton.com: The Digital Library

ابوسفیان وویل: یا! بلکه زمونږ دغه صلحه خوښه سوه.

رسول الله ﷺ وفرمایل: مونږ پر هغه عقد یو نه غدر کوو نه خیانت.

په دې جمله کي اشاره وه چي تاسي یاست چي غدر او خیانت کوی نه مونږ.

نو رسول الله ﷺ وفرمایل: صلحه پرخپل حال باقي ده.

ابوسفیان ولیده چي عقد نه سي نوی کولای، پسله هغه چي له ځانه سره یې فکر وکړی دې نتیجې ته ورسېدی که د رسول الله ﷺ د اصحاب کرامو څخه یو څوک د خلکو په منځ کي جوار او امان را ولي نو جنګ نه پیښیږي.

یعني: که د اصحاب کرامو څخه یو نفر و وایي: ما د خلکو په منځ کي جوار او امان راوستلی دی او دغه جوار رسول الله ﷺ قبول کړي بیا نو جنګ نه پیښیږي.

دغه د جوار او امان جملې د هغه وخت د قبیلو یا قبیلوي ژوند اصطلاحات دي، که یې د لفظ په مفهوم ښه نه پوهیږی خو معنی یې واضحه او ښکاره ده او لږ څه تفصیل یې د مخه هم تېر سوی دی.

ابوسفیان له مسجده په دې امید را ووتی چي ښایي دغه جوار یا امان د صحابهٔ کرامو د یوه مشر په واسطه منځ ته راولم او زما مقصد به حاصل سي، یعني: جنګ به نه کیږي، نو ابوبکرالصدّیق رضی الله عنه ته ورغلی او ورته ویل یې: ته د رسول الله ﷺ تر ټولو نژدې ملګری یې دغه عقد را نوی کړه او د صلحې موده را زیاته کړه، که رسول الله ﷺ په دې کار نه دی راضي نو بیا ته د خلکو په منځ کي جوار او امان را وله، دا به ستا دپاره ابدي فخر او عزت وي، ابوبکرالصدّیق رضی الله عنه ورته وویل: مونږ پر هغه صلحه یو او مونږ هیڅکله چا ته پر رسول الله ﷺ جِوار نه سو ورکولای.

یعني: داسي څوک نسته چي رسول الله ﷺ دي موجود وي او هغه څوک دي په یوه موضوع یا یوه کار کي د خپله ځانه تصرف وکړي.

ابوسفیان پوه سو چي د ده څخه مي لاس ته شئ نه راځي نو یې فکر و واهه چي پسله ابوبکره څوک د رسول الله ﷺ په حضور قدر او عزت لري؟ دا نفر حضرت عمر رضی الله عنه ؤ، ابوسفیان و عمر رضی الله عنه ته ورغلی او ویل: یا عمر! د خلکو په منځ کي امان راوله د ټول عمر شرف او عزت به وګټې، حضرت عمر فاروق رضی الله عنه ورته وویل: زه تاسي ته امان

(c) ketabton.com: The Digital Library


درکړم؟! زه و رسول الله ﷺ ته ستاسي شفاعت وکړم؟! والله که ستاسي د مقابلې دپاره بل څوک نه کړم پیدا بیله سُرکي مېږیانو بیا به هم زه په هغو مېږیانو ستاسي سره جنګېږم، ابوسفیان ویل: جزاک الله دا د شر په صلهٔ رحمي، ابوسفیان راغلی ؤ چي په ده سره له جنګه پناه او امان وغواړي او ده ﷺ ورته و ویل: که بل څوک نه کړم پیدا په مېږیانو به ستاسي سره جنګېږم، دا د حضرت عمر فاروق ﷺ پر کفارو شدت ؤ.

بیا نو ابوسفیان و حضرت علي ﷺ ته په داسي حال کي ورغلی چي هغه د حضرت فاطمې ﷺ سره ناست ؤ او د دوی کوچني زوی حضرت حسن ﷺ چي هلک ؤ دالته لوبي کولې، ابوسفیان په خبرو شروع وکړه ویل: یا علي! ته موږ ته په قرابت او صلهٔ رحمي کي هغه تر ټولو نژدې نفر یې، رسول الله ﷺ ته خبري وکړه او راضي یې کړه، د خلکو په منځ کي جوار او امان راوله، علي ﷺ ورته و ویل: د رسول الله ﷺ په کارو کي هیڅوک خبري او مداخله نه سي کولای، دغه د صلحي کار یوازي د ده ﷺ کار دی هیڅوک په هغه کي څه نه سي ویلای، اوس ابوسفیان عاجزه او حیران پاته سو ځکه ټول نه دي راضي چي په دې کار کي مداخله یا د ده مرسته وکړي.

ابوسفیان و حضرت فاطمې ﷺ ته وکتل او ویل: یا فاطمه! ته د محمّد ﷺ لور یې ته د خلکو په منځ کي جوار او أمان راوله، هغې ویل: زه ښځه یم د دې کارو سره زما اړه او تعلق نسته ابوسفیان ویل: دغه زوی دي امرکړه چي ږغ وکړي یا و وایي ما د خلکو په منځ کي أمان را وستلی دی، بیا نو نور هم راضي کیږي.

تاسي وګوری! د مسلمانانو څخه د مشرکانو بېره دغي اندازې ته رسېدلې وه چي په یوه کوچني هلک یې ځان خلاصاوه، وایي (اوبو اخیستی ځګ ته لاس اچوي) خو فاطمې ﷺ و ویل: زما زوی تر دغه کم دی چي د خلکو په منځ کي أمان را ولي ځکه یو خو کوچنئ دی او بل د رسول الله ﷺ په مقابل کي هیڅوک أمان نه سي ورکولای.

ابوسفیان په فکرکي دی چي څه وکړي؟ بیا حضرت عثمان بن عفان ﷺ ته ورغلی چي هغه هم د بني اُمیه څخه دی او ابوسفیان هم دبني اُمیه څخه دی، حضرت عثمان ﷺ ته یې و ویل: یا عثمان! ته زموږ څخه یې و موږ ته هغه تر ټولو نژدې نفر ته یې، ته او موږ له یوه قومه یو د خلکو په منځ کي جوار او امان راوله،

حضرت عثمان رضی الله عنه ورته و ویل: زما جوار د رسول الله ﷺ په جوار کې دی، یعني: که رسول الله ﷺ چا ته جوار ورکړی ما هم ورکړی دی او که یې هغه ﷺ دښمن ؤ زه یې هم دښمن یم، هیڅوک نه وه راضي چې د ابوسفیان سره په دغه موضوع کې مرسته وکړي، ټول دغه موضوع رَدَوي چې د خلکو په منځ کې جوار را ولي، اوس ابوسفیان په فکر کې دی چې د چا سره مشوره وکړي؟

دوهم وار بیا حضرت علي رضی الله عنه ته ورغلی او ویل: یا علي! مشوره راکړه زه څه وکم؟ حضرت علي رضی الله عنه و ویل: دا موضوع تر ما لوړه ده زه په دغه موضوع کې هیڅ رأیه او نظر نه لرم، مګر ته په خپله د مکې رئیس او د عربو د مشرانو څخه یې، ته په خپله ودرېږه او د خلکو په منځ کې جوار را وله، ابوسفیان ویل: آیا زما وینا! یعني: که زه د جوار بږغ وکړم کومه فایده لري؟ حضرت علي رضی الله عنه ویل: یا، ته حل غواړې دا یې حل مګر فایده نه لري.

ابوسفیان فکر وکړی چې څه وکړي؟ رشتیا هم بل حل نه ؤ موجود، نو مسجد نبوي ته ورغلی هلته رسول الله ﷺ د اصحاب کرامو په منځ کې ناست دی ابوسفیان و درېدی او په لوړ آواز یې بږغ کړه: زه ابوسفیان د مکې رئیس یم ما د خلکو په منځ کې جوار او امان راوستلی دی، د رسول الله ﷺ طرف ته ګوري او وایي: زه ګمان نه کوم چې څوک دي دغه زما جوار را رَدکړي، رسول الله ﷺ دغه د ده خبره واورېدل او یو عجبه جواب یې ورکړی وې فرمایل: دا خبره ته کوې یا ابا سفیان! یعني: دا چې ته وایې: څوک زما جوار نه را ماتوي دا ستا وینا ده مونږ داسي نه وایو.

رسول الله ﷺ د ابوسفیان د خبري په مقابل کې ساکت او پټه خوله نه سو بلکه دغه د ده خبره یې ور رَد کړه، که چیري رسول الله ﷺ جواب نه وای ورکړی او ساکت پاته سوی وای نو دغه سکوت د ابوسفیان پر خبره اقرار ؤ، چې هوستا جوار څوک نه درماتوي، دا د رسول الله ﷺ حکمت او پوهي وه، داسي یې هم نه ورته و ویل: یا مونږ ستا جوار نه منو بلکه خامخا یې درماتوو، داسي یې هم و نه ویل چې یا، مونږ جنګ درسره کوو، فقط دوې جملې یې د هغه په جواب کې و ویلې (دا ته وایي مونږ نه وایو) ابوسفیان عاجزه او حیران پاته سو.

(c) ketabton.com: The Digital Library


خیر ابوسفیان بیرته مکې مکرمې ته ولاړی او هلته د قریشو د مشرانو سره یو ځای سو، خپل فعالیت او د سفر حالات یې ورته و ویل او هغه خپل ټول کوښښونه یې ورته بیان کړه او بیا یې په آخر کي ورته و ویل: نور څه خو و نه سوه نو زه د علي بن أبي طالب په مشوره و دربدم او د خلکو په منځ کي مي جوار او امان را وستی، هغو ورته و ویل: والله علي ستا په عقل لوبي کړي دي، ته د مسلمانانو له طرفه خلکو ته امان ورکوې؟! مسلمانان ستا خبره هیڅکله نه مني، ته د هغو دښمن یې او اوس بیا هغه ستا د خبري تابع سي او قبوله یې کړي، قریش پوه سوه چي دوی هیڅ و نه کړه او په وسه یې هم نه ده پوره چي څه وکړي، آخر یې دا فیصله وکړه چي معلومات به کوو او د حالاتو څخه به خبرداره یو، چي آیا رسول الله ﷺ د دوی د جنګ إراده لري او که خبره بېله جنګه خلاصه سوه؟ فقط یوه موضوع وه تېره سوه.

دا خو د قریشو فکرونه وه مګر هلته رسول الله ﷺ حضرت عائشې رضي الله عنها ته ویلي وه چي د ده ﷺ د جنګ او سفر سامان ور برابر او مجهز کړي ځکه پر مکه مکرمه د حملې إراده لرم او دغه حال هم چا ته مه وایه، دغه سِر (راز) پټ در سره وساته، په دغه وخت کي چي حضرت عائشه رضي الله عنها د سامان په برابرولو مشغوله وه ابوبکر الصدّیق رضي الله عنه د دې کورته ورغلی او وې لیده چي دا د جنګ او سفر د سامان په ټولولو مشغوله ده، اوړه خوراکي مواد او اسلحه سره یو ځای کوي، ابوبکر الصدّیق رضي الله عنه ورته و ویل: یا عائشه! آیا رسول الله ﷺ امر کړی یې چي د سفر سامان ور برابروې؟ ځکه رسول الله ﷺ دغه خبر اول عائشې رضي الله عنها ته ویلی ؤ چي سامان برابرکړه، تر اوسه یې مسلمانان نه وه امر کړي چي ځانونه د سفر او جنګ دپاره آماده کړی.

نو ځکه ابوبکرالصدّیق رضي الله عنه په حال نه ؤ خبر، عائشې رضي الله عنها ویل هو، ابوبکرالصدّیق رضي الله عنه و ویل: د کوم ځای قصد او إراده لري؟ څرنګه چي رسول الله ﷺ حضرت عائشې رضي الله عنها ته ویلي وه چي چا ته حال مه وایه او دغه سِر پټ وساته، اوس د عائشې رضي الله عنها پلار او د رسول الله ﷺ نږدې ملګری پوښتنه کوي چي د کوم ځای نیت یې دی؟

دې رضي الله عنها جواب ورنه کړی.

دغه ته د راز ساتل وایي، داسي ډېر خلک سته چي حال او سِر پټ نه سي

(c) ketabton.com: The Digital Library


ساتلای، خو ښځي بیا د راز د نه ساتلو په خصلت کي ډیري مشهوره دي، مګر دغه صالحي ښځي ته وګوری چي یوازي خپل پلار نه بلکه د رسول الله ﷺ نژدې ملګري ته هم حال نه وایي، ځکه دا پوهېده چي د راز پټول ډیر لوی صفت دی او رسول الله ﷺ هم دغه د راز پټول د دې پر ذمه وراچولي وه چي ویل: چا ته حال مه وایه، اوس دا ﷹ دغه راز خپل پلار ته هم نه وایي.

نو دې ﷹ جواب ور نه کړی، ابوبکر الصدّیق ﷛ د ځانه سره و ویل: ښایي د مُؤته نیت یې وي ځکه هغه مسئله پای ته نه ده رسېدلې (لوریې جواب نه ورکوي) بیا یې و ویل: ښایي هوازن یې مقصد وي، بیا هم دا جواب نه ورکوي، ابوبکر الصدّیق ﷛ بیا د ځان سره و ویل: ممکن د قریشو إراده یې وي، خو حضرت عائشه ﷹ جواب نه ورکوي پټه خوله او ساکته ده څه نه وایي.

دا د حضرت عائشې ﷹ د رسول الله ﷺ د راز پر پټ ساتلو حرص او کوښښ ؤ.

ورونو او خوندو! ښه متوجه سی! دغه اخلاق دي موږ یې باید د اُم المؤمنین حضرت عائشې ﷹ او د رسول الله ﷺ د اصحاب کرامو څخه زده کړو، داسي نه چي یو څوک پټ حال راته و وایي او دا تاکید هم را باندي وکړي چي چا ته مه وایه مګر موږ په خپله په داسي چا پسي ګرځو چي ډیر ژر دغه حال ورته ووایو.

(دغه کار د امانت ضائع کول او یو قسم خیانت دی)

په دغه وخت کي رسول الله ﷺ هم کور ته راغلی، ابوبکر الصدّیق ﷛ پوښتنه ځني وکړه ویل: یا رسولَ الله! آیا د جنګ دپاره آمادګي نیسې؟ رسول الله ﷺ و فرمایل: هو، ابوبکر الصدّیق ﷛ ویل: نو زه به هم ستا د ملګرتیا دپاره ځان تیار کړم؟ رسول الله ﷺ ویل: هو ځان آماده کړه، ابوبکر الصدّیق ﷛ و ویل: د روم نیت دي دی؟ رسول الله ﷺ ویل: یا. ویل: ښایي د هوازن إراده دي وي؟ رسول الله ﷺ ویل یا، ویل نو د قریشو نیت دي کړی دی؟ رسول الله ﷺ و فرمایل: هو.

ابوبکر الصدّیق ﷛ و ویل: یا رسولَ الله! زموږ او د قریشو په منځ کي خو عهد دی، رسول الله ﷺ و فرمایل: یا ابا بکر! هغو عقد او عهد مات کړی غدر او خیانت یې وکړی او رسول الله ﷺ ابوبکر الصدّیق ﷛ امر کړی چي د سفر دپاره ځان آماده

(c) ketabton.com: The Digital Library


کړي، همدارنګه يې د اصحاب کرامو نور مشران امر کړه چې د جنګ او سفر دپاره ځانونه آماده کړي خو دا يې هم ورته و ويل: چې حال به پټ ساتی او چا ته مه وایاست چې موږ چیري ځو فقط خلک د ځانو په برابرولو او آماده کولو امر کړی.

اوس نو د رسول الله ﷺ دغه امر په مدینه منوره کي نشریږي چې د جنګ دپاره ځانونه تیار او آماده کړی، رسول الله ﷺ نور هم د مدينې منورې پر شا وخوا هغو نژدو قبیلو ته حال ولېږی چې ځانونه تیار کړی چې زما سره ووزی، خلک هم را ټولیږي او یو ځای کیږي څو د مدينې منورې ښار د خلکو ډک سو، رسول الله ﷺ امر وکړی چې د مدينې منورې تر ښار دباندي خېمې و دروی او د خلکو شمېر نور هم زیاتېدی.

په عین وخت کي رسول الله ﷺ څو نفره مؤظف کړه چې د مدينې منورې ټولي عمومي لاري تر نظر لاندي ونیسی، کومي لاري چې د مدينې منورې څخه وزي یا ورته راځي پر هغو ټولو لارو يې مؤظف نفر کښېنول، ویل: کوم څوک چې مدينې منورې ته راځي اجازه ورکوی چې راسي مګر هغه خلک چې د مدينې منورې څخه وزي مه يې پرېږدی چې ووزي، اوس نو پر مدینه منوره داسي حال دی لکه محاصره چې سوه او دا محاصره د دې دپاره وه چې قریشو ته د مسلمانانو د تیارۍ او آمادګۍ خَبَر وَ نه رسیږي، ټوله لاري بندي سوې، صحابهٔ کرام بېخبره او په حیرت کي دي چې رسول الله ﷺ د کوم ځای نیت او إراده لري هیچا ته هیڅ معلومات نسته.

صحابهٔ کرامو سعد بن مالک رضي الله عنه چې د انصارو څخه ؤ او شاعر هم ؤ (دا هغه سعد بن مالک دی چې قصه مو د مخه درته کړې ده چې تر هجرت د مخه په مکه مکرمه کي و رسول الله ﷺ ته ورغلی او هغه ﷺ ورته و ویل: الشاعر! او رسول الله ﷺ د ده په اسلام ډیر خوشاله سو) صحابهٔ کرامو دغه سعد و رسول الله ﷺ ته د دې دپاره ورولېږی که يې کوم معلومات ځني حاصل کړه، سعد رضي الله عنه و رسول الله ﷺ ته ورغلی او شعر وایي، په دغه شعر کي يې داسي بیتونه وه چې په هغو کي يې د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه کول چې د کوم ځای نیت او إراده دي ده؟ او له دې سفره مقصد څه او څوک دی؟ خو رسول الله ﷺ د ده په جواب کي فقط تبسم وکړی او نور حال يې نه ورته و وایه، نو خلک په هغه بې خبري کي پاته سوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library


د مديني منورې د ښار او اطرافو څخه (۷۵۰۰) نفر و رسول الله ﷺ ته را ټول سوه چي تر دغه وخته پوري په مسلمانانو کي دغه هغه تر ټولو لويه اجتماع او ټولنه وه، د اول وار دپاره (۷۵۰۰) مسلمانان د غزاء دپاره سره يوځاى کيږي.

په دغه وخت کي هلته په غطفان کي هغه د غطفان رئيس عُيينه بن حصن ته د اسلام حال لوړ او قوي ښکاره سو د ځان سره يې فکر وکړی ويل: که نور هم خپل اسلام او مسلمانېدل وځنډوم غنيمتونه مي د لاسه وزي نو را رهي سو چي مدينې منورې ته ولاړسي او مسلمان سي، الٰهي تقدير دی دغه د مسلمانانو د تيارېدلو او آماده کېدلو په وخت کي مدينې منورې ته را ورسېدی، عُيينه بن حصن د غطفان رئيس او سردار راغلی دی چي مسلمان سي او رسول الله ﷺ ته يې دا زېری هم ور سره را وړی دی چي د غطفان قبيله هم ټوله د ده سره مسلمانان سوه، رسول الله ﷺ د دوی په اسلام خوشاله سو.

په دغه وخت کي د بنو تميم د قبيلې يوه ډله هم مدينې منورې ته راغله چي د دغي ډلي مشر اقرع بن حابس ؤ، أقرع بن حابس هم د عربو د مشرانو او سردارنو څخه يو مشر او سردار ؤ، دا ډله هم راغله چي رسول الله ﷺ ته د بنو تميم د اسلام او مسلمانېدلو خبر و وايي او دا زېری پر وکړي چي بنو تميم هم ټول په اسلام مشرف سوه، رسول الله ﷺ په دوی هم ډېر خوشاله سو مګر دغه راغلي نفر ټول سرداران او د قومو مشران دي اوس کوم لښکر نه دی ور سره چي په دغه اوسني وخت او د جنګ په حالت کي د مسلمانانو ملګرتيا وکړي بلکه راغلي کسان فقط د قبيلو مشران دي نور قوم يې نه دی ور سره.

په دغه وخت کي يوه بله واقعه پېښه سوه، هغه دا چي (حاطِب بن بَلتعه رضی الله عنه) چي د رسول الله ﷺ د اصحابو او د اهل بدر څخه هم ؤ يوه ښځه يې د يو څه مال په بدل کي مزدوره يا اجيره کړه او د دې په لاس يې يو ليک ورکړی چي دغه ليک به و قريشو ته رسوې، چي د هغه ليک په واسطه يې قريشو ته خبر ورکاوه چي رسول الله ﷺ غواړي چي پر تاسي حمله وکړي چي دغه کار ته په اوسني اصطلاح عسکري خيانت ويل کيږي او ښځي ته يې دا هم و ويل: چي پر عمومي لار نه بلکه پر کچه لار

(c) ketabton.com: The Digital Library


به ولاړه سې چې څوک نه سي در خبر، ښځې دغه لیک په خپلو کوڅیو یا د سر په وربښتانو کي کښېښاوه او د مکې مکرمې پر طرف رهي سوه، ښځې وکولای سوای چې پر کچه لار د مدینې منورې څخه ووزي او تر هغو پیره دارانو چې پر عمومي لارو ناست وه تېره سي او د مکې مکرمې پر طرف په بېغمه زړه سره رهي سوه.

مګر رسول الله ﷺ ته د آسمانو د خالق له طرفه خبر راغلی چې حاطبِ ﷺ دغسې کړي دي، رسول الله ﷺ د خپلو اصحاب کرامو څخه دوه یا درې نفره را وغوښتل (چې په دغه عدد کي اختلاف دی) دغه نفر علي بن أبي طالب، زبیر بن العوام او مقداد ﷺ وه او ورته وې فرمایل: جبریل ﷺ خبر راکړی چې حاطب بن بَلتَعَه د یوې ښځې په لاس پر فلانۍ لار قریشو ته لیک لېږلی دی، لا ریې هم وروښوول چي یوه کچه لار وه، نو ویل (روضة خاخ) ته چې د یو ځای نوم دی ژر رهي سی، دغه نفر هم په ډېره چابکي لکه غشي پر هغه لار ور رهي سوه واقعًا ښځه یې پر هغه لار پیدا کړه او پسي ور ورسېدل، دوی ورته ویل: ستا سره د قریشو دپاره یو لیک در سره دی هغه راکړه، ښځې ویل: زما سره لیک نسته، د ښځې غوټه یې وشنل شئ یې نه کړی پیدا، بیا یې ورته و ویل: ستا سره یو لیک دی هغه را وباسه، ښځه مطلق انکار کوي وایي: زما سره لیک نسته، علي ﷺ ورته و ویل: په والله رسول الله ﷺ ته د جبریل ﷺ له طرفه خلاف نه دي ویل سوي او هغه مور ته خلاف نه دي ویلې په والله یا به لیک را باسې یا دي لڅه وو (یعني: د بدن تلاښي دي کوو) ښځه پوه سوه چې خبره ښکاره سوې ده او نه مي پرېږدي نو ویل: مخان واړوی او مه را ته ګوری، دوی هم مخان واړول، ښځې د سر وربښتان خلاص کړه دننه په وربښتانو کي یې دغه لیک اېښی ؤ ځکه د هغه په ساتلو او پټولو کي یې ډېر کوښښ کاوه او لیک یې و علي ﷺ ته ورکړی، حضرت علي ﷺ او ملګرو یې هغه لیک و رسول الله ﷺ ته راوړی، لیک چې وکتل سو د حاطِب بن بلتعه له طرفه و قریشو ته لیکل سوی ؤ چې د رسول الله ﷺ د جنګ په إراده یې خبرول، رسول الله ﷺ حاطِب بن بلتعه ﷺ را وغوښتی، هغه راوستل سو، رسول الله ﷺ هغه لیک ور ښکاره کړی او ویل: یا حاطِب دغه څه شي دی؟

دغه لیک د مسلمانانو سره ښکاره او واضحه حربي خیانت ؤ مګر حاطِب ﷺ

(c) ketabton.com: The Digital Library


وویل: یا رسولَ الله! ته پرما تلوار مه کوه په والله زه پر الله او رسول الله ایمان لرم، نه مرتد سوی یم او نه منافق یم زه یو سړئ وم چي په قریشو پوري مبتنی وم (یعني: قریش نه یم بلکه د دوی حلیف یا همسایه وم) د مدینې منورې مهاجر مسلمانان هلته په مکه مکرمه کي اهل او اقرباء لري خو هغه په خپل قوم کي دي او په هغو ساتل کیږي، مګر زما کورنۍ چي په مکه کي ده د ساتني او حفاظت دپاره قوم او اقرباء نه لري، نو ما دا خوښه و بلل چي د قریشو سره داسي یو احسان وکړم چي زما د دغي نېکۍ په سبب هغه زما کورنۍ را وساتي، نو ځکه مي دغه لیک و قریشو ته ولېږی.

مګر د حاطب ﷛ دغه فکر او دلیل صحي نه ؤ دئ غواړي چي خپل اهل او کورنۍ وساتي، نو قریشو ته خبر ورکوي چي هغه د جنګ دپاره تیار او آماده سي؟ او په مسلمانانو کي مرګ او وژنه وکړي، خپل اهل خلاصوي او په مقابل کي یې مسلمانان په قتل رسوي؟ دا ډېره لویه خطا او غلطه سودا ده، نو حضرت عُمر فاروق ﷛ توره پورته کړه ویل: یا رسولَ الله! اجازه راکړه چي غاړه یې ورپرې کړم دا منافق سوی دی، د خپلي کورنۍ د ساتني دپاره مسلمانان قرباني کوي، رسول الله ﷺ وفرمایل: پرې یې ږده یا عمر!

« فَلَعَلَّ اللَّهَ اطَّلَعَ عَلَى أَهْلِ بَدْرٍ فَقَالَ اعْمَلُوا مَا شِئْتُمْ فَقَدْ غَفَرْتُ لَكُمْ » [الدارمي]

یعني: الله جل جلاله واهل بدر ته بخښنه کړې ده او دوی ته یې فرمایلي دي: هر څه چي مو زړه غواړي هغه کوی ما تاسي ته بخښنه کړې ده. د حضرت عمر فاروق ﷛ تر سترګو اوښکي راتوی سوې او ویل: الله او رسول الله ښه پوهیږي.

ورونو! دغه د حاطب ﷛ د دغي کوچنۍ قصې څخه ډېر شیان فهمول کېدلای سي او ډېر احکام په معلومیږي، که زه د هغو په تفصیل مشغوله سم اصلي مقصد پاته کیږي نو به په مختصر ډول څولړو شیانو ته اشاره وکړم.

**لومړئ:** دا چي د رسول الله ﷺ تائید په الٰهي وحیو سره کېدی چي خپل رب ﷻ په دغه موضوع خبر کړی او ده ﷺ خپل اصحاب ولېږل چي ورسی په فلانۍ منطقه کي ښځه ده او لیک ور سره دی، دا څوک ؤ چي رسول الله ﷺ یې

(c) ketabton.com: The Digital Library


د حاطبؓ او د دغي ښځي په موضوع خبر کړی؟ دا وحيِ وې، نو دا معلومه سوه چي د رسول اللهﷺ ټول کارونه ترپوهي او عبقریت د مخه د نبوت کارونه وه چي د اللهﷻ له طرفه يې تائيد او تاکيد کېدی.

**دوهم:** و حاطبؓ ته د رسول اللهﷺ دغه عتاب او سر زنش، او بیا د سورة الممتحنه اولني آیاتونه د دغي موضوع په متعلق نازل سوه، دا ټول پر دې دلالت کوي چي يوه مسلمان ته که څه هم په هرحالت کي چي وي دا نه ده روا چي د اللهﷻ د دښمنانو سره دوستي او محبت وکړي، يا دا چي هغو ته د وروړ ګلوی او مرستي لاس ور وغځوي، سره د دې چي حاطبؓ خپل عذر و وايه چي زه قريش نه يم او په مکه مکرمه کي داسي څوک هم نه لرم چي زما اهل او کورنۍ هلته را وساتي خو بيا هم دغه د ده پر دليل سربېره حضرت عمرؓ د رسول اللهﷺ څخه د ده د وژلو اجازه وغوښتل او ويل: دا منافق سوی دی، يعني دغسي دلايل د قبلولو وړ نه دي.

ورونو! قرآن مجيد يوازي په سورة الممتحنه کي نه بلکه په نورو ډېرو صريحو آياتو سره ټول مسلمانان امر کړي دي چي ستاسي دوستي بايد يوازي د اللهﷻ دپاره وي، د مسلمانانو ټول علاقات په هر حال کي بايد د اسلام د دين سره د اخلاص پر اساس قائم او ولاړ وي، که د يوه مسلمان ټول کارونه د الله او اسلام دپاره نه وي نو ته څنګه د هغه مسلمان څخه دا اميد او توقع کولای سې چي دئ دي د اللهﷻ په لار کي خپل ځان او مال، خپل خواهشات او غوښتني قرباني کړي، حال دا چي هر مسلمان د اسلام دپاره د دغو ټولو شيانو په قرباني کولو سره مکلف دی، خو بد بختانه نن ورځ او په اوسني عصر کي موږ په ډېرو انسانانو کي دغه حالت وينو چي خپل ځانونه مسلمانان بولي، د لمنځو دپاره مسجدو ته ځي، چي ورته ګورې خوله يې د اذکارو او اورادو د ويلو څخه يوه لحظه نه فارغه کيږي، د تسپو د دانو يې تکهاری وي، په مجلسو کي يې د انبياء عليهم السلام او اصحاب کرامو يا د اولياء الله او پيرانو قصې يوه په بله پسې وي، مګر پر دغو ټولو سربېره د خلکو سره د ده علاقات د قوميت او وطنداری، د ژبي او د شخصي ګټو، د شهواتو او خواهشاتو پر اساس ولاړ وي او په دې يې هيڅ پروا نه کيږي چي د دغو علاقاتو په لار کي حق په باطل سره خرڅ کړي،

(c) ketabton.com: The Digital Library


یا دا چې الٰهي دین یې د خپلو د نیوي خوارو خواهشاتو دپاره یو پوښ ګرځولی وي.
دغه کسان هغه منافقان دي چې د دوی په سبب مسلمانان په قسم قسم تفرقو او ضعف اخته او مبتلا سوي دي، او دغه هغه کسان دي چې په هر وخت او هر زمان کې د دوی په مرسته او کومک د اسلام دښمنان، د اسلام او مسلمانانو پر ضد را پورته کیږي او د مسلمانانو د تباهۍ او بربادۍ سبب ګرځي.

**مریم**: دا د اهل بدر درجه ده چې دغه صحابي یې د هغه وژلو څخه خلاص کړی چې د منافق په نامه سره به وژل کېدلای، که د دغه صحابي سره هغه د بدر د اشتراک او ګډون درجه نه وای ور سره، د دغه عسکري خیانت په سبب به اعدام سوی وای، مګر څرنګه چې دئ د اهل بدر څخه ؤ د فضیلت او درجې خاوند ؤ معاف کړل سو.

په دغه موضوع کې مورږ ته دغه لار ښوونه هم وسوه: که د یوه صاحبُ الفضل یا یوه عالم څخه یو وخت یوه خطا پیښه سي د هغه سره باید داسې معامله و نه سي لکه د نورو عامو خلکو سره چې کیږي، د هغه صاحب الفضل، فضیلت، درجه او مقام باید هېر نه سي، دغه درس او ښوونه رسول الله ﷺ مورږ ته را کوي او رایې کړه: که یو شریف، یو محترم، یو عالم، یو کریم سړئ په یوه غلطي کې ولویږي، باید د نورو خلکو پر قسم معامله ور سره و نه سي لکه رسول الله ﷺ چې د دغه حاطب رضی الله عنه خطا یا ګناه د هغه فضیلت په سبب چې ده په بدر کې حاصل کړی ؤ ور معاف کړه.

په دغه قسم سره الله جل جلاله قریش په بېخبري کې پرېښوول، د مسلمانانو د تیارۍ او آمادګۍ خبر پټ وساتل سو او قریشو ته هیڅ حال و نه رسېدی.

## اسلامي لښکر
## د مکې مکرمې طرف ته حرکت کوي

د هجرت د اتم کال د روژې د میاشتي لس ورځي تیري سوي وې چې رسول الله ﷺ د مدینې منورې څخه د مکې مکرمې پر طرف حرکت وکړی او پر مدینه منوره یې ابو ذر الغفاري رضی الله عنه آمر پرېښاوه، اسلامي لښکر ډېر لږ لار تللی ؤ وې لیدل چې د ها خوا یو لښکر را رهي دی، پسله معلوماتو دا معلومه سوه چې هغه د بنو سُلَیم

(c) ketabton.com: The Digital Library


قبيله ده چې مسلمانان سوي دي او د مديني منورې پر طرف ور رهي دي چې ټوله زر نفره او پر آسانو سپاره وه، يو نفر هم پياده پکښې نسته بلکه د اوښ سپور لا نه دی ور سره، زر نفره د آس سپاره دي چې په عربي کي (فارِس) ورته وايي او جمعه يې فُرسان ده، ټوله هم په زغرو او اسلحه پټ دي دغه لښکر راغلی او مسلمانان سوي دي، رسول الله ﷺ ډير په خوشاله سو ځکه د مسلمانانو ټول لښکر چي (۷۵۰۰) نفره دي زر نفره د آس سپاره نه لري او دغه نوي مسلمانان چي را رهي دي زر نفره دي او ټول د آس سپاره دی نو خود رسول الله ﷺ ډير زيات په خوشاله سو، کله چي دوی را ورسېدل او د خپل اسلام اعلان يې وکړی عُيينه بن حِصن هغه د غطفان رئيس خو هم د مسلمانانو د لښکره سره ملګری ؤ هغه خواشينی سو ځکه قَدر او عزت بنو سُلَيم ځني يووړل، ده د ځان سره فکر کاوه که ما د غطفان نفر را سره راوستلي وای دغه شرف او عزت به زما وای، نو يې په بې معنٰی خبرو شروع وکړه وايي: دا هم فُرسان دي؟ دا خلک په جنګ نه پوهيږي، د بني سُلَيم مشر او رئيس پر را رغ کړه ويل: که دي خوښه وي سره معلومه به يې کړو، تر دښمن د مخه به اول ستا سره جنګ وکړو، سبحان الله! دا هم مسلمانان هغه نور هم مسلمانان! راغلي دي چي اسلام اعلان کړي او اوس په خپل منځ کي سيالي او لويي سره کوي؟

ځرنګه چي دوی نوي مسلمانان سوي وه هغه واقعي اسلام تر اوسه د دوی په زړو کي ځای نه ؤ نيولی، زړونه يې تر اوسه هغه د جاهليت په ناروغی اخته وه نو د دوی په منځ کي بد ويل سره شروع سوه، دا خبر و رسول الله ﷺ ته ورسېدی، هغه ﷺ راغلی او دوی يې د بد ويلو څخه منعه کړه وې فرمايل: دغه خلک دي چپه خوله سي، مګر عُيينه بن حصن بيا هم خواشينی دی چي دا څنګه کارپېښ سو؟

څه وخت وروسته بله قبيله را رهي ده او د مسلمانانو سره يو ځای نه ده، اوس نو د دغو قبيلو په يو ځای کېدلو سره د مسلمانانو د لښکر شمېر او عدد لس زره نفره سو، خو عُيينه ډير خواشينی دی چي د ده قوم نسته او شرف يې د لاسه و وتی نو رسول الله ﷺ ته ورغلی او ويل: يا رسولَ الله! والله موږ نه وو خبر چي تا د جنګ دپاره د وتلو اراده درلودل قسم په الله که موږ خبر وای موږ به هم د لښکره سره راغلي وای،

(c) ketabton.com: The Digital Library


رسول اللهﷺ و فرمایل: صحي ده خیر دي وي څه نه ده پېښه، مګر د عُیینه څخه شرف او عزت بل چا یو وړی، اوس نو عُیینه د مسلمانانو سره په مات زړه رهي دی چي بیا به د ده کارونه د حُنین یا د طائف په جنګ کي و وینو.

رسول اللهﷺ خپل لښکر پر پنځه حصې تقسیم کړی، مقدمه، قلب، مؤخره، میمنه او میسره، چي د لښکر مقدمه دوه سوه نفره د آس سپاره وه او تر ټول لښکر د مخه رهي وه چي د لښکر دپاره یې معلومات، رهنمایي او لار ښوونه کول، د دغې مقدمې مشر او قوماندان خالد بن ولیدؓ ؤ.

د مسلمانانو په لښکر کي بېله مشرانو څخه د اصحاب کرامو بل څوک نه دي خبر چي د رسول اللهﷺ قصد او إراده دکوم ځای ده، رسول اللهﷺ امر وکړی چي د هوازن پر طرف حرکت وکړی، اوس نو ټول لښکر وایي: چي موږ هوازن ته ځو، خیر لښکر د هوازن پر طرف رهي دی څو نژدې و طائف ته ورسېدل.

مسلمانانو به د معلوماتو او استخباراتو دپاره مخ ته نفر لېږل هغو نفرو دا حال معلوم کړی چي د هوازن قبیله ځانونه آماده کوي چي پر مسلمانانو حمله وکړي، خو په خپله د هوازن قبیلې بیا هم شا وخوا نفر لېږل چي د مسلمانانو د حال معلومات ولري.

د مسلمانانو د لښکر د مقدمې نفرو چي قوماندان یې خالد بن ولیدؓ ؤ د لیري یو نفر ولیدی چي رهي دی، خالدؓ نفر پسي ولېږل چي ور سی دغه نفر راولی، نفر پسي رهي سوه هغه سړئ یې ونیوی او را یې وستی، خالدؓ په خپله تحقیقات او پوښتني ځني کوي ویل: سړیه دکوم ځای یې؟ هغه ویل: د بني غِفار یم، حال دا چي سړئ د هوازن دی درواغ یې و ویل، ویل: د بني غِفار یم، خالدؓ ته بیا د بني غفار ټول ښاخونه ورمعلوم وه، نو ویل: په بني غِفار کي دکومه ښاخه یا پښې څخه یې؟ سړئ نور نه پوهېدی چي جواب ورکړي، خالدؓ ورته و ویل: د بني غِفار په کوم ځای کي اوسېږې؟ سړئ بیا هم نه پوهیږي چي څه و وایي، خالدؓ توره پر پورته کړه ویل: درواغ خو دي معلوم سوه یا رشتیا و وایه یا دې وژنم دکوم ځای یې؟ سړي ویل: د هوازن یم، خالدؓ چي د سړي پر سر یې توره نیولې وه ویل: د څه شي دپاره دلته راغلی وې؟ سړي ویل: د هوازن جاسوس یم و هغو ته مي خبرونه وروړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library


خالد رضي الله عنه دغه نفر و رسول الله ﷺ ته ور وستی او ویل: یا رسولَ الله! د هوازن جاسوس مو نیولی دی، اوس نو رسول الله ﷺ نور تحقیقات په خپله ځني کوي ویل هوازن څه کول؟ سړي ویل: ستا د جنګ دپاره یې ځانونه تیارول او آماده کول. رسول الله ﷺ و فرمایل: د دغه کار دپاره چا تشویق کړه؟ او د دې کار مشر څوک دی؟ سړي ویل مالک بن عوف.

*دغه مالک بن عوف د حنین په غزاء کې مهم شخص او سړی دی په یاد یې ولرئ.*

رسول الله ﷺ د دغه جنګ دپاره د دوی د آمادګۍ او ترتیباتو مفصل معلومات ځني کوي او بیا یې وفرمایل: چې سعد او هلال څه کول؟ چې دغه دوه نفره هم د هوازن د مشرانو څخه وه، جاسوس وویل: هغو د مالک بن عوف غوښتنه نه کړه قبوله.

رسول الله ﷺ امر وکړی چې دغه جاسوس بندي کړی، کله چې مسلمانان په دغه حال خبر سوه چې د هوازن جاسوس یې نیولی دی او رسول الله ﷺ تحقیقات ځني وکړه او بیا یې بندي کړی د مسلمانانو به یقین سو چې زموږ جنګ د هوازن د قبیلې سره دی ځکه که د هوازن سره جنګ نه وای دغه جاسوس به یې ایله کړی وای، دغه جاسوس ته یې أمان هم ورکړی او بندي یې هم کړی نو یقیناً زموږ جنګ د هوازن د قبیلې سره دی.

مګر رسول الله ﷺ د دې دپاره د دغه جاسوس په بندي کولو امر وکړی چې دغه مسئله به نا معلومه سي چې د مسلمانانو جنګ د چا سره دی، کله چې د مسلمانانو لښکر د هوازن و طرف ته به ور نژدې سو رسول الله ﷺ امر وکړی چې مخ پر مکه مکرمه را وګرځی، اوس خلک په حیرت کي سوه چې د رسول الله ﷺ نظر ولي تغیر وکړی؟ خلک نه پوهیږي چې زموږ د لښکر مقصد څه او کوم ځای دی؟ دا د رسول الله ﷺ هغه کوښښ ؤ چې حال پټ وساتل سي او قریش په بې خبري کي پاته سي.

مخ کي خو رسول الله ﷺ لښکر پر پنځو حصو وېشلی ؤ اوس چې مخ پر مکه مکرمه رهي سوه دلته یې بیا هره حصه و قبیلو ته و وېشل، د لښکر په هره حصه کي یې هغه خپله قبیله سره یو ځای کړه، د دې تقسیم څخه بیا مقصد دا ؤ چې د هري قبیلې خلک یو د بله سره پېژني نو په جنګ کي یو د بل له شرمه نه تښتي ځکه هره قبیله چې

(c) ketabton.com: The Digital Library


سره يو ځای وي د شرم او بد نامی د بيري نه تبنتي او که وتبنتي و مغې قبيلې ته پښتور ورکول کيږي، دا نو د لښکر دوهم تقسيم ؤ. کله چې د مسلمانانو لښکر مکې مکرمې ته نژدې سو رسول الله ﷺ بل دريم تقسيم وکړی، هغه مقدمه چې دوه سوه نفره وه هغه يې زر نفره کړه چې ټول د آس سپاره او د بني سُلَيم قبيله وه، دا هغه قبيله وه چې د مدينې منورې پر لار زر نفره د آسانو سپاره د رسول الله ﷺ سره يو ځای سوي وه دغه قبيله يې د لښکر مقدمه وګرځول او قومندان يې خالد بن وليد ﷺ ؤ.

د لښکر د نورو حصو قومندانان زبير بن العوام، ابو عبيده عامر بن الجراح، سعد بن عباده ﷺ وه چې د سعد بن عُباده ﷺ دپله مهاجرين او انصار وه، اوس د مسلمانانو لښکر و مکې مکرمې ته نژدې سو، خود مکې مکرمې اوسېدونکي او قريش په هيڅ نه دي خبر حال دا چې د مسلمانانو د لښکر او د مکې مکرمې په منځ کي ډيره لږ لار پاته ده.

*د مسلمانانو لښکر دلته پرېږده اوس مکې مکرمې ته راسه.*

په دغه وخت کي د مکې مکرمې څخه يو سړئ د خپلي کورنيه سره د هجرت په نيت را و وتی غواړي چې مدينې منورې ته مهاجر ولاړ سي او په هيڅ حال نه دی خبر چې د مسلمانانو لښکر دلته نژدې راغلی دی، دغه مهاجر سړئ څوک ؤ؟

دا عبّاس بن عبدالمطلب ﷺ د رسول الله ﷺ اکا ؤ، مسلمان سوی دی او په زړه کي يې اسلام ځای نيولی دی (يا دا چې دغه اوس يې خپل اسلام اظهار او ښکاره کړی) نو اوس غواړي چې هجرت وکړي يو څه لار چې ولاړی که ګوري د مسلمانانو لښکر په مخه ورغلی، لښکر ته ور داخل سو او رسول الله ﷺ ته ورغلی په شهادتينو يې اقرار وکړی، رسول الله ﷺ ډير زيات په خوشاله سو، عبّاس ﷺ هغه آخرنئ مهاجر دی پسله عبّاس ﷺ څخه بيا بل چا د مکې مکرمې څخه هجرت نه دی کړی ځکه د ده تر هجرت وروسته مکه مکر مه فتحه سوه او د مکې مکرمې تر فتحې وروسته بيا د مکې مکرمې څخه هجرت نسته، رسول الله ﷺ فرمايي: «لَاهِجرَةَ بَعدَالفتح» يعني: د مکې مکرمې تر فتحې وروسته بيا د مکې مکرمې څخه هجرت نسته، ځکه مکه مکرمه هم د اسلام ښار سو، البته د نورو کفري ملکو څخه د اسلام و ملک ته د خپلو شرايطو سره برابر هجرت سته، اجر او ثواب هم لري، بلکه په ځينو حالاتو کي هجرت کول لازم دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


نو عبّاس رضی الله عنه هغه آخرنۍ نفر دی چې هجرت یې وکړی او د الله جل جلاله إراده داسې وه چې دی رضی الله عنه هم د هجرت په صفت مکرم او مشرف کړي، بیا چې رسول الله ﷺ څه نور هم مکې مکرمې ته نژدې سو د رسول الله ﷺ د اکا زوی ابوسفیان بن الحارث او د عمه زوی عبدالله بن أبي أمیه و لښکر ته ورغله خو رسول الله ﷺ له دویه څخه مخ واړاوه ځکه دغه دوو نفرو و رسول الله ﷺ ته ډیر آزار ورکړی ؤ او په اشعارو کې یې د ده ﷺ ډیر ذم ویلی ؤ چې دغه بیا په خپله ډیره اوږده قصه ده.

*دحیات الصحابه د نشر سوي سلسلې په شپږمه فیته کې یې واورئ.*

رسول الله ﷺ نور هم د لښکره سره مخ پرمکه مکرمه رهي دی او دا خو درته معلومه ده چې میاشت د روژې ده نو د رسول الله ﷺ او د لښکر روژه هم ده څو (کُدید) ته ورسېدل کدید یو اوبه وې چې د عسفان او قُدید په منځ کې وې، دلته رسول الله ﷺ او خلکو روژې ماتې کړې او له دغه ځایه څخه یې بیا حرکت وکړی څو د شپې یې په وادي فاطمه کې واړول چې هغه وخت (مر الظهران) ورته ویل کېده، دلته رسول الله ﷺ ټول لښکر امر کړی چې اوروونه بل کړی، لس زره نفره لښکر دی او ټولو اوروونه بل کړه چې تقریباً لس زره ځایه اوروونه بل سوه، په دغه شپه د پیره دارانو مشرتوب د حضرت عمر رضی الله عنه پرغاړه ؤ.

*(د مسلمانانو لښکر دلته پرېږده چې اوروونه بلوي)*

حضرت عبّاس رضی الله عنه چې د مسلمانانو په لښکرکې دی فکر وهي او د ځانه سره وایي: که دغه لښکر په زور او جنګ مکې مکرمې ته داخل سي ټول قریش تباه کیږي، د قریشو یو نفر هم ژوندئ نه پاته کیږي ځکه د قیشو شمېر اصلاً هم لږ دی، هو، دوی د عربو اشراف او مشران وه خو شمېر یې لږ ؤ او که اوس دغه لښکر په جنګ او وژنه مکې مکرمې ته ننوزي نو د قریشو قبیله ختمیږي او څوک یې نه پاته کیږي، عبّاس رضی الله عنه دا ښه وبلل چې د قریشو څخه وغواړي چې بېله جنګه تسلیم سي او داسې کار و نه کړي چې دغه لښکر په زور او جنګ مکې مکرمې داخل سي.

عبّاس رضی الله عنه په دغه شپه د رسول الله ﷺ پر غاتره سپور سو او د لښکره څخه د مکې مکرمې پر طرف ور ووتی غواړي چې په دغه منطقه کې یو څوک و ویني او ابوسفیان

(c) ketabton.com: The Digital Library


ته يې ورولېږي چې بيله جنګه تسليم سه په والله د دغه لښکر په مقابل کې هيڅ قوت او طاقت نه لرې، دا خو دلته حضرت عباس رضي الله عنه د لښکره څخه وروو تی.

هلته په مکه مکرمه کې ابوسفيان او د قريشو نور مشران سره ناست دي خبرې او مشورې سره کوي، هغه نور ورته وايي: يا اباسفيان! په دغه اوس ورځو کې د مدينې منورې له طرفه هيڅ حال نه لرو او څوک هم له هغه طرفه نه راځي چې پوښتنه ځنې وکړو، خبرونه او معلومات قطعه دي او دا عجبه ده پخوا به همېشه له هغه ځايه نفر راتله او حال به يې راوړی خو اوس بېخبره پاته يو او دا بېره سته چې مسلمانانو زموږ د حملې نيت کړی وي او زموږ په بېخبرۍ کې حمله را باندې وکړي، نو ته مدينې منورې ته ولاړ سه او د محمّد ﷺ سره خبرې وکړه، خو ستا اصلي مقصد به دا وي چې هلته معلومات وکړه که محمّد ﷺ ته لوی او قوي لښکر را ټول سوی ؤ نو مکه ور تسليم کړه ځکه موږ نه غواړو چې مسلمانان په جنګ او زور مکې ته را داخل سي، که بيا چيرې کوچنۍ او ضعيفه لښکر ورته را ټول سوی ؤ بيرته راسه او جنګ ور سره کوو.

*سبحان الله! کافر قريش تر اوسه پر جنګ ټينګ دي او د جنګ خبرې کوي.*

ابوسفيان ته د نورو مشرانو له طرفه دغه وظيفه ورکول سوه مګر ابوسفيان غوښتل چې د دغه سفره څخه ځان خلاص کړي ځکه يو وار د مخه تللی ؤ او بې فايدې بيرته راغلی اوس نه غوښتل چې بيا ولاړ سي، نو په دغه شپه د مکې مکرمې څخه را و وتی، حکيم بن حزام چې د قريشو بل مشر دی دا هم ور سره ملګری دی د مدينې منورې پر لار ګوري چې ممکن له هغه طرفه يو څوک راسي او دئ معلومات ځنې وکړي چې په مدينه منوره کې څه حال ؤ؟ ابوسفيان د مدينې منورې پر لار يو څه نور هم مخ ته ولاړې چې ښايي يو څوک را رهي وي، که ګوري اورونه بل دي، دومره اورونه بل وه چې مځکه يې ټوله نيولې وه ځکه د مسلمانانو د هرې خېمې مخ ته اور بل ؤ، ده چې ورته وکتل پوه سو چې دا ډير لوی لښکر دی، خپل ملګري حکيم بن حزام ته يې و ويل: دا څوک دي؟ دا د چا لښکر دی؟ په والله د دې لښکر د جنګ طاقت هيڅوک نه لري، واقعاً هم په هغه وختو او په جزيرةُ العرب کې لس زره نفريزه لښکر لوی لښکر ؤ، ابوسفيان د حکيم بن حزام سره د دغه لښکر د ډېروالي په باره کې خبرې کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


په دغه وخت کي يو بل درېيم نفر هم د مکې مکرمې څخه را وتلی دی، چي هغه بُديل بن ورقاء د خزاعه د قبيلې مشر او رئيس ؤ، هغه خزاعه چي د بنو بکر قبيلې د قريشو په ملګرتيا دروېشت نفره ور وژلي وه او هغه جنګ د حديبيې د صلحې د ماتېدلو او د مکې مکرمې د فتحې سبب وګرځېدی، دغه بُديل هم را وتلی دی، دئ بيا ولي را وتلی دی؟ څکه دئ پوهېدی چي رسول الله ﷺ د لښکره سره راځي نو دئ به همېشه په انتظار ؤ او تر مکې مکرمې دباندي به د معلوماتو دپاره ور وتی چي آيا د رسول الله ﷺ او مسلمانانو لښکر را رسېدلی دی که يا؟

نو بديل بن ورقاء د مسلمانانو د لښکر د راتګ د معلوماتو دپاره را وتلی دی، ابوسفيان او حکيم بن حزام را وتلي دي ګوري چي د مدينې منورې له طرفه ير څوک راسي او دوی د حالاتو معلومات او پوښتني څني وکړي او عبّاس بن عبدالمطلب رضي الله عنه بيا د مسلمانانو د لښکره څخه را وتلی دی په يو چا پسي ګرځي چي ابوسفيان ته يې ور ولېږي چي بېله جنګه تسليم سه، دغه څلور نفره په دغه شپه کي تر مکې مکرمې دباندي راوتلي دي چي هر يو يې جلا جلا مقصد لري.

اول بُديل بن ورقاء د ابوسفيان سره مخامخ او يو ځای سو، ابوسفيان پوښتنه څني وکړه چي دا څوک دي؟ بُديل ويل نه يم خبر، بديل پوهېږي چي دا د مسلمانانو لښکر دی مګر ابوسفيان ته منکره سو غواړي چي قريش نه سي پوه او بېخبره پاته وي او د دې دپاره چي د ابوسفيان فکر واړوي ويل: ښايي دا خزاعه زما قبيله وي او ستا سره يې د جنګ إراده وي څکه تاسي د دوی نفر ور و وژل، ابوسفيان هوښيار ؤ ويل: يا بُديل! خزاعه تر دغه لږ دي، خزاعه دومره لښکر نه لري، بُديل رضي الله عنه و ويل: ښايي هوازن وي، ابوسفيان ويل: يا، هوازن هم نه دي هغه هم دومره لښکر نه لري، دوی په دغه خبرو کي وه چي عبّاس رضي الله عنه د دوی خبري واورېدې.

عبّاس رضي الله عنه وايي: زه د رسول الله ﷺ پر غاتره سپور وم چي د ابوسفيان خبري مي واورېدې چي ويل: ما هيڅکله دومره اوروته او دومره لښکر نه دی ليدلی او بُديل ورته ويل: دا خزاعه دي ستا د جنګ دپاره راغلي دي، ابوسفيان ويل: خزاعه تر دې لږ دي، عبّاس رضي الله عنه وايي: ما د ابوسفيان آواز وپېژندی نو مي ورته و ويل: يا ابا حنظله!

(c) ketabton.com: The Digital Library


هغه ویل: څوک یې؟ ابا الفضل یې؟ ما ویل هو، ویل دا څه خبر دی او دا څوک دي؟ عبّاس رضی الله عنه ویل: دا رسول الله ﷺ دی ټول عرب یې ستا د جنګ دپاره را وستلي دي تسلیم سه، که مکې مکرمې ته په زور داخل سو والله دا به د ابد دپاره د قریشو هلاک وي، قریش نېست او نا بود کیږي، رشتیا هم ابوسفیان چې دا حال او لښکر ولیدی پوه سو چې هیڅ مي په وسه نه ده پوره.

ابوسفیان ویل: اوس حل او چاره څه ده ستا په فکر او نظر زه باید څه وکړم؟ عبّاس رضی الله عنه ورته و ویل: په والله که د مسلمانانو لاس ته ورغلې سر دي درپرې کوي نو زما سره پر دغه غاتره سپور سه چې رسول الله ﷺ ته دي ور ولم او د هغه څخه ستا دپاره امان وغواړم او مکه بیله جنګه ور تسلیم کړه چې مسلمانان مکې مکرمې ته بېله جنګه داخل سي او څوک و نه وژل سي، ابوسفیان چې بیري اخیستی ؤ ویل: اوس زما سر د دوی په کار دی او دوی د جنګ دپاره راغلي دي که ما و ویني وژني مي زه څنګه در سره ولاړ سم؟ ابوسفیان بیربري وایي: اوس خو صلحه پای ته ورسېده او دا لښکر د جنګ دپاره راغلی دی که زه هلته ورسم او هر چا ولیدم وژني مي، خو عبّاس رضی الله عنه ورته و ویل: ته مه بېربږه زه امان درکوم زما سره راځه.

ابوسفیان یې د رسول الله ﷺ پر غاتره یا قچره تر شا ور سره سپور کړی او د مسلمانانو د لښکر پر طرف ور رهي سوه غواړي چې رسول الله ﷺ ته ورسي او هغه دوه نفره (یعني: بدیل بن ورقاء او حکیم بن حزام) مکې مکرمې ته ولاړل، اوس عبّاس رضی الله عنه او ابوسفیان لښکر ته را ورسېدل، لکه مخ کي چې مو درته ویلي وه د لښکر د پیره دارانو او امنیت مشر او قومندان حضرت عمرفاروق رضی الله عنه ؤ، کله چې عبّاس رضی الله عنه او ابوسفیان لښکر ته را ورسېدل هر پیره دار چې به دوی ولیدل و به یې ویل: د رسول الله ﷺ اکا او د رسول الله ﷺ پر غاتره! پرې یې ږدی اجازه ورکړی، پیره داران د شا و نفر ته نه ګوري او نه ورته متوجه کیږي چې دغه بل نفر څوک دی، خو حضرت عمر بن الخطاب رضی الله عنه ته ور ورسېدل هغه ویل: دا څوک دي او ورته را ولاړسو، کله چې یې ابوسفیان ولیدی په لوړ آواز یې و ویل: ابوسفیان د الله دښمن؟ الله لره دي حمد وي چې بېله عهده او امانه یې په لاس را کړې، یعني: اوس صلحه نسته او ته په لاس

(c) ketabton.com: The Digital Library


راغلې، عمرؓ توره پورته کړه غواړي چې ابوسفيان و وژني، مګر عباسؓ پر رغ کړه ويل: يا عمر! دئ زما په جوار کي دی، حضرت عمرؓ و ويل: دا د کفارو شر دی ده لره جوار نسته، حضرت عبّاسؓ بيا و ويل: دئ زما په جوار کي دی. عمرؓ غواړي چې وې وژني مګر عبّاسؓ جوار ورکړی دی نه پوهيږي چې اوس څه وکړي، نو حضرت عمرؓ د رسول الله ﷺ د خېمې پر طرف په چابکي ور رهي سواو ځغلي، دلته عبّاسؓ پوه سو: که عمرؓ و رسول الله ﷺ ته ورغلی او د ابوسفيان د وژلو اجازه يې ځني واخيستل نو يې وژني، ځکه ورته و به وايي: يا رسولَ الله! ابوسفيان مو ونيوی د وژلو اجازه يې راکوې؟ او که ورغلی ښايي اجازه هم ځني واخلي، عبّاسؓ وايي: ما هم د رسول الله ﷺ د خېمې طرف ته غاتره ورچابکه کړه.

هغه يو پر ښو ورځغلي او بل بيا غاتره پسي ځغلوي، مګر عمرؓ اول د رسول الله ﷺ خېمې ته ور ننوتی او ويل: يا رسولَ الله! الله جل جلاله ابوسفيان بېله عهده او ذمې په لاس را کړی، عبّاسؓ وايي زه هم د غاترې څخه ورغورځېدم او خېمې ته ورننوتم او ما ويل: يا رسولَ الله! ما جوار ورکړی دی، عبّاسؓ وايي: ما د رسول الله ﷺ تر زنه لاس ورلاندي کړی (لکه څوک چې چا ته زاري کوي) او ورته و مي ويل: نن شپه به د ابوسفيان سره بېله ما بل څوک خبري نه کوي.

رسول الله ﷺ و فرمايل: يا عبّاس! ابوسفيان ستا خېمې ته در سره بوزه او سهار يې ما ته راوله، عبّاسؓ وايي: ابوسفيان ما را سره بوتلی او په سهار کي مي رسول الله ﷺ ته ور وستی، کله چې رسول الله ﷺ وليدی نو يې ورته و ويل: يا اباسفيان! آيا د دې وخت نه دی راغلی چې دا شاهدي آداء کړې: لا إله إلا الله؟ ابوسفيان ويل: څومره حليم او کريم يې او څومره د صلهٔ رحمي خاوند يې! که چيري بېله يوه الله نور آلهه وای مور ته به يې نن فايده را رسولې وای، نو بېله دغه يوه الله نور آلهه نسته، رسول الله ﷺ ورته و ويل: آيا د دې وخت نه دی راغلی چې شاهدي آداء کې چې زه رسول الله يم؟ ابوسفيان ويل: په دغه باره کي مي تر اوسه په زړه کي يو شئ سته، يعني: تر اوسه په دې کي شکمن يم چې ته رسول الله يې.

دلته عبّاسؓ ورته و ويل: يا اباسفيان! مسلمان سه او د مخه تردې چې سر دي

(c) ketabton.com: The Digital Library


پرې سي شاهدي أداء کړه چي {لا إله إلا الله وأن محمّداً رسول الله} او په والله که مسلمانان په زور مکې مکرمې ته داخل سوه دا به تر ابده د قريشو ذِلّت وي، اسلام غالبه او ښکاره سو او ته تر اوسه په شک کي يې، نو ابوسفيان مسلمان سو مګر په خوله او ويې ويل: {أشهد أن لا إله إلا الله و أشهد أن محمّداً رسول الله}.

*دا خويې په خوله وويل، مګر په زړه کي يې تصديق نه ؤ، چي په دې به بيا په وروسته کي پوه سو.*

ابوسفيان و رسول الله ﷺ ته و ويل: يا رسولَ الله! آيا د مکې مکرمې خلکو ته امان ورکوې؟ دلته بيا عبّاس رضي الله عنه مداخله وکړه او ويل: يا رسولَ الله! ابوسفيان داسي سړئ دی چي فخر يې خوښ دی داسي يو امتياز ورکړه چي دئ په هغه سره فخر وکړي، رسول الله ﷺ و فرمايل: هو، هر څوک چي د ابوسفيان کورته ننوزي هغه په امان دی، ابوسفيان په دې امتياز خوشاله سو مګر ويل: يا رسولَ الله! زما کور کوچنئ دی دومره نفر نه ځايوي، رسول الله ﷺ و فرمايل: که څوک مسجد الحرام ته داخل سو هغه هم په امان دی، ابوسفيان ويل: دا هم کفايت نه کوي، رسول الله ﷺ وفرمايل: هر څوک چي په خپل کورکي کښيني اوپه ځان پسي دروازه وتړي هغه هم په امان دی، ابوسفيان ويل: هو دا عام او پراخه امان دی، اوس نو په مکه مکرمه کي لکه بنديز چي ولګېدی، ځکه د دې خبرو معنٰی دا ده: کله چي مور مسلمانان مکې مکرمې ته داخل سو او هر څوک مو دباندي پر لارو وليدل هغه لره امان نسته، امان چيري دی؟ د ابوسفيان په کورکي، په مسجدالحرام کي او هر څوک چي په خپل کورکي کښيني او دروازه په ځان پسي بنده کړي هغه په امان دی، مګر هر هغه څوک چي پر لارو او کوڅو وليدل سي هغه وژل کيږي.

ابوسفيان په دې امان خوشاله سو او غوښتل چي ولاړسي قريش خبر کړي، ابوسفيان مخ پر مکه مکرمه رهي سو عبّاس رضي الله عنه هم ور سره دی، خو رسول الله ﷺ و عبّاس رضي الله عنه ته ور بږغ کړه هغه بيرته را وګرځېدی او ابوسفيان يوازي رهي سو، دلته رسول الله ﷺ عبّاس رضي الله عنه ته ځيني امرونه او لارښووني وکړې، بيا نو عبّاس رضي الله عنه هم په ابوسفيان پسي رهي سو او هلته مکې مکرمې ته نژدې چي د دوو غرو په منځ کي

(c) ketabton.com: The Digital Library



مکې مکرمې ته د ننوتلو لار تېره سوې وه (چې مورږ تنګئ ورته وايو) دلته عباس رضي الله عنه په ابوسفيان پسې ځان وررساوه او ږغ يې پر وکړی ويل: يا اباسفيان! و درېږه، ابوسفيان چې په خپل چرت کي ډوب ؤ او حواس يې بايللي وه ترشا يې وکتل او وبېرېدی. ويل: غدر کوی يا بني هاشم؟ عبّاس رضي الله عنه ويل: يا غواړم چې خبري در سره وکړم.

ابوسفيان ويل: نژدې ؤ چې زړه مي درېدلی وای و دي بېرولم خو يو څه په آرامه به دي را ته ويلي وای چې صبر وکه يو څه درته وايم، داسي په يوه وار دي ږغ را باندي وکړی چې، و درېږه، زه دي و بېرولم، عبّاس رضي الله عنه ويل: والله ما ګمان نه کاوه چې ستا بېره دي دغي اندازې ته رسېدلې وي چې له ږغه هم بېرېږې، ابوسفيان ويل: بنه څه وايې؟ عبّاس رضي الله عنه ويل: نه يم خبر فقط رسول الله ﷺ امر کړم چې د دغه دوو غرو په منځ کي دي پر دغه ځای و دروم.

دوی دالته و درېدل او هلته رسول الله ﷺ لښکر امر کړی چې حرکت وکړی، مګر هو د ابوسفيان مخ ته پر داسي قسم تېرسی چې خپل جنګي او عسکري قدرت ښکاره کړی، رسول الله ﷺ غواړي چې خپل لښکر او قواوي ابوسفيان ته ورښکاره کړي، اوس چې د سه شنبې د ورځي سهار دی او د هجرت د اتم کال د روژې د مياشتي اووه لسمه ورځ ده رسول الله ﷺ او اسلامي لښکر د وادي فاطمې څخه چې مر الظهران ورته ويل کېده د مکې مکرمې طرف ته حرکت وکړی، د لښکر اوله ډله چې مقدمه وه هغه د بني سُلَيم قبيله ده چې زر نفره د آس سپاره او ټوله په اسلحه پټ دي د خالد بن وليد رضي الله عنه په قومنداني دغه ځای ته چې عبّاس رضي الله عنه او ابوسفيان دواړه په غره کي ناست دي را ورسېدل ابوسفيان دغه قبيله و نه پېژندل ويل يا عبّاس! دا څوک دي؟ عبّاس رضي الله عنه ويل: دا بني سُلَيم دي، ابوسفيان ويل: زمورږ او د بني سُلَيم يې سره څه زمورږ او د هغو په منځ کي خو هيڅ اختلاف او مشکل نسته دوی ولي راغلي دي؟ بيا بله قبيله تېره سوه بيا بله قبيله خو هره قبيله چې تيرېږي ابوسفيان د عبّاس رضي الله عنه څخه پوښتنه کوي چې دا څوک دي او هغه يې ورښيي، ابوسفيان د هري قبيلې سره وايي: زمورږ او د دوی يې سره څه؟ رسول الله ﷺ ټولي قبيلې امر کړي وې کله چې د ابو سفيان پر برابري ورسی په لوړ آواز به درې تکبيره واياست، الله اکبر، الله اکبر، الله اکبر.

(c) ketabton.com: The Digital Library


د دغو قبائلو په ليدلو سره د ابوسفيان زړه نور هم ولوېدی او پوښتنه به يې کول دا څوک دي؟ دا څوک دي؟ د عربو ډيري قبيلې سره يو ځای سوي وې چې هغه قبيلې: جُهَينه، غِفار، مُزَينه، سُلَيم، تميم، أسد او قيس څخه عبارت وې او بيا په آخر کي يوه مجموعه يا د لښکر يوه حصه تېرېدل چې دغه مجموعه تر ټوله لښکر منظمه او قوي وه، ټول په اسلحه داسي پټ وه چې بېله سترګو يې بل ځای نه معلومېدی (زرغونه ټولی) چې دا ټولی د مهاجرينو او انصارو څخه جوړه سوې وه او د دې ټولی قومندان په خپله رسول الله ﷺ ؤ، په دغه ځای کي په خپله رسول الله ﷺ د دغي ټولی مشرتوب کاوه، ابوسفيان چې دغه ټولی وليدل نو يې په تعجب سره و ويل: سبحان الله! يا عبّاس! دغه څوک دي؟ عبّاس رضي الله عنه و ويل: تا نه و پېژندل؟ ويل: يا والله! نه يې پيژنم دا څوک دي؟

کله چې ابوسفيان د دغي ټولی حرکت او انظباط، عسکري او حربي قدرت وليدی چې په نورو ټولو قبائلو کي يې داسي انتظام، قوت او حرکت نه ؤ ليدلی، نو خود په ډير تعجب سره يې و ويل: يا عبّاس! دغه څوک دي؟ په والله هيڅوک د دغي ټولی مخ ته نه سي درېدلای او هيڅوک يې د جنګ او مقابلې طاقت نه لري.

عبّاس رضي الله عنه و ويل: دا رسول الله ﷺ دی په مهاجرينو او انصارو کي.

ابوسفيان د دغه لښکرو په ليدلو سره عبّاس رضي الله عنه ته و ويل: په والله ستا د وراره پاچهي ډيره لويه سوې ده، عبّاس رضي الله عنه و ويل: يا اباسفيان! دا پاچهي نه ده بلکه نبوت دی، ابوسفيان و ويل: هو نبوت دی.

بيا نو رسول الله ﷺ و ابوسفيان ته د تللو اجازه ورکړه، ويل اوس نو مکې مکرمې ته ولاړ سه، د رسول الله ﷺ له دغه کاره مقصد دا ؤ چې ابوسفيان ټول لښکر د اسلحې او جنګي طاقته سره وويني ځکه که ابوسفيان دغه لښکر و نه ويني اسلحه او استعداد يې و نه ويني او مکې مکرمې ته ولاړ سي ممکن خپلي رأيي او نظر ته تغير ورکړي او بيا د جنګ إراده وکړي، حال دا چې رسول الله ﷺ جنګ او وژنه نه غوښتل دا يې خوښه وه چې مکه مکرمه بېله جنګه تسليم سي نو ځکه يې خپلي قواوي په ابوسفيان وليدلې او کله چې ابوسفيان دغه قوي لښکر وليدی هغه هم پوه

(c) ketabton.com: The Digital Library


سو چې جنګ فايده نه لري مکه مکرمه بايد ښېله ځنده او ښېله عذره تسليم کړم.

ابوسفيان مکې مکرمې ته داخل سو او هلته يې په لوړ آواز سره ناري کړه: يا معشر القريش! دغه محمد ﷺ دی د دومره لښکره سره درته راغلی دی چې تاسي هيڅ مقاومت نه سی ور سره کولای، د قريشو مشران چې په هيڅ نه دي خبر پر را ټول سوه، ويل څه خبر دي را وړی دی؟ ابوسفيان ويل لښکر دی، ټولياني دي، قبيلې دي، تسليم سی چې سالم پاته سی.

هند بنت عُتبه چې د ابوسفيان ښځه وه هغه وبېرېدل چې ابوسفيان مکه مکرمه مسلمانانو ته تسليموي او دا کله راضي وه چې مکه مکرمه دي مسلمانانو ته تسليم سي ځکه دا هغه مسلمانان دي چې په بدر کي يې د دې ورور، پلار او اکا ور و وژل او اوس مکه ور تسليم سي، دا کار يې هيڅ نه ؤ خوښ او په قهر سوه، ابوسفيان يې تر ږيره ونيوی او پر نورو مشرانو يې ناري کړه: مکه مه ورتسليموی، خو ابوسفيان وايي: يا ور تسليم يې کړی والله تاسي ټوله وژني، هند چې ډېره په قهر او غضب کي وه ويل: ابوسفيان و وژنی دغه احمق، چاغ او پنډ وايي تسليم سی، دئ و وژنی دا ډير بد مشر دی، د دې پر ځای چې پر جنګ مو دلاوره کړي دئ مو په تسليمېدلو امر کوي؟

ابوسفيان و ويل: هوښيار اوسی چې د دې په خبرو مغروره نه سی والله ټول قريش وژني، ما په خپلو سترګو وليدل بني سُلَيم، تميم، خُزاعه، فلانی او فلانی قبيلې مي ټوله وليدې چې را رهي دي، والله که يې يوازي انصار او مهاجرين را وستل هيڅوک د هغو قوت او طاقت نه لري، قريشو ويل: چاره څه ده؟ ويل تسليم سی، ويل څنګه تسليم سو؟ ابوسفيان ويل: که څوک د ابوسفيان کور ته ننوتل په امان دي، قريشو ويل: خدای دي خوار که موږ ستا په کور کي ځايېږو؟ چې ستا په کور ننوزو، ابوسفيان ويل: که څوک مسجد الحرام ته ننوتل هغه هم په امان دي.

قريشو ويل: يا اباسفيان! په مسجد کي هم نه ځايېږو، ابوسفيان ويل: که چا د خپل کور دروازه په ځان پسي وتړل هغه هم په امان دي، قريشو ويل: هو دا عامه عفوه ده، نو ټوله مخ پر خپلو کورو رهي سوه، خپل اهل او اولادونه سره را ټولوي او په کورو ننوزي دروازې په ځانو پسي تړي، ويل: چې څوک مو دباندي او پر لارو و نه ليدل سي ځکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وژل کیږي، اوس نو د مکې مکرمې اهل او اوسېدونکو د تسلیمېدلو نیت وکړی.

خو هلته د قریشو او مکې مکرمې ځینو بېباکه او مغروره خلکو دا إراده وکړه چې مونږ د مسلمانانو سره جنګیږو، نو ځیني اوباش او لچک خلک د عِکرمه بن أبي جهل، صفوان بن اُمیه، سهیل بن عَمرو، حارث بن عبید الله، حارث بن هشام، عبدالله بن ربیعه او نورو مشرانو سره یو ځای سوه ویل: که قریش کامیابه سوه خو مونږ د دوی سره یو او که قریش مغلوبه سوه هر څه چې بیا مسلمانانو غوښتل هغسې به ور سره وکړو، دغه خلک په خندمه کې سره یو ځای سوه او د مسلمانانو سره د جنګ کولو إراده لري، په دغه ډله کې د بنو بکر د قبیلې یو سړئ هم ؤ چې حماس بن قیس نومېدی، دغه سړي په خپل کور کې اسلحه سره برابرول او یو ځای کول، ښځې یې ورته و ویل: دغه اسلحه د څه شي دپاره یو ځای کوې؟ ده ویل: د محمّد او د هغه د اصحابو د جنګ دپاره، ښځې یې ورته ویل: په والله د محمّد او د هغه د اصحابو مخ ته هیڅوک او هیڅ شئ نه سي درېدلای، ده ویل: والله زما دا امید دی چې زه به د هغو څخه ځیني ستا نوکران کړم (یعني: بندیان به یې ونیسو او زمونږ مریان به وي) دغه سړئ هم په هغه کسانو کې ؤ چې د مسلمانانو د جنګ دپاره د قریشو سره یو ځای سوي وه.

*(په یاد یې ولری د دغه سړي چې نوم یې حماس دی پاته قصه به لږ وروسته درته بیان سي)*

د دغه سرکښو قریشو د دغه کوچني لښکر غړي سره را ټول سوه او په هغه حصه کې ولاړ دي چې له هغه طرفه د خالد بن ولید رضی الله عنه لښکر راځي، هلته بیا رسول الله ﷺ د مکې مکرمې پر څلورو اطرافو لښکر را رهي کړی، یعني: لښکر یې پر څلورو حصو ووېشی چې مکې مکرمې ته د څلورو لارو څخه ور داخل سي، په هغه اول تقسیم کې چې لښکر پر پنځو حصو وېشل سوی ؤ هلته لښکر د جنګ دپاره تیار ؤ، که قریشو جنګ کولای لښکر د جنګ آمادګي درلودل، مګر اوس مکې مکرمې ته داخلېدل و هغه تقسیم ته ضرورت نه لري نو یې لښکر و څلورو حصو ته و وېشی چې د لښکر د هري حصې مشران او قومندانان دغه نفر وه: خالد بن ولید، زبیر بن العوام، ابو عبیده عامر بن الجراح او سعد بن عُباده رضی الله عنهم اجمعین، خو سعد بن عُباده رضی الله عنه په هغه وخت کې چې د ابوسفیان مخ ته تېرېدی هغه ته یې ویلي وه: نن ورځ د قصابۍ ورځ ده،

(c) ketabton.com: The Digital Library


نن ورځ د مکې مکرمې حُرمت حلالیږي، نن ورځ الله جل جلاله قریش ذلیله کړه.
*(یعني دا چې په مکه مکرمه کې جنګ او وژنه حرام دي خو نن ورځ جائزاو روا ګرځي)*

دغه خبر و رسول الله ﷺ ته ورسېدی، عثمان بن عفان او عبدالرّحمٰن بن عوف رضي الله عنهما و رسول الله ﷺ ته و ویل: یا رسولَ الله! موږ بېرېږو چې سعد بن عباده رضي الله عنه به په قریشو کې قتل او وژنه وکړي، رسول الله ﷺ و فرمایل: داسې نه ده لکه دې چې وایې بلکه نن ورځ د رحمت او مهربانۍ ورځ ده، نن ورځ داسې ورځ ده چې کعبه شریفه پکښې معظمه کیږي (ځکه د بتانو څخه خالي کېدل) په نن ورځ کې الله جل جلاله قریش معززه کوي (ځکه دا د قریشو عزت دی چې اسلام ته داخل سي) بیا نو رسول الله ﷺ امر وکړی چې د سعد بن عُباده رضي الله عنه څخه دې بیرغ واخیستل سي، سعد رضي الله عنه له قومندانیه ایسته او معزول کړل سو.

مګر د دې دپاره چې په خپله سعد رضي الله عنه او انصار دغه د ده په ایسته کولو ناراضه نه سي نو یې بیرغ و قیس بن سعد بن عباده رضي الله عنه ته ورکړی چې د دغه سعد رضي الله عنه زوی ؤ، یعني: د پلار څخه واخیستل سو او زوی ته ورکول سو (دا د رسول الله ﷺ حکمت، پوهې او ښه تصرف ؤ چې د خپلو اصحاب کرامو سره یې څنګه معامله کول).

لښکر د څلورو طرفو څخه حرکت وکړی او ورته ویل سوي وه چې د خیف په منطقه کې به د جبل هند سره یو ځای کېږی چې دغه منطقه و مکې مکرمې ته نژدې وه.

او دا چې رسول الله ﷺ ولې دغه خِیف د مسلمانانو د لښکر د یو ځای کېدلو دپاره انتخاب کړی؟ په دې کې یو حکمت ؤ ځکه دا هغه ځای دی چې په پخوا کې د قریشو مشران په دغه ځای کې سره را ټول سوي وه او پر دې یې عهد او قسم کړی ؤ چې د همېش دپاره به د رسول الله ﷺ سره جنګیږو هیڅ وخت به نه تسلیمیږو او نه به صلحه ور سره کوو، خامخا به محمّد ﷺ وژنو، د قریشو دغه وعدې او قسمونه او هغه د مقاطعې او بندیز اتفاق په دغه خیف کې سوي وه او رسول الله ﷺ د دې دپاره په خیف کې واړول چې قریش هغه خپل عهد او قسمونه په هغه ځای کې مات کړي کوم چې دوی هَلته دغه عهد او قسمونه سره کړي وه، رسول الله ﷺ د لښکر څلور سره حصې امر کړې چې ټولې د خیف په منطقه کې سره یو ځای سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


او لښکر ته يو بل امر دا هم ؤ: چي نه به د چا سره جنګ کوی او نه به څوک وژنی بېله هغو کسانو چي جنګ در سره کوي ځکه چي موږ جنګ او وژنه نه غواړو، بېله لسو نفرو څخه، دغه لس نفره چي مو هرچیري پیدا کړه وژنی يې که څه هم د کعبې شريفي په پوښو ځړېږي، په هر حال کي دغه لس نفره ووژنی، په دغو لسو نفرو کي شپږ يې نارینه او څلور يې ښځي وې، چي نومونه يې په داسي ډول سره دي:

۱- عِکرمه بن أبي جهل، ۲- هَبّار بن الاسود، ۳- عبدالله بن سعد بن أبي سرح، ۴- مِقيَس بن صبابه الليثي، ۵- حُويرث بن نُقيد، ٦- عبدالله بن هلال.

دغه نفر نارينه وه او د نارينه وو په نومو کي هلته د سيرت په کتابو کي لږ اختلاف سته.

او ښځي يې: ۱- هند بنت عتبه چي د ابوسفيان ښځه وه، دا هم د اسلام ډېره سرسخته دښمنه وه او دا هغه څوک ده چي د اُحُد په ورځ يې د سيد الشهداء سيدنا حمزه رضی الله عنه سره هغه ظالمانه او ناوړه وضعيت وکړی.

۲- ساره، چي د عَمرو بن هشام آزاده سوې مينځه وه او دا هغه څوک ده چي د حاطب رضی الله عنه ليک يې و قريشو ته وروړی او ونيول سوه.

۳، ۴ - فَرتَني او قرينه، چي دغه دوې مينځي وې او غزلي به يې ويلې (لکه زموږ د وطن مسلياني) خو په غزلو کي به يې همېشه د رسول الله ﷺ او مسلمانانو ذم او بد ويل.

عِکرمه، په دې سبب په دغو لسو کسانو کي شامل ؤ چي دئ او د ده پلار د اسلام شديد او سر سخته دښمنان وه.

عبدالله بن سعد بن أبي سرح، هغه څوک دی چي مسلمان ؤ او د مسلمانانو سره په مدينه منوره کي اوسېدی او وحي يې ليکلې، بيا مرتد سو او مکې مکرمې ته راغلی.

د مِقيَس بن صبابه، جُرم دا ؤ چي دئ کافر ؤ او ورور يې چي قيس بن صبابه نومېدی مسلمان ؤ، دغه مسلمان قيس د اُحُد په ورځ په هغه بد حال کي چي په مسلمانانو کي ګډ وډي پيښه سوه او يو له بله يې نه سره پيژندل د يوه بل مسلمان له طرفه په خطا کي و وژل سو، نو دغه کافر ورور يې مِقيَس بن صبابه مدينې منورې ته ورغلی او ويل: زه مسلمان يم بيا يې د ورور ديت وغوښتی، ديت هم ورکول سو ځکه هغه مسلمان ورور يې د بل مسلمان له طرفه په خطا کي وژل سوی ؤ، پسله هغه چي

(c) ketabton.com: The Digital Library


د وړور دیت یې واخیستی بیا په یوه فارغه وخت کې هغه د وړور قاتل ته ورغلی او هغه یې و وژی، یعني: دیت یې واخیستی او بیا یې غدر وکړی، تر هغه وروسته مرتد سوا و مکې مکرمې ته ولاړی، نو ځکه رسول الله ﷺ و فرمایل: دغه مِقیَس هم باید و وژل سي، که څه هم د کعبې شریفې په پوښنو ځړېږي.

هَبار بن الاسود هغه څوک دی چې د رسول الله ﷺ لور زینب رضي الله عنها ته د دې د هجرت په ورځ په مخ کې و دربدی او له اوښه څخه یې لاندې وغورځول او دا پر یوه ډبره ولوېده چې د دغه لوېدلو په سبب یې هغه د نس کوچنۍ و لوېدی.

مقصد دا چې دغو لسو نفرو هر یوه داسې یو خاص او لوی جُرم درلودی چې د بخښنې وړ او لائق نه وه. د دغو اوامرو تر اورېدلو وروسته د مسلمانانو د لښکر څلورو حصو د مکې مکرمې د ښار پر طرف حرکت وکړی.

## د ابو قحافه رضي الله عنه مسلمانېدل

هلته په مکه مکرمه کې د ابوبکر الصدِّیق رضي الله عنه پلار ابو قحافه رضي الله عنه چې په سترګو هم معذوره ؤ څه یې نه لیدل د کوره لیرې را وتلی دی او پر یوه غره د خپلې کوچنۍ لمسۍ سره ولاړ دی چې حالات و ویني، څرنګه چې ابو قحافه رضي الله عنه په خپله په سترګو څه نه لیدل نو به یې د دغې نجلۍ څخه پوښتنې کولې چې څه شي وینې؟ هغې ویل: یوه لویه سیاهي معلومېږي، ابو قحافه رضي الله عنه ویل دا لښکر دی، پسله لږه وخته یې و ویل: اوس څه شي وینې؟ نجلۍ ویل: هغه سیاهي سره وېشل کېږي، ده ویل: ټولې ځني جوړېږي، بیا یې ویل: اوس څه شي وینې؟ نجلۍ ویل: هغه سیاهي زموږ پر طرف را رهي سوه، ابو قحافه و ویل: اوس نو کور ته درځه باید کور ته ځان ورسوو، مګر څرنګه چې ابو قحافه رضي الله عنه ډېر سپین ږیری او ضعیفه ؤ ږیره یې داسې سپینه وه لکه سپین پنبه او په عین وخت کې په سترګو هم معذوره ؤ نو پر لارې ډېر کرار تلی، کور ته نه ؤ رسېدلی چې لښکر پسې را ورسېدی او ابو قحافه رضي الله عنه یې بندي ونیوی، اول یې ابوبکر الصدّیق رضي الله عنه ته ور وستی، هغه د اسلام په دین قناعت ورکړی او بیا یې د بیعت دپاره و رسول الله ﷺ ته وروستی، ویل: یا رسولَ الله! دا زما پلار دی بندي یې نیولی دی

(c) ketabton.com: The Digital Library


او دئ غواړي چي مسلمان سي، رسول الله ﷺ و فرمایل: شیخ ته مو تکلیف ور کړی دی که دي ما ته ویلي وای زه به ورغلی وای چي بیعت یې را سره کړی وای.

*تاسي د رسول الله ﷺ دغه رحمت او شفقت ته وګوری چي د خپلو اصحابو سره یې درلودی.*

ابوبکر الصِدّیق رضی الله عنه و ویل: یا رسولَ الله! ته د دې حقداره یې چي دئ تا ته راسي، نو ابو قحافه رضی الله عنه مسلمان سو او دا د عجائبو څخه ده چي ابو قحافه رضی الله عنه صحابي دی، زوی یې ابوبکر الصِدّیق رضی الله عنه صحابي دی او د ابوبکر الصِدّیق رضی الله عنه زامن او لوڼي د رسول الله ﷺ اصحاب دي، حتّی د ابوبکر الصِدّیق رضی الله عنه لمسیان د رسول الله ﷺ اصحاب دي، چي مشهوره لمسی یې عبدالله بن زبیر رضی الله عنه دی، څلور نسله ټول د رسول الله ﷺ اصحاب دي او بېله ابوبکر الصِدّیق رضی الله عنه څخه بل داسي څوک نسته چي څلور نسله دي یې اصحاب وي، دا چي د یو چا څلور نسله د رسول الله ﷺ اصحاب وي دا ابدي شرف او عزت دی چي یوازي د ابوبکر الصِدّیق رضی الله عنه په نصیب سوی دی.

اوس نو رسول الله ﷺ د لښکره سره مکې مکرمې ته په داسي ډول سره داخل سو چي سر یې په عجز او تواضع سره تر داسي اندازې کښته ځړولی ؤ چي د مبارکي ږیري وربښتان یې د هغه خپل بوده ځین ته رسېدل، دا د رسول الله ﷺ عجز او تواضع وه چي د خپل رب عزوجل په مقابل کي یې کول، که نه په حقیقت کي دا داسي وخت وو چي په هغه کي عزت او کرامت، نصرت او کامیابي وه، مګر رسول الله ﷺ په دغسي ځای کي عجز او تواضع کول، او دغه فتحه یې د الله جل جلاله له طرفه بلل اصلاً دا زموږ د پېشوا او لار ښوونکي له طرفه موږ ته درس او لار ښوونه ده چي د نصرت او کامیابۍ په وخت کي خپل رب عزوجل هېر نه کړو، فخر او لویي، غرور او تکبر را څخه و نه سي، بلکه تواضع وکړو او د دغه نعمت په مقابل کي د الله جل جلاله شکر آداء کړو.

رسول الله ﷺ مکې مکرمې ته ور رهي دی او په داسي لوړ آواز سره چي خلک یې اوري سورهٔ الفتح وايي، د لښکر اوله حصه چي خیف ته ورسېدل هغه د زبیر بن العوام رضی الله عنه ډله وه منطقه یې تر تسلط لاندي راوستل خپل افراد او قوه یې شا وخوا نشر کړه او د رسول الله ﷺ دپاره یې خېمه و درول، بیا نو سرور کائنات رسول الله ﷺ خیف ته را ورسېدی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


هلته د کافر قریشو هغه کوچنۍ لښکر چي مخکي يې بيان درته وسو او د څو تنو څخه جوړ سوی ؤ کله يې دا قدرت درلودی چي د مسلمانانو په مقابل کي ودرېږي، خو بيا هم کله چي خالد رضي الله عنه د خپله لښکره سره مکې مکرمې ته داخلېدی دغه د قريشو کوچنۍ لښکر يې مخ ته ودرېدی، خالد رضي الله عنه ورته وويل: يا عکرمه دا د الله جل جلاله رسول دی او الله جل جلاله مکه مکرمه ورفتحه کړه تاسي هم ايمان راوړی او مسلمانان سی دا ستاسي دپاره خير دی خو هغو له اسلامه انکار وکړی، خالد رضي الله عنه بيا ورته وويل: خپلو کورو ته ننوزی بيا هم په امان ياست موږ کار نه درلرو، هغو د کورو ننوتل هم نه کړه قبول، خالد رضي الله عنه ورته وويل: رسول الله ﷺ موږ د جنګ کولو او د وژنو څخه منعه کړي يو موږ جنګ نه غواړو د لاري څخه ايسته سی پرېږدی چي موږ تېر سو، دا يې هم ونه منل، ويل: والله مکې ته به نه سی را څخه داخل مګر په توره.

خالد رضي الله عنه وليده چي لار بنده ده په مخ کي لښکر ورته ولاړ دی او په خبرو هم نه قانع کيږي نو خالد رضي الله عنه پر خپل لښکر امر وکړی چي پر درځی، د مسلمانانو لښکر ور رهي سو او کفار په لار کي ولاړ دي نه ايسته کيږي نو خود جنګ شروع سو، ډېر شديد جنګ چي د دغه جنګ په نتيجه کي اته ويشت نفره کفار ووژل سوه څليرويشت نفره د قريشو څخه وه او څلور نفره د هذيل د قبيلې هغه کسان وه چي د قريشو ملګري وه (خو د وژل سوو کسانو په شمېر کي اختلاف دی څوک يې ۱۳ يا ۱۴ نفره بولي) او د مسلمانانو څخه يو نفر هم و نه وژل سو مګر بيا هم د خالد رضي الله عنه په لښکر کي دوه نفره په داسي ډول و وژل سوه چي هغه د لښکره څخه جلا سوي وه او پر بله لار رهي وه، چي هغه دوه نفره: کِرز بن جابر الفهري او خُنَيس بن خالد بن ربيعه وه.

کله چي کفارو دغه حال وليدی چي قتل او وژنه په دوی کي شروع ده او د مسلمانانو څخه يې يو نفر هم نه دی وژلی نو تښول وتښتېدل، عِکرمه بن أبي جهل او صفوان بن اُميه، تر مکې مکرمې دباندي وتښتېدل د مکې مکرمې ښار يې پرېښاوه، خالد بن وليد رضي الله عنه په تښتېدلو نفرو پسي نفر ولېږل.

اول به د هغه حماس بن قيس قصه درته پوره کړم کوم چي د مسلمانانو د جنګ دپاره يې اسلحه سره يو ځای کول، دغه سړئ چي په دغه جنګ کي د مشرکانو سره ؤ

(c) ketabton.com: The Digital Library


او اوس يې ماته وخوړل دا هم په تېښته خپل کورته ولاړی او خپلې ښځې ته يې په تلوار سره وويل: دروازه وتړه، ښځې يې ورته ويل: هغه ستا خبرې څه سوې چې تا ويل: په والله زما اميد دی چې ځينې مسلمانان به ستا نوکران کړم؟ حماس د خپلې ښځې جواب په شعر سره ووايه او ويل:

انک لو شهدت يوم الخندمه اذ فرّ صفوان و فرّ عکرمه
واستقبلنا بسيوف المسلمه يقطعن کلّ ساعد وجمجمه
ضرباً فلا يسمعُ إلاّ غمغمه لهم نهيتٌ خلفنا و همهمه

لم تنطقي فی اللّوم ادنی کلمه

خندمه د هغه ځای نوم دی چې د خالد بن وليد ﷺ او د مشرکانو جنګ پکښې وسو، اوس دغه حماس د خپلې ښځې په جواب کې وايي: که تا د خندمې ورځ ليدلې وای چې صفوان او عکرمه تښتېدل او زموږ په مخه د مسلمانانو داسې توري راغلې چې بازوګان او سرونه يې پرې کول، داسې وهل يې کول چې بېله غمغمې بل شئ نه اورېدل کېدی (غمغمه) هغه آواز ته ويل کيږي چې جنګې قهرمانانو به د جنګ په وخت کې د تورو د وهلو سره کاوه، (لکه زموږ په وطن کې چې به خلکو د بتو يا لرګو د ماتولو سره کاوه) نو حماس وايي: مسلمانانو داسې وهل کول چې بېله دغه آوازه بل شئ نه اورېدل کېدی، موږ ځغستل او زموږ تر شا د دوی را پسې هئ هئ او غړمبئ ؤ، نو پام کوه چې د ملامتې يوه کوچنې کلمه هم راته و نه وايې.

دا د هغه حماس د جنګ نتيجه وه چې خپلې ښځې ته يې ويل: زما دا ټينګ اميد دی چې ځينې مسلمانان به ستا نوکران کړم.

خير مشرکان وتښتېدل او خالد بن وليد ﷺ په دغو تښتېدلو خلکو پسې نفر ولېږل، علي بن أبي طالب ﷺ هم په دغه تښتېدلو نفرو پسې دی او د هغو څخه يې دوه نفره تعقيب کړي دي چې يو يې عبدالله بن أبي ربيعه ؤ او بل يې حارث بن هشام ؤ، دغه دوه تښتي او علي ﷺ تر شا توره په لاس په پسې دی، هغه دوه ځغلي نه پوهيږي چې چيرې ولاړ سي؟ خو هغو ته هغه نژدې کور د ام هاني ﷺ کور ؤ، ام هاني ﷺ هم د ابوطالب لور او د علي ﷺ خور ده، دغه دوه نفره د ام هاني ﷺ په کور ننوتل او

(c) ketabton.com: The Digital Library


ويل: يا ام هاني! امان راکړه، هغې ويل: امان مي درکړی دی او دا دکور دروازې ته ورو وتل، که ګوري يو سپور فارِس چي په زغره او اسلحه کي پټ دی په دوی پسي را رهي دی، ام هاني ﷺ ن، وپېژندی چي دغه سپور څوک دی، فارس ته يې وويل: ما دوی ته امان ورکړی دی، علي ﷺ له خپله سره خول ايسته کړی، ښځي وپېژندی چي ورور مي دی، نو ويل: يا علي! ما دوی ته امان ورکړی دی، حضرت علي ﷺ ورته وويل: يا ام هاني! دوی زموږ سره جنګ کاوه، هغې ويل: بيا هم زما په جِوار کي دي، علي ﷺ وويل: والله تر هغو به د دغه کور تر دروازې را څخه و نه وزي ترڅو چي د دوی په باره کي د رسول الله ﷺ امر نه وي راغلی زه انتظار کوم چي د دوی په باره کي د رسول الله ﷺ څه إراده ده؟ دا هغه کسان دي چي د صلحي تولي لارې يې پرېښوولې او يوازې د جنګ لار يې خوښه او اختيار کړه، آيا اوس د دوی په باره کي د ام هاني جوار يا امان قبليږي که يا؟ ام هاني ﷺ و ويل: زه په خپله رسول الله ﷺ ته ورځم او پوښتنه ځني کوم.

ام هاني ﷺ معلومات وکړی چي رسول الله ﷺ چيري دی؟

ورته وويل سوه چي په خيف کي دی، دا خيف ته پسي ورغله، په دغه وخت کي رسول الله ﷺ په خېمه کي ؤ او غسل يې کاوه چي د فتحي يا شکر لمونځ آداء کړي، رسول الله ﷺ غسل کوي او حضرت فاطمې ﷺ د رسول الله ﷺ لور پرده ورته نيولې وه پټاوه يې، ام هاني ﷺ اجازه وغوښتل اجازه ورکول سوه، رسول الله ﷺ د پردې د شا څخه خبري ور سره کولې، ام هاني ﷺ وويل: يا رسولَ الله! حارث بن هشام او عبدالله بن أبي ربيعه ته مي امان ورکړی دی، رؤف او مهربانه رسول الله ﷺ و فرمايل: يا ام هاني! هر هغه چا ته چي تا امان ورکړی دی موږ هم امان ورکړی دی، نو هغه دوه نفره د ام هاني ﷺ په جوار او امان له مرګه خلاص سوه.

دا د رسول الله ﷺ او اسلام له طرفه ښځي ته عزت او اکرام دی، تاسي وګوری د يوې ښځي په شفاعت داسي دوه نفره چي د اسلام دښمنان او د کفارو مشران وه او د مسلمانانو سره يې بېله جنګه بله هيڅ لار نه قبلول، خو بيا هم د يوې مسلماني ښځي په امان او جوار د مرګه خلاص سوه، دا هغه درجه او عزت دی چي الله جل جلاله په

(c) ketabton.com: The Digital Library


اسلام کې ښځو ته ور کړی دی.

(دنن ورځې د ښځو د حقوقو د دعوه کوونکو غرض او مقصد یوازې او یوازې د ښځې جسم او خپلې شهواني غریزې دي، دوی ښځه نه مکرمه کړې ده او نه یې مکرمه کوي بلکه دوی د ښځو د عزت او شرف لوټماران دي، ښځې یې د ښځو د حرّیت او د ښځو د حقوقو په نامه سره دباندې را وایستلې چې دوی په خپله خوښه او په آسانې سره چڼ پکښې وکړي او خپلې شهواني غریزې مړې کړي)

خیر د مکې مکرمې پر ښار د مسلمانانو پوره تسلط راغلی هیڅ داسې قوت او طاقت نسته چې د مسلمانانو سره دې وجنګیږي، خالد بن ولید ﷺ د هغه خپله لښکره سره خیف ته ورسېدی، رسول الله ﷺ ور غږ کړه ویل: یا خالد! آیا ما نه وې امر کړی چې جنګ مه کوه؟ خالد ﷺ و ویل: یا رسولَ الله! والله نه یې پرېښوولو لا رېې نه را کول تر څو چې جنګ ته مجبوره سوو، رسول الله ﷺ د ده عذر قبول کړی او کومه ملامتې یې نه ورته وویل.

د هغو لسو نفرو څخه چې په مرګ محکوم سوي وه عِکرمه بن أبي جهل او صفوان بن اُمیه خو تر مکې مکرمې دباندې وتښتېدل، عبدالله بن سعد بن أبي سرح او هَبار بن الاسود دننه په مکه مکرمه کې پټ سوه، هند بنت عتبه هم پټه سوه، نو د هغو لسو نفرو څخه ځینې و وژل سوه، ځینې وتښتېدل او ځینې یې پټ سوه، هغه چې پټ سوه د هغو قصه به لږ وروسته درته بیان کړم.

## رسول الله ﷺ مسجد الحرام ته داخلیږي

کله چې حالات آرام سوه او د مکې مکرمې د فتحې ټول کارونه سرته ورسېدل، رسول الله ﷺ مسلمانان سره را ټول کړه او د کعبې شریفې پر طرف رهي سو، مهاجرین او انصار د رسول الله ﷺ پر شا وخوا ور سره رهي دي، رسول الله ﷺ مسلمانان په تکبیر ویلو امر کړه رسول الله ﷺ تکبیر وایي او مسلمانان هم د ده ﷺ سره تکبیرونه وایي، د مسلمانانو لښکر لس زره نفره د کعبې شریفې و طرف ته ور رهي دي، ځینې قریش د خپلو کورو څخه ورته ګوري او د ځینو څخه بېره تللې ده دباندې

(c) ketabton.com: The Digital Library


را وتلي دي ځکه وې لیده چې مسلمانانو پر ټوله مکه مکرمه تسلط او سیطره پیدا کړه او خبره د خطر یا جنګ پېښېدلو د حالته څخه و وتل، حتّٰی د مکې مکرمې ځینو مشرانو ولیده چې نور نو أمن او امان دی نو را وتلي دي او ناست دي دغه منظر او حالت ته ګوري چې په دې جمله کې حارث بن هشام، هغه چې ام هاني رضي الله عنها امان ورکړی هم ناست دی، ابوسفیان او څو نفره نور هم ناست دي، مسلمانانو ته ګوري، رسول الله ﷺ پر اوښ سپور دی و مسجد الحرام ته ور داخل سو، اول حجر اسود ته ورغلی هغه یې مسحه کړی او په طواف یې شروع وکړه (البته دغه طواف بېله احرامه او په کالو کې ؤ) رسول الله ﷺ پر اوښ سپور دی طواف کوي ځکه غواړي چې خلک یې و ویني او په ده ﷺ پسې اقتداء او متابعت یې وکړی، رسول الله ﷺ ... بیت الله طواف کوي او سورة الفتح په طواف کې تلاوتوي:

﴿إِنَّا فَتَحْنَا لَكَ فَتْحًا مُّبِينًا ﴿١﴾﴾ څو تر دغه آیات شریف پوري ورسېدی:

﴿مُّحَمَّدٌ رَّسُولُ ٱللَّهِ ۚ وَٱلَّذِينَ مَعَهُۥٓ أَشِدَّآءُ عَلَى ٱلْكُفَّارِ رُحَمَآءُ بَيْنَهُمْ ۖ تَرَىٰهُمْ رُكَّعًا سُجَّدًا يَبْتَغُونَ فَضْلًا مِّنَ ٱللَّهِ وَرِضْوَٰنًا ۖ سِيمَاهُمْ فِى وُجُوهِهِم مِّنْ أَثَرِ ٱلسُّجُودِ ۚ﴾. تر آخره.

د رسول الله ﷺ سره یوه کوچنۍ لکړه ور سره وه په دغه طواف کې چې به هر وخت د حجر اسود و محاذاة یا برابري ته ورسېدی حجر اسود به یې په دغه لکړه مسحه کړی او بیا به یې د لکړي سر مچ کړی، پسله طوافه د زَمزَم څاه ته ورغلی غواړي چې له دغه څاه څخه اوبه وچښي، رسول الله ﷺ و فرمایل: که زه د دې څخه نه بېرېدلای چې خلک به بیا د بني هاشم سره پر دغه اوبو منازعه کوي نو ما به په خپله سلواغه اخیستې وای، یعني: که زما بېره او خوف پر دې نه وای چې سقایه به د بني هاشم د لاسه ووزي ما به په خپله اوبه را کښلي وای (او که رسول الله ﷺ په خپله اوبه راکښلي وای نو دا به زموږ دپاره سنت ګرځېدلي وای چې هر چا به په خپله اوبه را کښلای) چې په دغه صورت کې سقایه د بني هاشم د تصرف او لاسه وتل.

رسول الله ﷺ رغ کړه ویل: عبّاس چیري دی؟ ځکه عبّاس رضي الله عنه د سقایې یا حاجیانو ته د اوبو ورکولو او رسولو مسؤل ؤ، نو یې هغه ته وویل: یا عبّاس! مورِ ته اوبه

(c) ketabton.com: The Digital Library


را وکاږه، عباس رضی الله عنه د زمزم د څاه څخه د څښلو دپاره اوبه را وکښې.

بیا عباس رضی الله عنه د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه ویل: یا رسول الله! ستا هغه کورته ځې چې په مکه مکرمه کې دی؟ (مقصد یې هغه کورؤ چې رسول الله ﷺ تر هجرت د مخه ژوند پکښې کاوه، د خدیجې رضی الله عنها کور) رسول الله ﷺ و فرمایل: آیا عُقیل موږ ته کور را پرې ایښی دی؟ عقیل د ابوطالب زوی ؤ کله چې رسول الله ﷺ د مکې مکرمې څخه هجرت وکړی او بیا د ده ﷺ لونو هجرت وکړی کور خالي پاته سو څوک نه پکښې اوسېدل، څو کاله پر دغه حال پاته ؤ بیا نو عُقیل هغه د رسول الله ﷺ کور خرڅ کړی او قېمت یې هم ده واخیستی، نو د رسول الله ﷺ مقصد دا ؤچې کور خرڅ سوی دی او د ده ﷺ د کورنۍ څخه یو چا خرڅ کړی دی چې هغه عُقیل او د رسول الله ﷺ د اکا زوی ؤ، نو ویل اوس نه سم کولای چې سړي ته ورسم او و وایم دا زما کور دی، رسول الله ﷺ نولس ورځې په مکه مکرمه کې پاته سو او په خېمه کې اوسېدی ځکه کور یې نه درلودی چې پکښې واوسیږي.

بیا نو رسول الله ﷺ امر وکړی چې قریش دې را ووزي او را دې سي، قریش را و وتل او د کعبې شریفې سره ور ته را ټول سوه، رسول الله ﷺ د صفا غونډۍ ته وختی او ډېره عظیمه خطبه یې و ویل، د الله جل جلاله حمد، مجد او عظمت یې و وایه، د الله جل جلاله ثناء او صفت یې وکړی، پر خپل ځان یې درورد و وایه بیا یې د اسلام د احکامو په بیانولو شروع وکړه، هغه د جاهلیت عادات او کارونه لکه شرک، قتل او قتال، د وینو تویول یې لغوه کړه، په دغه ځای کې یې سود او ربا حرام کړه او وې فرمایل: د جاهلیت ټول کارونه زما تر پښو لاندي دي (یعني: عبث او بېهوده کارونه دي) تر دې وروسته نه اعتبار لري او نه عمل په کیږي، اوس اسلام او د هغه احکام د اعتبار وړ او د عمل قابل دي، اسلام او د هغه احکام پر خلکو آمر دي، د جاهلیت ټول عادات او رسومات، رواجونه او کارونه لغوه دي بېله سِدانې، سِقایې، او رفادې، یعني: د بیت الله الحرام اهتمام او غم خوردني، چې دغه ته سِدانه ویل کېده او د حاجیانو د اوبو او خوړو خدمت چې دغه ته سقایه او رِفاده ویل کېده، دغه کارونه پر خپل ځای پاته دي، د دغو دوو کارو فخر او شرف پر خپل ځای محفوظ او باقي

(c) ketabton.com: The Digital Library


دی ځکه دغه لوی او مهم کار ؤ، خدمت او سخا پکښې وه مګر د جاهلیت نور ټول کارونه او په هغو سره فخر کول رسول اللهﷺ لغوه کړه.

بيا يې قريشو ته هغه خپله مشهوره جمله وويل او ويې فرمايل:

«يا معشرَ القريش! مَا تَرَونَ اَنّي فَاعِلٌ بِکُم؟»

اې قريشو! څه فکر کوی چې زه به ستاسي سره څه وکړم؟ هغو وويل: د خير اميد مو دی مهربانه ورور او مهربانه وراره يې، رسول اللهﷺ و فرمايل: زه تاسي ته داسي وايم لکه يوسُفعليه السلام چې خپلو ورونو ته و ويل: «لاَ تَثرِيبَ عَلَيکُمُ اليَوم» زما له طرفه نن پر تاسي هيڅ ملامتي نسته ورځې تاسي آزاد ياست، يعني: زما د جزاء څخه عفوه ياست، رسول اللهﷺ ټول اهل مکې ته عفوه وکړه او ټول يې معاف کړه.

ستاسي خو د قريشو هغه بد عملونه، بنديز، جنګونه، آزارونه، ټول په ياد دي چې د رسول اللهﷺ او مسلمانانو په مقابل کي يې کړي وه، مګر نن ورځ د بدلې او انتقام پر ځای رؤف او رحيم رسول اللهﷺ د مکې مکرمې ټولو اوسېدونکو ته عامه عفوه کوي.

اوس چې رسول اللهﷺ دلته په مکه مکرمه کي دی په مکه مکرمه کي پوره أمن او امان دی د مسلمانانو لښکر موجود دی، رسول اللهﷺ دلې دی او د خلکو په منځ کي ګرځي ښوک د دين او اسلام پوښتني ځني کوي ښوک ستړې مسې ور سره کوي ښوک يې د حال او احوال پوښتنه کوي، اسلام پر مکه مکرمه پوره مسلط دی په دغه وخت کي يوه واقعه پيښه سوه، هغه دا چې يو نفر چې فُضاله بن عُمير الليثي نومېدی، دغه سړي د رسول اللهﷺ د وژلو إراده درلودل، يو خنجر يې د ځان سره پټ کړی دی او غواړي چې رسول اللهﷺ په و وهي، په دغه وخت کي رسول اللهﷺ پر کعبه شريفه طواف کاوه او فضاله په ډېره آرامي سره د رسول اللهﷺ پر طرف ور رهي دی، کله چې رسول اللهﷺ ته ور نژدې سو رسول اللهﷺ ورته و ويل: فُضاله يې؟ ده ويل: هو يا رسولَ الله! فضاله يم، رسول اللهﷺ و فرمايل: د ځان سره دي څه خبري کولې؟ هغه ويل: يا رسولَ الله! د الله ذکر مي کاوه، رسول اللهﷺ ورته وخندل (د ده په نيت خبر ؤ) او ويل: يا فُضاله! د الله څخه مغفرت و غواړه، هغه ويل: استغفر الله، رسول اللهﷺ خپل مبارک لاس د فضاله پر ځيګر کښېښاوه او ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library


د الله څخه مغفرت وغواړه، فضاله وويل: استغفر الله، رسول الله ﷺ خپل مبارک لاس څني را پورته کړی، فُضاله وايي: د مخه تردې چې رسول الله ﷺ لاس راباندې کښېږدي د مځکې پر مخ مې د هيچا سره دومره عداوت نه درلودی لکه د ده ﷺ سره، خو لاس يې لا نه ؤ را څخه پورته کړی چې د الله ﷻ په ټولو مخلوقاتو کې داسي شئ نه ؤ چې تر ده ﷺ دي ما ته خوښ او ګران وي، يعني: په دغه يوه لحظه کې رسول الله ﷺ تر ټولو مخلوقاتو او موجوداتو ما ته ګران او محبوب وګرځېدی.

*دا هم د رسول الله ﷺ يوه معجزه ده چې دلته ښکاره سوه.*

کله چې فضاله د دې ځای څخه رهي سو او خپل کور ته ځي هلته په لار کې يوه ښځه وه چې فضاله د هغې سره ناوړه تعلقات درلودل او کله کله به د هغې ملاقات ته ورتلی، هغې ښځي وليدی او ويل: راسه چې خبري اتري سره وکړو، فضاله د هغې ښځي غوښتنه په بيتو يا اشعارو سره ورد کړه، څرنګه چې هغه بيتونه په عربي دي زه به يې ترجمه درته را نقل کړم، فضاله وايي: دې ماته و ويل: راسه چې مجلس او خبري سره وکړو، ما ويل: يا! دغه کار الله او اسلام پر ما منعه کړی دی، که ما محمّد ﷺ او د ده ډله د فتحې په ورځ نه وای ليدلې چې بتان يې ماتول زه به درغلی وای، مګر د الله دين مې د ورځې په مثل روښانه و ليدی او شرک دومره تاريک دی چې تاريکۍ پټوي، يعني: تر تاريکيو لا تاريک دی، نو فضاله د هغې ښځي غوښتنه نه کړه قبوله.

اوس نو ځيني خلک لمنځونه کوي ځيني طوافونه کوي رسول الله ﷺ ناست دی او اصحاب کرام شا وخوا پر را ګرځېدلي دي، داسي معلومېږي لکه د څوارلسم سپوږمۍ چې په شپول يا هاله کې وي او بيا رسول الله ﷺ ولاړ سو د خلکو په منځ کې ګرځي، هلته ابوسفيان يو ځای ناست دی په فکر او چرت کې ډوب دی په دغه حالاتو کې فکر وهي او د ځان سره وايي: اوس چې مکه مکرمه تسليم سوه زه بايد څه وکړم؟ اوس څنګه کولای سم چې اهل مکه او قريش سره را ټول کړم او د ځينو عربو څخه مرسته وغواړم بيا يو لښکر جوړ کم او د مسلمانانو سره و جنګېږم.

ابوسفيان په دغه فکر کې غمجن ناست دی د ځان سره نقشې جوړوي چې څنګه به په دې کار کې کامیابه او موفق سم؟ په خپل فکر کې ډوب دی چې پر اوږه يې

(c) ketabton.com: The Digital Library


يو لاس کنبښوول سو، ده چي مخ ور واړاوه او ورته ويې کتل رسول الله ﷺ ور ته ولاړ دی او ورته ويې ويل: يا اباسفيان! هغه وخت به دي نو الله جل جلاله وښويوي.

يعني: که ته لښکر سره راتول کړې نو به دي الله جل جلاله ذليله کړي، ابوسفيان وايي دلته مي نو اسلام زړه ته داخل سو، څوک دی چي د زړه په حال خبرېږي؟ دیٔ ﷺ څنګه پوه سو چي زه د څه شي په باره کي فکر کوم؟

## حضرت بلال رضي الله عنه پر کعبه شريفه آذان کوي

وروسته عُتاب بن اُسيد، ابوسفيان او حارث بن هشام د قريشو دغه درې نفره سرداران سره ناست دي او مسلمانانو ته ګوري چي څنګه پر مکه مکرمه غالبه او فاتح سوه؟ هلته د لمانځه وخت سو رسول الله ﷺ بلال رضي الله عنه امر کړی چي لوړ کعبې شريفي ته وخېژه او آذان وکړه، بلال رضي الله عنه لوړ وختی او په آذان کولو يې شروع وکړه، عُتاب بن اُسيد و ويل: الله د اُسيد سره ښه وکړه چي دغه مړیٔ يې نه وليدی چي لوړ پر کعبه آذان کوي او هغه څه واوري چي دیٔ يې په قهر کاوه، حارث بن هشام و ويل: مګر زه په والله که پوه سم چي دغه دين حق دی متابعت به يې وکړم، ابوسفيان چپه خوله ناست دی څه نه وايي، ځکه ده ته لږ وخت د مخه د رسول الله ﷺ سره هغه قصه پېښه سوه چي د ده د زړه حال يې ورته و وايه، خو وروسته يې و ويل: زه والله هيڅ نه وايم که ما يو څه و ويل په والله دغه شګه به ده ﷺ ته هغه حال و وايي(يوه کوچنۍ ډبره يې په لاس کي وه و هغې ته يې اشاره وکړه) ويل دغه شګه به حال ورته و وايي، پسله لږه وخته رسول الله ﷺ دغه د دوی په منطقه کي تېرېدی نو دوی ته ور وګرځېدی او ووې فرمايل: زه په هغه شي خبرسوم چي تاسي سره ويل، يا عُتاب! الله د اُسيد سره ښه وکړه چي دغه مړیٔ يې نه وليدی چي سر ببره پر کعبه آذان کوي، يا حارث! که ته پوه سې چي دغه دين حق دی متابعت به يې وکړې، يا ابا سفيان که تا يو څه و ويل هغه خبره به دغه شګه ما ته وکړي، ابوسفيان وايي: دلته مي نو اسلام پوره و زړه ته ننوتی او زما په زړه کي يې ځای ونيوی دا مي يقين سو چي محمّد ﷺ رسول الله دی، ځکه د زړه حال هم نه ځني پټېږي، عُتاب او حارث و ويل: موږ شاهدي آداء

(c) ketabton.com: The Digital Library


کوو چې ته رسول الله یې، والله، په دغو خبرو هیڅوک نه ؤ خبر او نه څوک زموږ سره وه چې موږ و وایو هغه نفر ته خبر کړې، یا هغه نفر دغه حال تا ته در ورساوه، نو ښکاره ته رسول الله یې او هغه الله جل جلاله په دغه حال خبر کړې.

## د بتانو ماتول

وروسته رسول اللهﷺ په داسې حال کې چې قریش او نور خلک سره را ټول وه پر اوښه سپور سو او خلک یې امر کړه چې د کعبې شریفې څخه لیرې سی، خلک لیرې سوه او ورته ګوري چې اوس رسول اللهﷺ څه کوي، رسول اللهﷺ یوازې پر کعبه شریفه طواف کوي او یوه کوچنۍ لکړه یې په لاس کې ده.

د کعبې شریفې پر شا وخوا درې سوه او شپېته بتان پراته وه چې تر دغه وخته پورې موجود وه، رسول اللهﷺ په لوړ آواز د سورةُ الإسراء (۸۱) نمبر آیات وایي:

﴿وَقُلۡ جَآءَ ٱلۡحَقُّ وَزَهَقَ ٱلۡبَٰطِلُۚ إِنَّ ٱلۡبَٰطِلَ كَانَ زَهُوقٗا ۝٨١﴾.

دغه آیات شریف وایي او د هغو موجودو بتانو څخه و یوه یوه بت ته اشاره کوي، د دغه وخت او حال حاضر خلک وایي: بېله دې چې رسول اللهﷺ دغه بت لمس کړي (یعنې: لاس یا لکړه ځنې ومنښلوي) فقط چې په لکړه سره به یې اشاره ورته وکړه هغه بت به چپه سو، که به یې بت ته د شا له طرفه اشاره وکړه هغه بت به پړمخې د مخ پر طرف و لوېدی او که به یې د مخ له طرفه اشاره ورته وکړه بت به پر شا ستوني ستغ غځار سو، فقط د رسول اللهﷺ په یوه اشاره بېله لمسه یا لاس ور وړلو بتان چپه کېدل، خلک او قریش ورته ګوري چې د دوی آلهه یا خدایان دغسې یو په بل پسې چپه کیږي او ماتیږي، رسول اللهﷺ دغه آیات شریف په تکرار سره وایي:

﴿وَقُلۡ جَآءَ ٱلۡحَقُّ وَزَهَقَ ٱلۡبَٰطِلُۚ إِنَّ ٱلۡبَٰطِلَ كَانَ زَهُوقٗا ۝٨١﴾. [الإسراء: ۸۱]

او د سورة سبأ (۴۹) نمبر آیات شریف هم ور سره وایي:

﴿قُلۡ جَآءَ ٱلۡحَقُّ وَمَا يُبۡدِئُ ٱلۡبَٰطِلُ وَمَا يُعِيدُ ۝٤٩﴾. [سبأ: ۴۹]

رسول اللهﷺ یوه یوه بت ته اشاره کوي او هغه لوېږي، دا د مشرکانو هغه باطل

(c) ketabton.com: The Digital Library


آلهه یا خدایان وه چې په سوو کلو یې عبادت سوی ؤ او اوس یو په بل پسې لوېږي او ماتېږي، حاضرین وایي: عجبه خو دا وه: هر بت چې به غځار سو ټوټه ټوټه به سو. کوچنی کوچنی ډبري به سو هیڅ ځای یا هیڅ شئ یې روغ نه پاته کېدی حتّی لویه ډبره لا نه پکښې پاته کېدل، ښه مثال یې د اوس ناشکن لوښي یا ګلاسونه دي چې مات سي ټوک ټوک او رېزه رېزه سي، د دغو بتانو هم دغه حال ؤ.

رسول اللهﷺ ټول بتان مات کړه بېله هُبله څخه چې هغه یې آخر ته پرېښاوه، هُبل هغه تر ټولو لوی بت، د بتانو معظم او د مشرکانو د آلهه یا خدایانو رئیس ؤ، دغه هُبل ډېر لوی بت ؤ چې لوړ په ځنځیرانو تړل سوی ؤ او لاندي بیا پر مځکه په اوسپنه ټینګ او ثابت سوی ؤ چې له ځایه څخه یې حرکت نه کاوه، رسول اللهﷺ ورغلی او دغه هُبل یې په سترګو کي واهه او ویل یې:

﴿وَقُلۡ جَآءَ ٱلۡحَقُّ وَزَهَقَ ٱلۡبَٰطِلُۚ إِنَّ ٱلۡبَٰطِلَ كَانَ زَهُوقٗا ﴿٨١﴾﴾.

دلته نو هبل په ښورېدو سو په حرکت کي سو لکه زلزله چې پر کیږي، رسول اللهﷺ یې په سترګو کي وهي او آیات شریف وایي، هُبل ښوري، څرنګه چې پر مځکه په اوسپنه ټینګ سوی ؤ په یوه وار نه سو غځار خو په دغه حرکتو کي لکه یو څوک چې یې ښوروي آخر غځار سو او پر مځکه ولوېدی.

هُبل، څرنګه چې ډېر لوی او غټ بت ؤ مات خو سو مګر لویي لویي ډبري سو، داسي نه سو لکه هغه نور چې کوچنی کوچنی ټوټې به سوه، رسول اللهﷺ اصحاب کرام امر کړه چې نور یې هم مات کړی، هغه هم ور ولاړ سوه او هُبل یې ټوټه ټوټه کړی، دغه بت د هغو خلکو په لاسو مات سو چې یو وخت یې د دغه بت عبادت کاوه او إله یې باله، قریش خپلو آلهه او خدایانو ته ګوري چې ټوټه ټوټه سوه نو یې اسلام زړو ته داخل سو ځکه هغه باطل آلهه یا خدایان خو یې ټول تباه او برباد سوه او د هغو بې وسي هم ور معلومه سوه.

د بتانو اوله او شروع هغه وه چې د عَمرو بن لُحی په واسطه و جزیرةُ العرب ته راوړل سوه او دا یې د خیر البشر سرورکائنات محمّد مصطفیٰﷺ پر لاس آخر او انتهاء وه، نو د بتانو عبادت چې د عَمرو بن لُحی په واسطه سره شروع سوی ؤ

(c) ketabton.com: The Digital Library


د رسول الله ﷺ په واسطه په دغه قسم سره پای ته ورسېدی.

بيا نو رسول الله ﷺ إراده وکړه چې دننه کعبې شريفې ته ورسي، عثمان بن طلحه ﷺ ته يې نفر ور ولېږی، د عثمان بن طلحه ﷺ د مسلمانېدلو قصه مخ کې درته بيان سوې ده چې د عَمرو بن العاص او خالد بن وليد ﷺ سره مسلمان سو او د هغو سره يې يو ځای هجرت وکړی او د کعبې شريفې تصرف او کلی د دغه عثمان ﷺ د کورنيه سره وې، نو رسول الله ﷺ و دغه عثمان ته نفر ور ولېږی چې يا عثمان! د بني شيبه ځخه کلی را وړه، بني شيبه د عبدالدار اولاده ده او د دغه عثمان بن طلحه ﷺ کورنی او خاندان دی، ځرنګه چې د کعبې شريفې کلی د دوی سره وې نو د دوی بې اجازې وکعبې شريفې ته څوک نه سوای داخلېدلای.

عثمان بن طلحه ﷺ ولاړی چې کلی را وړي، ځرنګه چې کلی د ده د مور سُلافه بنت سعد بن سُميه سره وې نو خپلې مور ته ورغلی او کلی يې ځني وغوښتې مور يې ورته و ويل: يا عثمان! ستا هغه قصه نه ده په ياد چې ستا تر مسلمانېدلو د مخه ستا او د محمّد ﷺ په منځ کې پېښه سوه؟

هغه قصه مخ کې بيان سوې ده چې د رسول الله ﷺ تر هجرت د مخه يوه ورځ رسول الله ﷺ د عثمان بن طلحه ځخه وغوښتل چې کعبې شريفې ته مې داخل کړه، ځرنګه چې هغه وخت عثمان پر کفر او شرک ؤ نو ويل: والله کعبې ته به نه سې را ځخه داخل، رسول الله ﷺ بيا ورته و ويل: يا عثمان! کعبې ته مې داخل کړه عثمان ويل: والله هيڅکله به نه سې داخل، رسول الله ﷺ ورته و ويل: يا عثمان! کعبې ته مې د مخه تر هغه داخل کړه چې بيا کلی زما په لاس کې وي او هغه چاته يې ورکړم چې زما خوښه وي (يعني: کلی ستا د لاسه ځخه وزي او زما لاس ته راځي) عثمان ويل: والله که د کعبې کلی ستا په لاس کې سوې هغه وخت نو زما دپاره د ځمکې تر مخ د ځمکې نس ښه او بهتر دی. (يعني: هغه وخت نو زما دپاره مرګ تر ژوند ښه دی) خو سبحان الله! دغه ده هغه ورځ راغله مګر عثمان ﷺ مسلمان سوی دی او مور يې دغه قصه ور په ياد کړه، ويل: که زه کلی درکړم ته يې محمّد ﷺ ته ورکوې او هغه درته ويلي وه چې کلی د ده ﷺ لاس ته ورځي او هغه چا ته به يې ورکړي چې

(c) ketabton.com: The Digital Library


د ده خوښه وي، عثمان و ويل: که څه هم داسي وي دا رسول الله دی او خامخا يې بايد د امر اطاعت وسي کلی را کړه، مور يې کلی واخيستې او په خپلو اغوستو کالو کي يې پټي کړې، ويل: والله نه کلی درکوم او نه به يې درکړم، دغه کلی ستا! ستا د پلار او بني عبدالدار شرف دی هيڅکله يې نه درکوم، عثمان بن طلحهؓ کوښښ کوي چي مور قانع کړي وايي: کلی را کړه چي رسول اللهﷺ ته يې ور وړم.

هلته رسول اللهﷺ په انتظار دی او عثمان وځنډېدی ځکه مور يې نه راضي کېدې چي کلی ورکړي، دلته نو رسول اللهﷺ ابوبکر الصدّيق او عمر فاروقؓ پسي ور ولېږل چي ورسی کلی را وړی، دوی هم د عثمانؓ کورته پسي ورغله حضرت عمرؓ په ډېر قوت سره دروازه وټکول او ناري يې کړه: يا عثمان! کلي دي څه کړه؟ رسول اللهﷺ په انتظار دی او ته وځنډېدې، د عثمان بن طلحه ؓ مور د ډېري بيري څخه رېږدېدل کلي يې دکالو څخه را وايستل او عثمانؓ ته يې ورکړه ويل: چي په زور يې اخلي تر هغه دا ښه ده چي په رضاء يې درکړم، عثمانؓ کلي واخيسته او رسول اللهﷺ ته يې ور وړه، ټول قريش ورته ګوري! د عبدالدار د اولادې شرف او عزت په دغه کلي کي دی او اوس يې دغه خپل شرف د رسول اللهﷺ په لاس کي کېښاوه، رسول اللهﷺ پوهېږي چي د عثمانؓ هغه پخوانۍ قصه په ياد ده او هغه قصه په خلکو کي مشهوره هم وه، خير رسول اللهﷺ د کعبې شريفي دروازه خلاصه کړه وې ليده چي مشرکانو دننه په کعبه شريفه کي بتان رسم کړي دي چي په هغه جمله کي يې د ابراهيم عليه السلام او اسماعيل عليه السلام عکسونه هم رسم کړي وه او پر داسي شکل يې رسم کړي وه چي غشي يا ازلام يې تقسيمول، رسول اللهﷺ و فرمايل:

«قَاتَلَهُمُ اللهُ فَعَلُوا بِشَيخِنَا هٰذا، واللهِ مَا استَقسَمَ بِالأَزلَامِ قَط»

ژباړه: الله دي دغه رسم کوونکي و وژني، زموږ د شيخ سره يې داسي عمل کړی دی، په والله هغو هيڅکله ازلام (غشي) نه دي تقسيم کړي.

رسول اللهﷺ په کعبه شريفه کي د کوتري يوه مجسمه وليدل چي د لرګي څخه جوړه سوې وه، هغه مجسمه يې په خپل مبارک لاس ماته کړه، نور نو رسول اللهﷺ کعبې شريفي ته نه ور ننوتی بلکه ځيني اصحاب کرام يې امر کړه چي کعبې شريفي ته

(c) ketabton.com: The Digital Library


ور ننوزي او هغه رسمونه چي په کعبه شريفه کي دي پاک او زايل کړي، هغه رسمونه پاک کړل سوه بيا نو رسول الله ﷺ کعبې شريفي ته دننه ورغلی خو بيا هم د ابراهيم عليه السلام د رسم څه آثار او علامې پاته وې، رسول الله ﷺ هغه د رسمو پاته علامې په خپل مبارک کالي په خپله د دې دپاره مښلې چي پوره پاکي سي.

اوس چي دننه کعبه شريفه د بتانو د رسمو څخه پوره پاکه سوه رسول الله ﷺ ور ننوتی او دروازه يې په ځان پسي وتړل، په دغه وخت کي د رسول الله ﷺ سره دننه په کعبه شريفه کي بېله بلال او اسامه رضي الله عنهما څخه بل څوک نه وه ور سره، رسول الله ﷺ دننه په کعبه شريفه کي په دغه مبارک ځای او مبارک وخت کي دوه رکعاته لمونځ آداء کړی، د لمانځه د آداء کولو په وخت کي يې مخ هغه دېوال ته ؤ چي پر دروازه مخامخ دی او د دېواله څخه يونيم متر لیري ولاړ ؤ، په هغه وخت کي د کعبې شريفي چت پر شپږو عمودو يا پايو ولاړ ؤ (يعني: دننه په کعبه شريفه کي شپږ عموده وه) او رسول الله ﷺ په داسي ځای کي لمونځ آداء کړی چي يو عمود يې راسته طرف ته ؤ او دوه عموده يې چپه طرف ته وه او درې عموده يې تر شا وه، د لمانځه تر آداء کولو وروسته رسول الله ﷺ دننه په کعبه شريفه کي شا وخوا وګرځېدی تکبير او تهليل يې و وايه او بيا يې دروازه خلاصه کړه، قريش ټول دباندي په انتظار ولاړ دي چي اوس رسول الله ﷺ څه کوي او څه به وکړي؟ رسول الله ﷺ د کعبې شريفي د دروازې پر دوو چارچوبو لاسونه کېښوول او وې فرمايل:

﴿لا إله إلا الله وحده لا شريک له، صدق وعدَه، و نصر عبدَه، و هزم الأحزاب وحدهُ﴾.

يا معشر القريش! الله جل جلاله ستاسي د جاهليت فخرونه او په پلرو سره ځانونه لوی بلل ايسته کړه، ټول انسانان د آدم عليه السلام څخه دي او آدم عليه السلام د خاورو څخه دی او بيا يې د سورهٔ الحُجُرات (۱۳) نمبر آيات تلاوت کړی چي الله جل جلاله فرمايي:

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِنَّا خَلَقۡنَٰكُم مِّن ذَكَرٖ وَأُنثَىٰ وَجَعَلۡنَٰكُمۡ شُعُوبٗا وَقَبَآئِلَ لِتَعَارَفُوٓاْۚ إِنَّ أَكۡرَمَكُمۡ عِندَ ٱللَّهِ أَتۡقَىٰكُمۡۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٞ ﴿١٣﴾ ﴾.

ژباړه: اې خلکو! بېشکه چي موږ، تاسي ټوله د يوه سړي او يوې ښځي څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library


پیدا کړي یاست (چي آدم علیه السلام او حواء دي) او موږ تاسي د دې دپاره فرقې او قبیلې ګرځولي یاست چي یو د بله سره و پېژنی، بېشکه چي په نېز د الله جل جلاله معزز او مکرم هغه څوک دی چي په تاسي کي ډېر متقي او د ښو اخلاقو خاوند وي.

ورونو! د نن ورځي د حالاتو او د هغو بېځایه فخرو چي په قوم یا وطن سره فخر کیږي د حقیقت د ښکاره کولو دپاره به د دغه آیات شریف لږ تفسیر بیان کړل سي:

نن ورځ چي یو څوک د یو چا غیبت کوي یا یې بد وایي او د نورو خلکو په عیبو پسي ګرځي او بیا د هغو عیبونه بیانوي، د دې ټولو منشأ او اساس کبر او غرور دی، هغه انسان چي خپل ځان تر نورو لوړ بولي او نورو ته د حقارت په سترګه ګوري هغه دغه کارونه کوي، مګر الله جل جلاله موږ ته دا را وښوول چي یوه انسان لره نه ښایي چي په خپل اصل او نسب، عزت او لویي، مال او دارایي مغروره سي او فخر په وکړي، بلکه انسان باید پوه سي چي د انسان دپاره اصلي او اساسي عزت او محترم والی په دې کي دی چي ښه عمل او ښه اخلاق ولري او همېشه د الله جل جلاله څخه وبېرېږي.

په ښو اخلاقو او تقوی سره یو انسان د الله جل جلاله په دربارکي معزز، محترم او مکرم کېدلای سي، د نسب او قومیت اصلي حقیقت دا دی چي ټول انسانان د آدم او حواء څخه پیدا سوي دي، سیادت او حضرتوالی، صاحبزاده او آخندزاده، عثماني او فاروقي، صدیقي او انصاري، هاشمي او قریشي، شیخي او خاني او نور ټول دغسي د تعریف او ستاینې الفاظ لکه دُرانئ او فلانئ زی، دغه ټول د ښه علم او ښه عمل، د ښو اخلاقو او ښې معاملې، د تقوی او پرهېزګارۍ په مقابل کي هیڅ هم نه دي.

دغه خانداني صفتونه او ستاینې فقط د دې دپاره دي چي خلک په وپېژندل سي، ښېله دغه پېژندګلوۍ بل قدر او قېمت نه لري، د انسان اصلي قدر او قېمت په دې کي دی: چي متقي او پرهېزګار، عالم او د پوهي خاوند وي، هو، هلته داسي کسان سته چي الله جل جلاله په یوه شریفه او معززه کورنۍ کي پیدا کړي وي، دا یو داسي شرف دی چي د الله جل جلاله له طرفه و انسان ته ورکول کیږي، د دې مثال داسي دی لکه ځیني کسان چي الله جل جلاله خوبصورته او ښایسته جوړ کړي وي، خو یوازي هغه ښایست د فخر او ناز وړ نه دی او نه د یوه انسان د کمال دپاره دغه ښایست معیار اینبوول

(c) ketabton.com: The Digital Library


کېدلای سي او نه دغه ښايسته انسان دا حق لري چي د خپل ښايست په سبب دي نورو ته په سپکه سترګه وګوري، هو، د دغه نعمت که ښايست دی او که په ښه کورنۍ کي پيدا سوی دی شکر دي آداء کړي، چي الله جل جلاله دغه نعمت ده ته ښېله د ده د اختياره او ښېله د ده د تصرفه څخه ورکړی دی، خو د شکر يو اساسي شرط دا دی چي په دغه نعمت سره پر نورو فخر او غرور و نه کړي او دغه نعمت بايد په بد اخلاقيو او بدو خويو سره خراب نه کړي، مقصد دا چي د مجد او شرف، د عزت او فضيلت اصلي معيار نسب نه دی بلکه علم او تقوٰی، ښه اخلاق او پاک ژوند د عزت او فضيلت معيار بلل کيږي او متقي سړئ هيڅکله نورو انسانانو ته په سپکه سترګه نه ګوري.

*(دا هم د رسول الله ﷺ يوه خطبه وه چي په دغه ځای کي يې وفرمايل)*

پسله هغه چي رسول الله ﷺ دکعبې شريفي څخه راووتی راغلی په مسجد الحرام کي کښېنستی او د کعبې شريفي کلي يې په لاس کي ده، عبّاس بن عبدالمطلب رضي الله عنه ډير ژر ورغلی او ويل: يا رسولَ الله! سِقايه او رفاده او د کعبې شريفي کلي، دا ټوله شرف ما ته راکړه سِقايه او رِفاده خو د عبّاس رضي الله عنه په لاس کي وه، که اوس د کعبې شريفي کلي، هم ورکول سي نو د کعبې شريفي ټول شرف د ده سو، ځکه يې د رسول الله ﷺ څخه کلي، هم وغوښتې، رسول الله ﷺ و فرمايل: عثمان بن طلحه چيري دی؟ عثمان رضي الله عنه حاضر سو، رسول الله ﷺ و فرمايل: يا عثمان! دغه دي کلي، دي «اليومُ يومُ بِرٍ و وفاء. اليومُ يومُ بِرّ ووفاء» واخلی د عبدالدار اولادې! د شيبه اولادې! او تر ابده يې واخلی د قيامت تر ورځي دغه کلي، ستاسي دي، ستاسي څخه به يې څوک وا نه خلي مګر ظالم، الله جل جلاله تاسي د ده پر بيته امينان کړي ياست کوم شئ چي د دغي بيتې څخه تاسي ته در رسيږي په ښه طريقه سره يې خورئ.

نو ځکه د کعبې شريفي کلي، تر نن ورځي پوري د بني شيبه څخه دي، دوی دي چي د کعبې شريفي دروازه خلاصوي، ښېله اجازې څخه د بني شيبه نه پاچا او نه رئيس او نه بل د عزت خاوند کعبې شريفي ته ننوتلای سي، دغه تولّی د رسول الله ﷺ په امر سره د دوی ده او که چا ځني واخيستل هغه څوک د رسول الله ﷺ په شاهدي سره ظالم دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


مګر کله چي رسول الله ﷺ په کعبه شريفه کي لمونځ آداء کړی او بيا را و وتی، سمدستي عبدالله بن عمر بن الخطاب رضي الله عنه کعبې شريفي ته ور ننوتی او د بلال رضي الله عنه څخه يې پوښتنه وکړه چي رسول الله ﷺ پر کوم ځای لمونځ آداء کړی؟ ځکه عبدالله بن عمر رضي الله عنه د رسول الله ﷺ پر متابعت ډير حريص ؤ هرکار چي به رسول الله ﷺ کاوه يا به يې کړی ؤ عبدالله بن عمر رضي الله عنه د هغه کار د کولو ډير کوښښ کاوه نو ځکه سمدستي کعبې شريفي ته ورننوتی او د بلال رضي الله عنه څخه يې پوښتنه وکړه چي رسول الله ﷺ پر کوم ځای لمونځ آداء کړی؟ حضرت بلال رضي الله عنه هغه ځای ور وښاوه او عبدالله بن عمر رضي الله عنه پر هغه ځای لمونځ آداء کړی او وايي: دا مي هېر سوه چي د بلال رضي الله عنه څخه پوښتنه وکړم چي رسول الله ﷺ څو رکعاته لمونځ آداء کړی؟

## د بيعت اخيستل

کله چي الله جل جلاله و رسول الله ﷺ او مسلمانانو ته مکه مکرمه ور فتحه کړه، نو اهل مکې ته حق ورښکاره سو او په حق پوه سوه، دا ورمعلومه سوه چي کاميابی ته بله لار نسته بېله اسلامه، نو ټول اهل مکې د مسلمانېدلو إراده وکړه او د رسول الله ﷺ سره د بيعت دپاره ښځي او نارينه سره يو ځای سوه، رسول الله ﷺ د صفا پر غونډۍ کښېنستی او حضرت عمر رضي الله عنه تر ده ﷺ کښته ناست ؤ د خلکو څخه يې بيعت اخيستی، ټولو خلکو پر دې بيعت ور سره وکړی چي د ده ﷺ اوامر به اوري او تر کومه ځايه چي يې په وسه پوره وي اطاعت به يې کوي، د رسول الله ﷺ سره چي به نارينه بيعت کاوه، د بيعت کولو په وخت کي به رسول الله ﷺ لاس ورکړی.

کله چي رسول الله ﷺ د نارينه وو د بيعت څخه فارغه سو نو يې د ښځو څخه په بيعت اخيستلو شروع وکړه او د ښځو څخه يې بيعت فقط د خولې په خبرو سره اخيستی، ښځو ته يې لاس نه ورکاوه، امام بخاري د حضرت عائشې رضي الله عنها څخه روايت کوي چي وايي: رسول الله ﷺ د ښځو سره د خولې په خبرو بيعت کاوه او هيڅکله د رسول الله ﷺ لاس د ښځي د لاسه څخه نه دی مښتی بېله هغو ښځو چي الله جل جلاله ده ﷺ ته حلالي کړي وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library


نو رسول الله ﷺ د صفا پر غونډۍ لوړ ناست ؤ او حضرت عمر رضي الله عنه تر ده ﷺ کښته ناست دی د ښځو سره یې د رسول الله ﷺ په امر بیعت کاوه، یعني: د رسول الله ﷺ خبري یې دوی ته ور رسولې، د ښځو په جمله کي هند بنت عتبه د ابوسفیان ښځه هم راغلې وه، دا هغه ښځه ده چي د اُحُد په ورځ یې د سید الشهداء سیدنا حمزه رضي الله عنه تر شهادت وروسته د هغه پزه او غوږونه ور پرې کړه او ځیګر یې ور ځیري کړی او د هغه اینه یې را وکښل، دا هغه هند ده چي رسول الله ﷺ په هغو لسو نفرو کي یاده کړې وه چي ویل: که د کعبې شریفي په پوښو هم ځړېدلي وي وې وژنی، اوس دغه هند د ښځو په منځ کي راغلې ده مخ یې پټ دی نه پېژندل کیږي، دا غواړي چي مسلمانه سي او په مسلمانېدلو سره امان پیدا کړي، اوس چي رسول الله ﷺ د ښځو څخه د بیعت په اخیستلو شروع وکړه وې فرمایل: تاسي به زما سره بیعت کوی چي الله جل جلاله لره به هیڅ شئ نه شریکوی، هند و ویل: یا رسولَ الله! هغه چي نن مات کړل سوه که هغه آلهه یا خدایان وای نن به یې زموږ سره یو څه مرسته کړې وای.

رسول الله ﷺ بیا و فرمایل: او غلا به نه کوی، هند و ویل: یا رسولَ الله! ابوسفیان یو بخیل سړئ دی ما د ده د ماله څخه څه اخیستي دي او نه یم خبره چي هغه ما ته حلال وه که حرام، ابوسفیان چي دالته ولاړ ؤ هغه و ویل: هغه چي پخوا دي اخیستي دي هغه مي در بخښلي دي.

رسول الله ﷺ و فرمایل: ته هند بنت عتبه یې؟ دې ویل: هو زه هند یم یا نبيَ الله! پر هغه تېرو سوو عفوه را ته وکړه الله دي تا ته عفوه وکړي.

رسول الله ﷺ و فرمایل: زنا او فاحش کارونه به نه کوی، هند و ویل: آیا حُره ښځه زنا کوي؟ ځکه د جهالت او کفر په وخت کي هم عربو زنا بد کار باله، حُرو ښځو هیڅکله زنا نه کول، فقط هغه مینځي وي چي خپلو مالکانو به د پیسو د ګټلو دپاره دغه کارونه په کول، په حرو ښځو کي زنا شاذ او نادره پېښېدل، نو هند په تعجب کي سوه چي زموږ څخه څنګه د نه زنا کولو بیعت اخیستل کیږي؟

خوندو! رسول الله ﷺ د ټولو مسلمانو ښځو څخه په دغه لفظ بیعت اخیستی دی: چي زنا او فاحش کارونه به نه کوی، په جاهلیت کي هم د مشرکانو ښځو زِنا

(c) ketabton.com: The Digital Library


نه کول، د ښځي دپاره عفت او ځان پاک ساتل شرف او عزت دی، هغه کسان چي نن ورځ په غیر شرعي ډول د ښځو د حقوقو ناري وهي: په والله هغه ستاسي غمخوره نه دي او نه ستاسي حقوق درکوي، بلکه هغه غواړي چي خپل شهواني غوښتني او خواهشات په آسانه سره لاس ته ور وړي، د خپل شیطاني هوس د پوره کولو دپاره ستا عزت او شرف درڅخه واخلي، دوی غواړي چي په لارو او کوڅو کي مو بېله ستره او حجابه و ویني، دوی غواړي چي په بازارو او دفترو کي مو و ویني، دوی غواړي چي په دکانو او موسسو کي مو و ویني او دوی په خپله خوښه په تاسي کي چَڼ او خوښول وکړي او په آساني سره خپلي شهواني غوښتني پوره کړي، په دغسي حالت کي نو تا ته کوم شرف او عزت یا کوم قدر او قیمت پاته کیږي؟ آیا ستا د عزت او شرف لوټول ستا حقوق دي چي تا ته درکول کیږي؟

خوري! که پیسي یا مال و لري پټ یې ساتې، که یو امېل او لاکټ و لرې پټ یې ساتې چي څوک یې درڅخه غلا نه کړي، خو د عزت او شرف مرغلره تر دغو شیانو لوړه او مهمه ده، د شرف قیمت په هیڅ شي کي نسته د هغه په ساتلو کي ډېر کوښښ کوه، نن ورځ ستا د شرف او عزت لوټماران اوخائنان ډېر دي، د دوی د خولې په خوږو خبرو مه خطاوزه دا ټوله د صیاد او ښکاري لومکي او دامونه دي.

او بیا رسول اللهﷺ و فرمایل: او خپل اولادونه به نه وژنی، ځکه مشرکانو ژوندي اولادونه ښخول، هند و ویل: موږ کوچني لوی کړه او تاسي په بدر کي په لوی واله و وژل تاسي او هغه ښه پوهېږی، دایې ځکه و ویل: چي د دې پلار او ورور او اکا په بدر کي و وژل سوه او په یوه روایت کي راغلي دي چي د دې زوی حنظله هم په بدر کي وژل سوی ؤ. حضرت عمرؓ دغه د دې پرخبرو ډېر وخندل او رسول اللهﷺ هم تبسم وکړی، رسول اللهﷺ چي هره خبره کوي هند په مقابل کي یو څه وایي.

بیا رسول اللهﷺ و فرمایل: تاسي به بُهتان نه وایاست (هغه چي یو څوک په بل چا پوري د عیب خبري تړي)

هند و ویل: والله بُهتان ډېر بد کار دی او ته موږ نه امر کوې مګر په ښو او معقولو اخلاقو.

بیا رسول اللهﷺ و فرمایل: په ښو کارو کي به زما نا فرماني نه کوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


هند و ويل: په والله مورِ په دې مجلس کي داسي نه يو کښېنستلي چي زمونږ په زړوکي دي دا وي چي مورِ به ستا نا فرماني کوو، يعني: مورِ دلته په صدق او اخلاص راغلي يو او دا موإراده ده چي ستا اوامر به منو او عملي کوو.

کله چي هند کور ته ولاړه هغه بت چي دوی په خپل کورکي درلودی هغه يې مات کړی او د ماتولو په وخت کي يې ورته ويل: مورِ په تا خطاوتلي وو.

دا د رسول الله ﷺ سره د ښځو بيعت ؤ او رسول الله ﷺ تولو ښځو ته د مغفرت دعاء وکړه.

## د عبدالله بن سعد بن أبي سرح اسلام

مورِ مخ کي و ويل: چي رسول الله ﷺ د لسو نفرو د وژلو امر کړی ؤ چي په هغه جمله کي عبدالله بن سعد بن أبي سرح هم ؤ او دئ هغه څوک دی چي وحي يې ليکلې او بيا مرتد سو، دئ هم په مکه مکرمه کي پټ ؤ څرنګه چي عبدالله بن أبي سرح د حضرت عثمان بن عفان رضي الله عنه د خاله زوی او رضعي ورور ؤ، نو يې و عثمان رضي الله عنه ته نفر ور و لېږی چي زه په فلاني ځای کي پټ يم، عثمان رضي الله عنه هلته ورغلی عبدالله ورته و ويل: زه بايد څه وکړم؟ عثمان رضي الله عنه ورته و ويل: رسول الله ﷺ ستا د وژلو امر کړی دی په والله که مسلمانانو د کعبې شريفې پر پوښو پيدا کړې هم دي وژني.

عبدالله ويل: چاره څه ده؟

ويل: چاره دا ده چي مسلمان سې بېله اسلامه بله د خلاصون لار نه لرې.

عبدالله ويل: اسلام مي قبول دی او مسلمانېږم خو تر رسول الله ﷺ پوري څنګه ورسم؟

عثمان رضي الله عنه و ويل: ځان و پېچه مول ووهه او درځه زه به دي ورولم.

ده هم مخ پټ کړی او د عثمان رضي الله عنه سره رهي سو، دا خو معلومه خبره ده کوم څوک چي د عثمان رضي الله عنه سره ملګری او رهي وي څوک کار نه په لري، څو د رسول الله ﷺ خېمې ته ورسېدل، هلته د رسول الله ﷺ سره د اصحاب کرامو يوه ډله ناسته وه چي د هغو په جمله کي يو انصاري هم موجود ؤ، دغه انصاري پر خپل ځان دا نذر ايښی ؤ: که عبدالله بن سعد بن أبي سرح په لاس راغلی که څه هم د کعبې

(c) ketabton.com: The Digital Library


شریفې ترپوښتو لاندې وي په والله زه يې وژنم، يعني: د دغه عبدالله بن سعد وژنه يې پرځان نذر کړې وه، اوس دغه انصاري صحابي هم د رسول الله ﷺ په مجلس کې ناست دی دا دی عثمان بن عفان رضي الله عنه چې عبدالله بن سعد بن أبي سرح ور سره ملګری دی د رسول الله ﷺ خېمې ته ورغله، اول عثمان رضي الله عنه خېمې ته ورننوتی او ويل: يا رسولَ الله! زما سره عبدالله بن أبي سرح را سره دی راغلی دی چې مسلمان سي بيعت ور سره وکړه، په دغه وخت کې عبدالله هم خېمې ته ورننوتی اوس هغه څوک چې وينه او مرګ يې د رسول الله ﷺ له طرفه مباح ګرځول سوي دي غواړي چې په مسلمانېدلو سره خپل ځان له مرګه خلاص کې او غواړي چې بيعت وکړي، عبدالله بن سعد د بيعت دپاره خپل لاس و رسول الله ﷺ ته ور اوږد کړی، مګر رسول الله ﷺ لاس نه ورته را وغځاوه، رسول الله ﷺ خپل لاس ټول نيولی دی او ساکت دی څه نه وايي، خلک ورته ګوري عبدالله لاس ور غځولی دی او رسول الله ﷺ لاس نه ور کوي، څو لحظې سکوت او خاموشي وه څو عبدالله هم خپل لاس ور ټول کړی، رسول الله ﷺ د ده د بيعته څخه ممانعت او خود داري وکړه ځکه دا هغه سړی دی چې يو وار مسلمان او بيا مرتد سو او دا آوازې يې هم اچولې چې قرآن مجيد مُشوّه او اړول سوی دی، شخصاً ما تغير پکښې راوستلی دی تر دې لويه ګناه چيري ده چې پر الله جل جلاله دروغ و وايي؟ نو ځکه رسول الله ﷺ د ده له بيعته ځان وژغوری يا منعه کړی.

عثمان رضي الله عنه بيا و ويل: يا رسولَ الله! پر اسلام بيعت ور سره وکړه، دوهم وار بيا عبدالله د بيعت دپاره لاس ور اوږد کړی خو رسول الله ﷺ دوهم وار هم لاس نه ور وغځاوه خلک ورته ګوري دا اول وار دی چې رسول الله ﷺ د بيعت دپاره چا ته لاس نه ورکوي، يو نفر راغلی دی غواړي چې مسلمان سي او رسول الله ﷺ يې نه قبلوي لاس يې ټول نيولی دی، په مجلس کې سکوت او خاموشي ده هيڅوک څه نه وايي.

دريم وار بيا عثمان رضي الله عنه و ويل: يا رسولَ الله! بيعت ور سره وکړه په والله غواړي چې مسلمان سي، دريم وار بيا عبدالله لاس ور وغځاوه بيا هم رسول الله ﷺ د څه وخت دپاره لاس ټول نيولی ؤ او بيا وروسته يې مبارک لاس ور وغځاوه او پر اسلام يې

(c) ketabton.com: The Digital Library


بیعت ورسره وکړی.

عبدالله بن سعد مسلمان سو او په دغه طریقه د وژلو څخه خلاص سو، اوس په أمن او امان کي سو او د رسول الله ﷺ د خېمې څخه و وتی، رسول الله ﷺ ناستو خلکو ته وکتل او وې فرمایل: «أَلَيسَ فِيكُم رَجُلٌ رَشِيد؟» آیا په تاسي کي یو پوه او عاقل سړئ نسته؟ کله چي ما د ده له بیعته لاس را ټول کړی چي ورولاړ سوی وای او وژلی یې وای.

بیا رسول الله ﷺ هغه انصاري ته وکتل چي د دغه عبدالله وژل یې پرځان نذر کړي وه او ویل: ما د ده له بیعته ممانعت نه کاوه (ځان نه ژغوری) مګر د دې دپاره چي ستا نذر پرځای سوی وای، تا د ده وژل پرځان نه وه نذر کړي؟ اوس هغه ستا په حضور او مخ ته ؤ او ببله امانه ؤ تا و لیدم چي ما د ده له بیعته امتناع وکړه او ته نه ور ولاړېدلې چي وې وژنې، هغه انصاري وویل: یا رسولَ الله! والله نه سوم پوه، که تا ما ته په سترګو اشاره کړې وای ما به وژلی وای، رسول الله ﷺ و فرمایل:

«مَا كَانَ لِنَبِيٍّ أَن يَقتُلَ بِخَائِنَةِ الأَعيُنِ»

ژباړه: نبي لره دا نه ښایي، یا نبي داسي کار نه کوي چي څوک دي د سترګو په اشاره و وژني، انبیاء عليهم السلام څوک د سترګو په اشاره نه وژني، د انبیاوو وژل په صریح امر سره وي.

*نو عبدالله بن سعد بن أبي سرح په دغه طریقه سره له مرګه خلاص سو.*

## د عِکرمه بن أبي جهل مسلمانېدل

عِکرمه د ابوجهل زوی چي دئ هم یو د هغو لسو نفرو څخه ؤ چي رسول الله ﷺ یې د وژلو امر کړی ؤ بالکل د مکې مکرمې څخه دباندي تښتېدلی ؤ او جدې ته ولاړ څرنګه چي اوس د جزیرةُ العرب ډېره حصه د اسلام تر حکم او تسلط لاندي ده نو عِکرمه د پټېدلو ځای نه درلودی هلته په جده کي په یوه کښتۍ کي سپور سو غواړي چي تر جزیرةُ العرب دباندي وتښتي، په دغه وخت کي چي عِکرمه وتښتېدی د عِکرمه ښځي ایمان را وړی او مسلمانه سوه، نو رسول الله ﷺ ته ورغله او ویل: یا رسولَ الله!

(c) ketabton.com: The Digital Library


که مي عِکرمه مسلمان درته را وستی أمان ورکوې؟ رسول الله ﷺ و فرمایل: هو، که عِکرمه مسلمان راغلی په امان دی او امان ورکوم، د عِکرمه ښځي و ویل: یا رسول الله! زه یې مسلمان راولم.

بیا نو ښځي د عِکرمه معلومات وکړی ورته معلومه سوه چي هغه جدې ته تللی دی، ښځه یې جدې ته پسي ولاړه هلته چي یې معلومات وکړی خلکو ویل: هغه په کښتۍ کي سپور سو او ولاړی، خو په هغه وخت کي چي عِکرمه په کښتۍ کي سپور دی دریاب طوفاني سو څپې یې وهلې، هغه خلک چي په کښتۍ کي سپاره وه خپل مرګ یې په سترګو ولیدی او ټولو په دعاء شروع وکړه، که څه هم د کښتۍ سپاره خلک ټول کفار او مشرکان وه خو رجوع او دعاء یې ټوله ویوه الله ته وه، د یوه بت نوم هم نه یادوي، عکرمه ورته ګوري چي دغه خلک ټول بت پرستان دي خو مرسته او مدد بېله الله جل جلاله بل د هیڅا څخه نه غواړي هغه د دوی آلهه او خدایان هغه چي دوی یې عبادت کوي هغه یې ټول پرېښوول او مرسته نه ځني غواړي.

اوس هم ټول کفار او نصارا دغسي دي، کله چي زلزله یا بل لوی آفت پر راسي دوی نه وایي: یا عیسی! بلکه وایي: یا الله!

عموماً ټول انسانان د واقعی آفت او مصیبت په وخت کي فطرتاً بېله الله جل جلاله څخه بل څوک نه یادوي او نه د بل چا څخه مرسته غواړي.

اوس هم عِکرمه ویني او ورته ګوري دغه خلک ټول هغه خلک دي چي د بتانو عبادت کوي د بتانو پر نامه حیوانات حلالوي، مګر اوس د یوه بت نوم هم نه یادوي بلکه ټول ویوه الله جل جلاله ته نارې وهي، نو عِکرمه د ځان سره و ویل: هغه چي په سمندر او دریاب کي رب دی او مخلوق ته نجات ورکوي په وچه کي هم هغه ذات، رب او نجات ورکوونکی دی، په دغه وخت کي یې اسلام زړه ته لار وکړه، کله چي دریاب آرام سو عِکرمه و ویل: ما بیرته ساحل ته بوزی او کښته مي کړی.

عِکرمه یې بیرته جدې ته را وستی او کښته یې کړی په جده کي یې خپله ښځه ولیدل ویل: څنګه راغلې یې؟ ښځي یې ورته و ویل: که رسول الله ﷺ ته مسلمان ورسې هغه امان درکوي، ده ویل: والله زما زړه ته هم ایمان ننوتلی دی، عِکرمه بیرته

(c) ketabton.com: The Digital Library


مکې مکرمې ته راغلی او مسلمان سو، رسول الله ﷺ هم د ده په ایمان ډیر خوشاله سو، ځکه د دې امت د فرعون زوی، د مکې مکرمې د مشرک قریشو یو مشر. د رسول الله ﷺ او مسلمانانو لوی دښمن مسلمان سو.

## د صفوان بن امیه مسلمانېدل

که څه هم صفوان بن اُمیه د هغو کسانو څخه نه ؤ چي رسول الله ﷺ دي د ده د وژلو امر کړی وي خو بیا هم دئ په دې صفت چي د قریشو د مشرانو څخه یو مشر ؤ پر خپل ځان و بېرېدی او د مکې مکرمې څخه وتښتېدی، کله چي د صفوان ښځي چي مسلمانه سوې وه ولیدل چي عِکرمه په امان سو نو عمیر بن وهب الجُمُحي رضی الله عنه ته ورغله او د صفوان د أمان په باره کي یې خبري ور سره وکړې، عمیر بن وهب رضی الله عنه د صفوان د ښځي په ملګرتیا و رسول الله ﷺ ته ورغلی او د صفوان دپاره یې امان ځني وغوښتی، رسول الله ﷺ و فرمایل: هو، که صفوان مسلمان سو امان ورکوم، دوی ویل: یا رسولَ الله! صفوان د ضد او عناد خاوند دی که مسلمان نه سي امان ورکوې؟ ویل هو، را دي سي څلور میاشتي امان ورکوم، عمیر بن وهب و ویل: یا رسولَ الله! د صفوان د امان دپاره یوه علامه راکړه چي دئ په قانع کړم، رسول الله ﷺ خپله مبارکه لنګوټه یا پټکئ هغه چي د مکې مکرمې د فتحي په ورځ یې تړلې وه ورکړه، ویل: دغه زما د امان علامه ده، عمیر بن وهب رضی الله عنه پسي ولاړی صفوان یې هم په جده کي پیدا کړی، صفوان غوښته چي په کښتۍ کي سپور سي او یمن ته ولاړ سي، خو عمیر بن وهب رضی الله عنه ورته و ویل: راځه که څه هم پر هغه خپل کفر او شرک پاته یې رسول الله ﷺ څلور میاشتي امان درکوي مګر ښه خبره دا ده چي اوس مسلمان سې، صفوان ویل: یا، د مسلمانېدلو إراده مي نسته خو دغه امان مي قبول دی، نو صفوان پر هغه خپل شرک ؤ او د رسول الله ﷺ د امان په سبب مکې مکرمې ته راغلی او رسول الله ﷺ ته یې و ویل: ما ته دوې میاشتي وخت راکړه چي د اسلام په باره کي فکر وکړم، رسول الله ﷺ و فرمایل: څلور میاشتي اختیار لرې، بیا یې د حُنین په غزاء کي که څه هم مشرک ؤ اشتراک وکړی چي دغه غزاء د مکې مکرمې تر فتحي

(c) ketabton.com: The Digital Library


لږ وروسته پېښه سوه، چې بیان به یې وروسته درته وسي.
مګر صفوان د امان د مودې تر ختمېدلو د مخه مسلمان سو.

*دا د قریشو سرداران وه او دا یې واسلام ته د داخلېدلو حالات وه.*

اوس چې رسول الله ﷺ ته مکه مکرمه چې د ده ښار، وطن او د زېږېدلو ځای ؤ فتحه او تسلیم سوه، په انصارو کي دا بېره پیدا سوه چې رسول الله ﷺ دي دلې پاته سي، نو انصارو په خپل منځ کي سره و ویل: آیا پسله دغه چې الله جل جلاله خپل رسول ﷺ ته د ده وطن او ښار ور فتحه کړی دا فکر نه کوی چې رسول الله ﷺ دي د اوسېدلو دپاره دلې پاته سي؟

په دغه وخت کي رسول الله ﷺ د صفا پر غونډۍ ولاړ ؤ او دعاء یې کول، کله چې د دعاء څخه فارغه سو ویل: تاسي څه سره ویل؟ دوی ویل: څه مو نه ویل یا رسولَ الله! بیا هم رسول الله ﷺ ورته و ویل: په کومه موضوع کي چې مو خبري کولې را ته و وایاست، انصارو هغه خپل حال ورته و وایه، رسول الله ﷺ و فرمایل: معاذ الله ژوند مي هم ستاسي سره دی او مرګ مي هم ستاسي سره دی.

رسول الله ﷺ نولس ورځي په مکه مکرمه کي پاته سو چې په دغه موده کي یې خلکو ته د هدایت او تقوی، دیني او اسلامي لار ښوونې کولې او د دغه ځایه څخه یې د اسلامي دعوت او د شا و خوا د بتانو د ماتولو دپاره ډلې یا سریې لېږلې چې د مکې مکرمې د شا و خوا په قبیلو کي یې ټول موجود بتان مات کړه او په مکه مکرمه کي داسي اعلان وسو: هر څوک چې پر الله او د آخرت پر ورځ ایمان لري په خپل کور کي دي هیڅ بت بېله ماتولو نه پرېږدي او په دغه نولس ورځو کي رسول الله ﷺ لمونځ سفریانه کاوه چې په عربي کي قصر ورته وایي (یعني: څلور رکعتیزه فرضي لمونځ یې دوه رکعاته کاوه) خو لمنځونه یې نه سره یو ځای کول چې جمعه ورته ویل کیږي، هغه دا چې د ماپښین او ماځیګر، یا د ماښام او ماخستن لمونځ سره یو ځای کړي، رسول الله ﷺ لمونځ قصر کاوه خو جمعه یې نه ده کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# د مکې مکرمې څخه د سريو يا ټوليانو لېږل

کله چې رسول الله ﷺ د دغو نولسو ورځو په جريان کې د مکې مکرمې د پوره او کاملې فتحې څخه فارغه او مطمئن سو نو بيې له دغه ځايه څخه د مکې مکرمې د شا وخوا قبيلو ته سريې يا ټولياني لېږلې چې د دغو قبيلو بتان ورمات يا ونړوي او خلک يې اسلام ته دعوت کړي چې اوس به د دغو سريو حالات په ترتيب سره درته بيان سي:

۱ - د هجرت د اتم کال د روژې د مياشتې پر پنځه ويشتمه رسول الله ﷺ خالد بن وليد ﷺ د ديرشو نفرو سپرو په ملګرتيا د هغه بت د ماتولو او نړولو دپاره ولېږی چې د (عُزٰی) په نامه سره يادېدی او په هغه ځای کې ؤ چې نخله ورته ويل کېده، چې دغه بت د مشرکانو د هغه عظيمو بتانو څخه ؤ، دغه بت د قريشو او د بني کنانه د ټولې قبيلې دپاره ؤ، خالد ﷺ هلته ولاړی او بېله مقاومته د هغو خلکو يې عُزٰی مات او ونړاوه.

کله چې خالد ﷺ بيرته راغلی رسول الله ﷺ پوښتنه ځني وکړه چې آيا يو شئ دي وليدی؟ خالد ﷺ ويل: يا، رسول الله ﷺ و فرمايل: نو نه دي دی نړولی بيرته ورسه او وې نړوه، خالد ﷺ هم په ډېر قهر سره بيرته ور رهي سو هلته چې ورغلی توره يې د پوښه کښلې وه او د هغه بت ځای ته ور ننوتی له هغه ځايه يوه توره لڅه ښځه ورته را و وتل چې د سر وربښتان يې ايله او پاشلي وه، هغه د بت خدمتګار (چې موږ ملنګ ورته وايو) پر ښځه نارې وهلې، خو خالد ﷺ توره ور سره کړه او ښځه يې دوه ځايه کړه، بيا و رسول الله ﷺ ته راغلی او دغه قصه يې ورته وکړه، رسول الله ﷺ و فرمايل: هو دغه عُزٰی ؤ او د دې څخه نا اميده سو چې بيا دي يې ستاسي په ملک کې عبادت وسي.

۲ - دغه د روژې په مياشت کې رسول الله ﷺ عَمرو بن العاص ﷺ هغه بت ته ورولېږی چې د (سُواع) په نامه سره يادېدی چې دا د هُزيل د قبيلې بت ؤ او د مکې مکرمې څخه درې ميله ليرې د رِهاط په منطقه کې پروت ؤ، کله چې عَمرو بن العاص ﷺ هلته ورغلی د بت خدمتګار يا ملنګ ورته و ويل: د څه شي دپاره راغلی يې؟ عَمرو ﷺ ويل: رسول الله ﷺ امر کړی يم چې دغه بت ونړوم، ملنګ و ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library


دا کار نه سي کولای، عَمرو ﷺ وویل: ولي؟ ملنګ وویل: نه دي پرېږدي، عمرو ﷺ وویل: وَیحکَ ته تراوسه پر هغه باطل دین یې؟ آیا دغه بت شئ اوري که یېویني؟ نو عَمرو ﷺ ورتېر سو او بت یې مات کړی بیا یې خپلو ملګروته وویل: چې دغه خونه شا وخوا تاوله ونړوی، خونه ونړول سوه خو شئ یې نه کړی پکښې پیدا، بیا یې هغه ملنګ ته وویل: څنګه سو؟ ملنګ وویل: ما هم د الله دپاره د اسلام دین قبول کړی دی.

۳ - دغه د روژې په میاشت کي رسول الله ﷺ سعد بن زید الأشهلي ﷺ د شلو نفرو ملګرو سره د هغه بت د ماتولو دپاره ولېږی چې د (مَناة) په نامه سره یادېدی چې دغه بت په مُشَلّل کي د قُدید سره ؤ، دغه بت د أوس، خزرج، غسّان او ځینو نورو قبیلو دپاره ؤ، کله چې سعد ﷺ هلته ورغلی د هغه بت خادم یا ملنګ ورته وویل: د څه شي دپاره راغلی یې؟ سعد ﷺ وویل: د مناة د نړولو او ماتولو دپاره، ملنګ وویل: ته او هغه ښه سره پوهېږی، سعد د بت پر طرف وررهي سو، د بت له طرفه یوه لڅه توره ښځه چې د سر وربښتان یې شکېدلي او پاشلي وه په چغو او نارو ورته را ووتل او خپل ځیګر یې په چپلاخو یا څپېړو واهه، هغه ملنګ ورته وویل: یا مناة ځیني نافرمانه خلک راغلي دي ځان ځني ساته، خو سعد ﷺ په توره ووهل او ښځه یې ووژل، بیا هغه بت ته ورتېر سو هغه یې هم ونړاوه.

۴ - کله چې خالد بن ولید ﷺ د عُزٰی د ماتولو او نړولو څخه راغلی رسول الله ﷺ د بني جُذَیمه قبیلې ته د دعوت دپاره ولېږی نه د جنګ کولو دپاره، د خالد ﷺ سره درې سوه او پنځوس نفره د مهاجرینو، انصارو او د بني سُلیم د قبیلې خلک ملګري دي، خالد ﷺ چې هلته ورغلی هغه ټول قوم د ده د استقبال دپاره د اسلحې سره د ده مخ ته را ووتل، د هغو د جنګ إراده نه ده مګر په هغه وختو کي د عربو دا قانون ؤ چې د یوه لوی او معتبره سړي استقبال او ښه راغلي ته به د اسلحې سره ور وتل، اوس دغه قوم هم د خالد بن ولید ﷺ مخي ته مُسلّح را و وتل، د خالد ﷺ بیا دا خیال سو چې دوی د جنګ دپاره را وتلي دي، خالد ﷺ ورږغ کړه أسلِمُو! مسلمانان سی، هغو وویل: صَبَأ نَا صَبَأ نَا، یعني: د دینه وتلي یو، هغو په خپله اصطلاح و وویل: د دینه وتلي یو یعني: هغه پخوانئ دین مو پرې ایښی دی،

(c) ketabton.com: The Digital Library


داسي يې نه و ويل: أسلمنَا، چې مسلمانان سوي يو. مګر د مسلمانانو او نورو عربو په اصطلاح صَابِئ يعني: کافر، نو د مسلمانانو په اصطلاح د دوی د خبري معنٰی دا سوه: چې کافران سوي يو، خالد ﷺ د حملې امر وکړی چې جنګ شروع کړی ځکه دوی کفار دي، دغه د خبرو په غلط فهمي سره جنګ شروع سو، په هغه قبيله کي هم نفر ووژل سوه هم يې بنديان ځني ونيول او دغه بنديان يې د خپل لښکر پر افرادو تقسيم کړه، وروسته هغوو ويل: أسلمنَا، خالد ﷺ و ويل: د توري د بيري مسلمانان سواست.

خالد ﷺ په شپه کي امر وکړی چې دغه در سره بنديان هم و وژنی ځکه د ده په خيال کفار دي، مګر عبدالله بن عمر ﷺ او ځينو نورو اصحاب کرامو يعني: مهاجرينو او انصارو دغه کار و نه کړی، خپل ور سره بنديان يې نه و وژل، ويل: اوس چې دوی اسلام قبول کړی مونږ يې څنګه و وژنو؟ خو يوازي د بني سُليم قبيلې چې نوي مسلمانان سوي وه خپل بنديان و وژل، مقصد دا چې دلته يو د بل د خبرو د نه پوهېدلو يا د يوه سوء تفاهم په سبب د بني جُذَيمه ډېر نفر ووژل سوه.

کله چې خالد ﷺ بيرته مکې مکرمې ته راغلی او رسول الله ﷺ ته دغه خبر و ويل سو، رسول الله ﷺ ډېر په قهر سو لاس يې پورته کړی او وې فرمايل:

«اللّهم إنّي أبرأ إليک مِمّا صَنَعَ خالدٌ»

ژباړه: الٰهي زه له هغه کاره بري او بېزاره يم چې خالد کړی دی، دغه د ده په کار نا خوښه يم (دوه واره يې دغه جمله تکرار کړه) او بيا يې و فرمايل:

«إنّ في سيفِ خالدٍ لَرَهَقاً» بېشکه چې د خالد په توره کي وينه بهول سته.

يعني: دئ پر قتل او وژنه دلاوري لري.

خو څرنګه چې په دغه مسئله کي هغه د الفاظو او اصطلاحاتو د اختلاف او نه پوهېدلو په سبب شُبهه او خطاء موجود وه، بيا هم رسول الله ﷺ خالد ﷺ ته عفوه وکړه جزا يې ور نه کړه، ځکه په دغه حال کي د دواړو خبرو احتمال موجود ؤ، يا دا چې مسلمانان سوه يا دا چې د جنګ دپاره را وتلي وه، خو په وروسته کي بيا د دغه موضوع په باره کي د خالد بن وليد ﷺ او عبدالرّحمٰن بن عوف ﷺ په منځ کي د شر خبري سره رَد او بدل سوې، دا حال و رسول الله ﷺ ته ورسېدی، رسول الله ﷺ

(c) ketabton.com: The Digital Library


و خالد بن ولید ته و فرمایل: یا خالد! احتیاط کوه، زما په اصحابو کار مه لره. په والله که د اُحُد غر د سرو زرو سي او ستا وي او ته يې بيا د الله جل جلاله په لار کي مصرف کړې زما د اصحابو هغه يو د سهار د تګ يا د شپې د تګ درجه او ثواب به نه کړې حاصل.

يعني: دوی چي هغه د ضعف او مسکنت په حال کي د جهاد دپاره په سهار يا ماښام کي يو تګ کړی دی د هغه ثواب نه سې حاصلولای، هغه نور کارونه خو يې پرېږده.

ورونو! دغه خبره زموږ او ستاسي ټولو دپاره لوی درس او تعليم دی موږ او تاسي د صحابهٔ کرامو سره بايد څومره ادب او احترام ولرو، که څه هم خالد بن وليد ﷺ په خپله صحابي دی (سيفٌ من سيوف الله) دی جهاد او غزاوي يې تاسي ته در معلومي دي مګر د هغه سابقون الأولون درجې ته نه سي رسېدلای، نو موږ او تاسي بايد څه وکړو؟

دا د مکې مکرمې د فتحي غزاء وه، دغه هغه فيصله کوونکی جنګ ؤ چي په جزيرةُ العرب کي د کفر رئيسانو او رهبرانو ماته وخوړل، قريش هغه قوم ؤ چي همېشه به يې د رسول الله ﷺ سره عناد او دښمني کول، دوی هغه څوک وه چي د عربو نوري قبيلې يې د اسلام د قبلولو څخه منعه کولې، رسول الله ﷺ په داسي ډول سره مکه مکرمه فتحه کړه چي قريشو د هغې د فتحه کولو هيڅ فکر نه کاوه، دا هم د الله جل جلاله فضل او کرم ؤ چي دغه فتحه بېله وژني او بېله ويني تويولو سر ته ورسېدل.

رسول الله ﷺ په أمن او سلامتيا مکې مکرمې ته داخل سو دا هغه عظيمه فتحه ده چي په جزيرةُ العرب کي يې د بت پرستی اساس او ريښې وروکښې او د هغه باطل دين د پاته کېدلو دپاره هيڅ اميد نه سو پاته، د جزيرةُ العرب ټولو مشرکو قبيلو د دې انتظار کاوه چي له دغه جنګه څخه چي د مسلمانانو او بت پرستانو په منځ کي له ډېره وخته راهيسي شروع سوی دی څه نتيجه راوزي؟ او څوک کاميابه کيږي؟

د دغو قبيلو دا يقين او عقيده وه چي پر بيت الله الحرام هغه څوک کاميابه کېدلای سي چي پر حق وي او دغه عقيده بيا ډېره هغو واقعاتو ور تائيد او تاکيد کړې وه چي نيم قرن د مخه د اصحاب الفيل او د دغه حرم په منځ کي پېښي سوي وې.

نو د حديبيې صلحه د دغي لوی فتحي دپاره مقدمه او توطئه وه، په هغه صلحه سره خلک خاصتاً مسلمانان په امان سوه، ځينو د ځينو نورو سره خبري کولای سوای

(c) ketabton.com: The Digital Library


او دلائل یې ور سره ویلای سوای، هغه مسلمانان چې په مکه مکرمه کې وه او خپل دین یې پټاوه هغو وکولای سوه چې خپل دین ښکاره کړي او خلک ورته را دعوت کړي او پر خپل دین دلائل و وایي، د حدیبیې د صلحې په واسطه ډیر انسانان اسلام ته داخل سوه، تاسي ولیدل چې په تیرو ټولو غزاوو کې د مسلمانانو شمېر تر درې زره نفره نه دی زیات سوی مګر په دغه غزاء کې لس زره نفره مسلمانان سره یو ځای سوه او دغه فیصله کوونکې غزاء د خلکو سترګې ور خلاصې کړې، په دغه غزاء سره د خلکو د سترګو څخه هغه آخرنی پردې چې د دوی او د اسلام په منځ کې وې ایسته سوې، په دغه غزاء سره مسلمانانو په ټوله جزیرۃ العرب کې سیاسي او دیني سیطره حاصله کړه، دیني صدارت او دنیوي ریاست دواړه و مسلمانانو ته ور تسلیم سوه، هغه مرحله چې د حدیبیې په صلحه سره شروع سوې وه په دغه فتحه سره پوره او کامله سوه او تر دې وروسته یوه بله مرحله شروع سوه چې هغه مرحله په تمامه معنٰی د مسلمانانو په ګټه او مصلحت وه، د عربي قبیلو دپاره بل څه نه وه پاته بېله دې څخه چې په ډلو ډلو و رسول الله ﷺ ته ورتله او اسلام ته داخلېدل او بیا یې له دغه ځایه څخه و عالَم ته دعوت ور سره وړی او دغه کار په دوو راتلونکو کلو کې په پوره ډول سره پای ته ورسېدی.

که مورږ د مکې مکرمې د فتحې و حالاتو او واقعاتو ته په غور او دقت سره متوجه سو د هغه څخه خورا ډیر دیني او سیاسي، اخلاقي او اجتماعي احکام او تجربې، حتّٰی نبوي حکمتونه را ایستلای سو، خو څرنګه چې زموږ بحث د دغسې موضوعاتو د بیانولو دپاره نه دی، نو که د دیني احکامو په را ایستلو او بیانولو شروع وسي زموږ بحث ډیر اوږدیږي، په دې سبب چې بحث مو اوږد نه سي د ډیرو موضوعاتو تر بیانولو به تېر سم خو فقط دغه څو موضوعاتو ته باید ښه متوجه سو او دا به زموږ دپاره درس وي چې د رسول الله ﷺ د سیرت د ویلو او اورېدلو څخه څنګه او په کومه طریقه سره حکمتونه او عبرتونه را ایستلای سو.

۱ – تاسي خو اوس د دغې لویې فتحې واقعات ولوستل یا واورېدل چې الله جل جلاله خپل رسول ﷺ او د هغه اصحاب رضي الله عنهم په دغه فتحه سره مکرم او معززه کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library


اوس تاسي کولای سی چي د هغه پخواني دعوت او د هغه دعوت د ترخو واقعاتو او تکاليفو، د هغو عذابو او زحمتو د هغو لوړو او تندو چي پر رسول اللهﷺ او اصحاب کرامو تېرېدل نتيجه او ثمره په خپلو سترګو ووينی.

اوس چي دي د مکې مکرمې د فتحي قصه واورېدل ته کولای سې چي د هغه هجرت چي څو کاله د مخه د دغه مکې مکرمې څخه سوی ؤ ارزښت او اهميت وسنجوې، ته بايد په دې پوه سې چي د الله او اسلام په لار کي د ځمکي او وطن، د مال او کورنۍ، د قوم او اقرباوو قرباني کول قرباني نه ده، که اسلام پاته وي دغه شيان دي ټول بيرته لاس ته درځي او که اسلام نه وي دغه ټول شيان تا ته فايده نه سي دررسولای.

اوس ته د دغي لويي فتحي په واقعو کي ښه غور وکړه! تا ته به در معلومه سي چي تر دغه فتحي د مخه هغه جهاد او شهادتونه، هغه لوږي او تندي، هغه زحمتونه او تکليفونه، عبث او بيهوده نه وه، د يوه مسلمان يو څاڅکی وينه هم بې فايدې نه وه توی سوې، مسلمانانو چي په هغه خپلو سفرو او جنګو کي کوم تکاليف زغملي وه هغه ټول د دوی دپاره د دوی په بانکي حساب کي جمعه کېدل، هغه ټوله تکليفونه د دغه فتحي او نصرت قيمت ؤ چي دوی په کښتو يا اقساطو سره په پخوا کي جمعه کړی ؤ او دا هم د الله جل جلاله په خپلو بندګانو کي قانون او طريقه ده، بېله صحي اسلامه څخه نصرت نسته او اسلام بېله عبوديته څخه نسته او عبوديت بېله تضحيې او قربانيه نسته.

د الله جل جلاله په لار کي به جهاد کوې، تر هر څه به تېرېږې، نو ته واقعي د الله جل جلاله بنده او عبدالله يې او د الله جل جلاله نصرت دي ملګری کيږي، ستا هغه ورځ په ياد ده چي رسول اللهﷺ د خپل وطن مکې مکرمې څخه ووتی؟ او څنګه ووتی؟ د غرو او شېلو په منځ کي د شپې په تاريکيو کي په پټه و مدينې منورې ته مهاجر ووتی، چي ځيني اصحاب يې تر دهﷺ د مخه مهاجر سوي وه او ځيني تر دهﷺ وروسته پسي ورغله، هغه وخت د اصحاب کرامو شمېر لږ او هم د ضعف په حالت کي وه، هغو ټولو مال او کورنۍ، ځمکه او وطن د دې دپاره پرېښوول چي دين ورپاته سي.

دغه دي: هغه ټوله اصحاب کرام نن ورځ خپلو مالو او خپلو کورنيو، خپل وطن

(c) ketabton.com: The Digital Library


او خپلو اقرباوو ته راغله، کله چي تله لړ وه او اوس ډېر دي، کله چي تله ضعيفه وه او اوس قوي دي او هغه کسان چي پرون يې دوی په جبر او ستم سره ايستلي وه نن په خشوع او خضوع سره د دوی استقبال کوي، په ذِلّت او کښتو سترګو سره دوی ته ګوري، د مکې مکرمې هغه اهل چي د قرآن مجيد اورېدل يې منعه کړي وه، اوس په ډلو ډلو د الله جل جلاله دين ته داخلېږي.

هغه حبشي بلال رضي الله عنه چي همېشه به د مکې مکرمې په سرو او تودو ريګو کي د مشرکانو پر لاس عذابونه ورکول کېدل اوس د کعبې شريفي بام ته خيژي او په لوړ آواز سره د الله اکبر، الله اکبر تکبيرونهٔ وايي، دا هغه آواز دی چي يوه ورځ يې د عذاب تر چلاخواو وهلو لاندي په زګېروي سره ويل: احدٌ احد، احدٌ احد.

دغه دی نن ورځ لوړ پر کعبه شريفه ولاړ دی په لوړ او خواږه آواز سره وايي (أشهد أن لا إله إلا الله، و أشهد أنّ محمّدا رسول الله) او ټول قريش چوپ او هم يې غوږ ورته نيولی دی، دا ټوله هغه يو حقيقت دی چي دوهم نه لري، چي هغه اسلام دی، نو هر هغه انسان څومره احمق او جاهل دی چي بېله اسلامه د بل شي دپاره جنګ او جهاد کوي.

ځيني جاهل انسانان فقط د هغو خيالاتو او اوهامو دپاره کوښښ کوي چي هيڅ حقيقت نه لري، مورِ او تا سي څومره ډېر سره بيرغونه وليدل او څومره ډېري د هورا نارې مو واورېدې چي د دوی د ساتني دپاره د دوی ترشا څومره سرې لښکري ولاړي وې، هغه ټوله څه سوه؟ ځرنګه چي د هغو خلکو جنګ او جهاد فقط د باطلو اوهامو دپاره ؤ په هغه خپله ځانګو کي نېست او نابود سوه او اسلام چي يو حقيقي او الٰهي دين دی که څه هم په ظاهره نه لښکري لري او نه فوجونه خو بيا هم د (۱۴۴۴) کلو را هيسي پر خلکو او د خلکو پر عقيدو مسلط او قائم دی.

۲ – تاسي د فتحي په ورځ د ابوسفيان و عمل او کار ته نه ياست په تعجب کي، دئ هغه اول سړئ دی چي خپل قوم ته ورغلی او د رسول الله ﷺ د جنګ او د هغه د اصحابو څخه يې ېېرول او په تسليمېدلو سره يې امر کول.

ابوسفيان له خپله قومه څخه هغه اول سړئ دی چي په دغه ورځ اسلام ته داخل

(c) ketabton.com: The Digital Library


سو، حال دا چي دئ هغه څوک وُچي د مکې مکرمې څخه د رسول الله ﷺ د جنګ دپاره هيڅ داسي لښکر نه دی وتلی چي د ابوسفيان په امر او لاربښوونه سره دي نه وي.

ښايي د الٰهي حکمت دا خوښه وه چي مکه مکرمه دي بېله جنګه څخه فتحه سي او د مکې مکرمې اهل دي و رسول الله ﷺ ته بېله جنګه تسليم او تابع سي، که نه خو دوی هغه کسان وه چي دئ ﷺ يې آزاراوه، دوی وه چي دئ ﷺ يې د مکې مکرمې له ښاره وايستی، دوی وه چي جنګونه يې ور سره کول او نن ورځ بېله هيڅ کوښښه د مسلمانانو د ابوسفيان د مسلمانېدلو اسباب په خپله برابر سوه، دا د دې دپاره چي دئ خپل قوم ته ورسي او د هغو له دماغه څخه د جنګ فکرونه وباسي، د مکې مکرمې هوا د صلحې دپاره مناسبه کړي چي په نتيجه کي د شرک او جاهليت ژوند او تاريخ ښخ سي، د توحيد او اسلام لمر وځلېږي او د دغه کار دپاره تمهيد او مقدمه د رسول الله ﷺ هغه اعلان ؤ چي وې فرمايل: که څوک د ابوسفيان کورته ننوتی هغه په امان دی.

تاسي د دغې خبرې په حکمت او قيمت پوهېږی؟ په والله يو ساعت د دغې خبرې پر حکمت خبري کېدلای سي، بيان او تبصرې پر کېدلای سي، که څه هم هلته په انصاروکي ځيني داسي کسان پيدا سوه چي د دغې خبرې حکمت نه ور معلومېدی. کله چي رسول الله ﷺ و فرمايل: که څوک د ابوسفيان کور ته ننوتی هغه په امان دی، ځينو انصارو وځينو نورو ته و ويل: په والله د رسول الله ﷺ خپل ښار او خپل وطن ته ميل پيدا سو او پر خپل قوم مهربانه سو، ابو هريره ﷺ وايي: په دغه وخت کي وحيِ نازلې سوې او په هغه وخت چي په هغه کي به وحيِ نازلېدلې موږ پوهېدلو (يعني: علامې يې را معلومي وې) نو دغه د وحيو د نزول په وخت کي به د وحيو د نزول تر آخره وخته، هيچا و رسول الله ﷺ ته سترګي هم نه ور اړولې، کله چي د وحيو نزول پای ته ورسېدی رسول الله ﷺ و فرمايل: يا معشرَ الانصار! هغو ويل: لبيک يا رسولَ الله! رسول الله ﷺ و ويل: تاسي سره و ويل چي د رسول الله ﷺ خپل ښار ته ميل پيدا سو؟ هغو ويل: هو داسي پېښه سوه.

رسول الله ﷺ و فرمايل: هيڅکله داسي نه ده، زه د الله بنده او د الله ﷻ

(c) ketabton.com: The Digital Library


رسول یم ما و الله او تاسي ته هجرت درکړی دی، ژوند به مي هم ستاسي سره وي او مرګ به مي هم ستاسي سره وي، انصارو په ژړا ژړا و رسول اللهﷺ ته و ویل: په والله موږ دغه خبره نه ده کړې مګر د دې دپاره چي الله او رسول الله مو خوښ دي او دا مو خوښه ده چي رسول الله زموږ سره زموږ په وطن کي و اوسیږي.

ورونو! دغه د ایمان او اسلام فرق دی. اسلام هغه دی چي په ظاهره مسلمان وي لکه اوس چي ابوسفیان مسلمان سو او ایمان دغه دی چي د انصارو په زړو کي ښخ ؤ چي د رسول اللهﷺ پر ملګرتیا او همسایه توب حریص وه او په مکه مکرمه کي یې د دهﷺ پاته کېدل نه غوښته.

۳ – د رسول اللهﷺ د حکمتو څخه یو دا ؤ: پسله هغه چي ابوسفیان خپل اسلام اعلان کړی رسول اللهﷺ عبّاس رضي الله عنه امر کړی چي د هغه تنګي په خوله کي یې ودروي چي هلته د رسول اللهﷺ لښکري، تېرېږي، دا د دې دپاره چي ابوسفیان یې په خپلو سترګو وویني چي د اسلام قوت کومي درجې ته رسېدلی دی او د هغو لږو، پاشلو او ضعیفه مهاجرو حال وکوم حالت ته اوښتی دی، نو اولاً خو به دغه لیدنه د ابوسفیان د دین او عقیدې دپاره ثابتوونکې او قائموونکې سي او دوهم: د ابوسفیان له دماغه به د جنګ خبري په کُلي ډول سره ووزي.

اوس چي دغه اسلامي لښکري یوه پسله بلي د ابوسفیان مخ ته تیرېږي او دئ په تعجب سره ورته ګوري په حیرت کي پاته دی نو یې عبّاس رضي الله عنه ته وکتل او ورته ویې ویل: په والله ستا د وراره پاچهي نن ورځ ډېره لویه سوې ده، مګر عبّاس رضي الله عنه د هغه پخواني غفلته څخه را ویښ کړی او ورته ویې ویل: یا اباسفیان! دا نبوت دی، دغه چي ته یې وینې دا پاچهي نه ده بلکه دا نبوت دی.

رسول اللهﷺ پاچهي او مشرتوب، مال او دولت ټول په هغه ورځ تر پښو لاندي کړه چي تاسي په مکه مکرمه کي پر عرض کړه او ورکول مو او هغه هم په هغه وخت او حالت کي وه چي دهﷺ ستاسي آزارونه او عذابونه زغمل او تحملول او په آخر کي تاسي له خپله وطنه و هجرت ته مجبوره کړی، دا ټوله په دې سبب وه چي دهﷺ نه غوښته چي خپل نبوت هغه چي تاسي یې ایمان بالله ته د: وتولاست ستاسي په

(c) ketabton.com: The Digital Library


پاچهي بدل کړي، نو ځکه يې ورته و ويل: "يا اباسفيان دا پاچهي نه ده بلکه نبوت دی" مال او دولت، مشرتوب او پاچهي. خو تاسي د دعوت د پرېښوولو په مقابل کي ورکول او ده ﷺ نه قبلول. نو دا پاچهي نه ده بلکه نبوت دی.

دغه د عبّاس رضی الله عنه جمله داسي جمله ده چي الهي حکمت د عبّاس رضی الله عنه پر ژبه جاري کړه، دپاره د دې چي دغه جمله د قيامت تر ورځي د هغو کسانو دپاره جواب وګرځي چي دوی دا فکرکوي چي د نبوت دعوه د دې دپاره وه چي پاچهي او زعامت، مشرتوب او حاکميت لاس ته راوړي، يا قوميت او عصبيت په را ژوندئ کړي، خو دغه د عبّاس رضی الله عنه جمله داسي جمله ده چي د رسول الله ﷺ د ټول حيات دپاره اول تر آخره عنوان ګرځېدلای سي، په حقيقت کي د ده ﷺ د عمر او ژوند ټولي لحظې او ساعتونه، مرحلې او دورې د دې دليل دي چي دئ ﷺ خلکو ته د رسالت د رسولو او تبليغولو دپاره مبعوث کړه سوی دی نه د خپل ځان د آمريت او پاچهۍ دپاره.

۴ - د رسول الله ﷺ يو حکيمانه تدبير دا ؤ چي خپل اصحاب يې امر کړه چي مکې مکرمې ته د څلورو مختلفو لارو څخه ور داخل سي او وې فرمايل: د يوې لاري څخه مه ور داخلېږئ، دا کار د دې دپاره ؤ چي د مکې مکرمې خلکو ته د جنګ کولو موقع ورنه کړي، ځکه که اهل مکه د جنګ إراده هم وکړي نو مجبوره دي چي خپلي قواوي به د مکې مکرمې و ټولو لارو ته سره ويشي، چي په دغه ډول سره د قريشو د مقاومت اسباب ضعيفه کيږي او د جنګ امکانات يې لږېږي او رسول الله ﷺ دا کار د دې دپاره وکړی چي ترکومه حده ممکنه وي په بلد الحرام کي جنګ و نه سي او وينې و نه بهول سي، نو ځکه يې مسلمانانو ته هم داسي امر وکړئ: ويل: تر څو پوري چي چا جنګ نه وي در سره کړی تاسي به جنګ نه کوی او دا اعلان يې هم ور سره وکړی: "هر هغه څوک چي په خپل کور کي وي او د کور دروازه په ځان پسي بنده کړي هغه په امان دی" دغه ټوله حکمتونه او احتياطونه د څه شي دپاره وه؟ د خلکو د سلامتيا او امان دپاره وه، رسول الله ﷺ نه غوښته چي د چا وينې توی سي.

۵ - د ښځو د بيعت څخه مورږ دغه احکام او عبرتونه را ايستلای سو:

(c) ketabton.com: The Digital Library


**اول:** په ټولو هغو مسئولیتو کي چي مسلمانانو او اسلامي ټولني ته ترقي ورکوي نارینه او ښځي سره یو شئ دي، یعني د مسلمانانو او اسلامي ټولني د ترقۍ دپاره نارینه او ښځي یو قسم مسئولیت لري نو ځکه پر یوه مسلمان پاچا او رئیس دا لازمه ده چي د ښځو څخه هم داسي عهد او بیعت واخلي چي د اسلامي ټولني د جوړولو دپاره به په ممکنه مشروع وسائلو سره عمل کوي او کار به ځني اخلي، لکه څرنګه چي دغه عهد او بیعت د نارینه څخه اخیستل کیږي، د نارینه او ښځي په منځ کي فرق او تمیز نسته، له دغه ځایه څخه دا معلومه سوه لکه پر نارینه، دغه قسم پر هري مسلماني ښځي دا لازمه ده چي د خپل دین احکام زده کړي او ټوله هغه ممکني او مشروعي لاري د دې دپاره عملي کړي چي د علومو په اسلحه سره مسلحه سي او د دغو علومو په واسطه د اسلام د دښمنانو په کمین او حېلو ځان پوه کړي.

ښځه باید پوه سي چي د اسلام دښمنان د کومو لارو څخه غواړي چي پر موږ غالبه او کامیابه سي، د دغو علومو په واسطه دا کولای سي چي هغه عهد چي د دې پر ذمه دی او هغه بیعت چي د دې په غاړه کي دی په صحي ډول سره آداء کړي، دا واضحه او ښکاره خبره ده کومه ښځه چي د خپل دین په حقیقت نه وي خبره، د اسلام د دښمنانو په چم او حیله نه وي پوه، دا څنګه کولای سي چي د دغه عهد او بیعت حقوق آداء کړي؟

**دوهم:** موږ ولیدل چي رسول الله ﷺ د ښځو سره څنګه بیعت کاوه، د ښځو سره یې بیعت فقط د خولې په خبرو سره ؤ بېله دې څخه چي لاس یې ونیسي، حال دا چي د نارینه سره بیعت داسي نه ؤ، نو دا پردې دلالت کوي چي د یوه نارینه دپاره و پردۍ ښځي ته لاس ورول نه دي روا او پر دغه مسئله د مسلمانانو د علماوو اختلاف هم نه دی را معلوم، بلکه ټول علماء کرام دغه کار ناروا بولي، بېله هغه د ضرورت د وختو څخه لکه د ډاکتر معاینه یا د غاښ کښل او داسي نور شرعي ضرورتونه او دا چي د ښځو سره مصافحه یا په لاس سترې مسې کیږي دا هیڅ ضرورت نه دی، عُرف او اصطلاح، رواج او عادت د شرعي و هغو احکامو ته چي په کتاب الله او سنةِ رسولِ الله ﷺ سره ثابت وي هیڅ تغیر نه سي ورکولای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه نن ورځ چې د ورېنداري مخ د عُرف او اصطلاح، یا درواج او اتفاق په نامه سره ولېوره یا د مېړه ونورو اقرباوو ته لځ دی حرام او ناروا کار دی. آیا رسول الله ﷺ نه فرمایي: «اَلحَمَوُ المَوتُ» [رواه: البخاري] یعني: د مېړه اقرباء لکه د مېړه ورور، د مېړه اکا او ماما، د اکا زامن، د ماما زامن او داسي نور، د ښځي دپاره مرګ دی. یعني: نسبت و نورو پردیو خلکو ته د دغو اقرباوو ځخه په آساني سره د شر د پېښېدلو امکانات سته، آیا موږ د رسول الله ﷺ دغه امر تر خپل عُرف او اصطلاح پوري هیڅ نه بولو؟ حال دا چې ځانو نه مسلمانان هم بولو.

آیا دا د افسوس ځای نه دی؟ چې د مسلمانانو په کورنیو کي پېغله خور، د ځوان ورور په حضور، یا ځوانه ورېنداره د ځوان لېوره په حضور پتلون یا چسپ او نیم لځ غوندي لباس او کالي اغوندي، ځان جوړوي، د سر ورېښتان قسم قسم جوړوي، عطر استعمالوي او دغه کورنۍ بیا هم د فتنې او فساده نه بېرېږي؟ آیا دوی خپل ځانونه تر اسلامي شریعت پوه بولي؟ زه به نوره تبصره نه کوم خو دغه یوه قصه واورئ:

یوه عالِم چې د دغسې موضوعاتو په باره کې یې خبري کولې د خپل وعظ او نصیحت په منځ کي دغه قصه بیان کړل: عالِم وویل زه د خپلو نورو ملګرو سره په رېل ګاډۍ کي په سفر تلم چې یو سپین پوسته سړئ چې سپین قمیص، پتلون او نېکټایي یې اغوستي وه را وختی او زما د کُرسۍ پر مقابل په هغه بله کُرسۍ کي کښېنستی زه د خپل کتاب په مطالعه مشغول وم او ده پرله پسې ما ته کتل، کله چې ما ده ته وکتل داسي معلومېدی لکه دئ چې زما د کتلو په انتظار کي ؤ او را ته و یې ویل: یا شیخ داسي ښکاري لکه ته چې عالِم او د اهلِ دین ځخه یې او زه یوه پوښتنه لرم آیا اجازه راکوې چې هغه پوښتنه در ځخه وکړم؟ ما ویل: هو، په دلاوري سره خپله پوښتنه کوه ده و ویل: آیا دا صحي دد چې اسلام ښځي ته دا اجازه نه ورکوي چې د نارینه سره دي په تعلیم او نورو وظیفو کي بېله ستره یا حجابه ګډون او اشتراک وکړي؟

ما ویل هو.

ده ویل: ولې؟

ما ویل: دا کار په اسلام کي په آیات او حدیث سره منعه دی او بیا مي د دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library


موضوع په باره کې نور شرعي دلایل ور ته بیان کړل. په دغه باره کې زما او د ده خبرې ډېرې اوږدې سوې ځو په آخر کې ده را ته وویل: اصلاً د نارینه او ښځو په ګډ ژوند کې پر هر انسان د خپل ځان کنټرولول لازم دي او کله چې صبر او کنټرول موجود سي بیا نو د نارینه او ښځې د ګډون څخه کوم ممانعت نسته، دا چې یو انسان خپل ځان کنټرول کړي بیا نو اختلاط یا ګډ ژوند څه پروا لري؟

ده په خپلو خبرو کې دغه د ځان د کنټرولولو جمله څو واره تکرار کړل ما د خپله ځانه سره وویل: دغه نفر د هغو کسانو څخه دی چې الله ﷻ د هغو په باره کې فرمایي:

﴿فَإِنَّهَا لَا تَعْمَى ٱلْأَبْصَـٰرُ وَلَـٰكِن تَعْمَى ٱلْقُلُوبُ ٱلَّتِي فِي ٱلصُّدُورِ ﴿٤٦﴾﴾. [الحج: ۴۶]

ژباړه: د دوی ظاهري سترګې نه دي ړندې مګر د دوی هغه زړونه چې په سینو کې دي ړانده دي.

دغسې کسان په شرعي نصوصو او دلایلو سره پر لار نه برابرېږي، نو مې د ده د قانع کولو دپاره یوه بله لار، یا بله حیله اختیار کړه، هغه دا چې د خپل بکس څخه مې یوه دانه لیمو را وایستی او په چاړه مې دوه درې ځایه کړی او بیا مې ده ته وویل:

په صدق او وجدان سره قسم در کوم چې ښه حقه به بل څه نه وایې او حق د دې حقداره دی چې متابعت یې وسی، آیا د دغه لیمو په پرې کولو سره ستا په خوله کې ناړې نه سوې پیدا؟ زموږ په اصطلاح خولې دي اوبه ونه کړې؟ سړي وویل: هو.

ما وویل: هغه صبر او د ځان کنټرولول چې تا په تکرار سره یادول څه سوه؟ چاړه او لیمو زما په لاس کې وه او لیمو ما پرې کړی ستا خولې ولې اوبه وکړې؟

ده وویل: کله چې یو تریو شئ د چا مخ ته پرې کیږي خامخا یې خوله اوبه کوي.

ما وویل: کله چې سترګې څلور سي او غوږې د لمر مخ ته کېښوول سي خامخا ویلې کیږي، نو د اختلاطه څخه خامخا فساد پېښیږي او شیطان د انسان د وینې په رګو کې ګرځي او نفس خامخا انسان په بده سره امر کوي، الله ﷻ فرمایي:

﴿إِنَّ ٱلنَّفْسَ لَأَمَّارَةٌۢ بِٱلسُّوٓءِ إِلَّا مَا رَحِمَ رَبِّيٓ ۚ﴾. [یوسف: ۵۳]

ژباړه: بېشکه چې نفس خامخا او هر وخت په بدي سره امر کوونکی دی، بېله هغه نفسه چې زما رب مهرباني پر کړې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


إن شاء الله د قصې په مطلب به پوهېدلي یاست، زه د واضحه او صریحه خبرو څخه ځان ژغورم که نه په دغه باره کې ډیري واقعي او صریحه قصې را سره ستره.

**دریم:** دغه د بیعت حدیث شریف پر دې دلالت کوي چې د ضرورت په وخت کې د ښځې د آواز اورېدل مباح دي، یعني: د ښځې آواز د ضرورت په وخت کې نه دی عورت، خو د حنفي مذهب ځیني علماء وايي چې د ښځې آواز عورت دی.

اوس مو ولیدل چې د رسول اللهﷺ د سیرت څخه څنګه او په کومه طریقه سره احکام، حکمتونه او عبرتونه را ایستل کېدلای سي، چې د فرد او ټولني دپاره مفید وي. نور به بحث نه اوږدوم او بیرته به خپلي قصې ته ولاړ سم.

*په تېر بحث کي موږ د مکې مکرمې د فتحې غزاء بیان کړه، اوس به د مدینې منورې د ژوند دریمه مرحله درته بیان سي.*

## د مدینې منورې د ژوند دریمه مرحله

دغه مرحله د رسول اللهﷺ د ژوند د مرحلو آخرنۍ مرحله ده، په دغه مرحله کي پسله اوږده جهاده، پسله تکالیفو او سترپاوو، پسله لوږو او مشکلاتو، پسله تشویشاتو او اضطراباتو، پسله خونړیو جنګو، اسلامي دعوت نتیجه او ثمره ورکوي.

په تیرو سوو کلو کي د مکې مکرمې فتحه کول د دعوت هغه ډیره لویه نتیجه وه چې د مسلمانانو لاس ته ورغله، په دغه فتحه سره د ورځو تېرېدلو تغیر وکړی، د جزیرةُ العرب هوا په بدله سوه، دغه فتحه د تېر سوي وخت او د را تلونکي وخت په منځ کي یو فاصل او جلا کوونکی ؤ. د عربو په نظر قریش د بت پرستی د دین ساتونکي او انصار وه او نور عرب په دغه کار کي د دوی تابع وه، نو اسلام او مسلمانانو ته د قریشو تسلیمېدل په جزیرةُ العرب کي د بت پرستۍ د دین ختمېدل وه.

اوس نو دغه دریمه مرحله ممکن و دوو صفحو ته و وېشل سي چې یوه صفحه د جهاد او جنګو ده او دوهمه صفحه و اسلام ته د عربي قبیلو داخلېدل او مسلمانېدل دي او د دغو دوو صفحو واقعات سره مبتني دي یوه واقعه د بلي په منځ کي پېښېدل په خپل منځ کي یې ترتیب، تقدیم یا تاخیر نه درلودی چې زه یې پر هغه ترتیب درته

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیان کړم، مګر ما دا مناسب وليدل چې هره صفحه، جلا جلا په ترتیب سره بیان سي خو څرنګه چې د جنګو او غزاوو صفحه زموږ د دمخني بحث سره مشابهت لري نو مې دا بهتره و بلل چې اول د جنګو او غزاوو صفحه بیان کړل سي.

## د حُنین غزاء

تاسي وليدل چې مکه مکرمه په یوه سریع او داسي چابکه حمله سره فتحه سوه چې ټول عرب یې په حیرت او دهشت کي واچول؟ د شا وخوا همسایه قبیلو ته دغه خبر ناڅاپه او ناګهاني ورغلی، هیچا ته دا ممکنه نه وه چې د دغه کار مخ ونیسي، نو ځکه د شا وخوا قبیلو د تسلیمېدلو څخه منعه و نه کړه او هغه هم تسلیم سوې، بېله ځینو شریرو او متکبرو قبیلو څخه چې د هغو شریرو قبیلو په مقدمه کي د هوازن او ثقیف قبیلې وې، نو دغو دوو قبیلو ته د ځینو نورو قبیلو خلک چې د نصر، جُشم، سعد بن بکر او هلال خلک وه هم راټول سوه، دغه قبیلې چې سرکښه او متکبري قبیلې وې دا یې نه قبلول چې د مسلمانانو دغه نصرت او کامیابي ته سر کښته کړي، د دغو شریرو او متکبرو قبیلو مشران د مالک بن عوف په ځای کي د مشورې دپاره سره یو ځای سوه چې په نتیجه کي یې د مسلمانانو سره پر جنګ کولو اتفاق وکړی، په دغه وخت کي هوازن او دغو نورو قبیلو پوره ترتیبات ونیول، تقریباً شل زره جنګي نفر یې سره را ټول کړه او ځانونه یې د مکې مکرمې د حملې دپاره تیار او آماده کړه، په دغه وخت کي چې رسول الله ﷺ او مسلمانان په مکه مکرمه کي دي، دغو قبیلو دا إراده وکړه چې پر مکه مکرمه حمله وکړي او تر خپل تسلط او تصرف لاندي یې را ولي، دا خو هوازن، بنو بکر او ثقیف سره یو ځای سوه، مګر هلته د هوازن ځیني قبیلې وې چې هغو اشتراک نه وو ور سره کړی چې د هغې جملې څخه کعب او کلاب وه، که څه هم دغه قبیلې د هوازن څخه وې مګر ویل: موږ په دې موضوع کي ګډون نه در سره کوو.

اوس نو د قبیلو مشران سره کښېنستل او ویل: موږ باید په دې جنګ کي یو رئیس او پاچا ولرو چې د دغي حملې مشرتوب د هغه پر غاړه وي، نو یې یو نوی ځوان د دغه مشرتابه دپاره خوښ او انتخاب کړی چې د شریفي او لوړي کورنۍ څخه وُ او نوم یې

(c) ketabton.com: The Digital Library


مالک بن عوف ؤ، ویل کیږي چې په دغه وخت کې د مالک بن عوف عمر ځلیرویشت کاله ؤ، سره د دې چې عمر یې کم او لږ ؤ مګر څرنګه چې نسب او کورنۍ یې لوړ وه نو یې د هوازن د ټولو قواوو مشر و ټاکی.

رسول الله ﷺ ته د هوازن د قبیلو دغه حالات ورسېدل چې د جنګ دپاره ځانونه جوړوي، رسول الله ﷺ هم د معلوماتو دپاره نفر ولېږل چې د هغو نفرو څخه یوه نفر چې ابو حدرد الأسلمي ﷺ نومېدی وکولای سوای چې طائف ته ولاړ سي او هلته د هوازن او ثقیف په لښکرو ور ننوزي، پوره معلومات یې راټول کړه او بیرته و رسول الله ﷺ ته ورغلی، خپل لیدلي حالات یې ورته و ویل: چې هو، هوازن خپل ځانونه د مکې مکرمې د حملې دپاره آماده کړي وه، رسول الله ﷺ مسلمانان امر کړه چې د هوازن د جنګ دپاره د مکې مکرمې څخه د ر ووزي.

رسول الله ﷺ ولي د مکې مکرمې په داخل کي جنګ نه ور سره کاوه؟

هغه ډیر لوی او مهم سبب درلودی، هغه دا چې د مکې مکرمې خلک نوي مسلمانان سوي دي پر اسلام او مسلمانېدلو یې فقط څو ورځې تیرې سوي دي نو که په مکه مکرمه کې جنګ پېښ سي دا امکان لري چې اهل مکه دي هم غدر او خیانت وکړي چې دا کار به مسلمانانو ته ډیر سخت او مشکل تمام سي ځکه یو لښکر به د دباندې څخه جنګ شروع کړي او بل مخالف لښکر به دننه په مکه مکرمه کې ورته پیدا سي چې د دې نتیجه به و مسلمانانو ته ډیره سخته او مشکله وي، نو رسول الله ﷺ نه غوښتل چې د مکې مکرمې له داخله جنګ وکړي، نو ځکه رسول الله ﷺ امر وکړی چې لښکر دي د هوازن د مقابلې دپاره تر مکې مکرمې دباندي ور ووزي.

هلته د هوازن لښکر د هغه مسلمان جاسوس تر را رهي کیدلو وروسته سمدستي د مکې مکرمې پر طرف حرکت وکړی، رسول الله ﷺ ته دا معلومات نه وه چې د هوازن لښکر را رهي سوی دی، د مسلمانانو دا فکر او خیال ؤ چې د هوازن لښکر تر اوسه په طائف کې دی، د رسول الله ﷺ إراده دا وه چې پر طائف حمله وکړي نو خود د مسلمانانو د لښکر حرکت هم د طائف پر طرف ؤ، حال دا چې د هوازن لښکر له هغه طرفه د مکې مکرمې پر خوا حرکت کړی ؤ.

(c) ketabton.com: The Digital Library


کله چې مالک بن عوف او نورو قبائلي مشرانو د مسلمانانو سره پر جنګ کولو اتفاق وکړی نو د مالک بن عوف په امر د کفارو د لښکر ټول افراد په دې مکلف کړل سوه چې خپلي ښځي، خپل اولادونه او خپل حیوانات ټول ور سره را رهي کړي، دا دَ دې دپاره چې لښکر یې و نه تښتي، ولي که شکست او ماته هم وخوري د مالو، اولادو او خپلو ښځو په سبب نه سي تښتېدلای، دغه شیان پر میدان نه پرېږدي، لږ تر لږه د دغه خپلو ښځو، اولادو او مالو دپاره جنګیږي، نو د کفارو لښکر د خپلو ښځو، اولادو، او مالو په ملګر تیا را رهي سوی دی څو په (اوطاس) کي یې واړول، اوطاس د هوازن په منطقه کي یوه ډېره لویه او برداره شېله ده چې د حُنین و شېلې ته نژدې ده مګر په خپله د حُنین شېله نه ده.

او حنین بیا د سیل کبیر سره یوه بله شېله ده چې د مکې مکرمې څخه تقریباً اتلس، نولس میله لیري ده، کله چې د هوازن او طائف لښکري دغه د اوطاس شېلې ته را ورسېدې مالک بن عوف ته هم دا خبر رسېدلی ؤ چې محمّد ﷺ هم د لښکره سره د مکې مکرمې څخه را وتلی دی، نو مالک بن عوف دغه شېله د جنګ دپاره اختیار کړه، دالته یې خېمې ودرولې او لښکر واړول، ویل: د جنګ دپاره دغه ځای مناسب ځای دی.

## دُرَید بن الصُمّه

د مالک بن عوف په لښکر کي یو مهم شخص، پوه او تجربه کاره سړئ موجود ؤ، چې ډېر لوی جنګي پهلوان او شجاع ؤ د عربو د مشهوره او نامداره پهلوانانو څخه ؤ، ډېري جنګي تجربې یې درلودې د دغه سړي نوم دُرَید بن الصُمّه ؤ، دُرید د جاهلیت په وختو کي د جنګ په میدان کي ډېر مشهوره نوم ؤ، مګر دغه سړئ اوس بوډا او سپین ږیری دی، ویل کیږي چې د حنین په ورځ یې عمر یو سل او شپېته کاله ؤ، نو دُرید زوړ، ضعیفه، او په سترګو هم ړوند ؤ، بدن یې مات او بې طاقته ؤ، څرنګه چې پر اوښ یې ځان نه سوای تکیه کولای، دئ به یې په داسي کجاوه کي سپراوه لکه د ښځو کجاوه، خو د ښځو سره به نه تلی، په کجاوه کي به ؤ او د نارینه وو سره به رهي ؤ، د جنګ په کارو کي به یې د ده څخه مشوره اخیستل، هرکار یې د ده په مشوره

(c) ketabton.com: The Digital Library


او مصلحت سره کاوه، ځکه تجربه کاره پهلوان او د جنګ په کارو پوه ؤ، اوس چې د هوازن لښکر واړول دُرید و ویل: په کومه شېله کي یاست؟ خلکو ویل: د اوطاس په شېله کي، ده و ویل: هو د آسانو د ځغلولو دپاره ښه ځای دی نه ډیري لوړي لري چي څوک نه سي ورختلای او نه آوار دښت دی.

کله چي هغه ښځي او ماشومان، حیوانات او مالونه چي د لښکر ترشا وه را ورسېدل، دُرید د ښځو او ماشومانو، پسو او اوښانو آوازونه واورېدل په تعجب کي سو او ویل: دا څه شي دي چي زه یې اورم؟ د اوښانو رمباړي، دخرو هرهاری، د ماشومانو ژړاوي، د پسو نارې؟ خلکو ویل: دا د مالک بن عوف امر دی چي ټول مالونه، اولادونه او ښځي مو درسره را ولی، دُرید ویل: مالک بن عوف ما ته را ولی، څرنګه چي د دُرید له امره چا مخالفت نه کاوه نو مالک بن عوف ورته راغلی، درید ورته وویل: د پسو، اوښانو او ماشومانو آوازونه اورم دا څه قصه ده؟

مالک ویل: دا کار مي د دې دپاره کړی دی چي ما غوښته د هر سړي تر شا د ده مال او اولاد وي او د هغو څخه د دفاع دپاره جنګ وکړي او و نه تښتي.

دُرید ویل: والله اوس هم د پسو یو چوپان یې په جنګ نه پوهېږې آیا مات سوی لښکر په یو شي را ګرځي؟ که انسان مات سو او پر خپل مرګ و بېرېدی والله هیڅ شئ یې نه سي را ګرځولای، دُرید نور هم و ویل: که کامیابي ستا وه بل شئ فایده نه در رسوي بېله سړئ او د هغه توره او نېزه او که کامیابي د هغه بل طرف وه نو خپل مال او اولاد دي هم د لاسه ور کړه.

یا مالک! ته په دې سره نه سې کامیابه کېدلای چي د هوازن هګۍ دي د آسانو مخ ته کښېښوول، دوی خپل وطن او خپلو قبیلو ته ولېږه او بیا دي پهلوانان د جنګ دپاره ډ آسانو پر شا سپاره کړه، که کامیابي ستاسي وه اهل او اولادونه به مو درپسي راسي او که دښمن کامیابه سو مال او اولادونه به دي ساتلي وي.

خلکو غوښته چي د دُرید د نظریې إطاعت وکړي اهل او اولادونه بیرته و لېږي، د لښکر ټول مشران د درید د رأیي إطاعت کوي، مالک بن عوف د لښکر عمومي قومندان وبېرېدی چي د ده آمریت ولاړ‌ی او خلک د دُرید اطاعت کوي، نو یي

(c) ketabton.com: The Digital Library



وويل: والله دا کار به و نه سي ته ضعيفه سوې او عقل دې هم درسره ضعيفه سو.

مالک بن عوف يو بل عاطفي حرکت هم وکړی: توره يې واخيستل او د لښکر مشرانو ته يې ور بغ کړه، هغه چي را ټول سوه ده د توري لاستی پر مځکه کښېښاوه او د توري تېره سر يې پر خپل ځيګر کښېښاوه (د رکوع پر قسم و درېدی او پر توره يې تکيه وکړه) او وې ويل: والله يا به هوازن زما اطاعت کوي يا به دغه توره زما تر ملا وزي(يعني ځان وژنم) مالک بن عوف نه غواړي چي په دغه جنګ کي د دُريد نوم ياد سي يا د هغه د نظر متابعت وسي، نو ويل: يا به زما امر منی يا د دُريد، د لښکر مشران سره يو ځای دي په خپل منځ کي يې سره و ويل: دُريد په سترګو ړوند، سپين ږيری او ضعيفه سړئ دی د جنګ إداره نه سي کولای، که موږ سر له اوسه د مالک بن عوف پر مشري اختلاف وکړو نو سره و پاشل سوو، زموږ ملګرتيا د مالک بن عوف سره که څه هم په عمر لږ دی د دُريد تر ملګرتيا ښه ده، د لښکر او قبيلو مشرانو و ويل: موږ ستا اطاعت کوو يا مالک بن عوف! نو د لښکر مشرانو د دريد امر نه کړی قبول، ښځي او ماشومان، مالونه او حيوانات پاته سوه.

د الله جل جلاله إراده داسي وه چي دغه انسانان او حيوانان د مسلمانانو په نصيب سي، دُريد بن الصِّمّه و ويل: دا داسي ورځ او کار دی چي نه ځني غائب يم او نه پکښي حاضر يم، يعني: زه خو حاضر يم مګر نظر مي بل شئ دی، نو لکه نه چي يم حاضر، بيا دريد پوښتنه وکړه چي دا کوم ځای دی؟ ويل دا وادي اوطاس ده د وادي حُنين څنګ يا بغل ته، دُرَيد و ويل: هو، دغه ځای د جنګ دپاره ښه او مناسب ځای دی، نو يې مالک بن عوف ته و ويل: په اوله خبره کي دي زما اطاعت و نه کړی په دغه دوهمه خبره کي مي امر و منه، هغه دا چي د مسلمانانو د لښکر په لارکي کمينونه ورته ونيسه دا ځای د کمينو دپاره ډير ور او مناسب ځاي دی، مالک بن عوف هم د ده خبره ومنل او د مسلمانانو په لار کي يې کمينونه ور ته و نيول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## رسول الله ﷺ
## د مکې مکرمې څخه د حنين پر طرف حرکت کوي

د هجرت د اتم کال د شوال په شپږمه ورځ چې د شنبې ورځ وه رسول الله ﷺ د مکې مکرمې څخه د طائف پر طرف حرکت وکړی چې دغه ورځ و مکې مکرمې ته د رسول الله ﷺ د داخلېدلو نولسمه ورځ وه، په دغه غزاء کې د رسول الله ﷺ سره دوولس زره نفره مسلمانان ملګري وه چې لس زره نفره يې هغه لښکر ؤ چې د مکې مکرمې د فتحې دپاره ور سره را وتلی ؤ او دوه زره نفره د اهل مکې څخه ورسره ملګري سوه او د دغه لښکر اکثره نفر نوي مسلمانان وه، حتّٰی د مکې مکرمې په نفرو کې ځيني مسلمانان وه او ځيني يې تر اوسه پر هغه خپل شرک پاته وه مګر د را وتلو سبب يې هغه پخوانۍ دښمني وه چې د هوازن او اهل مکې په منځ کې پرته وه، د جاهليت د وختو څخه دغه دښمني موجوده وه، د هغو کسانو څخه چې مشرکان وه او جنګ ته را ووتل يو هم صفوان بن اُميه ؤ هغه چې رسول الله ﷺ څلور مياشتې امان ورکړی ؤ، کله چې د مسلمانانو لښکر را ووتی رسول الله ﷺ وليدل چې په لښکر کې د ډېرو نفرو سره اسلحه نسته ځکه نه يې درلودل او رسول الله ﷺ ته و ويل سوه چې د صفوان سره اسلحه سته، نو رسول الله ﷺ صفوان بن اُميه ته چې د اسلحې تاجر ؤ او په دغه ورځ مشرک ؤ رجوع وکړه، ويل: يا صفوان! اسلحه راکړه، صفوان و ويل: يا محمّد! ﷺ په غصب او زور يې غواړې؟ رسول الله ﷺ و فرمايل: يا په عاريت يې غواړم (کار ځني اخلو او بيرته يې در کوو) او دا ضمانت هم درکوم چې بيرته به پوره درکول کيږي، صفوان و ويل: هو درکوم يې، دغه اسلحه يې هم د قوم پرستۍ په سبب ورکړه چې په عربي کې (حَمِيه) ورته ويل کيږي، نو صفوان و رسول الله ﷺ ته سل زغري او د سلو نفرو دپاره نوره ضروري اسلحه په عاريت ورکړه.

اوس نو دې خبري ته راغلو چې رسول الله ﷺ د دغه مشرک څخه مرسته

(c) ketabton.com: The Digital Library


وغوښتل، آيا د مسلمانانو يوه امام، خليفه يا مشر لره دا جائزه او روا ده چې د مشرک يا کافره څخه مرسته و غواړي؟ هغه علماء چې د مشرک او کافر څخه مرسته اخيستل جائز بولي د هغو دليل د رسول الله ﷺ دغه عمل او کار دی او هغه علماء چې د کفارو څخه مرسته اخيستل جائز او روا نه بولي هغه بيا وايي: دغه مرسته د يوه مشرک فرد څخه وه، نه د يوه کافر دولت څخه يا د يوې کافرې ډلې څخه خو د دغې مسئلې حکم به إن شاء الله تعالی د قصې تر بيانولو وروسته مفصل درته بيان سي.

او دا چې رسول الله ﷺ د صفوان څخه اسلحه په عاريت واخيستل نه په زور په دې کې موږ ته د رسول الله ﷺ عظمت او رحمت را معلوميږي ځکه مسلمانانو مکه مکرمه فتحه کړه کولای يې سوای چې د اهل مکې ټول مال او دولت په زور واخلي مګر دا د رسول اکرم ﷺ رحمت او شفقت ؤ چې ټول مالونه يې ورپرېښوول حتّی اسلحه يې هم نه ځنې واخيستل او کله چې يې اسلحې ته ضرورت پيدا سو بيا يې هم د اسلحې د خاوند په اجازه ځنې واخيستل چې دغه کار د اسلام رحمت، عظمت او کرم ثابتوي.

رسول الله ﷺ وليدل چې د لښکر ډير نفر خواړه او د ضرورت نور سامان نه لري نو يې د اهل مکې څخه په قرض او پور مالونه واخيستل او د لښکر د غريبو خلکو سره يې مرسته په وکړه، رسول الله ﷺ چې د مکې مکرمې څخه را وتی عُتاب بن اُسيد رضي الله عنه يې پر مکه مکرمه حاکم او والي پرېښاوه چې د رسول الله ﷺ په غياب کې مکه مکرمه اداره کړي، عُتاب رضي الله عنه د هغو کسانو څخه ؤ چې نوي مسلمانان سوي وه مګر څرنګه چې رسول الله ﷺ په ده کې صدق او اخلاص وليدی او بل دئ قوي ځوان او د مکې مکرمې د اشرافو څخه ؤ، د مکې مکرمې د إداره کولو قدرت يې درلودی نو يې دئ د دغه کار دپاره وټاکی.

عُتاب بن اُسيد رضي الله عنه د ردت په وخت کې (چې دا بيا د رسول الله ﷺ تر رحلت وروسته د ابوبکر الصدّيق رضي الله عنه د خلافت په وختو کې پېښ سو) کله چې نورې شا وخوا قبيلې د اسلامه څخه مرتدې سوې، بيا هم دئ پر اسلام ثابت او قائم پاته سو، کله چې نورې قبيلې مرتدې سوې او اهل مکې هم غوښته چې مرتد سي نو سهيل بن عَمرو رضي الله عنه په بيانيو او خطبو اسلام ته را بلل او عُتاب بن اُسيد رضي الله عنه په خپل همت

(c) ketabton.com: The Digital Library


او ثبات پر اسلام ثابت پاته کړه، د دغه عُتاب د اسلام یا مسلمانېدلو فقط څو ورځې کېدلې چې رسول الله ﷺ پر مکه مکرمه والي مقرره کړی.

رسول الله ﷺ چې د طائف پر طرف حرکت وکړی ده ﷺ هم د معلوماتو دپاره خلک لېږل او د دښمن د حالاتو څخه نه ؤ بېخبره، حال ورته راغلی چې د هوازن لښکر را وتلی دی او حنین ته را رسېدلی دی او د جنګ میدان یې هم خوښ کړی دی، رسول الله ﷺ هم دا مقرره کړه چې په حُنین کې به د دوی سره جنګ او مقابله کوي، مسلمانانو ته د دښمن حالات او اخبار معلوم سوه دا جنګ په بې خبرې کې نه دی پېښ سوی، که څه هم په اول کې مسلمانان بېخبره وه خو رسول الله ﷺ دا کشف کړه چې د کفارو لښکر له طائفه را وتلی دی.

د دغې ورځې په سهار کې چې مسلمانانو د مکې مکرمې څخه حرکت وکړی دوی دوولس زره نفره دي او د اول وار دپاره د مسلمانانو دومره لوی لښکر جوړېږي نو د ځینو خلکو په زړو کې إعجاب، لویي او غرور پیدا سوه چې والله دوولس زره نفره یو هیڅوک مو نه سي ماتولای حتّی ابوبکر الصدّیق رضي الله عنه و رسول الله ﷺ ته و ویل: یا رسولَ الله! د لښکر د لږ والي په سبب نه مغلوبه کیږو، یعني: اوس زموږ مسلمانانو شمېر دومره نه دی چې د لږ والي په سبب دي ماته وخورو، که مو شکست خوړی د هغه به بل سبب وي، نو د دغه ډېر والي غرور په لښکر کې نشرېدی، ځیني ضعیف النفسه مسلمانان هغه چې نوي اسلام ته داخل سوي وه د دغه ډېر والي تر تاثیر لاندې راغله توکل او اعتماد یې پر دغه شمېر او عدد سو چې موږ ډېر یو، دغه د لښکر پر ډېر والي د مسلمانانو اعتماد! الله جل جلاله په سورةُ التوبه کې بیانوي او فرمایي:

﴿لَقَدْ نَصَرَكُمُ ٱللَّهُ فِى مَوَاطِنَ كَثِيرَةٍ وَيَوْمَ حُنَيْنٍ إِذْ أَعْجَبَتْكُمْ كَثْرَتُكُمْ فَلَمْ تُغْنِ عَنكُمْ شَيْـًٔا وَضَاقَتْ عَلَيْكُمُ ٱلْأَرْضُ بِمَا رَحُبَتْ ثُمَّ وَلَّيْتُم مُّدْبِرِينَ ﴿٢٥﴾﴾. [التوبه: ۲۵]

ژباړه: خامخا الله جل جلاله ستاسي سره په ډېرو ځایو کې مرسته کړې ده خصوصاً د حنین په ورځ کې، کله چې ستاسي ډېر والي تاسي په تعجب کې واچولاست نو هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library


ډېر والي ستاسي څخه هيڅ شئ ايسته نه کړی، يعني: د دښمن حملې يې نه درڅخه وګرځولې او پر تاسي باندي ځمکه تنګه سوه سره د دې چي ځمکه ډېره پراخه ده بيامو دښمن ته په داسي حال کي شا ور وګرځول چي تښتېدلاست.

الله جل جلاله په دغه آيات شريف کي هغه غرور او اعجاب ته اشاره وکړه چي د ډېر والي په سبب د خلکو زړوته ور داخل سوی ؤ.

اوس نو د مسلمانانو لښکر د مکې مکرمې څخه د طائف پر طرف رهي دی په لار کي پر داسي عربو ورغله چي د يوې وُني سره يې عبادت کاوه بلکه د دغي وُني عبادت يې کاوه چي دغي وُني ته يې ذاتِ أنواط ويل، عربو به پر دغه ونه د تبرک دپاره لاسونه تېرول، رښکياني او ټوکران به يې په ځړول په اخترو کي به يې هلته مېلې کولې، خپلي اسلحې به يې پرځړولې، د دغي وُني سره به يې حيوانات حلالول، د دغي وُني سره به د عبادتَ په نيت ناست وه نو د ذاتِ أنواط نوم هم په دغه سبب پر ايښوول سوی ؤ چي دغه رښکۍ او ټوکران په ځړېدل.

په لښکرکي هغه کسان چي اوس يې تازه ايمان را وړی ؤ او د هغه بت پرستۍ شوق يې لا تر اوسه په دماغ کي ؤ رسول الله ﷺ ته و ويل: يا رسولَ الله! موږ ته هم دغسي يو ذات أنواط را جوړ کړه لکه دوی چي يې لري، مسلمانانو هم دغسي ونه غوښته لکه د مشرکانو چي د تبرک دپاره ځانونه پوري مُړي او رښکياني په وځړوي رسول الله ﷺ په ډېر قهر سره و فرمايل: الله اکبر! په والله تاسي داسي خبره وکړه لکه د موسىٰ عليه السلام قوم چي موسىٰ عليه السلام ته و ويل:

﴿ٱجۡعَل لَّنَآ إِلَٰهٗا كَمَا لَهُمۡ ءَالِهَةٞۚ قَالَ إِنَّكُمۡ قَوۡمٞ تَجۡهَلُونَ ﴿١٣٨﴾﴾. [الاعراف: ۱۳۸]

يعني: موږ ته هم داسي إِله او معبود را جوړ کړه لکه مشرکان چي قسم قسم آلهه او خدايان لري؟ موسىٰ عليه السلام ورته و ويل: تاسي يو جاهل قوم ياست.

په وُنو او ډبرو پوري ځانونه مښل او د هغو څخه د نفعي او ضرر اميد درلودل حتّى وُني او ډبري مشرف او مبارک بلل دا د مشرکانو کارونه دي، وُني او ډبري نه نفعه او نه ضرر رسولای سي، رسول الله ﷺ دغو خلکو ته و فرمايل: تاسي څنګه زما څخه دغسي شيان غواړی؟ رسول الله ﷺ دغه کسان امر کړه چي پر دغه خبره توبه وباسي

(c) ketabton.com: The Digital Library


او د الله جل جلاله څخه بخښنه وغواړی، هغو هم توبه وایستل او د الله جل جلاله څخه یې عفوه او مغفرت وغوښتل.

د مسلمانانو لښکر د حنین پر طرف وررهي دی لکه د مخه چې مو درته وویل: رسول الله ﷺ ته خبر راغلی ؤچي د هوازن لښکرپه حنین کي دی نو مسلمانان هم د چارشنبې په شپه چې د شوال د میاشتې لس ورځي تیري سوي وې حنین ته ورسېدل. مسلمانانو د حنین تر شېلې د مخه خپلي خېمې و درولې، اوس نو د هوازن لښکر د حنین د شېلې پر هغه بله غاړه دی او مسلمانان تر شېلې دباندي د مکې مکرمې و طرف ته دي.

کله چې مسلمانانو خیمې و درولې رسول الله ﷺ یو د اصحاب کرامو څخه امر کړی چې ته به د آسه سره یوې لوړي غونډۍ ته وخېژې او پر هغه آس به سپور یې د هوازن معلومات به کوې حرکتونه او کمینونه یې ټول تر نظر باسه او د شپې په آخرکي به د معلوماتو سره راسې، بېله لمانځه او انساني ضرورته به له خپله ځایه نه ښورې، سړئ هم پر آس سپور سو او یوې لوړي غونډۍ ته وختی د شپې تر آخره هلته ولاړ ؤ حتّی د آسه څخه هم نه سو کښته او د شپې په آخرکي رسول الله ﷺ ته ورغلی، رسول الله ﷺ پوښتنه ځني وکړه چې یو شئ دي ولیدی؟ سړي ویل: یا، کوم خاص یا د یادولو وړ شئ مي نه و لیدی، د کفارو لښکر پر هغه خپل حال ؤ زه و فلاني او فلاني غره ته وختلم مګر هوازن مي و لیدل چې ښځي، حیوانات او پسونه یې ټول را وستلي دي، رسول الله ﷺ تبسم وکړی او وې فرمایل: إن شاء الله سبا دغه ټول مالونه د مسلمانانو دپاره غنیمتونه دي.

مګر په دغه وخت کي و مالک بن عوف ته دُرَید بن الصُمّه ځیني لارښووني کړي وې او مالک بن عوف عملي کړي وې، سره د دې چې دُرَید په سترګو نه لیدل خو د عقل او تجربې څخه یې کار اخیستی چې د هغو لارښوونو څخه یې یوه دا وه: ویل: دغه اضافه اوښان چې مو را وستلي دي (کفارو خو خپل ټول اوښان را وستلي وه چې ټول بېکاره او د دوی تر ضرورت زیات وه) نو دُرَید وویل: ښځي او ماشومان ټول پر دغه زایدو اوښانو سپاره کړی او د لښکر تر شا یې و دروی ځکه په دې کارکي دوې فایدې سته یو دا چې که مو ماته وخوړل دوی کولای سي چې د اوښانو سره وتښتي

(c) ketabton.com: The Digital Library


او بله فایده یې دا ده چې څوک د لیرې ورته ګوري هغه ته دا نه معلومیږي چې دا نارینه دي که ښځې، نو لښکر تر هغه خپل واقعي شمېر څو چنده زیات معلومیږي ځکه اوښان دي او خلک پر سپاره دي، مالک بن عوف هم ښځې او ماشومان پر اوښانو سپاره کړه، واقعًا هم دومره لښکر ځنې جوړ سو چې آخر یې نه معلومېدی، حتّٰی ځینو مسلمانانو به ویل چې د کفارو د لښکر شمېر اتیا زره دی که څه هم په حقیقت کې د هوازن ټول لښکر د شلو زرو نفرو په شا وخوا کې ؤ.

*(د دغه لښکر په شمېر کې اختلاف سته، څوک یې دوولس زره نفره بولي)*

که څه هم شل زره یا دوولس زره نفره لښکر ډېر لوی لښکر دی، خو د کفارو په دغه کار سره د دوی شمېر تر اصلي حساب څو واره زیات معلومېدی.

او بل هغه کار چې دُرَید کړی ؤ هغه دا ؤ: څرنګه چې د هوازن لښکر تر مسلمانانو د مخه دغې منطقې ته راغلی ؤ، نو مالک بن عوف د دُرَید په مشوره او لارښوونه په دغه شپه د خپل لښکر ډېر نفر د حنین د شېلې په لارو، تنګیو، فرعي شېلو او نورو ډېرو پټو ځایو کې د کمین دپاره کښېنولي وه او دا امر یې ورته کړی ؤ: کله چې مسلمانان دغې شېلې ته را کښته سي اول د غشو باران پر جوړ کړی او بیا په یوه وار ټوله یوه حمله پر وکړی، اوس د هوازن د لښکر ډېره حصه د شپې د حنین په شېله کې په خپلو کمینو کې سره ځای پر ځای سوه او د مسلمانانو د لښکر د راتګ انتظار باسي.

د مسلمانانو د لښکر لوی مشکل دا ؤ چې د حنین د شېلې څخه ډېر لوړ وه او شېله ډېره کښته وه نو کښتې شېلې ته د لښکر کښته کېدل ډېر سخت او مشکل وه، ځکه لار داسې کښته ده لکه ښوَیَندوکی، لږ کښته نه وه بلکه شېله داسې کښته ده چې نفر باید په ځغستا ور کښته سي ځان نه سي تکیه کولای.

د دغې شپې په آخر کې رسول الله ﷺ خپل لښکر و ټولیانو ته و وېشی او بیرغونه یې ور و وېشل، اوله ټولۍ د بني سُلیم قبیله ده هغه زر نفره د.آس سپاره چې د مسلمانانو د لښکر مقدمه وه او د رسول الله ﷺ سره د مکې مکرمې تر فتحې د مخه د مدینې منورې په لار کې ملګري سوه، د دې ټولۍ قوماندان خالد بن ولید رضی الله عنه ؤ.

د شپې په آخر کې و شېلې ته د کښته کېدلو آمادګي ونیول سوه او د سپېدو تر چاودلو

(c) ketabton.com: The Digital Library


وروسته د وادي حُنين پر طرف حرکت شروع سو، دلته مالک بن عوف خپل لښکر ته اوامر صادروي ويل توري را وباسی، توري را وايستل سوې، ويل پوښونه يې مات کړی ځکه بيا رجوع نسته او په يوه وار به حمله او هجوم پر وروړی، مالک ويل: نه غواړم چي جنګ څو ورځي دوام وکړي، بلکه په يوه ورځ به جنګ پای ته رسيږي، د هوازن لښکر د تورو پوښونه مات کړه توري يې په لاسو کي دي د حملې دپاره تيار او آماده ولاړ دي.

د رسول الله ﷺ د معلوماتو خلک د هوازن د لښکر په ټولو حالاتو خبر وه او هر څه يې سنجولي وه فقط په دغه کمينو نه وه خبر او د هغو دپاره يې هيڅ فکر نه ؤ کړی.

اوس نو د هغه لوړي څخه و وادي حنين ته د مسلمانانو را کښته کېدل شروع سوه، اول هغه ځوک چي را کښته سوه! خالد بن وليد ﷺ دی او بني سُليم ور سره دي، کله چي دغه اوله ټولی ور کښته سوه او دوهمي ټولی په کښته کېدلو شروع وکړه د کمينو له طرفه اول د غشو باران پر شروع سو چي په دغو غشو يې ډېر مسلمانان زخميان او زوبل کړه او بيا د دښمن ډلو يو ځايي شديده حمله شروع کړه، څرنګه چي و شېلي ته کښته کېدل ډير سخت وه ځکه يو دم کښته وه يوازي يو نفر چي به کښته کېدی خپل ځان يې نه سوای تکيه کولای هغه د مخ نفر به يې پوري واهه، نو په بني سُليم کي د کښته کېدلو په سبب بد حال پېښ ؤ، د دغه بده حاله سره سره د کمينو له طرفه حملې هم پر شروع سوې، د دوی خيال ؤ چي د دښمن لښکر مو مخ ته دی هلته به ورځو جنګ او مقابله به ور سره کوو، خو هغه ناڅاپه د دواړو طرفو څخه د کمين نفرو حملې شروع کړې، په خپله پر خالد ﷺ وهل او وارونه شروع سوه د خالد ﷺ بدن ټوک ټوک او زخمي سو د ډيرو زخمو په سبب ولوېدی غځار سو، کفارو د بني سُليم پر خلکو وهل او وارونه شروع کړه.

د بني سُليم خلک خو نوي مسلمانان سوي وه په تېښته يې شروع وکړه مګر چيري وتښتي؟ راسته طرف ته يې کمين دی، چپه طرف ته يې کمين دی، مخ ته يې د دښمن لښکر دی د تيښتي دپاره بله لار نسته ښله دې څخه چي پر شا ولاړ سي، نو يې د شا پر طرف مخ ونيوی، د هغه طرفه بيا د مسلمانانو هغه نور لښکر را کښته کيږي، هغه کسان چي راکښته کيږي خپل ځانونه نه سي تکيه کولای او بني سُليم غواړي چي

(c) ketabton.com: The Digital Library


ورو خیژي، هغه چا چي دا حال لیدلی دی هغه وايي: خلک یو د بل پر اوږو سره سپاره اوپراته وه، دلته په دغه شېبه کي د هوازن د لښکر له طرفه پر مسلمانانو قتل او وژنه شروع سوه، د مسلمانانو هغه نور لښکر چي پسي را رهي دی هغه يې نه ويني او نه دي خبر چي په شېبه کي څه پېښه ده، هغو خپل پر مخ تګ ته دوام ور کړی دی غواړي چي ور کښته سي او دلته بد حال جوړ دی، د کښته خلک غواړي چي لوړ وخیژي او د لوړي خلک غواړي چي ور کښته سي، پسله ډېره وخته هغه نور لښکر هم په دې حال خبر سو چي په شېبه کي کمین دي او خلک وژل کیږي هغو په تېښته شروع وکړه.

هلته مالک بن عوف خپل ټول لښکر تقریباً شل زره نفره امر کړه چي په یوه وار حمله او وهل شروع کړی او دلته مسلمانان په دغه بد حال مبتلاء دي، د مسلمانانو په لښکر کي عمومي تېښته شروع سوه او هري خوا ته ځغلي، ځينو يې په ځغستا مکې مکرمې ته ځان و رساوه او ټول لښکر وتښتېدی، رسول الله ﷺ نارې وهي غواړي چي دغه مات سوی لښکر را وګرځوي خو څوک نه دريږي.

رسول الله ﷺ یوازي پر میدان پاته سو، هغه صحابهٔ کرام چي ثابت پاته دي او نه تښتي هغه هم یو یو او جلا جلا دي، شل زره نفره په دغه بد حالت کي پر را ګرځېدلي دي، خلک ځغلي او رسول الله ﷺ نارې وهي إِلَيّ عِبَادَ الله، خو یو هم تر شا نه ګوري، ډېر بد شکست او ماته وه، ابوسفیان چي په دغه وخت کي نوی مسلمان سوی ؤ هغه و ویل: د دغه مات سوو خلکو مخ به بل شئ نه را وګرځوي بیله د جدې دریاب، یعني: تر هغه ځایه پوري به ځغلي.

جِبله یا کِنده بن جُنید چي منافق ؤ هغه ناري کړه: نن ورځ يې سحر باطل سو.

دلته نو د الله ﷻ له طرفه هغه لوی امتحان شروع سو، د مسلمانانو د ایمان امتحان په دغسي ځایو کي اخیستل کیږي.

په دغه وخت کي یو د هغو کفارو څخه چي په ظاهره مسلمان سوی دی او نوم يې شیبه بن عثمان بِن أبي طلحه دی "عثمان بن ابې طلحه" د دغه شیبه پلار د هغو کسانو څخه ؤ چي د اُحُد په ورځ يې د کفارو بیرغ پورته کاوه او د مسلمانانو له طرفه و وژل سو، دغه شیبه د هغه عثمان زوی دی او د مسلمانانو د لښکر سره را وتلی دی

(c) ketabton.com: The Digital Library


غواړي چي په مناسب وخت کي رسول الله ﷺ و وژني او د خپل پلار بدله او انتقام په نن ورځ کي واخلي، په دغه بد حالت کي رسول الله ﷺ یوازي ولاړ دی او یوازي جنګ کوي، هیڅوک نه دي ورسره او ناري وهي: إلَیّ عِبَادَ الله!

شیبه چي یو خنجر ورسره دی د خپل مقصد د پوره کولو دپاره د رسول الله ﷺ و طرف ته ورغلی، رسول الله ﷺ شیبه ولیدی ویل: یا شیبه! څه خبر دی؟

شیبه ویل: یا رسولَ الله! غواړم چي ستا څخه دفاع وکړم، رسول الله ﷺ ویل: دلته راسه، شیبه ورغلی او رسول الله ﷺ د شیبه پر ځیګر خپل مبارک لاس کښېښاوه او ویل: د الله څخه بخښنه وغواړه، شیبه ویل: استغفر الله.

شیبه وایي: رسول الله ﷺ چي فقط لاس را څخه پورته کړی دئ ﷺ تر ټولو خلکو راته ګران او محبوب وګرځېدی، شیبه دلته ودرېدی او د رسول الله ﷺ څخه یې دفاع کول، اصلاً دئ د رسول الله ﷺ د وژلو دپاره راغلی ؤ، مګر سبحان الله! اوس د رسول الله ﷺ څخه دفاع کوي.

رسول الله ﷺ بیا هم ناري وهي إلَیّ عِبَا دَ الله! د ده ﷺ آواز هغو اصحاب کرامو چي شا وخوا په میدانِ جنګ کي موجود وه لکه ابوبکر الصدِّیق، عمر فاروق او څو نورو مهاجرینو رضوان الله علیهم واورېدی، هغه هم راغله پر رسول الله ﷺ را وګرځېدل مګر د دغو اصحاب کرامو شمېر ډېر لږ ؤ، د شلو زرو نفرو په مقابل کي څه کولای سي؟ په دغه ځای کي د رسول الله ﷺ سره لږ مهاجرین او د ده ﷺ اهل بیت ورسره وه چي ټوله دوولس یا نولس نفره وه او په بل روایت کي وایي اتیا نفره وه، په دغه ځای کي د رسول الله ﷺ هغه شجاعت او دلاوري ښکاره سوه چي مثل یې نه لیدل کیږي، خپله غاتره یې د کفارو پر طرف ورځغلول او ویل یې: «أنَا النَّبيّ لاَ کذِب، أنَا ابنُ عبدِالمطلب» په دغه وخت کي ابوسفیان بن الحارث ﷺ د رسول الله ﷺ د غاتري رکاب نېولی ؤ او عبّاس ﷺ یې قیضه نیولې وه چي چابکه ولاړه نه سي، په دغه وخت کي رسول الله ﷺ د خپله ربه څخه د نصرت غوښتنه وکړه او وې فرمایل: اللّهم أنزِل نصرکَ، الهي ستا نصرت را نازل کړه.

کله چي عبّاس ﷺ راغلی رسول الله ﷺ د ده په راتګ ډېر خوشاله سو، دا ولي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library


ځکه عبّاس رضي الله عنه داسي لوړ آواز درلودی چي په ټولو عربو کي يې مثل نه ؤ، د ده رضي الله عنه د آواز په باره کي وايي: د جاهليت په وختو کي عبّاس رضي الله عنه د خپلو پسو او اوښانو دپاره چوپانان درلودل، چوپانانو به اوښان او پسونه د مکې مکرمې څخه ډير ليري بېول، نورو خلکو که به خپل چوپانان غوښته نفر به يې پسي لېږل چي را يې ولي مګر عبّاس رضي الله عنه خوک نه پسي لېږل دلته په مکه مکرمه کي به يوې لوړي ته وختی او ور ناري به يې کړه، ډير لوړ آواز يې درلودی، رسول الله ﷺ د ده د آواز په باره کي فرمايي: «صَوتُ العبّاس فِي المَعركة بِألف رَجُلٍ» يعني: په جنګ کي د عبّاس آواز پر زرو نفرو حساب دی، اوس چي عبّاس رضي الله عنه راغلی رسول الله ﷺ ورته و ويل: يا عبّاس! زما اصحابو ته ور ناري کړه، عبّاس رضي الله عنه هم په لوړ آواز په نارو شروع وکړه او ويل: اې مسلمانانو! رسول الله ﷺ دغه دی خو چا تر شا نه کتل، دلته نو رسول الله ﷺ ورته وويل: و اصحاب سَمُره ته ورناري کړه (سَمُرَه يعني: ونه يا درخته) چي مقصد يې هغه ونه ده چي د حديبيې په ورځ اصحاب کرامو تر هغې وُني لاندي د رسول الله ﷺ سره بيعت کړی ؤ، حضرت عبّاس رضي الله عنه هم ناري کړه (يَا أصحابَ السّمُره أينَ بَيعَتُكم؟) اې د وُني ملګرو هغه بيعت مو څه سو؟ ځيني اصحابِ کرام چي د هغه بيعت په ورځ يې په بيعت کي ګډون او اشتراک کړی ؤ هغو دغه ناره واورېدل او په بيرته را ګرځېدلو يې شروع وکړه، هغه خپل عهد يې ورپه ياد سو غواړي چي پرخپله وعده وفاء وکړي او پر رسول الله ﷺ را ټولېدل دغه د اصحاب کرامو د بيرته را ګرځېدلو حال ځيني هغه کسان بيانوي چي په دغه جنګ کي حاضر وه، هغه وايي: يو نفر چي د اهلِ شجره څخه ؤ پر اوښ سپور ؤ او تښتېدی خو کله چي يې دغه ناره واورېدل اوښ يې داسي تېز رهي ؤ چي ده دا قدرت نه درلودی چي خپل اوښ و دروي او را وې ګرځوي نو دئ ځني را وغورځېدی او اوښ يې پرېښاوه پر پښو يې په جنګ شروع وکړه.

د بيعت الرِّضوان خلک په داسي حيرت انګېزه چابکي سره را ګرځېدل چي بيان يې نه سم کولای او دغه به يې ويل: لبيک يا رسولَ الله! لبيک يا رسولَ الله! تر داسي اندازې چي دوی به کوښښ کاوه چي خپل اوښ را وګرځوي، خو د اوښ د را ګرځولو قدرت چي به يې نه کړی پيدا، خپله توره او سپر به يې ځني را حمله کړه او

(c) Ketabton.com: The Digital Library


له اوښه به را غورځېدل، اوښ به یې خپل سر ته پرېښاوه، ترڅو چې د رسول الله ﷺ پر شا وخوا د دغو نفرو څخه سل نفره را ټول سوه او په جنګ یې شروع وکړه، اوس نو دغه سل نفره چې سره یو ځای سوه د شلو زرو نفرو سره جنګ کوي، داسي جنګ شروع سو چې د انسانانو ترخیال او تصور لوړ دی، هغو کسانو چې دغه حالت یې لیدلی دی وایي: په والله دغو سلو نفرو داسي جنګ کاوه چې هیڅ شئ یې مخ ته نه سوای درېدلای، په هوازن کي یې قتل او وژنه شروع کړه، دغه سل نفره په هغو شلو زرو نفرو کي قتل او وژنه کوي او هیڅوک یې مخ ته هم نه سي درېدلای، په دغه وخت کي د جنګ قومندان په خپله رسول الله ﷺ ؤ هم جنګ کوي هم اداره، دا د چا په وسه پوره ده؟ دا کوم همت او شجاعت دی چې سل نفره دي د شلو زرو په مقابل کي جنګیږي؟ دا رسول الله ﷺ ؤ او دغه یې شجاعت ؤ نو ځکه حضرت علي ﷺ وایي: کله چې به جنګ ډیر شدید سو موږ به و رسول الله ﷺ ته رجوع کول، ځکه موږ پوهېدلو چې هغه ﷺ د همت او شجاعت خاوند دی نه تښتي او نه بیریږي.

د حضرت علي ﷺ دغه قول د حُنین د جنګ په باره کي نه دی بلکه دغه خبره یې عامه کړې ده چې په ټولو جنګو کي همېشه زموږ دغه حال ؤ، چې د جنګ شدت په وخت کي زموږ رجوع و رسول الله ﷺ ته وه او په هغه سره مو ځانونه ساتل دغه د حُنین په ورځ هم دغو سلو نفرو د رسول الله ﷺ د شجاعت او ثابته پاته کېدلو په واسطه د رسول الله ﷺ تر شا جنګ کاوه، په دغو سلو نفرو کي دوې ښځي هم موجودي وې چې یوه اُم عمّاره او بله اُم سُلَیم وه، چې د خپل خاوند ابو طلحه سره ملګرې وه، دغو ښځو جنګ نه کاوه مګر د رسول الله ﷺ سره ثابته پاته وې، د ام سُلیم سره یو خنجر ور سره ؤ، رسول الله ﷺ پوښتنه ځني وکړه: یا اُم سُلَیم! په دغه خنجر څه کوې؟ دې و ویل: که د مشرکانو څخه یو څوک را نژدې سو نس یې ور څیرم، سبحان الله! دا داسی ورځ وه چې نارینه تښتي مګر دغه ښځي ثابته پاته دي بیا اُم سلیم و رسول الله ﷺ ته و ویل: اجازه راکوې چې دغه تښتېدلي کسان داسي و وژنم لکه ته چې هغه کسان وژنې چې جنګ در سره کوي؟ دوی څنګه تا په دغسي حال کي یوازي پرېږدي؟ رسول الله ﷺ و فرمایل: یا پرې یې ږده.

(c) ketabton.com: The Digital Library


دا په دغه جنګ کې د مسلمانو ښځو ثبات ؤ، په دغه ورځ کې رسول الله ﷺ دا اعلان هم وکړی: که هرچا د کفارو څخه یو څوک و وژی او د هغه پر وژلو یې شاهدان درلودل د وژل سوي سړي سامان د هغه دی.

ابن اسحاق او نور د انس بن مالک رضي الله عنه څخه روایت کوي چې د حنین په ورځ یوازې ابو طلحه د شلو نفرو کفارو سامان واخیستی، یعني: یوازې ده شل نفره کفار وژلي وه، تردغه وروسته و انصارو ته ناره کول شروع سوه: یا معشرَ الأنصار! یا معشرالأنصار! اوس بیرته د مسلمانانو ډلې یوه پسله بلې څخه را ګرځې او شدید جنګ شروع دی، رسول الله ﷺ جنګ ته وکتل او وې فرمایل: اوس جنګ تود سو اوبیا رسول الله ﷺ د مځکې څخه یو مټ شګې یا خاوره را پورته کړه او د کفارو مخان یې په و ویشتل، دغه یو مټ خاوره د کفارو د لښکر د هر فرد و سترګو ته ورسېدل او ټوله د خپلو سترګو په مښلو مشغول سوه او له دې طرفه د مسلمانانو حملې پر شروع دي، بیا نو رسول الله و ویل: د محمّد په رب مې دې قسم وي چې کفار مات سوه، هلته په هوازن کې داسې قتل او وژنه شروع دي چې د مالک بن عوف هیڅ زړه ته نه لویږي چې سلو نفرو دي داسې حال را باندې جوړ کړی وي.

په دغه وخت کې د الله جل جلاله له طرفه نصرت او برئ، مرسته او معجزه را نازل سوه چې هغه له آسمانه د ملائکو نزول ؤ، د آسمانه څخه ملائکې را کښته سوې دا دوهم جنګ دی چې ملائکې ورته را کښته کیږي پسله بدره څخه دغه یواځنئ جنګ دی چې ملائکې پکښې را کښته سوي دي، په حدیث شریف کې راغلي دي چې مسلمانانو دغه ملائکې د یوې سیاهۍ په شکل ولیدلې، وایي: موږ په آسمان کې یوه سیاهي ولیدل چې مځکې ته را کښته سوه او په وادي حُنین کې سره وپاشل سوه او بیا دغه سیاهي موږ ته را نژدې سوه و مو لیده چې تور غټ مېږیان وه، صحابهٔ کرام وایي: چې موږ د دغو مېږیانو د ډېروالي په سبب خپل کالي ځني څنډل چې پر کالو مو ګرځېدل، مسلمانانو فقط دغه حال ولیدی مګر کفارو بیا و لیدل چې ډېر زیات خلک چې سپین کالي یې اغوستي دي او پر ابلکو آسانو سپاره دي او پر دوی ور رهي دي، کفارو چې په هغه سلو نفرو څه نه سوای کولای او اوس وینې چې دغه لوی لښکر

(c) ketabton.com: The Digital Library


او ډیرې ډلې پر دوی ور رهي دي په زړو یې بېره ننوتل او په تېښته یې شروع وکړه، ملائکو په دغه جنګ کې، جنګ او وهل نه دي کړي لکه په بدر کې چې یې کړي وه، دلته فقط د ملائکو را تګ د کفارو په زړو بېره ننه ایستل، او د جنګ له میدانه په تېښته سوه، لکه څرنګه چې الله جل جلاله فرمایي:

﴿لَقَدْ نَصَرَكُمُ ٱللَّهُ فِى مَوَاطِنَ كَثِيرَةٍ وَيَوْمَ حُنَيْنٍ إِذْ أَعْجَبَتْكُمْ كَثْرَتُكُمْ فَلَمْ تُغْنِ عَنكُمْ شَيْـًٔا وَضَاقَتْ عَلَيْكُمُ ٱلْأَرْضُ بِمَا رَحُبَتْ ثُمَّ وَلَّيْتُم مُّدْبِرِينَ ۝٢٥﴾. [التوبه:۲۵]

یعني: خامخا الله جل جلاله ستاسي سره په ډیرو ځایو کي مرسته کړې ده خصوصاً د حنین په ورځ، کله چې ستاسي ډیر والي تاسي په تعجب کي واچولاست، نو هغه ډیر والي ستاسي څخه هیڅ شئ ایسته نه کړی، یعني: د دښمن حملې یې نه در څخه وګرځولې او پر تاسي مځکه تنګه سوه سره د دې چې مځکه ډیره پراخه ده، بیا مو دښمن ته په داسي حال کي شا وروګرځول چې تښتېدلاست.

﴿ثُمَّ أَنزَلَ ٱللَّهُ سَكِينَتَهُۥ عَلَىٰ رَسُولِهِۦ وَعَلَى ٱلْمُؤْمِنِينَ وَأَنزَلَ جُنُودًا لَّمْ تَرَوْهَا وَعَذَّبَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ ۚ وَذَٰلِكَ جَزَآءُ ٱلْكَٰفِرِينَ ۝٢٦﴾. [التوبه:۲٦]

او بیا الله جل جلاله خپل سکون او اطمینان پرخپل رسول او پر مومنانو نازل کړی او الله جل جلاله داسي لښکري را ولېږلې چې تاسي نه لیدلې او عذاب یې ورکړی و هغو کسانو ته چې کافران سوي وه او هم دغه عذاب د کافرانو سزا ده.

د هوازن لښکر د مکې مکرمې د شمال شرق له طرفه راغلی ؤ او مسلمانان د دوی په جنوب غرب کي واقع وه اوس د هوازن لښکر پر درې طرفه تښتي ځیني یې طائف ته ځي، ځیني یې نخله ته ځي او ځیني یې وادي اوطاس ته ځي، په هغو کسانو پسي چې اوطاس ته تښتېدل رسول الله ﷺ یوه ډله ولېږل چې مشر یې ابو عامر الاشعري رضي الله عنه ؤ، د مسلمانانو د دغې ډلې او د کفارو په منځ کي لږ جنګ وسو چې په نتیجه کي کفارو سخته ماته وخوړل، خو په دغه جنګ کي ابو عامر الأشعري رضي الله عنه شهید سو.

(c) ketabton.com: The Digital Library


همدارنګه رسول اللهﷺ يوه بله ډله په هغو کفارو پسي ولېږل چي د نخله پر طرف تښتېدل، چي په دغه تښتېدلو خلکو کي يو هم دُرَيد بن الصِّمّه ؤ، هغه سپين ږيرى او ړوند، د جاهليت لوى پهلوان، دغه دُرَيد د مسلمانانو څخه يوه ځوان ونيوى چي د دغه ځوان عمر شپاړس کاله ؤ او نوم يې ربيعه بن رُفيع الأسلمي ؤ، دُرَيد په کجاوه کي سپور ؤ او مسلمان فکر وکړى چي ښځه ده غواړي چي په بنديانو کي يې بوزي، دغه ځوان اوښ تر مهار ونيوى او کش يې کړى، دُرَيد بن الصمه پر ږغ کړه اوښ چيري بيايې؟ ځوان پوه سو چي په دې کجاوه کي سړئ دى نو يې اوښ چوک کړى، دُرَيد ېغمه ناست دى ضعيفه سړئ دى يو سل او شپېته کاله يې عمر دى، دئ په خپله نور ژوند او عمر نه غواړي، ربيعه بيا ځوان او بې تجربه دى د اول وار دپاره په جنګ کي ګډون کوي، حتّٰی په توره سره يې د وهلو طريقه هم پوره نه ده زده، توره يې پورته کړه دُرَيد يې پر اوږه په و واهه، خرنګه چي د دُرَيد هډوکي زاړه هډونه وه او غوښه يې هم نه درلودل توري تاثير نه پر وکړى د يو سلو شپېتو کلو وچ هډونه دي او عمر يې هم په جنګو کي تېر سوى دى، دې واري هيڅ تاثير پر و نه کړى.

دُرَيد و خندل او ويل: اې وراره! نوم دي څه شي دى؟

ځوان ويل: ربيعه بن رُفيّع الأسلمي دُرَيد و ويل: يا ربيعه! ما ستاسي د ښځو څخه دفاع کړې ده مګر بيا هم راسه چي د وهلو طريقه در وښيم، که ته غواړې چي څوک و وهې پر هډوکي يې مه وهه هډوکى نه ماتيږي د وهلو ځاى دغه دى د سر او اوږو په منځ کي (خپل مغزي ته يې لاس ور وړى) اوس د وهلو ځاى هم ور ښيي او ويل: دغه ستا توره بېکاره ده ورسه هغه زما توره را واخله د ځين په شا کي پرته ده، ربيعه هم هغه د دُرَيد توره راواړل، دُرَيد ويل: پر دغه ځاى مي و وهه بيا نو ولاړسه مور دي خبره کړه چي ما دُرَيد و وژى، ما همېشه د هغو ښځه دفاع کړې ده، ربيعه هم توره واخيستل خرنګه چي دُرَيد ور ښوولي وه هغسي يې و واهه او وې وژى.

ربيعه پسله جنګه خپلي مورته دغه قصه وکړه، موريې و ژړل او وې ويل: چي ده درته و ويل: ما ستا د ښځو څخه همېشه دفاع کول تا څنګه وژى؟ ربيعه ويل: نه زه د ده په قصه خبر وم او نه د ده په خبرو پوه سوم چي دئ څه وايي، موريې ورته و ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library


د جاهليت په وختوكي زه، زما مور او زما خوندي بنديانې ونيول سوو او هغه څوک چي موږ يې له بندي ګرته خلاصي او ايله کړو هغه دغه دُرَيد بن الصمه ؤ، ده وساتلو، ربيعه ويل: زه څه خبر وم؟ كه زه په دغه قصه خبر واى مابه نه واى وژلى، مقصد دا چي د دُرَيد بن الصمه آخري حال دغه ؤ چي درته بيان سو.

اوس چي دغه سل نفره مسلمانان پر شلو زرو يا دوولسو زرو كفارو غالبه او كامیابه سوه، د مسلمانانو د لښكر هغه نور تښتېدلي نفر لا تر اوسه نه دي راغلي، هغه بيا ډير وروسته هغه وخت راغله چي دغو سلو نفرو د جنګ په ميدان كي غنيمتونه ټولول، مقصد دا چي دغو شلو زرو نفرو ته چي يې ماته او شكست وركړى هغه فقط دغه سل نفره وه، دا د الله جل جلاله قدرت ؤ چي د حنين په ورځ ښكاره سو.

كله چي كفارو شكست وخوړى رسول الله ﷺ دغه سل نفره امر كړه چي اوس غنيمتونه پرېږدى په كفارو پسي ور رهي سى او هغه تعقيب كړى.

دغه خبر چي كفار مات سوه په كراره كراره و هغه نورو تښتېدلو مسلمانانو ته ورسېدى، هغو هم په بيرته را ګرځېدلو شروع وكړه، په دغه وخت كي چي مسلمانان كفار تعقيبوي رسول الله ﷺ پوښتنه وكړه چي خالد بن وليد چيري دى؟ پسي وګورى او پيدا يې كړى، په دغه وخت كي چي اصحاب كرام په خالد رضي الله عنه پسي ګرځي د كفارو مشر او عمومي قوماندان مالک بن عوف هغه ځاى ته ور رهي دى چي هلته د ده مات سوى لښكر سره يو ځاى كيږي، هلته ورغلى غواړي چي خپل لښكر بيرته سره يو ځاى او منظم كړي او بيا د حملې دپاره را وګرځي، د مسلمانانو څخه هغه د بني سُليم د قبيلې څو نفره په ده پسي ور رهي سوه، مسلمانان لا تراوسه ټول نه دي سره يو ځاى سوي شمير يې اوس هم لږ دى، هلته مالک بن عوف د خپل لښكر ډير نفر سره يو ځاى كړه غواړي چي د حملې دپاره بيا را وګرځي، خو وې ليدل چي د بني سليم قبيله ورته ولاړه ده، مالک بن عوف پوښتنه وكړه چي دا څوک او كومه قبيله ده؟

ورته وويل سوه: دا د بني سُليم قبيله ده.

په هغه وختو كي هري قبيلې خپلي نېزې او توري پر يوه خاص ډول اېښوولې چي په هغه سره پېژندل كېدې چي دا فلانۍ قبيله ده، دغه د بني سُليم قبيلې خپلي

(c) ketabton.com: The Digital Library


نیزې د آسانو پر سرو ایښوولې، نو مالک بن عوف پوښتنه وکړه چې دا څوک دي چې زموږ مخ ته و درېدل؟ ویل دا بني سُلیم دي، ویل د دوی څخه مه بېرېږی ځانونه تیار کړی، مالک بن عوف د دوهم وار دپاره و حنین ته نژدې ډېر لښکرسره یو ځای کړی او د مسلمانانو لښکر هم دلته سره یو ځای کیږي، په دغه وخت کې انصار د مالک بن عوف پر طرف ور رهي سوه چې هغو بیا نېزې د ځانو تر شا پر آسانو ایښوولې، مالک پوښتنه وکړه چې دا څوک دي؟ ورته و ویل سوه: دا د یثرِب څخه د محمّد ﷺ اصحاب دي، ده ویل د دوی څخه هم مه بېرېږی، بیا هم مالک د نورلښکر په یو ځای کولو او ترتیبولو مشغوله سو چې د مسلمانانو یوه بله ډله تیاره سوه چې دغه ډله مهاجرین وه او دوی بیا نېزې د آسانو پر غوږو ایښوولې او د دې ډلې مشر او قوموندان زبیر بن العوام ﷜ وُ.

مالک بن عوف بیا پوښتنه وکړه چې دا څوک دي؟ مالک ویني چې دغه ډله د هغو نورو څخه فرق لري او د نور لښکر پر قسم نه معلومیږي، ورته و ویل سوه: دا د أهل مکې څخه د محمّد اصحاب دي، مالک و ویل: په دوی کې هغه نفر چې ژړه لنګوټه یا پټکۍ یې تړلی دی څوک دی؟ ویل دا زبیر بن العوام دی، مالک ویل: در تښتی چې زبیر راغلی نور نو زموږ طاقت ختم دی، هغه لښکر یې نه کړی پوره چې مالک بن عوف او ملګري یې بیا په تېښته شروع وکړه، فقط د زبیر﷜ د نامه او را تګ څخه وبېرېدل او طائف ته وتښتېدل، مګر په خپله مالک بن عوف په طائف کې یوې منطقې ته وتښتېدی چې (لَیه) ورته ویل کیږي او هلته یې یوه قلا درلودل، نو په لیه کې هغه خپلي قلا ته ورغلی.

*د هوازن او ثقیف لښکرو په دغه ډول او طریقه سره ماته او شکست وخوړل.*

مګر څرنګه چې د هوازن د لښکرشمېر او تعداد ډېر زیات وُ او دوی فقط د خپلو ځانو په خلاصولو مشغوله وه د ښځو او ماشومانو، مالو او حیواناتو، و تښتولو ته نه سوه فارغه او نه هغو په خپله وکولای سوای چې وتښتي، نو ټول د جنګ پر میدان پاته سوه، ښځي او ماشومان، پُسونه او اوښان ټول پاته سوه، فقط نارینه خلکو وکولای سوای چې وتښتي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


هلته صحابهٔ کرامو خالد بن ولیدرضی الله عنه پیدا کړی چي ټول بدن یې په زخمو ډک دی او ویني څني بهیږي، هلته یو اوښ چوک ؤ دیٔ رضی الله عنه ورته ناست دی پر هغه اوښ یې تکیه کړې ده، څرنګه چي ډیره وینه څني تللې وه له ضعفه یې هیڅ حرکت نه سوای کولای، رسول الله ﷺ ورغلی او دیٔ رضی الله عنه پر دغه حال ؤ، رسول الله ﷺ کالي څني وکښل پر زخمو یې ور ټوکي او لاس پر تېر وي، ځو ټوله زخمونه یې په دغه لحظه جوړ سوه، بیا نو رسول الله ﷺ ورته و ویل: ولاړ سه یا خالد! او په کفارو پسي ولاړ سه. تعقیب یې کړه او وې شړه، هغه خالد رضی الله عنه چي څو لحظې د مخه پر هغه حال ؤ چي د ضعفه څخه یې حرکت نه سوای کولای اوس پر آس سپور سو او په کفارو پسي ور رهي سو، دا هم د حنین په غزاء کي د رسول الله ﷺ د معجزو څخه یوه بله معجزه ده چي پر خالدرضی الله عنه ښکاره سوه.

د جنګ د جریان په وخت کي رسول الله ﷺ پر یوه ښځه ورغلی چي وژل سوې وه او خلک پر را ټول وه، رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه چي څه پېښه ده؟ خلکو ویل: یوه ښځه ده چي خالد بن ولید وژلې ده، رسول الله ﷺ ځینو هغو نفرو ته چي د ده ﷺ سره ملګري وه و ویل: په خالد پسي ځان ور ورسوی او ورته و وایاست: رسول الله ﷺ دي له دې څخه منعه کوي چي کوچنئ، ښځه او نوکر و وژنې.

## د حُنین د غزاء غـنـیـمتـونه

رسول الله ﷺ د خپلو اصحاب کرامو سره د جنګ پر میدان کامیابه او مسلط سو او مسلمانانو د جنګ له میدانه غنیمتونه را ټول کړل.

د حُنین غنیمتونه په داسي ډول سره وه: اته زره ښځي بیله ماشومانو، څلیرویشت زره اوښان او تر څلویښتو زرو زیات پسونه، څلور زره اوقیه سپین زر.

مالک بن عوف دغه شیان د دې دپاره را وړي او راوستلي وه چي لښکر یې شکست و نه خوري، مګر د دُرَید بن الصُمّه خبره صحي وه چي ویل: مات سوی لښکر په هیڅ شي نه را ګرځي او د هیڅ شي پروا نه لري.

نو د حنین په جنګ کي د هوازن ډیري ښځي او کوچنیان، ټول مالونه او

(c) ketabton.com: The Digital Library


حیوانات د مسلمانانو لاس ته ورغله، رسول الله ﷺ امر وکړی چې ټول غنیمتونه دي جُعرانې ته یووړل سي او هلته یې سره یو ځای کړي.
(جُعرانه) و مکې مکرمې ته نژدې د یوه ځای نوم دی، نو ټول انسانان او حیوانان هلته بوتله سوه او مالونه هم هلته یووړل سوه.

## د رسول الله ﷺ رضعي خور شیماء بنتُ الحارث

د مخه تر دې چې انسانان او حیوانات جعُرانې ته بوتلل سي د بندیانو څخه یوه ښځه نارې وهي، یوه سپین سرې ښځه ده چې تقریباً اویا کاله یې عمر دی وایي: ما پرېږدی زه ستاسي د نبي خور یم، زه ستاسي د ملګري خور یم، صحابهٔ کرامو ویل: زموږ ملګری رسول الله ﷺ خور نه لري موږ د هغه د خور نه دي اورېدلي، خو ښځه ټینګه ده او وایي: تاسي ما ور ولی، د دې د ډېرو زاریو په سبب یې دا د بندیانو له ځایه را وایستل او رسول الله ﷺ ته یې ور وستل او ویل: یا رسولَ الله! دغه ښځه دعوه کوي چې زه ستا خور یم، رسول الله ﷺ ښځې ته و ویل: څوک یې؟ ویل: شیماء بنتُ الحارث د حلیمهٔ سعدیه لور، دغه شیماء د رسول الله ﷺ رضعي یا د تي رودلو خور وه، رسول الله ﷺ چي کوچنیٔ او په بني سعد کي ؤ د دغي شیماء عمر اووه کاله ؤ او دې د خپلي مور سره د رسول الله ﷺ روزنه کول او دې به رسول الله ﷺ په شا او غېږ کي ګرځاوه، رسول الله ﷺ نه و پیژندل او ښايي هره ښځه دغه دعوه وکړي چې زه ستا خوریم نو رسول الله ﷺ و فرمایل: څه علامه او نښاني لرې چي هغه دا ثابته کړي چي ته زما خوريې؟ شیماء و ویل: نښاني مي زما پر اوږه ستا غاښ دی، کله چې ما ته په شا ګرځولې پر اوږه دي غاښ را ولګاوه، رسول الله ﷺ و فرمایل: صدقتِ، چې دغه دي هم په یاد دي او راته و دي ویل نو ته شیماء او زما خوريې، رسول الله ﷺ خپل پټو ورته آوار کړی او دا یې پر کښېنول د دې عزت یې وکړی هدیې او تُحفې یې ورکړې او دا هم مسلمانه سوه.
څرنګه شیماء د بني سعد د قبیلې وه او خلکو ولیده چې د رسول الله ﷺ خور

(c) ketabton.com: The Digital Library


د بني سعد د قبیلې ښځه ده نو ټول هغه بندیان چې د بني سعد د قبیلې ښځه وه د رسول الله ﷺ د عزت دپاره یې ایله کړه او بیا رسول الله ﷺ شیماء ته و ویل: زما سره ځې او که بیرته خپل قوم ته ځې؟ څرنګه چې شیماء سپین سرې وه د خپل قوم او قبیلې سره یې عادت درلودی ویل: خپل قوم ته ځم، نو رسول الله ﷺ شیماء ته تحفې او هدیې ورکړې او دا خپل قوم ته مسلمانه او په عزت سره ولاړل، دا د رسول ﷺ د رضعي خور شیماء بنتُ الحارث رضی الله عنها قصه وه چې د حلیمهٔ سعدیه لور وه.

## سُراقه بن مالک

کله چې د هوازن قبیلې ماته او شکست وخوړی ټول نفر یې پر دې نه سوه کامیابه چې وتښتي، هو ډیر نفر یې طائف ته ولاړل ځیني یې سره وپاشل سوه او ځیني یې بندیان ونیول سوه چې د بندیانو په جمله کي یو هم سُراقه بن مالک الجُشعُمي ؤ چې د اهل طائف ښځه ؤ، دا هغه سُراقه بن مالک دی چې د رسول الله ﷺ د هجرت په ورځ په رسول الله ﷺ پسې ؤ او غوښتل یې چې د قریشو د انعام اخیستلو دپاره رسول الله ﷺ ونیسي، دغه سُراقه هم بندي ونیول سو، ده و ویل: ما پرېږدی زما سره ستاسي د نبي له طرفه د أمان لیک را سره دی چې په هغه لیک کي یې ماته امان راکړی دی، سبحان الله! دغه الٰهي کارو ته وګوری: د نن ورځي ښځه یې اته کاله د مخه د رسول الله ﷺ ښځه د خپل ځان دپاره د امان لیک اخیستی ؤ او نن د هغه لیک ثمره او مېوه خوري، صحابهٔ کرامو ویل: هغه د امان لیک دي کومه دی او چیري دی؟ سُراقه و ویل: زما سره دی او اوس به یې در ښکاره کړم، سُراقه د رسول الله ﷺ هغه لیک را وایستی چې د اوښ د اوږې پر هډوکي لیکل سوی ؤ دغه لیک ابوبکر الصدِّیق رضی الله عنه لیکلی ؤ او په هغه لیک کي رسول الله ﷺ د هجرت په ورځ سُراقه بن مالکَ ته امان ورکړی ؤ.

اصحاب کرامو سُراقه و رسول الله ﷺ ته را وستی او ویل: یا رسولَ الله! دغه نفر وایي چې ستا له طرفه د امان لیک لرم، آیا رشتیا دغه لیک ستا د طرفه دی؟

رسول الله ﷺ و فرمایل: هو، «یومُ بِرٍّ و وفاء یومُ بِرٍّ و وفاء» نن د نېکی او وفاء ورځ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده نن د وفاء ورځ ده ایله یې کړی، سراقه د هغه لیک په واسطه چې د هجرت په ورځ رسول الله ﷺ ور لیکلی ؤ خلاص او ایله سو، بیا سه اته کاله یې پر هغه خپله وعده وفاء ور سره وکړه.

لکه څرنګه چې د مخه مو درته وویل: د غنیمتو دپاره د رسول الله ﷺ په امر په جُعرانه کي ډیر لوی ځای جوړ کړل سو او ډیره لویه پیره پر و درول سوه ځکه اته زره یوازي ښځي دي، پسونه، اوښان، سپین زر تر حساب تېر، نو یې د لښکر ډیر نفر پر دغه غنیمتو پیره داران مقرره کړه او د پیره دارانو مشر یا قومندان یې مسعود بن عَمرو الغفاري مقرره کړی، رسول الله ﷺ دغه غنیمتونه تر هغو نه و وېشل ترڅو چې د طائف د محاصرې څخه فارغه سو او وې فرمایل: دغه غنیمتونه دي تر هغو دلته وي چې بیا زه تصرف پکښي کوم، کله چې مسلمانانو د جنګ له میدانه غنیمتونه ټول کړه د مسلمانانو نوري قواوي او لښکر د کفارو د تعقیب له طرفه بیرته راتله او سره یو ځای کیدل، ځکه غنیمتونه ټول سوه او جنګ خلاص سو، رسول الله ﷺ هم ټول لښکر سره یو ځای او منظم کړی، خالد بن ولید او زبیر بن العوام رضي الله عنهما هم د کفارو د تعقیبولو څخه فارغه سوه او راغله بیا نو د طائف محاصره شروع سوه.

## د طائف محاصره

د طائف محاصره او غزاء په حقیقت کي د حنین د غزاء پاته حصه ده که څه هم ځیني علماء دغه د طائف محاصره او جنګ بله غزاء بولي مګر دغه غزاء د حنین د غزاء تکمله او پوره کېدل دي او دغه غزاء په دې سبب پېښه سوه چې د هوازن او ثقیف تښتېدلي خلک د خپل عمومي قومندان مالک بن عوف سره په طائف کي سره یو ځای او سره جمعه سول، رسول الله ﷺ پسله هغه چي د حنین له جنګه فارغه سو غنیمتونه یې په جُعرانه کي سره یو ځای کړه او د مسلمانانو لښکر هم سره یو ځای او منظم سو نو د خپله لښکره سره یې د طائف پر طرف حرکت وکړی، د لښکر د مقدمې قومندان خالد بن ولید المخزومي رضي الله عنه دی، دا پسله هغه چي الله جل جلاله یې د رسول الله ﷺ په معجزه زخمونه ور جوړ کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library


د مسلمانانو لښکر طائف ته ورسېدی مګر د طائف خلک کله چې د حنين څخه وتښتېدل نو يې په طائف کې خپلې قلاوې ټينګې کړې اسلحه يې سره يو ځای کړه، خواړه او ارتزاقي مواد يې سره جمعه کړه، چې په دې ډول سره يې د محاصرې دپاره آمادګي ونيول، له بله طرفه د مسلمانانو لښکر د طائف قلاوې محاصره کړې.

اوس رسول الله ﷺ إراده وکړه چې د اهل طائف سره خبري وکړي چې يا مسلمانان سي يا جزيه قبوله کړی يا جنګ در سره کوو، نو يې يزيد بن زُمعه رضي الله عنه د خبرو دپاره ور ولېږی، يزيد رضي الله عنه هم د هغو د قلا و طرف ته ور نژدې سو او ويل: ما لره امان سته درتلای سم؟ هغو ويل: هو په امان يې، يزيد رضي الله عنه بنه ور د مخه سو غواړي چې د رسول الله ﷺ پيغام ور ورسوي، کله چې بنه ور نژدې سو اهل طائف له هغه طرفه په غشو و ويشتی او شهيد يې کړی رضي الله عنه او د ده قاتل هم هُذيل بن أبي صلت ؤ، يزيد رضي الله عنه قاصد او سفير ؤ، قاصد او سفير هيڅ وخت نه وژل کيږي مګر اهل طائف په دغه اندازه له اسلامه منکره او د مسلمانانو دښمنان وه چې د رسول الله ﷺ قاصد يې شهيد کړی، رسول الله ﷺ پوه سو چې دغه خلک پر جنګ ټينګ دي او نه غواړي چې خبري وکړي.

رسول الله ﷺ مسلمانان امر کړه چې ځانونه د هجوم او حملې دپاره آماده کړی، په دغه وخت کې چې مسلمانان خپل ځانونه آماده کوي هغه د يزيد رضي الله عنه قاتل هُذيل بن أبي صلت د قلا څخه را و وتی غواړي چې د مسلمانانو د لښکر معلومات وکړي ښغمه پر آس سپور دی، د ده په فکر هر وخت چې وغواړي په ځغستا بيرته قلا ته ننوتلای سي، دلته بيا يعقوب بن زُمعه رضي الله عنه وليدی (يعقوب د هغه شهيد سوي يزيد ورور دی) نو يعقوب د شا له طرفه ورغلی او ځان يې قلا ته ور نژدې کړی او بيا يې پر دغه هُذيل قاتل د شا له طرفه حمله وکړه، هُذيل وارخطا سو د مخ پر طرف يې وځغستل، مخ ته د مسلمانانو لښکر ؤ هغو ونيوی، اوس نو د يزيد رضي الله عنه قاتل د مسلمانانو سره بندي دی، دغه هُذيل د هغه مشهوره شاعر اُميه بن أبي صلت ورور دی، کوم چې رسول الله ﷺ د هغه په باره کې فرمايي: دئ بايد د خپل حکمت او پوهې په سبب مسلمان سوی وای، هُذيل اوس د مسلمانانو سره بندي دی، يعقوب بن زمعه رضي الله عنه و رسول الله ﷺ ته ورغلی او ويل: يا رسولَ الله! دغه هذيل زما د ورور قاتل دی او دا

(c) ketabton.com: The Digital Library


هغه خائن دی چې قاصد یې و وژی، رسول الله ﷺ و فرمایل: هو، غاړه یې ور ووهه، نو یې هذیل بن أبي صلت و وژی ځکه ده د رسول الله ﷺ قاصد وژلی ؤ.

وروسته د مسلمانانو د پهلوانانو څخه یوې ډلې ځانونه آماده کړه او د طائف پر قلا یې حمله وکړه غواړي چې د یوې لارې و قلا ته ور ننوزي مګر اهل طائف په غشو ویشتل او د قلا څخه یې لیرې کړه، ډیر غشي یې پر واورول او ډیر صحابهٔ کرام یې زخمیان کړه چې مسلمانانو د هغو غشو په سبب خپله حمله نه کړه پوره او پر شا تګ ته مجبوره سوه، وروسته رسول الله ﷺ په څو کارو سره امر وکړی.

**لومړئ**: د رسول الله ﷺ له طرفه د طائف و مریانو ته دا اعلان وسو: هر مریئ چې د قلا څخه را ووزي او موږ ته راسي هغه حُر او آزاد دی، د دغه اعلان په سبب درویشت نفره مریان په هره طریقه سره چې وه خپل ځانونه یې د مسلمانانو لښکر ته ورسول چې په دې جمله کې یو هم ابوبکره ؤ، ابوبکره یو مریئ ؤ چې د قلا و دېواله ته وختی او له هغه ځایه څخه د یوه څرخ یا یوې غرغړې په واسطه د قلا د دېواله څخه لاندي مځکې ته را کښته سو او مسلمانانو ته یې ځان ورساوه (غرغړه) هغه ګردې ارغړی ده چې د څاهانو څخه اوبه په را کښل کیږي، په هغه وختو کې هم دغسې ارغړی د اوبو او نورو درنو شیانو د پورته کولو دپاره استعمالېدلې او دغې ارغړی ته په عربي کې (بَکره) ویل کیږي، څرنګه چې دغه مریئ د دغې ارغړی په مرسته را کښته سو نو رسول الله ﷺ د دغې ورځې څخه پر دغه مریي د ابوبکره نوم کښېښاوه.

**دوهم**: د رسول الله ﷺ په امر د طائف د قلاوو پر شا وخوا تېره او کنج داره اوسپني وپاشل سوې، د طائف د قلاوو پر شا وخوا یې ډیري تېرې اوسپني ورته و پاشلې، دا د دې دپاره چې اهل طائف پر بله خوا و نه تښتي، ځکه هغه تېرې اوسپني د دوی او د دوی د اوښانو او آسانو په پښو ننوتلې، اصلاً دغه تېرې اوسپني د هغه وخت مینونه وه، د اوس مینونه هم د دغسې مقصد دپاره استعمالیږي، نو د طائف پر شا وخوا دغه مینونه ورته وپاشل سوه، فقط هغه طرف یې خالي پرېښاوه چې پر هغه طرف د مسلمانانو لښکر پروت ؤ، هغه هم د دې دپاره چې مسلمانان حمله پر وکولای سي چې په دې ډول سره اهل طائف له یوه طرفه په لښکر او د نورو طرفو څخه په مینو سره محاصره سوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library


دوهم وار بیا مسلمانانو حمله پر وکړه، دوهمه حمله یې هم د هغه غشو د ویشتلو په سبب نا کامه سوه، رسول الله ﷺ د جنګ د یوه سیاست پر قسم چې دښمن و تسلیمېدلو ته مجبوره کړي امر وکړی چې باغونه یې قطعه کړی او وې سوځی، طائف د انګورو ډېر باغونه درلودل ویل: دغه وُني یې ور قطعه کړی، صحابهٔ کرامو د باغو په قطعه کولو شروع وکړه خو د طائف د مشرانو څخه یوه نفر چې عبدیالیل نومېدی و رسول الله ﷺ ته حال ورولېږی.

دا هغه عبدیالیل دی چې رسول الله ﷺ د غم تر کال وروسته طائف ته د دعوت دپاره ورغلی او د طائف په شروع کي چې یې د هغه اولو نفرو سره ولیدل هغه دغه عبدیالیل او د ده ورونه وه، ده او د ده ورونو د رسول الله ﷺ دعوت رَد کړی او بیا یې مریان او هلکان وګمارل چې رسول الله ﷺ په ډبرو ولی، اوس دغه عبدیالیل د طائف د عمومي مشرانو د غیاب په سبب د طائف مشر ؤ.

دا خو درته معلومه ده چې د طائف او ثقیف عمومي مشر او رئیس عُروه بن مسعود الثقفي ؤ مګر دغه عُروه بن مسعود دغه د طائف د محاصرې په وخت کي په طائف کي نه ؤ موجود اُردن ته تللی ؤ او په جَرَش کي ؤ، هلته یې د ځینو جنګي ثقیله اسلحو او مشین آلاتو چې منجنیق او دبابات ورته ویل کېده جوړول زده کول، ځرنګه چې اهل طائف پر مسلمانانو د حملې نیت او إراده درلودل غوښته یې چې دغه ثقیله اسلحه ورته برابره کړي، نو عروه بن مسعود او د طائف یو بل مشر د ثقیلي اسلحې د جوړولو د زده کړي دپاره شام ته تللي وه، دلته دغه ټولي واقعې لکه د مکې مکرمې فتحه، د حنین غزاء او د طائف محاصره د هغو په غیاب کي پېښي سوې.

عروه بن مسعود چې د طائف عمومي مشر ؤ نسته او مالک بن عوف هم په وادي لیه کي دی نو د طائف مشرتوب عبدیالیل ته ورپاته ؤ، دغه عبدیالیل و رسول الله ﷺ ته حال ولېږی ویل: یا محمّد! ﷺ د وُنو څه ګناه ده؟ که کامیابه سواست هغه ستاسي دي او که موږ کامیابه سوو د الله او صِلهٔ رحمي په خاطر یې را پرېږده، د باغو په قطعه کولو کي ستاسي څه فایده ده؟ رسول الله ﷺ هم باغونه ورپرېښوول.

دلته د عُیینه بن حصن څخه ځیني کارونه ښکاره سوه، هغه عُیینه چې د غطفان

(c) ketabton.com: The Digital Library


رئیس وُ او په پخوا کي رسول الله ﷺ د احمقِ مُطاع نوم پر ایښی وُ او په وروسته کي مسلمان سو خو د ده اسلام هم د غنیمتو دپاره وُ، حتّی د مکې مکرمې فتحې ته هم د غنیمت دپاره راغلی وُ او اوس طائف ته هم په دغه مقصد راغلی دی، دغه عُیینه و رسول الله ﷺ ته و ویل: یا رسولَ الله! اجازه راکړه چي زه د طائف د مشرانو سره خبري وکړم او ما وژلای هم نه سي ځکه زه د غطفان رئیس او سردار یم، رسول الله ﷺ هم اجازه ورکړه چي هو ورسه خبري ور سره وکړه، عُیینه بن حصن و اهل طائف ته ورغلی اول یې امان و غوښتی امان ورکول سو او دیٔ هلته دننه و قلا ته ورغلی د طائف مشران ورته را ټول سوه ویل: څه خبر دي را وړی دی؟ ده ورته و ویل: خبره دا ده چي زموږ لښکر ضعیفه دی د جنګ طاقت نه لري تاسي نه ولیدل چي په حنین کي په اوله حمله مات سوه، ورته ټینګ سی او صبر وکړی په تاسي هیڅ نه سي کولای تاسي په قلاوو کي یاست مسلمانان ستاسي سره د جنګ کولو طاقت نه لري پام کوی چي تسلیم نه سی، سبحان الله! دا اوس د رسول الله ﷺ قاصد دی او خبري ټوله د مسلمانانو پر ضد کوي، د اهل طائف هم اطمینان حاصل سو او نیت یې وکړی چي نه به تسلیمیږو، که څه هم د مخه بیربدل او په شک کي وه چي تسلیم سو که یا؟ مګر اوس چي عُیینه بن حصن ورغلی او دغه خبري یې ورته وکړې اهل طائف د تسلیمېدلو خبري رَد کړې او د جنګ نیت یې وکړی، عُیینه بن حصن بیرته و مسلمانانو ته ورغلی.

رسول الله ﷺ پوښتنه ځني وکړه چي ها! کومي نتیجې ته ورسېدې؟

عُیینه و ویل: یا رسولَ الله! و مي بېرول ستا او ستا د لښکر قوت مي ورته بیان کړی، ورته و مي ویل: تاسي څوک یاست چي د محمّد ﷺ سره جنګېږی؟ خیبر په هغه اسلحه او هغه قلاوو نه سو ورته ټینګ! تاسي ورته ټینګېدلای سی؟ تسلیم سی، رسول الله ﷺ و فرمایل: دغسي دي ورته و ویل؟ ده ویل هو، رسول الله و فرمایل: یا! بلکه تا داسي او داسي ورته و ویل، عمر فاروق رضی الله عنه ولاړ سو او توره یې پورته کړه ویل: یا رسولَ الله! اجازه راکړه چي غاړه یې ور پرې کړم دا منافق دی، رسول الله ﷺ و فرمایل: پرې یې ږده یا عمر! بیا به خلک وایي چي محمّد خپل ملګري وژني، حضرت ابوبکر رضی الله عنه ولاړ سو، هغه حلیم، نرم او سینه درلودونکي ابوبکر رضی الله عنه هم

(c) ketabton.com: The Digital Library


دغه حال نه سوای زغملای چې د رسول الله ﷺ قاصد دي وکفارو ته د زړه ډاډ ورکړي او هغه دي د مسلمانانو و جنګ ته تشویق کړي، ویل: یا عُیینه! داسي کارونه کوې او داسي درواغ وایې! حال دا چې ته په کلمه سره د {لا إله إلاّ الله و أن محمّداً رسول الله} شاهدي آداء کوې آیا دا د مسلمان کار دی؟ عُیینه په عذر او زاریو شروع وکړه ویل بخښنه غواړم زه ضعیفه یم بیا داسي نه کوم، خطاوتم عذرونه وایي.

ورونو! دغسي معلومات زموږ او ستاسي دپاره درس او عبرت دی، اسلامي ټولنه هیڅ وخت د دغسي ضعیف الإیمانه او منافق مزاجه انسانانو څخه نه خالي کیږي، دا نبوي عهد ؤ او دغسي اشخاص پکښي پیدا کېدل. خو بیا هم هلته الٰهي وحيِ نازلېدې او دغسي اشخاص لکه عبدالله بن أبيّ بن سلول، یا عُیینه بن حصن او داسي نور پکښي رسوا کېدل، اوس خو وحيِ نسته او د زړو مالک الله دی، نو ویښ او بیداره اوسی په اشخاصو او د هغو په نظریاتو پسي مه ځی، د خپل ځان پیشوا او مقتداء کلام الله او رسول الله ﷺ او د هغه غوره اصحاب وګرځوی، نو به مو د جنت د داخلېدلو امید پر ځای وي، په پوره ډول سره ځانونه د واقعي اسلام په احکامو خبر کړی د رسول الله ﷺ په ژوند او احادیثو ځان خبر کړی او عمل په وکړی، ځکه نن ورځ داسي شیطان صفته انسانان د مسلمانانو او علماوو په نامه سره پیدا سوي دي چې د کلام الله او احادیثِ رسولِ الله ﷺ معناوو ته هم د خپلو شیطاني مقصدو د حاصلولو دپاره تغیر ورکوي، د خپلو شخصي ګټو د حاصلولو دپاره یې د دین په تغیر او اړولو هیڅ پروا نه کیږي، دپاره د دې چې د دغسي کسانو په دام کي و نه لوېږی فقط د پخوانیو علماوو پر تفاسیرو او د احادیثو د کتابو پر شروحو اعتماد کوی، نه د دغو بې پروا مسلمانانو پر فتواوو.

خیر اهل طائف د خپلو قلاوو څخه هیڅ نه را وزي او مسلمانانو څو واره د حملې کوښښونه وکړه خو هغه ټول کوښښونه د اهل طائف د غشو ویشتلو په سبب بې نتیجې سوه او مسلمانان هیڅ نه سي ور د مخه کېدلای، خالد بن ولید ﷺ ور و وتی او د قلا مخ ته ورته ګرځي د پهلوانی حرکتونه ورته کوي د طائف و مشرانو ته ور ناري کړي چي څوک جنګ او مبارزه را سره کوي؟ خو د ها خوا هیڅوک نه ورته راوزي.

خالد ﷺ د قلا پر شا وخوا ورته ګرځي د خپل همت او غیرت او بیا د دوی د بې

(c) ketabton.com: The Digital Library


غیرتي خبري ورته کوي چي ګوندي یو څوک را ووزي او بیا ورته وایي چي څوک مبارزه را سره کوي؟ بیا هم څوک نه ورته را وزي، دیٔ ﷺ بیا هم نارې وروهي خوآخر عبدیالیل ورته را ږغ کړه ویل: یا خالد! که یو کال پر دغه ځای و دریږې په والله که څوک در ووزي، خالدﷺ هم بیرته راغلی، حتّی د مبارزې دپاره هم څوک نه را وزي.

بیا نو مسلمانانو دبابه جوړه کړه هغه چي په خیبر کي یې لیدلې او استعمال کړې وه او هلته مو درته ویلي وه چي دبابه یوه لویه ځنه ده چي د لرګي عربې لري او په څو نفرو پوري وهل کیږي، د مخ د خوا په څرمنو او پوستو د دې دپاره پټه ده که دښمن په غشو ویشتل غشي په هغه څرمنو کي بندیږي او هغه څوک چي پر دغه ځنه وي و هغه ته دغه غشي نه ور رسیږي، دغه څرمني او پوستونه یې بیا په اوبو لندول ځکه که په اور هم وویشتل سي بیا هم دغه پوستونه اور نه اخلي، نو مسلمانانو دغه دبابه جوړه کړه او سل نفره اصحاب کرام د دغي دبابې ترشا دي او پوري وهي یې غواړي چي دغه ځنه د قلا و دېواله ته ورسوي او هلته یې ورته کښېږدي پر ور وخېژي او قلا ته ور واوړي، اهل طائف ورته ګوري چي مسلمانانو په ثقیله اسلحه شروع وکړه، ځکه دا د هغه وخت لویه او درنه اسلحه وه، واقعاً هم دغه دبابه د طائف و قلا ته ور نژدې سوه، د اهل طائف سره بیا یوه بله اسلحه ور سره وه لکه کوچنۍ منجنیق چي ډبري یې په ویشتلې، هغو بیا دغه اسلحه ورته کښېښوول او دغه د مسلمانانو دبابه په لویو لویو ډبرو ولي، په غشو یې نه ولي ځکه غشي تاثیر نه پر کوي بلکه په ډبرو یې ولي په دغه ډبرو دا دبابه ماته سوه ځکه دغه دبابه د پخوا څخه مضبوطه نه وه جوړه سوې دالته یې د کار چلولو دپاره په رَسیانو سره بنده کړې وه، موقتي شۍ وُ، نو دبابه ماته سوه او بیا یې پر اصحاب کرامو د غشو باران جوړکړی حتّی څو نفره یې زخمیان هم کړه، مسلمانان بیرته پر شا ولاړل او دغه حمله هم ناکامه سوه.

د طائف محاصرې د شلو ورځو په شا وخوا کي دوام وکړی، د مسلمانانو له طرفه دغه حملې او کوښښونه پرله پسې جاري دي چي قلا ته ور ننوزي خو ټوله کوښښونه بې فایدې وه، یوه بله ورځ بیا مسلمانانو حمله وکړه چي هغه هم بې فایدې سوه ابوبکر الصدّیقﷺ د رسول اللهﷺ سره ناست دی او د رسول اللهﷺ سره په دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library


باره کي خبري کوي چي باید څنګه او په څه ډول حمله پر وکړو؟

رسول الله ﷺ و فرمایل:

«یا ابا بکر! إن الله لم یأذن لي بفتحها»

ژباړه: یا ابا بکر! الله جل جلاله د طائف د فتحي اجازه را نه کړه.

او دغه د طائف نه فتحه کېدل الله جل جلاله تر دغه د مخه په خپل کتاب قرآن مجید کي ذکر کړي وه چي د سورة الفتح په (۲۱) نمبر آیات کي فرمایي:

﴿وَأُخْرَىٰ لَمْ تَقْدِرُوا عَلَيْهَا قَدْ أَحَاطَ اللَّهُ بِهَا ۚ وَكَانَ اللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرًا ﴿٢١﴾﴾

ژباړه: یو بل ځای سته چي اوس د هغه د فتحه کولو قدرت نه لری.

ډېر مفسرین دغه بله فتحه د طائف فتحه بولي، الله جل جلاله دغسي مقدره کړې وه چي اوس یې نه سی فتحه کولای، ابوبکرالصدّیق رضی الله عنه چي دا خبره واورېدل ویل: یا رسول الله! خلکو ته د کوچ او بارېدلو اجازه ورکړو؟

یعني: دا چي طائف نه فتحه کېږي نو خلک په بارېدلو سره امر کړو؟ رسول الله ﷺ و فرمایل: هو، څکه وحيِ نازلي سوي وې چي نه یې سی فتحه کولای، کله چي ابوبکرالصدّیق رضی الله عنه د رسول الله ﷺ له خېمې را و وتی غواړي چي خلک په باریدلو سره امر کړي وې لیدل چي د عمر فاروق رضی الله عنه او ابو المحجن الثقفي په منځ کي یو تود بحث یا سوال او جواب شروع دی، ابو المحجن الثقفي چي د قلا پر بام ولاړ دی او حضرت عمر رضی الله عنه پر مځکه ولاړ دی په لوړ آواز او نارو یو له بله خبري سره کوي، ابو المحجن ورته وایي: تاسي څوک یاست؟ ستاسي جنګ نه دی زده، تاسي د جنګ خلک نه یاست، عمر رضی الله عنه بیا ورته وایي: تاسي لکه کربوړي په غار کي پټ یاست چیري به را څخه ولاړ سی؟ قسم په الله یو کال به درته ولاړ یو تر څو ورا وتلو ته مجبوره سی.

اوس ابوبکر الصدّیق رضی الله عنه د خېمې څخه را و وتی چي خلک په بارېدلو سره امر کړي او دلته د عمر رضی الله عنه او ابو المحجن په منځ کي دغه سوال او جواب شروع دی، ابوبکر الصدّیق رضی الله عنه واورېدل چي عمر رضی الله عنه ورته وایي: والله یو کال به دلته انتظار درته وباسو، ابوبکرالصدّیق رضی الله عنه ورته و ویل: داسي مه وایه یا عمر! الله جل جلاله د طائف د فتحه کولو اجازه نه ده کړې، عمر رضی الله عنه ورته وایي: تا دغه خبره د رسول الله ﷺ څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



واورېدل؟ وېل: هو، وېل: نو بارېږو؟ وېل: هو، مسلمانانو ته داسې امر وسو چې سبا بارېږو.

اوس چې د بارېدلو امر په مسلمانانو کې نشر سو ځینې د جهاد شوقیان ځوانان خاصتاً هغه کسان چې د حنین په ورځ تښتېدلي وه او پر هغه خپله تېښته غمجن او پښېمانه وه، خپلو ځانو ته یې قهر راغلی ؤ اوس غوارې چې د ثقیف او هوازن څخه خپله بدله او انتقام واخلي هغوو وېل: موږ نه بارېږو تر څو طائف فتحه نه کړو، نو دغه کسان و رسول اللهﷺ ته ورغله وېل: یا رسولَ الله! طائف مو نه دی فتحه کړی او ځو؟ موږ جنګ ور سره کوو، رسول اللهﷺ و فرمایل: اللهﷻ یې د فتحه کولو اجازه نه ده کړې، دوی ټینګ وه وېل: ته مو تجربه کړه یا رسولَ الله! رسول اللهﷺ و فرمایل: ښه دی ورسئ حمله پر وکړی.

هغه احساساتي ځوانان سره یو ځای سوه او د طائف پر قلا یې ډېره شدیده حمله وکړه، خو د قلا له طرفه په غشو ویشتل کېدل دومره غشي یې پر واورول چې ټوله یې زخمیان کړه یو هم بېله زخمه نه سو پاته، ځوانان بیرته ټوله زخمیان راغله.

رسول اللهﷺ بیا و فرمایل: سبا بارېږو إن شاء الله، خلک هم په دغه فیصله خوشاله وه او هیچا هیڅ و نه وېل، خلک د بارېدلو دپاره د سامان په تړلو مشغوله سوه او رسول اللهﷺ له خپله ځانه سره خندل.

په سهار کي مسلمانان را بار سوه او طائف نه سو فتحه اوس چې د مسلمانانو لښکر له طائفه څخه کوچ وکړی او رهي سو رسول اللهﷺ و فرمایل: دغه الفاظ وایاست:

آیبون، تائبون، عابدون، لربنا حامدون.

په لار کي بیا ځیني هغه اصحاب کرام چې په دې سره خواشیني او ناراضه وه چې طائف ولې نه سو فتحه و رسول اللهﷺ ته ورغله او وېل: یا رسولَ الله! و ثقیف ته ښرا وکړه، رسول اللهﷺ نبي الرّحمه و فرمایل: «اللّٰهم اهدِ ثَقِیفاً وائتِ بِهِم» یعني: الٰهي ثقیف ته هدایت وکړې او مسلمانان یې راولې، د ښرا پر ځای یې دعاء ورته وکړه او واقعاً هم لږ موده وروسته اللهﷻ ثقیف ته هدایت وکړی او د دوی ډله مدینې منورې او رسول اللهﷺ ته د خپل اسلام د اعلانولو دپاره ورغله او اسلام ته داخل سوه.

*دغه د طائف د خلکو مسلمانېدل به بیا پر خپل وخت در ته بیان سي، إن شاء الله.*

(c) ketabton.com: The Digital Library


## په جُعرانه کي د غنیمتو وېشل

کله چي رسول اللهﷺ د طائف محاصره پرېښوول نو جُعرانې ته ولاړی، جُعرانه هغه ځای دی چي د حنین غنیمتونه پکښي یو ځای سوي وه، رسول اللهﷺ دلته په جعرانه کي اوسېږي او غنیمتونه نه تقسیموي انتظار کوي چي ښایي د ثقیف او هوازن خلک راسي او مسلمانان سي او رسول اللهﷺ دغه د دوی بندیان او مالونه بیرته ورکړي، یا خو به هغه خلک لږ تر لږه د دغه خپلو ښځو او ماشومانو طلب وکړي، رسول اللهﷺ د پنځلسو ورځو په شا وخوا کي دلته د دوی د را تګ انتظار وکړی چي ګوندي یو څوک راسي، خو بیا هم د ثقیف او هوازن له طرفه هیڅوک نه راغله، رسول اللهﷺ د شوال پر شپږمه د مکې مکرمې څخه را وتلی ؤ د شوال میاشت پای ته ورسېدل حتّی ذو القعده هم پر تېرېدلو ده تقریباً دوې میاشتي کېږي چي رسول اللهﷺ د مکې مکرمې څخه را وتلی دی، رسول اللهﷺ ولیده چي کفار د خپلو ښځو او اولادو دپاره هم نه راځي نو رسول اللهﷺ امر وکړی چي غنیمتونه دي و وېشل سي، ښځي، ماشومان، زر، اوښان، پسونه، دا ټول وېشل کېږي.

د غنیمتو څخه یې اول هغو کسانو ته تقسیم ور شروع کړی چي په عربي کي (مُؤَلَّفَةُ قُلُوبُهُم) ورته ویل کېږي، (مُؤَلَّفَةُ قُلُوبُهُم) څوک دي؟ دوی د عربو هغه اشراف او رئیسان دي: چي نوی یې ایمان راوړی دی تازه مسلمانان سوي دي خو اسلام یې تر اوسه ضعیفه دی د تزلزل په حالت کي دي، دا امکان یې سته چي په لږه خواشیني سره دي له اسلامه واوړي، نو د دغو غنیمتو څخه په دې سبب و هغو ته خاصه برخه ورکول کېږي چي زړونه یې اسلام ته راجذب سي، پر اسلام ټینګ سي او اسلام یې قوي سي، یا خو هغه څوک دي چي تر اوسه مشرکان دي خو رسول اللهﷺ د هغو د اسلام امید لري، نو ځکه دوی ته هم په غنیمتو کي حصه ورکوي.

د مؤلفة قلوبهم په جمله کي اول هغه څوک چي ډېره لویه حصه ورکول سوه ابوسفیان ؤ، رسول اللهﷺ په خپله د دغو غنیمتو تقسیم کوي او اول هغه څوک چي حصه ورکول سوه ابوسفیان ؤ، رسول اللهﷺ و فرمایل: سل اوښه ورکړی، د سرو او

(c) ketabton.com: The Digital Library


سپینو زرو سل اوقیه ورکړی، دا ډیر زیات مال ؤ، سل اوښه پوره سرمایه وه، حتّی نن ورځ هم سل اوښه ډیر مال بلل کیږي، یو اوښ په څو دی؟ په سل کي یې ضرب کړه نو په هغه وختو کي به څومره زیات مال ؤ، ابوسفیان ډیر خوشاله سو چي دا څنګه سخا او ورکړه ده؟ ابوسفیان پټو آوارکړی د زرو سل اوقیه یې پکښي ور واچول.

ابوسفیان ویل: یا رسولَ الله! زما د زوی معاویه حصه؟ ویل د معاویه دپاره هم سل اوښه او سل اوقیه د زرو دي، د زرو دغه سل اوقیه هم په هغه پټو کي ور واچول سوه، ابوسفیان بیا و ویل: زما د زوی یزید حصه؟ رسول الله ﷺ و فرمایل: هغه لره هم سل اوښان او سل اوقیه د زرو دي، دغه سل اوقیه هم په هغه پټو کي ور واچول سوه.

ابوسفیان چي اوس خپل پټو سره را ټول کړی او غواړي چي په شا یې کړي نه یې سي پورته کولای ډیر درانه وه، دا د رسول الله ﷺ عطاء او ورکړه وه، فکر وکړی دا څومره زر وه چي یوازي ابوسفیان ته ورکول سوه؟ چي ابوسفیان یې په شا کولای نه سي، نو ابوسفیان و ویل: مرسته راسره وکړی را پورته یې کړی، رسول الله ﷺ ویل یا، په خپله یوازي به یې پورته کوي او وړې، ابوسفیان مجبوره سو زوروبه زورونه څو اوږه یې تر لاندي کړه او پورته یې کړه دباره سره رهي سو، رسول الله ﷺ په تعجب سره سر وښوراوه چي دغه مال او پیسې څنګه د انسان زړه ته ننوزي.

دا هغه اوله ورکړه او حصه وه.

بیا یې حکیم بن حزام ته سل اوښه ورکړه، هغه سل نور وغوښتل، سل یې نور هم پسي ورکړه، صفوان بن اُمیه ته یې سل اوښه ورکړه، بیا یې سل اوښه ورکړه، بیا یې سل اوښه ورکړه، حارث بن الحارث بن کلده ته یې سل اوښه ور کړه، بیا یې عُیینه بن حصن ته ور بږغ کړه (عُیینه هغه سړئ دی چي هغه ټول مخالف کارونه یې کړي وه) بیا هم رسول الله ﷺ و فرمایل: ده ته سل اوښه او سل اوقیه د زرو ورکړی، ده ته هم ورکول سوه، اقرع بن حابس ته سل اوښه او سل اوقیه د زرو ورکول سوه، دغه رنګه نورو مشرانو ته سل اوښه او سل اوقیه د زرو ورکول سوه، چي دغه خلک د تاریخ او سیرت په کتابو کي د (اهلُ المِئِین) په نامه سره یادیږي، یعني: په دغه غنیمت کي یې په سوو حصه اخیستې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library


دغه رنګه نورو مشرانو ته پنځوس پنځوس ځلوښت ځلوښت، اوښان ورکول سوه، تر داسي اندازې چي په خلکو کي دا خبره نشر سوه چي محمّدﷺ دا سي ورکړه کوي چي له فقره نه بيريږي.

کله چي مشران خلاص سوه په نورو عامو خلکو يې شروع وکړه هغو ته حصې او مالونه ورکول کيږي، په دغه وخت کي د عربو د نورو قبائلو څخه خلک را شروع سوه چي په دغه غزاء کي يې اشتراک هم نه ؤ کړی او مالونه غواړي، يو اعرابي راغلی د رسول اللهﷺ څخه يې څه مال و غوښتی، رسول الله و فرمايل: دغه شېله چي په پُسو ډکه ده دا ده ته ورکړی، خلکو ورته و ويل: واخله دغه پسونه يې ستا، ډير زيات پسونه وه اعرابي ويل: يا محمّد!ﷺ پُسخند را وهې؟ رسول اللهﷺ و فرمايل: پسخند نه دی ورسه بويېزه، اعرابي هم ورغلی پسونه بيايي خو په دغه انتظار کي دی چي اوس به ږغ راباندي وسي چي چيري يې بيايې؟ يو څوک به مي د پُسو د بېولو څخه منعه کړي، خو هغه نه چا منعه کړی نه يې څه ورته و ويل، ده پسونه رهي کړي دي او تر شا ګوري چي اوس به مي يو څوک را وګرځوي، خو نه څوک سته او نه چا څه ورته و ويل، څو خپل قوم ته ورسېدی او قوم ته نارې ور وهي وايي: ورسی مسلمانان سی! ورسی مسلمانان سی! محمّدﷺ د هغه چا ورکړه کوي چي له فقره نه بيريږي، يعني: داسي ورکړه يې ده چي ځان ته هيڅ شئ نه پرېږدي او هيڅ دا فکر نه کوي چي زه به يوه ورځ محتاج سم.

وروڼو! هر څوک چي هر څومره سخي هم وي د ځان د ضرورت دپاره څه مال را ګرځوي يا لږ تر لږه د خپل احتياج د وخت فکر ور سره وي، مګر اعرابي وايي: د محمّدﷺ سره له فقره څخه هيڅ بېره نسته، قوم چي دا د ده رمه او پسونه وليدل هغه هم مسلمانان سوه، دغه هغه د زړو را جذبول دي (مُؤَلَّفَةُ القُلُوب) چي په دغو مالو سره يې خلک و اسلام ته را جذب کړه.

اوس نو رسول اللهﷺ دغه د غنيمت مالونه ويشي او ويشي، اعراب پر را ټوليږي څو چورا وازدحام جوړ سوا و هر يو څه غواړي، حتّی رسول اللهﷺ د ډير ازدحام په سبب له خپله ځايه نه سي ښورېدلای، د خلکو له ډيروالي حرکت نه سي کولای خو

(c) ketabton.com: The Digital Library


له مجبوريه له خپله ځايه ښخه ښه پر شا ولاړې هلته بيا خلک پر راټول سوه هر يو زور او نارې وهې: يا رسولَ الله! ما ته يې راکړه، ما ته يې راکړه، څو رسول الله ﷺ يې په دغه زورو او پورې وهلو کي يوې وُنې ته ورساوه، د ډېر چور او پورې وهلو په سبب د رسول الله ﷺ د اوږو پټو يا خو په ونه پوري بند سو يا د خلکو د چور په سبب کش کړل سو او د رسول الله ﷺ مبارک بدن ښکاره سو، رسول الله ﷺ نارې کړه: «اَيّـهَا النّاس! رُدّو عَلَيّ رِدائِی رُدّو عَلَيّ رِدائِی» اې خلکو! زما پټو راکړئ، زما پټو راکړئ، په والله که زما سره د تهامې د وُنو په شمېر حيوانات وې ټوله به دربانديې تقسيم کړم، تاسي به ما نه بخيل نه بې زړه او نه درواغجن ووينئ، يعني: زه نه بخيل يم چي شئ درنهِ کړم او نه له فقره بېرېږم چي ځان ته يې کښېږدم او نه درواغ وايم په والله هيڅ شئ نه درڅخه ګرځوم، هلته و رسول الله ﷺ ته نژدې يو اوښ ولاړ وُ د هغه پر بوک يې لاس تېر کړئ د اوښ يو څه وړئ په لاس ورغلې هغه وړئ يې په لاس کي پورته کړې او وې فرمايل: اې خلکو! په والله په دغه غنيمتو کي د دغو وړيو پر اندازه شئ زما نه دی بېله خُمسه (يعني: پنځمه حصه) او هغه خُمس ټوله پر تاسي وېشم ځان ته هيڅ شئ نه پرېږدم.

په دغه وخت کي يو اعرابي راغلی، اعرابي څو پيژنئ؟ هغه صحرايي عرب ته ويل کيږي کوم چي په ښېمو او قبيلوکي اوسېږي، اعرابي راغلی او رسول الله ﷺ يې ترکالي ونيوی او کالئ يې په زوره کش کړئ، چي د دغه کشېدلو په سبب د رسول الله ﷺ پر مبارکه غاړه سور داغ پاته سو او ويل: يا محمّد! ﷺ ما ته يې هم راکړه او عدل وکړه قريش ظالم قوم دی، حضرت عمر رضی الله عنه د دې خبرې تحمّل نه سوای کولای اجازه يې وغوښتل چي دغه سړئ و وژني، ځکه دغه خِطاب يې و رسول الله ﷺ ته وُ او رسول الله ﷺ قريش دی، خو رسول الله ﷺ وفرمايل: پرې يې ږده يا عمر! او دغه اعرابي ته يې مالونه ورکړه او ورکړه څو په آخر کي رسول الله ﷺ ورته وويل: راضي سوې؟ اعرابي ويل هو راضي يم.

دا د خلکو سره د رسول الله ﷺ ژوند، اخلاق، معامله او ورکړه وه، او دغه يې حِلم يا پراخه سينه وه چي په دغسي بې ادبه خبرو هم نه په قهر کېدئ، دغه وېش تر

(c) ketabton.com: The Digital Library


اوسه په خُمس يا د غنيمتو په پنځمه حصه کي ؤ چي د هغه د مصرفولو اختيار د رسول الله ﷺ په لاس کي ؤ او د غنيمتو هغه پاته څلور حصې پر لښکر تقسيمېږي، پسله هغه چي رسول الله ﷺ د خُمس د وېشلو څخه فارغه سو نو يې زيد بن ثابت ﷛ امر کړی چي نور غنيمتونه او خلک دي را حاضر سي او بيا يې هغه پاته غنيمتونه پر لښکر و وېشل، چي و هر سړي ته څلور اوښه او څلوېښت پسونه ور و رسېدل او هغه څوک چي آس به ور سره ؤ هغه ته دوولس اوښه! يوسل او شل پسونه ور ورسېدل.

اوس به د دغه ورکړي په باره کي د امام غزالي رحمه الله قول درته را نقل کړم.

امام غزالي رحمه الله وايي: د رسول الله ﷺ دغه د مالو وېشل پر يوه حکيم سياست جوړ او بناوه، ځکه په دنيا کي ډېر داسي قومونه سته چي حق ته په نس سره ور وستل کيږي نه په عقل سره (يعني: نس يې ورچاغ کړه نو يې حق ته ورولـه) لکه څرنګه چي حيوانات په يوه متې شپيشتو سره خپلي لاري ته را وستل کيږي، دغه شپيشتي به دي ورته نيولي وي او هغه حيوان دريسې وي څوېږي هغه د ده کوټې ته په أمن او امان ور ولېږي، دغه رنګه ځيني انسانان دې ته اړ او محتاجه دي چي يو قسم فن به ور سره کاروې ترڅو د ايمان سره اُلفت پيدا کړي او ورته را جذب سي، يعني: په عقل سره سمې لاري ته نه راوستل کيږي، بلکه نس يې ورمور کړه او حق ته يې را وبوله، بيا نو دئ د حق متابعت کوي.

## د انصارو په زړو کي نا اميدي

يوه شي ته متوجه سی: د دښمن څخه غنيمت هر شئ او هر څومره چي وي پر پنځه حصې ويشل کيږي چي پنځمي حصې ته يې خُمس ويل کيږي او د دغه خُمس تصرف د وخت د آمر په لاس او اختيار کي دی څرنګه چي يې لازم بولي پر هغه قسم به د اسلام او مسلمانانو د مصلحت دپاره تصرف پکښي کوي او پاته سوې هغه څلور حصې هغه د لښکر حق دی او پر دوی وېشل کيږي، اوس چي رسول الله ﷺ خلکو ته دغه ډېر ډېر مالونه ورکول هغه ټول د خُمس څخه وه او د مصرفولو اختيار يې د رسول الله ﷺ په لاس کي ؤ او دغه ذکر سوو خلکو ته يې ورکړه چي و دغه ورکړو ته عطيّه يا

(c) ketabton.com: The Digital Library


عَطیّات ویل کیږي او دغه عطیّات چي تر خپلي حصې زیات یو امتیاز وُ ټول قریشو یا د نورو عربي قبیلو و مشرانو یا اعرابو ته ورکول سو، د دغه امتیازاتو څخه په انصارو کي هیچا ته هیڅ شئ نه ورکول سو او پاته د غنیمت نوري څلور حصې و خپلو حقدارانو ته که مهاجرین وه که انصار او که د نورو قبیلو خلک وه پر ټول لښکر په صحي تقسیم سره و وېشل سوې او هر چا ته خپله حصه پوره ورکول سوه.

مګر څرنګه چي په عَطیّاتو کي و انصارو ته هیڅ شئ نه ورکول سو نو د دوی په زړو کي څه نا امیدي پیدا سوه او په دغه باره کي خبري کېدلې، یوه د انصارو څخه و ویل: رسول الله ﷺ د خپل قوم سره یو ځای او د هغو په منځ کي سو موږ یې هېر کړو، بل بیا و ویل: الله دي رسول الله ﷺ ته مغفرت وکړي قریشو ته یې ورکوي او موږ پرېږدي حال دا چي زموږ د تورو څخه تر اوسه د دوی وینې څڅېږي، یعني: تر نن ورځي موږ د دوی سره په جنګو کي ولاړ وُ او نن دوی تر موږ زیات غنیمتونه وړي، انصار په دغه شکایتو کي وه او دننه په زړو کي خواشیني وه، سعد بن عُباده ﷺ چي د انصارو د مشرانو څخه وُ رسول الله ﷺ ته ورغلی او ویل: یا رسولَ الله! دغه د انصارو ډله په خپلو زړو کي په دغه کار ناراضه دي، ځکه خپل قوم او د عربو ټولو قبیلو ته دي لوی لوی عطیّات ورکړه بېله انصارو، رسول الله ﷺ و فرمایل: یا سعد! ته په خپله په دغه باره کي څه وایې؟ سعد ﷺ ویل: یا رسولَ الله! زه هم زما له قومه یو سړئ یم، رسول الله ﷺ ولیده چي د سعد بن عباده ﷺ په زړه کي هم یو څه ورګرځي، نو رسول الله ﷺ و فرمایل: ټول انصار په یوه ځای کي سره یو ځای کړه چي ټول یو ځای او پوره سوه بیا ما ته خبر راکړه.

سعد ﷺ هم د رسول الله ﷺ څخه را و وتی او ټول انصار یې په یوه ځای کي سره یو ځای کړه، په دغه جمله کي څو نفره د مهاجرینو هم راغله هغو ته یې اجازه ورکړه او بیا نور مهاجرین راغله هغه یې منعه کړه، ځکه رسول الله ﷺ فرمایلي وه چي بېله انصارو به بل څوک نه وي موجود، کله چي ټول انصار سره یو ځای سوه او یو نفر یې هم نه سو پاته، نو سعد ﷺ و رسول الله ﷺ ته ورغلی او ویل: یا رسولَ الله! د انصارو ټول نفر سره یو ځای سوه، رسول الله ﷺ ورغلی او دوی ته یې په خطبه ویلو

(c) ketabton.com: The Digital Library


شروع وکړه، لومړئ يې د الله جل جلاله حمد او ثنا و ويل او بيا يې درود و وايه او وې فرمايل:
يا معشر الأنصار! دا څه خبره ده چې ما ته ستاسي په باره کي را ورسېدل؟
هغه دا چي ستاسي په زړو کي پر ما يو شئ پيدا سوی دی.
آيا زه تاسي ته په داسي حال کي نه درغلم چي تاسي په ګمراهي کي واست او الله جل جلاله زما په واسطه هدايت درته وکړی؟
آيا زه په داسي حال کي نه درغلم چي تاسي غريبان واست او بيا الله جل جلاله غنيان کړاست؟
آيا زه په داسي حال کي نه درغلم چي تاسي سره پاشلي او مختلف واست او الله جل جلاله سره يو ځای او متفق کړاست؟
هره جمله چي رسول الله ﷺ ورته وايي انصارو به په جواب کي ورته ويل: مننه او احسان الله او رسول الله لره دي. يعني: هو، دا د الله او رسول الله احسان دی موږ يې منو، د رسول الله ﷺ د خبرو تصديق کوي او مني يې، بيا رسول الله ﷺ و فرمايل: يا معشرَ الأنصار! آيا زما د خبرو جواب نه را کوی؟ هغو ويل: په څه شي سره جواب درکړو؟ يا رسولَ الله! مننه او احسان الله او رسول الله لره دي څه و وايو؟
رسول الله ﷺ و فرمايل: که مو خوښه وای ويلي به مو وای او دغه ستاسي خبره به هم حق او هم پر ځای وای.
ويلي به مو وای: ته موږ ته په داسي حال کي راغلې چي خلکو دي تکذيب کاوه او موږ دي تصديق وکړی.
مغلوبه راغلې موږ دي مرسته وکړه.
شړل سوی راغلې موږ ځای درکړی.
غريب راغلې موږ خپل مال در شريک کړی.
انصارو به بيا هم د هري جملې په جواب کي ويل: بلکه الله او رسول الله لره مننه او احسان دی، رسول الله ﷺ هغه د خپل ورتګ فايدې او نتيجې ورته بيان کړې او هم يې هغه د دوی احسان ورته بيان کړی.
رسول الله ﷺ نور هم و فرمايل: يا معشرَ الأنصار! تاسي د فاني او بې ارزښته دنيا په سبب ناراضه سواست؟ هغه چي زه په هغه سره د خلکو زړونه و اسلام ته

(c) ketabton.com: The Digital Library


را جلبوم او ما تاسي ستاسي و قوي اسلام او مظبوطه ایمان ته پرېښوولاست، یعني: دا چي ما تاسي ته شئ در نه کړی زه ستاسي پر ایمان باور لرم او بیا رسول الله ﷺ و فرمایل: یا معشر الأنصار! آیا تاسي نه یاست راضي چي خلک د پسو او اوښانو سره خپلو کورو ته ځي او تاسي د رسول الله ﷺ سره خپلو کورو ته ځی؟ په والله هغه چي تاسي یې در سره بیایاست هغه تر هغه خیر دی چي خلک یې ور سره بیا یي.

یواري انصارو نارې کړې: رَضِینا رَضِینا، راضي یو راضي یو، هو، رسول الله ﷺ غواړو، انصار ډېر شدید او په لوړ آواز ژاړي.

رشتیا هم دا هیڅ نه سره قیاسېږي او نه سره نژدې کېدلای سي، چي خلک پسونه او اوښان بیایي او انصار د رسول الله صلوات الله علیه والسّلام سره ملګري وي.

بیا رسول الله ﷺ و فرمایل: په والله که هجرت نه وای زه به د انصارو څخه یو سړئ وای، یعني: که د هجرت فضیلت نه وای ما به خپل ځان د انصارو څخه بللای او که خلک پر یوه لار ولاړ سي او انصار پر بله لار، زه به د انصارو پر لار ور سره ولاړ سم او بیا رسول الله ﷺ انصارو ته دعاء وکړه او ووې فرمایل:

«اللّهمّ ارحَمِ الأنصار، وأبناءَ الأنصار، وأبناءِ أبناءِ الأنصار».

الهي پر انصارو ورحمېږې د انصارو پر زامنو ورحمېږې او د انصارو د زامنو پر زامنو ورحمېږې.

انصارو دومره و ژړل چي ږیري یې په اوښکو لندې سوې او ویل: موږ په دې راضي یو چي رسول الله ﷺ زموږ حصه او برخه وي او انصار ﷺ اجمعین د رسول الله ﷺ په دعاء ډېر خوشاله سوه.

د رسول الله ﷺ په حکمت او ښه تصرف هغه مشکل چي د انصارو په زړو کي پیدا سوی ؤ پای ته ورسېدی، که نه ممکن د هغه مشکل په سبب په انصارو کي یوه فتنه جوړه سوې وای. صلواتُ الله وسلامه علیک یا رسولَ الله.

## د هوازن یوه ډله

اوس چي غنیمتونه ټول و وېشل سوه رسول الله ﷺ او صحابهٔ کرام ځانونه تیاروي چي مکې مکرمې ته ولاړ سي، د مخه تر دې چي دوی حرکت وکړي له

(c) ketabton.com: The Digital Library


هوازنه څخه یوه ډله راغله، هغو هلته مشوره سره کړې وه چې ښځې او اولادونه مو ټول د لاسه ووتل، بېله هغو ژوند مشکل دی او مالونه مو هم ټول د لاسه ووتل، نو یې یوه ډله چې ټوله څوارلس نفره وه او مشر یې زُهیر بن صَرد ؤ و رسول الله ﷺ ته ور ولېږل، په دې ډله کې د رسول الله رضعي اکا ابو برقان هم ؤ، د رسول الله ﷺ څخه یې وغوښتل چې د دوی اولادونه او مالونه بیرته ورکړي او ویل: یا محمّد! ﷺ رحم را باندې وکړه موږ ته هیڅ نه سوه را پاته، نه ښځې نه اولاد، نه مال نه حیوانات، را باندې ورحمېږه، نورې یې هم ډیرې داسې خبرې وکړې چې د چا زړه په نرم سي، رسول الله ﷺ و فرمایل: دغه دومره موده چې زه دلته پاته وم په والله د بل شي دپاره نه وم پاته بېله دې چې ستاسې انتظار مې کاوه ما غوښتل چې پر تاسې رحم وکړم تر یوې میاشتې زیاته موده کیږي چې زه دلته ستاسې په انتظار وم، شل ورځې په طائف کې محاصره واست نه سواست تسلیم او تر لس ورځې زیات دلته ستاسې په انتظار وم نه راغلاست نه مو د خپلو ښځو او اولادو طلب وکړی، اوس چې ما غنیمتونه و وېشل نو تاسې راغلاست؟ اوس هغه شیان و وېشل سوه د خلکو ملکیت وګرځېدی اوس څه نه سم کولای، هغو بیا هم زاری کولې او ویل: یا محمّد! ﷺ یوه چاره مو وکړه، رسول الله ﷺ و فرمایل: تاسې زما سره دغه خلک وینی؟ یعني: زه یوازې نه یم چې د خپلې خوښې سره موافق تصرف وکړم، بلکه دغه خلک مې هم ملګرې دي او ماته تر هرڅه رشتیا ویل خوښ دي، اوس تاسې و وایاست چې ښځې او اولادونه مو خوښ دي که مالونه؟ یو د دغو دوو څخه اختیارکړی ټول شیان نه سم در رَدَولای، یا به مالونه غواړی یا به ښځې او ماشومان غواړی، هغو و ویل: د اولادو سره هیڅ شئ نه برابروو، ویل: (لاَ نَعدِلُ بِالأحساب شَیئاً) یعني: ښځې او ماشومان غواړو، رسول الله ﷺ و فرمایل: کله چې موږ د ماپښین لمونځ آداء کړی تاسې ولاړ سی او و وایاست: موږ مومنانو ته رسول الله ﷺ شفیع کوو او رسول الله ﷺ ته مومنان شفیع کوو چې موږ ته زموږ بندیان راپرېږدی.

(اوس و دوی و بندیانو د خلاصون لار هم رسول الله ﷺ ور ښوي)

کله چې مسلمانان د ماپښین د لمانځه دپاره سره یو ځای سوه د هوازن ډله ولاړه

(c) ketabton.com: The Digital Library


سوه او دغه خبره يې وکړه، رسول الله ﷺ و فرمايل: ستاسي د بنديانو څخه چي هر څوک زما او د بني عبدالمطلب سره دي هغه يې ستاسي او ستاسي دپاره به د خلکو څخه هم دغه غوښتنه وکړم، مهاجرينو چي د رسول الله ﷺ حال وليدی چي د هوازن سره يې رحمت او مهرباني وکړه ( رسول الله ﷺ قصداً دا کار وکړی ځکه ده ﷺ دا غوښته چي نور مسلمانان يې هم متابعت وکړي) نو مهاجرينو و ويل: هغه نفر چي زموږ سره دي يعني: موږ ته په حصه کي را رسېدلي دي هغه يې هم ستاسي او دا هم د رسول الله ﷺ د عزت په سبب، انصارو هم دغه خبره وکړه ويل: چي زموږ سره دي هغه يې ستاسي، عُيينه بن حصن ولاړ سو او ويل: زه او بنو فُزاره (چي د ده قبيله وه) يا، هغه چي زما سره دي هغه نه ورکوم، اقرع بن حابس و ويل: مګر زه او بنو تميم يا، هيڅ شئ نه ورکوم، عبّاس بن مرداس چي د بني سُليم رئيس ؤ ولاړ سو او ويل: هغه چي زما او د بني سُليم سره دي هغه هم نه ورکوم (دغه دلاوري يې د عُيينه څخه زده کړه) مګر د بني سُليم د قبيلې افراد په خپله ولاړ سوه ويل: يا، هغه چي د بني سليم سره دي هغه يې ستاسي، عبّاس بن مرداس ويل: و مو شرمولم سپک موکړم، نو بني سُليم د هغه خپل مشر اطاعت و نه کړی او د هوازن بنديان يې د رسول الله ﷺ د عزت دپاره ور ايله کړه.

بيا نو رسول الله ﷺ يو عام اعلان وکړی او وې فرمايل: دغه خلک مسلمانان راغله او ما چي د غنيمتو په ويشلو کي دغه ډېر ځنډ وکړی هغه هم د دوی په سبب ؤ او اوس ما دوی ته اختيار ورکړی چي مالونه غواړي که اولادونه؟ خو دوی د ښځو او اولادو سره شئ نه کړی برابر، نو اوس که د چا سره د دوی د ښځو او اولادو څخه يو څوک ور سره وي او په خپله خوښه يې ور پرېږدي خو ډېر ښه او که څوک غواړي چي د مال په عوض او مقابل کي يې ور پرېږدي هم دي يې ور پرېږدي او هغه ته د هري حصې په مقابل کي شپږ حصې د هغه ماله څخه ورکوم چي الله جَلَّ جَلَالُهُ يې اول ما ته په لاس راکړي (يعني: هر هغه غنيمت چي اول په لاس راغلی دغه د ده حق شپږ چنده ځني ورکوم) خلکو په يوه وار نارې کړې: موږ يې د رسول الله ﷺ د عزت د پاره په خپله خوښه ور ايله کوو، رسول الله ﷺ و فرمايل: په دې ډول سره چي ټولو ناري

(c) ketabton.com: The Digital Library


کړه ما ته نه را معلومیږي چي څوک راضي دي او څوک نا راضه، اوس ولاړ سی او ستاسي مشران دي بیا ما ته حال راوړي.
دغه ته عدالت او حقیقي مساوات ویل کیږي، رسول الله ﷺ یوازي په دې سره کفایت و نه کړی چي په مجموعي ډول سره ټولو ناري کړه چي موږ یې په خپله خوښه ور ایله کوو، بلکه د دغه رضائیت د تاکید دپاره یې دا موضوع وځنډول او وې فرمایل: چي یا دي هر شخص په خپله و رسول الله ﷺ ته و وایي، یا دي د خپلو مشرانو او وکیلانو په واسطه دغه خپله رضاء اعلان کړي.
دا داسي عدالت او مساوات نه ؤ لکه د نن ورځي د بشر د حقوقو تش په نامه ټولنه چي په بنکاره سره ټولنه لري، په الفاظو او شعارو کي د بشر حقوق موجود دي خو په حقیقت کي هیڅ وجود نه لري، هغه کسان چي د بشر د حقوقو ناري وهي په یوه لاس کي یې سوټئ دی او په بل لاس کي یې د وېښتو حق، اول دي په سوټي وهي او بیا چي ملګري ملتونه (ملل متحد) ستا د مظلومیت په سبب یوه فیصله صادره کړي هغه فیصله د دوی له طرفه په وېښتو کولو سره رَد کړل سي، دا عجبه نه ده چي د وېښتو حق هم هغو ظالمانو ته ورکول سوی دی چي په خپل ظلم سره یې دنیا خرابه کړې ده.
بیا په وروسته کي ټولو مشرانو و رسول الله ﷺ ته دا خبر را وړی چي د لښکر ټول افراد خپله حصه بندیان په خپله خوښه او ستا د رضاء دپاره ور ایله کوي، چي په نتیجه کي ټولو خلکو خپل بندیان ایله کړه بېله دوو نفرو، چي یو یې د بنو تمیم رئیس أقرع بن حابس ؤ او بل یې عُیینه بن حصن د غطفان رئیس ؤ، رسول الله ﷺ دغه دوه نفره ور وغوښتل او ویل بندیان یې ور ایله کړی، هغو ویل: یا رسولَ الله! دا اوس زموږ ملک وګرځېدل نه یې ور پرېږدو، رسول الله ﷺ و فرمایل: ور ایله یې کړی او زه به انصاف در سره وکړم بدله به یې درکړم، عُیینه ویل: خو یا څه شي را کوې؟ رسول الله ﷺ و فرمایل: د هر بندي په عوض کي شلور اوښان درکوم، عُیینه ویل: راضي یم، نو د هوازن هغه پاته بندیان په دغه طریقه سره ور ایله او خلاص سوه او بیا رسول الله ﷺ هربندي ته یوه یوه جوړه کالي هم ورکړه، مګر د هوازن قبیله سره د دې چي ټول بندیان، ښځي او ماشومان یې ور ایله او خلاص سوه بیا هم پر هغه خپل کفر پاته سوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## د مالک بن عوف اسلام

په دغه وخت کې د يوه داسي سړي وزړه ته اسلام لار وکړه چي د هغه د اسلام او مسلمانېدلو هيڅ اميد نه کېدی چي هغه د هوازن رئيس او سردار (مالک بن عوف) ؤ، دئ هلته په خپله قلا کي په وادي لَيه کي ؤ او د بيري د قلا څخه نه سواى را وتلاى، حتّى طائف ته هم د بيري نه سي تلاى نوېي په زړه کي د اسلام شوق پيداسو او ويل: ټول خلک د محمّد ﷺ سره دي موړ هيڅ نه سوور سره کولاى او که موړ نور هم پر دغه کفر پاته سو هيڅ وخت طائف ته هم نه سو تلاى، نويې ورسول الله ﷺ ته نفر ولېږی او د هغه ﷺ څخه يې امان وغوښتی، رسول الله ﷺ هم امان ورکړی، پسله امانه څخه مالک بن عوف و رسول الله ﷺ ته ورغلی او مسلمان سو، رسول الله د مالک بن عوف د اسلام د امتحانولو دپاره دئ د سپرو د يوې ډلي آمر وګرځاوه او ويل: پر طائف حمله وکه، مالک بن عوف هم هغه ډله ور سره رهي کړه پر طائف او خپل قوم يې حملې کولې ترڅو چي رسول الله ﷺ ورته و ويل: پرې يې ږده، نو اهل طائف وليدل چي هغه د دوی سردار مالک بن عوف هم مسلمان سو، مګر بيا هم دوی پر شرک او کفر باقي پاته وه او د طائف خلکو د لات عبادت کاوه چي (ربه) يې ورته ويل.

خو د ابن اسحاق په روايت کي د مالک بن عوف د مسلمانېدلو کيفيت داسي بيانيږي: کوم وخت چي د هوازن ډله د خپلو بنديانو د خلاصولو دپاره رسول الله ﷺ ته ورغله او هغه ﷺ يې بنديان ور ايله کړه نويې د هوازن د دغي ډلي څخه پوښتنه وکړه چي مالک بن عوف څه وکړه؟ هغو ورته و ويل: چي په طائف کي د ثقيف سره دی، رسول الله ﷺ ورته و ويل: مالک ته و واياست: که دئ ما ته مسلمان راغلی زه به يې اهل او مال ټول ورکم او سل اوښه به هم ورکم، نو دغي ډلي و مالک بن عوف ته دغه خبر ورساوه، مالک بن عوف هم و رسول الله ﷺ ته ور رهي سو، د جُعرانې او مکې مکرمې په منځ کي پسي ور ورسېدی، رسول الله ﷺ د ده اهل او مال ورکړه او پر هغه سربېره يې سل اوښان هم ورکړه، مالک بن عوف مسلمان سو او پر خپل اسلام ثابته او قائم پاته سو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د جعرانې څخه عمره

اوس خو د هوازن جنګ خلاص سو غنیمتونه و وېشل سوه، په ټوله منطقه کې أمن او امان قائم سو، فقط طائف پاته دی چې نه سو فتحه او د فتحه کېدلو امید یې هم نه ؤ نو رسول اللهﷺ د جعرانې څخه احرام وتړی او مکې مکرمې ته د عمرې د آداء کولو دپاره ولاړی چې و دغې عمرې ته (عمرةُ الجُعرانه) ویل کیږي، چې دغه عمره هم د ذوالقعدې په میاشت کې وه، د عمرې تر آداء کولو وروسته پسله هغه چې عُتاب بن اُسیدﷺ یې د مکې مکرمې آمر پرېښاوه رسول اللهﷺ د مدینې منورې پر طرف حرکت وکړی او مدینې منورې ته د رسول اللهﷺ حرکت یا رجوع د هجرت د اتم کال د ذوالقعدې د میاشتې پر شلیرویشتم تاریخ وه او د ذوالحجې په اولو ورځو کې رسول اللهﷺ مدینې منورې ته ورسېدی او د دغه کال حج یې نه کړی آداء.

سبحان الله! مدینې منورې ته د دغه رجوع چې الله جل جلاله یې د فتحې او کامیابی تاج پر سر ور ایښی دی او د هغه ورتګ چې دغه ښار ته اته کاله د مخه ورغلی خومره فرق دی، هغه وخت د مکې مکرمې څخه په پټه تلی او د مدینې منورې د خلکو څخه یې امان غوښتی، په هغه ځای کې نابلده او بېګانه ؤ، د خلکو څخه یې اُنس او الفت غوښتی، د هغه ځای اهل یې عزت وکړی، ځای یې ورکړی او د دهﷺ نصرت یې وکړی او د هغه نُور متابعت یې وکړی چې د دهﷺ سره نازل سوی ؤ او د دهﷺ دپاره یې د ټولو خلکو او ټولو عربي قبیلو دښمني قبوله کړه.

خو دا دی اوس بیا پسله اته کاله څخه د مکې مکرمې څخه و مدینې منورې ته ور داخلیږي، دا هغه ښار دی چې د دهﷺ استقبال یې د هجرت او بیرې په حالت کې کړی ؤ مګر دا واریې استقبال په داسې شکل سره کیږي چې اهل مکه ورته تابع سوي دي، خپله کبریاء او جاهلیت یې د دهﷺ په پښو کې غورځولې دي، چې دئﷺ یې په اسلام سره معززه کړې او تر پخوانیو خطاوو ور تېر سي.

الله جل جلاله د سورة یوسُف په (۹۰) نمبر آیات کې فرمایي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



﴿إِنَّهُۥ مَن يَتَّقِ وَيَصۡبِرۡ فَإِنَّ ٱللَّهَ لَا يُضِيعُ أَجۡرَ ٱلۡمُحۡسِنِينَ ۝﴾.

ژباړه: بېشكه هر هغه څوک چي د الله جل جلاله څخه وبيرېږي او صبر وكړي (د طاعت پر تكاليفو صبر وكړي، پر مصيبت صبر وكړي، د معصيت يا ګناه د لذته څخه صبر وكړي) نو بېشكه چي الله جل جلاله د نيكوكارانو اجر نه ضائع كوي.

دغه دی مكه مكرمه فتحه سوه، د مسلمانانو تر امر لاندي او تابع سوه.

د رسول الله ﷺ د حيات په آخري درو كلو كي د مشركانو پخوانۍ مركز مكه مكرمه د اسلام د حكم تابع وه او رسول الله ﷺ دغه د هجرت په اتم كال د حج آمر عُتاب بن اُسيد رضي الله عنه وټاكی، چي هم د مكې مكرمې آمر ؤ او هم د دغه كال د حج آمر وټاكل سو او د هجرت په نهم كال كي د رسول الله ﷺ له طرفه حضرت ابوبكر الصدّيق رضي الله عنه د حج آمر وټاكل سو او د هجرت د لسم كال حج په خپله رسول الله ﷺ اداء كړی، خو په دغه اول كال چي مكه مكرمه فتحه سوه د حج آمر عُتاب بن اُسيد رضي الله عنه ؤ، مقصد دا چي د هجرت د اتم كال د ذوالحجې په مياشت كي رسول الله ﷺ مدينې منورې ته تشريف يو وړی.

ورونو او خويندو! د حنين د غزاء څخه هم لكه د رسول الله ﷺ نور ژوند ډير شرعي احكام، عبرتونه او نصيحتونه را وزي چي زه به د هغو څخه څو مهم ټكي درته بيان كړم:

**اول:** د حنين غزاء د اسلامي عقيدې داسي درس دی چي مسلمان بايد پر اسبابو توكل او اعتماد و نه كړي، بلكه د يوه مسلمان ټول توكل او اعتماد بايد پر يوه الله جل جلاله وي، هو، د اسبابو برابرول يو لازمي كار دی مګر پر هغو توكل او اعتماد كول د اسلامي عقيدې څخه مخالفت دی، لكه څرنګه چي دغه درس د بدر په غزاء كي هم موجود ؤ، كله چي د بدر غزاء وه مسلمانانو دا ومنل چي د دښمن په مقابل كي د دوی لږوالی دوی ته ضرر نه رسوي په دې شرط چي دوی صابرين او متقين وي.

او د حنين غزاء مسلمانانو ته دا ثابته كړه: كه دوی صابرين او متّقين نه وي د دوی ډير والی دوی ته فايده نه رسوي، لكه څرنګه چي الله جل جلاله هم په دغه باره كي آياتونه نازل كړه، د بدر په غزاء كي د الله جل جلاله له طرفه مسلمانانو ته و ويل سوه: كه تاسي متّقين او صابرين ياست ضرر نه در رسيږي او د حنين په غزاء كي آياتونه نازل

(c) ketabton.com: The Digital Library


سوه که تاسي متّقين او صابرين نه ياست ستاسي ډير والی تاسي ته فايده نه در رسوي، په بدر کي د مسلمانانو شمېر نسبت و دښمن ته تر هغه د مخنيو ټولو مقابلو چي دوی د دښمن سره مخامخ سوي وه لږ او کم ؤ، خو په دې سبب چي دوی په اسلام کي صادقه وه، ايمان يې کامل ؤ، د الله او رسول الله ﷺ سره يې ټينګ او پوره محبت او دوستي درلودل نو د ماتي او شکست هيڅ علامه نه سوه پر ښکاره.

او دلته په حنين کي د مسلمانانو شمير نسبت و هغه د مخنيو ټولو جنګو ته چي دوی کړي وه ډير ؤ، مګر بيا هم دغه د دوی ډير والي هيڅ فايده نه ورو رسول، ځکه چي د دوی ډير والی په هغو کسانو سره ؤ چي تر اوسه پوري يې په زړو کي پوره ايمان نه ؤ ثابت سوی او د اسلام واقعي مفهوم د دوی په رګو کي نه ؤ نشرسوی، دغه خلک په دغه اسلامي لښکر کي فقط په شکل او جسم شامل سوي وه، حال دا چي د دوی د زړو حرکت تر اوسه پوري په دنيوي خواهشاتو او نفسي غوښتنو پوري تړلی ؤ او دنيوي امور د دوی پر نفسو غالبه وه او دا ډيره ليري خبره ده چي د جسمو او شکلو ډير والی دي د نصرت او کاميابۍ دپاره اثر ولري، نو په هم دغه سبب د مسلمانانو دغه لوی لښکر چي د دښمن د کمينو سره ناڅاپه مخامخ سو پر شا ولاړی او د حنين په وادي کي سره وپاشل سو او دا ليري خبره نه ده چي د دغه جديد الإسلامه خلکو تيښته دي په شروع او ابتداء کي د هغه صادقه او واقعي مسلمانانو پر زړو تاثير نه وي کړی، مګر بيا هم مهاجرينو او انصارو چي د رسول الله ﷺ له طرفه آواز او نارې واورېدې بيرته د حملې دپاره را وګرځېدل او د رسول الله ﷺ پر شا وخوا سره را ټول سوه او هغه شديد جنګ يې شروع کړی، حال دا چي د دغو کسانو شمېر او عدد تر دوو سوو کسانو نه زياتېدی، مګر بيا هم دغه دوو سوو مسلمانانو نصرت او کاميابي حاصل کړه، د دوی په زړو کي سکون او اطمينان پيدا سو او الله جَلَّ جَلَالُهُ د دوی دښمن ته بده ماته ورکړه، حال دا چي دغه مسلمانان په شروع کي دوولس زره نفره وه مګر د خپلو ځانو دفاع يې نه سوای کولای.

**دوهم:** د مسلمانانو مشر، امام، يا خليفه کولای سي چي د مشرکانو يا کفارو څخه بلکه د اسلام د دښمنانو څخه اسلحه په استعاره سره واخلي، دا حکم يوازي

(c) ketabton.com: The Digital Library


د اسلحې په باره کې نه دی بلکه هر هغه شئ چې اسلامي لښکر د جنګ دپاره ضرورت ورته لري کولای سي چې هغه شئ د کفارو څخه په استعاره، په قیمت، یا مفت ځني واخلي او دا هغه کار دی چې رسول اللهﷺ په دغه غزاء کې وکړی چې د صفوان بن اُمیه څخه چې په دغه وخت کې مشرک هم ؤ اسلحه په استعاره سره واخیستل، (استعاره) یعني شئ ستا دی اوس یې ما ته راکړه چې زه کار ځني واخلم، خو ترکار اخیستلو وروسته به یې بیرته درکړم، دغه ته استعاره ویل کیږي.

اوس د رسول اللهﷺ له دغه کار څخه د هغې مسئلې په باره کې چې آیا د جنګ په وخت کې مسلمانان د کفارو څخه یا په کفارو سره مرسته غوښتلای سي که یا؟ یو عمومي حکم را ایستلای سو.

هغه داسي: په کفارو سره مرسته پر دوه قسمه ده، یو دا چې د کفارو څخه نفر وغوښتل سي چې د مسلمانانو په صفو کې دي د دوی د دښمنانو پر ضد جنګ وکړي، په دې باره کې عام یا جمهور علماء کرام وایي: چې په کفارو سره په جنګ کې مرسته اخیستل نه جائز دي او نه روا.

او بل دا چې د کفارو څخه یوازي د دوی مالونه وغوښتل سي لکه اسلحه او نور د جنګ ضروریات د دغي مرستي اخیستلو په روا والي کې د علماوو اختلاف نسته مګر په دې شرط چې په دغه کار سره به د مسلمانانو عزت او کرامت ته کوم ضرر نه رسیږي، په دغه کار سره به مسلمانان د هغو کفارو یا د بل چا تر امر نه لاندي کیږي، یا به د دغي مرستي په سبب د مسلمانانو څخه د اسلامي واجباتو یو واجب نه پاته کیږي.

تا ولیدل؟ کله چې صفوان بن اُمیه و رسول اللهﷺ ته اسلحه په اعاره سره ورکول صفوان د ضعف او مغلوبیت په حالت کې ؤ او رسول اللهﷺ د قوت او غلبې په حالت کې ؤ نو په دغسي حالت کې چې مسلمانان د کفارو څخه په مرسته اخیستلو نه تر شرطو لاندي کیږي او نه یې عزت او کرامت مخدوشه کیږي او نه یې کوم اسلامي فرض یا واجب پاته کیږي، دغه مرسته اخیستل ورته روا او جائز دي او بېله دغو شرطو د کفارو څخه مرسته اخیستل منعه او نا روا دی.

**دریم:** په دغه جنګ کې د رسول اللهﷺ جرئت او شجاعت در معلوم سو،

(c) ketabton.com: The Digital Library


په حقه سره چې دا يو نادره جرئت او شجاعت دی، ټول خلک د حنين په شېلو کې سره وپاشل سوه د جنګ میدان ته يې په تېښته سره شاوي وګرځولې، پر ټول میدانِ جنګ بېله رسول الله ﷺ څخه بل څوک نه سوه پاته او د ده ﷺ پر شا وخوا هم هغه د دښمن کمينونه دي، مګر رسول الله ﷺ په يوه عجیب او نادره ثبات سره د جنګ پر میدان و درېدی، چې دغه د ده ﷺ ثبات د هغه تښتېدونکو اصحابو پر زړو تاثیر وکړی او بېرته را وګرځېدل.

ابن کثیر رحمة الله عليه په خپل تفسیر کې وايي: دا د شجاعت هغه لوړه او انتهایي درجه ده چې په دغسي ورځ د دښمن په منځ کې په داسي حال کې چې د ده ﷺ لښکر دي هم ځني تللی وي او دئ ﷺ دي پر غاتره یا قچره سپور وي او تاسي پوهېږئ چې غاتره تېزه نه سي ځغستلای، غاتره په جنګ کې نه د تیښتي وړ ده نه د حملې، خو رسول الله ﷺ دغه غاتره د دښمن پر طرف ورځغلوي او خپل نوم دي هم يادوي او وايي: أَنَا نبيٌّ لاکَذِب، أنا ابن عبدالمطلب، هغه څوک چې نه يې پیژني لا به يې هم وپیژني. (صلوات الله و سلامه علیه دائماً و أبداً)

دا ټول بل څه نه وه بېله پر الله جل جلاله توکل او اعتماد، دا يې يقين وَ چې الله جل جلاله به نصرت ورکړي او هغه رسالت به پوره سي چې د هغه دپاره دئ ﷺ را لېږل سوی دی او د ده ﷺ دين به پر ټولو اديانو قوي او غالبه سي.

**څلورم**: په دغه غزاء کې دا معلومه سوه چې په جهاد کې د ښځو، ماشومانو او نوکرانو وژل حرام دي، ځکه کله چې رسول الله ﷺ هغه ښځه وليدل چې د خالد بن وليد رضي الله عنه له طرفه وژل سوې وه رسول الله ﷺ نفر پسي ولېږل چې خالد ته و وايي: ښځې، ماشومان او نوکران مه وژنه او د ټولو امامانو او علماوو پر دغه حکم اتفاق دی، مګر هغه وخت بيا وژل کېږي که دغه ذکر سوو ډلو مستقيماً د مسلمانانو سره جنګ کاوه او تر هغو يې د وژلو اجازه سته چې مخ په مخ جنګ کوي، که وتښتېدل يا يې وځغستل بيا به هم مسلمانان ځني راګرځي او نه به يې وژني، که چيري کفارو خپلې ښځې او ماشومان د خپلو ځانو دپاره سپر وګرځول او مسلمانان د کفارو و وژلو ته بېله دې نه سوای ور رسېدلای چې دغه ښځې او ماشومان و نه وژني، بيا يې نو وژنه جايزه او رواده.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**پنځم**: دجهاد معنٰی دا نه ده چې مورږ د کفارو سره حسد او عناد لرو، چې پر دغه خبره هغه حالت دلالت کوي چې ځيني صحابهٔ کرامو د طائف څخه د بيرته راتلو په وخت کي و رسول الله ﷺ ته و ويل: يا رسولَ الله! و ثقيف ته ښرا وکړه او رسول الله ﷺ و فرمايل (اللّهمّ أهدِ ثقيفاً وأتِ بِهم)

يعني: الٰهي د ثقيف قبيلې ته هدايت وکړې او مسلمانان يې را ولې.

د دې څخه هدف او مقصد دا سو چې جهاد بل شئ نه دی بېله دې چې د امر بالمعروف او نهی عن المنکر وظيفه آداء کول دي، حتّٰی د ټولو مسلمانانو په منځ کي يو د بل سره دغه امر بالمعروف او نهی عن المنکر لازمي وظيفه ده، مسلمانان بايد د امر بالمعروف او نهيِ عن المنکر په واسطه سره خپل ځانونه د قيامت د ورځي د ابدي عذابه څخه خلاص کړي، نو د دې جهته د مسلمانانو دعاء ونورو قومو او خلکو ته بايد د هغو د اصلاح او هدايت دپاره وي، يعني: که غواړې چې کفارو ته ښرا وکړې د ښرا پر ځای يې د هدايت غوښتنه کوه، ځکه د جهاد د مشروعيت څخه هم دغه لار ښوونه مقصد او حکمت دی.

**شپږم**: په دغه غزاء کي مورږ د انصارو فضيلت وليدی او دا مو وليدل چې رسول الله ﷺ د دوی سره څومره محبت لري، رسول الله ﷺ صادق المصدوق دی چې فرمايي (شيطان د ابن آدم د وينو په رګوکي ګرځي) شيطان غوښتل چې د انصارو د ځينو اشخاصو په زړو کي د رسول الله ﷺ پر هغه سياست او حکمت څه اعتراض پيدا کړي چې د غنيمتو په وېشلو کي يې عملي کړی، ښايي شيطان دا کوښښ ډېر کړی وي چې په انصارو کي دا تشويش پيدا کړي چې پر رسول الله ﷺ د خپل قوم او خپلو وطنوالو محبت غالبه سو او د هغو په مقابل کي يې انصار هېر کړه، مګر کله چې رسول الله ﷺ ته دغه خبر ورسېدی، رسول الله ﷺ دوی ته څه و ويل؟

د رسول الله ﷺ هغه بيانيه چې د دغو وسوسو په مقابل کي يې دوی ته ايراد کړه د رحمت او عالي ذوق معاني ځني را توييږي، د انصارو سره د شديد محبت مشاعر ځني اُوري اوپه عين حال کي په دغه بيانيه کي داسي زړه دردوونکې ګيله هم سته چې دئ ﷺ د داسي چا له طرفه د هغو په هېرولو سره متهميږي، چې هغه قوم

(c) ketabton.com: The Digital Library


و ده ﷺ ته تر هر څه خوښ او محبوب قوم دی (ته یو وار نه بلکه څو واره د رسول الله ﷺ هغه بیانیه واوره یا و وایه) او فکر پکښې وکړه، ته به و وینې چې په هغه بیانیه کې د زړه خفیف حرکتونه یا غورځېدل سته، ته به و وینې چې په هغه کې هغه لطیف او ألطف احساسات سته، چې دغه خفیفو قلبي حرکتو د انصارو مشاعر وښورول، شدید تکان یې ورکړه، چې په دغه ښورولو سره یې هغه وسوسې چې د دوی په مشاعرو پورې مښتې وې ځنې تکوهلې لیرې یې کړې، زړونه او مشاعر یې په دغه تکوهلو سره د وسوسو څخه ورپاک کړه، نو ځکه د دوی آوازونه په ژړا سره پورته سوه، دوی په خپل نبي خوشاله سوه، په دغه تقسیم کې یې په خپله حصه سره فخر کاوه.

د رسول الله ﷺ په مقابل کې مال، پسونه او اوښان څه شي دي؟ دا چې دوی د رسول الله ﷺ ملګري وي او رسول الله ﷺ د دوی ملګری وي او خپل وطن ته ځي او د رسول الله ﷺ ژوند او مرګ د دوی په منځ کې وي، دا څومره فضیلت دی.

د رسول الله ﷺ پر وفاء، خالص محبت او دوستی، تر دې لوی دلیل چیري دی؟ چې رسول الله ﷺ خپل وطن او د زېږېدلو ځای پرېږدي او د ژوند پاته شپې د دوی په منځ کې تېروي.

که تر دغې خبرې تېر سو او ووایو چې د رسول الله ﷺ په ترازو کې بیا کله مال د عزت او محبت دلیل ؤ؟ یعني: دا چې رسول الله ﷺ چا ته مال ورکړي نو هغه پر ګران دی او که یې چا ته مال ورنه کړی نو هغه یې هیر کړی او محبت نه ورسره لري؟

هو، رسول الله ﷺ قریشو ته ډېر مالونه او غنیمتونه ورکړه آیا د دغو مالو څخه یې د خپل ځان دپاره هم یو شئ کښېښاوه؟ او که یې خپل ځان هم لکه انصار په خالي لاس وایستی؟ هغه خُمس چې الله جل جلاله یې د مصرفولو اختیار د رسول الله ﷺ په لاس کې ایښی ؤ هغه یې د شا وخوا پر اعرابو و وېشی، نو دا معلومه خبره ده که رسول الله ﷺ چا ته مال ورکړي دا د رسول الله ﷺ پر محبت دلالت نه کوی بنایي هغه د بل مقصد او هدف دپاره وي.

ورونو! د رسول الله ﷺ د هري ورځي د اقوالو او اعمالو څخه په سلهاوو احکام، عبرتونه او نصیحتونه را وزي او را ایستل کېدلای سي خو زه به په دغه لږ سره کفایت

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړم نور نو تاسي هم يو څه فکر وکړی.

## د عروه بن مسعود الثقفي رضی الله عنه مسلمانېدل

په دغه وخت کي چي رسول الله ﷺ د حنين د غزاء او د جعرانې د عمرې څخه بيرته مدينې منورې ته ولاړی يوه لويه حادثه پېښه سوه چي دغې حادثې د بني ثقيف پر قبيلې او اهل طائف ډير لوی اثر وکړی، هغه دا چي عروه بن مسعود الثقفي چي د طائف عمومي مشر او رئيس ؤ دا هغه سړئ دی چي مشرکانو به ويل: که قرآن پر يوه د دغو دوو نفرو نازل سوی وای چي دوه لوی او معتبره خلک دي مونږ منی او متابعت مو يې کاوه، چي يو د هغو دوو نفرو دغه عروه بن مسعود الثقفي ؤ او بل يې وليد بن مغيره ؤ، چي د خالد بن وليد پلار دی او د مکې مکرمې دی، الله جل جلاله دغه د مشرکانو قول په قرآن مجيد کي ذکر کړی او بيان کړی دی چي فرمايي:

﴿وَقَالُوا لَوْلَا نُزِّلَ هَٰذَا الْقُرْآنُ عَلَىٰ رَجُلٍ مِّنَ الْقَرْيَتَيْنِ عَظِيمٍ ﴿٣١﴾﴾ [الزخرف: ۳۱]

يعني: کفارو به ويل: ولي دغه قرآن پر يوه سړي د دغو دوو قريو نه سو نازل، چي مکه مکرمه او طائف دي، چي دغه سړئ هم ډير لوی دی.

چي په مکه مکرمه کي يې وليد مقصد ؤ او په طائف کي يې عُروه بن مسعود مقصد ؤ، دا په عربو کي د عروه درجه او مقام ؤ، لکه څرنګه چي د مخه مو درته و ويل د مکې مکرمې په فتحه کي، د حنين په غزاء کي او د طائف په محاصره کي د دغو ټولو واقعاتو په جريان کي عُروه بن مسعود نه ؤ موجود، دئ اُردن ته په سفر تللی ؤ چي د ثقيلي اسلحې جوړول زده کړي او دغه ټول کارونه د ده په غياب کي پېښ سوه.

دغه عروه بن مسعود د هغه خپل سفره څخه د بيرته را تګ په حال کي ؤ چي دغه حالات ټول ورته و ويل سوه: مکه مکرمه فتحه سوه، ثقيف او هوازن ماته وخوړل، طائف محاصره سو، ټول حالات په تفصيل سره ورته بيان سوه، د دغو حالاتو په اورېدلو سره د عُروه و زړه ته اسلام ننوتی، نو طائف ته نه ولاړی بلکه مدينې منورې ته ولاړی يعني: د اُردن څخه د ده رجوع او بيرته را تګ د طائف پر ځای مدينې منورې ته وه او هلته يې د رسول الله ﷺ په حضور خپل اسلام اعلان کړی، رسول الله ﷺ

(c) ketabton.com: The Digital Library


د ده په اسلام ډیر خوشاله سو ځکه د عربو ډیر لوی مشر اسلام ته داخل سو.

بیا نو عروه د رسول الله ﷺ څخه اجازه وغوښتل ویل: یا رسول الله! غواړم چي خپل قوم ته ولاړ سم او هغه و اسلام ته دعوت کړم، رسول الله ﷺ ته د اهل طائف عناد ور معلوم ؤ نو یې عُروه رضي الله عنه ته و ویل: که ته مسلمان ورسې وژني دي، عروه رضي الله عنه و ویل: که څه هم و مي وژني خو زه یې باید دعوت کړم، اجازه راکړه چي ور سم، رسول الله ﷺ په تکرار سره ورته و ویل: وژني دي، عروه رضي الله عنه ویل: که څه هم و مي وژني خو زه باید خپل قوم اسلام ته را وبولم، رسول الله ﷺ د تلو اجازه ورکړه او عروه رضي الله عنه په دې نیت د خپل قوم پر طرف رهي سو چي خپل قوم اسلام ته را وبولي.

د عروه قوم چي د ثقیف قبیله ده په دې نه دي خبر چي عروه مسلمان سوی دی ځکه دئ په اُردن کي ؤ او له هغه ځایه مدینې منورې ته ولاړی او مسلمان سو، عروه بن مسعود رضي الله عنه طائف ته ورسېدی هلته یې د قوم له طرفه ډیر تود هرکلئ او استقبال وسو، خلکو د ده په راتګ خوشالي جوړي کړې، د طائف د مشرانو دا عادت ؤ کله چي به له سفره راغله اول به هغه خپل بت (لات) ته ورتله سجده به یې ورته کول ځان به یې د تبرک دپاره پوري مښی بیا به کورو ته تله، یعني: د مخه تر دې چي کور ته ولاړ سي د دوی په اصطلاح (رَبه) ته به ورتله، مګر عروه بن مسعود چي را ورسېدی خلکو یې استقبال وکړی دئ ربه ته نه ورغلی بلکه خپل کور ته ولاړی، خلک په تعجب کي سوه، بیا یې سره و ویل: له اوږده سفره راغلی دی ښایي ستړی وي.

یوه ورځ وروسته د عروه دپاره لویه مهماني جوړه سوه د ثقیف ټول مشران ور سره ناست دي ده و اسلام ته د دوی په دعوتولو شروع وکړه، هغو د ده په جواب کي بد ویل شروع کړه، هغه د ده د رتبې او مرتبې په سبب یې وهل او ټکول ور نه کړه فقط په بدو الفاظو یې کفایت وکړی، عروه رضي الله عنه إراده کړې ده چي په هره طریقه سره وي باید خپل قوم اسلام ته دعوت کړي او د اسلام شعائر ښکاره کړي، نو کله چي د لمانځه وخت سو عروه د خپل کور پر بام وختی او په آذان یې شروع وکړه د اسلام آذان کوي، د ثقیف نورو مشرانو نور صبر نه سوای کولای وبېرېدل چي د ده په واسطه به ټول ثقیف مسلمانان سي، نو هغه نورو مشرانو زیات صبر و نه کړی او عروه رضي الله عنه یې دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library


د آذان کولو په وخت کې په غشو و ویشتی او شهید یې کړی، عروه بن مسعود الثقفي رضي الله عنه په داسې حال کې شهید سو چې خپل قوم یې د الله جل جلاله دین او اسلام ته را بللی.

## اهل طائف و اسلام ته داخلېږي

اوس د ثقیف د قبیلې مشکلات نور هم ډېر سوه د طائفه څخه د بیرې نه سي وتلای ځکه په هر ځای کې مسلمانان سته او موجود دي، نو د طائف خلکو مشوره سره وکړه چې باید څه وکړو؟ آخر یې پر دې اتفاق سره وکړی چې موږ باید مسلمانان سو، هو، اسلام قبلوو مګر په شرطو، مسلمانان به زموږ شرطونه قبلوي نو موږ اسلام ته داخلېږو او شرطونه یې هم په خپل منځ کې سره معلوم کړه چې زموږ شرطونه دغه دي، بیا نو اهل طائف د کنانه بن عبدیا لیل په مشری یوه ډله مدینې منورې ته ولېږل، دوی چې مدینې منورې ته نژدې سوه مغیره بن شعبه رضي الله عنه ولیدل چې دغه مغیره بن شعبه رضي الله عنه هم د ثقیف د قبیلې څخه ؤ، نو یې د دوی استقبال وکړی او دا یې هم ور وښوول چې د رسول الله ﷺ سره د ملاقات په وخت کې باید د اسلام، سلام ورته و وایاست، خو دوی دا کار و نه کړی بلکه هغه د جاهلیت سلام یې ورته و وایه.

رسول الله ﷺ د ثقیف یا طائف د خلکو په ورتګ خوشاله سو او د دوی دپاره یې د مسجد په میداني کې خېمې و درولې، دا د دې دپاره چې قرآن واوري او د مسلمانانو لمونځ و ویني، د طائف ډله څو ورځې په مدینه منوره کې پاته سوه چې د رسول الله ﷺ سره به یې خبرې کولې او رسول الله ﷺ به د دوی خېمو ته ورتلی آو دوی به یې اسلام ته دعوتول.

ابن سعد رحمه الله وایي: رسول الله ﷺ به هره شپه د ماخستن تر لمانځه وروسته د دوی خېمو ته ورتلی او هلته به د خبرو دپاره دومره ورته ولاړ ؤ چې پښې مبارکې به یې وچې سوې، کله به یې پر یوه پښه تکیه کول او کله پر بله پښه.

د طائف په دغه ډله کې د عثمان بن أبي العاص په نامه سره یو نفر موجود ؤ او تر ټولو په عمر کم ؤ، کله چې به دغه د طائف خلک د رسول الله ﷺ مجلس ته د خبرو دپاره ورتله دئ به یې په خپل ځای کې پرېښاوه چې د دوی سامانونه ګوري، بیا چې

(c) ketabton.com: The Digital Library


به دغه ډله د رسول الله ﷺ له مجلسه راغله او د غرمې په وخت کي به بیده سوه، عثمان بن أبي العاص به رسول الله ﷺ ته ورغلی د دین پوښتني به یې ځني کولې او قرآن مجید یې ځني زده کاوه، رسول الله ﷺ ته دغه د عثمان بن أبي العاص ورتګ ځو واره ؤ ځو په دغه موده کي یې د دین ډېر احکام زده کړه او که به یې ولیدل چي رسول الله ﷺ د راحت دپاره کور ته تللی دی نو به ابوبکر الصدّیق ﷛ ته ورغلی او دین به یې زده کاوه، خو دغه خپل حال یې د خپلو ملګرو ځخه پټاوه هغه یې په حال نه خبرول، دغه د دینه سره د عثمان بن العاص علاقه د رسول الله ﷺ ډېره خوښه سوه او دئ هم پر ګران ؤ، ځو په آخرکي د ثقیف د ډلي زړو ته اسلام ننوتی، نو یې رسول الله ﷺ ته وویل: یا رسولَ الله! موږ اسلام قبلوو مګر په شرطو، رسول الله ﷺ ویل: شرطونه مو څه شي دي؟ دوی ویل: موږ یو قوم یو چي همېشه سفرونه کوو او په سفر کي د زناء کولو ځخه چاره نه لرو نو د زنا کولو اجازه به راکوې، رسول الله ﷺ و فرمایل: هغه دین چي په هغه کي زنا وي هغه دین نه دی، الله جل جلاله فرمایي:

﴿وَلَا تَقْرَبُوا۟ ٱلزِّنَىٰٓ ۖ إِنَّهُۥ كَانَ فَـٰحِشَةً وَسَآءَ سَبِيلًا ﴿٣٢﴾﴾.[الاسراء: ۳۲]

یعني: زناء ته مه ورنژدې کېږئ بېشکه چي دغه زنا فاحش کار او بده لار ده.

اهل طائف ویل: نو نه مسلمانېږو، رسول الله ﷺ و فرمایل: زه هم داسي اسلام نه درځخه قبلوم چي په هغه کي دي زنا موجوده وي.

د طائف ډله ولاړه سوه او بیا یې مشوره سره وکړه ویل تر زنا به تېر سو، بیا راغله او ویل: یا رسولَ الله! مسلمانېږو په دې شرط چي د شراب څښلو اجازه به را کوې ځکه دغه شراب زموږ د مځکي شربت دي موږ د هغه ځخه چاره نه لرو، رسول الله ﷺ و فرمایل: شراب الله جل جلاله حرام کړي دي هیڅا ته د هغه د څښلو اجازه نه ورکوم، رسول الله ﷺ پر اسلام او د هغه پر احکامو ورته ټینګ دی تر هیڅ شي نه ورتېرېږي، دوی ولاړ سي هلته مشوره وکړي او بیا راسي خو فایده نه لري، بل وار بیا راغله او ویل: یا رسولَ الله! تر هغه نورو خبرو به موږ تېر سو مګر د سُد یا رباء اجازه به را ته کوې، رسول الله ﷺ و فرمایل: بېله قید او شرطه به مسلمانېږئ، هر هغه شئ چي الله جل جلاله حرام کړی دی هغه حرام دی، د الله جل جلاله په دین کي تر هیڅ شي نه سم تېرېدلای.

(c) ketabton.com: The Digital Library


اهل طائف بیا ولاړل او پسله مشورې بیا راغله ویل: یا رسولَ الله! اسلام قبلوو صحي ده زنا را باندي حرامه کړه، شراب او سود را باندي حرام کړه مګر لمونځ را معاف کړه، لمنځونه نه کوو، رسول الله ﷺ و فرمایل: په هر هغه دین کي چي لمونځ نه وي په هغه دین کي خیر نسته، اهلِ طائف ولاړل او پسله مشورې بیا راغله ویل: یا رسولَ الله! اسلام قبلوو زنا، شراب، رباء، را باندي حرام کړه لمنځونه هم کوو فقط (ربّه) لات، هغه چي د دوی معبود بت ؤ مه را باندي حرامه وه، یوازي لات را پرېږده، رسول الله ﷺ و فرمایل: یا! والله هیڅکله به یې در پرې نږدم، موږ په هیڅ شکل او هیڅ صورت بتان نه قبلوو او نه یې پرېږدو.

اهل طائف وایي: ته هغه زموږ إله ربه نړوې؟ رسول الله ﷺ و فرمایل: هو، نړوم او ماتوم یې، دوی بیا ولاړل مشوره یې سره وکړه وې لیدل چي هیڅ شرط یې نه قبلیږي او څه یې هم په وسه نه ده پوره، ځکه طائف د هره طرفه محاصره دی، طائف داسي ځای نه دی لکه نوري لیري قبیلې، بلکه طائف و مکې مکرمې ته ډېر نژدې دی او مکه مکرمه هم د مسلمانانو تر تصرف لاندي ده، اهل طائف ولیدل چي بېله تسلیمېدلو بله لار نه ده پاته، پسله مشورې راغله او ویل: یا رسولَ الله! موږ اسلام ته داخلیږو خو فقط دغه یو شرط مو و منه، رسول الله ﷺ ویل: هغه شرط مو څه شي دی؟ ویل: هغه دا چي (ربّه - لات) هغه د دوی بت موږ نه نړوو بل څوک به یې نړوي، رسول الله ﷺ و فرمایل: هو، دا شرط مو منم، بل څوک به درولېږم چي ویې نړوي، بیا نو د طائف ډلي د رسول الله ﷺ څخه د تنو اجازه وغوښتل، رسول الله ﷺ هم اجازه ورکړه د دوی عزت یې وکړی او په ښه طریقه سره یې رخصت کړه او د دوی آمر یې عثمان بن أبي العاص ﷺ وټاکی، ځکه رسول الله ﷺ د اسلام پر زده کولو د هغه حرص ولیدی او په دغه وخت کي یې د قرآن مجید څو سورته هم په یاد کړي وه.

بیا نو رسول الله ﷺ په دوی پسي یوه ډله د هغه (ربّه یا لات) د نړولو او ماتولو دپاره ور ولېږل، چي د دغه ډلي مشر خالد بن ولید ﷺ ؤ او په دې ډله کي مغیره بن شعبه ﷺ، ابوسفیان بن حرب ﷺ هم وه، چي هغه د طائف د خلکو رب ورونړوي.

د رَبّه د نړولو په وخت کي د طائف ښځي را ووتلي او پر هغه خپل معبود یې په

(c) ketabton.com: The Digital Library


افسوس او ارمان سره ژړل چي نړول کیږي، مغیره بن شعبه ﷺ کُلنګ واخیستی او خپلو ملګرو ته یې و ویل: والله نن ورځ به مو پر ثقیف وخندوم، نو هغه د بُت د خوني دروازې ته چي یې اول کُلنګ ور سره کړی خپل ځان یې پر مځکه واچاوه او لغړي، یو وار په اهل طائف کي نارې سوې چي الله مغیره ورک کړی او ربّه و وژی، مغیره بن شعبه ﷺ بیرته جګ و دریدی او ویل: الله مو خوار کړه دغه بت ډبري او لرګي دي او بیا یې د هغه خوني دروازه و وهل او ماته یې کړه، د مغیره بن شعبه ﷺ کُلنګ په لاس کي دی او بت وهي، هر واری چي پر وکړي ابوسفیان د هغو ښځو د غم او ژړا پښبې کوي او د هر واري سره دغه بت ته وایي: آهًا لک، واهًا لک، د طائف خلکو سره و ویل: اوس ورته ګوری که یې ربّه ونړاوه نو موږ اسلام ته داخلیږو او که ربّه دیٔ و وژی نو اسلام نه قبلوو، دوی سره پرېږدی، اوس نو ټول اهل طائف او ثقیف سره را ټول سوي دي و مغیره بن شعبه ﷺ ته ګوري چي څه ورته پېښیږي؟ مغیره بن شعبه د بت په وهلو او نړولو شروع وکړه او هغه یې د دوی په حضور مات او ټوک ټوک کړی، د دوی هغه إله او معبود یې ورمات کړی چي په سوو کلو یې د هغه عبادت کړی ؤ، کله چي ربّه یا لات مات او ونړول سو نو اهل طائف ټول اسلام ته داخل سوه او د رسول الله ﷺ هغه دعاء قبوله سوې وه چي ویل: (اللّٰهمّ أهدِ ثقیفاً و اتِ بهم)

اوس نو د عربو لوی لوی قبیلې اسلام ته داخلي سوې چي د هغې جملې څخه یوه هم د ثقیف قبیله وه، ستا به په یاد وي؟ دا هغه ثقیف یا اهل طائف دي چي رسول الله ﷺ د دعوت دپاره هلته ورغلی ؤ او دوی یې په ډیره بده طریقه سره استقبال وکړی او په ډېره بد اخلاقي سره یې له خپله ښاره وایستی خپل هلکان او ناپوهان یې امر کړه چي رسول الله ﷺ په ډبرو و ولي او پسخندونه په و وهي، رسول الله ﷺ یې پر مبارکو پښو په ډبرو ویشتی او د ده ﷺ تر پښو ویني بهېدې، دغه خلک نن ورځ مدینې منورې ته ورغله د الله جل جلاله دین ته په صداقت او اطاعت سره داخل سوه، ستا په یاد دي؟ په کومه ورځ چي رسول الله ﷺ له طائفه بیرته مکې مکرمې ته تلی زید بن حارثه ﷺ چي د رسول الله ﷺ ملګری ؤ او ورته ویل یې: یا رسولَ الله! ته څنګه مکې ته ورځې او دوی څني وایستلې؟ رسول الله ﷺ په جواب کي ورته

(c) ketabton.com: The Digital Library



وويل: يا زيد! الله جل جلاله د دغو مشکلاتو څخه د وتلو لار او مخرج پيدا کوي او الله جل جلاله د خپل دين ناصر او د خپل نبيﷺ غالبه کوونکی دی.

دغه اوس چي تاسي د طائف د خلکو د مسلمانېدلو واقعات و لوستل او تر دغه د مخه مو د مکې مکرمې د فتحي حالات و لوستل، دا د رسول اللهﷺ د هغه قول او هغي خبري تصديق دی چي زيدرضي الله عنه ته يې فرمايلې وه: الله جل جلاله د دغو مشکلاتو څخه د وتلو لار پيدا کوي او الله د خپل دين او خپل نبي ناصر دی.

نو دا هغه طائف دی او هغه، هغه مکه ده او نوري هم ډېري قبيلې په ډلو ډلو اسلام ته داخلي سوې.

## د هجرت نهم کال

اوس چي د هجرت اتم کال پای ته رسېدلی دی او د هجرت نهم کال شروع او داخل سوی دی، دغه د هجرت و نهم کال ته (عامُ الوُفود) ويل کيږي، يعني: د ډلو کال، وَفد په عربي کې ډلي ته وايي او (وُفُود) د وَفد جمعه ده او دغه کال ته ولي عَامُ الوُفُود ويل کيږي؟ هغه په دې سبب: کله چي مکه مکرمه فتحه سوه او قريش اسلام او مسلمانانو ته تسليم سوه، هوازن شکست وخوړی، طائف هم فتحه سو، اوس د رسول اللهﷺ او مسلمانانو سيطره د جزيرة العرب پر غربي ساحل پوره او ټينګه سوه، هغه بتان چي خلکو يې عبادت کاوه مات او ونړول سوه، د جزيرةُ العرب پاته ټولو قبيلو ته د اسلام د کاميابۍ خبر ورسېدی، دلته نو د شا وخوا څخه خلک را شروع سوه مدينې منورې ته ورځي او د الله جل جلاله دين ته په ډلو ډلو داخليږي، ډله پسله ډلي مدينې منورې ته ورځي او مسلمانيږي، نو دغه کال د ډلو د کال په نامه سره وبلل سو.

اوس نو مور په اختصار سره ويلای سو: له کومه وخته چي رسول اللهﷺ مدينې منورې ته هجرت وکړی مور وليدل چي د رسول اللهﷺ ژوند او وخت په پرله پسې غزاوو او د سريو يا ټوليانو په لېږلو سره تېرېدی، ټول وخت يې د دعوت او جهاد دپاره ؤ، رسول اللهﷺ او اسلام د جزيرةُ العرب پر ډېره حصه تسلط پيدا کړی، او د جزيرةُ العرب ډېر خلک مسلمانان سوه.

(c) Kotabton.com: The Digital Library


د هجرت په اتم کال کي مکه مکرمه فتحه سوه، د هوازن قبيلو په هغه لوی جنګ کي چي د حنين جنګ ؤ ماته وخوړل، د هوازن هغه کسان چي د حنين په جنګ کي و تښتېدل د مسلمانانو له طرفه تعقيب او په طائف کي محاصره سوه، مګر د الله جل جلاله د طرفه د طائف د فتحي اجازه نه وه سوې نو طائف نه سو فتحه او مسلمانانو د ذوالحججې په مياشت کي د عُتاب بن اُسيد په مشرتابه حج آداء کړی، د هجرت اتم کال په دغه واقعاتو سره پای ته ورسېدی او بيا د هجرت نهم کال داخل سو، هغه کال چي د سيرة او تاريخ په کتابو کي عامُ الوُفُود ورته ويل کيږي، هغه چي د مسلمانېدلو دپاره پرله پسې ډلي مدينې منورې ته ورتلې، د هجرت د نهم کال د رجب په مياشت کي د تبوک غزاء پېښه سوه، مګر هغه ډلي چي مدينې منورې ته د اسلام را وړلو دپاره ورتلې ډېري زياتي ډلي ورغلي دي او مؤرخينو د تاريخ په کتابو کي د دغو ډلو دقيق تاريخ يعني: د ورځي او مياشتي معين تاريخ نه دی ذکر کړی، خو يقيني خبره دا ده چي ځيني ډلي د تبوک تر غزاء د مخه ورغلي دي، او ځيني ډلي د تبوک تر غزاء وروسته ورغلي دي او د تبوک غزاء د هجرت د نهم کال په منځ کي وه چي د رجب مياشت وه، نو اول به د تبوک د غزاء حالات درته بيان سي او بيا به د ډلو د ورتللو حالا ت په مفصل ډول سره درته بيان سي، ځکه د ډلو معين تاريخ لکه د مخه چي مو و ويل نه دی معلوم خو د کعب بن زُهير بن سُلمیٰ د اسلام قصه په يقيني ډول د هجرت د نهم کال په شروع کي وه چي هغه قصه داسي ده:

کعب بن زُهير په خپله شاعر او د عربو د هغه مشهور او لوی شاعر زوی دی خو دئ مشرک ؤ او په اشعارو کي به يې د رسول الله ﷺ ذم او هجوه ويل، خو په عين وخت کي د دغه کعب ورور بُجير رضي الله عنه مسلمان ؤ نو، د ده مسلمان ورور و هغه مشرک کعب ته داسي ليک او رساله ور ولېږل چي رسول الله ﷺ د هغو ټولو شاعرانو په وژلو امر کړی دی کوم چي په اشعارو کي يې د رسول الله ﷺ بد او ذم ويلی وي بېله هغو کسانو چي اسلام ته داخل سي او توبه وکاږي هغو ته عفوه کوي، زما و تا ته دغه نصيحت دی چي مدينې منورې ته مسلمان او توبه کوونکی راسه نو به خلاص سې، که نه نو د خپل ځان د ژوندي پاته کېدلو دپاره بل ځای وګوره په جزيرةُ العرب کي ژوند نه سې کولای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کعب يوازي دا نه چي د وروړ نصيحت يې نه کړی قبول بلکه په جواب کي يې داسي اشعار ور ولېږل چي په هغو کي يې خپل وروړ په مسلمانېدلو سره ملامتاوه چي ته داسي دين ته اوښتی يې چي نه دي پلار او نه دي مور پر هغه دين وه او نه دي وروړ پر هغه دين دی، بُجيرؓ دغه د مشرک کعب اشعار و رسول اللهﷺ ته و ويل، رسول اللهﷺ په قهر سو او د کعب په وژلو سره يې امر وکړی، بُجيرؓ دوهم وار بيا خپل وروړ کعب ته ليک ولېږی چي ورته ليکلي يې وه: زما د ليک په رسېدلو سره بايد سمدستي مديني منورې ته مسلمان راسې ځکه رسول اللهﷺ پسله اسلامه هغه د مخني ګنهونه ټول معافوي که نه نو ځان مړ و بوله، کعب هم مسلمان سو او مخ پر مدينه منوره رهي سو، کله چي مديني منورې ته ورسېدی خپل اوښ يې د مسجد په دروازه کي چوک کړی او دئ مسجد ته ور ننوتی، رسول اللهﷺ د اصحاب کرامو سره ناست ؤ، کعب وايي: رسول اللهﷺ مي په هغو اوصافو سره وپېژندی کوم چي د ده په باره کي مي اورېدلي وه که نه تر دغه د مخه مي رسول اللهﷺ نه ؤ ليدلی، نو وايي: د خلکو په منځ کي ور تېر سوم او سلام مي ورته و وايه او ورته و مي ويل: يا رسولَ الله! تا ته مي پناه را وړې ده امان غواړم آيا وکعب ته چي توبه کوونکی او مسلمان راسي امان ورکوې؟ رسول اللهﷺ و فرمايل: هو، تا ته امان دی، بيا نو کعب هغه خپله مشهوره قصيده چي د رسول اللهﷺ په مدحه او صفت کي ده و ويل چي هغه قصيده د (بَانَت سُعاد) يا (قصيدهٔ بُرده) په نامه سره يادېږي او د هغې قصيدې اول بيت داسي دی:

بَانَت سُعَادُ فَقَلبِي اليَومَ مَتبُــولٌ مُتَيم إثرَهَا لَم يُفــدَ مَكبُــولٌ

دغه قصيده د رسول اللهﷺ په مدحه او صفت کي ډير اعلیٰ او خوندور بيتونه دي چي د دغي قصېدې په ويلو سره رسول اللهﷺ خپله اغوستې بُرده چي يو قسم چپني يا پټو ته ويل کيږي دغه کعب ته په انعام کي ورکړه او بيا په وروسته کي حضرت معاويهؓ دغه بُرده د کعبؓ څخه په لس زره درهمه وغوښتل خو کعب وويل: د رسول اللهﷺ لباس مي ببله زما خپله ځانه پر بل چا نه دی پېرزو.

(c) ketabton.com: The Digital Library


کله چي کعبؓ وفات سو دغه بُرده معاويهؓ د کعب د کورنۍ څخه په شل زره درهمه رانیول او دغه بُرده تر ډيري زماني پوري د يوه خليفه څخه بل خليفه ته په میراث پاته کېدل، اوس هم ویل کیږي چي هغه برده د ترکيې په موزيم کي پرته ده.

څرنګه چي کعب ؓ د قصيدې په ويلو سره د رسول اللهﷺ بُرده په انعام وګټل نو د قصيدې نوم يې هم (قصيدهٔ بُرده) سو او د دغي بُردې د جنسيت قېمت دومره نه ؤ چي په لس يا شل زره درهمه ارزېدل بلکه هغه د رسول اللهﷺ تبرک دغه برده و دغي درجې ته ورسول چي د وخت د خليفه سره به ساتل کېده.

سعدي رحمة الله عليه وايي:

جامهٔ کعبه را که می بوسند — او نه از کرم پیله نامی شد
با عزیزی نشست روزي چند — لا جرم همچو او گرامی شد

ژباړه: دا چي خلک د کعبې شريفي پوښ مچوي د هغه سبب دا نه دی چي هغه د چنجي د ورېښمو څخه جوړ سوی دی، بلکه د هغه د شرافت سبب دا دی چي څو ورځي د يوه عزتمن سره کښېښوول سو نو دئ هم خامخا هغه غوندي عزتمن سو.اوس به بيرته هغه خپلي قصې ته چي د تبوک غزاء وه ولاړ سم.

د تبوک غزاء د هجرت د نهم کال د رجب په مياشت کي وه څرنګه چي د مکې مکرمې فتحه د حق او باطل په منځ کي يوه فاصِله او جلا کوونکې غزاء وه، پسله دغي فتحي څخه و عربو ته د رسول اللهﷺ په رسالت او نبوت کي هيڅ شک نه سو پاته، نو ځکه د وخت حالاتو په تمامه معنٰی او پوره ډول فرق او تغير وکړی، د دې پر ځای چي خلکو به د مسلمانانو سره د جنګ کولو دپاره لښکري سره يو ځای کولې او پر مسلمانانو به يې حملې کولې اوس خلک د الله جل جلاله دين ته په ډلو ډلو داخليږي، چي د دغو ډلو بيان به إن شاء الله د وُفود يا ډلو په فصل کي په تفصيل سره درته بيان سي او دغه حالت چي خلک و اسلام ته په ډلو ډلو داخلېدل تا ته به د مسلمانانو د هغه شمېر او عدد څخه درمعلوم سي چي د رسول اللهﷺ سره يې د هجرت د لسم کال په حج يا په حجة الوداع کي ګډون او اشتراک کړی ؤ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د تبوک د غزاء سبب

اوس د مسلمانانو داخلي ستړياوي پای ته ورسېدې او مسلمانان د دې دپاره فارغه سوه چې د الله جل جلاله د دين احکام او قوانين زده کړي او د اسلام دپاره دعوت نشر کړي، مګر بيا هم په دغه وختو کي هلته يو قوت موجود ؤ چې بېله کوم سببه او دليله يې پر مسلمانانو تعارض او تېرئ کاوه چې هغه د روم قوت ؤ او په هغه وختو کي دغه قوت د مځکي د مخ هغه لوی عسکري قوت بلل کېدی، لکه څرنګه چې موږ مخ کي درته و ويل چې د روم د تعرض او تجاوز شروع د رسول الله ﷺ د قاصد (حارث بن عُمير الأزدي رضي الله عنه) په وژلو سره وسوه، کله چې دغه حارث د رسول الله ﷺ رساله د بُصرٰی و آمر ته ور وړل او په لار کي د شرحبيل بن عَمرو الغساني له طرفه شهيد کړل سو او تر هغه وروسته رسول الله ﷺ د هغه مسلمان قاصد د بدلې او انتقام اخيستلو دپاره د زيد بن الحارثه رضي الله عنه په مشرۍ يو لښکر مؤته ته ولېږی او هلته په مؤته کي د روم د لښکر سره لوی او شديد جنګ وسو خو بيا هم اسلامي لښکر خپل انتقام او بدله د هغو ظالمانو څخه لکه څرنګه چې لازمه وه نه واخيستل، مګر بيا هم دغه جنګ د ليري او نژدې عربو په زړو کي ډېر مهم تاثير پرېښاوه.

او د روم پاچا (قيصر) هم د مؤته د جنګ هغه لوی تاثير چې د مسلمانانو د مصلحت او شهرت دپاره يې پرېښاوه نه د فکره څخه ايستلی ؤ او نه يې هېراوه، دئ بېرېدی چه پسله دغه جنګه به د ډېرو عربي قبيلو په دماغ کي دا فکرونه پيدا سي چې د روم څخه خپل استقلال لاس ته راوړي او د مسلمانانو سره به صلحه وکړي.

دغه د مسلمانانو قوت يو خطر ؤ چې قدم پر قدم د روم و حدودو ته ور نژدې کېدی او د روم د مملکت هغه حدود چې د شام په طرف کي او د عربو په همسايتوب کي پراته وه تهدېدول.

نو قيصر پر خپل ځان دا لازمه وبلل چې د مسلمانانو قوت د مخه تر دې چې د يوه لوی او عظيم خطر په شکل ميدان ته را ووزي او بيا يې هيڅ چاره نه کيږي د منځه يوسي او د مخه تر دې بايد مسلمانان ختم او فيصله کړم چې په نورو عربي منطقو

(c) ketabton.com: The Digital Library


کې زما پر ضد انقلابونه او بغاوتونه پېښېږي.

ورونو! د نن ورځې د يهودو او نصاراوو سره عيناً هغه د قيصر فکرونه او نظريې موجود دي، نه غواړي چې مسلمانان د ټولي مځکې پر مخ کامیابه، قوي او مستقل دولت ولري، تاسي دغه قصه او د نن ورځې حالات سره قياس کړی.

نو د مؤته پر جنګ يو کال نه ؤ تېر سوی چې د روم پاچا قيصر د دغو مصلحتو او خطرو د مخ نيوي دپاره د مسلمانانو د جنګ اراده وکړه او د يوه لوی لښکر په جوړولو يې شروع وکړه، دغه لښکر يې د روميانو او هغو عربي قبيلو څخه سره يو ځای کاوه چې د قيصر تابع وې، لکه غسان او داسي نوري د عربي نصاراوو قبيلې.

قيصر د مسلمانانو سره د يوې فيصله کوونکي او خونړۍ جګړې دپاره تياري او آمادګي نيسي، دغه خبرونه مدينې منورې ته ورسېدل چې روم د مسلمانانو پر ضد د يوې خونړۍ جګړې دپاره ځانونه تياروي، د دغو خبرو په اورېدلو سره مسلمانان په هره لحظه کې د روم د حملې څخه په بېره کې وه، حتّٰی مسلمانانو چې به يو غير عادي ږغ او آواز واورېدی دا به يې ګمان سو چې د روميانو لښکر را ورسېدی، د مسلمانانو دغه د بيرې حالت په هغه قصه او کيفيت کې ښه معلومېږي چې و حضرت عمر بن الخطاب رضی الله عنه ته پېښ سو چې هغه قصه داسي وه:

د رسول الله ﷺ ازواجو مطهراتو وليدل چې ټول مسلمانان ماړه او هوسا سوه، نو دوی فکر وکړی چې ښايي زموږ د ښه ژوند دپاره هم وسائل او اسباب پيدا سي، نو د دوی د جملې څخه ځينو ازواجو مطهراتو د رسول الله ﷺ سره په دغه باره کې خبري وکړې او ځني وې غوښتل چې زموږ د ښه ژوند دپاره هم پراخه نفقه او وسائل را برابر کړه چې موږ هم د نورو مسلمانانو پر قسم هوسا ژوند ولرو، پر رسول الله ﷺ دغه خبره درنه سوه او قسم يې ياد کړی چې تر يوې مياشتي پوري به د هيڅ زوجې کور ته نه ورځم نو مسجد ته نژدې په يوه بالا خانه کې اوسېدی، اصحاب کرام د دغه حاله څخه مضطرب او وارخطا سوه، ځکه چې دوی د واقعې په حقيقت نه وه خبر نو يې په شروع او ابتداء کې دا خيال سو چې رسول الله ﷺ خپلې ټولي ازواجي مطهراتي طلاقي کړي دي، دا قصه اوږده قصه ده خو اوس د دغې قصې د بيانولو څخه زما مقصد دا دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې مسلمانان د روم د راتګ او حملې څخه څومره او په کومه اندازه پرېشانه وه؟

حضرت عمر رضي الله عنه چې د دغې قصې روایت کوي وايي: ما یو انصاري ملګری درلودی کله چې به زه د یوه کار په سبب د رسول الله ﷺ د مجلس څخه غائب سوم دغه انصاري به هلته حاضر ؤ او بیا چې به زه راغلم د هغه مجلس په واقعاتو به یې خبرولم (ځکه د رسول الله ﷺ د مجلس حالات د مسلمانانو دین وو) او که به دئ غائب سو بیا به ما د رسول الله ﷺ د مجلس حالات ورته بیانول او موږ دواړه د مدینې منورې د عوالي په منطقه کي اوسېدلو او په نوبت سره د رسول الله ﷺ مجلس ته ورتلو، په دغه وختو کي موږ د غسان په پاچا سره بېرول سوي وو چې پر موږ مسلمانانو حمله کوي نو خود زموږ مسلمانانو زړونه په تشویش ډک وه.

یوه ورځ مي هغه انصاري ملګري ناڅاپه دروازه را وټکول! په تلوار او وارخطایي یې را ته و ویل: دروازه خلاصه کړه دروازه خلاصه کړه، ما ویل: غسان راغله؟ ملګري مي ویل: یا بلکه تر دې مهمه پېښه ده، خو چې خبر یې را ته و وایه هغه دغه د رسول الله ﷺ خبر ؤ چې د خپلو ازواجو مطهراتو څخه جلا سوی ؤ، تر دغه ځایه پوري مي د دغې قصې څخه مقصد دا ؤ چې مسلمانان په دغه اندازه د روم او غسان د حملې څخه په تشویش کي وه چې د وارخطایۍ هره خبره به پېښه سوه، یا به په تلوار دروازه وټکول سوه د دوی په فکر کي د روم او غسان حمله ورګرځېدل.

او د امام بخاري په روایت کي د قصې د دغه ځای الفاظ داسي روایتیږي: چې عمر رضي الله عنه وايي: موږ ته ویل سوي وه چې غسان د مسلمانانو د جنګ دپاره څوټې په پښه کړي دي (یعني: را رهي سوي دي) او زما ملګری د ده د نوبت په ورځ د مسجد نبوي څخه ماخستن راغلی او زما دکور دروازه یې په ډېر شدت را وټکول او ویل: آیا دئ بیده دی؟ زه په وارخطایي ورته را و وتم چې څه پېښه ده؟ ملګري مي را ته و ویل: ډېره لویه خبره پېښه ده، ما ویل: آیا غسان راغله؟ ده ویل: یا تر هغه هم لویه او اوږده خبره ده! رسول الله ﷺ خپلي ښځي طلاقي کړي دي.

نو دغه واقعه او قصه پر دې دلالت کوي چې مسلمانان د روم د جنګ او حملې څخه په څومره تشویشي او خطرناکه حالت او موقف کي وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library


پر دې سربېره هغه شئ چي د روم او غسان د حملې تاکيد يې کاوه هغه، هغه کار ؤ چي د مديني منورې منافقانو د دغه خبر په اورېدلو سره وکړی، که څه هم منافقانو د رسول الله ﷺ کاميابي يوازي د جنګ په ميدان کي نه بلکه د ژوند په هره مسئله کي په خپلو سترګو سره ليدلې وه او دا ورته معلومه وه چي د مځکي پر مخ داسي قدرت نسته چي د رسول الله ﷺ او مسلمانانو په مخ کي دي ثُبات او مقاومت وکړي بلکه هر شئ او هر قدرت چي د رسول الله ﷺ په لار کي دريږي هغه په خپله ويلي کيږي.

پر دغه ټولو سربېره بيا هم دغه منافقان په دې اميد وه چي هغه د دوی د زړو پټ مقصدونه دي حاصل سي او اوس چي يې دا اميد پيدا سو چي د روم په واسطه به د دوی د زړو غوښتني ژر تر ژره سر ته ورسيږي، نو يې د خپلو دسيسو او مؤامرو دپاره يوه د شر ځالګی هم جوړه کړه چي دغه ځالګی يې په ظاهره د مسجد په نامه او د مسجد په شکل سره جوړه کړه، چي دغه د منافقانو د شر ځالګی (مسجد ضِرار) دی.

دوی دغه مسجد د څه شي دپاره جوړ کړی؟ د خپل کفر د تقويت، د مسلمانانو د تفرقې او د هغو کسانو د اجتماع او ټولنو دپاره يې جوړ کړی چي د الله او رسول الله سره جنګيږي او بيا يې د رسول الله ﷺ څخه وغوښتل: چي ته به په دغه مسجد کي د تبرک دپاره لمونځ آداء کړې، خو د دوی اصلي مقصد دا ؤ چي مسلمانان خطاء باسي او د دوی په هغه مقصد نه سي پوه چي دوی دغه مسجد د هغه دپاره جوړ کړی دی، چي هغه د مسلمانانو پر ضد دسيسې او مؤامرې وې او مسلمانان و هغه شي ته نه سي متوجه چي دغه مسجد ته وارديږي او څني صادريږي، ځکه په ظاهره به يې نوم د مسجد وي او په حقيقت کي به د مديني منورې د منافقانو او د اسلام د هغو دښمنانو دپاره ځالګی وي چي تر مديني منورې دباندي په شام کي اوسيږي، لکه ابو عامر الفاسق، مګر رسول الله ﷺ د دغو منافقانو د دغه غوښتني چي رسول الله ﷺ دي زموږ په مسجد کي د تبرک دپاره لمونځ آداء کړي په جواب کي وفرمايل: زه خو اوس د تبوک د غزاء دپاره په آمادګي مشغوله يم خو کله چي بيا د تبوک څخه راسم بيا به يې سره ګورو، نو د منافقانو دغه دسيسه هم نه سوه کاميابه، بلکه رسول الله ﷺ پسله هغه چي د تبوک د غزاء څخه راغلی په عوض د دې چي په دغه مسجد کي لمونځ

(c) ketabton.com: The Digital Library


آداء کړي هغه مسجد یې وسوځاوه او ونړاوه.

ورونو! څرنګه چې د ابو عامر الفاسق نوم یو وار د اُحُد په غزاء کې ذکر سوی دی او بیا اوس یاد سو، نو د دې دپاره چې دغه فاسق وپیژندل سي د هغه مختصره سوانح او د دغه مسجد ضرار په جوړېدلو کې به د ده رول او اهمیت درته بیان سي.

## ابو عامر الفاسق

کله چې رسول الله ﷺ د مکې مکرمې څخه مدینې منورې ته هجرت وکړی هلته تر مدینې منورې دباندې یې د بني عَمرو بن عوف په کلي کې واړول او هلته یې یو مسجد جوړ کړی چې د مسجدِ قُباء په نامه سره مشهوره دی او رسول الله ﷺ به په وروسته کې ډېر ځله د شنبې په ورځ د مدینې منورې څخه دغه مسجد ته ورتلی او هلته به یې دوه رکعاته لمونځ کاوه، د دغه مسجد او په هغه کې د لمونځ کولو ډېر فضیلتونه رسول الله ﷺ بیان کړي دي، چې یو د فضیلتو څخه یې دا دی چې رسول الله ﷺ فرمایي: که څوک په خپل کور کی اودس تازه کړي او بیا مسجد قباء ته ولاړ سي او هلته دوه رکعاته نفل لمونځ آداء کړي د یوې عمرې اجر او ثواب لري.

نو ځینو منافقانو غوښتل چې د دغهِ مسجد پرضد او نژدې و دغه مسجد ته یوه بله بناء یا تعمیر د مسجد په نامه سره جوړ کړي او د قُباء د مسجد خلک سره جلا او متفرق کړي، خو په حقیقت کې د دغه ناپاکه عمل اصلي محرک او سبب یو سړئ ؤ چې ابو عامر الراهب ورته ویل کېدل، ابو عامر الراهب څوک ؤ؟ د خزرج د قبیلې یو نفر ؤ، چې د رسول الله ﷺ تر هجرت د مخه نصراني سوی ؤ او د نصاراوو د راهبانو یا عابدانو ژوند یې اختیار کړی ؤ، د مدینې منورې د شا وخوا خلک خاصتاً د أوس او خزرج د قبیلو خلک د ده و زُهد او فقیری ته عقیده درلودل او د ده یې ډېر زیات عزت، تعظیم او احترام کاوه.

د رسول الله ﷺ تر بختور او مبارک قدوم یا ورتګ وروسته چې په مدینه منوره کې د علم او ایمان لمر را وختی او د اسلام په نور سره شا وخوا رڼا سوه، نو د داسې مصنوعي او تقلبي فقیرانو مقام او شرف له منځه ولاړ او ده ته چا اهمیت نه ورکاوه،

(c) ketabton.com: The Digital Library


ځکه د لمر په راختلو سره څوک په هغه څراغ پسې نه ګرځي چې تېل يې خلاص سوي وي، ابو عامر د دغه کيفيته څخه ډير خواشينی او ناراضه ؤ او د حسد په اور کې نيني نيني سو.

خو بيا هم رسول الله ﷺ دغه ابو عامر الفاسق ؤ اسلام ته دعوت کړی او ورته وې ويل: ما د خپل ځان سره ابراهيمي صحي دين را وړی دی، ابو عامر وويل: زه خو د پخوا څخه پر ابراهيمي دين وم مګر تا د خپله ځانه څخه په ابراهيمي دين ځيني مخالف شيان ګډ کړي دي، رسول الله ﷺ دغه د ده خبره په شدت سره رَد کړه، خو د خبرو په آخر کې د ابو عامر د خولې څخه دا خبره را ووتل: (په مونږ دووکې چې هريو درواغجن وي الله جل جلاله دې هغه له خپله وطنه ليري او يوازې په غُربت او مسکنت کې مړ کړي) رسول الله ﷺ وفرمايل: آمين.

دبدر تر غزاء وروسته چې د اسلام اساس او بنياد نور هم ټينګ سو د حاسدانو سترګې او زړونه نور هم د مسلمانانو په کاميابۍ سوځل کېدل، نو ابو عامر وارخطا سو او مکې مکرمې ته د دې دپاره و تښتېدی چې مشرکان د رسول الله ﷺ جنګ او مقابلې ته نور هم تشويق کړي او د اسلام سره يې د جنګ دپاره تيار کړي، تاسي وليدل چې دغه ابو عامر د اُحُد په غزاء کې د مشرکانو سره راغلی ؤ او د جنګ تر شروع کېدلو د مخه و ميدان ته را ووتی د مدينې منورې انصارو خصوصاً د خزرج و قبيلې ته چې د جاهليت په وختو کې د ده مخلص مريدان وه خطاب وکړی او له دويه څخه يې وغوښتل چې زما طرف ته راسی، مګر دغه احمق په دې نه پوهېدی چې د رسول الله ﷺ په مقابل کې هغه د ده پخوانۍ کوډي او جادو کله چلېږي، نو ځکه انصارو د ده په جواب کې و ويل: اې فاسقه! او اې د الله دښمنه! الله دې ذليله کړه مونږ به څنګه رسول الله ﷺ پرېږدو او ستا ملګرتيا به کوو؟ د انصارو د دغه مايوس کوونکي جواب تر اورېدلو وروسته ابو عامر الفاسق ډير په قهر سو او داسې يې وويل: يا محمّد! ﷺ تردې وروسته چې هر قوم ستا د جنګ دپاره راځي زه به د هغو ملګری يم، نو د حنين تر جنګه پورې بېله ناغې د کفارو په ملګرتيا د مسلمانانو سره جنګېدی، د اُحُد په غزاء کې هم دئ ؤ چې د جنګ په ميدان کې يې غارونه کِندلي او جوړ کړي وه

(c) ketabton.com: The Digital Library


او رسول اللهﷺ و یوه ته د هغو غارو ور ولوېدی.

د حنین تر جنګ وروسته ابو عامر فاسق دا حس کړه چې اوس هیڅ یوه عربي قوه د مسلمانانو په مخ کې نه سي درېدلای نو په تېښته سره یې ځان شام ته ورساوه او د مدینې منورې منافقانو ته یې خط ولیکی چې زه به د روم د قیصره سره ملاقات وکړم او د هغه د یوه زورور لښکره سره د محمّدﷺ جنګ ته در تلونکی یم چې د سترګو په رپ کې به د مسلمانانو ټول امیدونه د خاورو سره برابر سي او مسلمانان به بالکل ختم او فیصله کړي، خو تاسي اوس یو تعمیر د مسجد په نامه سره جوړ کړی چې هلته به د لمانځه په نامه سره را ټولېږی او د اسلام پر ضد به خپلي خبري او مشورې سره کوی او زما قاصدان به هم هلته زما لیکونه او پیغامونه در رسوي او که زه هم مجبوره سوم هلته به د مسلمان په نامه سره درسم او دغه مسجد به زموږ د اجتماع او مشورو ځای وي له هغه ځایه به د اسلام ضد کارونه نشرووو.

د دغو خبیثو مقاصدو دپاره د مسجد قُباء په مقابل کې د ضِرار د مسجد په جوړولو شروع وسوه او رسول اللهﷺ ته یې دا بهانه وکړه چې یا رسولَ الله! په الله مو دي قسم وي چې زموږ د بدو نیت نه دی خو د یخ او باران په سبب خاصتاً د مریضو او ضعیفه خلکو په سبب چې تر مسجد قباء پورې نه سي تلای موږ دغه مسجد جوړوو چې لمونځ کوونکو ته سهولت او آساني وي.

د تبوک د غزاء د شروع په وخت کې د دغه مسجدِ ضرار بناء پای ته ورسېدل نو یې رسول اللهﷺ ته حال ولېږی چې یا رسولَ الله! که تاسي یو وار هلته راسی او په دغه مسجد کې لمونځ آداء کړی ستاسي به مهرباني وي او زموږ دپاره به د سعادت او برکت سبب وګرځي او دغه غوښتنه یې هم په دې سبب سره وه چې د دوی په فکر د رسول اللهﷺ د دغه عمل په لیدلو سره به د ځینو ناپوه او ساده مسلمانانو ګمانونه ښه سي او بیا به د منافقانو د مکر او حېلې په دام او لومکه کې بند سي.

رسول اللهﷺ په دغه وخت کې تبوک ته د تلو دپاره په تیاري او آمادګي مشغوله ۋ نو یې و فرمایل: زه خو اوس مشغوله یم خو کله چې له تبوکه راسم بیا نو خرنګه چې د الله جلّ جلاله إراده وي هغسي به وسي، رسول اللهﷺ تبوک ته و وتی

(c) ketabton.com: The Digital Library



او په دغه نوي جوړ سوي مسجد ضِرار کي يې لمونځ نه کړی آداء، ځکه دغه مسجد اصلاً د فساد دپاره جوړ سوی ؤ، دغه مسجد د اسلام پر ضد د جنګ کولو مرکز ؤ، مګر کله چي رسول الله ﷺ د تبوک د غزاء څخه فارغه سو او مديني منورې ته نژدې سو نو د الله جل جلاله له طرفه دغه آيات شريف نازل سو چي فرمايي:

﴿ وَٱلَّذِينَ ٱتَّخَذُواْ مَسْجِدًا ضِرَارًا وَكُفْرًا وَتَفْرِيقًا بَيْنَ ٱلْمُؤْمِنِينَ وَإِرْصَادًا لِّمَنْ حَارَبَ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ مِن قَبْلُ ﴾. [التوبه: ۱۰۷]

ژباړه: او هغه منافقان چي د مومنانو د ضرر رسولو دپاره يې مسجد جوړ کړی دی او د کفر دپاره يې جوړ کړی دی او د مومنانو په منځ کي يې د تفرقې اچولو دپاره جوړ کړی دی او جوړ کړی يې دی دپاره د انتظار د هغه چا چي پخوايې لا د الله او رسول الله ﷺ سره جنګ کړی دی (چي هغه څوک دغه ابوعامر الفاسق دی).

﴿ وَلَيَحْلِفُنَّ إِنْ أَرَدْنَآ إِلَّا ٱلْحُسْنَىٰ ﴾

او دوی قسمونه يادوي چي زموږ اراده بېله خيره او نېکيه د بل شي نه ده.

﴿ وَٱللَّهُ يَشْهَدُ إِنَّهُمْ لَكَٰذِبُونَ ﴿١٠٧﴾ ﴾. [التوبه: ۱۰۷]

او الله جل جلاله شاهدي آداء کوي چي بېشکه دوی په دغه خپلو قسمو کي خامخا درواغجنان دي.

دا د الله جل جلاله له طرفه شاهدي ده چي دوی درواغ وايي.

منافقانو دغه مسجد ضِرار اصلاً د خپلو مشورو د مرکز دپاره او د مسجد قُباء پر ضد جوړ کړی ؤ نو د دغه آيات شريف په واسطه الله جل جلاله رسول الله ﷺ د منافقانو په خبيثو نقشو او غرضو خبر کړی او د ضِرار د مسجد د جوړولو اصلي او اساسي مقصد يې ښکاره او بيان کړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د مسجد ضِرار نړول

کله چي رسول الله ﷺ د تبوک د غزاء څخه د بیرته را تګ په وخت کي مدینې منورې ته ور نژدې سو د خپلو اصحابِ کرامو څخه یې دوه نفره، په بل روایت کي خلور نفره چي مالک بن خُشُم، معن بن عدی، عامر بن سکن وه ( او یو بل څلورم نفر چي نوم یې نه دی ذکر سوی) مدینې منورې ته ولېږل چي دغه تعمیر چي نوم یې د فریب او چم پر اساس مسجد ایښوول سوی ؤ ونړوي او د مځکي سره یې برابر کړي، دغه اصحاب کرام هم د رسول الله ﷺ د حکم د عملي کولو دپاره تر لښکر د مخه سوه هلته ولاړه او دغه مسجد ته یې اول اور ور واچاوه او بیا یې د هغه دېوالونه ونړول، منافقانو کوښښ وکړی چي دغه نفر له دغه کاره څخه منعه کړي، خو اصحاب کرامو وویل: دا د رسول الله ﷺ امر دی چي دغه مسجد باید وسوځل سي او ونړول سي.

نو د فاسق ابو عامر او منافقانو ټول ارمانونه د دوی په زړو کي پاته سوه او ابو عامر الفاسق په خپله دعاء او د رسول الله ﷺ په آمین په شام او په (قَنسرین) نومي ځای کي د خلکو څخه جلا او د پردېسی په مرګ مړ سو.

الله جل جلاله نور هم په سورة التوبه کي د دغه مسجد په باره کي فرمایي:

﴿لَا تَقُمْ فِيهِ أَبَدًا ۚ لَّمَسْجِدٌ أُسِّسَ عَلَى التَّقْوَىٰ مِنْ أَوَّلِ يَوْمٍ أَحَقُّ أَن تَقُومَ فِيهِ﴾.

هیڅکله په دغه مسجد ضِرار کي د لمانځه دپاره مه درېږه، خامخا هغه د قُباء مسجد چي اساس او تاداو یې د اولي ورځي څخه پر تقوی او پرهېزګاری ایښوول سوی دی د دې ډېر لائق دی چي د لمانځه دپاره په هغه کي و درېږې.

﴿فِيهِ رِجَالٌ يُحِبُّونَ أَن يَتَطَهَّرُوا ۚ وَاللَّهُ يُحِبُّ الْمُطَّهِّرِينَ ﴿١٠٨﴾﴾. [التوبه: ۱۰۸]

په دغه مسجد قُباء کي داسي خلک دي چي دا خوښ لري چي خپل ځانونه د ګنهو او نجاستو څخه پاک وساتي او الله جل جلاله هغه ښه ځان پاکوونکي خوښ لري.

دغه معلومات د مسجد ضرار، ابو عامر فاسق او منافقانو په باره کي وه، اوس بیرته هغه د مخني بحث ته چي د تبوک د غزاء په باره کي مو خبري کولې رجوع کوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library


دغه د روم د حملې خبرونه او معلومات د لیرې څخه د آوازو پر قسم مسلمانانو ته را رسېدل څو بالاخره په دغه وختو کې د انباط یوه ډله مدینې منورې ته راغله (انباط) یو قوم ؤ چې له شامه به یې مدینې منورې ته تجارتي مالونه راوړل خاصتًا نباتي غوړي، دغو خلکو دغه خبر په تفصیل او تاکید ور سره را وړی چې هرقل د مسلمانانو د حملې دپاره یو قوي لښکر جوړکړی دی چې شمېر یې څلوېښت زره نفره دی او د دغه لښکر مشرتوب او قومنداني یې د روم د ډېرو لویو مشرانو څخه یوه مشر ته ورکړي دي او د دغه لښکر سره یې هغه نوري عربي قبیلې هم یو ځای کړي دي کومي چې نصرانیت ته اوښتې او د روم تابع دي (تاسي ته معلومه ده چې د عربو هغه قبیلې چې د شام پر حدودو پرتې وې د پخوا څخه د نصرانیت دین ته داخلې سوي وې او د روم تر حکم لاندې وې) نو ویل: دغه عربي قبیلې لکه لخم، جُذام او نوري هم ور سره یو ځای سوي دي او د دغه لښکر مقدمه تر بلقاء پوري را رسېدلې ده، د دغه خبر په را رسېدلو سره د مسلمانانو دپاره ډېر لوی خطر پیدا سو او هغه شئ چې دغه خطر یې نور هم زیاتاوه هغه دا ؤ: چې وخت او موسم هم د ډېري شدیدي ګرمۍ ؤ، خلک په وچ کالي او مشکلاتو اخته وه، حیوانات یې هم لږ سوي وه او د مدینې منورې مېوې هم تازه پر پخېدلو او رسېدلو وې، نو د ټولو خلکو دا خوښه وه چې په خپلو مېوو او سایو کې و اوسیږي، د هیچا دانه وه خوښه چې دغسي د ګرمۍ په وخت او دغسي د مفلسۍ په حال کي د خپلو کورو څخه په سفر ولاړ سي او پر دې ټولو سربېره د مدینې منورې او شام په منځ کي مسافه هم ډېره زیاته وه، لاریې وچه او سخته وه.

مګر رسول الله ﷺ دغو حالاتو ته په حکیم او دقیق نظر سره کتل، هغه د روم آمادګي دغه د مدینې منورې تر داخلي مشکلاتو مهمه وه، رسول الله ﷺ پوهېدی که د دغو مشکلاتو په سبب د روم سره په مقابله کي لږ تاخیر او کسالت وسي او روم ته دا موقع ورکول سي چې و هغو منطقو ته ور ننوزي چې د مسلمانانو تر نفوذ او سیطرې لاندې دي او بیا د هغه ځایه څخه د مدینې منورې پر طرف را رهي سي، پر اسلامي دعوت او د مسلمانانو پر عسکري شهرت به د دې کار ډېر بد اثر ولویږي او هغه جاهلیت به بیرته را ژوندئ سي چې د حنین په جنګ سره یې سخته او شدیده ضربه

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوړلې وه او اوس آخري نفسونه کاږي.

رسول اللهﷺ ته دا هم ورمعلومه وه: هغه داخلي منافقان چې په داسې موقع پسې ګرځېدل چې کله به پر مسلمانانو حمله وکړي اوس د روم د پاچا سره د ابو عامر الفاسق په واسطه ارتباطونه نيسي، نو به هغه وخت چې روم د مخ له طرفه پر مسلمانانو حمله وکړي داخلي منافقان به د شا له طرفه د مسلمانانو نسونه په خپلو خنجرو ور ځيري، چې په دې ډول سره به د رسول اللهﷺ او د ده د اصحابو هغه کوښښونه چې د اسلام د نشرولو دپاره يې کړي وه عبث او بېهوده سي او هغه کاميابۍ چې دوی پسله ډيرو پړله پسې خونړيو جنګو او سرِيو لاس ته راوړي وې په مفته د لاسه ورکړي.

حکيم او دانا رسول اللهﷺ په دغو ټولو کارو او نتيجو ښه پوره پوهېدی، نو ځکه يې د دغې ګرمۍ او مفلسۍ سره سره دا مقرره کړه چې مسلمانان بايد د روم سره يو فيصله کوونکی جنګ د هغو پر سرحد وکړي او روميانو ته دا موقع ورنه کړي چې ودار الإسلام يا د مسلمانانو ملک ته ور داخل سي، کله چې رسول اللهﷺ دا فيصله وکړه چې موږ بايد د داخلي، اقتصادي او موسمي مشکلاتو په سبب د روم سره په جنګ کولو کې ځنډ او تاخير و نه کړو نو يې په صحابهٔ کرامو کې اعلان وکړی چې د روم سره د جنګ دپاره خپل ځانونه تيار او آماده کړی.

همدارنګه يې د شا و خوا عربي قبيلو او مکې مکرمې ته حال ولېږی چې د جنګ او سفر دپاره تيار سی او مدينې منورې ته راسی، د رسول اللهﷺ همېشه داعادت ؤ چې جنګ ته به وتی تَوريه به يې کول يعني: په صراحت سره به يې نه ويل چې چيري او د چا جنګ ته ځي، مقصد به يې يو ځای ؤ او نوم به يې د بل ځای ياداوه، دا د دې دپاره چې دښمن د مسلمانانو په حرکت نه سي خبر (ځکه که دښمن خبر سي يا خو تښتي او ځای پرېږدي، يا د جنګ دپاره آمادګي نيسي) نو رسول اللهﷺ په هيڅ وخت کې په صراحت سره د مقصد د ځای نوم نه ياداوه بېله تبوک او خيبره څخه، چې په دغو دوو ځايو کې امر واضح او صريح ؤ، د خيبر په غزاء کې په دې سبب صراحت ؤ چې د اللهﷻ طرفه د خيبر د فتحه کولو وعده سوې وه، نو و تَوريې ته ضرورت نه ؤ او دلته د تبوک په غزاء کې بيا په دې سبب صراحت ؤ چې مسافه ډيره

(c) ketabton.com: The Digital Library


لیري وه او ښايي جنګ به هم ډېر شدید وي نو د دې جنګ دپاره باید پوره او لازمه آمادګي ونیول سي، مسلمانان باید په دې خبر وي چي دغه جنګ مو د هغه دولت سره دی چي په هغه وختو کي د دنیا هغه لوی مملکت بلل کېدی چي هغه د روم پاچهي وه او د دې جنګ دپاره عادي او معمولي تیاري نه ود کافي.

ځکه دا ممکنه وه چي دغه جنګ دي ډېر وخت په برکي ونیسي، نو مسلمانان باید حتماً په دې پوهېدلي وای چي جنګ اوږد او سفر سخت دی نو خامخا باید پوره استعدادات ورته نیول سوي او برابر سوي وای، نو ځکه رسول الله ﷺ د مقصد ځای په وضاحت او صراحت سره اعلان کړی او مسلمانان یې و جهاد ته تشویق کړه، همدارنګه د سورةُ التوبه ډېر آیاتونه په دغه وخت کي د دې دپاره نازل سوه چي مسلمانان جهاد او سفر ته تشویق او ترغیب کړي او رسول الله ﷺ دې ته هم تشویق کړه چي خپل هغه ښه او نفیس مالونه د الله جل جلاله په لار کي مصرف کړي.

## مسلمانان د روم د غزاء دپاره ځانونه آماده کوي

دغه سفر او د دغه جنګ دپاره آمادګي د ډېري سختي او شدیدي ګرمۍ په وخت کي وه، بارانونه ځنډېدلي وه او وچکالي پېښه وه، دا وخت داسي وخت ؤ چي مېوې د پخېدلو په حالت کي وې (یعني تر اوسه نه وې پخې سوي خو و پخېدلو ته نژدې وې) د خلکو زړونه دِ دغه خپلو حاصلاتو سره تړلي وه، دا یې خوښه وه چي حاصلات واخلي او بیا ولاړ سي، مګر د رسول الله ﷺ له طرفه امر واضح او صریح ؤ، چي خامخا باید دغه جنګ ته دغه اوس د موجودو مشکلاتو سره سره ووزی.

د دې جنګ په وتلو کي اختیاري معامله نه وه بلکه صریح امر ؤ: هر هغه مسلمان چي د اسلحې د وړلو قدرت لري پر هغه دا واجب او لازمه ده چي دغه جنګ ته ووزي، په دغسي حالاتو کي صادق مسلمان د منافق او ضعیف الإیمانه مسلمانه څخه پېژندل کېږي مجاهد او منافق سره معلومېږي، ځکه دا امر اختیاري نه ؤ بلکه واجبي او لازمي امر ؤ.

دغه د تبوک غزاء ته (غَزوةُ العُسره) هم ویل کېږي ځکه دغه غزاء د ګرمۍ او مفلسۍ، تکالیفو او مشکلاتو په وخت کي وه، دغه غزاء د مسلمانانو دپاره ډېر لوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



امتحان ؤ، د دغي غزاء او د هغې د واقعاتو په باره کي په سورةُ التوبه کي ډیر آیاتونه نازل سوي دي چي د دغي غزاء او د هغې حادثات بیانوي، که څه هم په سورةُ التوبه کي د نورو موضوعاتو په باره کي لکه د مکې مکرمې فتحه او داسي نور بیان هم سته، خو په هغه جمله کي د تبوک د غزاء واقعات او هغه حادثات چي د تبوک تر غزاء وروسته پېښ سوي دي هم بیانوي، د سورةُ التوبه د ډیرو آیاتو په ترجمه تر هغو نه سو پوهېدلای ترڅو د تبوک د غزاء د واقعاتو معلومات و نه لرو، دا خبره یو وار بیا تکراروم: ترڅو چي په سیرةُ النبيﷺ نه یو خبر د قرآن مجید په ډیرو حصو نه سو پوهېدلای، الله جل جلاله د سورةُ التوبه په (۴۱ ، ۴۲) نمبر آیاتو کي فرمایي:

﴿ ٱنفِرُواْ خِفَافًا وَثِقَالًا وَجَٰهِدُواْ بِأَمۡوَٰلِكُمۡ وَأَنفُسِكُمۡ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِۚ ذَٰلِكُمۡ خَيۡرٌ لَّكُمۡ إِن كُنتُمۡ تَعۡلَمُونَ ﴿٤١﴾ ﴾.

ژباړه: اې مسلمانانو! تاسي که سپک یاست که درانه باید خامخا جهاد ته ولاړ سی (د سپک او درانه څخه مقصد دغه ټول حالات دي یعني: که پیاده یاست که سپاره، که ماړه یاست که غریبان، که زاړه یاست که ځوانان، که روغ یاست که رنځوران، که بې اسلحې یاست یا مسلح، که آزاد یاست که مریان، که مجرد یاست که د کور خاوندان، پر هر حال چي یاست باید غزا ته ووزی) او تاسي د الله جل جلاله په لار کي د اعلاء کلمةُ الله او د الٰهي دین د ترقۍ دپاره په خپلو مالو او په خپلو ځانو جهاد وکړی، دغه جهاد ته ستاسي تګ، ستاسي د دنیا او آخرت دپاره خیر دی که تاسي په خپله ګټه او تاوان وپوهېږی.

د جهاد اُخروي ګټي هر چا ته معلومي دي چي په جنت کي لوړي درجې او ډیر نعمتونه دي، مګر د جهاد دنیوي ګټي څه شي دي؟ تر هرڅه د مخه د کفارو څخه غنیمتونه او تر هغه وروسته د عزت ژوند دی، تاسي نن ورځ د مسلمانانو دغه د ذِلت ژوند ته متوجه یاست؟ هر چیري چي مسلمان دی هغه ذلیله او د ځان اختیار نه لري، د دغه ذلّت اساسي سبب او علت دا دی چي نن ورځ مسلمانانو جهاد پرې ایښی دی.

نو کله چي واقعي مسلمانانو د رسول اللهﷺ اعلان واورېدی چي د روم د جنګ

(c) ketabton.com: The Digital Library


دپاره يې وربولې د دغه امر د عملي کولو دپاره لکه په مسابقه کې چې وه هر يو کوښښ کوي چې تر هغه بل د مخه خپل ځان تيار او آماده کړي، نو خود مدينې منورې ته له هره طرفه د قومو او قبيلو را تګ شروع سو، د مسلمانانو څخه يو نفر هم په دې نه ؤ راضي چې د دغې غزاء څخه پاته سي بېله هغو کسانو چې په زړو کې يې د نفاق مرض ؤ، څرنګه چې د دغې غزاء دپاره سفر پر نفس سخت او مشکل ؤ او په دغه سفر کې لويه ابتلاء او سخت امتحان ؤ، نو د منافقانو نفاق په خپله ځان ښکاره کاوه او له دې سخته سفره څخه يې په يوه او بله بهانه ځان خلاصاوه، الله جل جلاله د دغو منافقانو په باره کې د سورةُ التوبه په (۴۲) نمبر آيات کې فرمايي:

﴿لَوْ كَانَ عَرَضًا قَرِيبًا وَسَفَرًا قَاصِدًا لَّاتَّبَعُوكَ﴾.

که دغه سفر سپک او بې تکليفه واى او دا اميد يې واى چې غنيمتونه او ولجې په لاس ورځي نو به يې ستا متابعت کړى واى په دغه سفر کې به دې ملګري سوي واى.

﴿وَلَٰكِنۢ بَعُدَتْ عَلَيْهِمُ الشُّقَّةُ﴾

مګر دغه لار او مسافه پر دوى ليري سوه نو ځکه نه در سره ولاړل.

﴿وَسَيَحْلِفُونَ بِاللَّهِ لَوِ اسْتَطَعْنَا لَخَرَجْنَا مَعَكُمْ يُهْلِكُونَ أَنفُسَهُمْ وَاللَّهُ يَعْلَمُ إِنَّهُمْ لَكَاذِبُونَ ﴿٤٢﴾﴾.

يعني: کله چې تاسي بيرته له دغې غزاء څخه راسى نو دوى به په الله سره قسمونه يادوي او وايي به: که چيري زموږ د سفر کولو طاقت واى نو خامخا به موږ ستاسره وتلي واى، دوى خپل ځانونه دغه د دروغو په قسمو سره هلاکوي او الله جل جلاله عالم دى چې دوى خامخا دروغجنان دي.

د منافقانو په باره کې دغه آيانونه نازل سوه چې د دوى حال يې رسوا کړى.

ورونو! يوازي دا نه بلکه د تبوک په غزاء کې ډير واقعات پېښ سوي دي چې په هغو کې منافقان کشف سوي او رسوا سوي دي، د تبوک غزاء که څه هم په هغه غزاء کې د روم سره جنګ مقصد ؤ مګر په نتيجه کې ډيري شديدي ضربې او واري پر منافقانو وه، حقيقي او واقعي جنګ د منافقانو سره ؤ نه د روم سره، لکه څرنګه چې بيا

(c) ketabton.com: The Digital Library



به يې موږ په راتلونکو واقعاتو کې ووينو.

کله چې رسول الله ﷺ د دغې غزاء د وتلو دپاره امر او اعلان وکړی نو أعراب او منافقان و رسول الله ﷺ ته ورغله او داسې عذرونه يې وېل او جوړول چې د منلو وړ نه وه، هر يو به په يوه عذر پسې ګرځېدی چې د هغه عذر په واسطه د غزاء د وتلو او تللو څخه ځان پاته کړي.

منافقان او ضعيف الإيمانه مسلمانان ولې دغې غزاء ته نه تله؟ ولې غواړي چې ځانونه پاته کړي؟ ځکه د روم او روميانو سره جنګ، داسې جنګ نه ؤ لکه د خيبر د يهودو سره چې آسانه او نژدې ؤ، دا داسې غزاء وه چې په هغه کې د هغه وخت د دنيا د لوی مملکت سره جنګ کېدی، نو د منافقانو دا يقين ؤ چې مسلمانان ماته او شکست خوري، ډېر خلک يې وژل کيږي او ډېر تکليف ور رسيږي.

بل دا چې موسم هم د ګرمۍ دی او مسافه هم ډېره لېري وه، نو منافقان وبېرېدل او په عذرو پسې ګرځېدل، ځيني هغه کسان چې په غير معقول يلبځايه عذر سره به يې ځان پاته کاوه په قرآن مجيد کې ذکر سوي دي چې يو د هغو څخه جَد بن قيس دی، جَد بن قيس منافق ؤ او دئ هغه څوک دی چې د حديبيې د صلحې په ورځ د دې دپاره چې د رسول الله ﷺ سره بيعت و نه کړي د هغه سره اوښ تر شا به پټېدی او دئ هغه څوک دی چې رسول الله ﷺ و فرمايل: تاسې ټوله جنت ته داخلېږی بېله خاونده د سره اوښ، هغه دغه جَد بن قيس ؤ او اوس بيا د هغه دپاره بل امتحان راغلی.

کله چې د رسول الله ﷺ له طرفه ښکاره او واضحه امر وسو چې د تبوک غزاء ته وتل واجب او لازمي دي دغه جَد بن قيس چې منافق او دننه کافر دی خو په ظاهره سره د اسلام دعوه کوي و رسول الله ﷺ ته ورغلی غواړي چې يو عذر پيدا کړي، مګر عذر نه لري نو يې څه و ويل؟ ويل: يا رسولَ الله! ټولو خلکو ته دا معلومه ده چې په ټولو عربو کې زما په مثل څوک نسته چې ډېر زړدي د ښځو په سبب په فتنه او فساد اخته کيږي او د روم ښځې ډېرې ښايستې دي، که زما سترګې پر ومښلې ځان نه سم ځني ساتلای، نو ما هلته مه بيايه، ځکه زه پردې ببربرم که مې هغه ښځې وليدلې

(c) ketabton.com: The Digital Library


په يوه فساد او فتنه به اخته سم، ما معذوره و بوله د پاته کېدلو اجازه راکړه او ما زما په دين کې په فساد او فتنه مه اخته کوه، رسول الله ﷺ هم د پاته کېدلو اجازه ورکړه، الله جل جلاله د دغه سړي په باره کې په سورة التوبه کې فرمايي:

﴿ وَمِنْهُم مَّن يَقُولُ ٱئْذَن لِّى وَلَا تَفْتِنِّىٓ ۚ أَلَا فِى ٱلْفِتْنَةِ سَقَطُوا۟ ۗ وَإِنَّ جَهَنَّمَ لَمُحِيطَةٌۢ بِٱلْكَٰفِرِينَ ﴿٤٩﴾ ﴾. [التوبه:۴۹]

يعني: ځيني د دغو منافقانو هغه څوک دي چې وايي: ماته د پاته کېدلو اجازه راکړه او ما د ګمراهۍ په فتنه کې مه اچوه، الله جل جلاله فرمايي: چې خبر اوسه: دوی د ښخوا څخه لا په ګمراهي کې لوېدلي وه او بېشکه چې جهنم خامخا پر کافرانو را ګرځېدونکی دی. نو الله جل جلاله دغه سړي ته د ده د عمل په سبب دا زېری ورکړی چې دوږخ ته تلونکی يې.

او بيا الله جل جلاله خپل معزز او مکرم رسول ﷺ ته په وروستني آيات شريف کې په ډېره نرمه لهجه سره فرمايي: الله عفوه درته کړې ده، ولې دې دغو نفرو ته د پاته کېدلو اجازه ورکړه؟

﴿ عَفَا ٱللَّهُ عَنكَ لِمَ أَذِنتَ لَهُمْ حَتَّىٰ يَتَبَيَّنَ لَكَ ٱلَّذِينَ صَدَقُوا۟ وَتَعْلَمَ ٱلْكَٰذِبِينَ ﴿٤٣﴾ ﴾. [التوبه:۴۳]

الله عفوه درته کړې ده ولې دې دوی ته د پاته کېدلو اجازه ورکړه؟ او ولې دې تر هغو پورې نه پرېښوول چې تا ته هغه کسان معلوم سوې وای چې په دغه خپل عذر کې صادق دي او دروا غجنان دې معلوم کړي وای.

ځينو منافقانو به په خپل منځ کې سره ويل (يا به يې مومنانو ته ويل) اوس په دغه ګرمي کې جنګ ته مه وزئ، صبر وکړئ مېوې به تولې کړو او هوا به هم سړه سي بيا به ووزو، الله جل جلاله د دوی په جواب کې و فرمايل:

﴿قُلْ نَارُ جَهَنَّمَ أَشَدُّ حَرًّا ۚ لَّوْ كَانُوا۟ يَفْقَهُونَ ﴿٨١﴾ ﴾. [التوبه:۸۱]

يعني: اې محمده! ﷺ دوی ته و وايه: د دوږخ اور نسبت و دغې ګرمۍ ته ډېر

(c) ketabton.com: The Digital Library



زيات ګرم دی، که دوی پوهېدلای نافرماني به يې نه وای کړې.

مقصد دا چې د سورة التوبه په ډېرو آياتو کې د منافقانو رد ويل سوی دی. اوس مسلمانان ځانونه آماده کوي د سفر او جنګ دپاره سامان برابروي، مګر ډېر خلک غريبان دي هيڅ شئ نه لري، نه پيسې، نه د سپرېدلو دپاره بوده، نه اسلحه او نه د خوړلو مواد، حتّی د اغوستلو دپاره کالي هم نه لري،

تاسي د مسلمانانو د دغه مسکنت او غريبۍ د حال تصور وکړی، خو پر دغه سربېره بيا هم د هغه وخت د مځکي د مخ د لوی قدرت او طاقت سره جنګيږي، واقعي مسلمانان همېشه هم داسي وي، خبره د قوت او اسلحې نه ده بلکه خبره د ايمان او د الله جل جلاله سره د سودا او معاملې ده، د مسلمانانو قوت د لښکر په ډېر والي او د اسلحې په زياتوالي کي نه دی بلکه د مسلمانانو قوت د دوی په ايمان سره دی.

نو دغه غريب او مسکين خلک و رسول الله ﷺ ته ورغله او ويل: يا رسولَ الله! ځينو غني کسانو ته و وايه چي زموږ سره د سپرلۍ دپاره د يوه بوده يا حيوان او نفقې يا خوراکي موادو مرسته وکړي، موږ غواړو چي ستا سره ووزو مګر هيڅ شئ نه لرو.

ورونو! داخو در ته معلومه ده چي د مدينې منورې او تبوک په منځ کي تقريبًا (۷۰۰) کيلو متره لار ده، خو دغه لار اوس (۷۰۰) کيلو متره ده چي لار او سړکان پاخه او پر عصري ډول جوړ سوي دي، مګر په هغه وختو کي چي لاري کږې وږې وې، غرونه او شېلې وې ممکن تر (۱۰۰۰) کيلو متره هم زياته وه، نو په دغه اندازه اوږده لار چي هم وچه او رېګ وي، د سعودي عربستان په سخته او شديده ګرمي کي پر پښو يا پر اوښانو تګ کول آسانه او معمولي کار نه دی، دا خو يوازي د لاري مشکلات وه، هلته بيا د يوه قوي مملکت سره جنګ او مقابله کيږي، نو رسول الله ﷺ د ځينو کسانو سره مرسته وکړه مګر د پاته نورو کسانو دپاره يې شئ نه درلودی او هغو ته يې جواب ورکړی چي زما سره شئ نسته چي ستاسي مرسته په وکړم، د هغو کسانو د جملې څخه چي رسول الله ﷺ جواب ورکړی او د هغو د سپرلۍ دپاره يې بوده او حيوان نه درلودی يو هم سالم بن عُمير رضي الله عنه او عَمرو بن الحمام رضي الله عنه او داسي نور صحابهٔ کرام وه، دغه خلک چي رسول الله ﷺ ته ورغله او

(c) ketabton.com: The Digital Library


د خپل نه قدرت او مسکنت په سبب یې د رسول الله ﷺ څخه مرسته وغوښته او د رسول الله ﷺ له طرفه هم د شي نه درلودلو په سبب منفي جواب ورکول سو، په ژړا ژړا د رسول الله ﷺ د مجلسه څخه نا امیده رهي سوه او د ژړا سبب یې هم دغه ؤ چې د خپل مسکنت په سبب د جهاد څخه پاته کېدل، الله جل جلاله هغه کسان چې د یوه واقعي عذر په سبب د دغه غزاء او جهاد څخه پاته سوي دي په قرآن مجید کې ذکر کړي دي او د سورةُ التوبه په (۹۱، ۹۲، ۹۳) نمبر آیاتو کې فرمایي:

﴿لَّيْسَ عَلَى ٱلضُّعَفَآءِ وَلَا عَلَى ٱلْمَرْضَىٰ وَلَا عَلَى ٱلَّذِينَ لَا يَجِدُونَ مَا يُنفِقُونَ حَرَجٌ إِذَا نَصَحُوا۟ لِلَّهِ وَرَسُولِهِۦ ۚ مَا عَلَى ٱلْمُحْسِنِينَ مِن سَبِيلٍ ۚ وَٱللَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٩١﴾﴾. [التوبه: ۹۱]

یعني: پر ضعیفه خلکو، پر مریضو خلکو او پر هغو کسانو چې د جهاد او غزاء دپاره خرڅ او نفقه نه سي پیدا کولای په دغه سبب چې دوی د غزاء څخه پاته سوه هیڅ ګناه او حرج نسته، کله چې دوی د الله جل جلاله او رسول الله ﷺ سره اخلاص کوي او زړونه یې صاف وي، پرنېکو کارانو د إلزام او ملامتیا هیڅ لار نسته او الله جل جلاله ښه بخښونکی او د ډیر رحم خاوند دی.

﴿وَلَا عَلَى ٱلَّذِينَ إِذَا مَآ أَتَوْكَ لِتَحْمِلَهُمْ قُلْتَ لَآ أَجِدُ مَآ أَحْمِلُكُمْ عَلَيْهِ تَوَلَّوا۟ وَّأَعْيُنُهُمْ تَفِيضُ مِنَ ٱلدَّمْعِ حَزَنًا أَلَّا يَجِدُوا۟ مَا يُنفِقُونَ ﴿٩٢﴾﴾. [التوبه: ۹۲]

او نسته ګناه په سبب د دغه پاته کېدلو پر هغو کسانو: کله چې دوی تا ته د دې دپاره راغله چې د سپرلۍ دپاره بوده ورکړې او تا ورته و ویل: زه داسي شئ نه سم پیدا کولای چې تاسي پر هغه نقل کړم، دوی په داسي حال کې ولاړل چې تر سترګو یې اوښکي بهېدلې، دوی په دې سبب غمجن وه چې دوی هغه شئ نه کړی پیدا چې په جهاد کې یې خرڅ او مصرف کړي، د جهاد دپاره یې نفقه نه کړه پیدا.

﴿إِنَّمَا ٱلسَّبِيلُ عَلَى ٱلَّذِينَ يَسْتَـْٔذِنُونَكَ وَهُمْ أَغْنِيَآءُ ۚ رَضُوا۟ بِأَن يَكُونُوا۟ مَعَ ٱلْخَوَالِفِ وَطَبَعَ ٱللَّهُ عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ فَهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٩٣﴾﴾. [التوبه: ۹۳]

(c) ketabton.com: The Digital Library



بلکه ملامتیا پر هغو کسانو ده چي دوی اغنیاء دي او د پاته کېدلو اجازه غواړي، دوی په دې راضي سوه چي دوی د پاته کسانو سره وي (چي هغه ښځي او نجوني دي) او الله جل جلاله د دوی پر زړو مهر لګولی دی نو دوی په خپله بده خاتمه نه پوهېږي.

دغه تلاوت سوي آیاتونه یوازي دا نه چي پر منافقانو رد دی بلکه د هغو د شرمولو دپاره یوه شدیده ضربه همده.

کله چي رسول الله ﷺ ولیدل چي ډېر داسي خلک سته چي د تللو نیت او إراده لري مګر د هغو سره د تللو دپاره مال او بوده نسته نو یې په مسجد نبوي کي مسلمانان سره را ټول کړه او د هغو څخه یې وغوښتل چي د دغو غریبو خلکو سره مرسته وکړي، صدقه او د تبرع مال ورته را ټول کړي، رسول الله ﷺ و فرمایل: څوک دغه جیش العُسره مجهز کوي؟ یعني: د دغه غریب لښکر سره څوک مالي مرسته کوي؟ د رسول الله ﷺ په دغه غوښتنه په مسلمانانو کي داسي حال پېښ سو لکه د خیرات او صدقې په ورکولو کي چي په مسابقه کي سوه، هر یو له مسجده وزي او خپل کور ته ځي، هر یو غواړي چي د خپل قدرت پر اندازه هغه د ده سره موجود مال را وړي.

د اصحاب کرامو څخه یوه نفر ډېر مال را وړی، منافقان په مسجد کي ناست دي او نه ولاړل، اوس چي هغه سړي دغه ډېر مال راوړی، ډېر زیات مال ؤ او رسول الله ﷺ په خوشاله سو، منافقانو وویل: دا سړئ ریاء کوي ځان ښکاره کوي، حال دا چي دوی په خپله منافقان دي هیڅ یې نه راوړل او نه یې ورکړه، خو هغه مسلمان چي په خپله خوښه د الله جل جلاله او رسول الله ﷺ د رضاء دپاره مال را وړی دوی ویل: دا ریا کاره دی او بیا وروسته د اصحاب کرامو څخه یو بل نفر چي غریب او مسکین سړئ ؤ شئ یې نه درلودی فقط یوه کاسه خواړه یې را وړل، منافقان بیا په خپل منځ کي سره وایي: دغه یوه کاسه خواړه څه فایده کوي؟ تر دې خو دا بهتره وه چي شئ دي نه وای را وړی، الله جل جلاله دغه موضوع ته هم اشاره کړې ده او په سورة التوبه کي فرمایي:

﴿ ٱلَّذِينَ يَلۡمِزُونَ ٱلۡمُطَّوِّعِينَ مِنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ فِي ٱلصَّدَقَٰتِ وَٱلَّذِينَ لَا يَجِدُونَ إِلَّا جُهۡدَهُمۡ فَيَسۡخَرُونَ مِنۡهُمۡ سَخِرَ ٱللَّهُ مِنۡهُمۡ وَلَهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴾. [التوبه: ۷۹]

(c) ketabton.com: The Digital Library


ژباړه: هغه منافقان چې د مومنانو څخه پر ډیر خیرات کوونکو عیب وايي (مُطوّعِ هغه چا ته ویل کیږي چې ډیر مال په صدقه کې ورکړي) پر دغه مُطوّعينو عیب وايي چې دا ریاء کوي او بل پر هغه بې وزله غریب عیب وايي چې د خپل وَس او قدرت پر اندازه یې لږ مال را وړی، نو رخه یې په وسه نه وه پوره، نو دغه منافقان په دغه سړي پسخند وهي، الله جل جلاله به دوی ته د دغه پسخند او ملنډو سخته جزاء ورکړي او دوی لره درد ناکه عذاب سته. *دا هم د منافقانو د عمل رَد بلکه شدید رَد دی.*

ابوبکر الصدِّیق رضی الله عنه هم له مسجده و وتی چې یو شئ را وړي، عمر فاروق رضی الله عنه هم ولاړ سو غواړي چې یو شئ راوړي، حضرت عمر رضی الله عنه وايي: دغه د مال او صدقې غوښتنه په داسي وخت کي وه چې زما سره مال موجود ؤ او دا اول وار دی چې زه د مال خاوند وم او مال لرم (نو دا زما دپاره یوه موقع وه چې ممکن تر ابوبکر رضی الله عنه د مخه سم) عمر رضی الله عنه وايي: نو مي د ځانه سره و ویل: نن به تر ابوبکر د مخه کېږم، نو حضرت عمر رضی الله عنه د هغه ماله څخه چې د ده سره موجود ؤ نیم مال را وړی، یعني: د ټول هغه مال چې د ده سره موجود ؤ پوره نیم یې را وړی او په صدقه کي یې دغه غریب لښکر ته ورکړی (چې جیش العسره ورته ویل کیږي) رسول الله ﷺ په خوشاله سو د خیر او برکت دعاء یې ورته وکړه، پسله لږه وخته ابوبکر الصدِّیق رضی الله عنه راغلی او خپل ټول مال هرڅه چې یې درلودل هغه یې راوړل او رسول الله ﷺ ته یې کښېښوول، څرنګه چې رسول الله ﷺ ته د ده اقتصادي حال ور معلوم ؤ پوه سو چې خپل ټول مال یې راوړی دی، نو یې و فرمایل: یا ابا بکر! خپل اهل ته دي شئ نه پرېښاوه؟ ابوبکر الصدِّیق رضی الله عنه و ویل: هغوته مي الله او رسول الله پرېښوول، سبحان الله! دا د صدِّیق اکبر صدق او اخلاص، ایمان او یقین ؤ چې رزق د الله جل جلاله له طرفه دی او واقعي توکل یې پر هغه الله ؤ نه پر مال، رسول الله ﷺ د خیر او برکت دعاء ورته وکړه.

حضرت عمر فاروق رضی الله عنه ویلدل: په دغه وخت کي چې ده دا نیت او إراده هم کړې وه چې تر حضرت ابوبکر الصدیق رضی الله عنه به د مخه کېږم، بیا هم نه سو د مخه، نو ویل: یا ابا بکر! والله هیڅ وخت ترتا نه سم د مخه کېدلای او دا هغه د خیر په کارو کي تنافس، مسابقه او مقابله ده لکه الله جل جلاله چې فرمایي:

(c) ketabton.com: The Digital Library


﴿وَفِي ذَٰلِكَ فَلْيَتَنَافَسِ الْمُتَنَافِسُونَ ﴿٢٦﴾﴾ [المطففين: ٢٦]

حضرت عثمان بن عفان ذي النورين رضي الله عنه چي يوه تجارتي قافله يې د شام دپاره جوړه کړې وه په هغه قافله کي دوه سوه اوښه وه، دغه ټول اوښان يې د مال او سامانه سره او دوه سوه اوقيه د سپينو زرو، د دغه جيش العُسره دپاره د رسول الله ﷺ په اختيار کي کېښوول، مګر بيا هم دغه را ټول سوي مالونه د پوره لښکر د مجهز کولو دپاره بس او کافي نه وه، رسول الله ﷺ ډېر لوی خير او صدقه غوښتل چي د ډېرو خلکو ضروريات ورپوره کړي او لوی لښکر جوړ سي.

بيا هم ټول مسلمانان په مسجد نبوي کي سره يو ځای دي، رسول الله ﷺ ولاړ سو په خطبه ويلو يې شروع وکړه او په دغه خطبه سره يې غنيان خلک مقصد وه، ځکه اغنياء کولای سي چي واقعي مرسته وکړي، حتّی د رسول الله ﷺ په وخت او زمانه کي هم دغسي کارونه غنيانو مخ ته بېولای سوای، که څه هم د غريبانو او مسکينانو څخه د خير په کارو کي ګډون او حصه اخيستل په کار دي چي بايد د خپل قدرت پراندازه حصه پکښي واخلي مګر حقيقي او واقعي مرسته اغنياء کولای سي، دوی دي چي په خپل مالي قدرت سره د جهاد، دعوت او د اسلام د نشرولو کارونه مخ ته بېولای سي.

نو رسول الله ﷺ غوښتل چي دغه اغنياء څه مرسته وکړي او وې فرمايل: څوک جيش العُسره ته د جنګ سامان او ضروريات ور برابروي؟ او هغه لره د دغه خير په مقابل کي جنت دی، دا د رسول الله ﷺ له طرفه وعده وه: که چا دغه لښکر مجهز کړی هغه لره جنت دی.

حضرت عثمان بن عفان ذي النورين رضي الله عنه ولاړ سو او ويل: يا رسولَ الله! زه سل اوښه سره د ټولو هغو شيانو چي دغه سل نفره ضرورت ورته لري (لکه اسلحه خوراکه او نور د احتياج سامان) ورکوم، رسول الله ﷺ د خير دعاء ورته وکړه او عثمان رضي الله عنه کښېنستی، څرنګه چي ضرورت تر دغه ډېر زيات ؤ، رسول الله ﷺ بيا و فرمايل: څوک جيش العسره مجهز کوي؟ او هغه لره جنت دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


دوهم وار بیا حضرت عثمان رضی الله عنه ولاړ سو او ویل: سل اوښه د ټولو ضروریاتو سره پرما دي، رسول الله ﷺ د خیر دعاء ورته وکړه، رسول الله ﷺ بیا هغه خبره کوي او په هر وار کي عثمان رضی الله عنه ولاړیږي او سل اوښه د ټولو ضروریاتو سره پر ځان ایږدي، څو (۷) واره ولاړ سو، چي په نتیجه کي د عثمان رضی الله عنه خیرات او صدقه و (۹۰۰) اوښانو او (۱۰۰) آسانو ته ورسېدل، بیله هغه نقدو زرو چي رسول الله ﷺ ته یې ورکړي وه او بیا عثمان رضی الله عنه د سرو زرو زر دیناره راوړل او د رسول الله ﷺ په لمن کي یې ور واچول، رسول الله ﷺ دغه دینارونه سره اړول او عثمان رضی الله عنه ته یې یوه خبره وکړه، تاسي پوهېږئ چي دغه خبره به څومره قیمت او ارزښت لري؟ په والله دغه خبره د ټولي دنیا تر مالو او نعمتو ښه او بهتره ده، رسول الله ﷺ و فرمایل: «مَا ضَرَّ عثمان مَا فَعَلَ بَعدَ الیوم» یعني: عثمان رضی الله عنه چي پسله نن ورځي څخه هر کار وکړي ضرر نه وررسوي، د عثمان رضی الله عنه دغه صدقه د ده د تیرو سوو او را تلونکو ګنهو کفاره سوه.

سبحان الله! دا د صدقې او خیرات فضیلت دی خاصتًا چي د الله جل جلاله د دین د ترقۍ او لوړ والي دپاره مصرفیږي، که د مسلمانانو سره د هغو د غریبۍ او سختیو په وخت کي مرسته وکړي الله جل جلاله به څومره د خیر معامله در سره وکړي، عبدالرّحمٰن بن عوف رضی الله عنه د سپینو زرو دوه سوه اوقیه راوړل، حضرت عبّاس رضی الله عنه ډیر مال را وړی، طلحه، سعد بن عُباده، محمّد بن مسلمه ټولو صحابهٔ کرامو یو په بل پسي مالونه را وړل، عاصم بن عدي رضی الله عنه (۹۰) وثقه خرما را وړه (وثق لکه خروار) هر یو د خپل قدرته سره برابر یو څه را وړي، حتّٰی ځیني خلک چي څه یې نه درلودل دوې درې لپې خواره به یې را اخیستي وه.

ښځو د خپله قدرته سره موافق خپلي ګېڼې را لېږلې، چا والي، چا غاړکۍ، چا پای زېبونه، چا انګشترۍ رالېږل، هیچا پر خپل مال لاس و نه نیوی او نه یې بُخل وکړی بېله منافقانو، مال خو یې نه راوړی بلکه لغازونه یې لا هم ویل چي دې ریاء وکړه! او د دې دغه لږ مال ته هیڅ ضرورت نه ؤ او داسي نوري خبري.

په دغه وخت کي چي دلته د لښکر د جوړولو او وتلو آمادګي نیول کیږي ځیني صحرایي عرب و رسول الله ﷺ ته راځي او د نه تللو دپاره عذرونه وایي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



رسول الله ﷺ هم د دوی عذرونه قبلول ځکه رسول الله ﷺ پوهېدی کوم خلک چي په دغسي وخت کي عذرونه وايي اصلاً په هغو کي خير او فايده نسته لو نه له دويه ځخه ګټه اخيستل کېدلای سي، ډېرو خلکو عذرونه او بهانې جوړي کړې او پاته سوه.

رسول الله ﷺ خپل لښکر د مديني منورې څخه وايستی او ترمدينې منورې دباندي يې خېمې ودرولې او هلته يې د هغو خلکو انتظار کاوه چي د دغه غزاء دپاره پسي ور وتل، رسول الله ﷺ ته ډيرش زره نفره راټول سوه، دا اول وار دی چي د مسلمانانو لښکر ديرشو زرو نفرو ته رسيږي.

لکه مخکي چي وويل سوه دغه غزاء د هجرت د نهم کال د رجب په مياشت کي وه او تر دغه لس مياشتي د مخه د هجرت د اتم کال د روژې په مياشت کي مکه مکرمه فتحه سوه چي په هغه وخت کي د رسول الله ﷺ سره لس زره نفره وتلي وه، نو د يوه کال بلکه د لسو مياشتو په جريان کي د مسلمانانو د لښکر شمېر ديرشو زرو نفرو ته ورسېدی، کله چي رسول الله ﷺ د خپل لښکره سره تر مدينې منورې دباندي خېمې و درولې، رئيس المنافقين عبدالله بن اُبیٔ د خپلو منافقو ملګرو سره هم ور ووتی او هلته يې جلا خېمې و درولې، د رسول الله ﷺ او د مسلمانانو د خېمو سره يې نه واړول بلکه د خپل ځان دپاره يې په بله منطقه کي جلا خېمې و درولې او خلک تشويقوي چي د دوی سره واړوي، ځينو خلکو هم د دوی سره واړول.

کله چي رسول الله ﷺ د تبوک و طرف ته حرکت کاوه عبدالله بن اُبیٔ وويل: دغه اوس د ګرمۍ وخت او د حاصلاتو موسم دی دا وخت د وتلو دپاره نه دی مناسب، چي مېوې پخې سوې او هوا يخه سوه بيا به ووزو، دغه منافق دا کار قصداً کوي غواړي چي نور خلک هم د ده د خبرو تر تاثير لاندي سي او پاته سي، د رسول الله ﷺ لښکر د تبوک پر طرف حرکت وکړی او عبدالله بن اُبیٔ د خپلو نورو منافقانو په ملګرتيا د مديني منورې پر طرف رهي سو، نو د اُبیٔ زوی منافق عبدالله په دې غزاء کي ګډون او اشتراک و نه کړی، دیٔ او د ده ملګري منافقان ټول پاته سوه.

کله چي رسول الله ﷺ د تبوک پر طرف حرکت کاوه محمّد بن مسلمه رضي الله عنه يې پر مدينه منوره حاکم پرېښاوه او د خپلي کورنۍ د سر پرستۍ دپاره يې د ځان نائب او

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلیفه حضرت علي رضي الله عنه پرېښاوه، دلته بیا منافقانو یوه آوازه واچول، هغه دا چې دوی به ویل: رسول الله ﷺ چې علي رضي الله عنه پرېښاوه د هغه سبب دا ؤ چې د علي رضي الله عنه زړه نه غوښتل چې دغه غزاء ته ووزي، دغه آوازه په خلکو کي دومره نشر سوه چې تر علي رضي الله عنه پوري ورسېدل، معلومه خبره ده چې په دغه آوازه سره حضرت علي رضي الله عنه خواشینی سو، نو یې خپله اسلحه واخیستل او په لښکر پسي ور رهي سو او هلته ور ورسېدی، رسول الله ﷺ چې ولیدی ویل: یا علي! ولي را و وتې؟ آیا ما ته د ځان خلیفه و نه ګرځولې؟ علي رضي الله عنه و ویل: یا رسولَ الله! خلکو ویل: تا زه په دې سبب پرېښوولم او د ځان خلیفه دي وګرځولم چې په ماکي دي دروندوالی او کاهلي ولیدل، رسول الله ﷺ و فرمایل: هیڅکله داسي نه ده آیا ته نه یې راضي چې ما ته په هغه درجه کي سې لکه هارون چې و موسی ته ؤ؟ علیهما السلام، مګر ترما وروسته نبي نسته، چې د حدیث شریف لفظ داسي دی:

«أَلَا تَرْضَى أَنْ تَكُونَ مِنِّي بِمَنْزِلَةِ هَارُونَ مِنْ مُوسَى إِلَّا أَنَّهُ لَيْسَ نَبِيٌّ بَعْدِي» [متفق علیه]

کله چې موسٰی علیه السلام د الله جل جلاله د ملاقات دپاره ولاړی هارون علیه السلام چې د ده ورور ؤ د ځان خلیفه یې وګرځاوه، چې د موسٰی علیه السلام په غیاب کي د بني اسرائیلو دکارو مسئوله وي، خو رسول الله ﷺ په دغه خپل قول کي یوه مهمه جمله د دې دپاره پر زیاته کړه چې خلک د رسول الله ﷺ د قوله ښخه بده استفاده و نه کړي یا غلط مقصد ځني وانه خلي، هغه دا: کله چې موسٰی علیه السلام هارون علیه السلام د ځان خلیفه وګرځاوه په خپله هارون علیه السلام هم نبي ؤ، نو به خلکو دا ویلای چې علي رضي الله عنه هم په دغه حدیث او په دغه مثال سره نبي دی، خو رسول الله ﷺ د دغه اشتباه د لیري کولو او پورته کولو دپاره پر هغه خپل قول دا جمله هم زیاته کړه چې وې فرمایل: مګر ترما وروسته نبي نسته، یعني: هو، ته ما ته په هغه درجه کي یې کوم چې هارون علیه السلام و موسٰی علیه السلام ته ؤ، فقط د نائب او خلیفه پر اندازه مګر نبي نه یې.

نو حضرت علي رضي الله عنه په دغه خبره راضي سو او بیرته مدینې منورې ته وګرځېدی، د رسول الله ﷺ په امر په مدینه منوره کي پاته سو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



رسول الله ﷺ د پنجشنبې په ورځ د مدينې منورې د شمال پر طرف د تبوک په نيت په داسي حال کي حرکت وکړی چي ډېر لوی لښکر ور سره دی. ديرش زره نفره دي، تر دې د مخه هيڅکله د مسلمانانو لښکر په دومره شمېر او ډېرواله نه ؤ وتلی. سره د هغه چي مسلمانانو خپل مالونه د دغه لښکر د تجهيزاتو او سامانو د پوره کولو دپاره په پوره صدق او اخلاص سره وښندل خو بيا هم په لښکر کي د اوښانو او نفقې ډېره سخته کمي او لږوالی وو، تر داسي اندازې چي اتلس نفره به په يوه اوښ سره شريکان وه خپل د ضرورت سامان به يې پر بار کړی ؤ، ځيني به په نوبت سپرېدل او ځانونه به يې هوسا کول او ډېر ځله په لار کي د ونو د پاڼو وخوړلو ته اړ سوه، حتّٰی چي د پاڼو د خوړلو څخه يې شونډان وپړسېدل نو ځکه دغه لښکر ته (جيش العُسره) ويل کيږي.

او د هغو اصحاب کرامو څخه چي په صدق او ايمان سره مشهوره وه تقريبًا يوولس نفره پاته سوه او دې غزاء ته نه و وتل، چي د هغو د جملې څخه يو هم ابو خَيثُمه ﷺ ؤ.

لښکر حرکت وکړی او رهي سو، ابو خيثمه ﷺ وايي نن پسي ځم سبا پسي ځم، په دغه نن او سبا کي لښکر ډېر ليري ولاړی او ابو خَيثُمه ﷺ پاته سو، ابو خيثمه ﷺ دوې ښځي درلو دې څرنګه چي موسم د ګرمۍ ؤ په دغه وخت کي دوی په خپلو باغو کي ژوند کاوه او هري ښځي يې هلته هغه د دوی په باغ کي د خپل ځان دپاره عريش درلودی (عريش) په عربي کي و بې سره منا ته ويل کيږي، يا بې سره خېمه، چي شا وخوا يې پردې را ګرځولي وي او سرېې لڅ وي، دغه ته عريش وايي.

نو يوه ورځ ابو خيثمه ﷺ کورته راغلی، وې ليده چي دواړو ښځو يې د عريش پرشا وخوا مځکه د اوبو په پاشلو يخه کړې ده او په دغه وخت کي هغه نوی ګل ميوه هم رسېدلې وه، يعني: هغه اولي مېوې پخ سوي وې دغه مېوې هم پرتې دي، ابوخَيثُمه کور ته ورغلی مځکه آب پاشي ده، د څښلو دپاره يخي سوي اوبه پرتې دي، اول ګل ميوه راوړه سوې ده د خوړلو دپاره خواړه تيار دي، دواړو ښځو يې د هغه وخت فېشن کړی دی، لباس او ځانونه يې پاک کړي دي، ابو خيثمه ﷺ چي دا حال وليدی د خپل ځانه سره يې و ويل: سبحان الله! يا ابا خيثمه! ته په سايه او يخو اوبو کي يې، د دوو ښځو په منځ کي يې، شا وخوا مېوې درته پرتې دي او

(c) ketabton.com: The Digital Library


رسول الله ﷺ په دښت او ګرمي کي، په سفر او مزلو کي، په لوږو او تندو کي دی. آيا دا عدل او انصاف دی؟ دا څنګه کېدلای سي چي يو سړئ دي مومن او مسلمان وي اوپه دې ګ‌ړدي راضي وي؟ د پښتو او پښتنو لوی شاعر حميد بابا وايي:

سزا وار د هر ستم او هر پيغور يم چي مي يار په سفر تللی زه پر کور يم

نو ابو خيثمه ﷛ قسم ياد کړی ويل: والله دغه عريش ته نه در ننوزم تر څو زما د سفر دپاره بوده او خوراکه را برابر نه کړی چي په رسول الله ﷺ پسي رهي سم. واقعاً هم ابو خيثمه ﷛ هغه عريش ته نه ورغلی څو د ده د سفر دپاره بوده او خوراکه برابر سوه او سمدستي په رسول الله ﷺ پسي رهي سو، عادتاً لښکر چي څه تګ او مزل وکړي بيا په يوه ځای کي د راحت دپاره اړوي، مګر ابو خيثمه ﷛ ښه اشد ضرورته نه اړوي او نه پاته کېږي پرله پسې تګ کوي. (ابوخيثمه ﷛ دغه د تګ په حال کي پرېږده)

د رسول الله ﷺ دا عادت ؤ چي په لښکر کي به ګرځېدی د خلکو د حالاتو معلومات به يې کاوه، دا ور معلومېدل چي څوک پاته دي؟ يا د لښکر څخه څو به څوک نه وي ورک سوی يا پاته سوی؟

زمونږ دپاره دا هم يوه د غور او دقت موضوع ده چي رسول الله ﷺ ته دا ور معلومېدل چي د ديرشو زرو نفرو څخه څوک سته او څوک نسته؟ څوک خوبه ورک سوی يا پاته سوی نه وي؟ او که به څوک نه وو موجود د هغه طلب به يې کاوه چي څه سو کوم تکليف خو به په لار کي نه وي ورته پېښ سوی؟ دا د رسول الله ﷺ د خپلو اصحابو پر ساتنه او سلامتيا حرص او کوښښ ؤ.

نو رسول الله ﷺ ته دا ورمعلومه سوه چي په لښکر کي ابو خيثمه، کعب بن مالک، هلال بن اُميه، مراره بن ربيع او د اصحاب کرامو څخه څو نفره نور نسته، خلکو پر دغه پاته سوو خلکو عيب ويل شروع کړه، رسول الله ﷺ و فرمايل: عيب مه پر واياست، هر يو که په دوی کي ښه او د خير سړئ ؤ هغه به الله جل جلاله را ولي او که بل قسم وه الله جل جلاله غني فارغه او ښغمه کړلاست، خلک په دغه خبرو کي وه چي د ليري څخه يې يو نفر وليدی چي پر اوښ سپور دی او په لښکر پسي را رهي دی، دا معلومه خبره ده چي د ليري څخه څوک نه پيژندل کيږي نو هر يوه د ځانه څخه ګمان کاوه چي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا به فلانئ وي، هغه بل به ویل: یا! فلانئ یې بولم، بل به ویل: ښایي فلانئ وي، رسول اللهﷺ و فرمایل: کُن ابا خیثَمه، پسله لږه وخته هغه نفر را نژدې سو. خلکو ویل: یا رسولَ الله! هو دغه سړئ ابو خیثمه دی، خیر ابو خیثمه لښکر ته را و رسېدی د رسول اللهﷺ سره یې ولیدل، خو رسول اللهﷺ ورته په قهر ؤ او شدیده خبره یې ورته وکړه، هغه دا چي وې فرمایل: «أو لا لکَ یا ابا خیثمه! أولا لکَ یا ابا خیثمه!» ابو خیثمه عذر وایي خو رسول اللهﷺ په تکرار سره دغه جمله ورته وایي: أولا لکَ یا ابا خیثمه! مفسرین د (أولا لکَ) ترجمه داسي کوي: هلاک ته یې نژدې کړې یا ابا خیثمه!، یعني: قریبه وه چي هلاک سې که د الله جل جلاله رحم نه وای دربانديسوی.

او بیا نبي الرّحمهﷺ عفوه ورته وکړه بلکه د خیر دعاء یې هم ورته وکړه نو ابو خیثمهرضی الله عنه د دغه خپل عدل او صحي قضاوت د برکته د الله جل جلاله له عذابه خلاص سو.

لښکر رهي دی په لار کي حِجر ته ورسېدل (حِجر) د یوه ځای نوم دی چي مدائن صالح هم ورته ویل کیږي او دغه ځای د صالح علیه السلام د قوم چي ثمودیان دي د استوګني ځای ؤ، رسول اللهﷺ تر دغه حِجر دباندي خېمې و درولې، اوس د مسلمانانو سره اوبه هم نسته نو مسلمانان ولاړل د هغه څاهانو څخه یې اوبه راوړې چي په دغه حِجر کي موجود وه، په دغو اوبو سره یې اوړه خشته یا لانده کړه او نور هم د خپل ضرورت دپاره دغه اوبه استعمالوي، رسول اللهﷺ ته معلومات نه وه چي دغه اوبه یې له کومه ځایه راوړي دي، بیا په وروسته کي معلومات ورته وسوه چي دغه اوبه د حِجر یا مدائن صالح څخه را وړل سوي دي، رسول اللهﷺ په قهر سو، ځکه هغه قوم چي دلته اوسېدی هغه ثمودیان وه او پر هغو د الله جل جلاله قهر او غضب نازل سوی ؤ، د الله جل جلاله لعنت پر سوی ؤ او الله جل جلاله د دوی په کورو او ځایو کي اوسېدل منعه کړي وه، الله جل جلاله فرمایي:

﴿وَسَكَنتُمْ فِي مَسَاكِنِ الَّذِينَ ظَلَمُوا أَنفُسَهُمْ وَتَبَيَّنَ لَكُمْ كَيْفَ فَعَلْنَا بِهِمْ وَضَرَبْنَا لَكُمُ الْأَمْثَالَ ﴿٤٥﴾﴾. [ابراهیم: ۴۵]

ژباړه: تاسي د هغو کسانو په کورو کي اوسېدلاست چي پر خپلو ځانو یې په کفر

(c) ketabton.com: The Digital Library


او ګنهو سره ظلم کړی ؤ او تاسي ته معلومه او ښکاره سوه چي موږ په هغو څنګه کار وکړی یا څه وکړل او تاسي ته موږ مثالونه بیان کړي دي.

نو ځکه رسول الله ﷺ د دغه قوم د هر شي استعمالول منعه کړه، که د دوی اوبه وې که کورونه، رسول الله ﷺ امر وکړی چي تبوله هغه اوبه چي د حِجر څخه مو را وړي دي چپه او توی کړی او هر هغه اوړه چي د حِجر په اوبو خشته یا لانده سوي دي اوښانو ته یې ورکړی د هغه څخه دي مسلمانان خورک نه کوي او بیا رسول الله ﷺ له دغه ځایه څخه د بارېدلو امر وکړی او وې فرمایل: که تاسي د هغو خلکو د کورو سره تېرېدلاست چي پر خپلو ځانو یې ظلم کړی دی چابک تېرېږی، مخان مو پټ کړی او ژاړی، دپاره د دې چي تاسي په هغه مصیبت او آفت اخته او مبتلا نه سی کوم چي دوی په اخته سوي وه.

نو زموږ دپاره دا سنت سوه او سنت دي چي پر هغه قوم یا هغه منطقه تېرېږو کوم چي د الله جل جلاله عذاب پر نازل سوی وي، خسف سوي یا هلاک سوي وي، موږ باید تر هغه ځای ژر او په چابکي سره تېر سو، مخان پټ کړو او دا دعاء وایو:

«اللّٰهمّ لاَ تَجعَلنِي مِنَ القَومِ الظّالِمِينَ»

ژباړه: الٰهي ما د ظالمانو له قومه مه ګرځوې.

خیر لښکر تر حِجر تېر سو مګر اوس اوبه نه لري، هغه اوبه چي یې له حِجره را وړي وې هغه د رسول الله ﷺ په امر چپه او توی سوې، مسلمانان د اوبو د نه درلودلو په سبب په تکلیف سوه، نو رسول الله ﷺ ته په شکایت ورغله ویل: یا رسول الله! هیڅ اوبه نه لرو (دیرش زره نفره لښکر دی او اوبه نه لري) رسول الله ﷺ دعاء وکړه، اصحاب کرام وایي: والله په آسمان کي هیڅ اوریځ نه وه خو اوریځي پیدا سوې او سره یو ځای سوې، باران په اورېدلو شروع وکړه صحابهٔ کرامو غسلونه وکړه اوبه یې وښبلې او خپل لوښي یې ټوله په ډک کړه او بیا چي دوی له دغه ځایه رهي سوه پر ټوله لار باران نه ؤ سوی بېله هغه ځایه چي دوی هلته اړولي وه، الله لره دي پاکي وي فقط د دوی د ضرورت د پوره کولو دپاره یې باران پر و اوراوه او نوره ټوله لار روچه وه، دا هم د رسول الله ﷺ د معجزو څخه یوه معجزه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library


امام احمد د ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت کوي چې وايي: د تبوک په غزاء کې د خلکو خوراکي مواد خلاص سوه او په لوږه اخته سوه، نو ویل: یا رسولَ الله! که ته اجازه را ته وکړې چې موږ د خپلو اوښانو څخه ځیني حلال کړو او وې خورو.

تاسي ته د مسلمانانو د اوښانو لږوالی هم درمعلوم دی چې څو نفره به د خپلو سامانو د وړلو دپاره په یوه اوښ شریکان وه او اوس د لوږي څخه د دغو اوښانو د حلالولو اجازه غواړي، رسول الله ﷺ و فرمایل: حلال یې کړی، حضرت عمر رضي الله عنه و ویل: یا رسولَ الله! که دوی اوښان حلال کړي د سامانو د وړلو دپاره مو حیوانات لږیږي، ته دوی امر کړه چې هغه لږ خواړه کوم چې د دوی سره پاته دي هغه دي راوړي او بیا ته د برکت دعاء ورته وکړه، ښایي الله جل جلاله دغه د دوی په خوړو کې برکت واچوي، رسول الله ﷺ هم امر وکړی چې یو فرش آوار کړی او ویل: ستاسي سره چې کوم خواړه پاته دي هغه راوړی، چا یو مُټ جواري را اخیستي وه، چا یو مټ خرما را وړل، چا د ډوډی یوه ټوټه را اخیستې وه پر دغه فرش یې ایږدې، څو پر دغه فرش د خوړلو لږ شیان کېښوول سوه، د ټول لښکر سره دغه پاته وه، بیا نو رسول الله ﷺ دعاء وکړه او د لښکر خلکو ته یې و ویل: په خپلو لوښو کې دغه خواړه وړی، هر یو راځي خپل لوښی ډکوي او ځي، ترڅو په لښکر کې داسي لوښی نه سو پاته چې ډک یې نه کړی او ټولو هم ترماړه نسه وخوړل، خو بیا هم پر دغه فرش خواړه پاته وه، رسول الله ﷺ و فرمایل: «أشهد أن لا إله إلا الله وأني رسول الله» هر بنده چې په دغه کلمه کې شک و نه لري د الله جل جلاله سره به نه سي ملاقي چې د هغه څخه دي جنت پټ کړل سي، یعني: هر هغه څوک چې پر دغه کلمه په صدق او اخلاص سره ایمان ولري هغه به جنت ته ځي (البته د ګنهو تر جزاء وروسته) دا هم د رسول الله ﷺ معجزه وه.

ورونو! تاسي کولای سی چې د دغه کتاب څخه د رسول الله ﷺ معجزې را وباسی او په یوه خاصه کتابچه یا دفتر کې یې جلا و لیکی، نو به د رسول الله ﷺ د معجزو یوه ډیره لویه مجموعه ولری. که څه هم علماء کرامو د رسول الله ﷺ د معجزو یو خاص کتاب لیکلی دی او په کتاب پلورنځیو کې پیدا کیږي.

خیر لښکر د تبوک پر طرف رهي دی خو ابو ذر رضي الله عنه کرار کرار د لښکر څخه تر شا

(c) ketabton.com: The Digital Library


پاته کيږي، څو دومره تر شا سو چي نور نو نه معلومېدی. کله چي رسول الله ﷺ د لښکر د افرادو معلومات کاوه چي څوک نسته يا څوک پر لار پاته سوي دي؟ معلومه سوه چي ابو ذر رضي الله عنه په لښکر کي نسته، ځينو کسانو پر ابو ذر رضي الله عنه عيب ويل شروع کړه. ويل: زموږ سره ؤ او تر شا پاته سو دنيا ورکش کړی، رسول الله ﷺ و فرمايل: داسي مه واياست که په ده کي خير ؤ الله جل جلاله به يې را ولي او که غير له دغه څخه ؤ الله جل جلاله ځني خلاص او فارغه کړلاست.

اوس نو ابو ذر رضي الله عنه ته څه پېښه ده چي تر شا پاته سو؟ هغه دا چي هغه د ده اوښه چي دئ پر سپور ؤ ناجوړه او ناروغه سوه، کرار کرار ځي، ابو ذر رضي الله عنه چي هر څه کوښښ وکړي چي اوښه يې د لښکر سره يو ځای ولاړه سي خو هغه ناروغه ده نه سي تلای، نو خود کرار کرار تر شا کېدی څو تر سترګو نهام سو، بالآخره اوښه داسي حال ته ورسېدل چي هيڅ نه سي تلای (پرېوتل) ابو ذر رضي الله عنه هر څه کوښښ کوي چي ولاړه يې کړي خو هغه د ولاړو نه ده او پياده تګ هم سخت او مشکل دی ځکه تبوک ډير ليري دی، اوس ابو ذر رضي الله عنه په حيرت کي دی چي بيرته مديني منورې ته ولاړ سم او که پر پښو په لښکر پسي رهي سم؟ خو دواړه کاره سخت او مشکل دي، ځکه که مديني منورې ته ولاړ سي د جهاده څخه پاته سو او که په لښکر پسي پياده ځي ډيره زياته لار ده او دغه سامان چي ور سره دی څه به وکړي؟ خو په آخر کي ابو ذر رضي الله عنه دا فيصله وکړه چي په لښکر پسي به پياده ځم، اوښه يې پر دغه ځای پرېښوول، هغه سامان او خوراکي شيان چي پر اوښه بار وه دومره يې ور سره واخيستل چي ده وړلای سوای نو پلنده په شا په لښکر پسي پياده رهي سو، نور ټول لښکر سپاره دي، هو ځيني اوښان داسي وه چي يو اوښ به په څو نفرو شريک ؤ، خو لږ تر لږه د دغو نفرو سامان به پر هغه اوښ بار ؤ او يوه يوه به په نوبت سره خپل ځان هم هوسا کاوه، خو پر مخ پياده نفر په لښکر کي نه ؤ موجود چي خپل خواړه دي يې هم پر اوږو ور سره اخيستي وي بيله ابوذر رضي الله عنه څخه چي پياده په لښکر پسي رهي دی او پلنده يې هم په شا ده، لښکر پر لاري د استراحت دپاره اړوي خو ابو ذر رضي الله عنه پر له پسي تګ کوي آرام او استراحت نه کوي غواړي چي د رسول الله ﷺ په ملګرتيا جهاد وکړي او له جهاده پاته نه سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو لښکر ته ور نژدې سو، خلکو د لیرې څخه ولیدل چې یو نفر ترشا پیاده او پر پښو پسې ور رهي دی، خلک په تعجب کې سوه چې په دې ګرمي او وچ دښت کې یو نفر څنګه پر پښو په دوی پسې ور رهي دی؟ د خلکو څخه هر یو وایي: دا به فلانئ وي یا به فلانئ وي، خو رسول الله ﷺ و فرمایل «کُن أبا ذر» کُن په عربي کې د امر لفظ دی یعني: ابا ذر سه، مګر دلته مقصد دعاء ده یعني: الله دې وکړي چې ابو ذر وي او هغه هم ابو ذر رضی الله عنه ؤ او په لښکر پسې ور ورسېدی، رسول الله ﷺ ته یې د خپلې اوښې د ناروغۍ او ناجوړۍ حال ووایه، رسول الله ﷺ دعاء ورته وکړه او وې فرمایل:

« رَحِمَ اللّٰهُ أبا ذر يَمشِي وَحدَهُ وَ يَمُوتُ وَحدَهُ وَ يُبعَثُ وَحدَهُ » [مستدرک]

یعني: الله جل جلاله دې پر ابو ذر رضی الله عنه ورحمېږي یوازي تګ کوي او یوازې به مري او د قیامت په ورځ به یوازې را پاڅول کیږي. دا د ابو ذر رضی الله عنه درجه او مقام دی، یعني: دئ رضی الله عنه په خپله لکه یو امت د قیامت په ورځ به جلا او یوازې را پاڅول کیږي.

ورځې او کلونه تېرېدل د حضرت عثمان رضی الله عنه د خلافت په وختو کې ابو ذر رضی الله عنه په (ربذه) کې تنها ژوند کاوه، ربذه د مدینې منورې پر شا وخوا یوه منطقه ده او ابو ذر رضی الله عنه هلته یوازې اوسېدی. د خلکو سره د ده ژوند په تکلیف ؤ، یا دا چې خلکو د ده سره ژوند نه سوای کولای ځکه دئ رضی الله عنه د حق په ویلو کې ډیر صریح ؤ د هرې موضوع په باره کې یې په ښکاره او واضحه الفاظو حق بیاناوه، خلکو دغه د ده حق ویل نه سوای زغملای خو دئ رضی الله عنه دې ته مجبوره سو چې یوازې و اوسیږي، نو هلته په ربذه کې یوازې اوسېدی، فقط یو دئ، یوه یې ښځه او یو یې کوچنئ مریئ ؤ او هلته په تنهایي کې یوازې وفات سو، د ده د وفات په وخت کې دئ پوهېدی چې ښځه یې نه سي ښخولای او هغه هم سپین سرې وه نو یې خپلې ښځې ته وویل: که زه مړ سوم پسله غسل او کفنه مې د مدینې منورې پر دغه عمومي لار کښېږده ښایي یوه قافله به تیرېږي و هغوته وو وایاست: دا د رسول الله ﷺ ملګری ابو ذر دی، هغه د قافلې خلک به مې ښخ کړي او بیا وفات سو، ښځې او مریي هم پسله غسله او کفنه دغه د ده جسد پر هغه عمومي لار کښېښاوه چې له عراقه و مدینې منورې ته راتله، په دغه وخت کې د عراق له

(c) ketabton.com: The Digital Library

لوري يوه قافله راغله چې عبدالله بن مسعود رضي الله عنه هم ور سره ملګرى ؤ، د قافلې خلکو وليدل چې د لارې په منځ کې يوه جنازه پرته ده، هغه کوچنۍ مريۍ ور ولاړ سوا و ويل: دغه جنازه د رسول الله ﷺ د ملګري ابو ذر ده په ښخېدلو کې يې مرسته را سره وکړى، عبدالله بن مسعود رضي الله عنه چې ژړل يې و ويل: زه شاهدي آداء کوم چې ما د رسول الله ﷺ څخه واورېدل چې وې فرمايل:

«رَحِمَ اللّٰهُ أباذر يَمشِي وَحدَهُ وَ يَمُوتُ وَحدَهُ وَ يُبعَثُ وَحدَهُ».

يعني: الله دي پر ابو ذر و رحمېږي يوازي تګ کوي او يوازي به مري او د قيامت په ورځ به يوازي را پاڅول کيږي.

او بيا د قافلې خلکو ښخ کړى، دا په دنيا کې د ابو ذر رضي الله عنه درجه وه او په آخرت کې ده رضي الله عنه لره خاصه درجه او مقام سته چې يوازي به را پورته کيږي.

خير د مسلمانانو لښکر د تبوک طرف ته رهي دى اوس چې تبوک ته ور نژدې سوه رسول الله ﷺ و فرمايل: سبا به إن شاء الله تعالٰی د تبوک و چينې ته ورسېږى چې (وَشَل) ورته ويل کېده، وشل په لار کې يوه لويه ډبره وه چې د هغې څخه لږ اوبه را څڅېدې، دومره لږ اوبه چې په څاڅکو يا قطرو ځني را تويېدې چې هغه جمعه سوي او يو ځاى سوي اوبه فقط د څو نفرو بسېدې، نو رسول الله ﷺ و فرمايل: موږ په لار کې پر دغه وشل ورځو او هلته تر هغو نه سى ور رسېدلاى ترڅو چې ورځ پخه نه سي، يعني: ښه لمر را پورته نه سي، او که يو څوک تر موږ د مخه هلته ور ورسيږي له دغو اوبو څخه دي شئ نه اخلي ترڅو زه ور رسېږم، دا خبر په لښکر کې نشر سو او ټول خلک په خبر سوه چې موږ په لار کې پر وشل ورځو او که څوک د مخه ور و رسيږي اوبه دې نه اخلي، معاذ بن جبل رضي الله عنه وايي: په سبا کې موږ هغه ځاى ته ورغلو خو تر موږ د مخه دوه نفره هلته ورغلي وه، موږ چې ور و رسېدلو د وشل څخه لږ لږ اوبه را څڅېدې او هغه نوري جمعه سوي اوبه دغو دوو نفرو اخيستي وې، رسول الله ﷺ د دغو دوو نفرو څخه پوښتنه وکړه چې آيا تاسي د دغو اوبو څخه څه اخيستي دي؟ هغو ويل: هو، رسول الله ﷺ ته قهر ورغلی او ويل لَعَنَهُمُ الله آيا ما نه وه ويلي: که څوک تر موږ د مخه ور و رسېدى د اوبو څخه دي شئ نه اخلي؟ او بيا يې دغه څاڅکو ته انتظار

(c) ketabton.com: The Digital Library



کاوه خو لږ اوبه سره جمعه سوې، رسول الله ﷺ په دغو اوبو خوله، لاسونه او مخ پرېوله او پر دغه ډبره یې توی کړې. خلک ورته ګوري وايي موږ په دغه ډبره کي داسي آواز اورېدی لکه د رَعَد یا تالندي غرمبهاری او بیا ډبره و چاودل. د اوبو یوه چینه ځني را ایله سوه، خلکو دغه اوبه وڅښلې او خپل لوښي یې په ډک کړه. رسول الله ﷺ و فرمایل: لَعَنَهُمُ الله که یې هغه اوبه پرې ایښي وای په جزیرةُ العرب کي به یوه لویه واله یا نهر بهېدلای، معاذ رضي الله عنه وايي: بیا رسول الله ﷺ را ته و ویل: یا معاذ! که چیري ستا ژوند اوږد سو ته به و ویني چي دغه شېله او منطقه به په باغو ډکه وي.

اوس د تبوک او د هغه د شا وخوا ټول باغونه او زراعت د دغه وشل ځخه دي او که هغو دوو نفرو هغه اوبه پرې ایښي وای بیا به په جزیرةُ العرب کي یوه لویه واله بهېدلای.

د تبوک په لار کي یا په خپله په تبوک کي (دغه دوه روایته دي) چي څوک وايي په لار کي او څوک وايي: کله چي تبوک ته ورسېدلو، رسول الله ﷺ و فرمایل: نن شپه پر تاسي ډېر شدید باد را الوزي نو هیڅوک دي نه ولاړېږي او که اوښ ور سره وي د هغه ځنګون دي ټینګ وتړي چي ولاړ نه سي ، واقعًا هم د شپې باد را والوتی، له ټوله لښکره یو سړئ په دغه باد کي ولاړ سو، باد دغه سړئ په هوا کړی او د طئ په غرو کي یې وغورځاوه، د دغه حدیث روایت امام بخاري او امام مسلم کوي.

## په تبوک کي د اسلامي لښکر اړول

تبوک چي یو کوچنئ کلی او د روم مځکه وه، رسول الله ﷺ او اسلامي لښکر دلته واړول دلته یې خېمې و درولې او د ځان معسکر یا قرارګاه یې وګرځاوه، مسلمانان د دښمن د مقابلې دپاره تیار او آماده دي، رسول الله ﷺ د خپل لښکر په منځ کي ودرېدی او په خطبه ویلو یې شروع وکړه، ډېري مختصري او معنٰی درلودونکي جملې یې و ویلې، مسلمانان یې د دنیا او آخرت و خیر ته تشویق کړل، په دغه خطبه سره یې د مسلمانانو معنویات او روحیات لوړ او ورپورته کړل، په مسلمانانو کي چي کومه مادي کمبودي موجوده وه لکه د خوراکي موادو، اسلحې، نقلي وسائلو او داسي نور، هغه نُقص او خلل یې په دغه خطبه سره ورپوره او جبیره کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


مګر رومیانو او د هغو متحدینو چې د رسول الله ﷺ د راتلو خبر واورېدی، په زړو یې ېېره ننوتل دا جرئت یې سلب او د زړو څخه ایسته سو چې د مسلمانانو د جنګ دپاره خپلې لښکري تبوک ته را ولېږي، کوم لښکر چې یې سره یو ځای کړی ؤ هغه هم دننه په خپلو حدودو او په ښارو کې سره وپاشل سوه، دې کار دننه په جزیرةُ العرب او دباندی شا وخوا کې د مسلمانانو پر عسکري شهرت ډېر ښه اثر وکړی. په دغه کار سره چې روم د اسلامي لښکر مقابله ونه کړه مسلمانانو ډېري لويي او ګټوري داسې سیاسي ګټې لاس ته راوړې، که فرضاً هلته جنګ او مقابله هم سوي وای او کامیابي د مسلمانانو وای ښايي مسلمانانو په دغه اندازه سیاسي شهرت او ګټې لاس ته نه وای را وړې ځکه یو جنګ ؤ وسو، مګر دا چې روم د خپل قوت او طاقته سره سره وتښتېدی او مقابلې یا جنګ کولو ته هیڅ نه سو حاضر دا ډېره لویه خبره ده.

اوس چې مسلمانانو په تبوک کې اړولي دي رسول الله ﷺ و فرمایل: دغه نژدې او د شا وخوا قبیلو ته ولاړ سی، یا به اسلام قبلوي، یا به جزیه راکوي، یا جنګ ور سره وکړی، نو یې خالد بن ولید ﷺ د أیله د جنګ دپاره ولېږی، د أیله خلکو ولیدل چې لښکر ور رهي دی، د أیله مشر چې یُحنه بن رُؤبه نومېدی د خبرو غوښتنه وکړه ویل: اول به خبري سره وکړو، څو د رسول الله ﷺ سره یې ملاقات وکړی او پرجزیه یې صلحه ور سره وکړه، نو أیله هغه اول ښار دی چې مسلمانانو ته تسلیمېږي، دغه ښار مسلمانانو ته تابع سو او د دغه کال جزیه یې هم مسلمانانو ته ورکړه.

دغه رنګه د أذرُح او جَرباء خلک و رسول الله ﷺ ته راغله او پر جزیه یې صلحه ور سره وکړه، أذرُح او جَرباء په شام کې دوه ښاره دي چې د دوی په منځ کې بیا د درو ورځو لار ده، رسول الله ﷺ د دغو دوو ښارو خلکو ته یو یو لیک ور ولیکی چې په هغه لیک کې د دوی دپاره امان لیکل سوی ؤ، اوس نو د دغې منطقې ټولې قبیلې د هغې بیري په سبب چې د مسلمانانو له لښکره د دوی په زړو ننوتلې وه بېله جنګه تسلیمېږي ځکه دومره لوی لښکر په جزیرةُ العرب کې شاذ او نادر تېر سوی ؤ.

رسول الله ﷺ یو لیک د روم پاچا هرقل ته ولېږی چې ورته لیکلي یې وه: زه په تبوک کې یم یا مسلمان سه. یا جزیه قبوله کړه، یا راسه جنګ وکړه، په دغو درو کارو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کي چې هر يو اختيار وې سنا خوښه ده. قاصد د ليکه سره د هرقل پر طرف رهي سو او دلته مسلمانان هغه کلي او منطقې چې د تبوک پر شا وخوا دي که ليري دي که نژدې فتحه کوي د هغو ليرو منطقو څخه چې فتحه سوې يوه هم د دومةُ الجندل منطقه ده.

## د دومة الجندل فتحه کېدل

دومةُ الجندل د تبوک په شمال شرق کي واقع دی په پخوا کي هم مسلمانانو کوښښ کړی ؤ چې دومةُ الجندل فتحه کړي مګر د هغه ځای خلکو جنګ و نه کړی او وتښتېدل، اوس رسول الله ﷺ خالد بن وليد ﷺ دومةُ الجندل ته ولېږی چې ولاړ سه او دغه ځای فتحه کړه. رسول الله ﷺ و فرمايل: اُکَيدِر دومةُ الجندل ته ورسه. (اُکَيدِر د دومةُ الجندل پاچا او رئيس ؤ) نو خلکو اُکيدر دومةُ الجندل ورته ويل، د پاچا نوم اُکَيدر بن عبدالملک الکُندي ؤ او د ورور نوم يې حَسّان ؤ، رسول الله ﷺ خالد ﷺ فقط د څلورو سوو او شلو نفرو په ملګرتيا د دومةُ الجندل پر طرف ولېږی او اُکيدر په دومةُ الجندل کي پاچا دی او هلته قلاوي دي او شا وخوا د واديُ القُرٰی نور ډير کلي پراته دي، نو خالد بن وليد ﷺ و رسول الله ﷺ ته و ويل: چې د کلب او انمار د قبيلو په منځ کي په دغه لږو نفرو اُکيدر ونيسم؟ او دومةُ الجندل فتحه کړم؟ رسول الله ﷺ و فرمايل: هو، اُکيدر به په داسې حال کي و وينې چې د بقر ښکار به کوي (بقر يو قسم لوی لوی وحشي اُوسی دي چې مور ګَوز ورته وايو) خالد ﷺ په تعجب کي سو چې اصلاً په جزيرةُ العرب کي ګَوز نسته او بيا اُکيدر خبر دی چې دغې منطقې ته د مسلمانانو لښکر راغلی دی او دلته موجود دی، نو څنګه به د ښکار دپاره را ووزي؟ دغه تسلّی د جنګ په وخت کي نه ده کافي، مګر د رسول الله ﷺ قول دی و يې منل او د هغه خپلو ملګرو سره د دومةُ الجندل پر طرف رهي سو څو د شپې د دومةُ الجندل منطقې ته ور ورسېدی، دغه شپې هم هغه په سپوږمۍ سره روښانه شپې دي چې سپوږمۍ ښه پوره روښنايي کوي، خالد بن وليد ﷺ هلته کمين ونيوی د دومةُ الجندل د قلاوو مراقبت او څارنه کوي، ټوله قلاوي تړلي دي پر بامو يې پيره داران ولاړ دي، خالد ﷺ په انتظار دی چې ګَوز به راسي او اُکيدر به د هغو د ښکار

(c) ketabton.com: The Digital Library


دپاره را ووزي خو هلته نه ګوز سته نه بل شئ، دئ بیا هم د رسول الله ﷺ پر قول ایمان لري، څه وخت تېر سو وې لیده چي د ګوَزُو یوه ګله را رهي ده، دئ ورته ګوري او په انتظار ناست دی، څو ګوَزُونه ددومۃُ الجندل و قلاوو ته ور نژدې سوه.

په دغه وخت کي بیا اُکیدر د خپلي ښځي سره د قلا پر بام ولاړ دی، هغه هم و تبوک ته د مسلمانانو په راتګ خبر دی خار او مراقبت کوي، دوی پوهېدل چي په هره لحظه کي د مسلمانانو د حملې امکانات سته، که ګوري د ګوَزُو یوه ګله را رهي ده او قلا ته ور نژدې سوه، اُکیدر چي د ښکار ډېر شوقي ؤ مګر دغه وخت د وتلو نه دی ځکه د جنګ او حملې امکانات سته نو د ځانه سره وایي یا، نه ور وزم، ګوَزُونه نور هم ور نژدې کیږي ترداسي اندازې چي په خپلو ښکرو د قلا دېوالونه وهي، دئ ورته ګوري په ټول عمر داسي نژدې ښکار نه ؤ ورته راغلی، د اُکیدر ښځه ورته وایي: یا اُکیدر آیا دغه ګوَزُونه وینې؟ ده ویل: هو، وینم یې، ویل: دغه ښکار څوک پرېږدي؟ ده ویل: یا والله دغه ښکار د پرېښوولو نه دی او ویل: د ښکار سامان مي راکړه، ځکه ښکار ډېر نژدې ورته راغلی دی لیري تګ او سترېیا نه غواړي ویل: ښکار کوم او بیرته راځم.

د اُکیدر سره د وتلو دپاره څو نفره نور هم تیار سوه چي یو هم د اُکیدر ورور حَسّان ؤ، په دغه شپه حَسّان هغه خپل ښه او ښایسته کالي یا چپنه اغوستې وه چي د ورېښمین توکره څخه وه او د زرو طلایي کار پر سوی ؤ، حسان خپل کالي نه کړه بدل غواړي چي فقط تر قلا ور ووزي دغه ګوَزُونه ښکار کړي او بیرته قلا ته ننوزي.

په دغه وخت کي چي دوی ځانونه برابرول ګوَزُونه د قلا څخه څه لیري سوه، دوی چي ځانونه تیار او آماده کړه او را و وتل د ګوَزُو ګله څه نوره هم لیري سوې وه، دوی په پسې دي ګوَزُونه د خالد ﷺ پر طرف ور رهي دي، د مخه تر دې چي دوی ګوَزُو ته ور و رسیږي د خالد ﷺ د کمین له طرفه حمله پر وسوه او جنګ شروع سو، حَسّان د اُکیدر ورور و وژل سو، اُکیدر او هغه نور ملګري یې ټول بندیان ونیول سوه.

پاچا د خپلي عملې سره په دغه آسانه طریقه سره بندي ونیول سو او ورور یې و وژل سو، نه د دومۃُ الجندل سره جنګ وسو نه د قلاوو محاصره او فتحه کېدل وه نه نور جنګي مشکلات، مسلمانانو اُکیدر و رسول الله ﷺ ته راوستی او د حَسّان هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library


ښایسته کالي يې هم ورسره راوړي وه، مسلمانانو نور تول شيان هېر کړه هغه د حسان ښايسته کالي پرله اړوي او ګوري يې، په ټول عمر يې داسي ښايسته، پاسته، ګران قيمته، په زرو نقش سوي کالي نه وه ليدلي لاس پر لاس کيږي او هر يو هغه بل ته وايي: تا داسي کالي ليدلي وه؟

څوک وايي: چي دغه ښايسته کالئ په خپله د اُکيدر چپنه وه چي و رسول اللهﷺ ته يې په هديه او تحفه کي ورکړه.

په هر صورت يا يې د حَسّان کالي يا د اُکيدر چپنه خو د اصحاب کرامو تر هغه تعجب وروسته چي د دغه کالي په ښه والي کي يې ښکاره کړی رسول اللهﷺ و فرمايل: آيا تاسي د دغو کالو د ښه والي او ښايسته څخه په تعجب کي ياست؟ په والله په جنت کي د سعد بن معاذ ﷺ دسملونه تر دغه کالي ډير ښه او ښايسته دي.

(دسمال خو هغه شئ دی چي فقط د نظافت دپاره استعماليږي نه د ښايست دپاره نو دا چي د جنت د دسمال ښايست دومره وي، نو د جنت د ښايست شيان به څنګه او څومره ښايسته وي؟)

دا د رسول اللهﷺ له طرفه درس دی چي تاسي بايد د آخرت سره تعلق پيدا کړی د دنيا ښايست ابدي نه دی او دغه اوسني حرام خوندونه پر ځان حرام وګرځوی.

ورونو! دا فقط وعظ نه دی بلکه درس دی، خپلو ځانو ته متوجه سی.

کله چي رسول اللهﷺ د اُکيدر سره خبري شروع کړې، اُکيدر مجبوره او عاجزه دی دئ بندي دی او ورور يې وژل سوی دی، د مسلمانانو هغه لوی لښکر يې هم وليدی پوه سو چي د دې لښکره سره مي څه په وسه هم نه ده پوره، نو يې د رسول اللهﷺ سره پر جزيه خبري شروع کړې چي موږ به جزيه درکوو.

رسول اللهﷺ و فرمايل: ته بندي يې د دې ضمانت څوک کوي چي ستا خبري ستا پر قوم چليږي؟ اُکيدر و ويل: والله زما قوم زما خبره نه را رَدوي، رسول اللهﷺ هم پر جزيه صلحه ورسره وکړه، صلحه يې پر څه شي وه؟ دوه زره اوښان، اته سوه پسونه، څلور سوه زغري، څلور سوه نيزې؛ دا خو به اوس ورکوي او بيا به د کاله جزيه ورکوي، اُکيدر خپل قوم ته ولاړی او هغو هم دغه جزيه قبوله کړه، نو دومهٔ

(c) ketabton.com: The Digital Library


الجندل هم د خالد بن ولید رضی الله عنه پر لاس بېله جنګه فتحه او د مسلمانانو تابع سو.

هو! پاچا يې اکيدر ؤ مګر مسلمانانو ته يې جزيه ورکول او د اسلام د حکم تابع وه، دا د دومة الجندل فتحه وه.

## د هرقل له طرفه قاصد

د رسول الله ﷺ قاصد هرقل ته ور ورسېدی، هرقل هم اسلام او هم رسول الله ﷺ پېژني ځکه تر دغه د مخه هم رسول الله ﷺ ليک او رساله ور لېږلي وه مګر مسلمان سوی نه ؤ، هرقل غواړي چي د رسول الله ﷺ د رسالت نور هم تاکيد وکړي، نو يې د قاصده څخه ليک واخيستی او ويل: زموږ جواب به بيا درسي.

هرقل خپل قوم ته و ويل: داسي يو ځوان راته را ولی چي هوښيار او عرب وي او زما پر دين وي، يعني: نصراني عرب وي، هرقل هوښيار او نصراني، ځوان عرب غواړي، د هرقل عمله پسي وګرځېدل او د هرقل د غوښتني سره مطابق ځوان يې پيدا کړی، چي د دغه ځوان نوم تَنُوخي ؤ، هرقل تنوخي ته و ويل: زه غواړم چي زما ليک او رساله محمّد ﷺ ته ورسوې او غواړم چي دغو علامو ته چي زه يې درته وايم متوجه سې، پام کوه چي دغه علامې درڅخه پاته او هيري نه سي.

ورونو! هغه ليک چي رسول الله ﷺ هرقل ته لېږلی ؤ په هغه کي يې ليکلي وه: السلام علٰی مَن إتبع الهُدٰی، زه دي داسي جنت ته رابولم چي بَر يا عرض يې د ځمکي او آسمانو پر اندازه دی او که مسلمان نه سې د بزګرانو ګناه هم ستا پر غاړه ده.

اوس نو هرقل يوازي دا نه چي د روم پاچا ؤ بلکه د نصاراوو د علماوو څخه هم ؤ، په تورات او انجيل کي عالم او د معلوماتو خاوند ؤ، نو هرقل تنوخي ته و ويل: ته په محمّد ﷺ کي فقط دغه درې علامې را وګوره.

**اول**: وګوره چي د ده هغه ليک په ياد دی چي ما ته يې را لېږلی ؤ که يا؟

**دوهم**: وګوره چي په خپلو خبرو کي شپه يادوي که يا؟

**دريم**: وګوره چي د اوږو په منځ کي يې کومه علامه سته که يا؟

چي د دغي علامې څخه يې هغه د نبوت مهر مقصد ؤ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تنوخي هم د هرقله څخه رهي سو او د رسول الله ﷺ دپاره د هرقل ليک ور سره دی، تنوخي تبوک ته ورسېدی او د رسول الله ﷺ سره يې وليدل. د هرقل ليک يې ورسول الله ﷺ ته ورکړی چي په هغه ليک کي هرقل ليکلي وه:

د هرقل عظيم الروم له طرفه و محمّد بن عبدالله ته! پسله سلامه يې ليکلي وه: تا زه داسي جنت ته وبللم چي عرض يا بَر يې د ځمکي او آسمانو پر اندازه دی، کله چي ځمکه او آسمانونه ټول جنت ونيول نو اور چيري دی؟

رسول الله ﷺ ته چي د هرقل ليک و ويل سو، نو يې د تنوخي څخه پوښتنه وکړه چي هرقل زما په ليک څه وکړه؟ دا هغه اوله علامه وه چي هرقل و تنوخي ته ويلې وه چي ويل: وګوره هغه ليک چي ما ته يې رالېږلی ؤ په ياد دی که يا؟

رسول الله ﷺ هغه خپل ليک وریاد کړی.

تنوخي و ويل: هغه يې واخيستی، رسول الله ﷺ و فرمايل: مګر کسرٰی زما ليک خيري کړی او الله جل جلاله د ده پاچهي ور ټوک ټوک کړه او هرقل چي زما ليک وساتی الله جل جلاله به د ده پاچهي ور وساتي او خلک به له ده څخه تر هغو بيرېږي چي په ژوند کي يې خير وي.

او دا چي د هرقل په ليک کي ليکل سوي وه: ځمکه او آسمانونه چي ټول جنت وي نو اور چيري دی؟ رسول الله ﷺ و فرمايل: سبحان الله! کله چي ورځ راسي نو شپه چيري ده؟

دا هغه دوهمه علامه وه چي رسول الله ﷺ په خپلو خبرو کي شپه ياده کړه.

مګر اوس د تنوخي دپاره هغه دريمه علامه چي د نبوت مهر دی سخته ده څنګه يې وويني؟ ځکه د نبوت مهر د رسول الله ﷺ د اوږو په منځ کي دی او رسول الله ﷺ کالي اغوستي دي، تنوخي نه سي کولای چي هغه علامه و ويني، نو يې د رسول الله ﷺ څخه اجازه وغوښتل چي زه به څو ورځي دلې واوسېږم، اجازه ورکول سوه.

د تنوخي د اوسېدلو څو ورځي تيري سوې رسول الله ﷺ ورته و ويل: يا تنوخي! اسلام داسي دين نه دی چي د هغه ښه والی او حقانيت دې د چا څخه پټ پاته سي، مسلمان سه، تنوخي ويل: زه له خپله قومه څخه يو نفر يم که هغه مسلمانان

(c) ketabton.com: The Digital Library


سوه زه هم مسلمانېږم رسول الله ﷺ دغه آيات شريف تلاوت کړي:

﴿إِنَّكَ لَا تَهْدِي مَنْ أَحْبَبْتَ وَلَٰكِنَّ اللَّهَ يَهْدِي مَن يَشَاءُ﴾. [قصص: ۵۶]

ژباړه: اې محمده! ﷺ بېشکه ته هغه چا ته هدايت نه سې کولای چې ستا خوښ وي بلکه الله جل جلاله هغه څوک پر سمه لار برابروي چې د ده جل جلاله خوښه اورضاء وي.

تاسي وګورئ رسول الله ﷺ خاص کوښښ وکړئ چي تنوخي مسلمان سي مګر هدايت د الله جل جلاله له طرفه دی، د رسول الله ﷺ په هغه خپل عظمت او د دعوت په هغه ښه طريقه چي د ده ﷺ سره موجوده وه بيا هم بد بخته تنوخي مسلمان نه سو، نو دا يقيني خبره ده چي دغه کار د بندګانو په لاس او اختيارکي نه دی بلکه د الله جل جلاله په إراده پوري تعلق لري.

تنوخي دلته اوسيږي او کوښښ کوي چي هغه درېيمه علامه چي د نبوت مهر دی هم وويني مګر په وسه يې نه ده پوره، څنګه کولای سي چي ويې ويني؟ د دغي علامې دليدلو دپاره داسي وخت په کار دی چي رسول الله ﷺ لباس نه وي اغوستی او دا کار نه سي کېدلای نو تنوخي نور هم پاته سو او رسول الله ﷺ پوهېدی چي دئ د درېيمي علامي د ليدلو دپاره ځنډيږي، نو يوه ورځ يې ورته و ويل: يا تنوخي! راسه، هغه هم ورغلی، رسول الله ﷺ چي پر مبارکو اوږو کوم پټو اچولی ؤ هغه يې کښته کړی او ويل: ورته وګوره دا دي هغه درېيمه علامه ده چي ته د هغې د ليدلو دپاره ځنډېږې، تنوخي هم هغه د نبوت مبارک مهر وليدی او ولاړی هرقل يې په ټولو علامو خبر کړی.

د هرقل اوس يقين سو چي محمّد ﷺ نبي دی، هغه علامې چي دئ پسي ګرځېدی هغه ټولي موجودي دي نو يې د قوم مشران را تول کړه او ويل: تاسي خبر ياست چي د محمّد ﷺ لښکر راغلی دی؟ هغو ويل هو، موږ هم د ده د جنګ دپاره تياري نيولې ده، د روم لښکر هم د وتلو دپاره تيار او آماده دی چي د مسلمانانو سره په تبوک کي وجنګيږي، هرقل چي د قوم او لښکر د مشرانو سره يو ځای دی و ويل: غوږ ونيسی: تاسي ټوله خبر ياست او پوهېږئ چي زه په إنجيل او تورات کي ډېر معلومات لرم، قوم ويل: هو، دا رامعلومه ده، هرقل ويل: او په دې هم خبر ياست

(c) ketabton.com: The Digital Library


چې یو نبي پاته دی او تر اوسه نه دی پیدا سوی، په والله د هغه نبي ټولي علامې پر محمّد ﷺ موافقي او برابري دي، نو زه تاسي ته دعوت درکوم چې پر ده ایمان را وړی او مسلمانان سی، د هرقل قوم انکار وکړی ویل: اسلام نه قبلوو، هرقل ویل: چې دانه قبلوی نو مي دوهمه خبره عملي کړی هغه دا چې محمّد ﷺ نبي دی خوک جنګ نه سي ور سره کولای چې نه مسلمانېږی نو جزیه ورکړی، قوم ویل دا زموږ دپاره عیب او پېغور دی، موږ په دنیا کي تر ټولو لوی او قوي دولت یو او اوس و ده ته جزیه ورکړو؟ خلک به څه وایي؟ دا نه سي کېدلای، نور خلک موږ ته جزیه را کوي موږ به مسلمانانو ته جزیه ورکوو؟ هرقل ویل: نو مو د دریېم کار ته را بولم او زما سره نو بیا بېله دغه بله خبره نسته، قوم ویل: هغه څه شي ده؟ هرقل ویل: جنګ مه ور سره کوی په والله ماته او شکست درکوي، قوم ویل: دغه آخري خبره دي منو هو، په دې کي دي اطاعت کوو، دلته نو د روم لښکر ته اوامر صادر سوه چې جنګ ته به نه وزی، دا هغه د روم د لښکرو د نه وتلو او د پاشل کېدلو سِر او سبب ؤ.

هلته رسول الله ﷺ او مسلمانان د روم د لښکر د راتګ انتظار کوي چې اوس به د جنګ دپاره راسي، مګر دلته د روم لښکر د هرقل په امر او د قومو د مشرانو په مشوره د وتلو او جنګ کولو څخه منعه سوا و نه غواړي چې ورووزي.

د رسول الله ﷺ له طرفه بیا حال ورغلی چې را ووزی، په جواب کي ورته و ویل سوه: که ته دلته یو کال انتظار وکړې موږ نه در وزو او ستا سره نه جنګیږو، رسول الله ﷺ هم په دغومره کفایت وکړی او هلته په تبوک کي د نولسو ورځو په شا وخوا کي پاته سو او ټولو خلکو دا خبر واورېدی چې رسول الله ﷺ د روم سره د جنګ کولو دپاره تبوک ته راغلی ؤ چې تبوک هم اصلاً د روم مځکه وه، تبوک یې هم ونیوی او هغه منطقې چې د تبوک پر شا وخوا وې هغه یې هم تر خپل تسلط لاندي را وستې، د روم د لښکر د راتلو انتظار یې هم ډېر وکړی، خو د روم لښکر دا هیڅ نه کړه قبوله چې د دوی سره جنګ وکړي، دا خبر په ټولو عربو کي په بنکاره ډول سره نشر سو چې بني أصفر د محمّد ﷺ څخه وبېرېدل (په هغه وختو کي رومیانو ته بني أصفر ویل کېدل او نن ورځ اروپایان ورته ویل کیږي) رسول الله ﷺ په دغه سره کفایت

(c) ketabton.com: The Digital Library


وکړي او هغه مقصد حاصل سو چي روميان و بېرول سوه، بيا نو رسول الله ﷺ مدينې منورې ته په رجوع کولو سره امر وکړی، ځکه هغه اساسي هدف او مقصد حاصل سو.

د دغي غزاء او دغه وتلو څخه دوه اساسي مقصده وه، يو دا چي دغه دين يوازي دعربو دپاره نه دی بلکه د ټولو انسانانو دپاره دی او بل دا چي هغه د روم د حملې مخه ونيول سوه، د اسلام او مسلمانانو درجه او مقام داسي اندازې ته ورسېدل چي د روم پاچا هم ځني بيرېږي،او دا کار د دې سبب سو چي په ډلو ډلو خلک راتله او اسلام ته داخلېدل، ځکه خلکو وليدل چي د مسلمانانو څخه روميان هم بيرېږي.

## مدينې منورې ته رجوع

اسلامي لښکر د تبوک څخه د نصرت او کاميابۍ په حالت کي بيرته د مدينې منورې پر طرف رهي سو، الله جل جلاله مسلمانان د جنګ د مشکلاتو څخه وساتل، د دښمن له طرفه هيڅ ضرر او تاوان نه ور ورسېدی او په لار کي څه واقعات پېښ سوه چي په تفصيل سره به درته بيان سي.

١ – ابو رَهَن رضي الله عنه چي د غِفار د قبيلې دی وايي: موږ پر لاري رهي وو څو پر رسول الله ﷺ زحمه، ګڼه ګوڼه او تنګېدل شروع سوه يعني: ډېر خلک په جمعه واري او يو ځای د رسول الله ﷺ پر شا وخوا رهي وه او زه هم په دغو خلکو کي وم، ابورَهَن رضي الله عنه وايي: په دغه وخت کي پر ما خوب غالبه سو او پرېشانه يو وړم، پر بوده سپور يم او بيده سوم، په دغه خوب کي چي په ځان هيڅ نه وم خبر زما بوده د رسول الله ﷺ د بوده سره پر څنګ يا بغل رهي ؤ، په دغه خوب کي مي يو آواز يا کښهاری واورېدی چي و مي کتل هغه زما بوده د رسول الله ﷺ مبارکه پښه ور زخمي کړې وه، رسول الله ﷺ په چلاخه يا قمچينه و وهلم، ابو رَهَن رضي الله عنه وايي: زه ويښ او متوجه سوم، څو د دوهم وار دپاره بيا بيده سوی وم او بيا زما بوده د رسول الله ﷺ مبارکه پښه ور وګروړل، وايي: زه ډېر و بېرېدم او د بيري په سبب د لښکر شا ته ولاړم، بيا چي لښکر د راحت دپاره واړول ما د مسلمانانو پسونه رهي کړه پيايم يې چي ماړه سي، خو د دغه کاره څخه زما اصلي مقصد دا ؤ چي ځان ګوښه او تهام کړم چي رسول الله ﷺ دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



موضوع هېره کړي.

کله چې بیرته لښکر ته راغلم نو مې پوښتنه وکړه چې چا خو به زما پوښتنه او طلب نه وي کړی؟ راته و ویل سوه چې رسول الله ﷺ ستا پوښتنه کول، وایي ډېر وارخطاء سوم اصلاً زه د دغه شي څخه ډېرېدم او ځان مي پټاوه، و ډېرېدم چې زما په باره کې وحيِ او قرآن نه وي نازل سوی ځکه د رسول الله ﷺ پښه مي ور زخمي کړې وه، نو بېِ رسول الله ﷺ ته وروستلم او زه ډېر په ډېره کې یم، رسول الله ﷺ را ته و ویل: یا ابا رَهن! خوږ دي کړم زخمي دي کړم، ما عذرکاوه چې یا رسولَ الله! عفوه را ته وکه د الله جل جلاله څخه زما دپاره بخښنه وغواړه، رسول الله ﷺ و فرمایل: یا ابا رَهَن! ما په چلاخه یا قمچینه و وهلې دغه چلاخه واخله او ما په ووهه ځکه ستا قصد او إراده نه وه چې ما خوږ کړې ستا له طرفه په بېخبري او نا فهمي کې دا کار پېښ سو او ما و وهلې نو چلاخه واخله او ما و وهه، ما ویل: یا والله هغه مي در بخښلي دي یا رسولَ الله!

ورونو! هر انسان په دې شرط چې متعَصِّب نه وي که په دقیق نظر د رسول الله ﷺ و ادب او اخلاقو، عدل او مساوات، ښې ګذارې او معاملې ته وګوري بېله اختیاره به و وایي: (أشهد أنّ محمّداً رسولُ الله) دا څنګه اخلاق دي؟! د روم پاچا ځني ډېرېږي او دئ ﷺ په خپله بېله دې څخه چې د الله جل جلاله رسول دی د جزیرةُ العرب د پاچا په درجه کې هم دی، بیا هم خپل یوه ملګري ته یا د لښکر و یوه عادي فرد ته چلاخه ورکوي چې ما و وهه او هغه ویل: یا والله ما دغه وهل در بخښلي دي.

بیا رسول الله ﷺ امر وکړی چې ده ته دي څه مال او پسونه ورکول سي، ابو رَهن رضی الله عنه وایي: دا هغه اول مال دی چې زه یې خاوند او مالک وګرځېدم، یعني: غریب وم شئ مي نه درلودی او د اول وار دپاره د مال خاوند سوم او وایي: الله جل جلاله په دغه مال کې برکت را واچاوه او ډېرېدی او بیا رسول الله ﷺ پوښتنه را څخه وکړه ویل: یا ابا رَهن! ستا له قومه یعني: د غِفار د قبیلې څخه څوک پاته سوي دي؟ ما ور یاد کړه چې فلانئ او فلانئ، بیا یې و فرمایل: ستا د قوم هغه جګ خلک نه وینم، ما ویل یا رسولَ الله! هغه پاته سوي دي، بیا یې و فرمایل: هغه کو تاه قده او غنم رنګه خلک چیري دي؟ ما ویل یا رسولَ الله! په موږ کې داسي کو تا ه قده خلک نسته،

(c) ketabton.com: The Digital Library


رسول الله ﷺ وفرمایل: یا په تاسي کي کړ نا ه قده او غنم رنګه خلک وه او هغه اوس نسته، سبحان الله! په دیرشو زرو نفرو کي رسول الله ﷺ ته ور معلومیږي چي څوک سته او څوک نسته.

ابو رَهن رضی الله عنه وایي: ما ورته و ویل: یا رسولَ الله! هغه خلک د غِفار د قبیلې نه دي، هغه د أسلم د قبیلې دي او زموږ حُلفاء دي چي زموږ سره دي لیدلي دي هغه هم پاته سوي دي، بیا رسول الله ﷺ وفرمایل: هغه د عزت خاوندان هغه خلک چي ماته را نژدې دي هغه مهاجرین، انصار، غِفار او أسلم دي، دغه هغه خلک دي چي ما د دوی پاته کېدل نه غوښتل، ځکه دغو خلکو د رسول الله ﷺ په حضور درجه درلودل.

او د دې خبرو څخه د رسول الله ﷺ مقصد دا ؤ چي هغه پاته نفرو ته دا خبر ور ورسیږي چي ستاسي درجه او مقام تر دې لوړ دي چي تاسي دي پاته سی، اصلاً دا و هغه پاته قومو ته تعلیم او ښوونه وه.

۲ - لښکر رهي دی او د شپې یې یو ځای واړول، عبدالله بن مسعود رضی الله عنه وایي: د شپې مي د کِندلو آواز تر غوږ سو، وایي ور ولاړ سوم چي په دغه نیمه شپه او موږ په لار او سفر کي یو او مځکه کِندل کیږي! دا څه پېښه ده؟ نو د کِندلو طرف ته ور رهي سوم، و مي لیدل چي عبدالله ذوالبُجادَین رضی الله عنه وفات سوی دی او هغه څوک چي دئ رضی الله عنه ښخوي هغه رسول الله ﷺ، ابوبکر الصدّیق او عمر فاروق رضی الله عنهما دي، په حیرت کي سوم چي دا کوم شرف دی؟ رسول الله ﷺ دننه په قبر کي ولاړ دی او هغه چي جسد ورکښته کوي ابوبکر او عمر رضی الله عنهما دي، سبحان الله! رسول الله ﷺ یې په خپله ښخوي؟ عبدالله بن مسعود رضی الله عنه وایي: ما د رسول الله ﷺ څخه واورېدل چي وې فرمایل:

«اللّهمّ إنّي أمسَیتُ رَاضیًا عَنهُ فَارضی عنه»

الٰهي زه د ده څخه نن شپه راضي وم ته څني راضي سې.

عبدالله بن مسعود رضی الله عنه وایي: ما ویل کشکي زه د دغه قبر خاوند وای، دا کومه خوشبختي، کومه درجه، کوم شرف دی؟ چي رسول الله ﷺ وایي: الٰهي زه څني راضي یم او ته څني راضي سې او په خپله رسول الله ﷺ یې د ابوبکر او عمر رضی الله عنهما په ملګرتیا ښخوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


عبدالله ذو البُجادين د هغو خلکو څخه دی چې په خپل قوم او قبیله کې د مسلمانېدلو په سبب دمشرکانو له طرفه ډېر آزارېدی، د ده پلار مړ ؤ او دئ د خپل اکا سره اوسېدی، کله چې دئ مسلمان سو اکایې د ده مال ټول ځني واخیستی او کله چې ده غوښتل چې هجرت وکړي هیڅ شئ یې نه درلودی بېله یوې زړې او زېږې شړې چې په عربي کي (بُجاد) ورته ویل کیږي ځکه ټول شیان کفارو بلکه د ده اکا ځني اخیستي وه، نو ده د هجرت په وخت کي دغه یوه زېږه شړۍ درلودل حتّی نور د اغوستلو کالي یې هم نه درلودل، نو یې دغه شړۍ ګنګ کړه، لوړ ځیګر او اوږې یې لڅي وې، کله چې بیا مدینې منورې ته ور نژدې سو دغه شړۍ یې نیمئ کړه نیمه یې ګنګ کړه او نیمه یې لوړه پر اوږو واچول، نو ځکه ده ته ذوالبُجادین و ویل سوه او دغه یې لقب سو یعني (د دوو شړیو خاوند) هغه یې د هجرت حال ؤ او دغه اوس یې د وفات حال دی، د مدینې منورې او تبوک تر منځ په لار کي ښخ کړل سو.

۳ – لښکر پر لار رهي دی د رسول اللهﷺ او لښکر په مخه عقبه ورغله (عَقَبَه) هغه لوړ ځای یا هغي لوړي ته ویل کیږي چي نه لوی غر وي او نه غونډۍ، بلکه د دغو دوو په منځ کي یوه لوړه ده چي لاښ هم لري، رسول اللهﷺ و فرمایل: زه دغي لوړي ته خېژم او څوک دي نه پسي راځي، د اصحاب کرامو څخه فقط دوه نفره ور سره ملګري دي چي یو یې عمّار بن یاسرؓ دی او بل یې حذیفه بن یمانؓ دی، عمّار بن یاسرؓ یې د اوښ مهار نیولی دی او حذیفه بن یمانؓ ترشا په پسي دی، رسول اللهﷺ تر لښکر د مخه سو عقبه یا هغي غونډۍ ته ور ورسېدی عمّار او حذیفه ور سره دي او دغه لوړي ته وختل، نور لښکر په لاندي شېله کي تېرېږي.

رسول اللهﷺ پر دغه لوړه و درېدی او لښکر ته ګوري چي د دهﷺ مخ ته تېرېږي، لښکر تر نظر باسي د لښکر نظم او انضباط ته ګوري، دلته بیا د منافقانو یوه ډله چي د بني تمیم د قبیلې څخه وه، په ظاهره نوي مسلمانان سوي دي او په زړو کي پر هغه خپل کفر دي، هغو په خپل منځ کي سره و ویل: په والله سړئ بل وار پر دغه حال په لاس نه درځي (چي مقصد یې رسول اللهﷺ ؤ) ویل: د اول وار دپاره د لښکر څخه جلا سوی دی، ځکه دئﷺ همېشه د لښکر په منځ کي وي مورږ نه سو

(c) ketabton.com: The Digital Library


ور رسېدلای او اوس فقط دوه نفره ور سره دي، موږ به هم ورسو او دغي لوري ته به ور وخېږو هلته به پر را ټول سو ځای به پر تنګ کړو او له دغي لوري څخه به يې را واچوو او و به وژل سي، نو د بنو تميم د قبيلې څخه دوولس يا څوارلس نفره منافقان سره يو ځای سوه مولونه يې و وهل هغه لوري ته ورغله او ور خيژي، رسول الله ﷺ دوی وليدل او ډېر زيات په قهر سو.

حذيفه بن يمان رضي الله عنه وايي: د رسول الله ﷺ په مخ کي مي د قهر او غضب علامې وليدلې او دا نادره پېښېدل چي رسول الله ﷺ ته دي قهر ورسي او هغه هم په داسي اندازه چي د ده ﷺ پر مخ او چهره دي معلوم سي، حذيفه رضي الله عنه وايي: زما خيال سو چي د رسول الله ﷺ قهر په دې سبب ؤ چي د ده ﷺ له امره څخه يې مخالفت وکړی ځکه رسول الله ﷺ ويلي وه: څوک دي نه پسي راځي او دوی راغله، وايي: زه د هغو نفرو طرف ته په تلوار او چابکي ور رهي سوم چي د راتګ څخه يې منعه کړم او ورته و وايم چي ولاړ سی، په دغه وخت کي زما سره فقط يوه لکړه را سره وه او د دغو نفرو طرف ته په ځغستا ورغلم، سبحان الله! هغه د منافقانو ډله د دغه يوه نفره څخه و بېرېدل وايي: کله چي يې زه وليدم چي د دوی پرطرف د لکړي سره ور رهي يم بيرته پرشا ولاړل او وتښتېدل، زه بيرته و رسول الله ﷺ ته راغلم، رسول الله ﷺ راته و ويل: يا حذيفه! ته خبر يې چي د دوی څه نيت او إراده وه؟ ما ويل: يا، يا رسولَ الله! ويل: يا حذيفه! د هغو مقصد دا ؤ چي ما پر دغه لوړه تنګ او يوه طرف ته کړي او بيا مي لاندي واچوي، يعني: د دوی مقصد دا ؤ چي ما و وژني او بيا رسول الله ﷺ راته و ويل: يا حذيفه! تا و پيژندل چي څوک وه؟ ما ويل يا، يا رسولَ الله! هغو مولونه وهلي وه مګر د آسانو د علامو څخه يې دا معلومېدل چي د بني تميم د قبيلې څخه وه، رسول الله ﷺ و فرمايل: هغه فلانئ او فلانئ او فلانئ وه د ټولو نومونه يې وريادکړه، يو يو يې حذيفه رضي الله عنه ته ور وښوول، حذيفه رضي الله عنه و رسول الله ﷺ ته و ويل: يا رسولَ الله! د دوی قبيلو ته نفر نه ورلېږې چي هره قبيله هغه خپل نفر و وژني او سر يې را ٓ وړي؟ رسول الله ﷺ و فرمايل: يا، چي خلک و نه وايي: محمّد ﷺ خپل ملګري وژني، نبي الرّحمه ﷺ دغه خلک هغه د دوی د دغه بده

(c) ketabton.com: The Digital Library



نیته او بده حرکته سره سره بېله سزاء او جزاء ورکولو پرېښوول. صلوٰة الله و سلامهٔ علیه
نو حذیفه بن یمان ﷺ د رسول الله ﷺ د سر او پټ راز ساتونکی ؤ او دغه منافقان هغه ته ور معلوم وه حتّٰی د رسول الله ﷺ تر رحلت وروسته چې به مسجد نبوي ته جنازه را وړل سوه او حذیفه ﷺ به حاضر ؤ خلکو به ده ته کتل، که به حذیفه ﷺ پر هغه مړي د جنازې لمونځ آداء کاوه نورو خلکو به هم د جنازې لمونځ پر کاوه اوکه به حذیفه ﷺ د هغه د لمانځه څخه انکار وکړی خلک به پوه سوه چې دغه سړئ منافق دی، هغو به هم د جنازې لمونځ نه پرکاوه ځکه رسول الله ﷺ د دغو او نورو منافقانو نومونه حذیفه ﷺ ته ویلي او ورښوولي وه او دا یې هم ورته ویلي وه چې دغه خلک چا ته مه ورښوه، نو ځکه حذیفه ﷺ ته کاتِمُ السِّر رسولِ الله ﷺ ویل کیږي، دغه د عقبې حادثه په قرآن مجید کي ذکر سوې ده الله جلّ جلاله فرمایي:

﴿وَهَمُّواْ بِمَا لَمۡ يَنَالُواْۚ﴾ [التوبه:۷۴]

یعني: دوی د هغه شي قصد او إراده وکړه چي دوی نه ورورسېدل، دوی د عقبې څخه د رسول الله ﷺ د را اچولو قصد کړی ؤ، مګر خپل مقصد ته نه ورسېدل، دغه آیات شریف تر آخره د دغو نفرو په باره کي نازل سوی دی.

۴ - بیا هم لښکر مخ پر مدینه منوره رهي دی څو داسي ځای ته ورسېدل چي یو منزل لار مدینې منورې ته پاته وه، له دغه ځایه رسول الله ﷺ مالک بن دُخشُم او مَعَن بن عدی ﷺ د دوو نورو نفرو سره و یوه ډېر عجیب کارته ولېږل چي رسول الله ﷺ د اول وار دپاره داسي کار کوي، هغه دا چي دغه دوه نفره یې ولېږل چي د مدینې منورې د مساجدو څخه یو مسجد وسوځي او ونړوي، دا مسجد هغه مسجد ضِرار ؤچي منافقانو د بدو مقاصدو دپاره جوړ کړی ؤ او قصه یې مخ کي درته بیان سوې ده.

۵ - رسول الله ﷺ دغه آخري منزل ته را ورسېدی او په دغه آخري منزل کي د مدینې منورې تر رسېدلو د مخه یوه بله واقعه هم پېښه سوه، هغه دا چي د سهار د لمانځه پر وخت رسول الله ﷺ د مسلمانانو د نظره څخه لیري سو، د حاجت د آداء کولو دپاره لیري منطقې ته تللی ؤ او ځنډېدی، مسلمانان د رسول الله ﷺ په

(c) ketabton.com: The Digital Library


انتظار دي چي لمانځه ته به راسي خو رسول الله ﷺ وځنډېدی قریبه ده چي لمر را وخېژي بیا هم رسول الله ﷺ نه راغلی، خلک نه پوهېږي چي څنګه وکړي؟ اوس بېله رسول الله ﷺ لمونځ آداء کړي؟ او که د رسول الله ﷺ انتظار وکړي؟ او که انتظار کوي ښایي لمر را وخېژي او که لمر را وختی د سهار د لمانځه وخت تېر سو. نو صحابهٔ کرام پر دې متفق سوه چي الله جل جلاله لمونځ پرخپل وخت فرض کړی دی او دا نه ده جائزه چي لمر را وخېژي او موږ لمونځ نه وي کړی، صحابهٔ کرامو عبدالرّحمٰن بن عوف رضی الله عنه د مخه کړی چي د دوی د لمانځه امامت وکړي. عبدالرّحمٰن بن عوف رضی الله عنه هم په لمانځه شروع وکړه، اول رکعات لمونځ يې آداء کړی پر دوهم رکعات رسول الله ﷺ راغلی او په عبدالرّحمٰن بن عوف رضی الله عنه پسي يې اقتداء وکړه، کله چي خلک د لمانځه څخه فارغه سوه وې لیده چي رسول الله ﷺ ولاړ دی او هغه تېر سوی رکعات لمونځ پوره کوي، خلک په بېره او تشویش کي سوه چي دا مو څنګه کار وکړی رسول الله ﷺ موجود ؤ موږ ولي بېله هغه لمونځ آداء کړی؟ ولي مو د هغه انتظار نه کاوه؟ او دا څنګه کېدلای سي چي یو څوک دي د رسول الله ﷺ امامت وکړي؟ د مسلمانانو په زړوکي دغسي تشویشونه پیدا سوه او دوی ته يې تکلیف ور کاوه، کله چي رسول الله ﷺ د لمانځه څخه فارغه سو وې فرمایل:

«أَحسَنتُم وَأَصَبتُم» ښه مو وکړه او حق ته ورسېدلاست.

پرخپل وخت د لمانځه آداء کول تر انتظار ښه او بهتر دي، دا پر خپل وخت د لمانځه د آداء کولو درجه ده حتّی د رسول الله ﷺ انتظار هم نه دی لازم او بیا رسول الله ﷺ و فرمایل: آیا ما تر دغه د مخه نه وه درته ویلي؟ چي تر هغو نه قیامت کېږي تر څو یو ستاسي د خپل نبي امامت و نه کړي.

تاسي پوهېږی چي د دغه څخه مقصد څه دی چي د اُمت څخه دي یو نفر د خپل نبي امامت کوي؟ دا ډېره مهمه خبره ده، د دې کار څخه مقصد دا دی چي دغه دین پوره سو یا مخ پر پوره کېدلو دی او دین چي پوره سي د رسول او نبي وظیفه پای ته رسېږي او له دنیا څخه رحلت کوي، نو خود په امت کي یو بل داسي څوک په کار دی چي د دعوت او جهاد مسئولیت پر غاړه واخلي، لکه څرنګه چي

(c) ketabton.com: The Digital Library



د رسول اللهﷺ په غياب کي د لمانځه امامت بل چا ته پاته کيږي، دغه رنګه د رسول اللهﷺ تر رحلت وروسته بايد د اسلام ټول مسئوليتونه د يو چا پر غاړه وي چي هغه ته د رسول اللهﷺ خليفه يا اميرالمؤمنين ويل کيږي، دين بايد هيڅ وخت بېله اميره او بېله سرپرسته نه سي پاته.

سبحان الله! رسول اللهﷺ دغه واقعه د هغې تر پېښېدلو د مخه بيان کړې وه، نو عبدالرّحمٰن بن عوفؓ هغه څوک دی چي د رسول اللهﷺ امامت يې کړی دی، په يوه روايت کي ويل کيږي چي ابوبکر الصدّيقؓ هم د رسول اللهﷺ د ناروغۍ په وخت کي د رسول اللهﷺ امامت کړی دی، مګر د عبدالرّحمٰن بن عوف ؓ د لمانځه او امامت روايت واضح او صريح دی او دا چي يو امتي د رسول اللهﷺ امامت کوي د دې څخه مقصد او معنٰی دا ده چي د اللهﷻ له طرفه دين پوره کيږي او کامليږي، اوس نو ستاسي څخه بايد يو څوک د تبليغ او دين نشرولو امانت پر غاړه واخلي او دغه امانت اوس تاسي ته درسپارل کيږي.

رسول اللهﷺ و اصحابِ کرامو ته داهم و فرمايل: په مدينه منوره کي داسي خلک سته چي تاسي داسي تګ نه دی کړی او نه تر کومي شېلې تېر سوي ياست مګر هغه نفر ستاسي سره وه او هغو لره هم دغومره أجر او ثواب دی لکه ستاسي أجر او ثواب، صحابهٔ کرامو و ويل: يا رسولَ الله! هغه خلک په مدينه منوره کي دي او را وتلي هم نه دي او ثوابونه يې زموږ د ثوابو پر اندازه دي؟ رسول اللهﷺ و فرمايل: هو، هغه خلک خپل واقعي عذر بند کړي‌وه. يا پاته کړي دي.

ورونو! هغه انسان چي په واقعي او حقيقي عذر سره معذوره وي او کوم د خير کار د هغه عذر په سبب څني پاته سي هغه لره پوره أجر او ثواب ورکول کيږي، د ده پر نيت معامله ور سره کيږي، د يوه واقعي عذر په سبب د خير د کاره څخه پاته کېدل هيڅ أجر او ثواب نه کموي او دا د رسول اللهﷺ له طرفه زېری دی: که يو انسان ته عذر پېښ سو هغه ته د خپل نيت ثواب پوره ورکول کيږي، علماء کرام وايي: که د يو چا عادت ؤ چي په دوشنبې او پنجشنبې يې روژه نيول او بيا يې د سفر يا مرض په سبب د دغو ورځو روژه و نه نيول ده ته د هغه روژو ثواب ورکول کيږي، لکه ده چي

(c) ketabton.com: The Digital Library


هغه روږې نیولي وي، که یو چا د خیرات او صدقې ورکولو عادت درلودی بیا غریب سو په لاس کې یې څه نه درلودل، بیا هم هغه ثواب ورکول کیږي، دغه قسم د نورو ټولو عبادتو ثواب ورکول کیږي، دا د الله جل جلاله رحمت او مهرباني ده که یوه انسان د خیر او ښو کارو عادت درلودی او بیا په یوه عذر هغه کارونه ځني پاته سوه ده ته کامل او پوره أجر ورکول کیږي، لکه هغه کار چې یې پوره کړی وي، سبحان الله! تاسي د الله جل جلاله لطف او کرم ته متوجه یاست؟ چې پر خپلو بندګانو څومره مهربانه دی؟

رسول الله ﷺ چې د لیري څخه د مدینې منورې علامې ولیدلې نو یې وفرمایل: دغه طابه ده او هغه اُحُد دی، اُحُد داسي غر دی چې موږ خوښ لري او موږ یې خوښ لرو، نو اُحُد مشرفه غر دی.

د مدینې منورې خلک د رسول الله ﷺ په را تګ سره ډیر خوشاله وه ښځو او نجونو، هلکانو او ماشومانو د رسول الله ﷺ په را تګ سره خوشالي کول، د رسول الله ﷺ او لښکر مخ ته ور ووتل او دغه ترانه یې ویل:

طلع البدرُ علینا من ثنیات الوداع وجب الشکر علینا ما دعا لله داع

رسول الله ﷺ د رجب په میاشت کې د تبوک غزاء ته وتلی ؤ او د روژې په میاشت کې مدینې منورې ته را ورسېدی، د دغه سفر ټوله موده پنځوس ورځې وه، چې شل ورځې یې په تبوک کې تیري کړې او نوره موده یې په تګ او را تګ کې تېره سوه، دغه غزاء د رسول الله ﷺ آخرنۍ غزاء ده، تر دغه وروسته بیا رسول الله ﷺ بله غزاء نه ده کړې.

دغه غزاء په دغه خپلو خاصو شرائطو چې ګرمي وه او لار لیري وه، غریبي او مفلسي وه د دنیا د لوی قوت او طاقت سره جنګ ؤ، د الله جل جلاله له طرفه یو سخت او لوی امتحان ؤ چې په دغه امتحان سره واقعي مومنان د منافقانو څخه جلا او کامیابه سوه او دا د الله جل جلاله قانون دی چې په دغسي امتحانو سره صادق له کاذبه څخه جلا کوي، واقعي مومن د منافق څخه جلا کوي، الله جل جلاله فرمایي:

﴿مَّا كَانَ ٱللَّهُ لِيَذَرَ ٱلْمُؤْمِنِينَ عَلَىٰ مَآ أَنتُمْ عَلَيْهِ حَتَّىٰ يَمِيزَ ٱلْخَبِيثَ مِنَ ٱلطَّيِّبِ﴾ [آل عمران: ۱۷۹]

(c) ketabton.com: The Digital Library



يعني: الله جل جلاله داسي نه دی چي مومنان پر دغه نا معلومه حال چي دغه اوس تاسي پر هغه باندي ياست پرېږدي، ترڅو چي الله جل جلاله نا پاکه د پاکو څخه جلا نه کړي او په خپله خلکو ته صادق او کاذب ور معلوم نه سي.

ورونو! لکه څرنګه چي په دنيا کي د کفارو دپاره آرام او هوسا ژوند د دې دليل نه دی چي دوی د الله جل جلاله په دربار کي خوښ او مقبول دي همدارنګه مخلصو مسلمانانو ته د آفتو او مصيبتو راتله (لکه د اُحُد په غزاء او نورو کي) د دې دليل نه دی چي دوی د الله جل جلاله په دربار کي مغضوب او مقهور دي، بلکه اصلي خبره دا ده چي الله جل جلاله مسلمانان بېله امتحانه نه پرېږدي، ځکه که انسانان بېله امتحانه پاته سي په دغه صورت کي به ډېرو کفارو د نفاق پر قسم د اسلام کلمه ويلای او د مسلمانانو سره به يې ګډ ژوند کولای، چي د دوی د دغه ظاهري حالاتو په ليدلو سره چا دوی ته منافق نه سوای ويلای نو ځکه دا لازمه ده چي الله جل جلاله په هغه وخت او تر هغه وروسته په نورو وختو کي داسي حالات او واقعات پېښ کړي چي د هغو په واسطه سره پاک او نا پاک، اومه او پاخه سره جلا سي، صادقه مومنان او منافقان سره وپېژندل سي.

نو دغي غزاء ته هم هر هغه څوک چي صادق مومن ؤ ووتی او د دغي غزاء څخه پاته کېدل د نفاق علامه وه، نو ځکه هر څوک چي به رسول الله ﷺ ته وریاد کړل سو چي فلانئ پاته سوی دی، رسول الله ﷺ به و فرمايل: پرې يې ږدی که خير پکښې ؤ درېسي را به سي او که بېله دغه څخه بل شئ ؤ الله جل جلاله څني بېغمه کړلاست، د دغي غزاء څخه بل څوک نه سوه پاته، يا داسي کسان پاته سوي وه چي واقعي عذر يې درلودی، يا هغه کسان پاته سوي وه چي الله جل جلاله او رسول الله ﷺ ته يې درواغ ويل، چي هغه منافقان وه او دغه د درواغو په عذرو يې ځانونه پاته کړل، يا خو هغه کسان وه چي هيڅ اجازه يې و نه غوښتل او پاته سوه.

مګر هو هلته څو نفره صادقه مسلمانان هم وه چي بېله عذره پاته سوي وه او دا هغه کسان دي چي الله جل جلاله مبتلاء او امتحان کړه او بيا يې د دوی توبه قبوله کړه، چي تفصيل به يې په وروسته کي درته راسي.

کله چي رسول الله ﷺ مديني منورې ته ورسېدی اول مسجد نبوي ته ورغلی او

(c) ketabton.com: The Digital Library


هلته یې دوه رکعاته لمونځ آداء کړی، اوس نو هغه خلک چې له دغې غزاء څخه پاته سوي وه و رسول الله ﷺ ته راغې او خپل عذرونه وایي. خو هلته په مسجد کې (۷) نفرو خپل ځانونه د مسجد په پایو یا عمودو پوري تړلي وه، او ویل: موږ د رسول الله ﷺ څخه پاته سوي یو موږ به هیڅوک نه خلاصوي ترڅو چې رسول الله ﷺ مو په خپل لاس نه کړي خلاص، رسول الله ﷺ و فرمایل: زه به یې تر هغو خلاص نه کړم چې الله جل جلاله د دوی توبه قبوله نه کړي، څرنګه چې د دوی توبه په صدق او اخلاص سره وه الله جل جلاله د دوی توبه قبوله کړه او عفوه یې ورته وکړه.

د دغو اوو نفرو په باره کې چې ابو لُبابه او د ده ملګري وه آیاتونه نازل سوه، الله جل جلاله فرمایي:

﴿ وَءَاخَرُونَ ٱعۡتَرَفُواْ بِذُنُوبِهِمۡ خَلَطُواْ عَمَلٗا صَٰلِحٗا وَءَاخَرَ سَيِّئًا عَسَى ٱللَّهُ أَن يَتُوبَ عَلَيۡهِمۡۚ إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٞ رَّحِيمٌ ﴿١٠٢﴾ ﴾. [التوبه: ۱۰۲]

ژباړه: ځیني نور خلک دي چې پر خپلو ګنهو یې إقرار او إعتراف کړی دی، دوی نېک عمل د بل بد عمل سره ګډ کړی دی (نېک عمل یې توبه او پښېماني ده) او (بد عمل یې د جهاد څخه پاته کېدل دي) نو دوی بد هم وکړه او بیا یې ښه هم وکړه، قریبه ده چې الله جل جلاله به د دوی توبه قبوله کړي، بېشکه چې الله جل جلاله بخښونکی او ډېر رحم خاوند دی.

علماء کرام وایي: کله چې الله جل جلاله د یوه شي په باره کې د عَسٰی لفظ و فرمایي یعني: واجب سو، نو په قرآن کریم کې د عَسٰی د کلمې ترجمه او معنٰی څه شي سوه؟ واجب او لازم سو، که څه هم اصلاً په عربي کې د عَسٰی ترجمه یعني: قریبه او نژدې ده، خو علماء کرام وایي: د الله جل جلاله له طرفه د عسٰی د لفظ استعمال د وجوب او لزوم په معنٰی سره دی. نو په دغه آیات شریف کې چې الله جل جلاله فرمایي:

﴿ عَسَى ٱللَّهُ أَن يَتُوبَ عَلَيۡهِمۡ ﴾

یعني: پر الله جل جلاله لازمه ده چې د دوی توبه قبوله کړي.

نو الله جل جلاله دوی ته عفوه وکړه. بیا نو دغو اوو نفرو خپل ټول مالونه و رسول

(c) ketabton.com: The Digital Library



الله ﷺ ته راوړل او ويل: يا رسول الله! هغه چي موږ يې پاته کړو هغه دغه زموږ مالونه وه، په دغو خپلو مالو مشغوله وو، نو زموږ د توبې څخه يو هم دا دی چي موږ تر دغه خپل ټول مال تېريږو نه يې غواړو، رسول الله ﷺ و فرمايل: زه نه يم امر کړه سوی چي ستاسي مالونه واخلم ما ته فقط ستاسي د ايله کولو امر وکړل سو، خو دوی زاری کوي او وايي: يا رسولَ الله! دغه مالونه زموږ د فتنې سبب وګرځېدل را څخه قبول يې کړه، نو رهم زاری کوي څو د الله جل جلاله دا قول نازل سو چي فرمايي:

﴿خُذْ مِنْ أَمْوَٰلِهِمْ صَدَقَةً تُطَهِّرُهُمْ وَتُزَكِّيهِم بِهَا وَصَلِّ عَلَيْهِمْ إِنَّ صَلَوٰتَكَ سَكَنٌ لَّهُمْ وَٱللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿١٠٣﴾﴾. [التوبه: ١٠٣]

يعني: د دوی د مالو څخه صدقه واخله چي دوی د ګنهو څخه بنه پاک کړې او د هغې صدقې په سبب يې با برکته کړې او دوی ته د خير دعاء وکړه، بېشکه چي ستا دعاء د دوی دپاره سکون او اطمينان دی او الله جل جلاله پوره اورېدونکی او پوره عالم دی.

بيا نو رسول الله ﷺ د دوی د مالو څخه لږ څه مال واخيستی او ويل: دا امر نه دی راته سوی چي ټول مال مو واخلم، ځکه الله جل جلاله فرمايي:

﴿ خُذْ مِنْ أَمْوَٰلِهِمْ﴾

يعني: د دوی د مالو يو جزء واخله نه ټوله.

نو يې يوه حصه ځني واخيستل او نور يې وررَد کړه، دا هغه د دوی د توبې قبلېدل وه.

اوس نو منافقان و رسول الله ﷺ ته ورځي او د خپل پاته کېدلو په سبب و رسول الله ﷺ ته قِسم قِسم عذرونه وايي او رسول الله ﷺ هم د دوی عذرونه قبلوي که څه هم عذرونه يې غير معقول او جوړي سوي بهانې دي خو رسول الله ﷺ يې قبلوي، دغه د دوی ظاهري خبري او قسمونه يې قبول کړه، د دوی دپاره يې د مغفرت دعاء وکړه او د دوی باطني حال يې الله جل جلاله ته پرېښاوه.

دغه ټول پاته سوي نفر څو نفره وه؟ د انصارو څخه هغه پاته سوي منافقان (۸۲) نفره وه او هغه چي د اعرابو څخه پاته سوي وه او عذرونه يې ويل چي د بني غِفار او نورو قبيلو څخه وه هغه هم (۸۲) نفره وه، مګر عبدالله بن اُبئ بن سلول منافق او د ده

(c) ketabton.com: The Digital Library


له قومه د ده ډله ډېر نفر وه چې پاته سوي وه، د پاته سوو خلکو په جمله کي درې نفره نور هم وه چي يو يې کعب بن مالک رضي الله عنه ؤ او دوه نور اصحاب کرام وه چي د اصحاب بدر څخه وه، د کعب بن مالک رضي الله عنه قصه عجبه قصه ده، د ده د پاته کېدلو قصه په بخاري شريف او د احاديثو په نورو کتابو کي روايت سوې ده، راسی چي د کعب بن مالک رضي الله عنه قصه په خپله ده ته پرېږدو چي را ته بيان يې کړي.

کعب بن مالک رضي الله عنه خپله قصه په يوه ډېر اوږده حديث شريف کي روايتوي چي امام بخاري او امام مسلم دواړو روايت کړی دی، چي په هغه حديث شريف کي د کعب رضي الله عنه دا قول راغلی دی چي وايي: په دغه وخت کي چي زه د دغي غزاء څخه پاته کېدم هيڅ وخت مي اقتصادي حالت تر دغه وخت ښه نه ؤ، سهار چي به له کوره را وتم د ځان سره به مي و ويل: زه هم بايد د خپل ځان ضروريات پوره کړم چي د مسلمانانو سره ووزم، خو کله چي به کور ته راغلم هيڅ به مي نه وه کړي، د ځان سره به مي و ويل: زه قدرت لرم پروا نه لري زه خپل ضروريات ډېر ژر برابرولای سم، په دغه خبرو ورځي راباندي تېرېدې څو چي خلک په رښتيا سره د وتلو دپاره تيار سوه او ما د ځان دپاره هيڅ نه وه برابر کړي، څو خلک د تبوک پر طرف رهي سوه بيا هم ما د ځان سره دا قصد وکړی: چي زه به هم پسي رهي سم او ځان به پسي ور ورسوم، (کشکي مي دغه کار کړی وای) خو دا مي هم و نه کړه، رسول الله ﷺ او لښکر ولاړی زه په مدينه منوره کي پاته يم، تر دې وروسته چي به هر وخت له خپله کوره دباندي را وو تم ډېر به غمجن سوم، ځکه ما بېله هغو کسانو بل څوک نه ليدل چي يا به په منافقت کي ډوب وه يا يو معذوره سړئ چي الله جل جلاله به معاف کړی ؤ.

کله چي د رسول الله ﷺ د رجوع يا بيرته را تلو خبر را ورسېدی دلته نو هَم او غَم را باندي را وګرځېدل، د ځان سره به مي درواغ جوړول او ويل به مي چي سبا به د رسول الله ﷺ له قهره په څه شي سره ځان خلاصوم؟ او د خپلي کورنۍ د هر غړي سره به مي په دې باره کي مشورې کولې چي څه ورته و وايم؟ کله چي مي واورېدل چي رسول الله ﷺ را ورسېدی هغه باطلي او درواغ خبري ټولي را څخه ولاړې او دا مي قصد وکړی چي رښتيا به ورته وايم، بېله رښتيا څخه مي بل شئ نه خلاصوي، هو،

(c) ketabton.com: The Digital Library



په درواغ ویلو سره په ظاهره ځوک خلاصیږي خو دننه په زړه کي به زهیر وي.

کعبﷺ وایي رسول اللهﷺ ته ورغلم او سلام مي ورته و وایه، رسول اللهﷺ راته وکتل او د قهر تبسم یې راته وکړی، بیا یې و ویل: راسه، زه هم ورغلم او د دهﷺ مخ ته کښېنستم، ویل: څه شي پاته کړې؟ آیا تا د خپل ځان دپاره بوده نه ؤ رانیولی؟

کعبﷺ وایي: ما ویل هو، بوده مي را نیولی ؤ خو په والله که بېله تا څخه د اهل دنیا د هر چا په حضور کي کښېنستلی وای تا به لیدلي وای چي زه د هغه له قهره څخه په یوه عذر سره ځان خلاصوم، ځکه اللهﷻ داسي ژبه راکړې ده چي دلائل په ویلای سم، مګر په والله زه په دې پوهېږم که نن ورځ زه درواغ درته و وایم ته به زما څخه په هغه درواغو راضي سې، مګر قریبه ده چي الله به دي پر ما په قهر کړي او که مي رشتیا درته و ویل، هو، ته به مي په هغه کي ملامت کړې مګر په دغه رشتیا کي مي د اللهﷻ څخه دا امید دی چي عفوه به راته وکړي، په والله ما هیڅ عذر نه درلودی او ما هیڅ وخت دومره مال نه درلودی لکه په دغه ورځ چي ستا څخه پاته سوم، یعني: پاته کېدل مي د غریبۍ یا بل عذر په سبب نه وه، والله هیڅ عذر مي نه درلودی فقط إهمال، بې پروایي او ضعیفه همت ؤ چي زه یې پاته کړم.

رسول اللهﷺ و فرمایل: دغه سړي رشتیا و ویل، په دې کي اشاره وه چي کومو نورو نفرو چي عذرونه ویل درواغ یې ویل، مګر دغه سړي رشتیا و ویل او ویل ولاړ سه تر څو چي اللهﷻ ستا په باره کي حکم کوي، په خپله رسول اللهﷺ د ده په باره کي حکم و نه کړی، نه یې عفوه ورته وکړه نه یې کوم عِقاب او عذاب د ده دپاره مقرره کړی، ویل صبر وکړه تر څو چي اللهﷻ ستا په باره کي حکم کوي.

نود دغو درو نفرو په باره کي چي کعب بن مالک، هلال بن اُمیه او مراره بن ربیع وه چي حق او رشتیا یې و ویل د سورةُ التوبه (۱۰٦) نمبر آیات نازل سو، اللهﷻ فرمایي:

﴿وَءَاخَرُونَ مُرْجَوْنَ لِأَمْرِ ٱللَّهِ إِمَّا يُعَذِّبُهُمْ وَإِمَّا يَتُوبُ عَلَيْهِمْ ۗ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ﴿١٠٦﴾﴾

یعني: د دغو کسانو د جملې څخه چي د تبوک د غزاء څخه پاته سوي دي نور درې نفره دي (چي نومونه یې د مخه ذکر سوه) چي د اللهﷻ د حکم دپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library


پرېښوول سوي دي، یا به الله جل جلاله دوی ته عذاب ورکړي یا به یې توبه قبوله کړي، د دوی په باره کې حکم وروسته ته معطله سو، کعب بن مالک رضی الله عنه وایي: ما هغه خپل حقیقت و وایه نو هوسا سوم، پرخپل قصور او کو تا هي مي اعتراف وکړی خو زما قوم او کورنۍ راته راغله او ویل: سړیه! ټولو خلکو یو عذر و وایه او رسول الله ﷺ هم د هغو دپاره د مغفرت غوښتنه وکړه تا هیڅ داسي شئ نه کړی پیدا چي هغه د ځان دپاره عذر او بهانه وګرځوې؟ یو عذر پیدا کړه او ولاړسه هغه ورته و وایه، که رسول الله ﷺ ستا دپاره د بخښني طلب وکړی الله جل جلاله به عفوه درته وکړي.

کعب رضی الله عنه وایي دا خبري یې دومره ډیري راته وکړې چي دا إراده مي وکړه چي بیرته و رسول الله ﷺ ته ورسم او یو عذر ورته و وایم، کعب رضی الله عنه وایي: وَلَقَد أُوتِيتُ جَدَلاً. یعني: زما سره داسي ژبه وه چي دلائل مي په ویلای سوای، خلکو ته مي قناعت ورکولای سوای، په هرځای کي مي ځان په خلاصولای سوای، نو د دوستانو ډېر ویل په دې قانع کړم چي بیرته و رسول الله ﷺ ته ورسم او ژبه واړوم، خو بیا مي پوښتنه وکړه چي بېله ما بل چا هم دغسي خبره کړې ده؟ یعني: ویلي یې وي چي عذر مو نه درلودی فقط کاهلۍ پاته کړو، ویل هو، ما ویل: هغه څوک وه؟ ویل: هِلال بن أُمیه او مُراره بن ربیع، کعب رضی الله عنه وایي: داسي دوه صالح نفر یې را یاد کړه چي د اهل بدره څخه وه، د بدر غزاء ته حاضر سوي وه او اوس د تبوک څخه پاته سوي دي، نو ما د ځان سره و ویل: ما ته هم هغه را پېښېږي کوم چي دوی ته ور پېښېږي، هغه دوه د اهل بدر څخه دي زه هم د هغو سره یم.

نو د هغه خپلي رشتیا خبري څخه نه واوښتم، پسله څه وخته د رسول الله ﷺ د طرفه و ټول اهل مدینې ته امر وسو چي د دغو درو نفرو سره خبري کول منعه دي، هیڅوک به خبري نه ورسره کوي، کعب وایي: خلکو خبري را سره بندي کړې حتّی سلام ور واچوم جواب یې نه را کوي، کعب رضی الله عنه وایي: مځکه هم را ته بدله سوه هغه مځکه نه وه چي ما ته را معلومه وه، وایي: هغه دوه نفره چي په پاته کېدلو کي زما ملګري وه یعني: هلال بن أُمیه او مُراره بن ربیع په خپلو کورو کي کښېنستل شپه او ورځ یې په ژړا تېرول، مګر ما صبر کړی ؤ بازار ته ځم، مسجد ته ځم خو هیڅوک

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبري نه را سره کوي.

ورونو! دا امتحان دی د هغه انسان به څه حال وي چې په ټول ښار کې څوک خبري نه ور سره کوي؟ نه خپل نه پردئ. کعب رضي الله عنه وايي: بیا مې هم صبر کاوه. وايي: مسجد ته به ولاړم رسول الله ﷺ به پسله لمانځه د خپلو اصحابو سره ناست ؤ ما به سلام ورته و وايه خو هیڅا زما د سلام جواب نه راکاوه، ما به رسول الله ﷺ ته کتل چې آیا زما د سلام جواب د شونډانو په ښورولو سره راکوي که یا؟ بیا به مې نژدې و رسول الله ﷺ ته نفل لمونځ کاوه او په لمانځه کې به مې رسول الله ﷺ ته د سترګو تر کونجانو کتل چې ما ته ګوري که یا؟

خو کله چې به زه په لمانځه مشغوله وم راته کتل به یې چې بیا به ما د ده ﷺ و طرف ته وکتل مخ به یې را څخه واړاوه، خلوېښت ورځې پر دغه حال پاته سوم، کعب رضي الله عنه وايي: یوه ورځ د مدینې منورې په بازار کې رهي وم چې د شام د تاجرانو څخه یو سړئ چې له شامه یې ارتزاقي یا خوراکي مواد راوړي وه او د مدینې منورې په بازار کې یې خرڅول او د خلکو څخه پوښتني کوي چې کعب بن مالک به څوک را وښیي؟ خلکو زما و طرف ته اشاره وکړه چې هغه دی، نو دغه تاجر راغلی ما ته یې یو لیک راکړی او ویل: دغه لیک د غسان د پاچا له طرفه ستا دپاره دی، لیک چې مي خلاص کړي د غسان پاچا پسله سلام او احترامه راته لیکلي وه: موږ ته خبر را ورسېدی چې ستا ملګري ستا سره جفا وکړه، الله جل جلاله نه ته خوار کړی یې او نه یې ضائع کړی یې، موږ ته راسه چې عزت او احترام دي وکړو.

ورونو! دا لیک امتحان په امتحان کي ؤ، په مدینه منوره کې ټولو خلکو مقاطعه ور سره کړې ده څوک خبري نه ور سره کوي او هلته بیا یو بل ښار یا بله منطقه ده د هغه پاچا یې دعوتوي او وايي: موږ ته راسه عزت او احترام به دي وکړو.

کعب رضي الله عنه وايي: دغه لیک چې مي و وایه د ځان سره مي و ویل: دا هم د الله جل جلاله له طرفه امتحان دی نو د دې دپاره چې په زړه کې مي شئ را و نه ګرځي او د دغه لیک سره مي تعلق نه سي پیدا لیک مي په تناره کې واچاوه او و مي سوځی، زه پر هغه خپل حال پاته یم، کله چې پر دغه حال خلوېښت ورځي را باندي تیري سوې د رسول الله ﷺ

(c) ketabton.com: The Digital Library


له طرفه قاصد راغلی او ویل: رسول الله ﷺ دي امرکوي چي د خپلي ښځي څخه جلا سه، ما ویل: طلاقه يې کړم؟ يعني: امر يې کړی دی چي خپله ښځه طلاقه کړم؟
ورونو! دغه مسلمانان وه او دغه يې اطاعت ؤ، قصد او إراده يې کړې ده چي په هر کار سره امر کړل سي هغه عملي کوي، خپل ځان او خپل ژوند يې و الله جل جلاله او رسول الله ﷺ ته تسليم کړي دي، قاصد ویل: يا، طلاقه وه يې مه بلکه ته ځني جلا سه يوازي ژوند کوه او هغه زما دوو ملګرو ته يې هم دغسي امرونه ور لېږلي وه، کعب رضي الله عنه وايي نو مي خپلي ښځي ته و ویل: ته د خپل پلار کره ولاړه سه هلته اوسېږه تر څو چي الله جل جلاله په دې موضوع کي فيصله کوي، ښځه مي هم ولاړل خو د ښځي کورنۍ او دوستان يې راغله او ویل: هلال بن اُميه او مُراره بن ربيع خپلي ښځي په خپلو کورو کي ور سره پرېښوولې، فقط دوی ځني جلا سوه او تا له کوره وايستل!
کعب رضي الله عنه و ویل: يا، هغه دوه په عمر ډېر دي مګر زه ځوان يم بيا به رسول الله ﷺ څه وايي؟ زما ښځه بايد د خپل پلار په کور کي و اوسېږي، کعب رضي الله عنه يوازي په کور کي پاته سو، په تيرو څلوېښتو ورځو کي فقط دغه يوه ښځه وه چي د ده سره يې خبري کولې ځکه په کور کي ور سره وه او اوس هغه هم ولاړل، نو په کور او دباندي کي يوازي سو، کعب رضي الله عنه وايي: داسي حال ته ورسېدم چي ټوله دنيا راباندي تنګه سوه په خپل ځان کي نه ځايېږم، پنځوس ورځي کيږي چي نه څوک خبره راته کوي او نه مي چا ته خبره کړې ده، حتّی د سلام جواب هم څوک نه را کوي.
ورونو! دغه حال ډېر سخت او مشکل دی تاسي يې پر خپل ځان فرض کړی: په پنځوس ورځو کي دي هيچا خبره نه وي در سره کړې حتّی خپله ښځه دی هم در څخه جلا سي او هلته بيا د خپل قُصور او کو تا هۍ په سبب د الٰهي عذاب بېره هم سته، نو هم دنيوي ژوند تريخ او په تکليف سو او هم د الٰهي عذاب بېره موجوده ده.
کعب رضي الله عنه وايي: پسله پنځوسو ورځو ما په خپل کور کي د سهار لمونځ وکړی او په داسي حال کي وم چي هغه حال مي الله جل جلاله په قرآن مجيد کي بيان کړی دی او فرمايي:
﴿حَتَّىٰٓ إِذَا ضَاقَتۡ عَلَيۡهِمُ ٱلۡأَرۡضُ بِمَا رَحُبَتۡ وَضَاقَتۡ عَلَيۡهِمۡ أَنفُسُهُمۡ﴾. [التوبه: ۱۱۸]
ژباړه: دغه خلک تر داسي اندازې په تکليف کي وه چي مځکه د خپل پراخوالي

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره سره پر دوی تنګه سوه اوله ډېره غمه د دوی ژړونه پر دوی تنګ سوه.

لکه موږ چي وایو (د ډېري خواشینۍ مي زړه وچاودی) نو وایي: کله چي مي د سهار لمونځ آداء کړی زه د خپل کور پر بام په دغه غمجن او دردوونکي حالت کي ناست وم چي د یوه ناره کوونکي آواز مي واورېدی چي و جبلِ سلع ته ختلی ؤ او په لوړ آواز یې ناري کړه: زېری مي درباندي یا کعب بن مالک! وایي: زه دستي د شکر پر سجده پرېوتم پوه سوم چي خوشالي راغله، رسول الله ﷺ د سهار تر لمانځه وروسته زموږ د توبې د قبلېدلو اعلان کړی ؤ، که مي کتل چي دوه نفره را رهي دي، یو پر آس سپور ؤ او بل پر پښو را رهي ؤ، اصلاً زموږ د توبې د قبلېدلو آیاتونه نازل سوي وه، نو دغه دوه نفره را رهي وه چي زېری را باندي وکړي او هر یو غواړي چي تر هغه بل را د مخه سي او تر هغه بل د مخه دغه د خوشالۍ خبر راته و وایي، هغه چي پر پښو را رهي ؤ پوه سو چي سپور ترما د مخه ور رسیږي نو یوې لوړي ته وختی او په لوړ آواز یې په نارو شروع وکړه، غواړي چي آواز یې تر هغه سپاره د مخه را ورسیږي، کعب ﷺ وایي: ما هم و دغه زېري کوونکي ته چي ما یې آواز اورېدلی ؤ زېری ورکړی او په والله ما بل هیڅ شئ نه درلودی بېله هغه خپلو اغوستو کالو، هغه کالي چي ما اغوستي وه هغه مي په زېري کي ورکړه او بیا ما د خپلو اقرباوو څخه په استعاره کالي واخیستل او وامي غوستل (استعاره دا ده چي ته اوس دغه ستا شئ راکړه چي ما خپل کار په اجراء کړی بیرته به یې درکړم) او بیا د مسجد نبوي و طرف ته رهي سوم، د مسجد په لار کي په ډلو ډلو خلک را باندي را ټولیږي او مبارکي را ته وایي، چي دغه د خلکو ډېر والي او د خلکو مبارکۍ زه د مسجد څخه وځنډولم، هر یو دغه را ته وایي: یا کعب بن مالک! د توبې د قبلېدلو دي مبارک سه، (مُبارکٌ عَلیکَ توبةُ الله) څو وایي: مسجد ته ورسېدم او د خلکو د ډېر والي په سبب مسجد ته نه سوای ننوتلای.

کله چي مسجد ته ور داخل سوم رسول الله ﷺ د اصحاب کرامو د مشرانو سره ناست ؤ د مهاجرینو څخه طلحه بن عبیدالله ﷺ په ځغستا را وغورځېدی څو تر ما پوري راغلی مصافحه یې را سره وکړه او مبارکي یې را ته و ویل، کعب ﷺ وایي: په والله د مهاجرینو څخه بېله ده بل څوک نه سوه را ولاړ او زه به د طلحه ﷺ دغه ورځ هیڅکله

(c) ketabton.com: The Digital Library



هېره نه کړم، کعب ﷛ وايي: زه ور تېر سوم او رسول الله ﷺ ته مي سلام و وايه، رسول الله ﷺ په داسي حال کي چي د خوشالۍ شغلي يې له مخه ولاړېدې را ته و ويل:

«أَبْشِرْ بِخَيْرِ يوْمٍ مَرَّ عَلَيْكَ مُنْذُ وَلَدَتْكَ أُمُّكَ»

يعني: د هغي ښې او مبارکي ورځي زېرى درکوم چي ستا په ژوند کي له کومه وخته چي ستا مور ته زېږولى يې پر تا راغلې ده. يعني: نن ورځ ستا دپاره داسي ښکمرغه او مبارکه ورځ ده چي ستا په ټول عمر کي تر دغه ښه ورځ نه ده درباندي راغلې.

کعب ﷛ وايي: ما ورته و ويل: يا رسولَ الله! دغه د توبې قبلېدل مي ستا له طرفه دي که د الله جل جلاله له طرفه؟ رسول الله ﷺ و فرمايل: يا زما له طرفه نه دي بلکه د الله جل جلاله له طرفه دي، نو وايي: ما ورته و ويل: يا رسولَ الله! زما د توبې څخه يو هم دا دى چي زه خپل ټول مال د الله جل جلاله او رسول الله ﷺ دپاره صدقه پرېږدم.

رسول الله ﷺ و فرمايل: خپل ځيني مال دي د ځان دپاره وګرځوود دا ستا دپاره خير دى او بيا ما و ويل: يا رسولَ الله! زه خپلو رشتيا ويلو خلاص کړم او زما د توبې څخه يو هم دا دى: تر څو چي ژوندئ يم بېله رشتيا به بله خبره و نه کړم.

ورونو! اوس نو دغه ټول حالات، دغه خوابدي، دغه د خبرو مقاطعه د څه شي په سبب وه؟ دا له جهاده د پاته کېدلو په سبب وه او دا ټوله د دې دپاره وه چي په اسلام کي د جهاد درجه او مقام را معلوم سي، په دغه قصه کي يوه نفر جهاد پرې ايښى ؤ دغه يې حال ؤ او که ټول امت مسلمه جهاد پرېږدي څه حال به يې وي؟ د جهاد پرېښوول يا د جهاده څخه پاته کېدل کوچنۍ او آسانه مسئله نه ده، د دغي قصې څخه مور ته د جهاد د وجوب او فرضيت اندازه را معلومېږي، جهاد د اسلام او مسلمانانو د سر لوړى او عزت دپاره، د اسلام حتمي او ضروري جُزء دى، بې جهاده اسلام ته اسلام نه ويل کېږي، د مسلمانانو ژوند بېله جهاده د ذِلّت ژوند وي او مور ته نن ورځ دغه تجربه په يقيني ډول سره حاصله ده.

نو الله جل جلاله د کعب بن مالک ﷛ او د ده د هغه دوو ملګرو توبه قبوله کړه او دغه توبه الله جل جلاله د سورةُ التوبه په (۱۱۸) نمبر آيات کي ذکر کړې ده، چي رب عزوجل فرمايي:

(c) ketabton.com: The Digital Library


﴿ وَعَلَى ٱلثَّلَٰثَةِ ٱلَّذِينَ خُلِّفُواْ حَتَّىٰٓ إِذَا ضَاقَتۡ عَلَيۡهِمُ ٱلۡأَرۡضُ بِمَا رَحُبَتۡ وَضَاقَتۡ عَلَيۡهِمۡ أَنفُسُهُمۡ وَظَنُّوٓاْ أَن لَّا مَلۡجَأَ مِنَ ٱللَّهِ إِلَّآ إِلَيۡهِ ثُمَّ تَابَ عَلَيۡهِمۡ لِيَتُوبُوٓاْۚ إِنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلتَّوَّابُ ٱلرَّحِيمُ ﴾. [التوبه:۱۱۸]

ژباړه: او خُصوصاً پر هغو درو نفرو چي د توبې د قبلېدلو څخه پاته سوي وه (يعني: د توبې قبلېدل يې ځنډېدلي وه) تر هغه وخته چي مځکه پر دوی تنګه سوه، سره د پراخوالي د دغي مځکي او پر دوی د دوی د زړونه له ډېره غمه تنګ سوه او د دوی يقين سو چي د الله جل جلاله له قهره بل د ساتني او پناه ځای نسته مګر هم ده الله ته پناه ور وړو او بيا الله جل جلاله پر دوی رجوع وکړه چي د توبې توفيق يې ورکړی، دپاره د دې چي دوی توبه وکاږي، بېشکه چي الله جل جلاله بنه توبه قبلوونکی دی او د ډېر رحم خاوند دی.

دا د هغو درو نفرو قصه وه چي له جهاده پاته سوي وه او الله جل جلاله يې پسله دغه امتحانه توبه قبوله کړه.

الله جل جلاله دي موږ او تاسي ته هم عفوه وکړي، زموږ او ستاسي توبې دي قبولي کړي، الله جل جلاله دي صدق او رشتيا ويل زموږ عادت وګرځوي، آمين.

## د تبوک د غزاء اثر او نتيجه

د تبوک غزاء په جزيرةُ العرب کي د مسلمانانو د سُلطې پر پراخوالي او تقويت ډېر لوی اثر او تاثير واچاوه، خلکو ته دا ور معلومه سوه چي بېله اسلامه بل هيڅ قوت په جزيرةُ العرب کي ژوند نه سي کولای، ځيني هغه مشرکان او منافقان چي د مسلمانانو د زهيرولو، خوړولو او د شکست دپاره په موقع پسي ګرځېدل د هغو اميدونه او غوښتني هم باطلي او تر خاورو لاندي سوې، ځکه دوی خپل لوی اميدونه په روم او روميانو پوري تړلي وه او اوس روم په خپله د مسلمانانو د مقابلي څخه بيرېږي نو طبعاً هغه پاته مشرکان او منافقان و حقيقت ته تسليم سوه او بېله تسليمېدلو يې بله چاره هم نه درلودل، نو ځکه اوس هغه وخت را ورسېدی چي مسلمانان بايد د منافقانو سره نرمه او پسته ګذاره و نه کړي، بلکه الله جل جلاله خپل رسول ﷺ او مسلمانان امر کړه چي

(c) ketabton.com: The Digital Library


د کفارو او منافقانو سره باید تشدّد او سختي وسي الله جل جلاله فرمايي:

﴿ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِىُّ جَـٰهِدِ ٱلْكُفَّارَ وَٱلْمُنَـٰفِقِينَ وَٱغْلُظْ عَلَيْهِمْ ۚ وَمَأْوَىٰهُمْ جَهَنَّمُ ۖ وَبِئْسَ ٱلْمَصِيرُ ﴾. [التوبه: ۷۳]

يعني: اې نبي محمّده! ﷺ د کفارو او منافقانو سره جهاد کوه او پر دوی سختي کوه او د دوی د ورتلو آخري ځای جهنم دی او دغه جهنم د ورتللو ډېر بد ځای دی.

الله جل جلاله خپل رسول له دې څخه منعه کړی چې د منافقانو صدقات قبول کړي او پر دوی د جنازې لمونځ آداء کړي او د دوی دپاره د مغفرت طلب وکړي او د دوی و بنخولو ته حاضرسي، الله جل جلاله امر وکړی چې د منافقانو د دسیسو او مؤامرو هغه مرکز ور ونړوي چې د مسجد په نامه سره يې جوړ کړی ؤ، د منافقانو په باره کې داسې آياتونه نازل سوه چې دوی يې پوره رسوا او شرمنده کړل، د دغو آياتو تر نزول وروسته د دوی په پېژندلو کې هيڅ پټوالی نه ؤ، هغه کسان چې په مدينه منوره کې اوسېدل ټول منافقان يې په نامه سره پېژندل.

د دغې غزاء په نتيجه کې د شا وخوا عرب په ډلو ډلو رسول الله ﷺ ته د اسلام را ورلو دپاره را تله، که څه هم د دغو ډلو را تګ د مکې مکرمې تر فتحې وروسته شروع سوی ؤ مګر د دغو ډلو ډېر والی د تبوک تر غزاء وروسته ؤ، د سورةُ التوبه ډېر آياتونه د تبوک د غزاء په متعلق نازل سوي دي چې ځيني يې د مخه تر وتلو نازل سوه او ځيني يې پسله وتلو چې رسول الله ﷺ په سفر کې ؤ نازل سوه او ځيني يې هغه وخت نازل سوه چې رسول الله ﷺ بيرته مدينې منورې ته راغلی، په دغو آياتو کې د غزاء حالات، د منافقانو رسوايي، د مخلصه مجاهدينو فضيلت، د صادقه مسلمانانو د توبې قبلېدل او نور حالات ذکر سوي او بيان سوي دي.

د تبوک د غزاء څخه ډېر شرعي احکام، نصيحتونه او عبرتونه را وزي، خو دلته به د وخت د مراعت سره سم د اختصار پر ډول څو مهمو او د غَور وړ شيانو ته اشاره وسي.

۱ – **په مال سره د جهاد اهميت:** د اسلام د دښمنانو سره جهاد کول يوازي دا نه دي چې زه غزاء ته و وتم وبس، بلکه کله چې جهاد و اسلحې، نفقې او مال ته ضرورت پيدا کړي پر مسلمانانو دا واجب او لازمه ده چې د خپل قدرت پر اندازه به د جهاد

(c) ketabton.com: The Digital Library


دپاره خپل مالونه هم ورکوي، لکه څرنګه چې مور وليدل چې اصحاب کرام په خپله هم غزاء ته وتل او هم يې مالونه د رسول اللهﷺ ته را وړل، حضرت عثمان بن عفانؓ نه سوه اوښه، سل آسه، دوه سوه اوقيه سپين زر او د سرو زرو زر ديناره د رسول اللهﷺ ته راوړل او رسول اللهﷺ وفرمايل:

«مَا ضَرَّ عُثْمَانَ مَا عَمِلَ بَعْدَ الْيَوْمِ» [رواه: احمد والترمذي]

يعني: تر نن ورځې وروسته چې عثمانؓ هرڅه وکړي ضرر نه ور رسوي.

په دغه حديث شريف کې هغو کسانو ته زجر او تأديب دی چې د حضرت عثمان ذي النورينؓ د خلافت په وختو کې د دهؓ پر سياست تبصرې کوي او ځينې ليکوالان ډېرې اوږدې اوږدې صفحې ليکي چې حضرت عثمانؓ په خپل سياست کې يو طرفه او ضعيفه ؤ، دوی په دغه کار سره (چې د اسلام پر تاريخ په درواغو او د خلکو په خطايستلو سره رنګارنګ تورونه او تهمتونه وتړي) خپل غربي باداران خوشاله کوي، دغه کسان خپل ځانونه د عفت او نزاهت، پوهې او صداقت په لوړو برجو کې کښېنوي او له هغه ځايه د حضرت عثمانؓ پر سياست تبصرې او اعتراضونه کوي، په حقيقت کې دغه کسان تر هرڅه د مخه دې ته اړ او محتاجه دي چې اول خپلې ناروغۍ تشخيص او پيدا کړي او بيا د هغو ناروغيو علاج د حضرت عثمانؓ د سيرت په ويلو او په هغه پسې په اقتداء کولو وکړي، د دوی د قلبي امراضو د علاج يواځنۍ لار هم دغه ده چې د عثمانؓ په ژوند ځان خبر کړي او بيا اقتداء پسې وکړي.

د حضرت عثمانؓ سياست چې هرڅه ؤ خو د رسول اللهﷺ د دغه مبارک قول:

«مَا ضَرَّ عُثْمَانَ مَا عَمِلَ بَعْدَ الْيَوْمِ»

تر اورېدلو وروسته به کوم ادب چا ته دا اجازه ورکړي چې د حضرت عثمان ذي النورينؓ پر سياست دې تبصره او اعتراضونه وکړي؟

۲ ــ **منافقان: او اسلام ته د هغو خطر:** د تبوک په غزاء کې چې په کومه اندازه آياتونه د منافقانو د خطرو په باره کې نازل سوي دي او د هغو حالات يې بيان کړي دي، په بله هيڅ غزاء کې داسې نه ده پېښه سوې، ته به په سورة التوبه کې آياتونه نه بلکه ډېرې صفحې وينې چې اکثره آياتونه يې د جهاد في سبيل الله اهميت بيانوي،

(c) ketabton.com: The Digital Library


جهاد بالنفس، جهاد بالمال او فرمايي: چي دغه جهاد د مسلمان پر صداقت او اخلاص يواځنۍ دليل دی، د مومن او منافق په منځ کي هغه مهم فرق جهاد دی او مسلمانان که واقعاً هم مسلمانان وي، بايد د راحت او استراحت په کونج کي نه کښېني. هغه تکاليف او زحمتونه چي دوی ته د الله جل جلاله په لار کي پيښېږي لوی و نه بولي. لکه منافقانو چي به ويل: اوس د ګرمۍ او د مېوو د پخېدلو يا حاصلاتو اخيستلو وخت دی، انتظار وکړی چي هوا يخه سي بيا به ولاړ سو.

په دغه غزاء کي د منافقانو د حالاتو څخه موږ دغه درس اخيستلای سو چي په هر عصر او هره زمانه کي د منافقانو نفاق د مسلمانانو دپاره لوی خطر او لوی ضرر دی او دا ويلای سو چي د اسلام دعوه (يعني: چي وايي زه مسلمان يم) دا په خوله سره يو دعوه ده، د دغي دعوې د اثبات دپاره شاهدان په کار دي او هغه شاهدان د الله جل جلاله په لار کي جهاد او د تکاليفو قبلول دي، دغه تکليفونه د دې دپاره قبلول کيږي چي صادق د کاذب څخه معلوم او جلا سي او د مومنانو ايمان د منافقانو د جَدل او سبسطې څخه و پېژندل سي، نو د تبوک غزاء د دغه الهي قانون دپاره چي امتحان دی مهمه او عظيمه ماده وه، ځکه هلته د مسلمانانو امتحان ډېر لوی او داسي امتحان ؤ چي منافقان يې د صادقه مسلمانانو څخه جلا کړه او هلته داسي آياتونه هم نازل سوه چي مسلمانان يې دې ته متوجه کړه چي په هر ځای او هره زمانه کي بايد د منافقانو له شره ځان وساتي، مسلمانان يې په دې پوه کړه چي مسلمانانو ته شر نه راځي او نه راتلای سي مګر د منافقانو له طرفه، د اسلام دښمنان نه سي کولای چي مسلمانانو ته دي ځان ورورسوي مګر د منافقانو د لاري يې ور رسولای سي.

مسلمانان د دوی کافر دښمن داسي نه سي خطا يستلای لکه منافقان چي يې خطا باسي، مسلمانانو ته د ضعف، کهالۍ او تفرقې مرض بل څوک نه سي را وستلای بېله منافقانو، مسلمانانو ته لوی خطر د منافقانو له طرفه ور پيښيږي، ځکه منافقان د اسلام سره د اسلام په نامه جنګيږي، و اسلام ته د اسلام په اسلحه چمونه جوړوي، اسلامي احکامو ته د اصلاح په نامه سره تغير ورکوي، د اسلام په نامه سره جوړي سوي او اړول سوي فتواوي د خپلو مقصدو د حاصلولو او د بادارانو د خوشاله کولو دپاره را باسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


د دغي غزاء څخه باید مسلمانان کوم درس او عبرت واخلي؟

هغه درس او عبرت دا دی: چي د دباندني دښمن څخه دي یو وار ځان ساتي او د داخلي منافقانو څخه دي زر واره ځان ساتي او تر هر څه د مخه دي د منافقانو سره د دې دپاره و جنګیږي چي په دوی کي نفاق نشر نه کړي.

**۳ - د منافقانو، د صادقه مومنانو او خپلو اصحابو سره د رسول الله ﷺ سیاست:**

پر موږ اوس دا لازمه ده چي د رسول الله ﷺ په هغه سیاست کي فکر وکړو چي د منافقانو سره یې کاوه او هغه سیاست ته متوجه سو چي دصادقه مسلمانانو او خپلو اصحابو سره یې کاوه، تا ولیدل چي ډیر منافقان د تبوک د غزاء څخه پاته سوه او بیا و رسول الله ﷺ ته راغله قِسم قِسم عذرونه یې ورته ویل، پر دغه سر بېره رسول الله ﷺ دوی ته عفوه وکړه او د دوی باطني حال یې و الله جل جلاله ته پرېښاوه.

او لږ شمېر مسلمانان چي ښېله شکه او نفاقه صادقه مومنان وه د دغي غزاء څخه پاته سوه او بیا رسول الله ﷺ ته راغله ښېله عذره او درواغ جوړولو یې عفوه ځني غوښتل، خو رسول الله ﷺ عقاب ورکړی او عفوه یې نه ورته وکړه، تا هغه سزاء ولیده چي رسول الله ﷺ صادقه مومنانو ته ورکړه، څومره سخته او شدیده سزاء وه.

دلته دا پوښتنه پیدا کیږي چي رسول الله ﷺ ولي د منافقانو سره نرمي او د عفوي لار اختیار کړه؟ او د صادقه مسلمانانو سره یې شدت او د عقوبت لار اختیار کړه؟

**جواب:** په دغسي ځای کي شدت او عقوبت د شرف او اکرام علامه ده، دا هغه کسان وه چي په وروسته کي د دوی د عفوي او توبې د قبلېدلو دپاره آیاتونه نازل سوه او د قیامت تر ورځي به ویل کیږي، خو منافقان د دغه شرف او اِکرام وړ او مستحِق نه وه چي د دوی په باره کي دي د عفوي او توبې آیاتونه نازل سي.

بل دا چي منافقان په دوږخ سره محکوم دي، دوی په حقیقت کي کفار دي، دغه دوی چي په دنیا کي په ظاهره سره اسلام ښکاره کوي دغه اسلام یې د قیامت په ورځ د جهنم له اوره نه خلاصوي، الله جل جلاله موږ امر کړي یو چي دوی او د دوی دغه ظاهري حال سره پرېږدو او دنیوي شریعت او احکام د دوی پر ظاهره عملي کړو، دځه دپاره د دوی د عذرو او د خبرو د حقیقت څېړنه او تحقیق کوو، موږ د دوی سره

(c) ketabton.com: The Digital Library


فقط هغه د دوی پر ظاهري شکل معامله کوو او احکام پر جاري کوو. لکه څرنګه چې دوی هم مونږ ته فقط خپل ظاهري حال او ظاهري عقیده را ښکاره کوي.

ابن قیم رحمه الله وایي: الله جل جلاله هم د خپلو بندګانو سره د دوی د ګنهو په عذاب او عقاب کي دغسي معامله کوي، خپل هغه مومن بنده ته چي الله جل جلاله یې خوښ لري او د ده په دربار کي عزت لري په یوه کوچنۍ خطا او ښویېدلو سره ادب ورکوي چي همېشه ویښ او بیداره و اوسي او هر هغه څوک چي د الله جل جلاله په دربار کي کښته او سپک وي دئ او د ده ګنهونه سره پرېږدي، هر وخت چي یوه ګناه وکړي په دنیا کي یو بل نعمت ورکړي.

په دغه غزاء کي نور هم ډېر احکام او عبرتونه سته خو تر هغو به د مضمون د اوږد والي د بیري تېر سو او څه به تاسي ته هم د فکر کولو ته وخت او موقع درکړم چي نور څه شي ځني را ایستلای سی؟

ورونو! د تبوک غزاء چي د هجرت په نهم کال کي د رجب په میاشت کي وه د رسول الله ﷺ آخرنۍ غزاء ده، نو اوس دا ښه او لازمه بولم چي د رسول الله ﷺ ټولي غزاوي د خوارخو څخه وڅېړو او ځیني نتیجې ځني را وباسو.

**اول:** د رسول الله ﷺ ټولي غزاوي (۲۷) یا د علماوو په بل قول (۲۸) غزاوو ته رسیږي او ټولي سرِیې یا ډلي چي رسول الله ﷺ لېږلي دي و (۶۰) سَرِیو ته رسیږي او په ټولو غزاوو او سریو کي جنګ نه دی پېښ سوی، ځکه ځیني غزاوي او سریې بېله جنګه پای ته رسېدلي دي، خو په دغو ټولو غزاوو او سریو کي د مسلمانانو او کفارو د وژل سووکسانو شمېر تر یو زر او اتلسو نفرو نه زیاتیږي (۱۰۱۸) او دا هغه عدد او شمېر دی چي د جزیرةُ العرب د ټولو جنګو په تاریخ کي تر دغه لږ وژنه او تلفات نسته.

هو! تر اسلام او اسلامي جنګو د مخه په جزیرةُ العرب کي جنګونه کېدل او بې حسابه خلک پکښې وژل کېدل، خو هغو جنګو بېله دښمنۍ او عداوته، بېله تفرقې او عناده، بېله چور او چپاوله بله نتیجه نه درلوده، مګر اسلامي غزاوو په دغه لږ تلفات هغه بېحسابه فایدې په وجود را وړې چي اول یې د یوه الله جل جلاله عبادت (توحید) او د بتانو ماتول دي، أمن خو هغې اندازې ته ورسېدی چي د حِیره یا قادسیې څخه به

(c) ketabton.com: The Digital Library



يوې ښځې کولای سوای چې يوازې رهي سي پر بيت الله الحرام طواف وکړي او بېرته خپل کلي او وطن ته په أمن او امان سره ولاړه سي او په دې سفر کې به بېله الله جل جلاله بل د هيچا څخه نه بېرېدل او دا هغه جزيرةُ العرب وه چې د ځنګله قانون پر مسلط ؤ، هر قوي به ضعيفه خوړی، چور او چپاول، غلا او وژنه، د ښځو او ماشومانو په اسارت نيول او بيا د مينځو او مريانو په شکل په نورو ځايو کې خرڅول، دغه د دوی د ژوند قانون او اساس ؤ، يوه تجارتي قافله د يوه لښکر بې حفاظته تر خپل مقصده نه سوای رسېدلای، خو بالمقابل اسلامي غزاوي او سريې، بلکه اسلامي ټول جنګونه د قرآن مجيد پر هغه دوه اصله او قانونه بِناء وه.

**الف**: هغه چې رب عزوجل فرمايي:

﴿وَٱلۡفِتۡنَةُ أَشَدُّ مِنَ ٱلۡقَتۡلِۚ﴾ [البقره:۱۹۱]

فتنه، يعني: په خلکو کې بېره، بې امنيتي، د مال او اولاد نه حفاظت، إغواء او د خلکو د اولادو تښتول، دا تر قتل او وژني أشد دي.

د هغې ټولني په ژوندکې به څه خوند او څه مزه وي چې هلته نه سکون وي نه اطمينان، نه أمن وي نه امان، هلکان يې د پيسو دپاره تښتول کيږي، نجوني يې په زور ځني بېول کيږي حتّی هغه کسان چې يوه ګوله ډوډۍ لري د مال دپاره إغواء کيږي.

يا دا چې د شپې په آرامهٔ نه سي بېدېدلای د ظالمانو او فتنه ګرانو له طرفه چاپې درباندي وهل کيږي کور او د کور سامانونه دي د ښځو په منځ کې تلاښي کيږي، د بېګناه انسانانو په سر کځوړي ور اغوستل کيږي جېلو او زندانو ته بېول کيږي دغه ته فتنه وايي، دغسي فتنې تر مرګ او وژني بدي او سختي دي.

**باء**: الله جل جلاله فرمايي:

﴿وَلَكُمۡ فِي ٱلۡقِصَاصِ حَيَوٰةٞ يَٰٓأُوْلِي ٱلۡأَلۡبَٰبِ لَعَلَّكُمۡ تَتَّقُونَ ١٧٩﴾ [البقره:۱۷۹]

او تاسي لره په قصاص کې ژوند دی اې د عقل او بصيرت خاوندانو!

په کومه ټولنه کې چې قاتل، غل او ظالم نيول کيږي او د خپل ظالمانه عمل جزاء ورکول کيږي، هلته دا ممکنه نه ده چې څوک دې پر قتل يا د يو چا پر وژلو، يا په

(c) ketabton.com: The Digital Library


ناحقه سره د چا پر مال اخیستلو اقدام وسي، مګر د دغه پر عکس که په یوه ټولنه کې ژوند او عادت داسي وي چي هر چا چي هر څه وکړه، نه بیا د هغه پلټنه کیږي او نه جزاء ورکول کیږي، دلته نو د قتلو او وژنو، د غلا او تجاوزونو شمېر ترانداز‌ې وزي.

د دغه آیات شریف مقصد داسي سو چي د یوه قاتل په قصاصولو سره د سلو نه بلکه د زرو نورو قتلو مخه ونیول سوه او که دغه قاتل پرېښوول سو د سلو نه بلکه د زرو نورو قتلو اجازه صادره سوه، نو اسلامي جنګونه او جزاوي د دې دپاره وه او دي چي شر او فساد، فتنه او وژني ورک کړي او ورک هم سوه، د جزیرةُ العرب په ژوند او قانون کي دغه ډېر لوی فرق په دغه لږ موده کي د دغه اسلامي غزاوو په سبب راغلی.

دغه غزاوي او د هغو تلفات تأدیبي شکل لري نه تعذیبي، د اسلامي غزاوو مثال داسي دی لکه د جراحۍ یو ډاکټر چي د انسان له جسمه یا بدنه څخه یوه لږ حصه څیري او زخمي کوي، یا یې بالکل قطعه کوي، خو ټول جسم او بدن په اصلاح کیږي.

**دوهم**: که د اسلام د نشرېدلو و سرعت او چابکۍ ته وګورو!

د هجرت په شروع کي د مسلمانانو تر حکم لاندي مځکه (۲۷۴) مربع میله وه او پسله لسو کلو څخه تریو میلیون مربع میله زیاته مځکه د مسلمانانو د حکم تابع وه، سبحان الله! یوځه دقیق او متوجه سی مسلمانانو د دغي ډیري او پراخه مځکي په تسلط او لاس ته را وړلو کي څومره قرباني ور کړې ده؟ که د مسلمانانو شهیدان پر وخت او زمانه و وېشو، و به وینو چي مسلمانانو د میاشتي یو نفر په قرباني کي ورکړی دی، خو د خیر، أمن او إصلاح مېوه او ثمره یې تر اوسه موږ خورو.

**درېیم**: د اسلامي جنګو او غزاوو تلفات او شهیدان به د دوو جهاني جنګو سره قیاس او مقایسه کړو: اول جهاني جنګ چي په (۱۹۱۴) عیسوي کال کي شروع او تر (۱۹۱۸) کال پوري یې دوام درلودی، یوه محقِق لیکوال د بریطانیې په دائرة المعارف کي لیکلي دي: په اول جهاني جنګ کي د وژل سوو کسانو شمېر شپږ میلیونه او څلور لکه نفره دی.

مګر په دوهم جهاني جنګ کي د وژل سوو کسانو شمېر د پنځه دیرش ملیونو او شپېتو ملیونو په منځ کي دی، دا خو یې قتل، وژنه او بربادي وه مګر نتیجې ته یې

(c) ketabton.com: The Digital Library


هم وګوري! ټولو خلکو ته معلومه ده چي دغو دواړو جنګو و بشر ته نه ديني نه دنيوي نه ډيره نه لږ فايده رسولې ده، خو بالمقابل هغه د اسلامي جنګو تلفات چي په مجموعي ډول سره (۱۰۱۸) نفره کيږي او هغه يې فايدې او ګټي وې.

خو يوه د ډېر تعجب خبره دا ده: چي د هغو کسانو زامن او لمسيان چي دغه جهاني جنګونه يې د هغه خپلو خرابيو سره سره په وجود راوړي دي پر هغه خپلو ټولو وژنو او بربادیو يې سترګي پټي کړي دي او مسلمانانو ته ترهګر يا تروريستان وايي، په دې باره کي که زه هر څه و وايم هغه لږ دي، کتاب يا فيتي د هغه د ځايولو دپاره نه دي کافي، خو په خپله ويوتکي او اورېدونکي په دې موضوع کي د فکر آس د خپلو معلوماتو او د خپل علمي قدرت پر اندازه ځغلولای سي.

**څلورم:** که موږ د رسول اللهﷺ غزاوو او سريو ته وګورو په نتيجه کي نه موږ او نه بل هغه چا ته چي د جنګو د حالاتو په مثبت او منفي اړخو پوهيږي، دا ممکنه نه ده چي بل څه و وايو بېله دې څخه: چي رسول اللهﷺ په ټول تاريخ او ټوله دنيا کي هغه لوی او تر ټولو پوه عسکري قائد يا قوماندان ؤ، تر ټولو خلکو په ثُبات، عميق فراست او باخبري کي لوړ ؤ، رسول اللهﷺ د عسکري او حربي قيادت په صفت کي يو نادره عبقريت درلودی، لکه څرنګه چي د نبوت او رسالت په مقام کي سيد او سردار د انبياوو ؤ، دغه رنګه يې په عسکري ميدان کي هم تر ټولو انسانانو تفوق او لوړ والی درلودی، هيڅ جنګ ته نه دی داخل سوی مګر په يوه وړ او مناسب وخت کي او په داسي طريقه سره داخلېدی چي د حزم، شجاعت او تدبيره څخه به ډکه وه، نو ځکه په يوه جنګ کي د جنګو هم داسي نه دی ناکامه سوی چي هغه ناکامي دي د حکمت د غلطيا، يا د لښکر د نه تنظيمولو، يا د استراتيجي ځای د نه نيولو؛ په سبب راغلې او پېښه سوې وي، په هر جنګ کي يې د مقابلې دپاره هغه ښه او مناسب ځای اختيار کړی دی او د مقابلې دپاره يې ډېره ښه او معقوله نقشه ترتيب کړې ده.

بلکه رسول اللهﷺ په خپلو ټولو جنګو کي دا ثابته کړې ده چي د دهﷺ قيادت يو بل نوی قسم قيادت ؤ، داسي قيادت نه ؤ لکه خلکو ته چي ور معلوم ؤ، يا د دنيا په نورو قوماندانانو کي ليدل کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


هر څه چې په اُحُد او حنین کې ځینې د شکست حالات ولیدل سوه هغه د قائد د تصرف په سبب نه وه، بلکه په حنین کې یې د لښکر د ځینو افرادو ایماني ضعف سبب ؤ او په اُحُد کې یې د قائد د اوامرو څخه نا فرماني سبب وه، د لښکر افرادو په هغه حِکمت او نقشه عمل و نه کړی، کوم چې د دوی د قائد له طرفه په عسکري لحاظ پر دوی لازمه سوې وه، خو بیا هم د رسول الله ﷺ عبقریت او شجاعت په دغو دواړو غزاوو کي هغه وخت ښکاره سو چې مسلمانانو ماته وخوړل، په دغه وخت کي رسول الله ﷺ د دښمن مخ ته ثابت ودرېدی او په خپل نابغه حِکمت سره یې وکولای سوه چي دښمن خپل هدف او مقصد ته و نه رسیږي، لکه دا کار چي یې په اُحُد کي وکړی.

یا یې د جنګ صفحه واړول، شکست یې په نصرت سره بدل کړی، لکه دا کار چي یې په حُنین کي وکړی، سره د دې چي په جنګ کي د دغسي خطرناکه حالاتو پېښېدل او دغسي واضحه او معلومداره شکست خوړل د قومندانانو حواس ځني وړي، د هغو پر اعصابو ډیر بد اثر پرېږدي، په دغسي حالاتو کي ډیر مشهوره او منل سوي قومندانان د خپل ځان د خلاصېدلو په فکر کي کیږي، مګر رسول الله ﷺ بېله شکه رسول الله دی، دا خو د رسول الله ﷺ د عسکري او حربي قیادت اړخ ؤ، اوس د دغو غزاوو د أمن او أمان اړخ ته راسه:

**پنځم**: رسول الله ﷺ وکولای سوای چي په دغو غزاوو سره په ټوله جزیرةُ العرب کي أمن او امان، سلامتي او سلام خپور او نشر کړي، د فتنو اورېې و وژی، د اسلام د دښمنانو، د مشرکانو او بت پرستانو شان او شوکت یې داسي ور مات کړی چي هغو صلحي ته رجوع وکړه او صلحه یې و غوښتل او د اِلٰهي دین دعوت ته لار خلاصه او ایله سوه، د دغو جنګو په نتیجه کي رسول الله ﷺ خپل صادقه اصحاب کرام د هغو منافقانو څخه وپېژندل چي په زړو کي یې غدر او خیانت ساتی.

**شپږم**: رسول الله ﷺ په دغو غزاوو او جنګو سره داسي قومندانان تربیه کړه چي د ده ﷺ تر رحلت وروسته د فارس او روم سره د عراق او شام پر مځکه وجنګېدل او د هغو تر مشهوره قومندانانو د جنګ په نقشه او اداره کي لوړ او پوه وه، دغه په اسلام کي روزل سوو قومندانانو وکولای سوای چي هغه قوي مملکتونه د هغو د مځکو او

(c) ketabton.com: The Digital Library


وطنه څخه وشړي، د هغو د هغو مالو او باغو څخه يې وشړي چې دوی په أمن او امان، په عيش او عشرت، نعمتو او راحتو کې هلته اوسېدل.

**اووم:** رسول اللهﷺ وکولای سوای چې د دغو غزاوو په برکت خپلو بې وزله ملګرو مسلمانانو ته د اوسېدلو ځايونه، مځکې، کارونه، اوکسبونه ور تهيه او مهياء کړي، چې په دغه واسطه سره د ډيرو هغو مهاجرينو مشکلات ليري سوه چې نه يې مال درلودی نه کور، او په دغو غزاوو سره يې اسلحه، سامان او نفقه برابر کړه، خو دغه ټوله يې په داسې شکل سره لاس ته را وړل چې مثقال ذرّةٍ ظلم او تېرئ يې هم پر چا نه دی کړی.

**اتم:** د رسول اللهﷺ غزاوو د جنګو و هدفو او مقصدو ته تغير ور کړی، په جاهليت کې چې د کوم مقصد دپاره جنګونه کېدل هغه مقصد او هدف ته تغير ور کول سو. د جاهليت جنګونه چور او چپاوُل ؤ، وژنه او تجاوز ؤ، ظلم او بغاوت ؤ، دبدلې او انتقام اخيستل وه، د ضعيفه ځپل وه، د آباديو او کورو نړول او خرابول وه، د ښځو د حرمت ايسته کول وه، پر سپين ږيرو، ماشومانو، او هلکانو شدت ؤ، د کښت او نسل هلاکت ؤ، بالآخره فساد في الارض ؤ، دغه جنګونه په اسلام کې و مقدس جهاد ته واوښتل. چې پاک هدف، لوړ غرض او داسې ښه نتيجه په لاس را وړي چې په هغه سره انساني او بشري ټولنه په هرځای او هر وخت کي فخر وکړي، هغه د جهالت جنګونه په داسې جهاد سره بدل سوه چې انسان د ظلم او تجاوز له قانونه د عدالت او انصاف و نظام ته بيايي، هغه نظام چې قوي به ضعيف خوړی د جهاد په واسطه داسې نظام ته واړول سو چې قوي د دې دپاره ضعيفه سي چې د مظلوم حق څني واخيستل سي.

جهاد د سپين ږيرو، ښځو او ماشومانو حقوق را ژوندي کوي، جهاد د الله جل جلاله مځکه د غدر او خيانت، ګناه او تجاوز څخه پاکوي.

جهاد د ګناه او تجاوز، ظلم او ستم، په عوض او بدل کي بشری ټولني ته أمن او سلامتيا، رحمت او محبت، د حقوقو مراعت او مُروّت راوړي.

رسول اللهﷺ د جنګ دپاره شريف او محترم قوانين کښېښوول خپل لښکر او

(c) ketabton.com: The Digital Library


قومندانان يې د دغو قوانينو په مراعتولو سره مکلف کړه، هيڅ ته يې دا إجازه نه ده ورکړې چې د دغو قوانينو څخه په هيڅ حال کې سر غړونه او مخالفت وکړي.

امام مسلم د سليمان بن بُريده ﷺ څخه روايت کوي چې وايي: کله چې به رسول الله ﷺ يو ځوک پر لښکر يا په ټولۍ امير مقرره کړی نو به يې داسي وصيت او نصيحت ورته کاوه: د خپل ځان په باره کې د الله ﷻ له عذابه و بېرېږه.

ستا د ملګرو مسلمانانو سره ښه ګذاره او معامله کوه.

او بيا به يې ورته و ويل: د الله په نامه في سبيل الله جهاد ته ووزه، د هغه چا سره جنګ کوه چې پر الله ﷻ کافر وي، غدر او تجاوز مه کوه، د چا اندامونه مه ور پرې کوه، کوچنۍ مه وژنه او بيا به يې ورته ويل: «يَسِّرُوا وَلاَ تُعَسِّرُوا» د خلکو سره آساني کوی سختي مه ور سره کوی، «وَسَكِّنُوا وَلاَ تُنَفِّرُوا» په خلکو کي سکون او اطمينان راولی او مې متنفره کوی.

په خپله رسول الله ﷺ که به د شپې د يوه قوم کلي او منطقې ته وُر ورسېدی په هغه شپه يې حمله نه پرکول تر سهاره به يې انتظار ورته کاوه، تاسي پوهېږی چې دا ولي؟ ځکه د شپې به ښځي او ماشومان، ضعيفه خلک او مريضان ټول بيده وه، رسول الله ﷺ نه غوښتل چې دغه شپه او خوب پر خراب کړي او په سهار کي به بيا هغو ته د تيښتي لار خلاصه وه.

رسول الله ﷺ د دې څخه سخته منعه کړې ده چې ځوک دي په اور و سوځل سي، د ماشومانو او ښځو د وژلو او وهلو څخه يې منعه کړې ده، دچور او چپاوُل څخه يې منعه کړې ده، تر داسي اندازې چې فرمايي: چور کوونکی تر هغه چا په کمه نه دی چې د (مَيْتِې) يعني: مړه سوي او مردار سوي حيوان غوښي حلالي بولي يا خوري.

رسول الله ﷺ د باغو او کښتو د سوځلو او د وُنو د پرې کولو څخه منعه کړې ده، مګر په هغه وخت کي بيا اجازه سته چې دغه کار ته جنګي شديد ضرورت پيدا سي او بېله دغه کاره د دښمن تسليمېدل امکان و نه لري.

د مکې مکرمې د فتحي په وخت کي رسول الله ﷺ و فرمايل: زخمي مه وژنی، بندي مه وژنی، هغه چې تښتي او ځغلي په هغه مه پسې کېږی او دغه قانون يې جاري

(c) ketabton.com: The Digital Library


او عملي ونګړخاوه چي قاصد نه وژل کيږي، د معاهدينو د وژلو څخه يې په شدت سره منعه کړې ده، تر داسي اندازې چي فرمايي: که چا معاهد و وژی د جنت بوی به نه وُر ورسيږي او د جنت بوی د څلويښتو کلو د لاري څخه و يو چاته ور رسيږي. يعني: د ده او د جنت په منځ کي به د څلويښتو کالو د لاري پر اندازه ليري والی وي.

معاهد څوک دی؟ معاهد هغه چا ته ويل کيږي چي اسلامي حکومت د هغه سره د امان عهد او وعده لري، لکه زموږ په وطن کي هندوان، يا په پاکستان کي عيسايان، يا هغه کسان چي د اسلامي حکومت له طرفه د امان وعده ورکول سوې وي چي په دې کي ټول هغه کفار شامل دي چي اسلامي ملک ته د مسلمانانو په اجازه او وېزه سره ورځي، رسول اللهﷺ نور هم د جنګو دپاره داسي پاک او سپېڅلي قوانين ايښي دي چي جنګونه يې د جاهليت د خيرونو او لغړونو قوانينو څخه پاک کړه او مقدس جهاد يې وګرځول.

## د مديني منورې د منافقانو سره په ښکاره مقابله

مخکي و ويل سوه چي رسول اللهﷺ د تبوک د غزاء څخه مديني منورې ته تشريف را وړی او د تبوک په غزاء کي د منافقانو دريز او موقف ښه ښکاره او واضحه سو، نو رسول اللهﷺ إراده وکړه چي پر منافقانو آخرنۍ شديده او جِدّي ضربه وارده کړي، رسول اللهﷺ امر وکړی چي خلک دي په مسجد نبوي کي سره را ټول سي، کوم نفر چي موجود وه او خبر ورو رسېدی هغه ټول راغله او په مسجد نبوي کي سره يو ځای سوه، په دغو حاضرو خلکو کي ډېر منافقان هم موجود وه، رسول اللهﷺ ولاړ سو او په خطبه ويلو يې شروع وکړه چي دغه خطبه د رسول اللهﷺ د عظيمو خطبو څخه ده.

پسله هغه چي رسول اللهﷺ د الله جل جلاله حمد او ثناء و ويل او پر خپل ځانﷺ يې درود و وايه نويې وفرمايل: اې خلکو! په تاسي کي منافقان سته د هر چا نوم چي ياد کړم هغه دي ولاړ سي او له مسجده دي ووزي، خلک د بيري څخه په رېږدېدلو سوه، هر يو بېرېږي چي اوس زما نوم ياد نه کړي، دا د رسوايي او فضيحت ورځ ده،

(c) ketabton.com: The Digital Library


د شرم او خجالت ورځ ده، رسول الله ﷺ د نومو په یادولو شروع وکړه او فرمایي: قُم یا فُلان! هغه ولاړیږي او له مسجده وزي، قُم یا فلان! قُم یا فلان! څو د منافقانو د مشرانو څخه یې شپږ دېرش نفره یاد کړه، خلک په بېره کي دي چي دا څه حال دی؟ اوس د منافقانو سره په ښکاره او واضحه ډول مقابله کیږي، ځکه د هغو جرئت زیات سوی ؤ، غوښتل یې چي د دسیسو او مؤامرو دپاره د مسجد په نامه سره یو مرکز جوړ کړي، نور یې هم داسي کارونه کول چي د تحمّل وړ نه وه، ستاسي په یاد دي چي د تبوک د غزاء دپاره یې لښکر وایستی او د رسول الله ﷺ څخه یې جلا واړول او بیا بیرته پاته سوه نه ولاړل؟ او بلي ډلي بیا غوښتل چي رسول الله ﷺ د هغي لوړي څخه لاندي وغورځوي، منافقانو جرئت پیدا کړی ؤ، نو اوس باید خامخا د دوی ریښې کښل سوي وای نو ځکه رسول الله ﷺ په دغه ښکاره ډول مواجهه او مقابله ورسره شروع کړه.

حضرت عمر فاروق رضی الله عنه وایي: په دغه ورځ زه له مسجد نبوي څخه څه لیري وم او لږ نا وخته راغلم، کله چي مسجد نبوي ته را ورسېدم رسول الله ﷺ د منافقانو نومونه یاد کړي وه،و مي لیدل چي د منافقانو څخه یو نفر د مسجد د دروازې سره ناست دی مضطرب او پرېشانه معلومیږي، ما ورته و ویل: څه درته پېښه ده ولي تر مسجد دباندي ناست یې؟ ده ویل: رسول الله ﷺ د منافقانو په جمله کي حساب کړم، وایي: ما ورته و ویل: الله دي ذلیله کړه د خپل عمل اقرار نه کوې او پټوې یې، بیا وایي: رسول الله ﷺ په منافقانو کي حساب کړم.

دغه ورځ د منافقانو دپاره د فضیحت او رسوایي ورځ وه ټول رسوا او شرمنده سوه.

خو رسول الله ﷺ د عبدالله بن اُبیّ رئیس المنافقین نوم د منافقانو په جمله کي نه کړی یاد ځکه هغه مشهور او معروف ؤ، د هغه په رسوایي کي ډیر آیاتونه نازل سوي وه مګر نور منافقان یې یاد او رسوا کړه، پسله دغي ورځي د منافقانو فعالیت ډیر پټ او سړي ؤ، بیا یې په ښکاره سره کوم د نفاق عمل نه دی کړی، دا د منافقانو سره د ښکاره او علني مقابلې او مواجهې ورځ وه.

بیانو د دې دپاره چي رسول الله ﷺ په خپلو خبرو کي موازنه او برابري را وستلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وي نو يې په دغه ورځ مسلمانانو ته هم د حیره د فتحه کولو زيرى ورکړی (حيره) په عراق کې د کافرو عربو پایتخت ؤ، او له دغه زیري څخه د رسول الله ﷺ مقصد دا ؤ چې دغه منافقان کوم چې تاسي وليدل هيڅ ارزښت، او اهميت نه لري بلکه نصر او فتوحات ستاسي مسلمانانو دي نو يې و فرمايل: تاسي به حيره فتحه کړی، والله لکه زه چې دغه اوس د حيره و قصرو ته ګورم او فتحه کيږي، زه دغه اوس د يوې قلا دروازې ته ګورم او هغه قلا فتحه کيږي، اول هغه څوک چې له دغي قلا څخه د تسليمېدلو دپاره را وزي هغه شيماء بنت نُفَيله ده، دغه شيماء پر ابلکه غاتره سپره ده تورپوړنی يې پر سر دی او دا اول هغه څوک ده چې تسليميږي، د حيره فتحه يې ټوله په تفصيل سره تر پېښېدلو د مخه بيان کړه: د قلا دروازه خلاصيږي، فلانی راوزي، دا ټول د مسلمانانو دپاره اطمينان ؤ چې فتوحات او کاميابي، نصرت او برئ ستاسي دی.

يو د صحابهٔ کرامو څخه چې زکريّا بن يحيیٰ نومېدی صادقه مومن او د رسول الله ﷺ پر قول يې يقين ؤ، پوه سو چې دغه کار حتماً کېدونکی دی، نو ولاړ سو او عجبه خبره يې وکړه، ويل: يا رسولَ الله! دغه شيماء ما ته راکړه، يعني: له غنيمتو څخه يې ما ته را وبخښه، رسول الله ﷺ و فرمايل: هغه يې ستا، په وروسته کي بيا زکريّا بن يحيیٰ ﷺ د حيره په فتحه کولو کي ګډون او اشتراک وکړی او حيره د خالد بن وليد ﷺ پر لاس فتحه سوه، کله چې حيره تسليم سوه او د قلا دروازه خلاصه سوه اول هغه څوک چې له دغي قلا څخه را ووتی هغه يوه سپين سرې ښځه وه چې دا هغه شيماء وه پر ابلقه غاتره سپره وه او تورپوړنی يې پر سر ؤ.

دغه ښځه را ووتل او زکريّا بن يحيیٰ د هغې غاتره تر غاړه ونيول ويل: دا زما ده، خلکو پر وخندل ويل: موږ تر اوسه غنيمتونه نه دي وېشلي ته صبر وکړه، ده ويل: يا، دا تر وېش د مخه زما ده، خلکو ويل: څنګه ستا ده؟ ده ويل: دا ما ته رسول الله ﷺ را کړې ده، خلکو ويل: رسول الله ﷺ ډېره موده مخ کي رحلت کړی دی ته څنګه دغه خبره کوې؟ ده ويل: رسول الله ﷺ تر خپل رحلت د مخه د دغي فتحي زيری را کړی دی او دغه شيما يې په هغه ورځ ما ته را کړې ده، خلک په تعجب کي سوه او د لښکر قومندان خالد بن وليد ﷺ ته ورغله، خالد ﷺ ورته و ويل: يا رجُل! هر سړیٔ

(c) ketabton.com: The Digital Library

کولای سي چي دغسي دعوه وکړي، ته د دغه خپلي دعوې دپاره شاهدان لرې؟ ده ویل: هو، ویل: ورسه راپې وله، زکریّا بن یحییٰ رضی الله عنه وایي: ولاړم په لښکر کي وګرځېدم چي څوک په دغه ورځ حاضر وه؟ فقط دوه نفره مي پیدا کړه چي یو یې محمّد بن مسلمه رضی الله عنه ؤ او بل یې محمّد بن بِشر رضی الله عنه ؤ، دغه دوه نفره په هغه ورځ حاضر وه او راغله ویل: هو موږ شاهدي آداء کوو چي رسول الله ﷺ دغه شیماء ده ته ور کړې ده، نو خالد رضی الله عنه و ویل: هو، واخله دا ستا ده، خیر حِیره تسلیم سوه او عبد المسیح بن نُفیله چي د شیماء ورور ؤ را و وتی، دغه عبد المسیح پسله صلحي را و وتی، مګر خور یې شیماء تر صلحي د مخه د بندي په شکل و نیول سوه، نو عبد المسیح و زکریا ته ورغلی ویل: دغه زما خور را پرېږده، زکریا ویل: یا، نه یې در پرېږدم، عبدالمسیح ویل: هر شئ او هرخومره مال چي ته غواړې در به یې کړم خو دا را پرېږده، زکریا ویل: والله تر هغو به یې درپرې نږدم چي لس سوه درهمه را نه کړې.

لس سوه درهمه فقط زر درهمه کیږي لږ پیسې وې، عبد المسیح په تعجب کي سو، ویل: واخله دغه یې لس سوه درهمه، زکریا زر درهمه واخیستل او شیماء یې ور پرېښوول، مسلمانانو زکریا ملامتاوه ویل: سړیه! تا څنګه په زر درهمه ور پرېښوول؟ په والله که دي سل زره درهمه څني غوښتي وای درکول یې، زکریا ویل: سبحان الله! آیا په حساب کي تر لس سوه زیات عدد هم سته؟ لس سِوه خو هغه آخري حساب دی.

تاسي دغه بسیط او عادي ژوند ته وګورئ چي مسلمانانو درلودی، د دغو خلکو حساب نه ؤ زده، په ساینس او تکنالوجي نه پوهېدل، د اوسني علومو او کشفیاتو څخه په هیڅ نه وه خبر، مګر صادقه او واقعي ایمان، د صِدق او اخلاص ایمان، چي په زړه کي ځای ونیسي او د بشري طاقت پر اندازه کوښښ ور سره یو ځای سي دنیا تابع کولای سي، د دغي خبري دپاره ښکاره او واضحه مثال د هغه وخت مسلمانان او د هغو دښمنان کفار دي، کفارو جایدادونه، پیسې او د هغه وخت ټول ممکن وسایل درلودل، خو مسلمانانو که هغه شیان نه درلوده ایمان یې درلودی، نو ځکه د اسلام د دښمنانو په وسه نه سوه پوره چي د مسلمانانو په مقابل کي و دریږي او شکست پسله شکسته یې خوړی، اصلي خبره په صدق او اخلاص کي ده، الله جل جلاله فرمایي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



﴿إِن تَنصُرُواْ ٱللَّهَ يَنصُرْكُمْ وَيُثَبِّتْ أَقْدَامَكُمْ ﴿٧﴾﴾. [محمّد: ۷]

ژباړه: که تاسي په صدق او اخلاص سره د الله جل جلاله د دین نصرت وکړئ الله جل جلاله به ستاسي نصرت وکړي. مسلمانان په عقیده او ایمان جنګیږي نه په شمېر او اسلحه.

*بیرته به خپلې قصې ته را وګرځو:*

کله چي د منافقانو سره دغه په ښکاره مواجهه او مقابله وسوه، او مخکي یې د دسیسو او مشورو مرکز چي د مسجد په نامه سره جوړ سوی ؤ وسوځول سو او د دوی مشران رسوا سوه دا مسئله پر عبدالله بن اُبيّ منافق ډېره درنه سوه، نو د ډېر غَم او هَم په سبب د هجرت په دغه نهم کال کي د الله جل جلاله په امر مړ سو.

کله چي دغه منافق پوه سو چي د مرګ وخت مي راغلی دی دا غوښتنه یې وکړه چي رسول الله ﷺ دي را ته راسي، رسول الله ﷺ نبی الرّحمه هم د هغه منافق کور ته په داسي حال کي ورغلی چي هغه د مرګ پر بستر پروت ؤ او د ځان سره یې خبري کولې، وایي: هغه زما حُلفاء او معاهدین یهود چیري دي؟ چي مرسته او عزت مي وکړي، کشکي دوی زما سره وای، دغه منافق ځان مسلمان بولي په ظاهره یې اسلام ښکاره کاوه، مګر اوس د مرګ پر وخت یهود غواړي، د زړه تعلق یې د هغو سره ؤ، رسول الله ﷺ و فرمایل: آیا ما ته د یهودو له دوستیه نه وې منعه کړی؟ عبدالله منافق وویل: اسعد بن زُراره چي یهود خوابدي کړه څه فایده ورورسېدل؟

اسعد بن زُراره چي د انصارو څخه ؤ او قصه یې مخ کي تېره سوې ده، اوس د اُبيّ زوی منافق هغه یادوي چي د هغه د یهودو څخه بد راتله دغه د یهودو دښمني څه فایده ورته وکړه؟ رسول الله ﷺ ته قهر ورغلی، عبدالله ویل: یا رسولَ الله! دا د عتاب او ملامتی ویلو وخت نه دی زه د مرګ پرحال یم، مګر دغه منافق د مرګ په وخت کي هم د یهودو صفت کوي او بیا یې رسول الله ﷺ ته و ویل: که زه مړ سوم ستا دغه اغوستی قمیص به زما کفن کړې او ته به د جنازې لمونځ را باندي آداء کړې، بل چا ته مه وایه چي هغه د جنازې لمونځ را کړي، رسول الله ﷺ نبي الرّحمه و فرمایل: دا به درسره وکړم، عبدالله بن اُبيّ بن سلول مړ سو.

(c) ketabton.com: The Digital Library


رسول الله ﷺ خلک را ټول کړه غواړي چي د جنازې لمونځ پر آداء کړي، حضرت عمر فاروق رضی الله عنه و ویل: یا رسولَ الله! دا منافق دی او ټولو خلکو ته معلوم دی لمونځ مه پر کوه، ته څنګه د منافق پر جنازه لمونځ کوې؟ رسول الله ﷺ و فرمایل: پرې مي ږده یا عمر! عمر رضی الله عنه بیا و ویل: یا رسولَ الله! دا منافق دی لمونځ مه پر کوه، رسول الله ﷺ و فرمایل: الله جل جلاله ما ته اختیار را کړی دی او فرمایي:

﴿ٱسۡتَغۡفِرۡ لَهُمۡ أَوۡ لَا تَسۡتَغۡفِرۡ لَهُمۡ﴾ [التوبه: ۸۰]

یعني: که ته د منافقانو دپاره بخښنه وغواړې که یې و نه غواړي.

نو دغه دواړه حالته زما اختیار ته پرېښوول سوي دي، منعه کړه سوی نه یم، رسول الله ﷺ إراده وکړه چي لمونځ پر آداء کړي اوس غواړي چي تکبیر ووایي، حضرت عمر رضی الله عنه ور نژدې سو او رسول الله ﷺ یې را کش کړی او و ویل: یا رسولَ الله! دا منافق دی لمونځ مه پر کوه الله جل جلاله منعه کړی یې او فرمایي:

﴿إِن تَسۡتَغۡفِرۡ لَهُمۡ سَبۡعِينَ مَرَّةً فَلَن يَغۡفِرَ ٱللَّهُ لَهُمۡۚ﴾ [التوبه: ۸۰]

یعني: که ته دوی لره اویا واره بخښنه وغواړې الله جل جلاله به دوی ته هیڅکله بخښنه و نه کړي.

نبي الرّحمه ﷺ و فرمایل: تر اویا واره به زیات د مغفرت طلب ورته وکړم، ښایي چي الله جل جلاله یې وبخښي.

دا د رئیس المنافقین عبدالله بن أبيّ سره د رسول الله ﷺ رحمت او مهرباني وه، دا هغه منافق دی چي پر قسم قسم آزارو سر بېره یې د رسول الله ﷺ په ناموس کي هم خبري کړي وې، خو بیا هم رسول الله ﷺ د هغه رحمت او مهربانۍ پر اساس چي الله جل جلاله په ده ﷺ کي ایښي وه او دئ ﷺ یې په غوره کړی ؤ پر دغه منافق د جنازې لمونځ آداء کړی او عبدالله بن أبيّ ښخ کړل سو، د ده تر ښخېدلو وروسته د الله جل جلاله له طرفه آیاتونه نازل سوه چي په هغو کي د حضرت عمر رضی الله عنه د رأيي او نظر تائید موجود ؤ، الله جل جلاله فرمایي:

﴿وَلَا تُصَلِّ عَلَىٰٓ أَحَدٖ مِّنۡهُم مَّاتَ أَبَدٗا وَلَا تَقُمۡ عَلَىٰ قَبۡرِهِۦٓۖ إِنَّهُمۡ كَفَرُواْ بِٱللَّهِ

(c) ketabton.com: The Digital Library



وَرَسُولِهِۦ وَمَاتُواْ وَهُمۡ فَٰسِقُونَ ﴿٨٤﴾ [التوبه: ۸۴]

يعني: او پر هيڅ يوه د دغو منافقانو چې مړ سي د جنازې لمونځ مه کوه او هيڅكله د ده پر قبر د دعاء او استغفار دپاره يا د ښخولو د اهتمام دپاره مه دريږه، بېشكه چې دغه منافقان پر الله جل جلاله كافران سوي دي (چې شريک يې ورته نيولی دی) او پر رسول الله ﷺ كافران سوي دي (چې د زړه د اخلاصه يې نه مني) او په داسي حال كي مړه سوه چې دوی فاسقان وه.

دا د حضرت عمر فاروق رضي الله عنه د موقف تائيد او تاكيد ؤ، مګر حضرت عمر رضي الله عنه به ويل: دا ټول كارونه پېښ سوه زه په تعجب كي نه سوم، زما ډېر تعجب دغه ځای ته ؤ چې ما څنګه دغه جرئت وكړی چې رسول الله ﷺ دي را كش كړم چې لمونځ مه پر كوه زه څنګه دومره دلاوره او د جرئت خاوند سوم چې رسول الله ﷺ را كشوم او منعه كوم، د رسول الله ﷺ په مقابل كي دغه جرئت ما ته ډېر عجب ښكاره كېدی، خولكه چې د الله جل جلاله إراده وه چې داسي دي وسي.

## د رسول الله ﷺ د لور أم كلثوم رضي الله عنها وفات

دا خو تاسي ته معلومه ده چې د ام المؤمنين حضرت خديجې رضي الله عنها څخه د رسول الله ﷺ اولادونه دوه زامن او څلور لوڼي وې، اوله او تر ټولو مشره لور يې زينب رضي الله عنها وه چې د ابوالعاص رضي الله عنه په نكاح كي وه او قصه يې مخ كي درته بيان سوې ده او دوهمه لور يې: رُقَيه رضي الله عنها نومېدل او د حضرت عثمان رضي الله عنه ښځه وه، رقيّه رضي الله عنها په هغه ورځ وفات او ښخه سوه چې مسلمانان د بدر د غزاء څخه راغله.

او بيا رسول الله ﷺ خپله دريمه لور چې أم كلثوم رضي الله عنها نومېدل د حضرت عثمان رضي الله عنه په نكاح كړه، چې په هم دغه سبب عثمان رضي الله عنه ته ذي النورين ويل كيږي (يعني: د دوو روښناييو خاوند) چې هغه دوه نوره يا روښنايي د رسول الله ﷺ دوې لوڼي دي چې ده رضي الله عنه په نكاح كړي دي او په ټول تاريخ كي داسي نه ده پېښه سوې چې يو چا دي د يوه نبي دوې لوڼي په نكاح كړي وي، يوازي عثمان رضي الله عنه دی چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغه شرف يې په برخه سوی دی او د هجرت په نهم کال د رسول الله ﷺ دغه دريمه لور ام کلثوم ؓ چه د حضرت عثمان بن عفان ؓ ښځه وه وفات سوه.

رسول الله ﷺ د دې په وفات ډير غمجن سو او دا ؓ په مدينه منوره کي ښخه سوه، اوس چي ام کلثوم ؓ وفات سوه رسول الله ﷺ و حضرت عثمان ؓ ته و فرمايل: که مي بله لور درلودلای هغه به مي هم ستا په نکاح کړې وای.

او د رسول الله ﷺ خلورمه لور چي حضرت فاطمه ؓ ده د حضرت علي ؓ په نکاح کي وه چي د رسول الله ﷺ تر رحلت شپږ مياشتي وروسته وفات سوې ده.

## د حضرت ابوبکر الصدّيق ؓ حج

د هجرت نهم کال پای ته ورسېدی او د حج موسم راغلی، رسول الله ﷺ دا إراده درلودل چي حج وکړي خو بيا يې و فرمايل: اوس د حج کولو دپاره مشرکان هم راځي او په لڅ بدن طواف کوي، نو دا زما نه ده خوښه چي په دغسي حالت کي حج آداء کړم، نو يې د دغه کال د حج دپاره ابوبکر الصدّيق ؓ و لېږی چي د حج آمر هم دئ ؓ وُ، امام بخاري د ابو هريره ؓ څخه روايت کوي چي رسول الله ﷺ ابوبکر الصدّيق ؓ هغه حج ته ولېږی چي تر حجةُ الوداع د مخه وُ او دئ ؓ يې د دغه حج آمر مقرره کړی او ويل: په خلکو کي به دا اعلان هم وکړې چي پسله سږ کاله څخه دي بيا مشرکان حج ته نه راځي او پر بيت الله به هم څوک لڅ طواف نه کوي، ابوبکر الصدّيق ؓ د نورو مسلمانانو په ملګرتيا حج ته رهي سو، په دغه کال د مسلمان حاجيانو شمېر ډير زيات نه وُ.

ابوبکر الصدّيق ؓ د حج په نيت مکې مکرمې ته رهي دی چي دلته په مدينه منوره کي پر رسول الله ﷺ د سورةُ التوبه ځيني داسي آياتونه نازل سوه چي د هغو آياتو نشرول او تر خلکو پوري رسول ضروري وه، او د دغو آياتو نزول څه په تلوار وُ، ځکه په دغو آياتو کي ځيني داسي عمده او رئيسي شرعي احکام موجود وه چي د هغو احکامو بيانول او تبليغول په حج کي او د عامو خلکو په حضور مطلوب او ضروري وه.

دا خو تاسي ته معلومه ده چي د قرآن مجيد د هرسورت په شروع کي بسم الله

(c) ketabton.com: The Digital Library


سته، خو يواځنۍ سورة چي په سر او شروع کي يې بسم الله نه ده نازله سوې هغه دغه سورةُ التوبه دی او د دې دپاره چي د دغه سورة په شروع کي ولي بسم الله نسته علماء کرام ډير سببونه بيانوي، ځيني علماء کرام وايي: چي د دغو احکامو د رسولو د تلوار په سبب د دغه سورة په شروع کي بسم الله نه ده نازله سوې او ځيني علماء وايي: چي په دغه سورة کي د بسم الله د نه وجود سبب دا دی چي په دې سورة کي پر کفارو شدت دی، د کفارو څخه جلا والی او ليري والی دی، څرنګه چي په بسم الله کي رحمت او مهرباني ده ﴿بِسمِ اللهِ الرّحمٰنِ الرَحِيم﴾ او په دغه سورة کي د کفارو دپاره رحمت او امان نسته، دلته داسي حالت او موقف دی چي په هغه کي رحمت نه ښايي، نو ځکه په دغه سورة کي بسم الله نه را ورل سوه، په دغه سورة کي د بسم الله د نه وجود دپاره علماء کرامو نور سببونه هم بيان کړي دي، چي د بحث د اوږد والي په سبب د هغو تر بيانولو تېرېږم.

کله چي دغه آياتونه نازل سوه رسول اللهﷺ و فرمايل: د دې آياتو ابلاغ او بيانول بايد داسي څوک وکړي چي زما د اهله څخه وي، نو يې حضرت عليؓ امر کړی چي ولاړ سه او په حج کي دغه آياتونه او د هغو احکام خلکو ته ورسوه، حضرت عليؓ د مديني منورې څخه د مکې مکرمې پر طرف رهي سو او د حج پر لار په حضرت ابوبکر الصِدّيقؓ پسي ور ورسېدی، ابوبکر الصِدّيقؓ ورته و ويل: امير يې که مأمور؟ يعني: ته وروسته را پسي راغلې د حج امير يې که بله وظيفه درکول سوې ده؟ حضرت عليؓ و ويل: يا، مأموريم، زما سره څو داسي آياتونه او احکام را سره دي چي هغه بايد په حج کي تر خلکو پوري و رسوم، نو هر وخت چي به خلک سره يو ځای سوه ابوبکرالصِدّيقؓ به حضرت عليؓ امر کړی چي هغه آياتونه تبليغ کړه او تر خلکو پوري يې ورسوه.

د عرفات په ورځ چي ابوبکر الصِدّيقؓ خطبه و ويل بيا يې حضرت عليؓ ته و ويل (قُم يَا عَلي! وَبَلّغ) ولاړ سه يا علي! او هغه آياتونه تر خلکو پوري ورسوه، حضرت عليؓ ولاړ سو او هغه آياتونه او احکام يې بيان کړه، حضرت عليؓ وايي: خبر سوم چي دغه احکام تر ځينو خلکو پوري نه دي رسېدلي ځکه ځيني

(c) Ketabton.com: The Digital Library


داسې خلک وه چې د عرفات خطبې ته نه وه حاضرسوي، نو به زه د خلکو په منځ کې گرځېدم او هغه آیاتونه به مې په لوړ آواز ویل، تر څو چې آواز مې و دربدی.

د محمّد بن کعب القرظي رضي الله عنه او نورو صحابهٔ کرامو څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ ابوبکر الصدّیق رضي الله عنه د هجرت د نهم کال د حج آمر وټاکی او تر هغه وروسته یې علي بن أبي طالب رضي الله عنه د سورةُ التوبه د دیرشو یا څلویښتو آیاتو سره پسې ور ولیږی چې خلکو ته یې بیانول او رَسَول، چې په هغو آیاتو کې مشرکانو ته څلور میاشتې وخت او مهلت ؤ چې په مځکه کې په اطمینان او امان سره گرځېدلای سي، چې هغه څلور میاشتې د عرفات د ورځې څخه شروع کېدلې او د ربیع الاخري پر لسمه پای ته رسېدې.

علي رضي الله عنه دغه آیاتونه خلکو ته د دوی په خېمو کې تلاوتول او ور رسول، دا به یې هم ورته ویل: چې تر سږ کال وروسته به مشرکان حج ته نه راځې او نه به پر کعبه شریفه لڅ طواف کیږي، هغه آیاتونه چې حضرت علي رضي الله عنه خلکو ته رسول هغه د سورةُ التوبه اولنې آیاتونه وه چې الله جل جلاله فرمایي:

﴿بَرَآءَةٌ مِّنَ ٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦٓ إِلَى ٱلَّذِينَ عَٰهَدتُّم مِّنَ ٱلۡمُشۡرِكِينَ ۝١﴾.

ژباړه: هغو مشرکانو ته چې د اسلام په مځکه کې اوسېږي اعلان او خبر تیا ده: کوم عهدونه چې زموږ او ستاسي په منځ کې وه هغه پای ته ورسېدل. یعني: مسلمانانو چې د ځینو کفارو سره کومه صلحه درلودل دا د هغې صلحې انتهاء او آخر دی.

ورونو! په هغه وخت کې د جزیرة العرب کفار یا مشرکان پر دوه قسمه وه، یو داسې کفار وه چې مسلمانانو د هغو سره د صلحې عهد او وعده درلودل او یو بیا هغه کفار وه چې د دوی او مسلمانانو په منځ کې هیڅ قسم عهد او عقد نه ؤ موجود، هغه اوله ډله چې مسلمانانو د هغو سره د صلحې عهد او عقد درلودی هغه هم پر دوه قسمه وه.

**اول:** هغه کفار وه چې د مسلمانانو او د دوی تر منځ د صلحې دپاره یو معین وخت ایښوول سوی ؤ.

**دوهم:** هغه قسم کفار وه چې د هغو سره صلحه موجوده وه، خو دغې صلحې معین وخت نه درلودی.

نو هغه کفار چې اصلاً صلحه نه وه ور سره موجوده او هغه کفار چې صلحه ور سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



موجوده وه څو وخت يې نه ؤ ټاکلی سوی، د کفارو دغو دوو ډلو ته څلور مياشتې وخت ورکول سو، پس له دغو څلورو مياشتو که د دوی څخه هر مشرک په جزيرةُ العرب کي پيدا او ونيول سو هغه وژل کيږي او هر هغه څوک چي د مسلمانانو سره تر معين وخت پوري عهد او اتفاق لري د هغو موده د عهد تر آخري وخته پوري ده، په دې شرط چي دوی په دغه موده کي د هغه خپلي معاهدې څخه هيڅ مخالفت و نه کړي.

او که د جزيرةُ العرب د باندې څخه يو څوک دلته راسي چي اسلام او احکام يې واوري، هغه لره امان دی را دې سي، خو چي اسلام يې واورېدی او مسلمان نه سو نو به د جزيرةُ العرب څخه وزي هغه لره هم امان نسته، الله جل جلاله فرمايي:

﴿ بَرَآءَةٌ مِّنَ ٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦٓ إِلَى ٱلَّذِينَ عَٰهَدتُّم مِّنَ ٱلْمُشْرِكِينَ ۝١ ﴾.

يعني: د الله جل جلاله له طرفه او د رسول اللهﷺ له طرفه هغو کسانو ته چي مشرکان دي او تاسي عهد ورسره کړی دی بېزاري ده.

﴿ فَسِيحُواْ فِي ٱلْأَرْضِ أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ وَٱعْلَمُوٓاْ أَنَّكُمْ غَيْرُ مُعْجِزِي ٱللَّهِ وَأَنَّ ٱللَّهَ مُخْزِي ٱلْكَٰفِرِينَ ۝٢ ﴾.

نو اې مشرکانو! تاسي په دغه مځکه کي څلور مياشتي ګرځئ او اې مشرکانو! تاسي پوه سی چي هيڅ کله تاسي الله جل جلاله نه سی عاجزه کولای او پوه سی چي الله جل جلاله د کافرانو رسوا کوونکی او ذليله کوونکی دی.

﴿ وَأَذَٰنٌ مِّنَ ٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦٓ إِلَى ٱلنَّاسِ يَوْمَ ٱلْحَجِّ ٱلْأَكْبَرِ أَنَّ ٱللَّهَ بَرِيٓءٌ مِّنَ ٱلْمُشْرِكِينَ ۙ وَرَسُولُهُۥ ۚ فَإِن تُبْتُمْ فَهُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ ۖ وَإِن تَوَلَّيْتُمْ فَٱعْلَمُوٓاْ أَنَّكُمْ غَيْرُ مُعْجِزِي ٱللَّهِ ۗ وَبَشِّرِ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ بِعَذَابٍ أَلِيمٍ ۝٣ ﴾.

او د الله او رسول الله له طرفه ټولو خلکو ته د دغه لوی حج په ورځ خبرول يا اورول دي چي الله جل جلاله او رسول اللهﷺ د مشرکانو څخه بېزاره دي، نو که تاسي د شرک څخه توبه وکړه دا ستاسي دپاره خير دی او که مو د اسلام او توبې څخه مخ واړاوه نو پوه سی چي تاسي الله جل جلاله نه سی عاجزه کولای او هغو کسانو ته چي

(c) ketabton.com: The Digital Library


کافران سوي دي، د آخرت په سخت او درد ناکه عذاب سره زېرى ورکړه.

﴿إِلَّا ٱلَّذِينَ عَـٰهَدتُّم مِّنَ ٱلْمُشْرِكِينَ ثُمَّ لَمْ يَنقُصُوكُمْ شَيْـًٔا وَلَمْ يُظَـٰهِرُوا۟ عَلَيْكُمْ أَحَدًا فَأَتِمُّوٓا۟ إِلَيْهِمْ عَهْدَهُمْ إِلَىٰ مُدَّتِهِمْ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلْمُتَّقِينَ ﴿٤﴾﴾.

مګر د مشرکانو څخه هغه کسان چې د هغو سره تاسي عهد کړى دى، بيا هغو ستاسي سره د دغه عهد په پوره کولو کي هيڅ مخالفت او کو تا هي نه ده کړې او د هيڅا سره يې ستاسي په مقابل کي مرسته نه ده کړى (يعني: پر خپلو ټولو وعدو ثابت او قائم ولاړ دي) نو د دغو مشرکانو سره دغه د دوى عهد تر هغه خپلي مو دې پوري پوره کړى، بېشکه چې الله متقيان خوښوي،

﴿فَإِذَا ٱنسَلَخَ ٱلْأَشْهُرُ ٱلْحُرُمُ﴾

نو کله چې دغه حرامي مياشتي تيري سوې (د دغه أشهُرُ الحُرُم څخه رجب، ذوالقعده، ذوالحجه او محرم نه دي مقصد) بلکه د أشهُرُ الحُرُم څخه مقصد هغه څلور مياشتي دي چې کفارو ته وخت ورکول سو، نو کله چې دغه اَشهُرُ الحُرُم تيري سوې يا مسلمانان سى يا د جزيرةُ العرب څخه ووزى.

الله جل جلاله و مسلمانانو ته فرمايي:

﴿فَٱقْتُلُوا۟ ٱلْمُشْرِكِينَ حَيْثُ وَجَدتُّمُوهُمْ وَخُذُوهُمْ وَٱحْصُرُوهُمْ وَٱقْعُدُوا۟ لَهُمْ كُلَّ مَرْصَدٍ ۚ فَإِن تَابُوا۟ وَأَقَامُوا۟ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتَوُا۟ ٱلزَّكَوٰةَ فَخَلُّوا۟ سَبِيلَهُمْ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٥﴾﴾.

نو کله چې دغه څلور مياشتي تيري سوې نو مشرکان چې په هرځاى کي په لاس درسي وژنى يې، بنديان يې کړى، په قلاوو کي يې محاصره کړى او دوى ته د څارلو او تېرېدلو په هر ځاى کي کښېنى او که بيا دوى له کفره توبه وايستل، لمونځ يې د خپلو ټولو حقوقو سره آداء کړى، زکات يې ورکړى، نو د دوى لار ور ايله او خلاصه کړى، بېشکه چې الله جل جلاله بخښونکى او ډېر مهربان دى.

دغو مبارکو آياتو د کفارو سره د ژوندکولو او معاملې مسائل شرحه کړه او په نورو

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروستنيو آياتو کي د دغسي مسائلو پوره تفصيل سته، نو علي رضي الله عنه د دغو آياتو احکام او هغه نور احکام چي رسول الله ﷺ ورته ويلي وه اعلانول، چي د هغې جملې څخه يې يو دغه اعلان هم کاوه (لَا يَدخُلُ الجَنّةَ إلاّ نَفسُ المُؤمِنَةُ) يعني: جنت ته بېله مسلمانه بل څوک نه داخلېږي، جنت فقط د مسلمانانو ځای دی.

(وَلَا يَطُوفُ بِالبَيتِ عُريَانٌ) او پر کعبه شريفه به لڅ انسان طواف نه کوي.

مورږ مخ کي ويلي وه چي د بيت الله الحرام حج او عمره د هغو کارو څخه وه چي عربو ته د ابراهيم عليه السلام له دينه په ميراث ورپاته سوي وه او دغه شئ يې تر اوسه پوري ساتلی ؤ، مګر په حج او عمره کي يې هم د جاهليت ډېر خيرن او باطل شيان ګډ کړي وه، تر داسي اندازې چي دغه حج او عمره! په عوض د دې چي د توحيد پر عقيده يو عبادت وي، د شرک د اعمالو څخه يو عمل ؤ، ابن عائذ رحمه الله وايي: مشرکانو د مسلمانانو سره ګډ حج کاوه، مګر مشرکانو به په تلبيه کي هغه د شرک جملې او کلمې د دې دپاره په لوړ آواز ويلې چي مسلمانان په خپله تلبيه کي غلط کړي او د مشرکانو څخه به ځينو کسانو لڅ طواف کاوه، چي دغه کار يې د بيت الله تعظيم باله او ويل به يې: زه پر کعبه شريفه داسي طواف کوم لکه مور چه زېږولی وم، زما پر بدن د دنيا د شيانو څخه هيڅ داسي شئ نسته چي ظلم دي په ګډ وي، نو يوازي په مکه مکرمه کي نه بلکه په ټولو عربو کي د عورت لڅوالی عادي او معمولي کار ؤ، حتّی طواف يې هم لڅ کاوه، دغه لڅ طواف د هجرت په نهم کال کي منعه سو.

او بل امر دا ؤ چي مشرکان به تر سږکال وروسته د حج و آداء کولو ته نه راځي، په راتلونکو کلو کي به بېله مسلمانانو بل څوک په حج کي نه وي موجود، نو دغه د هجرت د نهم کال حج، هغه آخري حج ؤ چي مشرکان ورته راغلي وه او په راتلونکي کال کي چي د هجرت لسم کال ؤ رسول الله ﷺ په خپله حج آداء کړی، چي په هغه حج کي هيڅ مشرک او کافر نه ؤ موجود.

اوس نو د مسلمانانو ګوبنه کېدل او جلا کېدل يوازي د منافقانو څخه نه وه، بلکه د کفارو او مشرکانو څخه هم جلا او مستقل سوه، دا د هجرت نهم کال ؤ چي د تبوک غزاء پکښې وه او دغه يې هم د حج حالات وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## خلک د الله جل جلاله دین ته په ډلو ډلو داخلیږي

هغه ډلي چي رسول الله ﷺ ته د خپلو قبیلو له طرفه د اسلام را وړلو او اسلام اعلانولو دپاره راغلي دي او د سیرت په کتابوکي ذکر سوي دي تر اویا ډلو زیاتي دي، که زه د ټولو ډلو د حالاتو په را نقلولو شروع وکړم بحث ډیر اوږدیږي او د هغو ټولو په بیانولو کي کومه خاصه فایده هم نسته، دلته به فقط د هغو ډلو حالات په اجمالي ډول سره بیان کړل سي چي هَغه ډلي تاریخي اهمیت لري، یا د هغو ډلو په ملاقات کي کوم عبرت موجود وي، خو لوستونکي او اورېدونکي ته دي دامعلومه وي چي په صورت عموم د ډیرو قبیلو ډلي د مکې مکرمې تر فتحي وروسته راغلي دي، خو هلته ځیني داسي قبیلې هم سته چي ډلي یې د مکې مکرمې تر فتحي د مخه راغلي دي.

## د بنو تمیم وَفد یا ډله

یوه د هغو مهمو ډلو څخه چي مدینې منورې ته د مسلمانېدلو دپاره راغلي دي د بنو تمیم ډله ده، بنو تمیم د عربي قبائلو څخه یوه لویه او قوي قبیله وه، د دغي قبیلې ډله د عُطارِد بن حاجب، اقرع بن حابس، زبُرقان بن بدر او داسي نورو نفرو په مشرۍ مدینې منورې ته د ماپښین په وخت کي را ورسېدل او د رسول الله ﷺ کور ته ورغله، نارې وهي: یا محمّد! أُخرُج لَنَا. یا محمّد! ﷺ موږ ته را ووزه، صحرایي عرب دي د کور مخ ته ولاړ دي نارې وهي، رسول الله ﷺ په تعجب کي سو چي څه پېښه ده؟ ټکنده غرمه او د عربستان شدیده ګرمي ده په دغه وخت کي خلک په کورو کي آرام او راحت کوي دوی ولاړ دي او نارې وهي، رسول الله ﷺ له کوره را و وتی ویل: څه پېښه ده؟ څه وایاست؟ د څه شي دپاره راغلي یاست؟ دوی ویل: غواړو چي ممادحه درسره وکړو (ممادحه) یعني: د ځان مدحه او صفت.

په هغه وخت کي د عربو دا عادت ؤ چي دوې قبیلې به سره مخامخ سوې یا به سره کښېنستې نو به هري قبیلې د خپل ځان اوصاف بیانول، هري قبیلې چي به ډیر اوصاف درلودل هغه به تر هغې بلې لوړه او د عزت خاونده وه او د دغو اوصافو د بیانولو

(c) ketabton.com: The Digital Library



دپاره يې خاص خلک درلودل، هغه څوک چې په خبرو به يې خپل اوصاف بيانول هغه ته خطيب ويل کېده او هغه څوک چې په شعر به يې د خپلې قبيلې اوصاف بيانول هغه د دغې قبيلې شاعر ؤ، نو هرې قبيلې د ځان دپاره خطيب او شاعر هم درلودی.

اوس دغه د بنو تميم مشران د خپل خطيب او شاعره سره راغلي دي غواړي چې د رسول الله ﷺ سره داسې بيان وکړي چې تاسې د فخر شيان ډير لری که موږ؟ نو ويل: غواړو چې ممادحه درسره وکړو.

مګر دوی په سره غرمه رسول الله ﷺ ته د دغې موضوع دپاره راغلي دي او دکور د دباندې څخه نارې ور وهي، اصلاً په جاهليت کې د عربو ژوند دغسې اخلاقو څخه ليرې ؤ نه يې اخلاق پېژندل او نه يې مراعتول، دغه د دوی ژوند ؤ، نو دغه خلک د هغه خپل ژوند سره موافق پر دغه طريقه راغله، رسول الله ﷺ چې کريم او حليم ؤ هيڅ يې نه ورته و ويل، د دوی د غوښتنې سره سم يې و ويل ښه دی، په مسجد کې نور مسلمانان هم سره را ټول سوه، بنو تميم چې خپل خطيب او شاعر ور سره دي کښېنستل، رسول الله ﷺ هم د خپل طرف خطيب او شاعر را وغوښتل، د بنو تميم خطيب عُطارِد بن حاجِب ولاړ سو او په بيانيه يې شروع وکړه خو ټول بيان يې د بنو تميم په مدحه او صفت کې ؤ.

رسول الله ﷺ و فرمايل: يا ثابت بن قيس! ولاړ سه ( ثابت بن قيس رضي الله عنه د مسلمانانو خطيب ؤ) ثابت بن قيس رضي الله عنه ولاړ سو او په خبرو يې شروع وکړه د اسلام او الٰهي دعوت خبري يې وکړې او بيا يې و ويل: کوم فخر به تر دې لوی او لوړ وي چې رسول الله ﷺ په موږ کې دی؟ بل فخر به څه شي او څنګه وي؟ زموږ مسلمانانو څخه چې هر څوک مړ سي جنت ته ځي، کوم فخر به د اسلام تر فخر لوړ وي؟ موږ پر يوه الله ايمان لرو هو، تاسې په خپل قوم او نسب فخر کوی مګر زموږ فخر په آخرت دی، زموږ فخر په جنت دی، زموږ فخر په هغه رسول الله ﷺ دی چې له آسمانه الٰهي وحې پر نازلېږي، د بنو تميم مشرانو و ويل: ستاسې خطيب زموږ تر خطيب ښه او بهتر دی.

بيا د بنو تميم شاعر زِبرقان ولاړ سو داسې شعرونه او بيتونه يې و ويل چې ټول د بنو تميم په مدحه او صفت کې وه، رسول الله ﷺ حَسّان بن ثابت رضي الله عنه ته و ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library


قُم يا حَسّان! حَسّان رضي الله عنه خو پېژنې؟ د رسول الله ﷺ د حضور او د مسلمانانو لوی شاعر، حَسّان رضي الله عنه ولاړ سو او هغه د زبرقان پر وزن او قافيه يې اشعار و ويل، سمدستي په هغه مجلس کي يې پر هغه وزن بيتونه و ويل او اشعار يې هم ټوله د الله جل جلاله په وحدانيت کي وه د رسول الله ﷺ، مهاجرينو او انصارو په مدحه او صفت کي وه، د جنت او آخرت بيان پکښې ؤ، د بنو تميم ډلي بيا و ويل: ستاسي شاعر زموږ تر شاعر ښه او بهتر دی او دغه ډله اسلام ته داخله سوه، رسول الله ﷺ هم هديې او تحفې ورکړې.

د سورةُ الحجرات اولني مبارک آياتونه د دغي ډلي د اخلاقو په باره کي نازل سوي دي چي په هغه کي يواځي دوی ته نه بلکه ټولو مسلمانانو ته د رسول الله ﷺ سره د ګذارې او معاملې کولو لارښوونه ده، الله جل جلاله فرمايي:

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تُقَدِّمُواْ بَيۡنَ يَدَيِ ٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦۖ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَۚ إِنَّ ٱللَّهَ سَمِيعٌ عَلِيمٞ ۝١﴾

ژباړه: اې هغو کسانو چي ايمان مو را وړی دی! خپلې مفکورې او نظريې د الله جل جلاله او رسول الله ﷺ د اوامرو تر صادرېدلو د مخه مه وړاندي کوی، بلکه د هغو د اوامرو انتظار باسی او د الله جل جلاله څخه و بېرېږی، بېشکه چي الله جل جلاله ښه اورېدونکی او په هرڅه خبر دی. د دغه آيات شريف څخه مقصد دا دی چي په هره موضوع او هره معامله کي بايد د الله جل جلاله او رسول الله ﷺ اطاعت وسي، انساني فکر، رأيه او قانون کم او ناقص دي، په سل کي سل يې نتيجه ناکامي او بربادي ده او بيا رب عزوجل فرمايي:

﴿ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَرۡفَعُوٓاْ أَصۡوَٰتَكُمۡ فَوۡقَ صَوۡتِ ٱلنَّبِيِّ وَلَا تَجۡهَرُواْ لَهُۥ بِٱلۡقَوۡلِ كَجَهۡرِ بَعۡضِكُمۡ لِبَعۡضٍ أَن تَحۡبَطَ أَعۡمَٰلُكُمۡ وَأَنتُمۡ لَا تَشۡعُرُونَ ۝٢﴾.

ژباړه: اې هغو کسانو چي ايمان مو راوړی دی! خپل آوازونه د نبي ﷺ تر آواز مه لوړوی او په لوړ آواز خبري مه ورته کوی، لکه ځيني ستاسي چي د ځينو نورو سره په لوړ آواز خبري کوی، دا بېره سته چي ستاسي ښه عملونه به ضائع سي او تاسي به نه ياست په خبر.

﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ يَغُضُّونَ أَصۡوَٰتَهُمۡ عِندَ رَسُولِ ٱللَّهِ أُوْلَـٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ ٱمۡتَحَنَ ٱللَّهُ قُلُوبَهُمۡ لِلتَّقۡوَىٰۚ لَهُم مَّغۡفِرَةٞ وَأَجۡرٌ عَظِيمٌ ۝٣﴾.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: بېشكه هغه كسان چي خپل آوازونه د رسول الله ﷺ په حضور كي كښته كوي (په كښته آواز خبري كوي) دا هغه كسان دي چي الله جل جلاله د دوی زړونه د پرهېزګاری او د الله جل جلاله څخه د بيري دپاره آماده كړي دي. يعني: خپل الٰهي توفيق يې د دوی سره ملګری كړی دی، دغو كسانو لره مغفرت، بخښنه او لوی ثواب دی.

ورونړو! په اسلام كي لوی شعائر څلور شيان دي: قرآن مجيد، رسول الله ﷺ، كعبه شريفه او لمونځ؛ نو تر هرڅه د مخه دا لازم دي چي د دغو څلورو شيانو عزت او احترام وساتل سي، د دغو شيانو سره بې احترامي د اسلام بې احترامي ده.

﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ يُنَادُونَكَ مِن وَرَآءِ ٱلْحُجُرَٰتِ أَكْثَرُهُمْ لَا يَعْقِلُونَ ﴿٤﴾﴾.

هر هغه كسان چي دكور د دباندي له طرفه تا ته نارې در وهي اكثره د دوی عقل نه لري، چي دا هغه د بنو تميم ډله وه.

﴿وَلَوْ أَنَّهُمْ صَبَرُوا۟ حَتَّىٰ تَخْرُجَ إِلَيْهِمْ لَكَانَ خَيْرًا لَّهُمْ ۚ وَٱللَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٥﴾﴾.

كه چيري دوی تر هغو صبر كړی وای ترڅو چي ته ورته را وتلای، دغه به د دوی دپاره خير او ښه وای او الله جل جلاله ډير بخښونكی او مهربانه دی.

دا هغه آياتونه وه چي د بنو تميم د ډلي په باره كي نازل سوه او د ټول امت دپاره درس او لارښوونه ده، چي د خپل رسول او نبي سره بايد څنګه ژوند او معامله وكړي.

## د بني عامر وَفد يا ډله

بيا يوه بله داسي ډله راغله چي د هغو د راتګ هيڅ اميد نه ؤ چي هغه د بني عامر ډله وه، د دغي ډلي مشران عامر بن طُفيل او أربَد بن قيس وه.

كه ستاسي هغه د (بئر معونه) فاجعه په ياد وي كوم چي د رسول الله ﷺ اويا نفره اصحاب كرام پكښي ووژل سوه، د هغه سبب د دغه عامر بن طُفيل غدر او خيانت ؤ، دغه وژل سوو مسلمانانو ته د دغه عامر بن طفيل اكا چي په ملاعبُ الأسِنه سره مشهوره ؤ جِوار او امان وركړی ؤ، خو دغه عامر بن طفيل هغه جوار مات كړی او په خيانت سره يې ټول مسلمانان شهيدان كړه، اوس راغلی دی چي په ظاهره سره مسلمان سي، دغه خائن عامر بن طفيل او أربد بن قيس نه غوښتل چي مسلمانان سي،

(c) ketabton.com: The Digital Library


مګر څرنګه چې د دوی شا وخوا قبیلې اسلام ته داخلې سوې وې نو د دوی قوم دوی مجبوره کړه چې ولاړ سی او مسلمانان سی، د قوم د غوښتنې په سبب دغه دوه نفره د قوم د نورو مشرانو په ملګرتیا مدینې منورې ته ولاړل، مګر دغه دوه نفره چې د قوم عمده رئیسان او د دغې ډلې مشران وه نو د قوم او خپلو ملګرو په وکالت او استازې توب دوی خبرې کولې، خو په لارکې عامر بن طفیل و أربد بن قیس ته ویلې وه: یا أربد! زه والله إسلام نه غواړم، أربد ویل: والله زه یې هم نه غواړم، عامر ورته و ویل: واوره! زه به محمّدﷺ په خبرو مشغوله کړم، کله چې دې ولیدی چې دئ زما سره په خبرو مشغوله دی او تا ته یې فکر نسته نو ته د توري واری پر وکړه، دغو دوو نفرو په لارکې د رسول اللهﷺ پر وژلو اتفاق سره وکړی او دغه ډلې چې به راتلې اسلحه نه ځنې اخیستل کېدل ځکه هغه هم د قبیلو او قومو مشران وه، دا اجازه ورکول کېدل چې د خپلې اسلحې سره د رسول اللهﷺ سره کښیني او ملاقات ور سره وکړي، صحابهٔ کرام به هم موجود او د رسول اللهﷺ پر شا وخوا به حاضر وه، دغه دوه نفره راغله او اوس یې امید دی چې رسول اللهﷺ به د دوی سره تنهاء سي او دوی به هغه خپله خائنانه نقشه عملي کړي.

دغه ډله د رسول اللهﷺ سره په مسجدکې کښېنستل، عامر بن طفیل چې د قوم او ډلې رئیس دی په خبرو شروع وکړه او ویل: یا محمّد!ﷺ خَالِنِي، یعني: زما سره یوازې سه زه غواړم چې په تنهایي کې خبرې درسره وکړم، رسول اللهﷺ و فرمایل: یا والله، ترڅو چې تا پر الله جل جلاله ایمان نه وي را وړی او دا شاهدي آداء نه کړې چې الله یو دی او هغه لره هیڅ شریک نسته در سره تنهاء به نه سم، عامر بیا و ویل: یا محمّد! خَالِنِي، زما سره یوازې او تنها کښېنه زه خبرې درسره کوم، رسول اللهﷺ بیا و فرمایل: «لَا والله حتّى تُؤمِنَ بِاللهِ وحدَهُ لا شريکَ لَهُ» دغه خائن عامر بن طفیل په دې سبب خبرې اوږدوې چې أربد د توري واری وکړي، مګر أربد چې توره ور څخه ده حرکت نه کوي، که څه هم عامر بن طفیل به رسول اللهﷺ په خبرو مشغوله کړی.

په دغه وخت کې چې عامر بن طفیل د رسول اللهﷺ سره خبرې کولې أربد د مسجد په بل طرف کې ناست دی کولای سي چې پر رسول اللهﷺ د توري واری

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړي، خو آرام ناست دی هیڅ حرکت نه کوي، عامر بن طفیل په احمقانه او بې معنٰی خبرو شروع دی، وایي: یا محمّد! ﷺ په والله که زما پر رأیه را سره ولاړ نه سې زه به مدینه په لښکر او آسانو ډکه کړم، یعني: ستا د جنګ دپاره به پر آسانو سپاره راسو، رسول الله ﷺ جواب نه ور کوي.

په هغه حدیث شریف کي چي امام بخاري یې روایتوي وایي: عامر بن طفیل و رسول الله ﷺ ته ورغلی او ورته ویل یې: په درو شیانو کي تا ته اختیار درکوم هر یو چي دي خوښ وي هغه عملي کړه، یو دا چي د دښتو خلک یې ستا او د غرو خلک یې زما، که دا نه وي نو مي د ځان خلیفه وګرځوه، یعني: تر تا وروسته به حکم زما وي، که دا هم نه وي نو دربیمه خبره دا ده چي د غطفان لښکري به په زرو ابلقو یا برګو (سکاڼ) آسانو او زرو ابلقو مادیانو کي درباندي راولم.

عامر دغه خبري کوي او په دې انتظار دی چي ملګری یې د توري واری وکړي، مګر هغه آرام ناست دی، عامر بیا و ویل: یا محمّد! خَالِنِي، رسول الله ﷺ و فرمایل: تر څو چه تا پر یوه الله چي شریک نه لري ایمان نه وي راوړی نه در سره تنهاء کېږم، عامر و ویل: والله زر اشقر او زر شقراء به درباندي راولم، یعني: زر ابلق آسان او زر ابلقي مادیاني به درباندي راولم، چي دا د عامر د لښکر د سپرو شمېر او عدد ؤ، یعني: داسي لښکر به ستا د جنګ دپاره را ولم چي ټول به پر ابلقو (سکاڼ) آسانو سپاره وي، عامر په دغه خبرو رسول الله ﷺ بېروي او مشغوله کوي، خو رسول الله ﷺ د ده د خبرو جواب نه ورکوي، سړئ بیعقل دی او دا د خبرو طریقه نه ده نو ځکه رسول الله ﷺ د ده د خبرو جواب نه ورکوي، په آخر کي عامر بن طفیل و ویل: والله نه مسلمانېږم او له مسجده ووتی رهي سو.

هغه نورو ملګرو یې ورته و ویل: سړیه دا دي څه وکړه؟ ده ویل: زه نه مسلمانېږم، وروسته په لار کي عامر وأربد ته وایي: والله په ټولو عربو کي تر تا قوي، شجاع او دلاوره نه دی را معلوم نو ولي دي نه واهه؟ ما به په خبرو مشغوله کړی او ته به آرام ناست وې آیا وېرېدې؟ بې همته سوې؟ أربد ویل: یا والله! مګر هر وخت چي به ما غوښتل چي د توري واری پر وکړم ته به زما او د ده په منځ کي وې، عامر ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه چيري وم ته چيري؟ سړئ زما څخه ډير ليري ناست ؤ، أربد ويل: يا والله. هر وخت چي به ما غوښتل چي وې وهم ته به مي مخ ته راغلې، غواړې چي ته مي وهلی وای؟ عامر په تعجب کي سو.

ورونو! د هجرت په اولو وختو کي به رسول الله ﷺ د ځان دپاره محافظ، پيره دار او ساتونکی دراوه چي اوس (باډي ګارډ) ورته ويل کيږي، مګر کله چي د الله جل جلاله دغه قول نازل سو چي فرمايي:

﴿وَٱللَّهُ يَعۡصِمُكَ مِنَ ٱلنَّاسِۗ﴾ [المائده: ٦٧]

يعني: الله جل جلاله دي د خلکو څخه ساتي.

نو رسول الله ﷺ هغه پيره دار يا محافظ له ځانه ايسته او ليري کړی، د دغه آيات تر نزول وروسته يې د ځان د حفاظت دپاره څوک نه دراوه.

نو دلته هم الله جل جلاله په خپل حفظ سره وساتی.

د بنو عامر ډله چي رهي سوه په لارکي يې د شپې د تېرولو دپاره د بنو سلول په قبيله کي واړول، بنو سلول يوه بد نامه قبيله وه په عربو کي په غدر او خيانت سره مشهوره وه، خو د دوی او د بنو عامر په منځ کي تعلق او شناخت ؤ، مګر نورو ټولو عربو پر بنو سلول بد ويل، اوس دغه د بنو عامر ډلي په بنو سلول کي واړول او په خپله عامر بن طفيل د يوې ښځي په کور کي بيده سو، سهار چي را ويښ سو ستونی يې پړسېدلی ؤ، چا ويل: د طاعون مرض دی او څوک وايي: سرطان ؤ، خو اصلاً د الله جل جلاله إراده داسي وه چي په يوه شپه يې ټول ستونی و پړسېدی او عامر پوه سو چي مرم، نو يې يوه خبره وکړه چي هغه د ده خبره په عربو کي متل سوه، عامر بن طفيل و ويل:

أغُدّةٌ كَغُدّةِ البكرِ وَمَوتٌ فِى بَيتِ سَلولِيَه!

غُده پاړسوب او مرغړي ته ويل کيږي او بِکر کوچني اوښ يا جونګي ته ويل کيږي، دغه مرغړئ په اوښانو کي يوه ناروغي ده چي ستونی يې و پړسيږي او بيا مري، نو عامر و ويل: دا څومره بد بختي او ذِلت دی، په عوض د دې چي په جنګ کي وژل کېدلای د اوښانو په مرض مرم او د يوې سلولي ښځي په کور کي مرم، عرب به بيا زما کورنۍ ته پېغور ورکوي، عامر متکبر او مغروره ؤ دغسي مرګ يې نه ؤ خوښ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



څو له دغي ناروغيه داسي حال ته ورسېدی چي د ولاړېدلو نه ؤ، خو بيا يې هم و ويل: زما آس را ولی، آس را وستل سو، ويل: پر آس مي سپور کړی او زما اسلحه: توره او نېزه مي را کړی، هغه يې هم ورکړه، آس يوه او بل طرف ته ګرځوي اسلحه پورته او کښته کوي څو د آسه ولوېدی، خلک ورغله چي وې کتی دئ مړ ؤ، دغه د غادر او خاين عامر بن طفيل مرګ ؤ، په دغه ذليل ډول د خپل کلي او کوره ليري مړ سو.

قوم يې دئ ښخ کړی او رهي سوه څو بني عامر ته ورسېدل، د قبيلې ټول خلک ور ته را ټول سوه پوښتني ځني کوي چي څه مو وکړه او کومي نتيجې ته ورسېدلاست؟ دوی د خپل سفر حالات ورته و ويل، قوم پوښتنه ځني وکړه چي څه شي ته يې دعوتولاست؟ أربد بن قيس چي اوس د قوم مشر دی بې حيايي او بې ادبي يې وکړه، د الله جل جلاله په مقابل کي يې جرئت او دلاوري وکړه او ويل: موږ يې و خپل إله ته دعوت کړو، که د محمد ﷺ إله زما مخ ته وای دغه اوس به مي په غشي ويشتلی او وژلی وای (العياذ بالله) دا يې د الله جل جلاله سره بې ادبي او بې پروايي وه.

بيا نو دغه أربد په داسي حال کي چي اسلام يې رَد کړی دی پر خپل اوښ سپور او رهي سو، اوس د قوم مشر أربد بن قيس دی، چا د ده د خبرو په جواب کي څه نه و ويل، دئ د خپل کور په لار کي يوې لوړي ته وختی، په دغه وخت کي برېښنا، صاعقه، چي موږ ټکه ورته وايو پر را ولوېدل أربد بن قيس او د ده اوښ يې د خلکو په حضور وسوځل، خلک ورته ګوري چي أربد او اوښ يې دواړه د دغي برېښنا يا صاعقې په واسطه وسوځل سوه.

دا د هغه جرئت او دلاورۍ نتيجه وه چي ده د الله جل جلاله په مقابل کي درلودل، د أربد بن قيس په باره کي د سورةُ الرعد (۱۲، ۱۳) نمبر آياتونه نازل سوه، الله جل جلاله فرمايي:

﴿هُوَ ٱلَّذِى يُرِيكُمُ ٱلْبَرْقَ خَوْفًا وَطَمَعًا وَيُنشِئُ ٱلسَّحَابَ ٱلثِّقَالَ ﴿١٢﴾﴾.

ژباړه: دغه الله جل جلاله هغه ذات دی چي تاسي ته برېښنا درښکاره کوي، دپاره د بيري د هغه چا چي ضرر ور رسوي، يا دپاره د طمعي د هغه چا چي ګټه او فايده ور رسوي او دغه الله جل جلاله په اوبو درنې اوريځي په هوا کي را پورته کوي.

يعني: دغه د برېښنا ليدل د دوو حالتو څخه خالي نه دي، ځيني هغه کسان دي

(c) ketabton.com: The Digital Library


چي د تاوان څخه يې ببرېږي هغه په ببروي او ځيني هغه کسان دي چي د باران په امید دي هغه په خوشاله کوي چي په زړو کي يې د باران طمعه پيدا سي.

مقصد دا چي د الله جل جلاله ذات د انعام او نعمتو، د انتقام او عذابو، د دواړو جامع دی، چي يو مثال يې دغه دی: چي په دغه اوريځ، تالنده او برېښنا کي په يوه وخت کي دوه متضاد کيفيتونه موجود دي، چي بېره له عذابه او امید د رحمت دي.

مثلاً کله چي اوريځي راسي، تالنده او برېښناوي شروع سي نو خلک په دې امید سي چي باران به واورېږي، خو په عين وخت کي دا بېره هم ورته پيدا سي چي چيري ټکه يا تندره و نه لوېږي چي د انسانانو د هلاکت سبب به وګرځي.

يا کله چي په اوبو ډکي درنې اوريځي راسي خلک په خوشاله سي چي ښه بارانونه به وسي او د الٰهي رحمت سبب به وګرځي، خو په عين وخت کي دا بېره هم ور سره پيدا سي چي د دغو بارانو څخه يو لوی طوفان جوړ نه سي او د انسانانو د هلاک سبب و نه ګرځي، نو د انسانانو دپاره دا لازمه ده چي د الله جل جلاله د رحمت اميدواره وي، او په عين وخت کي يې له عذابه هم وبيرېږي.

﴿ وَيُسَبِّحُ ٱلرَّعْدُ بِحَمْدِهِۦ وَٱلْمَلَٰٓئِكَةُ مِنْ خِيفَتِهِۦ وَيُرْسِلُ ٱلصَّوَٰعِقَ فَيُصِيبُ بِهَا مَن يَشَآءُ وَهُمْ يُجَٰدِلُونَ فِى ٱللَّهِ وَهُوَ شَدِيدُ ٱلْمِحَالِ ﴿١٣﴾ ﴾.

او تسبيح وايي رعد په حمد او ثناء د دغه الله او نوري ټولي ملائکې د الله جل جلاله د بيري او هيبته څخه تسبيح وايي او دغه الله جل جلاله ټکي، تندري پر هغه چا را لېږي چي د الله جل جلاله إراده وي، حال دا چي دغه خلک د الله جل جلاله په شان کي جدل او جګړې کوي، حال دا چي د الله جل جلاله عقوبت او نيول ډېر سخت دي.

د بنو عامر قبيلې چي دغه حالات وليدل چي عامر بن طفيل ته څه ور پېښه سوه؟ او أربد بن قيس ته څه ور پېښه سوه؟ نو بنو عامر ټول پر اسلام و درېدل او اسلام ته داخل سوه. دا د بنو عامر د قبيلې د اسلام سبب ؤ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د بني عبد القيس ډله يا وفد

د بني عبد القيس د قبيلې څخه يوه ډله د مسلمانېدلو دپاره مدينې منورې ته راغله چې شمېر يې څلوېښت نفره ؤ، دغه خلک اسلام او مسلمانېدلو ته په ډېر شوق وه، کله چې د مسجد نبوي ساحې يا ميداني ته ورسېدل اوښان او سامان يې دغسې پرېښوول حتّى اوښان يې هم و نه تړل په ډېر تلوار او چابکي د مسجد پر طرف ور رهي سوه، هر يو غواړي چې تر هغه بل ور د مخه سي او د رسول الله ﷺ سره پر اسلام بيعت وکړي، د دوی په جمله کي يو پوه او هوښيار سړئ ؤ چې نوم يې أحنف ؤ او أشَجِّ عبد القيس هم ورته ويل کېدل، دغه أحنف په پوره احتياط او آرامي، په سړه سينه د اوښانو څخه سامانونه کښته کړه، اوښان يې و تړل پر سامانو وګرځېدی بيا نو مسجد ته ورغلی، هغه نورو ټولو بيعت کړی ؤ اسلام ته داخل سوي وه، دئ په آخر کي راغلی او د رسول الله ﷺ سره يې پر اسلام بيعت وکړی، د رسول الله ﷺ دغه د ده کار ډېر خوښ سو او په خوشاله سو نويې و فرمايل: يا أحنف! په تا کي دوه خويونه يا صفته سته چې د الله او رسول الله خوښ دي، أحنف و ويل: يا رسولَ الله! هغه دوه صفته يا خويونه څه شي دي؟ رسول الله ﷺ و فرمايل: حِلم او احتياط، آرامي او سړه سينه، دغه أحنف ﷺ ډېر حليم ؤ.

د حلم او احتياط فايده دا ده چې يو انسان په خپلو تصرفاتو کي نه غلطيږي، د أحنف د حلم قصې خورا ډېري دي خو دغه يوه قصه يې دلته واورى:

وايي: أحنف يوه مېنځه درلودل، يو وخت د دغي مينځې څخه يو لوښی ور څخه ؤ چې په هغه لوښي کي ايشولي اوبه وې، د مينځې څخه دغه لوښی د أحنف پر يوه کوچني زوی ولوېدی، هغه وسوځل سو او مړ سو، خو أحنف مينځې ته هيڅ هم و نه ويل (دايې حلم ؤ) او بل د ده خوی او خصلت احتياط او آرامي وه، په هيڅ کار کي يې تلوار نه کاوه، رسول الله ﷺ د احتياط صفت کړی دی او هغه يې ښه بللی دی، رسول الله ﷺ فرمايي: احتياط او آرامي په هر شي کي ښه ده ښېله د خير او آخرت په کارو کي، په هغو کي ځنډ مه کوه دا مه وايه: ته و دربېږه چې زه فکر او مشوره وکړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library


مثلاً يو څوک د خير او صدقې کار ته ورو بللې، بېله فکره او حسابه، جمعه او ضرب مه ورته کوه، پلمې او بهانې مه جوړوه هغه د خير کار وکړه، مګر په دنيوي کارو کې احتياط او فکر کول د انسان دپاره خير دی.

بيا نو أحنف ﷺ د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه او ويل: يا رسولَ الله! دغه دوه خويونه ما زده کړي او د ځان عادت مې ګرځولي دي؟ که الله جل جلاله زما په طبيعت کې پيدا کړي دي؟ رسول الله ﷺ وفرمايل: بلکه الله جل جلاله ته پر دغو خويو پيدا کړی يې، أحنف ﷺ وويل: الحمدلله چې الله جل جلاله په ما کې داسې دوه خويونه ايښي دي چې د الله جل جلاله او رسول الله ﷺ خوښ دي، دا د الله جل جلاله احسان دی چې ده جل جلاله را پکښې پيدا کړي دي او بيا يې خوښ کړي دي، نو بنو عبد القيس مسلمانان سوه.

## د بنو حنيفه وفد يا ډله

بنو حنيفه يو قوم او قبيله ده چې د نجد په يمامه کې اوسېدل، ويل کيږي چې دغې قبيلې د جنګ دپاره يو لک نفره درلودل يعني: ډېره لويه او قوي قبيله وه، د دغې قبيلې اووه لس نفره مشران د هجرت په نهم کال کې مدينې منورې ته د اسلام را وړلو دپاره ورغله، چې په دغه ډله کې مسيلمة الکذاب هم ؤ، مسيلمه بن ثمامه، بن کبير، بن حبيب د دغه بنو حنيفه د قبيلې څخه دی، دغې ډلې د انصارو څخه د يوه سړي په کورکې واړول او بيا و رسول الله ﷺ ته بېله مسيلمه څخه د اسلام راوړلو دپاره ورغله، مسيلمه هلته هغه خپل د اړولو په ځای کې پاته سو، مسيلمه مدينې منورې ته راغلی دی خو په اسلام او مسلمانېدلو نه دی راضي، ځرنګه چې مسيلمه د خپل قوم د مشرانو څخه ؤ نو د قوم څخه يې مخالفت نه سوای کولای، د قوم سره راغلی دی مګر رسول الله ﷺ ته نه ورغلی، د قوم دغه راغلو خلکو د رسول الله ﷺ سره بيعت وکړی او اسلام ته داخل سوه.

رسول الله ﷺ دوی ته هديې او تحفې ورکړې (دا د رسول الله ﷺ عادت ؤ چې دغسې راغلو خلکو ته به يې هديې ورکولې) نو قوم وويل: يا رسولَ الله! په موږ کې يو سړئ سته چې زموږ د مشرانو څخه دی مګر سړئ اوس زموږ سره دلته نه دی راغلی،

(c) ketabton.com: The Digital Library



رسول اللهﷺ و فرمايل: څرنګه چي دئ ستاسي د سامانو ساتنه او حفاظلت کوي او ستاسي خدمت کوي نو بد سړئ نه دی، دغه هديه د هغه دپاره هم درسره واخلی.

قوم هم هغه هديه چي د رسول اللهﷺ له طرفه د مسيلمه دپاره وه ور سره واخيستل او مسيلمه ته ورغله او ويل: رسول اللهﷺ دغه هديه ستا دپاره را کړې ده او رسول اللهﷺ و فرمايل: څرنګه چي دئ ستاسي خدمت او مرسته کوي د سامانو ساتنه مو کوي نو بد سړئ نه دی، مسيلمه و ويل: وګوری محمّدﷺ زما صفت وکړی، د مسيلمه ټول ملګري مسلمانان سوه بېله ده څخه، خو د دوهم وار دپاره مسيلمه د خپلو ملګرو سره و مسجد نبوي ته ورغلی او هلته په مسجد کي ناست دي، دئ او د ده قوم خبري سره کوي (مسجد نبوي خو تاسي ته در معلوم دی چي د رسول اللهﷺ کور د مسجد سره مبتنی دی فقط يو دېوال يې ترمنځ ؤ او په دغه دېوال کي د کور او مسجد تر منځ يوه دروازه وه چي پرده پر ځړېدل او رسول اللهﷺ به د دغي لاري څخه مسجد ته ورتلی) نو مسيلمه او قوم يې په مسجد کي ناست دي او خبري سره کوي، د مسيلمه شا د رسول اللهﷺ د کور و طرف ته وه، د شا طرف نه ويني، د مسيلمه ملګرو د مسيلمه څخه پوښتنه وکړه چي ته څه وخت اسلام ته داخلېږې؟ مسيلمه ويل: هر وخت که محمّدﷺ زه د ځان خليفه وګرځولم، يعني: که يې تر ده وروسته حکم ما ته راکړی نو زه مسلمانېږم، په دغه وخت کي رسول اللهﷺ له خپله کوره مسجد ته ور داخل سو او د مسيلمه خبري يې واورېدې، رسول اللهﷺ په دغه سړي کي شر وليدی او پوه سو چي د دغه سړي إراده نوره ده، نو رسول اللهﷺ د مځکي څخه يوه کوچنۍ خاشه را پورته کړه چي په عربي کي (عُرجُون) ورته وايي او ويل: والله که ته زما څخه دغه خاشه و غواړې در به يې نه کړم خلافت خو څه کوې بلکه خاشه نه درکوم او والله نه را معلومېږې بېله دروا‌غجنه او والله ته هغه څوک يې چي په خوب کي را ښکاره کړه سوې اوکه بېله اسلامه بيرته ولاړې الله ﷺ به دي خوار او حقير کړي، دا ټولي سختي او شديدي خبري وې، خير د مسيلمه ملګري ټول اسلام ته داخل سوه مګر مسيلمة الکذاب نه سو مسلمان.

په وروسته کي چي د بنو حنيفه ډله د مدينې منورې څخه ولاړه صحابهٔ کرامو

(c) ketabton.com: The Digital Library

د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه ویل: یا رسولَ الله! د دې خبرې څخه دې څه مقصد ؤ چې ته هغه څوک یې چې په خوب کې را ښکاره سوې؟ رسول الله ﷺ و فرمایل: ما په خوب کې ولیدل چې د ټولې مځکې خزانې ما ته را جمعه کړه سوې او بیا مې په خپلو لاسو کې د سرو زرو دوه وښي ولیدل چې زما ښه نه ځني راغله، وحيِ را ته وسوې چې پوه یې کړه، ما هم دغه وښي پوه کړه او هغه په هوا سوه، صحابهٔ کرامو و ویل: یا رسولَ الله! د دغو وښیو ترجمه دې په څه شي سره وکړه؟ رسول الله ﷺ و فرمایل: د هغو ترجمه مې په دوو دروغجنانو سره وکړه چې په جزیرةُ العرب کې به پیدا کیږي، دوه نفره چې په دروغو سره به د نبوت دعوه کوي او الله جل جلاله به یې ذلیله کړي.

واقعاً هم د رسول الله ﷺ تر رحلت د مخه دوه نفره چې په دروغو یې د نبوت دعوه وکړه په جزیرةُ العرب کې پیدا سوه چې یو یې دغه مسیلمة الکذاب په یمامه کې ؤ چې د هجرت په لسم کال کې یې د نبوت دعوه وکړه او د ابوبکر الصدِّیق رضي الله عنه په خلافت کې چې د هجرت دوولسم کال او د ربیع الأول میاشت وه د هغه وحشي چې د حمزه رضي الله عنه قاتل ؤ او ابودُجانه رضي الله عنه له طرفه ووژل سو او بل نفر یې اسود العُنسي ؤ چې په یمن کې ؤ او د رسول الله ﷺ تر رحلت یوه ورځ د مخه د فیروز له طرفه و وژل سو، د ده د وژل کیدلو خبر د وحیو په واسطه رسول الله ﷺ ته راغلی او صحابهٔ کرامو ته یې هم دغه خبر و وایه، خو ابوبکر الصدِّیق رضي الله عنه ته چې د رسول الله ﷺ خلیفه ؤ دغه خبر د خلکو په واسطه له یمنه را ورسېدی.

د مسیلمة الکذاب قصه اورېده ده، خو کله چې مسیلمه خپل وطن یمامې ته ولاړی د خپل ځان او د نبوت په باره کې یې فکرکاوه تر څو چې داسې دعوه یې وکړه چې دئ د الله جل جلاله له طرفه د رسول الله ﷺ سره په نبوت کې شریک کړل سو او د ځان دپاره یې د نبوت دعوه وکړه، له خپله ځانه یې د شعر پر قسم بې معنٰی جملې جوړولې او ویل به یې چې دغه وحيِ دي او ما ته رانازلیږي، خپل قوم ته یې شراب او زناء ور حلال کړه، خو پر دغه سربېره یې دا شاهدي هم آداء کول چې رسول الله ﷺ نبي دی، نو یې د یمامې څخه و رسول الله ﷺ ته لیک ولېږی چې په هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې يې ليکلي يې وه: مِن مسيلمَةِ رسولِ اللهِ إلىٰ محمّد رسولِ الله: خبر اوسه چې ما ته هم دغه د نبوت په کار کې ستا سره شراکت را کړل سو، د ځکې نيم امر او حکم زموږ دی او نيم يې د قريشو دی مګر قريش داسې قوم دی چې تېرئ او تجاوز کوي.

رسول اللهﷺ يې په جواب کې ليک ور ولېږی چې ورته ليکلي يې وه:

«بسم الله الرّحمٰن الرحيم، مِن محمّد رسولِ الله الى مسيلمة الكذاب».

(له دغه وخته د مسيلمه لقب کذّاب يعني درواغجن سو)

السّلام علىٰ من إتّبع الهُدىٰ، امّا بعد:

ځکه د الله جل جلاله ده او هغه چا ته يې ورکوئ چې د ده جل جلاله خوښه وي او آخرت د پرهېزګارانو دی.

مسيلمة الكذاب له دغه وخته ځخه و خپلو کاذبو إدعاګانو ته دوام ورکړی او د ده دغه د درواغو دعوې د يوه مسلمان نفر په مرتد کېدلو سره نور هم شهرت پيدا کړی، چې هغه قصه داسې وه:

کله چې د بنو حنيفه ډله مسلمانان سوه د هغې ډلي ځخه يو نفر چې نهار بن عُنفوه نومېدی دالته په مدينه منوره کې پاته سو، قرآن کريم يې په ياداوه او د اسلام احکام يې زده کول، سورةُ البقره او سورةُ آل عمران يې د اُبيّ بن کعب رضي الله عنه په مرسته او کومک په ياد کړه نور د اسلام احکام يې هم زده کړه، ځو د ده سره کافي علم او معلومات جمعه سوه، د قرآن مجيد ځخه يې ډېره حصه په ياد کړه، ابو هريره رضي الله عنه په يوه حديث کې روايت کوي او وايي: زه او دغه نهار او د انصارو ځخه بل درېيم نفر سره ناست وُ چې رسول اللهﷺ راغلی او يوه عجيبه خبره يې وکړه، موږ درې نفره ناست يو رسول اللهﷺ و فرمايل: ستاسي ځخه يو نفر په اورکې دی، يعني: ستاسي درو نفرو ځخه يو نفر دوږخ ته ځي، ابو هريره رضي الله عنه وايي: زه پر خپل ځان ډېر زيات وبېرېدم او پسله څه مودې هغه انصاري هم پر اسلام وفات سو، وايي زما بېره نوره هم زياته سوه ځکه د هغو درو نفرو ځخه زه او نهار پاته سوو او نهار عابد، عالم او د قرآن مجيد حافظ دی، همېشه لمونځ او عبادت کوي، د قرآن مجيد په يادولو او حفظولو مشغوله دی، نو زه پر خپل ځان ډېر بېرېدم چې هغه دوږخي به زه يم.

(c) ketabton.com: The Digital Library


او بیا رسول الله ﷺ دغه نهار د بنو حنیفه قبیلې ته ولېږی چي هغو ته اسلام او د اسلام احکام وروښيي، ځکه ده د اسلام څخه ډېر شیان زده کړي وه، نو ویل: بنو حنیفه ته ورسه (چي په خپله د دغه نهار قبیله وه) د دین احکام وروښیه، نهار هم رهې سو او یمامې ته ورسېدی، د مخه تر دې چي د خلکو سره یو ځای سي مسیلمة الکذاب وروغوښتی او ورته وي ویل: یا نهار! که دي خلکو ته و ویل چي مسیلمه نبي دی زه به دي د ځان وزیر وګرځوم، د نهار هم د دنیا طمعه پیدا سوه، دئ فقیر او غریب سړئ ؤ او اوس په یوه وار د مسیلمه وزیر ځني جوړېږي نو دنیا ورکش کړی، کله چي د بنو حنیفه مسلمانان او کفار ورته را ټول سوه او د ده څخه یې پوښتنه وکړه چي محمّد ﷺ څه ویل؟ نهار و ویل: محمّد ﷺ ویل: مسیلمه هم ما غوندي یا زما پر قسم نبي دی، د بنو حنیفه څخه هغه کسان چي مسلمانان سوي وه هغه خلک د دغه نهار په واسطه بیرته مرتد سول او د بنو حنیفه خلکو مسیلمه په نبوت ومنی، چي د نهار دغه کار د مسیلمة الکذاب د نبوت د شهرت سبب وګرځېدی.

دغه قصه موږ ته یوه ډېره مهمه لار ښوونه کوي، هغه دا چي موږ خلک نه سو پېژندلای، هو، رسول الله ﷺ د دغه نهار په باره کي د الٰهي وحیو او معلوماتو په سبب پېش ګويي کړې وه او موږ ولیدل چي هغه څه وکړه؟ خو موږ امت عاجزه بندګان یو بېله هغه څه چي الله جل جلاله او رسول الله ﷺ په خبر کړي یو او بېله ظاهري حالته نور څه نه سو ویلای.

حتّی رسول الله ﷺ کله چي د تبوک د غزاء څخه بیرته مدینې منورې ته راتلی پر لارې یو ځای واړول، ځینو نفرو د لښکر اوښان بوتله او ځارل یې، خو د دغو نفرو څخه د رسول الله ﷺ اوښه ورکه سوه نو صحابهٔ کرام په دغه اوښه پسي ګرځېدل چي پیدا یې کړي، هلته بیا په لښکر کي یو منافق ؤ چي نوم یې زید بن لُصیط القینقاعي ؤ، دغه منافق په دې سفر کي د عمّاره بن حَزم الأنصاري رضي الله عنه په ډله کي ؤ، چي دغه عمّاره رضي الله عنه د اهل بدر او د هغو کسانو څخه دی چي د عقبې په بیعت کي حاضر وه، نو دغه منافق د عمّاره په خېمه کي ناست دی، مګر په خپله عمّاره رضي الله عنه په دغه وخت کي د رسول الله ﷺ سره د هغه په خېمه کي دی چي هغه خېمه بیا د لښکر په بله منطقه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کي وه، کله چي د رسول الله ﷺ د اوښي د ورکېدلو خبر په لښکر کي نشر سو، دغه زيد منافق چي د عمّاره رضي الله عنه په خېمه کي دی و وېل: آيا محمّد نه وايي چي زه نبي يم او د آسمان په خبر مو خبروي؟ مګر اوس دئ نه دی خبر چي د ده اوښه چيري ده؟ دا خو دلته د عمّاره رضي الله عنه په خېمه کي د منافق زيد خبره وه.

رسول الله ﷺ چي هلته ليري په خپله خېمه کي ناست دی او عمّاره رضي الله عنه هم هلته ورسره ؤ و فرمايل: يو سړئ وايي: (چي مقصد يې دغه زيد منافق ؤ) چي محمّد وايي زه نبي يم او د آسمان په خبر مو خبروي، مګر اوس نه دی خبر چي خپله اوښه يې چيري ده، رسول الله ﷺ نور هم و فرمايل: زه نه يم خبر مګر په هغو شيانو چي الله جل جلاله په خبر کړی يم، (يعني: تر هغه څه چي الله جل جلاله په خبر کړی يم زيات غيب نه دي را معلوم) نو الله جل جلاله خبر کړم چي زما اوښه په فلانی شېله کي او په فلاني ځای کي ده، قيضه يا تناوېې په يوه و نه پوري بند دی نو اوښه هغې وُني بنده کړې ده ولاړ سی او را يې ولی، نفر پسي ولاړه واقعاً هم اوښه په هغه ځای کي پر هغه قسم په خپل تناو بنده سوې وه او اوښه يې راوستل.

د دغي واقعې تر ليدلو او اورېدلو وروسته عمّاره رضي الله عنه د رسول الله ﷺ د خېمې څخه خپلي خېمې ته راغلی او په خپله خېمه کي دغه بيان کوي او وايي: چي والله اوس عجبه واقعه پېښه سوه او رسول الله ﷺ عجبه خبره وکړه، مقصد هغه قصه يې ټوله بيان کړه، د خېمې د خلکو څخه يوه نفر چي په دغه خېمه کي موجود ؤ عمّاره رضي الله عنه ته و وېل: دغه خبره ستا تر را تګ د مخه دغه زيد وکړه، عمّاره رضي الله عنه پر زيد مخ را واړاوه او پر څټ يې په سکانو وهي او ور ته وايي: الله دي مړ کړه ته د رسول الله ﷺ په باره کي دغه خبري کوې؟ تر هغو يې واهه چي خلکو ځني خلاصاوه او بيا يې د خپلي خېمې څخه وشړی.

مقصد دا چي غيب بېله الله جل جلاله څخه بل هيڅا ته که په ځمکه کي دي که په آسمانو کي دي نه دي ورمعلوم، الله جل جلاله فرمايي:

﴿قُل لَّا يَعْلَمُ مَن فِي ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ٱلْغَيْبَ إِلَّا ٱللَّهُ﴾. [النمل: ٦٥]

نو رسول الله ﷺ په نهار باور او اعتماد وکړی چې بنو حنیفه ته یې ولېږی، مګر نهار مرتد سو او دغسې فتنه انګېزه یا د فتنې ډک کارېې وکړی، نو ځکه علماء کرام وايي: که څوک غواړي چې په یو چا پسې اقتداء وکړي او د هغه متابعت وکړي. نو دي د داسې چا متابعت کوي چې هغه پر اسلام وفات سوی وي او پر خير يې خاتمه سوې وي، مګر ژوندئ انسان؟ د هغه د فتنې او خرابېدلو ضمانت څوک نه سي کولای، ته نه يې خبر چې څه وخت او کله؟ څنګه او چيري؟ په کوم فساد او کومه فتنه اخته کيږي، او د حقې لاري څخه اوړي، لکه نن ورځ چې داسې ډېره پېښه ده، ډېر خلک وه چې په ښه علم، په ښه جهاد، په ښه نامه او ښه عمل سره مشهوره وه، خو په يوه وار بلې ډيري فاسدې لاري ته واوښتل، خو د دغه پر عکس داسې هم پېښه ده چې ډېر پر باطله لار تلونکي خلک حقې لاري ته اوښتي دي، الله ﷻ دي موږ او تاسې ټول پر هغه مستقيمه لار ثابت او قائم وګرځوي چې د الله ﷻ رضاء او زموږ د دارينو خير پکښې وي، الله ﷻ مو دي آخره خاتمه پر ايمان بالله او اسلام کړي.

## د طئ د قبيلې وفد يا ډله

مدينې منورې ته د مسلمانېدلو دپاره په ډلو ډلو خلک او قبيلې راتلې، د هغو مهمو ډلو څخه يوه هم د طئ د قبيلې ډله ده چې په حقيقت کې دا ډله نه وه بلکه رسول الله ﷺ د طئ د قبيلې د فتحه کولو دپاره يوه سريه ولېږل، عدي د حاتم طايي زوی د طئ د قبيلې مشر او رئيس ؤ، د ده پلار هغه حاتم الطايي دی چې په سخا سره مشهوره ؤ او تر اوسه پورې يې نوم ياديږي، عدي د دغه سخي حاتم طايي زوی او د طئ د قبيلې رئيس دی.

عدي وليدل چې اسلام ورځ په ورځ نشريږي نو دئ په بېره کې ؤ او همېشه به يې احتياط کاوه، د مدينې منورې او طئ پر لار هلته يوه صومعه وه چې په دغه صومعه کې د نصاراوو ځيني راهبان اوسېدل، عدي د حاتم الطايي زوی د دغې صومعې يوه راهب ته ويلي وه: که دي هر وخت د مسلمانانو لښکر او بيرغان وليدل چې زموږ پر طرف را رهي دي ما ته خبر را کړه، عدي غواړي چې په دغسې وخت کې وتښتي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



عدي د تیښتي او سفر دپاره بوده او د سفر ټول لوازم تیار او آماده کړي دي د تیښتي دپاره پر دوو ګوتو ناست دی، کله چي هغه راهب د مسلمانانو له طرفه د هغو لښکر او بیرغان ولیدل چي پر دوی ور رهي دي نو يې عدي بن حاتم الطایي ته خبر ورکړی چي د مسلمانانو لښکر را رهي دی که ستا د یوه کار إراده وي هغه وکړه، عدي بن حاتم څه وکړه؟ فقط خپله ښځه او اولادونه يې ور سره رهي کړه او مالونه يې ور سره واخیستل طئ يې پرېښاوه او د شام پر طرف د شام نصاراوو ته ور رهي سو.

مسلمانان راغله طئ يې ونیوی څوک چي تښتېدلای سوای هغه وتښتېدل او هغه پاته نفر بندیان ونیول سوه، د بندیانو په جمله کي یوه هم د عدي بن حاتم الطایي خور وه، بندیان مدینې منورې ته را وستل سوه او مسجد ته نژدې يې ځای ور جوړ کړی، بندیان يې په دغه ځای کي واچول، رسول الله ﷺ چي به لمانځه ته تلی دغو بندیانو ته به ور وګرځېدی.

کله چي رسول الله ﷺ بندیانو ته ورغلی د عدي خور چي په بندیانو کي وه ولاړه سوه او ویل: یا محمّد! ﷺ زه فلانۍ د قوم د رئیس حاتم الطایي لور یم، پلار مي مړ سو او د کورنۍ مشر مي غائب دی نو رحم را باندي وکړه إکرام او عزت مي وکړه، رسول الله ﷺ و فرمایل: د کورنۍ مشر دي څوک ؤ؟ ښځي ویل: ورور مي عدي، رسول الله ﷺ و فرمایل: هغه د الله او رسول الله څخه تښتېدلی؟ دئ د الله، رسول الله او اسلامه څخه تښتي؟ نور نو رسول الله ﷺ ساکت سو او دې هم د ویلو دپاره نور څه نه درلودل او کښېنستل، دوهمه ورځ بیا رسول الله ﷺ بندیانو ته ورغلی، ښځي بیا هغه خبره ورته وکړه او رسول الله ﷺ هغه جواب ورته و وایه، دریېمه ورځ چي بیا رسول الله ﷺ ورغلی ښځه ناسته ده او نن څه نه وایي، ځکه د ویلو دپاره شئ نه لري او امید يې هم نسته، ښځه وایي: د رسول الله ﷺ شا ته یو نفر ولاړ ؤ (چي هغه نفر علي بن أبي طالب رضي الله عنه ؤ) وایي: هغه نفر اشاره را ته وکړه چي ولاړه سه او خپل عرض دي و وایه، وایي: زه بیا ولاړه سوم او هغه خبره مي وکړه، رسول الله ﷺ و فرمایل: ستا مشر عدي بن حاتم الطایي دی هغه چي د الله او رسول الله څخه تښتېدلی دی؟ مګر ته، تا به ایله کړو او که عدي راغلی د هغه به هم اکرام او

(c) ketabton.com: The Digital Library


عزت وکړو، دا جمله يې د دې دپاره ورته وويل چې د عدي زړه و اسلام ته مائل سي.
نو ښځه چې اوس خلاصه او ايله سوه وې ويل: يا رسولَ الله! که څوک شام ته تله ما خبره کړه چې خپل ورور ته ولاړه سم، په دغه وخت کي بيا يوه قافله شام ته رهي کېدل او رسول الله ﷺ دغه ښځه د هغې قافلې سره ولېږل، څو شام ته ورسېدل او هلته خپل ورور عدي بن حاتم ته ورغله، هغه د ليري وپېژندل چې دا مي خور ده او دې هم چې د ليري وليدی پر ناري يې کړه: ظالمه! ځان او خپله کورنۍ دي وتښتول او خلاص دي کړه زه ستا د کورنۍ څخه نه وم؟ څرنګه چې د خور خبري يې حق او پر ځاى وې او هغه ملامت ؤ نو ويل: هر څه چې وايې هغه حق او رشتيا دي، غلطي زما ده، په خپله ګناه يې اقرار وکړی او دا عادت دی که څوک خپله غلطي ومني هغه مقابل طرف نرميږي او که يو چا نور هم دلايل ويل بيا يې هم ځان نه ملامتاوه مقابل طرف نور هم زيات په قهر کيږي.
کله چې دې وليدل چې ورور يې پر خپله غلطيا قانع دی او اقرار کوي دا هم نرمه سوه، نو ويل: يا عدي! د هغه چا له طرفه راغلې يم چې تر ټولو انسانانو ښه او بهتر دی، عدي وايي: زما خور د عقل او پوهي خاونده وه.
واقعاً هم داسي ښځي سته چې د ښه فکر او پاخه عقل خاونداني وي او د عدي خور د هغو ښځو څخه وه چې عقل او تدبير يې درلودی، نو عدي وايي: ما پوښتنه ځني وکړه چې د رسول الله ﷺ په باره کي دي څه خيال او فکر دی؟ خور مي وويل: يا عدي! سړئ د دوو حالاتو څخه خالي نه دی يا به نبي وي يا پاچا، که نبي ؤ ملګر تيا يې ابدي شرف دی، تر دې به بل زيات شرف چيري وي چې ته دي د يوه نبي د ملګرو څخه سې او که پاچا وي نو په والله د داسي چا له طرفه راغلې يم چې تر ټولو خلکو کريم او بهتر دی، و هر چا ته يې خير رسيږي، عدي وايي: زه په شام کي تر هغه ډير نا خوښه وم لکه څومره چې د رسول الله ﷺ څخه نا خوښه وم نو مي د ځان سره و ويل: که چيري زه ورسم او وګورم که پاچا ؤ او د نبوت دعوه يې په ناحقه سره کړې وه دا حال نه را څخه پټيږي او که د نبوت په دعوه کي صادقه ؤ متابعت به يې وکړم، عدي وايي: د مدينې منورې پر طرف رهي سوم څو هلته ورسېدم او مسجد

(c) ketabton.com: The Digital Library



نبوي ته ور داخل سوم، رسول الله ﷺ په مسجد کي ناست ؤ. ما سلام ورته و وایه او ده را ته و ویل: څوک یې؟ ما ویل عدي بن حاتم الطایي، رسول الله ﷺ یې ښه هرکلی او استقبال وکړی او ډیر په خوشاله سو ځکه د طئ د قبیلې سر دار او رئیس دی او د حاتم الطایي زوی دی، په خلکو کي د لوړي درجې او مقام خاوند دی نو خود رسول الله ﷺ یې تود هرکلی وکړی، عدي وایي: اوس نو زه ګورم چي محمّد ﷺ نبي دی که پاچا؟ وایي: رسول الله ﷺ زه خپل کورته ور سره رهي کړم پر لاري رهي یو (اوس د رسول الله ﷺ سره د عربو د مشرانو څخه یو مشر، د عربو اشرافو څخه یو شریف ور سره ملګری دی) خو په لار کي یوه سپین سرې ښځه ورته ودرېدل او ویل: یا رسولَ الله! غواړم چي څو خبري درته وکړم، عدي وایي زه یې پرېښوولم او د ښځي خبرو ته یې غوږ ونیوی، تقریباً یو ساعت تېر سو زه ولاړ یم او رسول الله ﷺ د ښځي خبرو ته غوږ نیولی دی، عدي وایي: ما د ځانه سره و ویل: په والله محمّد ﷺ پاچا نه دی د پاچهانو اخلاق داسي نه وي دا د انبیاوو اخلاق دي چي د ضعیفه او سردار فرق نه پرکیږي، څومره چي د ساداتو او اشرافو مراعت، اهتمام او غمخوردني کوي، په هغه اندازه د غریبانو، بې وزلو او ضعیفو غمخور هم وي، عدي وایي: کله چي د هغه سپین سري د خبرو څخه فارغه سو نو یې زه رهي کړم څو کورته ورسېدلو، کورته ور ننوتلو په کور کي یې هیڅ شئ نسته یوه بوریا ده او یوه کوچنۍ نالچکه، د نالچکي پوښ د څرمني ؤ او په خاشو ډکه وه، (د هغه وخت څرمني د اوسنیو څرمنو پر قسم پستې او رنګه نه وې، فقط یو پوست ؤ چي وچ کړی او پخ کړی به یې ؤ) د دغي نالچکي په نس کي نه وړی وې نه پنبه بلکه د خاشو ډکه ده، په ټول کور کي یې بل هیڅ شئ نسته، نو ما د ځان سره و ویل: دا د پاچا کور نه دی بلکه دا د نبي کور دی.

عدي وایي: کله چي موږ د کښېنستلو إراده وکړه هغه نالچکه یې ما ته راکړه او ویل پر دغه کښېنه، عدي وایي: ما بیرته ده ﷺ ته ورکړه ما ویل: یا، ته پر کښېنه، ده ﷺ بیرته ما ته راکړه ویل: ته پر کښېنه او ډیر یې را ته و ویل، څو زه هغه د خاشو پر نالچکه کښېنستم او دئ ﷺ پر مځکه کښېنستی، بیا مي د ځان سره و ویل: والله

(c) ketabton.com: The Digital Library


د پاچا کارونه داسي نه وي بلکه دا د نبوت اخلاق دي، بیا نو رسول الله ﷺ راته وویل: یا عدي! آیا بېله یوه الله بل إله در معلوم دی؟ ما ویل: یا، بیا یې و ویل: آیا تر الله جل جلاله بل لوی شئ در معلوم دی؟ ما ویل: یا، بیا رسول الله ﷺ یوه عجبه خبره را ته وکړه ویل: یا عدي! آیا ته پر رکوسیت نه یې؟ عدي وایي: زه په تعجب کي سوم (رکوسِیت) یو داسي دین دی چي بالکل له منځه تللی دی، داسي څوک نسته چي د هغه دین متابعت دي کوي بېله ما څخه.

څرنګه چي عدي د مختلفو ادیانو په باره کي کتابونه مطالعه کول او ویل، نو د معلوماتو خاوند ؤ او د دغي مطالعې د لاري د رکوسیت دین ور معلوم سو او دغه دین یې د ځان دپاره خوښ او اختیار کړی.

رکوسیت داسي دین دی چي د نصرانیت او یهودیت یا شرک په منځ کي دی، عدي وایي: خلکو دا فکر کاوه چي زه نصراني یم مګر په حقیقت کي زه رکوسي وم او زما ښځه، ورونه، بلکه ټوله کورنۍ په دې نه وه خبر چي زه رکوسي یم د ټولو دا خیال ؤ چي زه نصراني یم، مګر زما حقیقي عقیده د رکوسیت وه او چا ته مي نه ښکاره کول، خود رسول الله ﷺ په جواب کي مي و ویل: هو زه رکوسي یم.

بیا رسول الله ﷺ راته و ویل: ته هغه نه یې چي د خپل قوم څخه مرباع اخلې؟ (مِرباع) یو قسم ټکس یا مالیات دي چي اصلاً د غنیمتو څلرمه حصه وه، دغه مِرباع یې پر خپل قوم لازمه کړې وه چي ده ته به یې ورکول، نو اوس رسول الله ﷺ ورته وایي: ته د خپل قوم څخه مرباع نه اخلې؟ ما ویل: هو اخلم یې، رسول الله ﷺ راته و ویل: دغه د مرباع اخیستل خو ستا په دین کي حرام دي، ما ویل: هو، حرام دي او ما ته نه دي روا.

عدي وایي: زه ډېر په تعجب کي سوم، اول دا چي رکوسیت یو ورک او پای ته رسېدلی دین دی چي چا ته نه دی ور معلوم مګر رسول الله ﷺ ته هغه ور معلوم ؤ او بیا یې احکام هم په تفصیل سره ور معلوم دي، په حلال او حرام یې خبر دی او پوه سو چي زه پر هغه دین یم او په هغه کي بیا حرام کار هم کوم، رسول الله ﷺ بیا را ته و ویل: یا عدي! ښایي ته د اسلامه څخه دغه منعه کړی یې چي ته مسلمانان غریبان

(c) ketabton.com: The Digital Library



وينې مال او شئ نه لري؟ په والله قريبه ده چې مسلمانان به دومره مال پيدا کړي چې يو سړئ به په يړ چا پسي ګرځي چې د خپل مال زکات او صدقه ورکړي، خو داسي څوک به نه سي پيدا کولای چې هغه د ده زکات او خيرات دې واخلي.

يا عدي! ښايي ته د اسلامه ښځه دې منعه کړی يې چې مسلمانان همېشه په جنګو او ښره کي دي، مسلمانان لږ او دښمنان يې ډېر دی؟ په والله قريبه ده چې يوه مسلمانه ښځه به د قادسيې ښځه تر بيت الله الحرام پوري يوازي بېله جِوار او امان ښځه ځي او په پوره امان کي به وي، بېله يوه الله جل جلاله د بل چا ښځه به نه بيريږي.

او يا عدي! ښايي ته د اسلام ښځه دې منعه کړی يې چې ته وينې: حکم او پاچهي د نورو په لاس کي ده مسلمانان په خېمو او خرابو کي ژوند کوي؟ په والله قريبه ده چې ته به واورې: د بابل قصرونه مسلمانانو فتحه کړل.

عدي وايي: ما وويل: أشهد أن لا إله إلاّ الله و أشهد أنّکَ رسول الله، نور مي نو دا يقين سو چې محمّد ﷺ نبي او رسول الله دی او اسلام مي په زړه کي ټينګ سو، خير له کوره را ووتلو او مسجد ته راغلو، رسول الله ﷺ په لمانځه کي د سورةُ التوبه د نورو آياتو تر څنګ د سورةُ التوبه دغه آيات شريف هم تلاوت کړی چې الله جل جلاله فرمايي:

﴿ ٱتَّخَذُوٓاْ أَحۡبَارَهُمۡ وَرُهۡبَٰنَهُمۡ أَرۡبَابٗا مِّن دُونِ ٱللَّهِ وَٱلۡمَسِيحَ ٱبۡنَ مَرۡيَمَ وَمَآ أُمِرُوٓاْ إِلَّا لِيَعۡبُدُوٓاْ إِلَٰهٗا وَٰحِدٗاۖ لَّآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَۚ سُبۡحَٰنَهُۥ عَمَّا يُشۡرِكُونَ ﴿٣١﴾ ﴾.

دغه آيات شريف د کتابي کفارو په باره کي دی، يعني: دغه کتابي کفارو خپل علماء او عابدان بيله الله جل جلاله خپل آلهه او خدايان ګرځولي دي او مسيح عليه السلام د مريمي زوی هم إله او رب بولي (چې د الله جل جلاله زوی يې بولي) حال دا چې دوی نه دي امر کړه سوي بيله دې ښځه چې د يوه الله جل جلاله عبادت وکړي.

عدي وايي: پسله لمانځه و رسول الله ﷺ ته ورغلم او ورته و مي ويل: يا رسولَ الله! موږ هيڅکله خپل احبار او رُهبان يعني: عالمان او عابدان خپل خدايان نه دي ګرځولي هو، موږ د مسيح عليه السلام عبادت کوومګر د احبار او رهبان عبادت مو نه دی کړی.

ورونو! دغه جواب ته ښه متوجه سی زموږ دپاره ډېره مهمه خبره ده،

(c) ketabton.com: The Digital Library


عدي وايي: رسول الله ﷺ راته و ويل: يا عدي! آيا دغه احبار او رهبان به تاسي ته حرام نه در حلالول؟ او حلال يې نه دربانديِ حرامول؟ ما ويل: هو داسي وه، رسول الله ﷺ و فرمايل: بس دغه د هغو عبادت دی.

وروڼو! عبادت يوازي دا نه دی چي يوه شي يا يو چا ته سجده وکړې، عبادت دغه دی چي د هغه اوامر او حکمونه داسي و بولې لکه دين او شريعت، مثلاً الله ﷻ دا قانون را ته ايښی دی چي زناء کوونکی که نارينه وي که ښځه رجم دي سي، يا دي د غله لاس پرې کړل سي، خو که بل څوک د دغو احکامو څخه مخالف قانون را ته کښېږدي او موږ هغه ور سره ومنو يا ور سره موافق سو دا د هغه بل چا عبادت سو، عبادت فقط لمونځ، روژه او سجده نه دي، بلکه د يو چا له طرفه د الله ﷻ د حکمه څخه مخالف قانون ايښوول او بيا هغه قانون د شرعي پر قسم منل دا عبادت دی، دا چي الله ﷻ فرمايي:

﴿ٱتَّخَذُوٓاْ أَحۡبَارَهُمۡ وَرُهۡبَٰنَهُمۡ أَرۡبَابٗا مِّن دُونِ ٱللَّهِ﴾.

دا قول صحي او پر ځای دی، تاسي د هغو څخه رب جوړ کړی دی او د حلال او حرام په باره کي يې امرونه داسي منی لکه شرعي احکام.

وروڼو! هر هغه څوک چي بېله محمّدي شريعته او بېله الٰهي قانونه بل قانون ايږدي، که څوک د هغه سره په دغه قانون خوښ او راضي سو کافر بلل کيږي، نو رسول الله ﷺ دغه موضوع صحابهٔ کرامو او موږ ټولو ته واضحه او روښانه کړه چي عبادت يوازي دا نه دی چي سر پر سجده ورته کښېږدې، بلکه هغه لوی عبادت: شريعت ايښوول، قانون جوړول، د احکامو صادرول او بيا د دين پر قسم د هغو منل دي، نو هر هغه څوک چي ځان مسلمان بولي د هغه دپاره دا نه جائزه ده نه روا چي بېله شريعته او بېله الٰهي قانونه دي بل قانون او شريعت ومني يا قبول کړي، يا دي په هغه سره حکم کوي، مسلمانان بايد د الله او رسول الله د حکم او قانون تابع وي.

عدي بن حاتم ؓ وايي: الله ﷻ ما ته اوږد ژوند را کړی څو د رسول الله ﷺ د وينا سره مطابق مي وليدل چي د بابل قصرونه د مسلمانانو په لاس کي سوه، حتّی عدي ؓ په خپله د هغه لښکر په مقدمه کي ؤ چي بابل يې فتحه کاوه او وايي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا مي هم وليدل چي يوه ښځه د قادسيې ځخه تر بيت الله الحرام پوري يېله بيري او يېله جِوارِه د يوچا يوازي ځي، دغه دوه شيه خو ما په خپله وليدل او دريمه به هم قسم په الله پېښه سي، عدي په خپله نه وليدل مګر يقين يې ؤ چي هغه هم خامخا پېښيږي. خو د رسول الله ﷺ دريمه خبره د زاهد او عابد خليفه عمر بن عبدالعزيز رضي الله عنه په وختو کي پېښه سوه، چي مسلمانانو دومره مالونه پيدا کړه چي جارچي به جار واهه يعني: په کوڅو او بازارو کي به دا اعلان کېدی چي داسي څوک سته چي د زکات مال واخلي؟ خو څوک به نه پيدا کېدل، دا د عدي بن حاتم الطائي رضي الله عنه د اسلام راوړلو قصه وه او د ده په اسلام را وړلو د طئ قبيله ټوله مسلمانان سوه.

## د بنو سعد بنو بکر وفد يا ډله

يو سړئ د بنو سعد بنو بکر د قبيلې په وکالت او نمايندګي و رسول الله ﷺ ته راغلی، قصه يې کوچنۍ او عجيبه ده، د دغه سړي نوم ضُمام بن ثعلبه ؤ، دغه ضمام د اهل فِراسه ځخه ؤ، د اهل فِراسه بيان مو مخ کي درته کړی دی چي دا د قيافې پېژندلو يا قيافه شناسی علم دی چي د يوچا مخ او چهرې ته وګوري تر يوې اندازې د هغه د حالاتو معلومات ورته کيږي، دا غيب ويل نه دي بلکه علم دی، د دغه علم د معلوماتو د جملې څخه دا هم وه چي چا ته به يې وکتل دا ورته معلومېدل چي دئ صادق او رشتيا ويونکی دی، يا کاذب او درواغجن دی.

نو دغه ضُمام چي په دغه علم کي پوه او ماهر ؤ د ده قوم په ده پوره باور او اعتماد درلودی، ځکه دئ هيڅ وخت نه ؤ خطاوتلی، خاصتاً بيا ضُمام په دغه ډير پوهېدی چي صادق او کاذب يې د هغه د مخ په ليدلو پېژندی، حتّی د خبرو ځخه په پوهېدی او د ضُمام د قوم دا عادت ؤ چي د يوچا يا يوه شي معلومات به يې کاوه ضمام به يې ور لېږی، نو اوس يې هم قوم ورته و ويل: يا ضُمام! ځرنګه چي ته پوهېږې او دغه د فِراسې د علم خاوند يې نو ولاړ سه دغه نفر را وګوره (چي مقصد يې رسول الله ﷺ ؤ) چي صادق دی که کاذب؟ ستا او د هغه تر ملاقات وروسته او بيا ستا د نظر تر اوريدلو وروسته موږ تصميم نيسو، ضُمام بن ثعلبه هم مدينې منورې ته رهي سو او هلته

(c) ketabton.com: The Digital Library


ور ورسېدی مسجد نبوي ته ور ننوتی، رسول الله ﷺ د خپلو اصحابو سره ناست دی ضُمام يې نه پېژني نو يې پوښتنه وکړه ويل: ستاسي څخه کوم يو ابن عبدالمطلب دی؟ رسول الله ﷺ و فرمايل: زه يم.

ضمام ويل: يا محمّد! ﷺ زه خبري در سره کوم او په خپلو خبرو کي ښايي يو څه سخت الفاظ استعمال کړم خو ته مه نا راضه کېږه، يعني: زما خبري به صريحي او واضحه وي له أدبه به خالي وي مګر ته به نه خوابدی کېږې، رسول الله ﷺ و فرمايل: وايه، ضُمام ويل: يا محمّد! آسمانونه چا پيدا کړي دي؟ سوال يا پوښتنه يې ډېره بسيطه او آسانه وه مګر رسول الله ﷺ ته ګوري، رسول الله ﷺ و فرمايل: الله، بيا يې و ويل: مځکه چا پيدا کړې ده؟ ويل: الله، بيا يې و ويل: يا محمّد! ﷺ غرونه چا درولي دي؟ او په مځکه کي يې لوړ کړي دي؟ ويل: الله، ضُمام ويل: په هغه الله پوښتنه درڅخه کوم چي مځکه، آسمانونه او غرونه يې پيدا کړي دي آيا ته الله رالېږلی يې؟ رسول الله ﷺ و فرمايل: هو، ضُمام و ويل (أشهدُ أن لا إله إلا الله و أنکَ رسولُ الله) فقط دغومره وه، وې ليده چي رسول الله ﷺ صادق دی او د درواغجن هيڅ علامه پکښي نسته نو د شکه وتلی نبي او صادق دی، ضُمام بن ثعلبه رضي الله عنه مسلمان سو او د ده په اسلام ټول بني سعد بني بکر اسلام ته داخل سوه.

## د دوو کوټيو خاوند

د ډلو په جمله کي يو وخت يو اعرابي و رسول الله ﷺ ته راغلی چي د سر د وربښتانو څخه يې دوې اوږدې کوڅۍ جوړي کړي وې، و رسول الله ﷺ ته يې و ويل: يا رسولَ الله! په هغه الله پوښتنه درڅخه کوم چي مځکه، آسمانونه او غرونه يې پيدا کړي دي، آيا الله امر کړی يې چي موږ بايد په يوه شپه او ورځ کي پنځه لمنځونه آداء کړو؟ رسول الله ﷺ و فرمايل: هو، دغه سړي پر دغه طريقه د لمانځه، زکوة، روژې، حج او د لويو ګنهو پوښتنه وکړه، رسول الله ﷺ په دغو شيانو خبر کړی، نو اعرابي و ويل: يا رسولَ الله! که ما دغه کارونه وکړه (يعني: دغه فرائض مي آداء کړه) جنت ته داخلېږم؟ رسول الله ﷺ و فرمايل: هو، که دي فرائض آداء کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



او کبیره ګناهونه دي پرېښوول جنت ته داخلېږي، اعرابي و ویل: والله تر دغه زیات نور شئ نه کوم، یعني: نفلونه او نور ثوابي کارونه نه کوم فقط دغه فرائض آداء کوم او جنت ته داخلېږم او سړئ رهي سو، رسول الله ﷺ و فرمایل: که دغه د کوڅیو خاوند پر خپل قول ودرېدی، جنت ته داخل سو.

ورونو! اسلام ډیر آسانه دین دی، ایمان، د فرائضو آداء کول او د کبیره ګناهو څخه ځان ساتل، دغه اسلام او د جنت د داخلېدلو لار ده، نور ټول عملونه نفل، ثوابونه او درجې دي، د مسلمان انسان څخه فقط دغه درې شیه غوښتل کیږي، صافه او سالمه عقیده، د فرائضو آداء کول، د کبیره ګناهو څخه ځان ساتل او جنت ته داخلېدل دي.

# د نجران وفد یا ډله

نَجران یو لوی ښار دی چي د مکې مکرمې څخه د یمن و طرف ته اووه منزله لیري دی چي په هغه وخت کي یې (۷۳) کلي درلودل او یو لک جنګي لښکر یې درلودی او دین یې مسیحیت ؤ، نجران د درو نفرو له طرفه اداره کېدی یا دا چي درې نفره یې مشران وه.

یوه ته عاقب ویل کېده چي حکومت او آمریت د ده په لاس کي ؤ او نوم یې عبدالمسیح ؤ، بل ته سَیِّد ویل کېده چي سیاسي او ثقافتي کارونه ده اداره کول او نوم یې شرحبیل ؤ، دریم یې اُسقف ؤ چي دیني مشرتوب او روحاني قیادت د ده په اختیار کي وه او نوم یې ابو حارثه بن علقمه ؤ.

رسول الله ﷺ یوه رساله نجران ته ولېږل چي په هغه لیک کي د نجران خلکو ته د دغو درو شیانو په باره کي اختیار ورکړه سوی ؤ:

یا اسلام، یا جزیه، یا جنګ؛ ځرنګه چي د نجران خلک نصارا وه نو په دغسي دیني کارو کي د دوی مشر اُسقُف ؤ، اُسقف و هغه لوی عالم ته ویل کیږي، نو د رسول الله ﷺ رساله و اُسقف ته ورورل سوه، ځرنګه چي اسقف عالم ؤ او دا ورته معلومه وه چي یو نبي پاته دی او وې لیدل چي د هغه پاته نبي ټولي علامې پر محمّد ﷺ مطابقي او برابري دي و ببرېدی، په دې باره کي یې د نورو علماوو سره مشوره وکړه خو بل شئ او بله خبره

(c) Ketabton.com: The Digital Library

یې نه کړه پیدا بېله دې څخه چې ټول و وایي: هو! محمّد ﷺ نبي دی.

اُسقف نه پوهېدې چې څه وکړي، نو د نجران هغه سیاسي او ثقافتي مشر ته ورغلی چې د پاچا په درجه کې ؤ او شُرَحبیل بن وداعه نومېدی، د رسول الله ﷺ لیک او رساله یې ورښکاره کړه، شرحبیل د عربو د هوښیارانو او عاقلانو څخه ؤ، ډېر ذکي او فهیم سړئ ؤ، که په یوه مجلس کې د عربو پوهان او عاقلان ذکر کېدلای یا حسابېدلای د شرحبیل نوم خامخا پکښې ذکر کېدی.

اوس اُسقف و شرحبیل پاچا ته ورغلی او ویل: د محمّد ﷺ له طرفه لیک راته راغلی دی او د محمّد ﷺ اوصاف او اخبار په دې ډول سره دي: هغه یې هم ورته بیان کړه او مورِ ته په انجیل کې هم داسې معلومات سته چې یو نبي پاته دی او هغه نبي به د اسماعیل علیه السلام د اولادې څخه وي او محمّد ﷺ هم د اسماعیل علیه السلام د اولادې څخه دی او د اسماعیل علیه السلام اولادې هم تر دغه د مخه هیڅ د نبوت دعوه نه ده کړې اوس مورِ څه وکړو؟ شرحبیل چې ذکي او هوښیار سړئ ؤ وویل: که د دنیا کار وای ما به در حَل کړی وای مګر دغه خبرِه د دین د کارو څخه ده زه نه پوهېږم ته عالم یې ته دې خپله رأیه او نظر را ته و وایه، اسقف او پاچا دواړه په فکر کې دي.

بیا یې هغه خپل ناقوس وټکاوه (زنګ یې وشرنګاوه) او اورونه یې بل کړه چې دا د نجران د خلکو د را ټولېدلو دپاره علامه او امر ؤ، د نجران خلک ټول ورته راټول سوه چې په هغه وخت کې یې شمېر یو لک نفرو ته رسېدی. اسقف ولاړ سو او خلکو ته یې حال و وایه چې د محمّد ﷺ له طرفه یوه رساله راته راغلې ده او وایي: زه نبي یم او ټولې علامې هم داسې دي چې هو دئ نبي دی، ستاسې په دې باره کې څه فکر او نظر دی، خلکو ورته و ویل: دا شئ ستا کار دی ته مو عالم، مشر او حَبر یې، کومه فیصله چې ته کوې مورِ ستا سره هغه تائیدوو او ستا سره یو، اسقف په حیرت کې دی چې اوس څه وکړم؟ ټول قوم یې زما پر غاړه را اچوي.

بیا یې پر دې اتفاق وکړی چې د علماوو او مشرانو یوه ډله به جوړه کړو او مدینې منورې ته به دې ولاړ سي، هلته به د محمّد ﷺ سره ملاقات وکړي او بیا به ګورو چې څه نتیجه را وزي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نجران مشرانو يوه ډله جوړه کړه چې شمېر يې شپېته نفره ؤ، په هغو کې خلیرويشت نفره اشراف او مشران دي چې دغه درې نفره پاچهان او آمران هم پکښې داخل وه، د دې دپاره چې د دوی درجه او مقام لوړ ښکاره سي نو يې هغه خپل بهترين او ښه کالي چې د ورېښمين ټوکره څخه وه او د زرو کارپر سوی ؤ واغوستل.

دوی مدينې منورې ته ورسېدل او مسجد نبوي ته ور ننوتل رسول الله ﷺ ته يې سلام و وايه، رسول الله ﷺ د دوی د سلام جواب نه ورکوي، دوی خبري ور سره کوي رسول الله ﷺ يې د خبرو جواب نه ورکوي، د ډلي خلک په حيرت کې دي چې څه وکړي؟ د مسجد څخه و وتل هلته دباندي يې مشوره سره وکړه چې موږ بايد څه وکړو؟ ويل: بيا به ورسو.

دوهم وار بيا مسجد ته ورغله بيا هم رسول الله ﷺ خبري نه ور سره کوي، دوی بيرته له مسجده و وتل هلته دباندي يې حضرت علي ﷺ وليدی، دوی ورته و ويل: ته د رسول الله ﷺ ملګری او په عادت يې خبر يې زموږ سره ولي خبري نه کوي؟ د نورو ټولو ډلو سره خبري کوي ببله موږه؟ حضرت علي ﷺ ورته و ويل: دغه کالي مو وکاږی، ورېښمين کالي، سره زر دغه شيان در څخه ايسته کړی او ورسی، رسول الله ﷺ دغه شيان نه خوښوي، دوی هم دغه د کبر او غرور کالي په نورو ساده او عادي کالو سره بدل کړه او مسجد نبوي ته ورغله، د رسول الله ﷺ سره يې خبري وکړې او هغه ﷺ هم خبري ورسره وکړې.

رسول الله ﷺ فرمايي: کله چې دوی په هغه ورېښمينو کالو کې راغله ابليس ور سره ملګری ؤ، په خپله ابليس عليه لعنه د دوی په ډله کې موجود ؤ او ور سره راغلی ؤ، مګر کله چې دوی کالي بدل کړه هغه نه ورسره راغلی.

اوس چې مسجد ته راغله او رسول الله ﷺ خبري ور سره شروع کړې دوی يې اسلام ته دعوت کړه د قرآن کريم آياتونه يې ورته تلاوت کړه، خو دوی اسلام نه کړی قبول او د عيسیٰ عليه السلام په باره کې يې پوښتنه وکړه چې ته د هغه په باره کې څه وايې؟ په دغه وخت کې د دوی د جواب دپاره د سورة آل عمران اولني آياتونه نازل سوه، د سورة آل عمران اولني آياتونه ټول د نجران د ډلي په سبب نازل سوي دي، کله چې

(c) ketabton.com: The Digital Library


دوی د عیسیٰ علیه السلام په باره کې پوښتنه وکړه الله جل جلاله د سورة آل عمران په (۵۹) نمبر آیات کې وفرمایل:

﴿ إِنَّ مَثَلَ عِيسَىٰ عِندَ ٱللَّهِ كَمَثَلِ ءَادَمَ ۖ خَلَقَهُۥ مِن تُرَابٍ ثُمَّ قَالَ لَهُۥ كُن فَيَكُونُ ﴿٥٩﴾ ﴾. آل عمران: ۵۹)

ژباړه: بېشکه چې د عیسیٰ علیه السلام مثال د الله جل جلاله په نېز د آدم علیه السلام په مثل دی چې دغه آدم الله جل جلاله له خاورو جوړ کړی او بیا یې ده ته وویل: بشر او انسان سه او هغه هم بشر سو.

کله چې نصاراوو د رسول الله ﷺ سره ډېر دلائل و ویل چې عیسیٰ علیه السلام بنده نه دی بلکه د الله جل جلاله زوی دی (العیاذ بالله) او په آخر کې نصاراوو و ویل: بنه که عیسیٰ علیه السلام د الله زوی نه دی نو ته و وایه چې پلار یې څوک دی؟ د دوی د دغه سوال په جواب کې دغه آیات شریف نازل سو چې آدم خو نه پلار درلودی نه مور، آدم علیه السلام د خلقت او ولادت په اعجاز کې تر عیسیٰ علیه السلام لوړ او معظم دی، په دې حساب باید آدم علیه السلام ته (العیاذ بالله) د الله زوی و ویل سي او حال دا چې هیڅوک داسي نه وایي. بیا هم الله جل جلاله فرمایي:

﴿ ٱلْحَقُّ مِن رَّبِّكَ فَلَا تَكُن مِّنَ ٱلْمُمْتَرِينَ ﴿٦٠﴾ ﴾. [آل عمران: ٦٠]

یعني: حق خبره هغه ده چې ستا د رب له طرفه درته راغلې ده، نو ته د عیسیٰ علیه السلام په باره کې د شک کوونکو څخه مه کېږه.

دغه رنګه نور آیاتونه د بي بي مریم د قصې او آل عمران د قصې په باره کې نازل سوه چې ټولو نازل سوو آیاتو دغو نصاراوو ته د عیسیٰ علیه السلام په باره کې تشریحات ورکول او د دوی ټول جوابونه پکښې وه، ټول هغه سوالونه چې دغه د نجران ډلي کړي دي جوابونه یې په سورة آل عمران کې موجود دي، وروسته د نجران د ډلي خلک بې جوابه او په فکر کې سوه چې اوس څه وکړو؟ خو بیا هم وایي: موږ ستا پر نبوت شاهدي نه آداء کوو، رسول الله ﷺ چې پسله ډېر سوال او جوابه دغه د دوی شک او تردد ولیدی نو ویل مباهله در سره کوم (مُبَاهله) په عربي کې دې ته وایي: چې دواړي هغه ډلي چې په منځ کې یې اختلاف موجود وي خپله اولاده او کورنی

(c) ketabton.com: The Digital Library



را وباسي پر صاف میدان سره کښیني او لاسونه د دعاء پر قسم ډېر لوړ پورته کړي او الله جل جلاله ته دعاء کوي او وایي: هر هغه څوک چې په دوی کې پر باطل او ناحقه دی پر هغو دي د الله جل جلاله لعنت نازل سي.

نو رسول الله ﷺ د الله جل جلاله په امر و فرمایل: راسی چې مباهله سره وکړو، ځکه په دغه باره کې د مباهلې آیات نازل سو، الله جل جلاله د سورة آل عمران په (٦١) نمبر آیات کې فرمایي:

﴿فَمَنْ حَآجَّكَ فِيهِ مِنۢ بَعْدِ مَا جَآءَكَ مِنَ ٱلْعِلْمِ﴾.

یعني: هر هغه څوک چې د عیسٰی علیه السلام په باره کې پسله هغه چې تا ته صحي علم حاصل سو دلیل درسره وایي.

﴿فَقُلْ تَعَالَوْا۟ نَدْعُ أَبْنَآءَنَا وَأَبْنَآءَكُمْ وَنِسَآءَنَا وَنِسَآءَكُمْ وَأَنفُسَنَا وَأَنفُسَكُمْ ثُمَّ نَبْتَهِلْ فَنَجْعَل لَّعْنَتَ ٱللَّهِ عَلَى ٱلْكَـٰذِبِينَ ﴿٦١﴾﴾.

نو اې محمّده! ﷺ دوی ته و وایه: راسی چې زموږ زامن او ستاسي زامن، زموږ ښځې او ستاسي ښځې، زموږ ځانونه او ستاسي ځانونه را وبولو او بیا به مباهله سره وکړو، وبه وایو چې د الله جل جلاله لعنت دي پر درواغجنانو وي.

کله چې دغه آیات شریف نازل سو، رسول الله ﷺ د حضرت فاطمې رضي الله عنها کور ته ورغلی نو یې حضرت فاطمه، حضرت علي او د دوی زامن: حضرت حسن او حضرت حسین د رسول الله ﷺ لمسیان رضي الله عنهم اجمعین را وایستل او نصاراوو ته یې و ویل: راسی ما خپله کورنۍ را وایستل اوس نو مباهله را سره وکړی، تاسي هم دعاء کوی او زه به هم دعاء کوم چې د الله جل جلاله لعنت دي پر درواغجنانو نازل سي، د نجران ډلې چې اوس د رښتیا میدان ولیدی نو یې مشوره سره وکړه، هغه عاقب او سیّد چې د نجران پاچهان بلل کېدل یو د بل سره و ویل: پام کوه چې دا کار و نه کړې ځکه که محمّد ﷺ نبي وُ او لعنت یې را باندي و وایه په والله نه به موږ خلاص سو او نه زموږ راتلونکي نسلونه، د مځکي پر مخ به نه زموږ وربښته پاته سي نه نوک، بلکه ټول به هلاک سو، پسله مشورې یې و ویل: یا، مباهله نه درسره کوو، وېرېږدل، په دوی کې ېېره او تردد دواړه موجود

(c) kitabton.com: The Digital Library

وه، تر اندازې زيات په چرت او فکر کي دي نه پوهيږي چي څه وکړي، دوی په دغه حيرت او تردد کي دي چي هغه د دوی پاچا شرحبيل ورته و ويل: زما خبره واوری د دغه مشکل حل زما سره دی، قوم ويل: څه نظر او فکر دي دی؟ شرحبيل ويل: اسلام نه غواړو موږ پر هغه خپل دين يو مګر د محمّد ﷺ کرم، سخاء، انصاف، عقل، حلم او عدل مو ټول وليدل له هيڅ طرفه کمي نه لري، نو زما نظر دا دی چي د ده څخه وغواړو چي زموږ په باره کي دي دئ حکم وکړي، دئ ﷺ دي يې زموږ دپاره خوښ او اختيار کړي چي موږ بېله اسلامه بايد څه وکړو؟ پر دغه رأيه او نظر يې اتفاق سره وکړی او رسول الله ﷺ يې په خپله فيصله خبر کړی، رسول الله ﷺ و فرمايل: که زه اوس ستاسي دپاره يو شئ اختيار کړم بنايي ستاسي قوم هغه شئ ستاسي سره و نه مني، شرحبيل و ويل: زه د قوم مشر او رئيس يم زما خبره څوک نه ردَوي هغه نورو ملګرو يې هم تصديق وکړی چي هو دغسي ده د ده امر چليږي، رسول الله ﷺ و فرمايل: تاسي چي د اسلام څخه انکار وکړی زه د جزيې حکم درباندي کوم، موږ مسلمانانو ته به جزيه را کوی، دوی هم جزيه قبوله کړه، نو نجران د اسلام د حکم تابع سو او مسلمانانو ته يې جزيه ورکول، خو بيا په وروسته کي کرار کرار اسلام پکښي نشرېدی او د نجران ټول خلک مسلمانان سوه. دا و اسلام ته د نجران د خلکو د داخلېدلو قصه وه.

## د فروه بن عَمرو الجذامي قاصد

فروه بن عَمرو د روم په لښکر کي يو عرب قومندان ؤ او د روم له طرفه د هغو لښکرو آمر او حاکم ؤ چي روم ته نژدې په عربي مځکو کي لکه معان او د هغه په شا وخوا کي پرتې وې، پسله هغه چي فروه د مؤته په جنګ کي د مسلمانانو شجاعت او صداقت، همت او مړانه وليدل مسلمان سو او بيا يې و رسول الله ﷺ ته يو قاصد د دې دپاره ور ولېږی چي د ده په اسلام يې خبر کړي او رسول الله ﷺ ته يې يوه غاتره يا قچره په هديه او سوغات کي هم ور ولېږل، کله چي د روم حاکمان د فروه په اسلام خبر سوه نو يې دئ ونيوی او بندي يې کړی او بيا يې اختيار ده ته پرېښاوه چي يا به له اسلامه اوړې (مرتد کېږې به) يا دي وژنو، خو فروه رضي الله عنه مرګ تر ردَت خوښ کړی نو يې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



فلسطين کې د هغوا وبو سره چې عفراء ورته ويل کېدل په دار کړې او سر يې ور پرې کړی.
تاسې دغو خلکو ته وګورئ چې د اسلام دپاره يوازې دا نه چې تر ولايت او قومندانۍ تېرېدل بلکه مرګ او شهادت يې هم قبلاوه، خو نن ورځ په مسلمانانو کې داسې کسان هم پيدا کيږي چې د څو ورځو موقتي کرسۍ، يا لږو پيسو دپاره يوازې دا نه چې تر اسلام تيريږي بلکه په دنيا کې ذِلت او په آخرت کې الٰهي عذاب هم قبلوي.

## د حَميَر وفد يا ډله

او بيا د حَميَر څخه يوه ډله راغله او مسلمانان سوه (حمير) په يمن کې د يوه ځای نوم دی، رسول الله ﷺ دوی ته يوه رساله ورولیکل چې په هغه رساله کې يې دوی ته د زکات احکام وربنوولي او بيان کړي وه چې هغه رساله وساتل سوه او دغه ساتل سوې رساله چې د رسول الله ﷺ له طرفه د زکات پر احکامو مشتمله ده د علماوو دپاره د زکات د مسائلو په باره کې هغه اساسي مرجع او منبع ده.

## د بنو بُجَيله وفد يا ډله

د هجرت د نهم کال په آخره کې د بنو بُجَيله يوه ډله راغله چې مشر يې عبدالله بن جَرِير البُجلي ﷺ ؤ، دغه عبدالله د رسول الله ﷺ د هغه لوړو او نژدې اصحاب کرامو څخه دی، عبدالله بن جَرِير ﷺ په خپله روايت کوي او وايي: زموږ ډله د جمعې د لمانځه پر وخت مدينې منورې ته ورسېدل او رسول الله ﷺ د جمعې د لمانځه خطبه ويل، څرنګه چې زموږ نيت د مسلمانېدلو ؤ اول مو غُسل وکړی او بيا مسجد ته ور داخل سوو، د مخه خطبه ويل کېدل خو کله چې موږ مسجد ته ور ننوتلو رسول الله ﷺ ساکت ؤ او د مسجد حاضر خلک ټول وما ته ګوري، زه چې د مسجد په دروازه ور ننوتم ټولو خلکو مخان د دروازې و طرف ته را اړولي وه او ما ته يې کتل، د مسجد و هر طرف ته چې تېرېږم بيا هم خلک ما ته ګوري زه په تعجب کې سوم چې دغه ټول خلک ولې ما ته ګوري؟ خامخا يو شئ سته.

زه په مسجد کې ګورم چې د ناستې دپاره ځای پيدا کړم خو بيا هم ټول خلک ما

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته ګوري، خیر ما د ناستي دپاره ځای پیدا کړی او کښېنستم، بیا هم ټول خلک و ما ته ګوري خطبه بنده ده رسول الله ﷺ ساکت دی زه په ډېر تعجب کي یم، نو مي هغه د څنګ یا بغل د سړي څخه پوښتنه وکړه چي آیا رسول الله ﷺ زما په باره کي څه ویلي دي؟ هغه ویل: هو، د مخه تر دې چي ته مسجد ته را داخل سې رسول الله ﷺ مورږ ته و ویل: اوس د دغي دروازې څخه د یمن د خلکو هغه ښه او بهتر سړئ و تاسي ته را داخلیږي.

نو د رسول الله ﷺ په قول په یمن کي تر ټولو خلکو هغه ښه او بهتر عبدالله بن جَرِیر البُجلِي رضی الله عنه دی، خیر ډله راغله او د رسول الله ﷺ پر لاس یې ایمان راوړی، عبدالله بن جریر رضی الله عنه دغه حدیث روایتوي چي رسول الله ﷺ و فرمایل: اوس د دغه دروازې څخه تاسي ته د اهل یمن هغه ښه او بهتر سړئ را داخلیږي چي شکل یې د پاچا دی او په تقوٰی کي د بهترینو خلکو څخه دی، عبدالله بن جریر رضی الله عنه د خپل ځان په باره کي وایي: له کومه وخته څخه چي زه مسلمان سوی یم بیا هیڅ وخت رسول الله ﷺ د خپل ملاقات څخه نه منعه کړی نه ځنډولی یم، یعني: هیڅ وخت داسي نه ده پېښه سوې چي ما دي د ملاقات اجازه غوښتې وي او رسول الله ﷺ دي اجازه نه وي راکړې، د رسول الله ﷺ دروازه همېشه ما ته خلاصه وه او هیڅ داسي نه ده پېښه سوې چي رسول الله ﷺ دي زه لیدلی یم او تبسم دي یې نه وي راته کړی (تبسم) د شنډانو بې ږغه خندا ته ویل کیږي.

دا د رسول الله ﷺ په حضور د عبدالله بن جَرِیر رضی الله عنه درجه او مقام ؤ، عبدالله بن جَرِیر رضی الله عنه و رسول الله ﷺ ته شکایت وکړی او ویل: یا رسولَ الله! زه یو عیب یا تکلیف لرم چي ځان پر آس نه سم ټینګولای، هر وخت چي پر آس سپور سم را لوېږم او دئ رضی الله عنه په قد هم ډېر جګ ؤ، رسول الله ﷺ دعاء ورته وکړه او وې فرمایل:

« اللّهمّ ثَبِّــتهُ وَاجعَلهُ هَادِیًا مَهدِیًا »

وایي پسله دغي ورځي بیا هیڅکله د آسه څخه نه یم لوېدلی.

دغه د عبدالله بن جَرِیر البُجلِي رضی الله عنه قصه د فقهي لحاظه ډېره د ارزښت او اهمیت وړ قصه ده، یو دا چي عبدالله بن جَرِیر رضی الله عنه د رسول الله ﷺ صحبت او ملاقات

(c) ketabton.com: The Digital Library



همېشه او بېله مانعه کړې دی، نورو اصحابو کرامو که به د ملاقات اجازه غوښتل او رسول الله ﷺ به په یوه کار مشغوله ؤ تر یو وخته به یې ځنډول، مګر عبدالله بن جَریر ﷛ بېله ځنډه او تاخیره د رسول الله ﷺ په ملاقات مشرفه کېدی، نو دغه عبدالله د رسول الله ﷺ څخه ډېر احادیث را نقل کړي دي او د دغو احادیثو ارزښت او اهمیت په دې کې دی چې دغه احادیث د رسول الله ﷺ څخه په آخري وختو کې را نقل سوي دي، ځکه د عبدالله بن جَریر ﷛ ټول احادیث د هجرت د نهم کال څخه بیا د رسول الله ﷺ تر رحلته پوري دي، نو بل هر حدیث چې د عبدالله بن جَریر ﷛ د احادیثو سره مقابل او معارض سي هغه مقابل حدیث په منسوخه کېږي، ځکه عبدالله بن جریر ﷛ په اسلام کې وروسته دی او په وروستني حدیث سره د مخنئ حدیث منسوخه کېږي، دا د عبدالله بن جَریر ﷛ د اسلام قصه وه.

## د بنو حارث بن کعب وفد یا ډله

د هجرت د نهم کال په آخري وختو کې رسول الله ﷺ خالد بن ولید ﷛ د یوې ډلې په ملګرتیا و بني الحارث بن کعب ته ورولېږی، کله چې د مسلمانانو لښکر ور ورسېدی دغه قبیله تسلیم او مسلمانان سوه او بیا یې یوه ډله و رسول الله ﷺ ته د بیعت دپاره راغله رسول الله ﷺ دغې ډلې ته د نورو مسلمانانو په حضور ډېري شدیدي خبري وکړې او د دغه ملاقات خبرې هم شا وخوا په خلکو او قبیلو کې نشر سوې، په دغو خبرو کې رسول الله ﷺ و بني الحارث ته عتاب او سرزنش ورکړی او وې فرمایل: ترڅو چې لښکر درنه سي تاسي نه مسلمانېږی؟ دوی چُپ وه، رسول الله ﷺ بیا و فرمایل: ترڅو چې لښکر در نه سي تاسي نه مسلمانېږی؟ بیا هم دوی چُپ وه، رسول الله ﷺ دغه خبره څلور واره ورته تکرار کړه او وې فرمایل: که خالد ستاسي د اسلام خبر نه وای راوړی په والله ستاسي سرونه به مي تر پښو لاندي کړي وای، د بنو حارث څخه یو نفر چې پوه او هوښیار سړئ ؤ ولاړ سو او ویل: الله او رسول الله ﷺ لره منته او احسان دي، په والله نه ته او نه خالد ؤ چې مور یې را وستلو بلکه هغه ځوک چې مور یې مسلمانان را وستلو هغه الله جل جلاله ؤ، رسول الله ﷺ و فرمایل:

(c) ketabton.com: The Digital Library


صَدَقتَ، حق دي و ويل.

دغه خبر شا وخوا نشر سو چي رسول الله ﷺ اوس د هغو کسانو سره چي مديني منورې ته د مسلمانېدلو دپاره نه ورځي يا په خپله ورنه سي نرمه او ملايمه معامله نه کوي، هغه چي نه راځي د هغو سرونه تر پښو لاندي کوي (يعني: جزاء ورکوي) د دغه خبر په اورېدلو سره ټولي قبيلې د مديني منورې پر طرف ور رهي سوې، ځکه دا ورمعلومه سوه چي تر دې وروسته رسول الله ﷺ د دغه پاته قبيلو په مقابل کي نرمي نه کوي، نو د بني الحارث د ډلي سره د رسول الله ﷺ شدت او د دوی مسلمانېدل د نورو پاته قبيلو د اسلام را وړلو سبب وګرځېدی.

همدارنګه د هجرت په نهم او لسم کال کي پرله پسې ډلي مديني منورې ته د اسلام را وړلو دپاره ورتلې، چي د سيرت په کتابو کي د اکثره قبيلو نومونه ذکر سوي او ياد سوي دي، خو دلته يې بيانول کومه خاصه ګټه نه لري، حتّٰى د هجرت په يوولسم کال کي هم ځيني ډلي مديني منورې ته و رغلي دي.

ورونو! هغه ډلي چي د اسلام را وړلو دپاره دارُالنّبوه، المدينةُ الطيّبه ته و رغلي دي چي د الله جلّ جلاله او رسول الله ﷺ د دين د متابعت اعلان يې کاوه ډېري زياتي ډلي دي او هر تاريخ ليکونکي د هغو ډلو څخه دومره ذکر کړي دي چي هغه ته مهيا سوي دي، ما هم د دغو څو ډلو په يادولو سره کفايت وکړی، که نه په حقيقت کي دغه ورغلي ډلي ډېري زياتي دي چي په بيانولو سره يې بحث ډېر اوږدېږي.

مديني منورې ته د دغو ډلو پرله پسې ورتګ پر دې دلالت کوي چي اسلامي دعوت او د اسلام نفوذ او سيطره پر جزيرةُ العرب او د هغه پر شا وخوا په تمامه معنٰى قبوله او مقبوله وګرځېده او ټولو عربو مديني منورې ته د عزت او احترام په سترګه کتل او بله دې څخه يې بله لار او چاره هم نه درلودل چي مديني منورې ته تسليم نه سي، نو مدينه منوره لکه د جزيرةُ العرب مرکز او پايتخت داسي وګرځېدل.

مګر پر دغه ټولو سربېره يوه خبره کولای سو چي اسلام او اسلامي دين د ټولو خلکو په زړو کي داسي ځای نه و نيولی لکه څرنګه چي ښايي، ځکه هلته ډېر داسي ناپوه أعراب وه چي فقط د خپلو مشرانو په متابعت مسلمانان سوي وه او په زړو کي يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه د چور او چپاول ژوند خوښ ؤ، اسلامي تعاليمو او قوانينو د دوی زړو ته پوره لار نه وه کړې او د دوی اخلاق يې په پوره ډول سره نه وه مهذب کړي.

الله جل جلاله د دغه قسم أعرابو حال په سورة التوبه کي بيانوي او فرمايي:

﴿ ٱلۡأَعۡرَابُ أَشَدُّ كُفۡرٗا وَنِفَاقٗا وَأَجۡدَرُ أَلَّا يَعۡلَمُواْ حُدُودَ مَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ عَلَىٰ رَسُولِهِۦۗ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٞ (٩٧) ﴾.

ژباړه: ځيني صحرايي عرب د کفر او نفاق د لحاظه تر ښاريانو ډېر سخت دي او د دې ډېر وړ او لائق دي چي دوی د هغو احکامو په حدودو پوه نه سي چي الله جل جلاله پر خپل رسول ﷺ نازل کړي دي او الله جل جلاله په ټولو حالاتو ښه عالم او د ښه حکمت خاوند دی.

﴿ وَمِنَ ٱلۡأَعۡرَابِ مَن يَتَّخِذُ مَا يُنفِقُ مَغۡرَمٗا وَيَتَرَبَّصُ بِكُمُ ٱلدَّوَآئِرَۚ عَلَيۡهِمۡ دَآئِرَةُ ٱلسَّوۡءِۗ وَٱللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٞ (٩٨) ﴾.

او د أعرابو څخه ځيني هغه کسان دي: کوم شئ چي دوی د الله جل جلاله په لار کي ورکړي هغه فقط يو تاوان او جريمه بولي چي تحويل يې کړه او ستاسي مسلمانانو دپاره د ورځو د ګرځېدلو انتظار کوي (چي کله به پر مسلمانانو د زمانې چپه ګرځېدل راسي) خو دغه د زمانې چپه ګرځېدل دي پر دوی وي او الله جل جلاله ښه اورېدونکی او ډېر عالم دی.

خو بالمقابل هلته بيا داسي أعراب هم وه چي الله جل جلاله پر دوی ښه ويلي دي او فرمايي:

﴿وَمِنَ ٱلۡأَعۡرَابِ مَن يُؤۡمِنُ بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِ وَيَتَّخِذُ مَا يُنفِقُ قُرُبَٰتٍ عِندَ ٱللَّهِ وَصَلَوَٰتِ ٱلرَّسُولِۚ أَلَآ إِنَّهَا قُرۡبَةٞ لَّهُمۡۚ سَيُدۡخِلُهُمُ ٱللَّهُ فِي رَحۡمَتِهِۦٓۚ إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٞ رَّحِيمٞ (٩٩) ﴾

[التوبه، ٩٩]

يعني: د أعرابو څخه بيا ځيني هغه کسان دي چي پر الله او د قيامت پر ورځ ايمان لري او هر هغه شئ چي دوی د الله جل جلاله په لار کي ورکړي هغه ورکړه و الله ته د نژدې کېدلو سبب بولي او د رسول الله ﷺ د دعاء سبب يې بولي، يعني: په دغه خير او صدقه سره به الله ته نژدې سو او رسول الله ﷺ به دعاء را ته وکړي،

(c)ketabton.com: The Digital Library

نو الله جل جلاله پسي فرمايي: چي هو خبر اوسی دغه صدقه او خيرات د دوی دپاره د نژدې والي سبب دی، الله جل جلاله به ژر تر ژره دوی په خپل رحمت کي داخل کړي، بېشکه چي الله جل جلاله ښه بخښونکی او ډېر مهربانه دی.

دا خو أعراب يا صحرايي عرب وه چي الله جل جلاله و دوو ډلو يا دوه قسمه ته و وېشل، مګر ښاري خلک: کوم چي په مدينه منوره، مکه مکرمه، ثقيف کي اوسېدل او نور ډېر خلک چي په يمن او بحرين کي اوسېدل په هغو کي ايمان او اسلام ډېر قوي ؤ او د رسول اللهﷺ لوی اصحاب کرام او د مسلمانانو ډېر لوی علماء هم له دويه څخه دي.

## هغه کسان چي د رسول اللهﷺ له طرفه د اسلام د ښوولو دپاره شا وخوا لېږل کېدل

لکه څرنګه چي و رسول اللهﷺ ته په ډلو ډلو خلک د خپل اسلام د اعلانولو دپاره را تله همدارنګه رسول اللهﷺ خپل قاصدان او رسُولان و مختلفو ځايو ته لېږل چي خلکو ته اسلام او د اسلام احکام ور وښيي، څرنګه چي اسلام په ټوله جزيرةُ العرب او د هغه په شا وخوا کي نشر سو نو دې ته ضرورت پيدا سو چي معلمان او مُرشدين، داعيان او مبلِّغين و خلکو ته د اسلامي دين حقيقت تشريح کړي او ور ويې ښيي، لکه څرنګه چي اسلام د دوی په مځکو او وطن کي نشر سو همدارنګه د دوی په زړو کي بايد قرار او ثُبات پيدا کړي.

نو د همدغه مقصد دپاره رسول اللهﷺ هر ځای او هرطرف ته معلمان او مبلغين لېږل چي په هغه جمله کي يې خالد بن وليد رضي الله عنه د نجران خلکو ته ولېږی چي هلته خلک و اسلام ته دعوت کړي، د اسلام عقيده او احکام ور وښيي، حضرت علي رضي الله عنه يې د يمن و يوې منطقې ته ولېږی، ابو موسی الاشعري او معاذ بن جبل رضي الله عنهما يې د يمن نورو منطقو ته ولېږل او دوی ته يې دا وصيت او لارښوونه وکړه چي آساني کوی او سختي مه کوی، خلکو ته زيري ورکوی او متنفره کوی يې مه، تاسي په خپل منځ کي اختلاف مه سره کوی، معاذ رضي الله عنه ته يې و فرمايل: ته به داسي قوم ته ورسې چي هغه اهل کتاب دي، نو کله چي ورغلې اول يې دې ته دعوت کړه چي د (لا إله إلاّ

(c) ketabton.com: The Digital Library



الله و أن محمّداً رسول الله) شاهدي آداء کړي، که یې په دغه کار کې ستا اطاعت وکړی (دغه یې در سره و منل) نو بیا ورته و وایه: الله جل جلاله په یوه شپه او ورځ کې پر تاسي پنځه لمنځونه فرض کړي دي، که یې دا هم در سره ومنل نو بیا ورته و وایه: الله جل جلاله پر تاسي زکات فرض کړی دی، چې د دوی د غنیانو څخه به یې اخلې او د دوی فقیرانو او غریبانو ته به یې ور کوې، که یې دا در سره و منل پام کوه چې هغه ښه مالونه یې په زکات کې ځني وانه خلې، د مالو څخه مقصد حیوانات دي، یعني: داسي مه کوه چې هغه چاغ او ښه مالونه یې ته په زکات کې ځني واخلې، بلکه میانه او متوسط حیوانات یې اخله او وې فرمایل: د مظلوم د ښرا څخه ځان ډیر ساته، ځکه د مظلوم د ښرا او د الله جل جلاله په منځ کې حجاب نسته، څرنګه چې معاذ بن جبل رضي الله عنه پر رسول الله ﷺ ډیر ګران ؤ نو یې د وداع او رخصتېدلو په وخت کې په غېږ کې ونیوی.

امام احمد رحمه الله علیه په خپل مسند کې روایت کوي چې رسول الله ﷺ د معاذ رضي الله عنه سره تر ډیره ځایه په داسي حال کې ولاړی چې معاذ رضي الله عنه پر خپل بوده سپور ؤ او رسول الله ﷺ پیاده یا پر پښو ور سره رهي ؤ او بیا یې ورته و ویل: یا معاذ! ښایي پسله دغه اوسني کاله بیا زما سره و نه وینې او ښایي ته دغه زما مسجد او زما قبر ته راسې، معاذ رضي الله عنه د رسول الله ﷺ پر فراق او جلا والي ډېر و ژړل.

ورونو! د دغو لېږل سوو کسانو یا د دوی د نورو امثالو څخه چې په پخوا کې لېږل سوي وه، یا تر دغه وروسته لېږل سوي دي، مونږ ته دا را معلومېږي چې په هر وخت او هره زمانه کې د مسلمانانو په غاړه کې دا یو مسئولیت دی چې د اسلام د تبلیغ او دعوت دپاره به زیار او زحمت باسي، د مسلمانانو دپاره دا بس او کافي نه ده چې فقط په ژبه سره و وایي: زه مسلمان یم، که ته مسلمان یې نو تا د اسلام دپاره څه کړي دي؟

او د یوه مسلمان دپاره دا هم کفایت نه کوي چې په خپل ژوند کې فقط څو اسلامي آسانه کارونه عملي کوي او نور نو آرام کښیني، د یوه مسلمان دپاره دا هم بس او کافي نه دي چې وایي: زه په خپله پر خپل ځان د اسلام ټول احکام په پوره ډول سره عملي کوم، نور مي نو دروازه په ځان پسي تړلې ده د خلکو په حالاتو هیڅ سر نه ګرځوم او نه څه ورته وایم، تر هغو پوري د مسلمانانو د غاړي څخه مسئولیتونه نه ایسته

(c) ketabton.com: The Digital Library


کيږي تر څو پرخپلو ټولو اسلامي اعمالو د دعوت او تبليغ د واجب عملي کول زيات نه کړي او په دغه لار کي وګلو او ښارو ته سفر و نه کړي، دا هغه امانت دی چي رسول الله ﷺ زموږ پر غاړه ايښی دی، دا هغه ضروري او لازمي وظيفه ده چي په هيڅ عصر او زمانه کي د هغه څخه خلاصيدل نسته، د څلورو مذهبو امامانو او نورو علماوو پر دې اتفاق کړی دی او وايي: په کوم ښار کي چي ته اوسيږې هلته او تر هغه ښار دباندي د دعوت د حق آداء کول پر ټولو مسلمانانو فرض کفايي دی، هر هغه ښار چي د تبليغ او دعوت دپاره د غسي يوه ډله و نه لري چي د اسلام احکام بيان کړي او هغه وسوسې او شُبهې چي د خلکو په فکرو کي ور ګرځي، په اسلامي او ايماني دلائلو سره ورپاکي نه کړي د هغه ښار ټول خلک ګنهکاره دي، حتّٰی د عامو علماوو او فقهاوو صحي قول هم دا دی چي دغه د تبليغ او دعوت وظيفه يوازي د نارينه پر غاړه نه ده بلکه په دغه کار کي د نارينه او ښځي د حُر او مريي مسئوليت يو شئ او برابر دی، هر يو به د خپل طاقت او امکاناتو سره برابر د اسلام په نشرولو کي حصه اخلي.

او بل د رسول الله ﷺ هغه وصيت او نصيحت چي معاذ بن جبل او ابو موسی الاشعري رضي الله عنهما ته يې وکړی، موږ ته هغه آداب راښيي چي يو مبلِّغ او دعوت کوونکی بايد د تبليغ او تعليم په وخت کي په هغو آدابو او اخلاقو سره ښايسته وي.

يو دا چي د آسانتيا طرف يې د شدت او سختۍ تر طرف زيات او ډير وي او بل يې ډير اعتماد پر تبشير وي نه پر تنفير، يعني: خلکو ته د اميد طرف ډير بيانوي نه د نااميدۍ طرف، چي د دغه دپاره رسول الله ﷺ ژوندئ تطبيقي مثال ورته بيان کړی او وې فرمايل: خلک اول شهادتينو ته را وبوله، که يې هغه قبول کړه بيا يې د لمانځه و آداء کولو ته را وبوله، که يې هغه قبول کړه بيا يې د زکات و ورکولو ته را وبوله، دغسي په کراره کراره او تدريج سره به خلک دين او اسلام ته را بولې، مګر هو، د تيسير او آسانۍ معنٰی دا نه ده چي تر شرعي حدودو تېرئ او تجاوز وسي، که و شرعي احکامو ته د آسانۍ په نامه سره تغير ورکول سي او يا يوه ګناه که څه هم کوچنۍ وي قبوله سي، دا تيسير او آسانتيا نه ده بلکه دين ته تغير ورکول دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# يوه تبصره او خلاصه

موږ د سيّدُ البشر محمّد مصطفیﷺ د ژوند په تېر سوي بيان کي وليدل چي اسلام څنګه او په څومره تکاليفو سره نشر او پر جزيرةُ العرب څنګه ظاهره او غالبه سو او ټول خلک په اسلام کي داخل سوه، هر هغه څوک چي اسلام ته نه دي داخل سوي هغه مسلمانانو ته جزيه ورکوي، لکه د نجران نصارا، د تيما او واديُ القُرٰی يهود او ځيني داسي نور، مګر نور عرب يا اسلام ته داخل سوه يا په بېره کي وه ځکه اوس هغه په داسي حال کي وه چي نه يې قدرت درلودی نه طاقت، مګر بالمقابل اسلام په ټوله جزيرةُ العرب کي نشر او مسلط سو، د اسلام مرکز قوي او طاقتور سو.

موږ ته د هغو رسالو او خطو په واسطه دا هم را معلومه سوه او وموليدل چي رسول اللهﷺ يو بل لوی هدف او مقصد هم ښکاره کړی: هغه دا چي دغه دين يوازي د عربو دپاره نه دی، بلکه رسول اللهﷺ د ټول عالم دپاره بشير او نذير او رحمةٌ للعالمين رالېږل سوی دی، چي د دغه مقصد د ښکاره کولو دپاره يې تر روم او فارس، مصر او حبشې پوري ليکونه او رسالې ولېږل، حتّی د تبوک په غزاء کي هم رسول اللهﷺ ټول عالم ته دا ورښکاره کړه چي زما رسالت او دغه دين د ټول بشر دپاره دی.

او موږ وليدل چي هرقل د روم پاچا هم د بېري په سبب د رسول اللهﷺ د مقابلې او جنګه ځان وساتی، ځکه هرقل پوه سو چي محمّدﷺ هغه را تلونکی نبي دی.

او په تېر بيان کي مو په مختلفو حالاتو او جنګو کي د رسول اللهﷺ خويونه او اخلاق وليدل، د رسول اللهﷺ صبر او جهاد، ايمان او توکل، ثُبات او شجاعت مو وليدل، کله چي به د مسلمانانو لښکر ماته او شکست وخوړل او خلک به په تېښته سول، خو د رسول اللهﷺ په ټينګ او ثابت درېدلو سره به بيرته هغه شکست په نصر او کاميابي بدل سو، د رسول اللهﷺ عزم او ثُبات، شجاعت او دلاوري، حکمت او پوهي، لطف او شفقت په هغه اندازه سره وه چي مثل يې وجود نه درلودی.

دا مو هم وليدل چي د هجرت په نهم کال کي رسول اللهﷺ ابوبکر الصدّيقؓ د حج امير ولېږی او خلکو ته يې د اللهﷻ هغه احکام و رسول چي په سورةُ التوبه کي

(c) ketabton.com: The Digital Library

نازل سوي وه، چي د هغو په جمله کي د مشرکانو څخه برائت او جلا کېدل وه او دا امر ؤ چي پسله دغه اوسني کاله چي د هجرت نهم کال دی بیا به مشرکان د بیت الله الحرام حج نه کوي او بیت الله الحرام ته د کافرانو ورتګ منعه او حرام دی.

او په جزیرةُ العرب کي به داسي مشرک نه پاته کیږي چي عقد او عهد نه لري، که نه هغه کسان پسله څلورو میاشتو وژل کیږي، بیانو هغو لره امان نسته. اسلام په داسي اندازه سره نشر او قوي سو چي په ټوله جزیرةُ العرب کي یوائحنۍ او منل سوی قدرت او طاقت اسلام ؤ.

دغه ټول کارونه د الله جل جلاله په نصرت او إراده او بیا د رسول الله ﷺ په عزم او ثُبات سره وسوه، رسول الله ﷺ خپل رسالت تبلیغ کړی، امانت یې ورساوه، خپل امت ته یې نصیحت وکړی، د الله جل جلاله په لار کي یې حق جهاد وکړی، پسله هغه چي په جزیرةُ العرب کي اسلام ثابت او قائم سو، نور نو د الٰهي دین غالبه کول او فتوحات د رسول الله ﷺ د اتباعو وظیفه وګرځېدل، هغه چي پر ده ﷺ وه هغه یې په ښه ډول سره آداء کړه.

په دغه وخت کي سورةُ النصر نازل سو، سورةُ النصر د سورةُ التوبه وروسته او په حجةُ الوَداع کي نازل سوی دی، الله جل جلاله فرمایي:

﴿إِذَا جَآءَ نَصۡرُ ٱللَّهِ وَٱلۡفَتۡحُ ۝١﴾

ژباړه: کله چي د الله جل جلاله نصرت (مرسته او کومک) او د مکې مکرمې فتحه راسي.

﴿وَرَأَيۡتَ ٱلنَّاسَ يَدۡخُلُونَ فِي دِينِ ٱللَّهِ أَفۡوَاجٗا ۝٢﴾

او ته به وینې چي په ډلو ډلو خلک د الله جل جلاله دین ته داخلیږي.

﴿فَسَبِّحۡ بِحَمۡدِ رَبِّكَ وَٱسۡتَغۡفِرۡهُۚ إِنَّهُۥ كَانَ تَوَّابَۢا ۝٣﴾

پس نو ته د خپل رب تسبیح، پاکي، د حمده سره وایه او د الله جل جلاله څخه د خپل امت دپاره بخښنه غواړه، بېشکه چي دغه الله ښه توبه قبلوونکی دی.

د دغه سورة په نزول سره رسول الله ﷺ ته دا ورمعلومه سوه چي ما په دنیا کي خپل را سپارل سوی کار او د رسالت مهمه وظیفه پای ته ورسول او اوس نو د آخرت

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سفر نوبت را ورسېدی، د رسول اللهﷺ د بعثت مقصد او په دنیا کې یې د استوګنې مطلب چې د دین نشرول وه پوره سوه او د رسول اللهﷺ دپاره د آخرت سفر را نژدې سو، د تبلیغ او رسالت مهمه وظیفه د دهﷺ د اتباعو او امت پر غاړه پاته کېږي.

## د مسلمانانو د شمېر او عدد محاسبه

اوس به د مسلمانانو د شمېر او عدد او د اسلام د کامیابۍ په باره کې څه حسابي عددونه تر نظر وباسو: د هجرت په شپږم کال کې کله چې رسول اللهﷺ حدیبیې ته تشریف یو وړی فقط یو زر څلور سوه نفره ور سره ملګري وه او د هجرت په اتم کال کې یعني: تر حدیبیې دوه کاله وروسته د مکې مکرمې په فتحه کې لس زره نفره ور سره ملګري وه، تر هغه لږ وروسته د تبوک په غزاء کې دیرش زره نفره ور سره ملګري وه، مګر د هجرت په لسم کال کې کله چې رسول اللهﷺ حج آداء کاوه لږ تر لږه یو لک نفره ور سره ملګري وه.

تاسي دغه لوی فرق ته وګوری! د څلورو کلو په جریان کې د مسلمانانو شمېر د یو زر څلورو سوو نفرو څخه تر یو لک نفرو هم زیات سو، دا هم بېله هغو کسانو چې حج ته نه وه راغلي او دغه لوی او مهم فرق د حدیبیې د صلحې په سبب په وجود راغلی، هغه صلحه چې اللهﷻ فتحه بللې ده:

﴿إِنَّا فَتَحۡنَا لَكَ فَتۡحٗا مُّبِينٗا ۝١﴾

دغه صلحه ولې فتحه و بلل سوه؟ حال دا چې مسلمانانو نور هم جهاد او قربانیو ته ضرورت درلودی؟ دا ځکه چې د جهاد څخه اصلي هدف او مقصد دا دی چې د مسلمانانو او نورو خلکو له منځه پَردې ایسته سي او مور مسلمانان د تبلیغ او إعلاء کلمة الله څخه منعه نه کړل سو، کله چې مسلمانانو ته دا اجازه ورکړه سي چې په ښکاره او واضحه ډول، بېله منعې او سانسوره د اسلام په باره کې تبلیغ او خبري وکړي، فتحه نه بلکه فتوحات په وجود راځي، دا ځکه چې د اسلام دین د بشر د طبیعت او عقله سره موافق او برابر دین دی، د اسلام دین الهي او د انسانانو په ګټه او مصلحت دین دی، هیڅوک د دغه الهي دین مخنیوی په عقل او منطق سره نه سي کولای، په خبرو

(c) Ketabton.com: The Digital Library


او دلائلو سره هیڅوک نه سي کولای چي دغه دین مغلوبه کړي.

د دین دښمنانو همېشه د اسلامي دین د مغلوبه کولو دپاره د زور څخه کار اخیستی دی نه د عقل او منطقه څخه. هغه چي خلک یې د دغه الٰهي دین د متابعته څخه منعه کول (یعني: خلک دغه دین ته نه داخلېدل) د هغه سبب د دغه دین پټول وه، د قریشو ټول کوښښ دا ؤ چي اسلام د خلکو څخه پټ کړي، مسلمانان یې نه پرېښوول چي د اسلام په باره کي خبري وکړي او په خپله قریشو به بیا د اسلام تعریف او بیان په داسي شکل سره کاوه چي خلک ځني متنفره کړي، د اسلام احکام او فایدې یې نه بیانولې، بلکه ویل به یې: مسلمانان ستاسي خدایانو (یعني: بتانو ته) بد ویل او ښکنځل کوي، ستاسي پلرونه چي پر دغه دین وه بیعقلان او ناپوهان بولي او داسي نور لکه د نن ورځي د کفارو د حقیقته خالي تبلیغات، او خلک به یې هم د حق خبرو د اورېدلو څخه منعه کول، قرآن مه اوری، د مسلمانانو سره مه کښېنی، مسلمانان وحشیان او ظالمان دي، مسلمانان تروریستان او ترهګران دي او داسي نور.

کله چي د قریشو سره د حدیبیې صلحه وسوه د مسلمانانو او نورو خلکو په منځ کي هغه تړلي دروازې خلاصي سوې، نو به مسلمانانو د کفارو سره خبري کولې او د اسلام په حقیقت به یې پوهول، نو ځکه خلک د الله جل جلاله دین ته په ډلو ډلو داخل سوه او د الله جل جلاله له طرفه دغه آیاتونه په حجةُ الوداع او په منٰی کي نازل سوه چي الله جل جلاله فرمایي:

﴿ إِذَا جَآءَ نَصۡرُ ٱللَّهِ وَٱلۡفَتۡحُ ۝١ وَرَأَيۡتَ ٱلنَّاسَ يَدۡخُلُونَ فِي دِينِ ٱللَّهِ أَفۡوَاجٗا ۝٢ فَسَبِّحۡ بِحَمۡدِ رَبِّكَ وَٱسۡتَغۡفِرۡهُۚ إِنَّهُۥ كَانَ تَوَّابَۢا ۝٣ ﴾.

عبدالله بن عبّاس رضي الله عنه او نور مفسرین وایي: د الله جل جلاله د دغه قول مقصد او هدف دا ؤ چي اې محمّده! ﷺ دغه چي خلک الٰهي دین ته په ډلو ډلو داخلیږي، دا ستا د وفات او رحلت علامه ده، ځکه هغه چي ستا وظیفه وه هغه دي سر ته ورسول، اوس نو ستا د متابعینو او امت وظیفه ده چي دغه دین نور هم نشر کړي، امر بالمعروف او نهي عن المنکر وکړي او تر نورو خلکو دغه دین ورسوي، ځکه دین د ټولو اطرافو

(c) ketabton.com: The Digital Library



څخه پوره او کامل سو.

**اول**: د وحیو او قانون جوړولو په لحاظ پوره سو.

**دوهم**: د سیاسي لحاظه اسلام د یوه قوت او طاقت په حیثیت و پیژندل سو، دا نه چي یوازي په عربو کي و پیژندل سو بلکه بېله عربو نورو انسانانو هم اسلام د یوه قوي طاقت په صفت سره و پېژندی، د مځکي پر مخ اسلامي مملکت او مرکز پیدا سو، رسول الله ﷺ د مځکي پاچهانو ته لیکونه او رسالې و لېږلې، کسریٰ، مقوقس، قیصر، نجاشي، د مځکي هغو لویو پاچهانو ته د رسول الله ﷺ رسالې ورسېدلې، د دین تبلیغ وسو، اوس نو پر دغه دین او پر دغه طریقه دوام او استمرار، ټک کول او متابعت کول، د رسول الله ﷺ د امت او اتباعو کار دی، د عسکري لحاظه هم اسلام قوي سو، ټوله جزیرۃُ العرب د اسلام مرکز وګرځېده، دین ثابته او محکم سو.

رسول الله ﷺ خپله وظیفه په ښه ډول سره پای ته ورسول، لکه څرنګه چي د هجرت په نهم کال کي په ډلو ډلو خلک مدینې منورې ته د اسلام را وړلو دپاره ورتله، دغه رنګه د هجرت په لسم کال کي هم د دغو ډلو را تګ دوام درلودی، خو د تاریخ لیکونکو یې دقیق تاریخ نه دی ذکر کړی.

د هجرت په لسم کال کي کومه خاصه غزاء یا سریه نه دي پېښ سوي، د تبوک غزاء د رسول الله ﷺ آخرنۍ غزاء وه، څو د هجرت د لسم کال د ذوالقعدې میاشت را ورسېدل او د رسول الله ﷺ له طرفه په خلکو کي دا اعلان وسو چي رسول الله ﷺ د حج کولو إراده لري که څوک غواړي چي د ده ﷺ په ملګرتیا حج وکړي را دي سي.

## حجة الوداع

ورونو! د دعوت کارونه پای ته ورسېدل، الٰهي رسالت تر خلکو پوري ورسول سو، پر داسي اساس یوه نوې ټولنه جوړه سوه چي اُلوهیت د هر شي او هر چا څخه ایسته سو یوازي او یوازي الله جل جلاله لره ثابت سو او رسول الله ﷺ د دغه امت رسول و منل سو، اوس نو لکه یو هاتفي پټ رږغ چي د رسول الله ﷺ په زړه کي وسي او دیٔ ﷺ په دې پوه کړي چي په دنیا کي ستا اوسېدل پای او آخر ته رسیږي، ستاسي په یاد

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي کله چي رسول الله ﷺ معاذ بن جبل رضي الله عنه د هجرت په لسم کال کي یمن ته لېږی د نورو خبرو په جمله کي یې دا هم ورته و فرمایل: ښایي پسله دغه اوسني کاله دي بیا زما سره ملاقات و نه سي او ښایي ته زما مسجد او زما قبر ته راسې، معاذ رضي الله عنه د رسول الله ﷺ پر فراق ډېر وژړل.

دالله جل جلاله دا خوښه او إراده وه چي د ده جل جلاله رسول د خپل هغه رسالت او دعوت چي تر شل کاله زیات یې د هغه رسالت د رسولو په لار کي قِسم قِسم تکالیف او زحمتونه، هجرت او جنګونه ګاللي وه، اوس یې مېوه او ثمره، نتیجه او کامیابي وویني.

د مکې مکرمې په اطرافو کي د عربي قبیلو او د هغو د نماینده‌ګانو سره یو ځای سي، هغه قبیلې د د ﷺ څخه د دین احکام واخلي او دیٔ ﷺ د هغو څخه دغه شاهدي واخلي چي ده ﷺ د رسالت امانت ورساوه، رسالت یې تبلیغ کړی او امت ته یې نصیحت وکړی، او رسول الله ﷺ غوښته چي خلکو ته د حج احکام وروښیي نو رسول الله ﷺ د خپل قصد اظهار او اعلان وکړی چي دیٔ ﷺ سږکال حج ته ځي که څوک غواړي چي د ده ﷺ په ملګرتیا حج وکړي مدینې منورې ته دي راسي.

امام مسلم د جابر رضي الله عنه څخه روایت کوي چي رسول الله ﷺ (۹) کاله په مدینه منوره کي تېر کړه او حج یې و نه کړی، خو د هجرت په لسم کال کي دا اعلان وسو چي رسول الله ﷺ سږکال د حج إراده لري نو ډېر خلک مدینې منورې ته راغله او د ټولو دا إراده وه چي په رسول الله ﷺ پسي اقتداء وکړي او داسي حج وکړي لکه دیٔ ﷺ چي یې کوي.

نو د شنبې په ورځ چي د ذوالقعدې د میاشتي څلور ورځي پاته وې رسول الله ﷺ د حرکت کولو دپاره تیار او آماده سو او د ماپښین تر لمانځه وروسته یې حرکت وکړی ترڅو چي د ماځیګر تر لمانځه د مخه ذوالحُلیفې ته ورسېدی، هلته یې د ماځیګر لمونځ دوه رکعاته سفریانه آداء کړی او شپه یې هلته په ذو الحُلیفه کي تېره کړه، په سبا کي یې د ماپښین تر لمانځه د مخه د إحرام دپاره غسل وکړی، پسله غسله حضرت عائشې رضي الله عنها د رسول الله ﷺ په سر او بدن پوري خوشبویي و مښل، بیا رسول الله ﷺ احرام وتړی او بیا یې د ماپښین لمونځ سفریانه دوه رکعاته آداء کړی او له دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځایه یې په یوه احرام د حج او عمرې نیت وکړی، چې و دغه قسم حج ته (حج قِران) ویل کیږي، بیا نو پر خپله اوښه سپور سو او د مکې مکرمې پر طرف یې حرکت وکړی.

جابرﷺ وايي: کله چې د رسول اللهﷺ اوښه دښت ته و وتل نو ما خلکو ته وکتل، څومره چې مې سترګو لیدل کول په هغه اندازه د رسول اللهﷺ مخ ته سپاره او پیاده خلک رهي وه، و چپه او راسته طرف ته یې هم د سترګو د لیدلو پر اندازه خلک رهي وه، تر شا چې مې وکتل هلته هم څومره چې زما سترګو لیدل کول خلک په پسې وه، رسول اللهﷺ زموږ په منځ کې ؤ او قرآن پر نازلېدی، یو لک نفره د حج د آداء کولو دپاره ور سره ملګري دي، سبحان الله! هغه وخت مو په یاد دی چې رسول اللهﷺ غارِ حراء ته یوازي تلی؟ هغه مو په یاد دي چې رسول اللهﷺ به پر عربي قبیلو یوازي ګرځېدی او خلک به یې اسلام ته دعوتول؟ هغه مو په یاد دي چې رسول اللهﷺ او څو نفرو مسلمانانو د خپلو کوچنیو اولادو او کورنیو سره د مقاطعې او بندیز سختي شپې د لوږي او بېږي په حالت کي په شعب ابوطالب کي تېرولې؟ هغه مو په یاد دي چې طائف ته د تبلیغ او دعوت دپاره تللی ؤ او هلته د طائف هلکانو او مریانو په ډبرو ویشتی او تر مبارکو پښو یې ویني بهېدې؟ خو نن ورځ د حج د آداء کولو دپاره مکې مکرمې ته ځي او تر یو لک نفره زیات د ده متابعین او مسلمانان ور سره ملګري دي.

قصه به بیانوو خو څه نور معلومات به هم ور سره زیاتوو، هغه دا چې:

دا هغه یواځنۍ حج دی چې رسول اللهﷺ پسله هجرته آداء کړی دی او تر دغه د مخه حج نه ؤ فرض سوی، د حج د فرضیت په کال کي د علماء کرامو اختلاف دی، چې د هغې جملې څخه یو قول دا دی: چې حج د هجرت په نهم کال کي فرض سوی دی.

رسول اللهﷺ څلور عمرې آداء کړي دي چې په هغو کي دغه اوسنۍ عمره هم شامله ده چې د دغه حج سره یې کړې ده او څلور سره عمرې یې د ذوالقعدې په میاشت کي کړي دي.

او دغه حج ته ځکه حجةُ الوَداع ویل کیږي چې رسول اللهﷺ د دغه حج په

(c) ketabton.com: The Digital Library


خطبه کي و فرمایل «لَعَلِّي لا أَلقَا کُم بَعدَ عَامِي هٰذا»

یعني: ښایي پسله دغه کاله څخه بیا ستاسي سره ملاقات و نه کړم، ستاسي سره و نه وینم، په دغه حج کي رسول الله ﷺ د خپل امت او خپلو اصحاب کرامو سره د خدای په اماني، رخصتېدل یا وَداع کړې ده، نو ځکه حجةُ الوداع ورته ویل کیږي.

څرنګه چي دغه حج پسله هجرته د رسول الله ﷺ اولنۍ حج وُ او د رسول الله ﷺ دا غوښتنه او إراده وه چي په دغه حج کي خلکو ته د حج احکام وروښیي، نو ځکه یې د شا وخوا وقبیلو ته هم نفر ولېږل چي رسول الله ﷺ د حج إراده لري که څوک غواړي چي د رسول الله ﷺ سره حج وکړي مدینې منورې ته دي راسي، نو خود له هره طرفه ډلي راغلې چي د رسول الله ﷺ په ملګرتیا حج ته ولاړ سي.

رسول الله ﷺ د ذوالقعدې په میاشت کي د مدینې منورې څخه د مکې مکرمې پر طرف حرکت وکړی په لار کي یې د خپلو ملګرو څخه یو ضعیفه او سپین ږیری سړۍ ولیدی چي پر پښو رهي دی خو له ډېره ضعفه به یې پر دوو نفرو تکیه کول، رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه چي دغه سړي ته څه پیښه ده؟ خلکو ویل: یا رسولَ الله! دغه سړي نذر ایښی دی چي پر پښو به حج کوي، رسول الله ﷺ و فرمایل:

«مَا یَفعَلُ اللّٰہُ بِعَذابِ هذا؟»

یعني: الله جل جلاله به د ده په دغه تکلیف او عذاب څه وکړي؟

ورونو! د اسلام دین د آسانۍ دین دی، دغه دین د خلکو د تکلیف او عذاب دپاره نه دی راغلی، الله جل جلاله پر موږ تکلیفونه سپکوي سختۍ او تکلیفونه را څخه لیري کوي او پورته کوي، نو ځکه رسول الله ﷺ و فرمایل: دغه سړۍ امر کړی چي سپور سي او هغه هم سپور سو، دا د رسول الله ﷺ له طرفه د دین د آسانۍ اظهار او ښکاره کول وه، نن ورځ ځیني کسان پر مسلمانانو دین سختوي او درنوي، هره مسئله چي په هغه کي د علماوو اختلاف وي دوی یې په هغه سخت او مشکل طرف پسي ګرځي، مګر د دین حقیقت دا دی: څومره چي پر خلکو سپکیږي باید د شرعي په چوکاټ کي پر سپک سي، رسول الله ﷺ ته هیڅکله د دوو کارو په منځ کي اختیار نه دی ورکړه سوی مګر د هغو دوو څخه یې هغه آسانه اختیار کړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



يعني: که به رسول الله ﷺ ته په دوو کارو کي اختيار ورکړل سو که داسي کوي يا داسي، ده ﷺ به يې هغه آسانه طرف اختياراوه، دا زموږ د دين حقيقت دی چي د آسانۍ دين دی، رسول الله ﷺ فرمايي «يَسِّرُوا وَلاَ تُعَسِّرُوا» آساني را ولی سختي مه کوی، مګر موږ اوس وينو چي ځيني خلک د تشدُد، عُنف او زيږوالي څخه کار اخلي، خو دا صحي کار نه دی.

جهاد چي د اسلامي دين اساس او بنياد دی مګر په هغه کي عُنف، تشدد، د خلکو ژوند تريخول، پر خلکو سختۍ را وستل دا د دغه دين مرام او مقصد نه دی، که څوک غواړي چي د تقوٰی او پرهېزګارۍ پر اساس پر خپل ځان سختي را ولي کولای سي څوک يې نه منعه کوي مګر پر نورو خلکو دروند بار ايښوول نه دي صحي.

رسول الله ﷺ په لمانځه روژه او داسي نورو عبادتو کي پر خپل ځان ډېر زحمت او تکليف را وستی، مګر پر نورو خلکو يې د عبادتو په کولو کي آساني راوستل او دا د اسلام حقيقت دی بايد ځان په خبر کړی، مګر هو، د ګنهو څخه ځان ساتل حتمي او ضروري دي.

د حج په وخت و رسول الله ﷺ ته يوه ښځه راغله او يو کوچنئ تقريباً د تي هلک ور سره ؤ هغه هلک يې را پورته کړی او ويل: يا رسولَ الله! آيا د دغه حج کيږي؟ يعني: حج يې حج دی او ثواب لري؟ رسول الله ﷺ و فرمايل: هو، او تا لره يې هم ثواب سته، دغي ښځي ته هم د دغه هلک پر حج ثواب ورکول کيږي، ځکه په دغه کار کي دغه ښځه هم تکليف او زحمت زغمي، دا ده چي په غېږ کي يې اخلي، په طواف، صفا او مروا کي يې ګرځوي، نو دغه کوچني ته د حج ثواب ورکول کيږي او هغه ښځه يا هر هغه څوک چي د دغه کوچني روزنه يې پر غاړه وي هغه ته هم ثواب ور کول کيږي، مګر هو، علماء کرام وايي: چي د کوچني دغه حج د هغه فرضي حج پر ځای نه درېږي، فرضي حج نه په آداء کيږي، کله چي دغه کوچنئ بالغ سو هغه د اسلام حج چي طاقت يې ولري په خپلو شرائطو پر فرض دی.

تاسي ته معلومه ده چي حج پر درې قسمه دی:

**اول**: حج مفرد يا إفراد.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**دوهم:** حج تمتّع.

**درېیم:** حج قِران.

حج مفرد: هغه بېله عمرې یوازي حج دی.

حج تمتع دا دی: چې د حج په میاشتو کې عمره وکړي او ځان حلال کړي (یعني: د سر په خرولو سره ځان له احرامه وباسي) خپل کالي واغوندي، کله چې د ذوالحجې د میاشتې د اتم ورځ راغله بیا د حج دپاره بل احرام وتړي.

او حج قِران هغه حج ته ویل کیږي: چې حج او عمره دواړه په یوه احرام آداء کړي، یعني: د حج په میاشتو کې عمره وکړي ځان له احرامه نه کړي خلاص په هغه احرام کې پاته وي، کله چې د حج موسم راسي په هغه اولني احرام چې عمره یې پکښې کړې ده حج هم وکړې.

رسول الله ﷺ دغه خپل حج، حجِ قِران کړی دی.

د حج د دغو دروا قسامو په فضیلت کې علماء او مذهبونه اختلاف سره لري، زموږ د احنافو په مذهب حجِ قِران تر حج مفرد او حج تمتع افضل دی.

رسول الله ﷺ د مدینې منورې څخه د مکې مکرمې پر طرف ور رهي دی څو مکې مکرمې ته ور نژدې سو او شپه یې په (ذي طویٰ) کې تیره کړه چې د یوه ځای نوم دی او بیا د سهار تر لمانځه وروسته مکې مکرمې ته ور داخل سو چې دا د یکشنبې ورځ او د ذوالحجې پنځمه وه او اته شپې یې پر لاري تیري کړي وې، اول یې غسل وکړی او بیا مسجد الحرام ته ورغلی، پر کعبه شریفه یې طواف وکړی د صفا او مروا په منځ کې یې سعیَ یا تګ وکړی او ځان یې د احرامه څخه په دې سبب نه کړی خلاص چې د حجِ قِران نیت یې کړی ؤ او هَدیه یې هم ور سره رهي کړې وه، پسله طواف او سعیِ څخه د مکې مکرمې و لوړ طرف ته چې حِجون ورته ویل کیږي ولاړی او هلته یې استوګنه کول او بېله فرضي طوافه څخه بیا یې بل طواف نه دی کړی.

رسول الله ﷺ د ذوالحجې په اتمه ورځ چې (یوم الترویه) هم ورته ویل کیږي د سهار تر لمانځه یا لمر را ختلو وروسته منیٰ ته تشریف یو وړی، د ذو الحجې و اتمې ورځې ته د ترویې ورځ په دې سبب ویل کیږي چې خلکو به منیٰ ته اوبه

(c) ketabton.com: The Digital Library


وړلې، په منٰی کې خو اوبه نه وې، نو يې دغه ورځ د ترويې يعني: اوبه کېدلو يا اوبو اخيستلو ورځ و بلل.

رسول الله ﷺ د ذوالحجې په اتمه ورځ منٰی ته ولاړی، د دغې ورځي د ماپښين، ماځيګر، ماښام، ماخستن او د نهمي ورځي د سهار لمنځونه يې په منٰی کي آداء کړه، چي دغه ټوله پنځه لمنځونه سوه او د ذوالحجې په نهمه ورځ تر لمر راختلو وروسته د منٰی څخه د عرفات پر طرف رهي سو، اول مزدلفې ته ورسېدی ځکه هغه په مخ او لار کي ده بيا له هغه ځايه عرفات ته ولاړی.

تر اسلام د مخه چي به قريشو حج کاوه منٰی ته به را و وتل او د عرفات په ورځ به تر مزدلفې پوري ولاړل، هلته به د مشعرالحرام سره پاته سوه، نور خلک به عرفات ته ولاړل مګر قريش عرفات ته نه تله په مزدلفه کي پاته کېدل او ويل به يې: موږ اهلُ الحرم يو او تر حرم دباندي نه وزو، ځرنګه چي مزدلفه د حرم په حدود کي داخله ده او عرفات د حرم تر حدودو دباندي دی، نو قريشو د ځان دپاره دغه يو امتياز او بهتري ابنې وه چي ويل: موږ اهل حرم تر حرم دباندي نه وزو، نور ټول خلک به عرفات ته ولاړل بېله قريشو، اوس چي رسول الله ﷺ د نهم په ورځ د منٰی څخه د عرفات پر طرف رهي سو خلک په دې انتظار کي دي چي آيا رسول الله ﷺ به داسي وکړي لکه پخوا چي قريشو کول؟ په مزدلفه کي به پاته سي او که به د خلکو سره عرفات ته ولاړ سي؟ خاصتًا اهل مکه ډېر په انتظار کي وه چي رسول الله ﷺ به څه وکړي؟

مګر رسول الله ﷺ چي مزدلفې ته ورسېدی هلته نه سو پاته بلکه عرفات ته پسي ولاړی، يعني: دغه امتياز چي قريشو ځان ته ابنبی دی دا د دين څخه نه دی او د الله جل جلاله په دين کي امتياز نسته، بلکه عرفات د ټولو حاجيانو دپاره د درېدلو ځای دی، هغه امتياز چي قريشو ځان ته ابنبی وُ لغوه سو او رسول الله ﷺ فرمايي: «اَلْحَجُّ عَرَفَةٌ» يعني: حج عرفات دی، نو هر هغه څوک چي په مزدلفه کي پاته سي هغه لره حج نسته او حج يې نه صحي کيږي، او د دغه حديث شريف چي « الحج عرفه» سرِ هم دا دی چي هغه د جاهليت عادت او امتياز يې له منځه يُو وړی.

رسول الله ﷺ عرفات ته ورسېدی او هلته په نَمِرَه کي د ده ﷺ دپاره خېمه

(c) ketabton.com: The Digital Library


درول سوې وه (نَمِرَه) هغه ځای دی چې اوس هلته د عرفات مسجد جوړ سوی دی، رسول الله ﷺ په دغه خېمه کې واړول ترڅو چې لمر تر سر واوښتی، تر زوال وروسته رسول الله ﷺ هغه خپله مشهوره او عظیمه خطبه په داسې حال کې وویل چې یو لک او څلیرویشت زره یا یو لک او څلور څلوېښت زره نفر پر را ټول وه، رسول الله ﷺ د دغو ډېرو خلکو په منځ کې ودرېدی او هغه جامعه خطبه یې وویل چې خطبةُ الوَداع ورته ویل کیږي، دا د حج خطبه وه او رسول الله ﷺ په دې خطبه کې د دین د ځینو احکامو خلاصه بیان کړه، چې زه به اوس د هغې خطبې هغه لوی لوی ټکي درته را نقل کړم او د دغې خطبې د هرې جملې سَره باید مسلمان و درېږي، په پوره غور او دقت سره فکر پکښې وکړي ځکه هره جمله یې د هدایت او لار ښوونې ستوری دی چې مسلمانانو ته د دوی د دین لار روښانه کوي، رسول الله ﷺ وفرمایل:

« إنّ الحمدَ لله، نَحمدُهُ ونستعينُهُ، ونستغفرُهُ ونتُوبُ اليه، ونعوذُ بالله من شرورِ أنفسنا و من سيّئات أعمالنا، من يهده اللهُ فلاَ مُضلّ لهُ، ومن يُضللهُ فلاَ هاديَ لهُ، وأشهد أن لا إله إلاّ الله وحدهُ لا شريكَ له، وأشهد أنّ محمّداً عبدُه ورسولُه، يا عبادَ الله!»

د الله جل جلاله په تقوی وصیت درته کوم او د الله جل جلاله اطاعت ته مو را بولم او د خبرو شروع په هغه څه سره کوم چې هغه خیر دی، امّا بعد:

« ايّها الناس! اِسمَعُوا قولي، فإنّي لا أدري لعلّي لا ألقا كم بعد عامي هذا بهذا الموقف أبَدًا»

اې خلکو زه تاسې ته احکام بیانوم زما څخه یې واورئ، زه نه یم خبر ښایي پسله سږ کاله په دغه ځای کې بیا هیڅکله زه ستاسې سره و نه وینم،

«إن دِمائَكم وأموالَكم وأعراضَكم حرامٌ عليكم كَحُرمةِ يومِكُم هذا في شهرِكم هذا في بلدِكم هذا».

ژباړه: بېشکه چې ستاسې وینې، ستاسې مالونه، او ستاسې عزت یو پر بل داسې حرام دي لکه ستاسې د دغې ورځې حرمت، په دغه میاشت او په دغه ښار کې.

ورونو! د رسول الله ﷺ د خطبې ویلو سره ټول خلک چپ او ساکت سوه،

(c) ketabton.com: The Digital Library


خو دا معلومه خبره ده چې د رسول اللهﷺ آواز یو لک نفرو ته نه رسېدی، نو عبّاس بن عبدالمطلبؓ او ربیع بن اُمیه ؓ چې د صفوان بن اُمیه ؓ ورور ؤ، دغه دوه نفره چې د لوړ آواز خاوندان وه د رسول اللهﷺ خبري او اقوال یې تر خلکو پوري رسول او رسول اللهﷺ و فرمایل:

ښه متوجه سی! دغه خبره په هر وخت کي خو په خاص ډول د نن ورځي په حالاتو کي ډېره مهمه خبره ده خصوصاً د هغو کسانو دپاره چې بري او عام خلک وژني او د هغو کسانو دپاره چې د خلکو مالونه په حرامه سره خوري او د هغو کسانو دپاره چې بېله دلیله پر نورو خلکو او د هغو پر حیثیت او شرف رغیږي او باطلي خبري پر کوي، دغه خلک دي د رسول اللهﷺ دغه لار ښووني واوري، رسول اللهﷺ و فرمایل: بېشکه چې ستاسي ویني، ستاسي مالونه، او ستاسي عزت یو پر بل داسي حرام دي لکه ستاسي د دغي ورځي حرمت، په دغه میاشت او په دغه ښار کي.

نو د مسلمان وینه تویول، یا د هغه مال خوړل، یا د هغه په شرف او عزت کي خبري کول ابدي حرام دي او داسي حرام دي لکه ستاسي د نن ورځي حرمت چې د عرفات ورځ ده او دغه میاشت چې د حرامو میاشتو څخه ده او دغه ښار چې بلد الحرام دی، یعني: د مسلمان د ویني او مال او شرف حراموالی داسي دی لکه د حج د ورځي حرمت، په حرامه میاشت کي او په بلدُ اللهِ الحرام کي.

دا د مسلمان د ویني د مسلمان د مال د مسلمان د عزت او شرف، حراموالی دی چې د یوه مسلمان وینه او مال، د مسلمان شرف او عزت پر بل چا داسي حرام دي چې حرمت یې د کعبې شریفي تر حرمت او د حج اکبر د ورځي تر حرمت کم نه دی.

اې هغو کسانو! چې د مسلمانانو ویني په ناحقه سره تویوی، اې هغو کسانو چې د مسلمانانو مالونه په حرامه سره خوری، اې هغو کسانو چې د خلکو په عزت کي خبري کوی، د رسول اللهﷺ دغه خطبه او دغه آخرنۍ وصیت په دقت سره واوری، رسول اللهﷺ د حجةُ الوداع په خطبه کي څو ځله او په تکرار سره دغه خبره کړې ده:

«إن دمائَكم وأموالَكم وأعراضَكم حرامٌ عليكم كَحُرمـةِ يـومِكُم هـذا في شهرِكم هذا في بلدكم هذا».

(c) ketabton.com: The Digital Library


مسلمان ورونو! لږ څه خپلو ځانو او خپلو عملو ته متوجه سی چي څومره او په کومه اندازه سره مو د رسول الله ﷺ إطاعت کړی دی؟ او څومره مو د مسلمانانو د حقوقو مراعت کړی دی؟ او بیا رسول الله ﷺ و فرمایل:

« ألا كلّ شيْءٍ مِن أمرِ الجاهلية تحتَ قدمي موضوعٌ »

خبر اوسی چي د جاهلیت هر کار او عمل زما تر پښو لاندي او بې اعتباره دی.

« وَدماءُ الجاهليّة مَوضوعَةٌ وَ إن اَوّلَ دَمٍ أضَعُ مِن دمائنا دمُ ابنِ ربيعَةَ بنِ الحارث»

او هغه د جاهلیت ويني ایسته سوي او غورځول سوي دي. یعني: د جاهلیت د وختو څخه چي د قبائلو په منځ کي د وژل سوو کسانو انتقام او بدله پاته دي هغه لغوه دي، د هغو بدل به نه اخیستل کیږي او هغه اوله وينه چي زه يې لغوه کوم او باطلوم هغه زموږ د وینو څخه ده چي د عامر بن ربیعه بن الحارث بن عبدالمطلب وينه ده.

دغه عامر بن ربیعه چي د رسول الله ﷺ د اکا لمسئ ؤ او د هذيل د قبيلې له طرفه وژل سوی ؤ، د هغه د قاتل څخه تر اوسه بدله او انتقام نه ؤ اخیستل سوی، رسول الله ﷺ تر هغه تېر سو او عفوه يې ورته وکړه، شروع يې د خپل قريب د ويني په معافولو او بخښلو سره وکړه نو ويل تاسي هم ټوله په دغه مکلف یاست.

او رسول الله ﷺ و فرمایل:

« وَ رِبا الجاهليّةِ موضوعٌ، وَ اوّلُ رِبا أضَعُ مِن رِبانا رِبا عبّاس بن عبدالمطلب، فإنهُ موضوعٌ كُلّهُ »

او هغه د جاهلیت سُد او ربا لغوه او باطل دي او هغه اوله ربا چي زه يې باطلوم هغه زموږ ربا ده چي زما د اکا عبّاس بن عبدالمطلب ربا ده.

رسول الله ﷺ ربا منعه او لغوه کړه او هغه اوله ربِاء چي يې باطله کړه، هغه د ده ﷺ د اکا عباس رضی الله عنه ربا وه، او وې فرمایل:

«فَاتقوا اللهَ في النّساء، فَإنّكم أخذتُمو هُنّ بِأمانة الله، واستحللتم فروجَهنّ بكلمة الله، ولكُم عليهنّ أن لا يوطئنَ فرشَكم أحداً تكرهونه، فَإن فعلنَ ذالک فاضربوهنّ ضرباً غيرَ مُبرِّح، و لهنّ عليكم رزقُهنّ و كِسوتُهنّ بالمعروف».

(c) ketabton.com: The Digital Library



رسول اللهﷺ فرمایي: د ښځو په معامله او باره کي د الله جل جلاله څخه وېرېږی، تاسي دوی د الله په امانت سره اخیستي دي او دوی تاسي ته په نکاح سره حلالي سوي دي، ستاسي پر دوی دغه حق دی چي ستاسي کور ته به داسي څوک نه پرېږدي او نه داخلوي چي ستاسي نه وي خوښ، که یې دا کار وکړی ویې وهی، مګر داسي وهل چي نه به زخمي کېږي او نه به یې عضوه ماتېږي او د دوی پر تاسي دغه حق دی چي خواړه او کالي به په ښه طریقه سره ورکوی.

اې هغو مسلمانانو! چي شکل او قیافه مو د مسلمان جوړه کړې ده او د رسول اللهﷺ متابعت نه کوی، ستاسي اولنۍ ظلم پر هغو ښځو دی چي ستاسي تر لاس لاندي دي، د الله جل جلاله څخه و بېرېږی په خپل دغه عمل سره د اسلام نوم مه بدوی، د اسلام د دښمنانو إدعاء ګاني چي وایي: په اسلام کي د ښځو حقوق نسته په خپلو دغه ظالمانه اعمالو سره مه رشتیا کوی.

وروڼو! رسول اللهﷺ مور ته د وهلو سبب او اندازه را ښوولي دي.

**اول**: د ښځي وهل هغه وخت جائز او روا دي چي په ښځه کي نه إطاعت او سرکښي پیدا سي، داسي نه چي په کورنیو چارو کي یوه سهوه او خطاء ځني پېښه سي او ته یې وهې، دغه وهل حرام او نا روا دي.

**دوهم**: وهل به په داسي طریقه او اندازه سره وي چي عذاب، زخم او مات به نه وي پکښې، حتّی علماء کرام وایي: چي وهل به یې په داسي شي سره وي لکه مسواک، اصلاً دا داسي وهل نه دي چي په هغه کي دي آزار او عذاب مقصد وي، بلکه د دې وهلو څخه مقصد دا دی چي اې ښځي! ستا نا فرماني داسي اندازې ته ورسېدل چي نور یې نو تحمل نه سي کېدلای او پسله دې څخه بل شئ نسته بېله طلاقه، دا هغه آخرنۍ تنبیه او خبرتیا ده، نور نو د نصیحت وخت تېر سو او هغه آخرنۍ مرحلې ته سره ورسېدلو، که په دغه وهلو سره هم ښځه نه سوه اصلاح، بیا نو یو حَکَم یا دربیم څوک چي صلحه او فیصله کوونکی وي د سړي له طرفه راځي، او یو هم د ښځي له طرفه راځي چي یا به سم ژوند سره کوي یا طلاق او جلا والی دی، نو د دغه وهلو څخه مقصد دا سو: چي با خبره اوسه اوس مو ژوند او ګذاره هغه آخرنۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library


مرحلې ته ورسېدل، نه دا سي وهل چي نارینه خپل همت او غیرت، خپل حاکمیت او باداري پر ښځه معلوموي، او وايي: خپله مړانه او پاچهي تا ته دربنکاره کوم، زما په مقابل کي ځوک نه سي درېدلای او ته باید پوه سې چي ته زما رانیول سوې مینځه یې.

ځیني د اسلام دښمنان دغه د ښځي د وهلو په سبب پر اسلام عیب وايي، مګر رسول الله ﷺ په هغه آخرنۍ خطبه کي د وهلو اندازه را ښوي او فرمايي:

«ضربا غیر مُبَرِّح»

داسي وهل چي ماتول او زخمي کول به پکښي نه وي، چي د وهلو هیڅ اثر او علامه باقي نه پاته کیږي، بلکه دغه وهل دې ته اشاره ده چي خبره هغه خطرناکه مرحلې ته ورسېدل، که ښځه په دغه وهلو پوه سوه چي ما تر خپلي اندازې تېری کړی دی او بیرته یې إطاعت شروع کړی، نو پر تاسي د دوی خواړه او لباس په ښه طریقه سره لازم دي، بیرته هغه خپل عادي او طبیعي، د خوشالۍ او مهربانۍ ژوند شروع کیږي او اختلافات پای ته رسیږي.

رسول الله ﷺ فرمايي: ښځي ستاسي سره بندیاني دي، یعني: ښځه د خپل خاوند په کور کي لکه بندي داسي ده ځکه دا داسي تصرف نه سي کولای لکه نارینه بلکه د دې خاوند د دې د رزق او نورو کارو متصرف دی، نو په دغسي حال کي باید د دې مراعت وسي او ښه نرمه ګذاره او معامله ور سره وسي، رسول الله ﷺ و فرمایل: چي دوی د خپل ځان دپاره اختیار نه لري، تاسي دوی د الله جل جلاله په امانت اخیستي دي او د الله جل جلاله په قانون د دوی فرجونه تاسي ته حلال سوي دي نو:

«فَاتَّقوا اللهَ فی النِّساء»

د ښځو سره په ژوند کولو کي د الله جل جلاله څخه و بېرېږی.

«واستَوصُوا بِهِنّ خیراً»

او د دوی سره ښه او د خیر ګذاره او معامله کوی.

دا د رسول الله ﷺ له طرفه وصیت او لارښوونه ده چي انسانان باید د ښځي په ګذاره او معامله کي د الله جل جلاله له عذابه ځان وساتي، هغه ځوک چي د خپلي ښځي سره نرمه او پسته ګذاره کوي ځیني خلک هغه ضعیفه بولي، خو په حقیقت کي هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library


ضعیفه نه دی بلکه دا د رسول الله ﷺ د وصیت او لارښوونې عملي کول دي.

یو سړئ و حضرت عمر ﷺ ته د هغه د خلافت په وختو کې ورغلی چې د خپلې ښځې شکایت ورته وکړي چې ښځه مې یو وخت نا وخت آواز را باندې پورته کوي. هغه سړئ وایي: کله چې دروازې ته ور ورسېدم او دروازه مې و ټکول په دغه وخت کې مې واورېدل چې د عمر ﷺ ښځې په خپله پر عمر ﷺ آواز پورته کړی دی، سړئ وایي: عمر ﷺ هغه څوک ؤ چې ټول خلک ځني بېرېدل او اوس د ده ښځې پر ده آواز پورته کړی دی، وایي: زه بیرته را وګرځېدم چې زما شکایت ما ته کومه فایده نه را رسوي، خو حضرت عمر ﷺ هغه د دروازې ټکول اورېدلي وه او د کوره را ووتی، ویل سړیه لکه زه چې دي په کار وم؟

ما ویل هو، خو زما کار وسو، عمر ﷺ راته ټینګ سو چې یا، را ته و وایه د څه شي دپاره راغلی وې؟ وایي: زه مجبوره سوم نو مې ورته و ویل: راغلی وم چې د خپلې ښځې د آواز لوړولو شکایت درته وکړم، خو ما چې ستا حال ولیدی چې تر ما په کمه نه ؤ نو بیرته رهي سوم چې زما شکایت فایده نه کوي، حضرت عمر ﷺ د محمّدي مدرسې شاګرد را ته و ویل: سړیه دا مې اشپزي کوي، خدمت مې کوي، کالي را مینځي، اولادونه مې را تربیه کوي، پر دغو ټولو سربېره زما پر قهر او غضب صبر کوي، نو زه د دې پر لوړ آواز صبر و نه کړم؟

نو د ښځو سره نرمه ګذاره ضعف نه دی بلکه د رسول الله ﷺ د وصیت عملي کول دي.

ورونو! ما ولې دغه د ښځو موضوع دومره اوږده کړه؟

ځکه زموږ په ټولنه کې داسې ډیر خلک سته چې د ښځو د حقوقو هیڅ مراعت نه لري، دغه د دوی عمل دی چې د اسلام د دښمنانو تبر ته یې لاستی ور واچاوه، نن ورځ که د اسلام دښمنان دغه إدعاء کوي چې په اسلام کې د ښځو حقوق نه دي ورکول سوي، د هغو دلیل د دغو کسانو عمل دي، زه مجبوره یم چې په دغه ترخه حقیقت سره اعتراف وکړم چې هو، زموږ په ټولنه کې داسې کسان سته که د دوی دباندنې کړه وړه وګورې په تمامه معنٰی پر شریعت برابر دي، ښې ږیرې او لنګوټې، ښه لمنځونه او روژې، ښه اسلامي لباس او ښې اسلامي خبرې، حتّي ځیني کسان یې

(c) ketabton.com: The Digital Library


د قاري او ملا، آخندزاده او صاحبزاده، سید او آغا په نامه سره هم یادیږي، خو که یې دننه په کورني ژوند او د کور د ښځو سره په ګزاره خبر سې، مغرور او متکبر، ظالم او ستمګار دی، شرمښ دی د سیږي په لباس کي، خو بیا هم دومره ویلای سم چي د دغو کسانو عمل پر دې دلالت نه کوي چي اسلام د ښځو حقوق نه دي ور کړي، بلکه دغه کسان د اسلام پر لار نه دي رهي سوي او د دوی په دغه بد عمل سره باید د اسلام نوم بد نه سي.

*(الله ﷻ دي موږ او دوی ته هدایت وکړي چي د ځان او د نورو حقوق وپېژنو)*

او بیا رسول الله ﷺ وفرمایل:

« وَقد تركتُ فيكم ما لَن تضلّوا بعدَهُ إن اعتصَمتُم به، كتاب الله»

او ما په تاسي کي داسي شئ پرې ایښی دی که تاسي په هغه پوري لاس ونیسی حقه لار نه درڅخه ورکیږي، چي هغه کتاب الله قرآن کریم دی.

«ايّها النّاس: إنّهُ لا نبيّ بعدي، ولا اُمّةَ بعدكم، ألا فاعبدُوا ربّكُم، و صَلّوا خمسَكُم، و صُومُوا شهرَكُم، و أدّوا زكاةَ اموالكم، طَيِّبةً بها أنفُسَكم، و تَحجّون بيت ربِّكم، وأطِيعوا اُولاتَ أمرِكم، تدخُلوا جنّةَ ربّكم »

اې خلکو! تر ما وروسته بل نبي نسته او نه تر تاسي وروسته بل امت سته، د خپل رب عبادت کوی، خپل پنځه لمنځونه آداء کوی، د روژې د میاشتي روژه نیسی، د خپلو مالو زکات ورکوی، د خپلو زړو په خوشالي يې ور کوی، ستاسي د رب د بیتې حج کوی، د خپلو آمرانو اطاعت کوی، نو به د خپل رب جنت ته داخل سی.

او رسول الله ﷺ وفرمایل:

« و أنتم تُسألونَ عنّي فَما أنتم قائلون؟ قالوا نشهدُ أنّكَ قد بلغتَ وأدّيتَ و نصحتَ»

یعني: ستاسي څخه د قیامت په ورځ زما په باره کي پوښتنه کیږي، الله ﷻ زما په باره کي پوښتنه درڅخه کوي تاسي به څه وایاست؟ آیا تاسي دا شاهدي آداء کوی چي ما د خپل رب رسالت تبلیغ کړی؟

د خلکو آوازونه په ژړا سره پورته سوه او ویل: موږ شاهدي آداء کوو چي تا خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library



رسالت ورساوه، امانت دي آداء کړی او امت ته دي نصيحت وکړی او د خپل دين دپاره دي جهاد وکړی، د خلکو تر دغي شاهدي وروسته رسول اللهﷺ په خپله سبابه ګوته سره يو وار آسمان ته اشاره وکړه او بيا يې خلکو ته اشاره وکړه او ويل به يې «اللّٰهمّ اشهد» الٰهي ته شاهد اوسه، دغه د ګوتي اشاره او د دغي جملې ويل يې درې واره تکرار کړه.

دغه د ګوتي د اشارې څخه د رسول اللهﷺ مقصد څه ؤ؟ مقصد يې دا ؤ چي الٰهي! تا دغه قوم او امت ته زه په رسالت او نبوت را لېږلی وم او اوس ته شاهد اوسه، دغه دی زما امت شاهدي آداء کوي چي ما خپل رسالت ور ورساوه، امانت مي آداء کړی او خپل امت ته مي نصيحت وکړی.

پسله هغه چي رسول اللهﷺ د خطبې د ويلو او احکامو د بيانولو څخه فارغه سو د دغې ورځي د ماځيګر په وخت کي د الله جل جلاله دغه قول نازل سو چي رب عزوجل فرمايي:

﴿ٱلْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ ٱلْإِسْلَٰمَ دِينًا﴾.
[المائده: ۳]

الله جل جلاله فرمايي: چي نن ورځ ما تاسي ته ستاسي دين در پوره او کامل کړی زما نعمت مي پر تاسي تمام او پوره کړی او ستاسي دپاره مي اسلام د دين په شکل او د دين په صفت سره اختيار کړی.

نو د دغه آيات د نزول وخت د جمعې او عرفات د ورځي د ماځيګر وخت دی.

﴿ٱلْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ ٱلْإِسْلَٰمَ دِينًا﴾.

د دغه آيات په نزول سره حضرت ابوبکر الصدّيقؓ او حضرت عمر فاروقؓ دوه مختلف شخصيتونه يوه وخندل او بل و ژړل: حضرت عمرؓ خوشاله سو ځکه اسلام پوره او کامل سو، مسلمانان کاميابه سوه نو يې وخندل.

مګر ابوبکر الصدّيقؓ خواشيني سو او وې ژړل، ځکه دئ پوهېدی چي د هر شي تر پوره کېدلو وروسته و هغه شي ته کمبود او نقصان راځي، نو د دين پوره کېدل د رسول اللهﷺ د رحلت خبر او علامه ده.

يو وخت يوه يهودي و حضرت عمر فاروقؓ ته و ويل: ستاسي په کتاب کي يو آيات دی که دغه آيات پر موږ نازل سوی وای موږ به د دغه آيات د نزول ورځ زموږ

(c) kotabton.com: The Digital Library

دپاره اختر ګرځولی وای، حضرت عمر فاروق رضی الله عنه و ویل: کوم آیات؟

یهودي وویل: دغه آیات:

﴿اَلْیَوْمَ اَکْمَلْتُ لَکُمْ دِیْنَکُمْ وَاَتْمَمْتُ عَلَیْکُمْ نِعْمَتِیْ وَرَضِیْتُ لَکُمُ الْاِسْلَامَ دِیْنًا﴾.

حضرت عمر فاروق رضی الله عنه وویل: په والله په هغه ورځ چي دغه آیات نازل سو پر موږ مسلمانانو دوه اخترونه سره یو ځای سوي وه، دغه آیات د هجرت د لسم کال د حجة الوَداع په موسم کي د جمعې او عرفات په ورځ د ماځیګر په وخت او په داسي حال کي نازل سو چي د عرفات پر میدان د رسول الله ﷺ پر شا وخوا تر څلوېښتو زرو زیات اصحاب کرام را ګرځېدلي وه، نو حضرت عمر رضی الله عنه د دغه آیات په نزول سره خوشاله سو.

مګر ابوبکر الصدّیق رضی الله عنه وژړل، خلکو پوښتنه ځني وکړه چي ولي ژاړې؟ ده رضی الله عنه وویل: هر شئ چي پوره سي خامخا نقصان ورته راځي او دا د رسول الله ﷺ د وفات خبر دی، ابوبکرالصدّیق رضی الله عنه د دغه آیات څخه دغه مقصد واخیستی چي دین پوره سو نو رسول الله ﷺ زموږ له منځه تلوتکی دی.

پسله خطبې ویلو حضرت بلال رضی الله عنه آذان وکړ او بیا یې اقامت و وایه او رسول الله ﷺ خلکو ته د ماپښین لمونځ ورکړ، دوهم وار بیا اقامت و ویل سو او رسول الله ﷺ خلکو ته د ماځیګر لمونځ ورکړ او رسول الله ﷺ د دغو لمنځو په منځ کي نور لمونځ سنت یا نفل نه دی آداء کړی.

بیا نو رسول الله ﷺ پرخپله اوښه سپور سو او په عرفات کي د درېدلو پر ځای مخ پر قبله و درېدی او تر لمر لوېدلو پوري یې هلته تهلیل او تکبیر وایه دعاوي یې کولې تر لمر لوېدلو وروسته د مزدلفې و طرف ته په داسي حال کي رهي سو چي اُسامه بن زید رضی الله عنه یې پرخپله اوښه تر شا ور سره سپور یا کنجوغه کړی وُ، کله چي مزدلفې ته ورسېدی هلته یې د ماښام او ماخستن لمنځونه په یوه آذان او دوه اقامته سره آداء کړه او د دغو لمنځو په منځ کي یې نه نفلونه کړي دي او نه یې تسبیحات ویلي دي، د لمنځو تر آداء کولو وروسته یې دالته په مزدلفه کيْ د سپېدو تر چاودلو پوري څنګ واچاوه او بیا یې د سهار لمونځ په یوه آذان او یوه اقامت سره آداء کړی، تر لمانځه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسته و مشعرُ الحرام ته ورغلی، مخ پر قبله و درېدی دعاوي يې وکړې، تکبير او تهليل يې و وايه او تر هغو دلته ولاړ ؤ چې ښه روښنايي سوه او د لمر تر را ختلو د مخه د مزدلفې څخه د منٰی پر طرف پر خپله اوښه رهي سو او دلته يې فضل بن عبّاسؓ تر شا ور سره سپور يا کنجوغه کړی ؤ، څو وادي مُحَسّر ته ورسېدی او هلته يې خپله اوښه څه چابکه کړه (وادي محسّر هغه شېله ده چې په هغه کي د أبرهه فيل پرېوتی او د کعبې شريفې پر طرف نه تلی) او بيا له دغه ځايه و جَمرةُ الأولٰی ته ورغلی (جمرة الأولی) چې جمرة الکبرٰی او جمرةُ العقبه هم ورته ويل کيږي او موږ لوی شيطان ورته وايو، دغه شيطان يې په اوو کوچنيو ډبرو سره و ويشتی او د هر ويشتلو سره يې د (الله اکبر) تکبير وايه او بيا د هَديو د حلالېدلو ځای ته ورغلی، هلته رسول اللهﷺ (٦٣) اوښان په خپل مبارک لاس سره حلال کړه او پاته (٣٧) اوښان حضرت عليؓ حلال کړه چې ټول سل اوښان سوه.

بيا له دغه ځايه رسول اللهﷺ پر خپله اوښه سپور سو او کعبې شريفې ته ورغلی هلته يې طواف زيارت يا فرضي طواف وکړی او د ماپښين لمونځ يې په مسجد الحرام کي آداء کړی، بيا د زَمزَم څاه ته ورتېر سو چې هلته بني عبدالمطلب اوبه را کښلې او خلک يې په اوبه کول، رسول اللهﷺ و فرمايل: يا بني عبدالمطلب! اوبه را وکاږی، که زه پردې نه ببرېدلای چې بيا به خلک پر سقايه نزاع او شخړه در سره کوي ما به هم ستاسي سره را کښلي وای، هغو يوه سلواغه اوبه و رسول اللهﷺ ته ور کړې او رسول اللهﷺ د زَمزَم اوبه وڅښلې، په دغه ورځ هم چې د ذوالحجې لسمه ورځ وه او يوم النحر ورته ويل کيږي رسول اللهﷺ د څاښت پر وخت خطبه و ويل، په دغه خطبه کي يې ځيني هغه احکام تکرار کړه چې پرون يې د عرفات په خطبه کي فرمايلي وه او ځيني نور احکام يې هم بيان کړه، که څه هم دغه احکام په پخوا کي ښوول سوي او بيان سوي وه خو دلته يې بيا د هغو تائيد او تاکيد وکړی ځکه اوس ډېر خلک سره يو ځای سوي دي، نو رسول اللهﷺ غوښته چې مسلمانان دغه احکام د دهﷺ څخه مستقيم او بېله واسطې واوري.

امام بخاري او امام مسلم د ابوبکر الصدِّيقؓ څخه روايت کوي چې

(c) ketabton.com: The Digital Library


رسول الله ﷺ د یوم النحر په ورځ موږ ته خطبه وویل او وې فرمایل:

« أَيُّهَا الناس! انـمَا النَّسيءُ زِيَادَةٌ فِي الكُفرِ ».

ورونو! الله جل جلاله یو کال دوولس میاشتې ګرځولی دی او د دغو دوولسو میاشتو څخه یې څلور میاشتې حرامې کړي دي، چې په هغو میاشتو کې جنګ او تجاوز حرام ؤ، مګر عربو په دغو حرامو میاشتو کې تصرف او اړول کول، د خپل مزاج او غوښتنې سره موافق یې پرله اړولې.

حرامې میاشتې کومې وې؟ حرامې میاشتې رجب، ذوالقعده، ذوالحجه او محرم وې، رجب یوه میاشت وه عربو کولای سوای چې په دغه میاشت کې له جنګ او تجاوزه ځانونه را وګرځوي او هغه نورې درې میاشتې پرله پسې وې، نو عربو ته دا سخته او مشکله وه چې دغه درې میاشتې دې پرله پسې د جنګ، چور او چپاوله لاس واخلي، ځکه د دوی ژوند لکه د ځیرونکو حیواناتو په چور او چپاول سره ؤ، نو د دغو درو میاشتو دپاره یې چم او حیلې جوړولې، په میاشتو کې به یې تغیر راوستی، مثلاً: کله چې به ذو الحجه تېره سوه نو دوی به ویل محرم یوه میاشت وروسته کوو او ځنډوو، نو به یې د ذوالحجې او محرم په منځ کې یوه زیاته میاشت ور واچول، چې په دې حساب سره به کال دیارلس میاشتې سو، یا به یې صفره تر محرمې را د مخه کړه، محرم ته به یې صفره ویل او بیا هغه راتلونکې میاشت محرم وه، په میاشتو او وختو یې لوبې کولې او د خپل طبیعت سره موافق یې سره اړولې، چې د دغه اړولو په نتیجه کې حج پر خپل وخت او خپله میاشت کې نه ؤ او نه پر خپل وخت آداء کېدی او دا ډېره لویه غلطیاده چې وختونه او تاریخونه واړول سي.

نو رسول الله ﷺ غوښته چې د دغې غلطیا علاج وسي او هغه علاج یې په دغه حجةُ الوداع کې وکړی چې نسئ یې باطله کړه او ویل: نسئ نسته، چې د نسئ څخه مقصد دغه د میاشتو اړول او ځنډول دي.

الله جل جلاله فرمایي:

﴿ إِنَّمَا ٱلنَّسِيٓءُ زِيَادَةٞ فِي ٱلۡكُفۡرِۖ ﴾ [التوبه: ۳۷]

(c) ketabton.com: The Digital Library


یعني: بېشکه دغه د میاشتو اړول په کفر کي زیاتوب دی.

او هغه د مخه چي عربو دغه کار کاوه هغه جهالت ؤ، دغه یوه میاشت به یې یو کال حلاله بلل او بل کال به یې بیا حرامه بلل. (د میاشتو حرمت یې سره اړاوه)

نو رسول اللهﷺ په دغه خطبه کي و فرمایل:

«انّ الزّمانَ قَد استدارَ کَهیئته یَومَ خلقَ السَّماوات والارض»

یعني: دغه چي اوس موږ حج پکښي کوو واقعاً او حقیقتاً ذوالحجه ده، بله میاشت نه ده چي موږ دي هغه دکفارو د اړولو په سبب خطا وتلي یو، هو، خلکو میاشتي پرله اړولي وې او ډېر ځله حج پر خپل وخت نه کېدی، خو د دغه اړولو په آخر کي چي دغه اوس دی بیرته د حج میاشت، ذوالحجه هغه خپل واقعي وخت ته راغله، لکه په هغه ورځ چي اللهﷺ پیدا کړې وه، نوکه اوس پر دغه حال پسي پاته سي او بیا یې څوک وا نه ړوي نو هر شئ پر هغه خپل وخت دی، نه بیا روژه اوړي نه حج، چي خلکو ته دا شک نه سي پیدا چي کفارو میاشتي پرله اړولي وې، خو په دغه اړولو کي بیرته هره میاشت پر هغه خپل وخت راغله،

«ألاَ هَل بَلَغتُ اللّهمّ فَاشهَد»

یعني: الٰهي ته شاهد اوسه چي ما خلکو ته د اسلام احکام ورسول.

او بیا رسول اللهﷺ و فرمایل: دا کومه میاشت ده؟ موږ و ویل: الله او رسول الله ښه په خبر دي، رسول اللهﷺ ساکت او چپه خوله سو، تر داسي اندازې چي زموږ خیال سو چي اوس به یې بېله هغه خپله نامه په بل نامه سره وبولي او بیا یې و فرمایل: آیا دا ذو الحجه نه ده؟ موږ ویل: هو ده، بیا یې و فرمایل: دا کوم ښار دی؟ موږ ویل: الله او رسول الله ښه په خبر دي، رسول اللهﷺ بیا ساکت سو، تر داسي اندازې چي زموږ خیال سو چي اوس به یې بېله هغه خپله نامه په بل نامه سره وبولي او بیا یې و فرمایل: آیا دا بلد الحرام نه دی؟ موږ ویل: هو، دی او بیا یې و فرمایل: دا کومه ورځ ده؟ موږ ویل: الله او رسول الله ښه په خبردي، رسول اللهﷺ بیا ساکت سو، تر داسي اندازې چي زموږ خیال سو چي اوس به یې بېله هغه خپله نامه په بل نامه وبولي او بیا یې و فرمایل: آیا دا یوم النحر نه ده؟ موږ ویل هو ده، نو رسول اللهﷺ و فرمایل:

(c) ketabton.com: The Digital Library


چې ستاسې وینې او ستاسې مالونه او ستاسې عزت او آبرو، یو پر بل داسې حرام دي لکه د دغې ورځې حرمت په دغه ښار کې او په دغه میاشت کې.

دا بیا د رسول الله ﷺ له طرفه تائید او تاکید دی چې مسلمانان باید یو د بل په وینو، یو د بل په مالو، یو د بل په عزت کې بې پروایي و نه کړي، د دغو درو شیانو احترام باید حتماً او لازماً وساتل سي، ښه متوجه سی دغه اسلامي احکام دي او عملي کول یې خامخا حتمي او ضروري دي.

رسول الله ﷺ بیا و فرمایل: او تاسي به د خپل رب په حضور کي و دربړی ستاسي څخه به ستاسي د عملو پوښتنه وکړي، ترما وروسته ضلالت او بدي لاري ته مه ورګرځی چې ځیني ستاسي د ځینو نورو غاړي ورپرې کوی یعني: یو د بله مه سره وژنی.

ألا هَل بلغتُ؟

آیا ما دغه احکام تر تاسي پوري دررورسول؟

خلکو ویل: هو، رسول الله ﷺ و فرمایل: اللّهمّ اشهد. الٰهي ته شاهد اوسه.

رسول الله ﷺ احکام بیانول او د خلکو څخه یې اقرار اخیستی چې ما دغه الٰهي احکام درورسول؟ کله چې به خلکو ویل: هو، نو به یې الله جل جلاله دغه د دوی پر اقرار شاهد کړی، چې الٰهي دغه دي دوی اقرار کوي چې ما خپل رسالت رسولی دی

او بیا یې و فرمایل: دغه حاضر خلک دي دغه احکام و غائبو خلکو ته ورسوي او ډیر ځله داسي پېښېږي چې هغه څوک چې دغه احکام ور ورسیږي تر دغه اوسني اورېدونکي د زیاتي حافظې خاوند، پوه او عملي کوونکی وي.

ورونو! دغه د اسلامي احکامو بیانول او تر خلکو پوري رسول د هر مسلمان وظیفه ده، هر څوک چې څومره معلومات لري هغه باید تر خلکو پوري ورسوي.

او رسول الله ﷺ و فرمایل: هغه د جاهلیت فخرونه لغوه او باطل دي، یعني: په جاهلیت کي چې به خلکو په دنیوي شیانو فخر کاوه هغه فخرونه نه اعتبار لري او نه فخر بلل کیږي ښېله دوو کارو څخه چې سِدانه او سِقایه ده، یعني: د کعبې شریفي د آبادولو او خدمت کولو شرف چې سِدانه ورته ویل کیږي پاته دی او بل د حاجیانو د خدمت کولو او اوبو رسولو شرف چې سِقایه ورته ویل کیږي پاته دی، هر هغه څوک

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د بیت الله الحرام ساتنه او حفاظت کوي او هر هغه ځوک چې د حاجیانو خدمت کوي، دغه شرف، شرف دی، که ځوک فخر په وکړي کولای یې سي، مګر د جاهلیت هغه نور فخرونه لغوه او باطل دي، هیڅا ته نه ښایي، چې په نسب او قومیت فخر وکړي.

او بیا رسول الله ﷺ دخو نورو احکامو تاکید او تکرار وکړی چې د هغې جملې څخه یې و فرمایل: «وَالعَمَدُ قَوَدٌ» یعني: په قصد سره د یو چا وژل قَوت دی.

چې د هغه په باره کې د اسلام حکم داسي دی: که یو چا قصداً یو ځوک و وژی او د مقتول ورثې خامخا د قاتل وژنه غوښتل نو قاتل په قصاص سره وژل کیږي او که یې دیت قبول کړی بیا به دیت ورکول کیږي، یا دا چې عفوه ورته وکړي، په دغه درو شیانو کي د مقتول ورثه یا د وژل سوي نفر پاته اقرباء اختیار لري.

او د قصدي وژلو شُبهَ! هغه چې په لرګي یا ډبره یې و وژني یا په داسي شي یې و وهي چې هغه شئ په عادت او اصطلاح کي د وژلو اسلحه نه وي او عادتًا ځوک نه په وژل کیږي خو هغه و وژل سو، و دغي وژني ته شُبهِ عَمَد ویل کیږي، ځکه دغه وژنه نه په خطا سره ده نه په قصد سره، نو دغه قتل یا وژنه (شُبهِ عَمَد) دی، په دغسي وژلو کي پر قاتل سل اوښه دي چې دیت ورته ویل کیږي او که چا تر دغه زیات غوښتل چې یا! دغه وژل سوی نفر شریف اوسردار ؤ، رسول الله ﷺ فرمایي: که چا د ډیر او زیات غوښتنه کول هغه ځوک د جاهلیت له اهله څخه دی، د انسانانو په منځ کي فرق او تمیز نسته د هر یوه دیت سَل اوښه دی.

بیا رسول الله ﷺ و فرمایل: اې خلکو شیطان د دې څخه نا امیده سو چې د هغه عبادت دي ستاسي په مځکه کي وسي، یعني: اوس د شیطان هیڅ دا امید نسته چې بیا دي په جزیرةُ العرب کي د ده عبادت وسي، مګر هغه په دې راضي سو چې بله عبادته یې په نورو داسي شیانو کي اطاعت او متابعت وسي چې تاسي یې کوچني بولي. یعني: په جزیرةُ العرب کي توحید ثابت او بر قراره سو، شیطان هیڅ دا امید نه لري چې بیرته دي هغه ښکاره شرک و جزیرةُ العرب ته را وګرځي، که شرک هم راسي هغه به په لږ او په بل شکل سره وي، مګر دا چې د بتانو عبادت دي داسي وسي لکه پخوا چې کېدی دا امکان نه لري، نو شیطان په دې راضي سو چې په نورو

(c) ketabton.com: The Digital Library

داسي شيانو کي يې متابعت وسي چي تاسي يې سپک او کوچني بولی او بیا رسول الله ﷺ و فرمایل:

« ايّها النّاس! إسمعوا قولي واعقلوه، تعلَمُنّ أنّ كلّ مسلمٍ أخٌ للمسلمِ، وأنّ المسلمين إخوةٌ فلا يَحلّ لإمرَئ مِّن أخيهِ إلاّ ما أعطاهُ عَن طِيبِ نفسٍ مّـنه، فلا تَظلَمُنّ أنفسَكم. اللّهمّ هل بلغتُ؟ »

اې خلکو! زما خبري واوری او ځانونه په پوه کړی، پوه سی چي هر مسلمان د بل مسلمان ورور دی او ټول مسلمانان يو د بل سره ورونه دي، نو هیچا ته نه دا اجازه سته او نه ورته روا دي چي د ورور د مال څخه بېله اجازې يو شئ واخلي، مګر هر هغه شئ چي د ده ورورېې په خپله رضاء او خوشاله زړه ورکړي هغه ورته روا او حلال دی، نو د بل د مال په اخيستلو سره پر خپلو ځانو ظلم مه کوی.

علماء کرام وايي: حتّی که څوک يو مسواک د هغه د خاوند بې اجازې واخلي دا حلال او روا کار نه دی، هيڅ مسلمان به د خپل ورور د مال څخه بېله اجازې هيڅ شئ نه اخلي.

او بيا به رسول الله ﷺ و فرمايل:

«ألا هل بَلَغتُ اللّهم فاشهد»

آيا ما احکام ورسول؟ چي خلکو به ويل هو، ده ﷺ به و فرمايل: الٰهي ته شاهد اوسه.

او رسول الله ﷺ و فرمايل: پسله ما خپل پخواني کفر ته مه ګرځی چي ځيني ستاسي د ځينو نورو غاړي ورپرې کوي او وژني يې، ما په تاسي کي داسي شئ پرې ايښی دی که تاسي په هغه عمل وکړی نه ګمراهان کېږی چي هغه کلام الله قرآن مجيد دی، ألاَ هَل بلغتُ، اللّهم اشهد.

او وې فرمايل: «ايّها النّاس: إنّ ربّكم واحِدٌ»

اې خلکو! ستاسي رب يو دی او پلار مو يو دی، تاسي ټول له آدمه پيدا سوي ياست او آدم د خاورو څخه پيدا سوی دی، د الله جلّ جلاله په حضور په تاسي کي ښه او بهتر هغه څوک دی چي پرهېزګاره او متقي وي، هيڅ عربي لره پر عجمي فضيلت او شرف نسته مګر په تقوٰی او پرهېزګاري سره.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروڼو: دغه قوميت او نژاد پرستي چې اوس يې د رسول الله ﷺ امت سره پاشلي او ټوک ټوک کړی دی، جنګونه او اختلافات يې په منځ کې پيښ دي، رسول الله ﷺ دغه ټوله لغوه کړي او باطل کړي دي، دا د اسلام د دښمنانو دسيسې دي، واقعي شرف او فضيلت په تقوی کې دی په قوميت او نسب کې شرف نشته.

ألا هل بلغتُ؟ آيا ما د اسلام احکام درته بيان کړه؟ تاسي ته مې در ورسول؟

خلکو ويل هو، رسول الله ﷺ و فرمايل: حاضر خلک دي يې غائبو ته ورسوي، يعني: دغه احکام يوازې د حاضرو او موجودو خلکو دپاره نه دي، بلکه دغه احکام د ټول امت دپاره دي او هر نسل دي يې وراتلونکي نسل ته رسوي.

او رسول الله ﷺ و فرمايل: اې خلکو الله جل جلاله هر وارث (هر ميراث وړونکي) ته د ميراث څخه د هغه حصه ورو ښلې او معلومه کړې ده، په ميراث کې بايد لوبې او اړول و نه سي (لکه اوس چې ځيني خلک خپلې لوبې د ده له ميراث څخه باسي) خو په الهي دين کې د هر نفر حصه معلومه او محدوده ده د الله جل جلاله په معلوم او محدودو احکامو کې تغير راوستل حرام او نا روا دي، هر چا ته بايد د هغه حصه ورکول سي او تر ثلث يا دريمې حصې زيات وصيت کول نه دي روا، يعني: يو څوک غواړي چې د خپل پاته مال په باره کې وصيت وکړي دا جائزه ده چې وصيت او تصرف پکښې وکړي، مګر دا نه ده صحي چې وصيت او تصرف يې د ده د مال تر دريمې حصې زيات وي، د مړي د مال دريمه حصه د مړي ده په هغه کې يې وصيت او تصرف چليږي او هغه نور مال يې د وارثانو دی، نو رسول الله ﷺ دا را وښوول چې يو څوک د خپل مال تر دريمې حصې زيات نور تصرف نه سي کولای.

او بيا رسول الله ﷺ و فرمايل:

« وَالوَلَدُ لِلفِرَاشِ، ولِلعاهرِ الحَجَر »

يعني: که د يوې ښځې کوچنۍ پيدا سو د دغه کوچني نسبت د هغې ښځې و مېړه ته کيږي، د هغه اولاد دی او که بيا چيري زنا ثابته سوه بيا نو حَجر يا رجم دی، يعني: تر مرګه په ډبرو ويشتل کيږي، داسي بايد و نه سي لکه اوس چې په ځينو اسلامي وطنو کې د شريعت په احکامو کې لاس وهل کيږي او اړول کيږي، د الله جل جلاله

احکام او قانون يې بل بشري قانون ته اړولی دی، چې پر زاني او زانيې په بند يا نورد جزاء سره حکم کېږي، رسول الله ﷺ په ډاګه او ښکاره سره فرمايلي دي: چې زاني او زانيې لره حَجر يا رجم دی، البته هغه زاني يا زانيه چې نکاح يې کړې وي.

او بيا رسول الله ﷺ و فرمايل:

« مَن إدّعٰی إلی غيرِ أبيهِ او تَوَلّی غيرِ مواليه، فَعليه لَعنَتُ اللهِ و ملائکته و النّاسِ اجمعين»

يعني: که د يو چا نسبت بېله خپله پلاره بل چا ته وسو (لکه په جاهليت کي چې به داسي کېدل چې د بل چا زوی به يې د ځان زوی باله) يا دا چې يو څوک د يو چا مولٰی وي او نسبت يې بل چا ته وسي (مولٰی و آزاد سوي مريي ته ويل کيږي) نو کله چې يو مريی آزاد سي پلار خو يې نه دی معلوم نو نسبت به يې هغه خپل مالک ته کيږي، داسي ويل کيږي چې: فلانئ مولٰی فلانئ د هغه خپل مالک نوم يې ور سره ياديږي، مثلاً ابو حذيفه رضی الله عنه چې کله خپل مريئ چې سالم نومېدی آزاد کړی، نو داسي ويل کېدل: سالم مولٰی ابو حذيفه، نسبت يې هغه خپل پخواني مالک ته وسو او پر دغه وِلايه شرعي او فقهي احکام بناء کيږي، نو بايد نسبت يې هغه خپل مالک ته وسي نه بل چا ته، نو ځکه رسول الله ﷺ و فرمايل:

« مَن إدّعٰی إلی غيرِ أبيهِ او تَوَلّی غيرِ مواليه، فَعليه لَعنَتُ اللهِ و ملائکته و النّاسِ اجمعين»

هر هغه څوک چې د يو چا نسبت بېله خپله پلاره بل چا ته کوي، يا د يوه آزاد سوي مريي نسبت بېله خپل پخواني مالکه بل چاته کوي پر هغه دي د الله جل جلاله او ملائکو او ټولو خلکو لعنت وي. ألا هل بلغتُ؟ آيا ما احکام در ورسول؟ خلکو ويل: هو، نو رسول الله ﷺ و فرمايل: « اللّهم اشهد» الهي! ته شاهد اوسه.

والسلام عليکم و رحمةُ الله و برکاتهُ.

دا هغه مشهوره خطبةُ الوداع وه چې رسول الله ﷺ په دغه خطبه کي د اسلام ځيني احکام خلاصه کړي دي، خاصتاً هغه احکام چې په هغو کي د خلکو له طرفه تغير او تبديل را وستل کېدی او په هغه وختو کي فساد پکښي پېښېدی، نو رسول الله ﷺ د هغو تاکيد وکړی.

بيا نو رسول الله ﷺ د تشريق په ورځو کي په منٰی کي اوسېدی، مناسک يې

(c) ketabton.com: The Digital Library


آداء کول او خلکو ته یې د حج شرعي احکام ور ښوول، د ابراهیم علیه السلام د حنیف ملت شرعي هدایتونه او لار ښوونې یې ورته کولې او هغه د مشرکانو د شرک آثار او علامې یې محوه کولې.

رسول الله ﷺ دغه د تشریق په ورځو کې په منٰی کې هم خطبه ویلې ده، خو د دغه وخت خطبه یې هم داسې وه لکه د یوم النحر خطبه او دغه خطبه یې د سورة النصر تر نزول وروسته فرمایلې ده.

او بیا د ذوالحجې په دیارلسمه ورځ رسول الله ﷺ د منٰی څخه و خیف ته ولاړی، پاته ورځ او شپه یې هلته تېرکړه، د ماپښین، ماځیګر، ماښام او ماخستن لمنځونه یې هلته آداء کړه، بیا یې څه آرام او راحت وکړی، بیا کعبې شریفې ته د طواف وداع دپاره ورغلی او خپل اصحاب کرام یې هم په طواف وداع سره امر کړه، رسول الله ﷺ په خپل حیات کې د آخر وار دپاره مسجد الحرام ته داخلیږي، تر طواف وداع وروسته رسول الله ﷺ مُلتَزم ته ورغلی، ملتَزم د کعبې شریفې د دیوال هغه حصه ده چې د حجر اسود او د کعبې شریفې د دروازې په منځ کې ده، دا دومره ځای دی چې فقط دوه نفره پکښې ځاییږي، رسول الله ﷺ دغه ملتزم ته و درېدی خپل مبارک نس یې په ملتزم پورې و مښلاوه راسته باړخو یې پر دغه دېواله کښېښاوه او دواړه لاسونه یې لوړ پر دیواله ونیول، یعني: ټول مبارک جسم یې په ملتزم پورې و مښلاوه اوس نو دعاء کوي او ژاړي، ژاړي او دعاء کوي، لکه دا چې د الله جل جلاله ملاقات ته شوق وي، امت ته دعاء کوي، مور او تاسې ته دعاء کوي، فراق را نژدې دی، حضرت عمر فاروق رضی الله عنه و ژړل، رسول الله ﷺ و فرمایل: هو ژاړه یا عمر! دغه د ژړا ځای دی، یعني: که دلته و نه ژاړې نو چیرې به ژاړې؟

او بیا رسول الله ﷺ د ملتزم څخه را ایسته سو او غواړي چې د مکې مکرمې څخه ووزي، بیا یې خلک سره را ټول کړه د وداع او رخصتېدلو حالت دی او وې فرمایل: اې خلکو! زه بشر یم قریبه ده چې زما د رب قاصد راسي او زما روح قبض کړي او ستاسې څخه زما د رب په حضور زما په باره کې پوښتنه کیږي، نو تاسې به زما رب ته څه وایاست؟ خلکو وویل: مور به و وایو:

(c) ketabton.com: The Digital Library

« بَلَغتَ وَ وَفّيتَ وَ أدّيتَ فجزاکَ اللهُ خيرًا مَا جزا نبيًا عَن أمّته وَرَسُولاً عن قومه»

ژباړه: تا تبلیغ وکړی، تا امانت ورساوه، تا خپله وظیفه آداء کړه، الله جل جلاله دي داسي د خیر بدله درکړي لکه یوه نبي ته چي له خپله امته او یوه رسول ته له خپله قومه څخه ورکول کیږي، رسول الله ﷺ و فرمایل: الحمد لله، الحمد لله.

په حجةُ الوداع سره د اسلام احکام ثابت، پوره او کامل سوه او وحيِ هم پای ته ورسېدې، پسله دغه وخته بېله یوه آیاته نور قرآن مجید نه دی نازل سوی، قرآن مجید، کتاب الله، آسماني وحيِ پوره او پای ته ورسېدې، اوس چي رسول الله ﷺ د حج مناسک پای ته و رسول نو د مدینې منورې پر طرف رهي سو، رسول الله ﷺ مدینې منورې ته ځي نه د دې دپاره چي هلته آرام او هوسا ژوند وکړي، بلکه غواړي چي نور هم د الله جل جلاله په لار کي خپل جهاد او ستړیا ته دوام ورکړي.

## د رسول الله ﷺ آخرنۍ سریه

رسول الله ﷺ د حج د مناسکو تر آداء کولو وروسته د مکې مکرمې څخه مدینې منورې ته ورسېدی او د هجرت یوولسم کال شروع سو.

هلته د روم د دولت غرور او کبریاء داسي اندازې ته رسېدلي وه چي د حق او حق منلو څخه یې انکار کاوه، د دوی د متابعینو څخه چي به هرچا د حق متابعت خوښ او اختیار کړی یا په بل عبارت اسلام ته به داخل سو د روم له طرفه وژل کېدی، لکه دا کار چي یې د فروه بن عَمرو الجُذامي سره وکړی، دغه فروه رضی الله عنه د روم له طرفه په شام کي د مَعان د ښار والي او عسکري مشر ؤ او مسلمان سو، خو رومیانو و وژی چي قصه یې مخ کي تېره سوه، د روم د حکومت د دغي سرکښۍ او جرئت په سبب د هجرت د یوولسم کال د صفري په میاشت کي رسول الله ﷺ یو لوی لښکر جوړ کړی، د دغه لښکر مشر او قوماندان یې أسامه بن زید بن الحارثه رضی الله عنهما مقرره کړی او دا امر یې ورته وکړی چي د بلقاء او داروم مځکي به تر پښو لاندي کړې (بلقاء او داروم) په فلسطین کي دوه ښاره دي، د دغه لښکر په لېږلو سره د رسول الله ﷺ مقصد دا ؤ چي یو خو روم او رومیان و بېروي او بل هغه عرب چي دغه د روم په سرحدي منطقو کي

(c) ketabton.com: The Digital Library



پراته دي مطمئن سي او داسي ګمان يې نه سي: که نصارا پر موږ حمله وکړي څوک نسته چي دوی ته جزاء ورکړي او هر هغه څوک چي اسلام ته داخل سي هغه د روميانو له طرفه وژل کيږي، لکه فروه ﷺ چي و وژل سو. نو رسول الله ﷺ د دغسي ګمانو او تشويشاتو د ليري کولو او د روم د ېرولو دپاره دغه لښکر جوړ کړی او د دغه لښکر قومندان اُسامه بن زيد ﷺ وټاکل سو.

اسامه ﷺ په دغه وخت کي نوی ځوان ؤ چي عمر يې د اتلسو او شلو کلو په منځ کي ؤ، رسول الله ﷺ د اصحاب کرامو مشران امر کړه چي په دغه لښکر کي د افرادو په صفت ور سره ولاړ سي، په دغه لښکر کي د اُسامه ﷺ د عسکرو څخه ابوبکر الصدّيق ﷺ عمر بن الخطاب ﷺ او نور د صحابهٔ کرامو مشران موجود وه، د دغه لښکر جوړېدل په هغه وخت کي وه چي د رسول الله ﷺ د هغې ناروغۍ شروع وه چي ده ﷺ د دې دنيا څخه رحلت پکښي وکړی.

د دغه لښکر په جوړولو سره منافقانو ته بيا د خبرو کولو موقع پيدا سوه او د خلکو په منځ کي به يې ويل: يو ځوان هلک يې د مهاجرينو او انصارو پر مشرانو آمر وګرځاوه.

رسول الله ﷺ مجبوره سو او خلکو ته د هغه خپلي ناروغۍ په حالت کي په داسي حال کي را ووتی چي سر يې په يوه دسمال تړلی ؤ، خلکو ته يې خطبه و ويل او رسول الله ﷺ په دغه خطبه کي و فرمايل: تاسي د اُسامه بن زيد په آمريت کي خبري کوی؟ او تر ده د مخه مو د ده د پلار په آمريت کي خبري کولې، په والله هغه د إمارت وړ او لائق ؤ او په والله هغه و ما ته د هغو خوښو خلکو څخه ؤ او په والله دغه اُسامه د آمريت وړ او لائق دی او په والله تر هغه وروسته دئ په خلکو کي ما ته خوښ دی او زه وصيت درته کوم چي دئ ستاسي د صالحو خلکو څخه دی.

مسلمانانو د وتلو دپاره ځانونه تيارول او د اُسامه ﷺ پر شا وخوا سره را ټوليدل او د ده په لښکر کي داخلېدل، څو اسامه ﷺ خپل لښکر د مدينې منورې څخه وايستی او په جُرف کي يې واړول (جُرف) د يوه ځای نوم دی چي د مدينې منورې څخه يو فرسخ ليري دی، مګر د رسول الله ﷺ د ناروغۍ خبر د خلکو دپاره د تشويش او پرېشانۍ سبب وګرځېدی، د اُسامه ﷺ او د ده د لښکر دا نه وه خوښه او نه غواړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

چي په دغسي پرېشانه او مضطرب حالت کي رهي سي.

نو اسامه رضي الله عنه خپل لښکر دالنه وځنډاوه انتظار باسي چي د الله جل جلاله څه امر او إراده ده؟ خو د الله جل جلاله امر او إراده داسي وه چي دغه د اُسامه لښکر به هغه اول لښکر وي چي د ابوبکر الصدّيق رضي الله عنه په خلافت کي د کفارو د جنګ او مقابلې دپاره وزي.

ورونو! موږ اوس د خير البشر رسول الله ﷺ د سيرت په بيانولو کي هغه ځای ته ورسېدلو چي د سرور کائنات، فخر الموجودات حبيبُ الله رسولُ الله ﷺ ناروغي شروع کېږي او بيا هغه جناب په دغه ناروغي کي له دې فاني دنيا څخه د خپل رب عزوجل و لقاء ته رحلت کوي، خو د دغه درد ناکه ناروغۍ او غمجن رحلت حالات پر دوه قسمه بيانېدلای سي.

لومړئ دا چي ټول واقعات پرطبيعي او داسي شکل بيان سي چي خلک يې د احکامو څخه فايده واخلي او د دين مبين اسلام او د الله جل جلاله د رسول ﷺ و عظمت ته متوجه سي، پر واقعاتو د سوز او جوش زړه درد ووتکي الفاظ زيات نه سي بلکه فقط مستند او صحي معلومات را نقل سي.

او د دغي واقعې د بيانولو دوهمه طريقه بيا داسي ده: چي د يوه قصې ليکونکي او اديب پر شکل واقعات بيان سي، د جوش او خروش، زړه درد ووتکي او ژړ ووتکي الفاظ استعمال سي چي په دې قسم بيان کي د کتبي اخيستلو مضامين لږ او ضعيفه روايتونه ډېر وي، چي په نتيجه کي ويونکي او اورېدونکي دواړه ژاړي.

مګر دغه قسم بيان بېله دې څخه چي ضعيفه قولونه را نقل نه سي او زړه درد ووتکي تکليفي الفاظ استعمال نه سي، په وجود نه سي راتلای.

نو ما د دغه زړه درد ووتکو حوادثو او غمجنو واقعو د بيانولو دپاره هغه اوله طريقه خوښه او اختيار کړه، چي د حالاتو د بيانولو څخه ديني او شرعي ګټه واخيستل سي، لکه څرنګه چي په ټول سيرة النبي ﷺ کي فقط مستند واقعات را نقل سوي دي نو د دغي غمجني واقعې په بيانولو کي هم د جوش او سوز تر الفاظو تېرېږم فقط هغه صحي احاديث او ثابته معلومات را نقلوم، که څه هم دغه د ناروغۍ او رحلت احاديث او اخبار ډېر زيات دي خو دلته په لږ وسره کفايت سوی دی. *بيرته خپلي قصې ته راګرځم.*

(c) ketabton.com: The Digital Library



# رفیق اعلی ته رحلت

کله چې د دعوت مرحلې پای ته ورسېدې، اسلام د منطقې پر اوضاع او حالاتو مسلط سو، د رسول الله ﷺ په احساساتو کي، په اقوالو او افعالو کي، په خبرو او کارو کي داسي علامې معلومېدې چي د خپل ژوند او د نورو ژوندیو انسانانو سره وِداع او رخصتېدل کوي، په پخوا کي رسول الله ﷺ د روژې په میاشت کي لس ورځي اعتکاف کاوه، خو د هجرت د لسم کال په روژه کي یې شل ورځي اعتکاف وکړی، په پخوا کي جبریل علیه السلام د رسول الله ﷺ سره د روژې په میاشت کي یو وار قرآن مجید تلاوتاوه او په دغه کال کي جبریل أمین دوه واره قرآن مجید ورسره تلاوت کړي.

د حجةُ الوَداع په خطبه کي رسول الله ﷺ و فرمایل: زه نه یم خبر بنایي پسله سږکاله بیا هیڅکله پر دغه ځای ستاسي سره ملاقي نه سم، یعني: نه در سره و وینم او د جمرة العقبه سره رسول الله ﷺ و فرمایل: د حج مناسک زما څخه زده کړی بنایي پسله سږکاله زه حج و نه کړم، د هجرت د یوولسم کال د صفري د میاشتي په اولو ورځو کي رسول الله ﷺ و فرمایل: زه غواړم چي د اُحُد د شهیدانو زیارت وکړم (داسي معلومېدل لکه رسول الله ﷺ چي د مړو او ژوندو سره رخصتېدل او وداع کوي) د ژوندو سره یې په حجةُ الوَداع کي وِداع وکړه او د مړو سره اوس وداع کوي، نو رسول الله ﷺ د اُحُد و شهیدانو ته ورغلی او هغه د جنګ میدان ته ګوري لکه هغه کسان چي یې ورپه یادېدل چي قرباني یې ورکړي وې، د طلحه رضی الله عنه قرباني مو په یاد دي؟ د ام عمّاره رضی الله عنها قرباني مو په یاد دي؟ د ابودُجانه رضی الله عنه قرباني مو په یاد دي؟ رسول الله ﷺ د اُحُد شهیدانو ته و درېدی او ویل: السلام علیکم یا شهداءَ اُحُد! انتم السّابقون، وأنا إن شاء الله بکم لاحق، یعني: تاسي د مخه تللي یاست او زه به ان شاء الله ډېر ژر پسي در سم، په پخوا کي به رسول الله ﷺ همېشه ویل: موږ په تاسي پسي درځو، خو دا وار یې و ویل: إن شاء الله زه په تاسي پسي درځم، رسول الله ﷺ د اُحُد شهیدانو ته دعاء وکړه، د هغه ځایه څخه چي را رهي سو پر لاري یې ژړل.

رسول الله ﷺ ژاړي، ولي ژاړي؟ آیا دا چي له دنیا څخه ځي د دنیا د پاته

(c) ketabton.com: The Digital Library

کېدلو په سبب ژاړې؟ صحابهٔ کرامو پوښتنه ځني وکړه: ولي ژاړې؟ یا رسولَ الله! ده ﷺ و ویل: د خپلو ورونو له شوقه ژاړم، یعني: د خپلو ورونو و لیدلو ته مي شوق دی د هغو د لیدلو له شوقه ژاړم، صحابهٔ کرامو و ویل: دغه دی موږ ستا سره یو آیا موږ ستا ورونه نه یو؟ یا رسولَ الله! رسول الله ﷺ و فرمایل: یا، تاسي زما اصحاب یاست مګر زما ورونه هغه کسان دي چي ترما وروسته راځي، پر ما ایمان را وړي او زه یې نه یم لیدلی (چي هغه موږ او تاسي یو) د هغو و لیدلو ته مي شوق وسو او و مي ژړل.

سبحان الله! یا رسولَ الله! موږ په ټول عمر په تا پسي داسي نه دي ژړلي چي ته مو دي یادېدلی یې او ته ژاړې چي موږ دي یادېږو؟ موږ پرتا دومره ګران یو چي په موږ پسي ژاړې؟ څومره مهربانه یې یا رسولَ الله! تا موږ نه یو لیدلي او زموږ د ملاقات دپاره دومره تږی یې چي را پسي ژاړې؟ دا هغه حُب دی چي رسول الله ﷺ یې د خپل امت سره لري، دا هغه رسول الله ﷺ دی چي د قیامت په ورځ به په خپل لاس دحوض کوثر خوږې اوبه درکوي او د هغو اوبو تر څښلو وروسته بیا هیڅکله نه تږی کېږې، دا هغه رسول الله ﷺ دی چي د قیامت په ورځ کله چي د ده امت پر پُل صراط تېرېږي دیٔ ﷺ به د پل صراط سره ناست وي او دغه دعاء به درته کوي: یا ربِّ! سلِم، یا ربِّ! سلِم، الهي په سلامتیا یې تېر کړې، الهي په خیر یې تېر کړې.

کله چي رسول الله ﷺ د اُحُد د شهیدانو څخه راغلی خپل منبر ته وختی او وې فرمایل: زه تر تاسي د مخه و الله جَلَّ جَلَالُهُ ته ورځم او زه پر تاسي شاهد یم او په والله دغه اوس زه خپل حوض ته ګورم، چي مقصد یې (حوض کوثر) ؤ او ما ته د ځمکي د خزانو کلي را کړه سوي دي (یعني زما امت به د ډېرو مالو او پیسو خاوندان سي) په والله زه پر دې نه بېرېږم چي تاسي به ترما وروسته مشرکان سی، مګر زما بېره پر تاسي دا ده چي په دنیا کي به یو د بل سره په سیالي کي یاست.

لکه دغه اوس چي موږ په دغه حالت اخته او مبتلاء یو، په کورو او باغو کي سیالي سره کوو، د موټرانو او پیسو په ډېروالي کي سیالي سره کوو، په ودو او فاتحو کي سیالي سره کوو، خو په علم او تقوٰی، په عبادت او ریاضت کي صِفر تحت الصِفر یو، دا چي لمونځ مي نه دی زده مهمه نه ده، خو پیسې مي دي ډېري وي، د نکاح او

(c) ketabton.com: The Digital Library



طلاق په احکامو نه یم خبر، مهمه نه ده. خو ښځه او لور مي دي تر بل چا زیات زر او زېور ولري، اخلاق که مي هر څومره خراب او فاسد وي پروا نه لري. خو کور او موټر مي دي تر نورو ښه وي، د نامه دپاره هر کال داسي حج کوم چي په احکامو او مناسکو یې هیڅ نه پوهېږم پروا نه لري، خو حاجي آغا، حاجي آغا دي را ته ویل کیږي، د زکات او روژې احکام که نه وي را معلوم مهمه نه ده، خو د زوی واده مي دي د خلکو تر ودو زیات او بهتر وي، طاعت او عبادت هیڅ نه لرم خو فاتحه مي دي نامداره او شانداره وي، د اسلام د ترقۍ دپاره یو درهم نه خرڅوم، د مېلو او چړچو دپاره که په زرو مصرف کړم پروا مي نه په کیږي.

ولي لږ فکر نه کوی آیا موږ د پیسو د ګټلو، سیالیو او غرور دپاره پیداسوي یو؟

## د رسول اللهﷺ د ناروغۍ شروع

دغه د صفري د میاشتي په آخر کي چي اسلامي لښکر د بلقاء دپاره تیاري نیسي رسول اللهﷺ د شپې نا وخته د خپلو آزاد کړه سوو مریانو څخه یوه نفر ته چي ابو مُوَیهِبَه نومېدی حال ور ولېږی چي راسه، ابو مُوَیهِبه رضی الله عنه راغلی، رسول اللهﷺ ورته و فرمایل: یا ابا مُوَیهِبه! امر کړه سوی یم چي د بقیع اهل ته دعاء او د مغفرت غوښتنه وکړم نو زما سره ولاړ سه.

(بُقیع) د مدینې منورې مقبره او هدیره ده، ابو مُوَیهِبه رضی الله عنه وایي: زه هم ور سره رهي سوم کله چي د بقیع قبرو ته و درېدلو رسول اللهﷺ و فرمایل: السلام علیکم یا اهل المقابر! په دغه حال کي چي تاسي یاست تاسي لره دي راحت او آسانتیا وي، داسي فتنې را رواني دي لکه د تاریکي شپې حصې چي یوه په بله پسې ده او هغه وروستنۍ تر د مخنۍ بده او شر ده، ابو مُوَیهِبه رضی الله عنه وایي: رسول اللهﷺ ما ته مخ را واړاوه او راته ویې ویل: یا ابا مُویهبه! ما ته اختیار را کړل سو چي د ځمکي ټوله خزانې او ابدي ژوند را کړل سي او بیا جنت، یا دغه اوس د الله جل جلاله لقاء او جنت؟

ورونو! په دغه وخت کي د الله جل جلاله له طرفه و رسول اللهﷺ ته د دوو حالاتو په اختیارولو او خوښولو کي اختیار ورکړل سو، یو دا چي د ټولي ځمکي خزانې او

(c) ketabton.com: The Digital Library

ابدي ژوند ورکړه سي او بيا جنت، يعني: رسول الله ﷺ پر ټوله ځمکه او د ځمکي پرخزانو حاکم سي او د قيامت تر ورځي همېشه ژوندئ وي او بيا په قيامت کي جنت ورکړه سي، يا دا چي د الله جل جلاله ملاقات او جنت، يعني: اوس مرګ او د الله جل جلاله ملاقات ته ورتګ او جنت.

په هغه حديث شريف کي چي امام بخاري يې د حضرت عائشي رضي الله عنها روايتوي وايي ما به د رسول الله ﷺ څخه اوردل:

«لَا يَمُوتُ نَبِيٌّ حَتَّى يُخَيَّرَ بَيْنَ الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ» [رواه: البخاري]

ژباړه: هيڅ نبي نه وفاتېږي تر څو د مرګ په وخت کي د د نيا او آخرت په منځ کي اختيار ورنه کړل سي.

نو ابو مُوَيهِبه رضي الله عنه وايي: ما ورته و ويل: يا رسولَ الله! زما مور او پلار دي تر تا قربان وي د دنيا د خزانو کلي او همېشنئ ژوند واخله او بيا هم تا لره جنت دی، يعني: يا رسولَ الله! مور اختيار کړه، څرنګه چي همېشه پاته کېږې او پر ټوله ځمکه به ستا او د اسلام حکم وي او د ځمکي ټوله خزانې به هم ستا په اختيار کي وي او بيا هم جنت دی، تر دې لويه کاميابي چيري ده؟ رسول الله ﷺ و فرمايل: يا، بلکه ما د الله جل جلاله لقاء او جنت اختيار کړه، دا ځکه چي د رسول الله ﷺ زړه د الله جل جلاله په محبت ډک ؤ.

که چيري مور او تاسي ته داسي اختيار را کړل سي: چي ابدي ژوند، پر ټوله ځمکه د اسلام حکم او دغه د اسلام حاکميت دي هم زما په واسطه وي او د ټولي ځمکي خزانې تر دې نو بل لوی خير چيري دی؟ مګر دغه ټول دنيوي ژوند د هغه چا دپاره هيڅ ارزښت او قېمت نه لري چي زړه يې د الله جل جلاله په محبت ډک سوی وي، هغه څوک چي د الله جل جلاله سره حقيقي حُب او محبت لري، هغه بل هيڅ شي ته نه ګوري فقط د الله جل جلاله لقاء او ملاقات غواړي، نو رسول الله ﷺ ته چي دغه ټول دنيوي شيان عرض او وړاندي سوه هغو ته يې هيڅ التفات او نظر هم و نه کړی بلکه د الله جل جلاله لقاء او ملاقات ته يې تلوار سو.

ورونو! الله جل جلاله د خپلو ټولو بندګانو د جملې څخه رسول الله ﷺ د دې دپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



انتخاب او غوره کړې چې د الله جل جلاله دين او اوامر د ده جل جلاله بندګانو ته ورسوي او رسول الله ﷺ هغه خپله د رسالت درنه وظيفه په درويشت کلو کې خپل ټول امت ته په ښه ډول سره ورسول. اوس چې اسلامي دين پوره سو نو د رسول الله ﷺ د خپل رب عزوجل ملاقات ته شوق سو نو ځکه يې و فرمايل: «بَلِ لِقَاءَ رَبِّي والجنّة».

پسله دغه اختياره چې رسول الله ﷺ ته ورکړل سو او رسول الله ﷺ د الله جل جلاله ملاقات خوښ کړی د رسول الله ﷺ هغه ناروغي شروع سوه چې په هغه کې يې رحلت وکړی او د ناروغۍ اول شئ يې د سر شديد درد ؤ، رسول الله ﷺ د بقيع څخه خپل کور ته مريض ورغلی، ځکه ده ﷺ د الله جل جلاله ملاقات اختيار کړی.

د حضرت عائشې رضي الله عنها څخه روايت دی وايي: کله چې رسول الله ﷺ د بقيع څخه راغلی په دغه وخت کې زه د سر له درده په عذاب وم او له ډيره درده مې و رسول الله ﷺ ته د خپلي سر دردۍ شکايت وکړی او ورته ومې ويل: (وَا رَأسَا) يعني: دسر له درده ډيره په عذاب يم، خو رسول الله ﷺ و فرمايل: (بلکه زه يا عائشه! وَا رَأسَا) يعني: يا عائشه! زما پر سر ډير درد دی، حضرت عائشې رضي الله عنها پوښتنه ځني وکړه او ويل: يا رسولَ الله! آيا ته هم دغسي درد حسوې لکه موږ چې يې حسوو؟ يعني: پر تا هم دغسي درد تېرېږي او تکليف درکوي؟ رسول الله ﷺ و فرمايل: موږ انبياء دومره درد حسوو لکه ستاسي څخه دوه نفره، يعني: پر انبياء عليهم السلام دوه چنده درد تېرېږي، نو ځکه د رسول الله ﷺ د سر درد شديد ؤ.

د رسول الله ﷺ د ناروغۍ شروع د هجرت د يوولسم کال د صفري د مياشتي پر (۲۹) تاريخ د سه شنبې په شپه په شپه کې وه او د ناروغۍ ټوله موده يې (۱۳ يا ۱۴) ورځي وه او په دغه ناروغي کې يې (۱۱) ورځي د مسلمانانو د لمانځه امامت کاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# د رسول الله ﷺ د ناروغۍ آخره هفته

د رسول الله ﷺ ناروغي نوره هم په کراره کراره زیاتېدل، د سر درد خو ؤ او شدیده تبه هم ورسره زیاته سوه، دا د رسول الله ﷺ د عدل او ادبه څخه وه چې په دغه ناروغي کي یې هم د ازواجو مطهراتو د نوبت مراعت کاوه خو هره شپه به یې د ازواجو مطهراتو څخه پوښتنه کول چې زه سبا چیري یم، د رسول الله ﷺ د زړه غوښتنه دا وه چې دغه د ناروغۍ شپې د حضرت عائشې رضي الله عنها په کور کي تیري کړي، ازواجِ مطهرات رضي الله عنهن چې د ده ﷺ په مقصد پوه سوې نو ټولو دا اجازه ورکړه او ویل: په کوم ځای کي چې ستا زړه وي دغه ناروغي هلته تېره کړه.

اې د دوو ښځو خاوندانو! تاسي متوجه یاست: رسول الله ﷺ د دغي سختي ناروغۍ په وخت کي هم د خپلو ښځو څخه اجازه غواړي او هغو هم اجازه ورکړه، نو رسول الله ﷺ د میمونې رضي الله عنها له کوره په داسي حال کي د حضرت عائشې رضي الله عنها کور ته ولاړی چې د دوو نفرو پر اوږو یې لاسونه تکیه کړي وه، یوه طرف ته یې علي بن أبي طالب رضي الله عنه ؤ او بل طرف ته یې فضل بن عبّاس رضي الله عنه ؤ، فضل بن عبّاس رضي الله عنه وایي: د رسول الله ﷺ پښې پر ځمکه کشېدلې، له ډېره درده او تکلیفه یې پښې نه سوای پورته کولای او هغه پر ځمکه ورسره کشېدې، خو د حضرت عائشې رضي الله عنها کور ته ورغلی او هلته به حضرت عائشې رضي الله عنها د قرآن مجید څخه معوذتین او هغه دعاوي پر ویلې چې د ده ﷺ څخه یې زده کړي وې.

امام بخاري او امام مسلم د حضرت عائشې رضي الله عنها څخه روایت کوي چې وایي: په پخوا کي چې به رسول الله ﷺ ته کوم درد او ناروغي پېښ سوه ده ﷺ به معوذتین پر ځان ویل او خپل لاسونه به یې پر ځان تېرول، خو کله چې د وفات په ناروغي ناروغه سو نو معوذتین به ما پر ویل او د تبرک دپاره به مي د ده ﷺ مبارک لاس د ده پر بدن تېراوه.

د رسول الله ﷺ تبه نوره هم زیاتېدل، د بدن حرارت ډیر پورته سو، هغه صحابي چې د دغه حدیث شریف روایت کوي وایي: ما د رسول الله ﷺ پر مبارک

(c) ketabton.com: The Digital Library



سر لاس کېښېناوه، د رسول الله ﷺ د سر د ډېر تود والي په سبب مې لاس نه سوای پر پرېښوولای، دومره شدیده تبه یې وه چې د هیڅا تبه مې په دغه اندازه توده او شدیده نه وه لیدلې، د تبې د شدت په سبب به کله کله پر رسول الله ﷺ بېهوښي راغله او د ناروغۍ په سبب کرار کرار ضعیفه کېدی.

صلواةُ اللهِ و سلامُهُ علیک یا رسولَ الله!

## د چار شنبې ورځ تر رحلت پنځه ورځې د مخه

ورونو! رسول الله ﷺ د دوشنبې په ورځ چې د ربیع الأول د میاشتې (۱۲) تاریخ ؤ له دنیا څخه رحلت کړی دی، خو د چارشنبې په ورځ چې د ربیع الأول د میاشتې اوومه ورځ وه د رسول الله ﷺ د تبې حرارت نور هم لوړ سو او د بدن درد یې ور سره زیات سو او د تبې د شدته بېهوښي پر راغله، کله چې رسول الله ﷺ له دغې بېهوښیه را پورته سو وې فرمایل: د مختلفو څاهانو څخه اووه ژیه اوبه راوړی، په دې کې څه حکمت ؤ چې اووه ژیه اوبه او د مختلفو څاهانو څخه؟ په حکمت یې موږ نه پوهېږو، خو د مختلفه څاهانو څخه اووه ژیه اوبه را وړل ـ وې، حضرت عائشه ؓ وایي: موږ رسول الله ﷺ په یوه طشت کې کېښناوه او دغه اوبه مو پر تویولې، پر رسول الله ﷺ یو ژئ پسله بله ژي اوبه تویوي، څرنګه چې تبه شدیده وه او پر تب جن بدن اوبه ښه نه لګېږي نو رسول الله ﷺ هم تر دغه زیات تحمل نه سوای کولای او ویل: حَسبُکم حَسبُکم، کافي دي کافي دي.

د دغو اوبو په تویولو سره د رسول الله ﷺ تبه لږ څه سپکه سوه نو مسجد نبوي ته په داسي حال کي ورغلی چي سر یې په یوه ټوکره سره تړلی ؤ، رسول الله ﷺ پر منبر کېښېنستی خلک شا وخوا پر را ګرځېدلي دي او رسول الله ﷺ خطبه په ناستي و ویل، د الله جل جلاله تر حمد او ثنا وروسته یې پر خپل ځان درود و وایه او وې و فرمایل: پر یهودو او نصاراوو دي د الله جل جلاله لعنت وي چې د خپلو انبیاوو له قبرو څخه یې مسجدونه جوړ کړي دي او ویل: زما له قبره څخه بت مه جوړوی چي عبادت یې کېږي.

خویندو او ورونو! ښه متوجه سی: رسول الله ﷺ له دې څخه سخته منعه کړې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ده چي د ده ﷺ د قبر عبادت دي وسي نو دا به کله جائزه او روا وی چي د بل چا قبر ته دي څوک د عبادت پر ډول ورسي يا دي د هغه له قبره خواست او غوښتنه وکړي.

او بيا رسول الله ﷺ خپل ځان قصاص او د بدلې و ورکولو ته تيار کړی او وې فرمايل: زه تاسي ته د هغه الله حمد وايم چي بېله ده بل الله نسته او ستاسي منځه زما غياب او تګ را نژدې سوی دی، که ما ستاسي څخه يو څوک وهلی وي، دغه زما شا ده خپله بدله او انتقام دي ځني واخلي او که ما و يو چا ته بد ويلي وي د هغه عِرض مي په بده ياد کړی وي، دا زما عِرض دی خپله بدله دي واخلي، يعني: که ما د يو چا حسب او شرف په بده سره ياد کړی وي هغه دي اوس هغه خپل حق واخلي.

رسول الله ﷺ خپلي غاړي خلاصوي غواړي چي د الله جل جلاله سره په داسي حال کي ملاقي سي چي د هيڅ بشر هيڅ حق نه وي پر پاته، رسول الله ﷺ له منبره را کښته سو او د ماپښين لمونځ يې آداء کړی، پسله لمانځه بيرته منبر ته وختی او کښېنستی، بيا يې هغه د حقوقو د ورکولو خبري شروع کړې او وې فرمايل: که مي د هر چا څخه مال اخيستی وي دغه زما مال دی خپل حق دي ځني واخلي، زما له قهره او غضبه دي نه بيريږي، يعني: دا فکر دي نه کوي: که ده د خپل مال طلب وکړی زه به ورته په قهر سم، قهر او حِقد زما د اخلاقو څخه نه دي او ستاسي څخه هغه څوک ما ته ډير خوښ دی چي خپل حق را څخه واخلي.

د صحابهٔ کرامو څخه يو نفر ولاړ سو او ويل: يا رسولَ الله! زما درې درهمه ستا سره سته، رسول الله ﷺ فضل بن عبّاس رضي الله عنه ته امر وکړی او ويل: يا فضل! درې درهمه ورکړه هغه هم د هغه سړي حق ورکړی.

په وروسته کي بيا له دغه سړي څخه پوښتنه وسوه چي څنګه دي دا جرئت وکړی چي دغه خبره دي وکړه؟ ده ويل: رسول الله ﷺ و فرمايل: هغه سړئ ما ته ډير خوښ دی چي خپل حق طلب کړي، نو ما غوښتل چي د دغه خپل حق د طلبولو په سبب هغه څوک وګرځم چي رسول الله ﷺ ته ډير خوښ وي، يا دا چي رسول الله ﷺ ته تر ټولو خلکو خوښ وګرځم.

رسول الله ﷺ بيا هم دغه خبري تکرار کړې: که د چا حق زما سره وي را څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وادي يې خلي، خو څوک نه سوه ولاړ او چا د کوم شي طلب و نه کړی. رسول الله ﷺ و فرمایل: نو دي یې را وبخښي، يعني: که د چا حق را سره سته او اوس يې طلب نه کوي نو دي يې را وبخښي، چې د الله ﷻ سره په داسي حال کي ملاقي سم چې زما زړه مطمئن او بېغمه وي، خو بیا هم زه فکر کوم چې دغه زما ویل به زما غاړي را خلاصي نه کړي ، که څه هم زه څو واره په تاسي کي و دریږم او دغه خبره وکړم. يعني: که څه هم زه څو واره په تکرار سره و وایم چې د هر چا حق که پر ما پاته دی هغه دي خپل حق واخلي يا دي يې را وبخښي بیا هم زه بېرېږم چې دغه ويل به د قیامت په ورځ ما نه کړي فارغه.

سبحان الله! دا د رسول الله ﷺ حال ؤ، د خلکو د حقوقو پر ورکولو او آداء کولو يې څومره حرص او کوښښ کاوه، او اوس نو زموږ حال ته وګوره! ټول کوښښ مو دا دی چې څنګه او په کومه طریقه سره به مال لاس ته را ږو، د حلال او حرام، د خیانت او خطایستلو، د بل د حقوقو، د ظلم او تجاوز فکر خو هیڅ را سره نسته، فقط پیسې غواړو پیسې.

او بیا رسول الله ﷺ و فرمایل: د انصارو سپارښت دربانديکوم، دوی زما لښکر او زما د ساتني ځای ؤ، هغه چې پر دوی وه هغه يې آداء کړه او هغه چې د دوی دي هغه پاته دي، صالح او د ښه عمل خاوندان يې قبلوی او ګنهکار ته يې تر ګناه ور تېرېږی، نور خلک ډېرېږي او انصار لږېږي تر داسي اندازې چې دومره به سي لکه مالګه په ډوډۍ کي که په تاسي کي یو څوک د دومره امر خاوند سو چې چا ته يې نفعه یا ضرر ور رسولای سوای نو دي د انصارو د نېکانو سره ښه کوي او بد عملو ته دي د هغو تر ګناه ور تېرېږي.

او بیا رسول الله ﷺ و فرمایل: الله ﷻ یوه بنده ته اختیار ورکړی چې د دنیا نعمتونه، ابدي ژوند او بیا جنت غواړې؟ اوکه د الله ﷻ ملاقات او جنت غواړې؟ مګر دغه بنده د الله ﷻ ملاقات او جنت اختیار کړی.

ابوسعيد الخدري رضي الله عنه وايي: د دغي خبري په اورېدلو سره ابوبکر الصدّيق رضي الله عنه ډېر شدید او په لوړ آواز و ژړل او ویل: یا رسولَ الله! زموږ مندي او پلرونه دي ترتا

(c) ketabton.com: The Digital Library


قربان وي، خلکو یو د بل سره و ویل: تاسي دغه شیخ ته وګورئ! رسول الله ﷺ د یوه بنده حال بیانوي چي الله جل جلاله د دنیا د نعمتو او د هغو شیانو په منځ کي اختیار ورکړی چي د الله جل جلاله سره دي او دئ ژاړي؟ او وایي: یا رسولَ الله! زموږ مندي او پلرونه دي تر تا قربان وي.

خو په حقیقت کي ابوبکرالصدّیق رضي الله عنه هغه یواځنئ سړئ ؤ چي پوه سو چي دغه بنده کوم چي اختیار ورکړه سو په خپله رسول الله ﷺ دی او ده ﷺ د الله جل جلاله ملاقات اختیار کړی، نو ځکه ابوبکر الصدّیق رضي الله عنه بې صبره سو او بې اختیاره یې شدیده ژړا شروع کړه، رسول الله ﷺ و فرمایل: عَلٰی رِسلِک یا ابا بکر! رِسَل په عربي کي صبر، احتیاط، آرامي او نرمي ته ویل کیږي، خو په عربو کي دغه د (عَلٰی رِسلِک) جمله په هغه ځای کي استعمالېدل چي د یو چا څخه به بې صبري او تلوار کېدئ نو به ورته ویل کېده: عَلٰی رِسلِک او دغه جمله په فصیحه عربي کي ډېره استعمالیږي، نو دلته هم رسول الله ﷺ و فرمایل: عَلٰی رِسلِک یا ابا بکر! یعني: بې صبري او بې قراري مه کوه یا ابا بکر! او بیا رسول الله ﷺ و فرمایل: بېشکه چي زما سره په ملګرتیا او د مال په مصرفولو کي تر ټولو خلکو هغه امین او صادقه سړئ ابوبکر ؤ، که ما د ځان دپاره بېله خپله ربه خلیل انتخابولای ما به ابوبکر د ځان خلیل ګرځولی وای (خلیل هغه محبوب ته ویل کیږي چي د یوه انسان زړه د هغه په حُب او محبت ډک وي) مګر ستاسي د ملګري زړه (چي د رسول الله ﷺ خپل ځان مقصد ؤ) د الله جل جلاله په حُب او محبت ډک دی، یعني: د الله جل جلاله حُب زما زړه را ډک کړی دی د بل چا د حب ځای پکښي نسته خو د ده سره مي د اسلام ورورګلوي او محبت دی، چي د حدیث شریف لفظ داسي دی:

«عَنْ أَبِي سَعِيد الْخُدْرِيِّ رضي الله عنه قَالَ خَطَبَ رَسُولُ اللّٰه ﷺ النَّاسَ وَقَالَ إِنَّ اللّٰهَ خَيَّرَ عَبْدًا بَيْنَ الدُّنْيَا وَبَيْنَ مَا عِنْدَهُ فَاخْتَارَ ذَلِكَ الْعَبْدُ مَا عِنْدَ اللّٰه قَالَ فَبَكَى أَبُو بَكْرٍ فَعَجِبْنَا لِبُكَائِه أَنْ يُخْبِرَ رَسُولُ اللّٰه ﷺ عَنْ عَبْدٍ خُيِّرَ فَكَانَ رَسُولُ اللّٰه ﷺ هُوَ الْمُخَيَّرَ وَكَانَ أَبُو بَكْرٍ أَعْلَمَنَا فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ إِنَّ مِنْ أَمَنِّ النَّاسِ عَلَيَّ فِي

(c) ketabton.com: The Digital Library



صُحْبَته وَماله أَبا بكرٍ ولوْ كُنْتُ مُتخذا خليلا غير ربّي لاتخذتُ أبا بكرٍ ولكنْ أُخوّةُ الْإِسْلَام وَمودّتُهُ لا يَبْقَينّ في الْمسْجد بابٌ إلّا سُدّ إلّا باب أبي بكرٍ» (رواه البخاري)

نو د رسول الله ﷺ هغه ښه او غوره، امین او صادق، نژدې او وفاء داره، صاحب او ملګری ابوبکر الصدّیق ﷺ دی.

او بیا رسول الله ﷺ و فرمایل: هر چا چې نیکي او احسان را سره کړی دی د هغه بدله ورکړه سوې ده، پرته ابوبکره څخه چې د هغه د احسانو بدله مي آخرت ته پرې ایښې ده، رسول الله ﷺ و فرمایل: په مسجد کې دي هیڅ یوه دروازه نه پاته کیږي چې و نه تړل سي یا بنده نه سي پرته دروازې څخه د ابوبکر، چې دا کار د ابوبکر الصدّیق ﷺ دپاره یو خاص امتیاز ؤ.

ورونو! کله چې رسول الله ﷺ مسجد نبوي جوړ کړی د صحابهٔ کرامو څخه ډېرو خلکو دالته په مسجد پوري مښتي کورونه جوړ کړل، چې د کورو عمومي دروازې یې پر بل طرف وې مګر د کور د شا له طرفه به یې یوه کوچنۍ دروازه مسجد ته را خلاصه کړه (لکه دریچه) او دغه دروازې ډیري وې، نو رسول الله ﷺ و فرمایل: چې دغه کوچنۍ دروازې دي ټوله و تړل سي پرته دروازې څخه د ابوبکر، د رسول الله ﷺ له دغه امره څخه د ابوبکر الصدّیق ﷺ یو خاص فضیلت ښکاره کیږي.

په دغه خطبه کې رسول الله ﷺ بل وار بیا د ښځو په باره کې د ښه ژوند او ښې ګذارې او معاملې وصیت او رهنمایي وکړه، دا دوهم وار دی چې رسول الله ﷺ د ښځو سره په ښه معامله او ښه ګذاره امر کوي، یو وار په حجةُ الوداع کې او اوس بیا په دغه خطبه کې رسول الله ﷺ و فرمایل: د ښځو سره ښه او نرمه معامله کوی، دا د رسول الله ﷺ وصیتونه او لارښووني وې چې خپل امت او اصحاب کرامو ته یې کولې.

رسول الله ﷺ په دغه خطبه کې د منافقانو د هغو خبرو چې ویل رسول الله ﷺ یو ځوان هلک د مهاجرینو او انصارو پر مشرانو آمر وګرځاوه، رَد و وایه او وې فرمایل:

تاسي د اُسامه بن زید په آمریت کې خبري کوی؟ او تر ده د مخه مو د ده د پلار په آمریت کې خبري کولې، په والله هغه د اِمارت وړ او لائق ؤ او په والله هغه ما ته د هغو خوښو خلکو څخه ؤ او په والله دغه اُسامه د آمریت وړ او لائق دی او په والله تر

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه وروسته دئ په خلکو کي و ما ته خوښ دی او زه وصیت درته کوم چي دئ ستاسي د صالحو خلکو څخه دی.

د دغي خطبي تر ویلو وروسته رسول الله ﷺ کور ته ولاړی، خلکو د جهاد دپاره ځانونه تیارول چي د اسامه بن زید رضي الله عنه د لښکره سره یو ځای سي، اسامه رضي الله عنه تر مديني منوري دباندي اړولي دي هر هغه څوک چي جهاد ته د تللو إراده لري هغه هلته ورځي او ده رضي الله عنه ته به دا معلومېدل چي څو نفره د ده سره ځي، نو خلک ورتله او تر مديني منوري دباندي سره جمعه کېدل، رسول الله ﷺ اسامه ته حال ولېږی چي د بلقاء طرف ته حرکت وکړه، اسامه رضي الله عنه هم د حرکت دپاره آمادګي ونیول، مګر دا یې خوښه وه چي انتظار وکړي او پوه سي چي د رسول الله ﷺ ناروغي څنګه کیږي.

کله چي رسول الله ﷺ دغه خطبه و ویل او کور ته ولاړی درد او ناروغي یې نور هم زیات سوه، تر داسي اندازې چي بېهوښي به پر راتله، اسامه رضي الله عنه واورېدل چي د رسول الله ﷺ ناروغي نوره هم زیاته سوې ده نو ورته راغلی، په دغه وخت کي رسول الله ﷺ د ډیر درد او ناروغۍ د تکلیف په سبب خبري نه سوای کولای نو به يې یو وار آسمان ته اشاره وکړه او بیا به یې اسامه ته اشاره وکړه، اسامه رضي الله عنه پوه سو چي رسول الله ﷺ ده ته دعاء او د مغفرت طلب کوي، د رسول الله ﷺ درد او تکلیف دغي اندازې ته رسېدلی ؤ چي خبري یې هم نه سوای کولای.

صَلَوٰاتُ اللهِ وسلامُه علیکَ یا رسولَ الله!

## تر رحلت څلور ورځي د مخه

تر رحلت څلور ورځي د مخه د پنجشنبي په ورځ پر رسول الله ﷺ نور هم درد زیات سو، د رسول الله ﷺ په کور کي اصحاب کرام د ده ﷺ پر شا وخوا ناست وه، په دغو خلکو کي حضرت عمر فاروق رضي الله عنه هم موجود ؤ، رسول الله ﷺ و فرمایل: یو کاغذ یا یوه ورقه را وړی چي یو لیک در ولیکم چي تر هغه وروسته به نه خطاوزی او نه به لار درڅخه ورکیږي، حضرت عمر رضي الله عنه و ویل: رسول الله ﷺ له درده په تکلیف دی تاسي ته نور تکلیف مه ورکوی زموږ سره کتاب الله سته او هغه زموږ دپاره کافي دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په کور کي موجودو خلکو په دغا موضوع کي اختلاف سره شروع کړی څوک وايي قلم او کاغذ را وړی چي ليک ر، وليکي او څوک د حضرت عمر ﷺ خبره کوي. څو په دغه باره کي نقاش او خبري زياتي سوې، رسول الله ﷺ چي له درده په تکليف ؤ نو يې و فرمايل: را څخه ولاړ سئ. خلک د رسول الله ﷺ له کوره و وتل. سره د دې چي رسول الله ﷺ ډير ناروغه او په تکليف ؤ خو بيا يې هم د ټولو لمنځو امامت په خپله کاوه، حتّی دغه د پنجشنبې په ورځ چي تر رحلت څلور ورځي د مخه وه د ماښام دلمانځه امامت په خپله رسول الله ﷺ وکړی او سورۀ المرسلات يې پکښي و وايه.

خو ماخستن ته يې ناروغي ډيره زياته او نور هم ضعيفه سو. تر داسي اندازې چي مسجد ته نه سوای را وتلای، حضرت عائشه ﷺ وايي: د ماخستن د لمانځه پر وخت رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه چي آيا خلکو لمونځ آداء کړی؟ موږ ويل: يا، يا رسولَ الله! خلک په مسجد کي سره را ټول دي او ستا انتظار کوي، رسول الله ﷺ و فرمايل: ما ته د غسل يا اوداسه دپاره په يوه لوښي کي اوبه کښېږدی، موږ هم اوبه ورته کښېښوولې، رسول الله ﷺ غسل وکړی اوس غواړي چي په تکليف او زحمت سره مسجد ته ولاړ سي خو په دغه وخت کي بېهوښي پر راغله، لږ وخت وروسته يې بيا په ځان کي قوت حس کړی او بيا يې پوښتنه وکړه: آيا خلکو لمونځ آداء کړی؟ موږ ويل: يا، خلک ستا انتظار کوي، بيا يې و فرمايل: زما د غسل دپاره اوبه راته کښېږدی، موږ اوبه ورته کښېښوولې، بيا يې غسل وکړی خو د وتلو په وخت کي بيا بېهوښي پر راغله، درې واره دغه غسل کول او دغه بېهوښي تکرار سوه. نو يې و فرمايل: ابوبکر ﷺ امر کړی چي د خلکو د لمانځه امامت وکړي.

ورونو! څرنګه چي د لمنځو امامت همېشه رسول الله ﷺ کاوه هيڅکله داسي نه وه پېښه سوې چي بېله رسول الله ﷺ څخه دي بل څوک خلکو ته لمونځ ورکړي بېله هغې حادثې څخه چي موږ د تبوک څخه د بيرته را تلو په وخت کي درته بيان کړه چي د رسول الله ﷺ د غياب په سبب عبدالرّحمٰن بن عوف ﷺ د مخه سو او خلکو ته يې لمونځ ورکړی، بېله دغي ورځي او دغه حالته د مسلمانانو امامت همېشه رسول الله ﷺ کاوه او اوس د اول وار دپاره رسول الله ﷺ امر کوي چي بل څوک دي

(c) ketabton.com: The Digital Library


لمونځ ور کړي، نو حضرت عائشه رضي الله عنها پر دې و ببرېدل که چيري د دې پلار ابوبکر الصدّيق رضي الله عنه د رسول الله ﷺ پر ځای لمونځ ورکړي خلک به يې پر بد فالي ونيسي او په دې به نه وي راضي چي دئ دي د رسول الله ﷺ پر ځای د لمانځه امام سي.

مګر حضرت عائشې رضي الله عنها دغه دليل نه سوای ويلای، نو په بل دليل پسي وګرځېدل او ويل: يا رسولَ الله! ابوبکر د نرم زړه خاوند دی، آواز يې ضعيفه دی کله چي قرآن مجيد وايي ژاړي، ښايي د دغي ژړا په سبب د ده قرائت څوک وانه وري نو بل څوک امر کړه چي خلکو ته لمونځ ورکړي، دا هغه ظاهري دليل ؤ چي حضرت عائشې رضي الله عنها و وايه، مګر د دې اصلي مقصد دا ؤ چي دې نه غوښتل چي خلک په دغه کار سره ناراضه سي چي حضرت ابوبکر رضي الله عنه د رسول الله ﷺ پر ځای ودرېږي.

رسول الله ﷺ دغه د دې دليل واورېدی بيا يې هم و فرمايل: ابوبکر امر کړی چي خلکو ته لمونځ ورکړي، د هغه خپل اولني امر تاکيد يې وکړی، که څه هم د حضرت عائشې رضي الله عنها دليل يې واورېدی خو هغه ته يې اعتبار ورنه کړی، حضرت عائشې رضي الله عنها بيا هغه خپل دليل تکرار کړی، رسول الله ﷺ د دوهم وار دپاره د دې دليل واورېدی او وې فرمايل: ابوبکر امر کړی چي خلکو ته لمونځ ورکړي، حضرت عائشې رضي الله عنها درېيم وار بيا هغه خپل دليل و وايه، نه غواړي چي خلک د دې د پلاره څخه ناراضه سي.

رسول الله ﷺ ته قهر ورغلی، ولي؟ ځکه که يو څوک دليل وايي يو وار يې وايي، دوه درې واره د يوه داسي دليل تکرارول چي نوی شئ هم نه وي پکښي موجود د بحث د آدابو سره نه دي مناسب، نو رسول الله ﷺ ته قهر ورغلی او وې فرمايل: «إِنَّكُنَّ صَوَاحِبُ يُوسُفَ» يعني: تاسي هغه د يوسف عليه السلام ملګري ياست دا حيله ده هغه واقعي دليل دا نه دی، دننه بل شئ سته چي هغه نه را ته وايې، دا خو دي را ته و ويل او ما نه ومنل، رسول الله ﷺ بيا و فرمايل: «مُرُوا ابا بكرٍ فَلْيُصَلِّي بِالنّاسِ» حضرت عائشه رضي الله عنها د رسول الله ﷺ له خوني را و وتل او عبدالله بن زُمعه رضي الله عنه يې وليدی چي د ام المؤمنين حضرت سَوده بنت زُمعه رضي الله عنها ورور ؤ، هغه ته يې و ويل: يا عبدالله! ورسه ابوبکر ته و وايه چي خلکو ته لمونځ ورکړي، عبدالله بن زُمعه رضي الله عنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



را و وتی ابوبکر الصدّیق رضي الله عنه ته یې و ویل: رسول الله ﷺ دي امر کوي چې خلکو ته لمونځ ورکړه، ابوبکر الصدّیق رضي الله عنه چې د نرم زړه خاوند ؤ نو یې حضرت عمر فاروق رضي الله عنه ته و ویل: خلکو ته، ته لمونځ ورکړه.

هغه ویل: یا د دې کار دپاره ته حقداره یې، نو ابوبکر الصدّیق رضي الله عنه د دغې ورځې د ماخستن د لمانځه څخه شروع نور پاته لمنځونه خلکو ته ورکول. چې د رسول الله ﷺ په حیات کې ټول (۱۷) لمنځونه ابوبکر الصدّیق رضي الله عنه خلکو ته ورکړي دي. چې یو د پنجشنبې د ماخستن لمونځ ؤ، د جمعې، شنبې او یکشنبې پنځه پنځه لمنځونه او د دوشنبې د سهار لمونځ، چې ټوله (۱۷) لمنځونه کیږي.

په دغه ورځو کې رسول الله ﷺ ډېر ضعیفه ؤ او څو واره شدید شدید دردونه ورته پېښ سوي دي، حتّی ځیني وختونه به بېهوښي پر راغله، وحي هم نسته، لکه څرنګه چې د مخه درته و ویل سوه چې د وحیو نزول د حجةُ الوداع څخه قطعه سوی دی.

په حجةُ الوَداع کې د عرفات په ورځ چې د جمعې ورځ هم وه په ماځیګر کې دغه آیات شریف نازل سو چې الله جلّ جلاله فرمايي:

﴿ ٱلۡيَوۡمَ أَكۡمَلۡتُ لَكُمۡ دِينَكُمۡ وَأَتۡمَمۡتُ عَلَيۡكُمۡ نِعۡمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ ٱلۡإِسۡلَٰمَ دِينٗاۚ ﴾.

[المائده:۳]

او بیا په منی او ایام تشریق کې سورةُ النصر نازل سو چې الله جلّ جلاله فرمايي:

﴿إِذَا جَآءَ نَصۡرُ ٱللَّهِ وَٱلۡفَتۡحُ ۝١ وَرَأَيۡتَ ٱلنَّاسَ يَدۡخُلُونَ فِي دِينِ ٱللَّهِ أَفۡوَاجٗا ۝٢ فَسَبِّحۡ بِحَمۡدِ رَبِّكَ وَٱسۡتَغۡفِرۡهُۚ إِنَّهُۥ كَانَ تَوَّابَۢا ۝٣﴾.

او بیا د رسول الله ﷺ تر رحلت (۹) ورځې د مخه د الله جلّ جلاله دا قول نازل سو:

﴿ وَٱتَّقُواْ يَوۡمٗا تُرۡجَعُونَ فِيهِ إِلَى ٱللَّهِۖ ثُمَّ تُوَفَّىٰ كُلُّ نَفۡسٖ مَّا كَسَبَتۡ وَهُمۡ لَا يُظۡلَمُونَ ۝٢٨١﴾. [البقره:۲۸۱]

یعني: تاسي د هغې ورځې له عذابه و بېرېږی چې تاسي په هغه ورځ کې بیرته د الله جلّ جلاله طرف ته بېول کیږی او بیا به هر چا ته د هغه د عمل که خیر وي که شر بدله او جزاء پوره ورکول سي او پر دوی به ظلم نه کیږي (چې یا یې عذاب ور زیات کړي

یا یې ثواب ورلېږلی) نو دغه آیات شریف د ټول قرآن مجید په نزول کې هغه آخرنۍ آیات شریف دی او د رسول الله ﷺ تر رحلت (۹) ورځې د مخه نازل سوی دی. د دغه آیات شریف تر نزول وروسته رسول الله ﷺ په ډیر اوږده فکر کې غرق سو.

فکر یې په څه شي کې کاوه؟ خپل پخواني یادابښتونه په فکر کې ورګرځوي، د خپلو تیرو سوو یادابښتو فیته تر نظر باسي.

وروېو! د غارحراء واقعات مو په یاد دي؟ چې جبریل علیه السلام ورته ویل: إقرأ، او بیا رسول الله ﷺ حضرت خدیجې رضي الله عنها ته و ویل: یا خدیجه! د خوب او راحت وخت تېر سو، هغه مو په یاد دي چې رسول الله ﷺ د صفاء پر غره و درېدی او خلک یې اسلام ته دعوتول؟ هغه مو په یاد دي؟ چې عُقبه بن أبي معیط د مړه اوښ کلمې را وړې او د رسول الله ﷺ پر اوږو یې د سجدې په حالت کې ور کښېښوولې.

هغه مو په یاد دي؟ چې رسول الله ﷺ طائف ته ولاړی او د هغه ځای د خلکو طرنه په ډبرو ویشتل کېدی او تر مبارکو پښو یې وینې بهېدې.

هغه مو په یاد دي؟ چې پر غرو مقرره ملائکه ورته راغله او ویل: که ستا خوښه وي زه به د مکې پر اهل دغه دوه غرونه راکښېکاږم، رسول الله ﷺ ویل: یا یا، زه صبر ورته کوم ممکن الله جل جلاله د دوی د ملاوو څخه داسي څوک را وباسي چې د الله جل جلاله عبادت کوي.

اسراء او معراج مو په یاد دی؟ او هغه مو هم په یاد دي؟ چې د مکې مکرمې په فتحه کې د دوهم وار دپاره بیا د صفا پر غره و درېدی او اهل مکې ته یې و فرمایل: څه ګمان کوی چې زه به نن ستاسي سره څه وکړم؟ او بیا یې و فرمایل: پر تاسي نن هیڅ ملامتیا نسته ورځی تاسي آزاد یاست.

د خندق د کَندلو ورځ مو په یاد ده؟ هغه چې رسول الله ﷺ پر خپلو مبارکو اوږو خاوري چلولې او ټول بدن یې په خاورو کې پټ ؤ؟

د حنین ورځ مو په یاد ده؟ چې یوازي د دښمن مخ نه ولاړ ؤ او ویل یې:

أنا نبي لاكذب أنا ابن عبد المطلب؟

د اُحُد ورځ مو په یاد نه؟ چې رسول الله ﷺ هغه غار ته ور ولوېدی او غاښ مبارک یې مات سو، ټول مبارک مخ یې په وینو لړلی ؤ، په دغه حال کې ابن قُمئه

(c) ketabton.com: The Digital Library



راغلی او په توره یې و واهه د رسول الله ﷺ د خول حلقې د د ﷺ د سر په هډوکو ننوتلې او هلته بندې وې، کله چې هغه حلقې را وایستل سوې وینو فوارې وهلې او بیا ورته و ویل سوه چې یا رسولَ الله! ښرا ورته وکړه او ده ﷺ و فرمایل: زه لعنت ویونکی نه یم را لېږل سوی بلکه زه د رحمت دپاره را لېږل سوی یم او بیا یې لاسونه پورته کړه او ویل الٰهي زما قوم ته هدایت وکړې دوی نه پوهیږي.

ورونو! رسول الله ﷺ دغه ټول تکلیفونه د دې دپاره قبلول چې زما او ستا نوم د جورج یا تاراسنګ په عوض عبدالله او عبدالرّحمٰن سي، جسم او روح مو پاک وي او د دوږخ په عوض کي جنت ته ولاړ سو.

## د رسول الله ﷺ تر رحلت یوه یا دوې ورځي د مخه

د شنبې یا د یکشنبې په ورځ رسول الله ﷺ په خپل ځان کي څه صحت او سپکتیا ولیدل نو د ماپښین د لمانځه پر وخت د دوو نفرو په منځ کي چې یو یې عبّاس او بل یې علي رضي الله عنهما وه او پر هغو یې تکیه کړې وه مسجد ته را و وتی ابوبکر الصدّیق رضي الله عنه پر لمانځه ولاړ دی او خلکو ته لمونځ ورکوي، کله چې یې دا حس کړه چې رسول الله ﷺ راغلی نو ابوبکر الصدّیق رضي الله عنه و غوښتل چې شا ته ولاړ سي او د خلکو امامت رسول الله ﷺ وکړي او دیٔ رضي الله عنه په صف کي و دریږي.

خو رسول الله ﷺ اشاره ورته وکړه چې مه تر شا کېږه او بیا یې هغه دوو نفرو ته و ویل: ما د ابوبکر رضي الله عنه څنګ یا بغل ته کښېنوی، رسول الله ﷺ د ابوبکر الصدّیق رضي الله عنه چپه طرف ته کښېنول سو، نو ابوبکر رضي الله عنه د رسول الله ﷺ په لمانځه پسي اقتداء کړې وه او د رسول الله ﷺ د لمانځه تکبیرونه یې، په خلکو اورېدل.

## تر رحلت یوه ورځ د مخه

د رسول الله ﷺ تر رحلت یوه ورځ د مخه چې د یکشنبې ورځ وه رسول الله ﷺ خپل مریان ټول آزاد کړل، اووه دیناره یې درلودل هغه یې خیرات کړه، خپله ځیني

اسلحه يې مسلمانانو ته په هديه کې ور کړه، د رسول الله ﷺ سره د دنيوي شيانو څخه هيڅ شئ نه ؤ پاته، تر داسي اندازې چې په دغه شپه حضرت عائشې رضي الله عنها د څراغ دپاره تيل د خپلي يوې همسايه څخه په استعاره يا په خواست وغوښتل او د رسول الله ﷺ زغره د يوه يهودي سره په ديرش کاسې اوربشو ګرو وه.

## د رسول الله ﷺ د ژوند آخرنۍ ورځ

د هجرت د يوولسم کال د ربيع الأول د مياشتي دوولسمه ورځ چې د دوشنبې ورځ وه را ورسېدل، د سهار د لمانځه سره رسول الله ﷺ په ځان کې قوت او صحت وليدی نو پرځان يې تکليف تېر کړی او را ولاړ سو، څرنګه چې رسول الله ﷺ د حضرت عائشې رضي الله عنها په کور کې ؤ او د هغې رضي الله عنها خونه په مسجد نبوي پوري منښتې وه، د کور او مسجد په منځ کې دروازه وه او پرده پر ځړېدل، تر دغي دروازې بېله رسول الله ﷺ بل هيڅوک نه را وتل، نو خلکو د دوشنبې د سهار لمونځ په مسجد نبوي کې په ابوبکر الصدّيق رضي الله عنه پسي آداء کاوه (مسلمانان پر لمانځه ولاړ وه) رسول الله ﷺ د کور له طرفه راغلی او دغه پرده يې پورته کړه، وې ليدل چې مسلمانان په پوره خشوع لمونځ آداء کوي او په ډېر دقت يې قرآن مجيد ته غوږ نيولی دی، وې ليده چې اسلام قائم او ثابت سو، د دغه حال په ليدلو سره رسول الله ﷺ ډېر زيات خوښ او خوشاله سو د خوشالۍ څخه يې تبسم وکړی، هغه اصحاب کرام چې دلته د کور و طرف ته نژدې ولاړ وه هغو د پردې ښورېدل حس کړه، صبر يې نه سوای کولای هغه طرف ته يې وکتل او رسول الله ﷺ يې وليدی، اوس پسله درې ورځي نه راوتلو څخه د اول وار دپاره رسول الله ﷺ ويني، اصحاب کرام تر اندازې زيات خوشاله سوه ځکه د مخه دوی په بېره او تشويش کې وه او اوس رسول الله ﷺ ورته راوتلی دی ولاړ دی او خاندي، اصحاب کرام په لمانځه کي خطاوتل، قريبه وه چې لمونځ پرېږدي او خپل محبوب رسول الله ﷺ ته ور سي سلام ور سره وکړي او د حال پوښتنه يې وکړي، مګر رسول الله ﷺ دوی ته اشاره وکړه چې خپل لمونځ مو پوره کړی، نو دوی هم پر لمانځه پاته سول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په هغه حدیث شریف کي چي امام بخاري یې د انس بن مالک رضي الله عنه څخه روایتوي وایي: د دوشنبې په ورځ مسلمانانو د سهار لمونځ د ابوبکر الصدّیق رضي الله عنه په امامت آداء کاوه چي ناڅاپه رسول الله ﷺ هغه پرده پورته کړه چي د حضرت عائشې رضي الله عنها د خوني او مسجد په منځ کي وه او مسلمانانو ته یې وکتل چي دوی د لمانځه په صفو کي ولاړ وه او بیا رسول الله ﷺ وخندل (تبسم یې وکړی) ابوبکر الصدّیق رضي الله عنه شا ته ولاړی چي په صف کي و دریږي، ځکه د ده دا خیال سو چي رسول الله ﷺ غواړي چي د لمانځه د آداء کولو دپاره را ووزي، انس بن مالک رضي الله عنه وایي: مسلمانانو دا قصد وکړی چي د رسول الله ﷺ د راوتلو د خوشالۍ په سبب لمونځ پرېږدي، خو رسول الله ﷺ په خپل مبارک لاس اشاره ورته وکړه چي خپل لمونځ پوره کړی او بیا رسول الله ﷺ پرده کښته کړه او کور ته ننوتی، دا د امام بخاري رحمه الله روایت ؤ.

خو په بل روایت کي راغلي دي چي رسول الله ﷺ إراده وکړه چي د دوی سره لمونځ وکړي صحابهٔ کرامو لار ورکړه د خپلو ځایو څخه یې حرکت وکړی چي رسول الله ﷺ مخ ته تېر سي او دوی ته لمونځ ورکړي، هغه د مخني صفونه په دغه حرکت پوه سوه او و پوهېدل چي دغه کار ببله رسول الله ﷺ څخه د بل چا دپاره نه کیږي، هغو هم په صفو کي لار خلاصه کړه، دا خو تاسي ته معلومه ده چي د رسول الله ﷺ له کوره بیا تر محرابه لږ لار او مسافه ده رسول الله ﷺ د مخ ب طرف ته وررهي دی او خلک په صفو کي لار ورکوي، ابوبکر الصدّیق رضي الله عنه چي امام ؤ په دې حرکت پوه سو او د صفو څخه د خلکو لیري کېدل ور معلوم سوه، هغه پوهېدی چي صحابهٔ کرام دغه حرکت ببله رسول الله ﷺ څخه د بل چا دپاره نه کوي نو یې وکتل او ویې لیده چي رسول الله ﷺ د ده تر شا دی، ابوبکر الصدّیق رضي الله عنه تر شا سو غواړي چي رسول الله ﷺ د مخه کي مګر رسول الله ﷺ د ده پرشا لاس کښېښاوه او د مخ طرف ته یې حرکت ورکړی او ویې فرمایل: یا ابا بکر! خلکو ته لمونځ ورکړه.

دلته دوه روایته دي، ځیني علماء وایي چي ابوبکر الصدّیق رضي الله عنه امام ؤ او رسول الله ﷺ یې راسته طرف ته ناست ؤ، چي په دې ډول کي رسول الله ﷺ هم په

ابوبکر الصدیق ﷛ پسي لمونځ کاوه.

او بل روایت دا دی چي رسول الله ﷺ د ابوبکر الصدیق ﷛ چپه طرف ته ناست ؤ او په ناسته سره یې لمونځ کاوه، یعني: رسول الله ﷺ امام ؤ او ابوبکر الصدیق ﷛ د رسول الله ﷺ راسته طرف ته ولاړ ؤ او په ولاړه یې لمونځ کاوه، نو د ابوبکر الصدیق ﷛ اقتداء په رسول الله ﷺ پسي وه او د خلکو اقتداء په ابوبکر ﷛ پسي وه.

دا د دوشنبې د سهار لمونځ ؤ، پسله لمانځه څخه رسول الله ﷺ په ځان کي نور هم صحت او نشاط حس کړی او د خطبې ویلو دپاره منبر ته وختی مګر خطبه یې په ناستي وویل، ځکه ناروغی ډیر ضعیفه کړی ؤ.

دغه خطبه د رسول الله ﷺ هغه آخرنی خطبه ده، رسول الله ﷺ په دغه خطبه کي وفرمایل: د هغه توري تاریکي شپې په مثل سره فتنې را رواني دي، حلیم سړی به په حیرت کي وي چي څه وکړي؟ په دغو فتنو کي ناست سړی تر ولاړ ښه او بهتر دی.

همدارنګه په هغه حدیث شریف کي چي ابن ماجه، ابوداؤد او نور یې د ابو موسیٰ الأشعري ﷛ څخه روایتوي وایي رسول الله ﷺ وفرمایل:

«إِنَّ بَيْنَ يَدَيِ السَّاعَةِ فِتَنًا كَقِطَعِ اللَّيْلِ الْمُظْلِمِ يُصْبِحُ الرَّجُلُ فِيهَا مُؤْمِنًا وَيُمْسِي كَافِرًا وَيُمْسِي مُؤْمِنًا وَيُصْبِحُ كَافِرًا الْقَاعِدُ فِيهَا خَيْرٌ مِنَ الْقَائِمِ وَالْقَائِمُ فِيهَا خَيْرٌ مِنَ الْمَاشِي وَالْمَاشِي فِيهَا خَيْرٌ مِنَ السَّاعِي فَكَسِّرُوا قِسِيَّكُمْ وَقَطِّعُوا أَوْتَارَكُمْ وَاضْرِبُوا بِسُيُوفِكُمُ الْحِجَارَةَ فَإِنْ دُخِلَ عَلَى أَحَدِكُمْ فَلْيَكُنْ كَخَيْرِ ابْنَيْ آدَمَ» [رواه: ابن ماجه وغیره]

ژباړه: تر قیامت دمخه داسي فتنې دي لکه د هغه تاریکي شپې حصې (چي هغه راتلونکې حصه تر دغه اوسنی حصې ډیره تاریکه وي، یعني هغه راتلونکې فتنه تر دغه اوسنی فتنی ډیره سخته او شدیده وي) داسي فتنې دي چي یو انسان په سهار کي مومن وي او ماښام ته کافر سي، یا ماښام مومن وي او سهار ته کافر سي، په دغو فتنو کي ناست سړی تر هغه چا ښه او بهتر دی چي په دغه فتنه کي ولاړ وي او ولاړ سړی تر هغه چا ښه او بهتر دی چي په دغو فتنو کي تګ کوي او تګ کوونکي بیا تر هغه چا ښه او بهتر دی چي په دغه فتنو کي ځغلي نو په دغو فتنو کي مو خپل قوس یالیندی مات

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړی او هغه تناوونه یې وشکوی او توري سو پر ډېره و وهی (چې تیره والی یې ورک سي، مقصد ټولي اسلحې مو ورکي کړی) که چیري بیا ستاسي څخه یوه ته د ده کورته فتنه ورغله نو دي داسي سي لکه د آدم علیه السلام په دوو زامنو کي هغه ښه زوی یې (د آدم علیه السلام یو زوی قابیل ؤ او بل زوی یې هابیل ؤ، نو کله چي قابیل ورته و ویل: زه دي وژنم نو هابیل ورته و ویل: زه به ستا د وژلو یا مقابلې دپاره تا ته لاس در ونه غځوم) یعني ته هم دغسي سه که چا وژلې ځان شهید کړه خو قاتل کېږه مه.

وروڼو! نن ورځ هم د شدیدو فتنو وخت او زمانه ده، کوښښ کوی چي د فتنو څخه لیري وګرځی په هیڅ ډله او ټولی کي ځانونه مه داخلوی، د ظلم کولو او وژنو څخه لیري اوسی، ځکه رسول الله ﷺ فرمایي: د فتنو په وخت کي ناست سړی تر ولاړ ښه او بهتر دی، فقط په خپل دین او عقیده پوري لاسونه ټینګ ونیسی.

او بیا رسول الله ﷺ خلک د دې څخه منعه کړه چي د ده ﷺ قبر دي مسجد وګرځول سي، یعني: عبادت دي یې وسي او وې فرمایل: پرهغه چا دي د الله جل جلاله لعنت وي چي د نبي قبر مسجد ګرځوي، (یعني سجده ورته کوي) او تاسي زما په باره کي مبالغه مه کوی لکه نصارا چي د عیسیٰ علیه السلام په باره کي مبالغه کوي زه بشر یم د الله جل جلاله بنده او رسول یم.

هو، رسول الله ﷺ اکملُ البشر، خیرُالبشر، سیّدُ البشر دی، مګر نفعه او ضرر یوازي او یوازي د الله جل جلاله په إراده کي دي لکه څرنګه چي الله جل جلاله فرمایي:

﴿ قُلۡ إِنِّي لَآ أَمۡلِكُ لَكُمۡ ضَرّٗا وَلَا رَشَدٗا ﴿٢١﴾ ﴾ [الجن: ۲۱]

اې محمّده! ﷺ دوی ته و وایه چي زه ستاسي دپاره د نفعي او ضرر مالک نه یم.

او بیا رسول الله ﷺ په یوه لوی او مهم وصیت سره امر وکړی او وې فرمایل:

« لَایَبقٰی فِی الجزیرة دِینَان » په جزیرةُ العرب کي به دوه دینه نه پرېږدی، د کنیسو او نورو ادیانو د عبادت خانو جوړول په ټوله جزیرةُ العرب کي منعه او نه دي روا، مګر اوس خلک په دغه باره کي سستي او تساهل کوي، په جزیرةُ العرب کي کنیسې او د نورو ادیانو عبادت خانې موجودي دي، حال دا چي دغه د رسول الله ﷺ واضح او صریح امر او وصیت دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


اورسول الله ﷺ د لمانځه د آداء کولو ډېر زيات سپارښت وکړی او وې فرمايل: «أوصيكم بالصّلوة» رسول الله ﷺ په آخرنی خطبه کې د لمانځه په باره کې ډېر ټينګار او تاکيد وکړی او وې فرمايل: «اَلعَهدُ الّذي بَينَنَا وَبَينَهُم الصّلوة، فَمَن تَرَكَهَا فَقَد كَفَرَ» حتّی د لمانځه پرېښوونکي ته يې د کفر لفظ استعمال کړی او کافر يې وبلی.

په دغه خطبه کې رسول الله ﷺ د مريانو، نوکرانو او خدمتکارانو په باره کې هم وصيت وکړی او وې فرمايل: د هغو سره ښه، د زړسوي او عدل ګذاره کوی، د ښځوپه باره کې يې بيا په ښه او نرمه ګذاره کولو سره وصيت وکړی او وې فرمايل:

«أُوصِيكُم بِالنِّسَاءِ خَيرًا، وَأُوصِيكُم بِمَا مَلَكَت أَيمَانُكُم»

بيا نو رسول الله ﷺ خپل وصيت او لارښووني په جهاد سره پای ته ورسولې، د جهاد پر کولو يې ډېر تاکيد وکړی او وې فرمايل:

«ما ترك قوم الجهاد الا عمهم الله بالعذاب» [رواه: طبراني في معجم الأوسط]

هيڅ قوم جهاد نه دی پرې ايښی مګر الله جل جلاله هغه قوم ټول په عذاب اخته کړی دی.

رسول الله ﷺ د مسلمانانو سره په خپل آخرني رخصت او وداع کې د جهاد پر کولو ډېر ټينګار وکړی.

او بيا يې خلک د أسامه رضي الله عنه سره په وتلو مکلف کړل، رسول الله ﷺ له منبره کښته سو او پر خپلو مبارکو پښو خپل کورته ولاړی، رسول الله ﷺ چې کورته داخل سو ابوبکر الصّدِيق رضي الله عنه اجازه وغوښتل او کور ته ورغلی، ابوبکرالصّدِيق رضي الله عنه وليدل چې رسول الله ﷺ خطبه و ويل او په دومره لوړ او قوي آواز يې دغه خطبه و ويل چې تر مسجد دباندي اورېدل کېده. خلکو دا فکر وکړی چې الحمدلله رسول الله ﷺ جوړ سو نو ابوبکر الصّدِيق رضي الله عنه و رسول الله ﷺ ته و ويل: يا رسولَ الله! أرَاكَ بَرِئتَ بِحَمدِ الله.

يعني: الحمد لله وينم دي چې جوړ سوې، ماشاء الله خطبه دي و ويل، لمونځ دي زموږ سره وکړی او پرخپلو پښو ګرځې، رسول الله ﷺ و فرمايل: الحمد لله، ابوبکر الصّدِيق رضي الله عنه و ويل: يا رسولَ الله! اجازه را کوې چې سُنح ته ولاړسم؟ دغه درې ورځې کېږي چې اسماء ته نه يم ور رغلی، اصلاً د اسماء سره چې د ابوبکر الصّدِيق رضي الله عنه زوجه وه بل څوک نه وه چې د هغې کورني ضروريات يې ورته راوړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



وای او درې ورځي دئ ؓ هم نه ؤ ورغلی. نو ویل: اجازه را کوې چي ور سم؟ که یې کوم ضرورت او احتیاج درلودی هغه به ور پوره کړم. رسول الله ﷺ اجازه ورکړه او ویل: هو ورسه، ابوبکر الصدّیق ؓ په دې فکر او امید چي رسول الله ﷺ جوړ سو د رسول الله ﷺ له کوره څخه ووتی او سُنح ته ولاړی.

وروسته حضرت علي ؓ اجازه وغوښتل او د رسول الله ﷺ کور ته ورغلی. وې لیدل چي رسول الله ﷺ خبري کوي او جوړ معلومیږي، نو ویل: یا رسولَ الله! الحمد لله جوړ دي وینم، رسول الله ﷺ و فرمایل: الحمد لله، داسي معلومېدل لکه ناروغي چي پای ته ورسېدل، حضرت علي ؓ د رسول الله ﷺ له کوره را ووتی خلک پر راټول سوه چي رسول الله ﷺ څنګه دی؟ ده ؓ ویل: جوړ یې وینم، خلک خوشاله سوه لکه هغه مشکل چي پای ته ورسېدی، خلکو چي د رسول الله ﷺ د ناروغۍ په باره کي هغه ډېر تشویش او پرېشاني درلودل اوس داسي معلومیږي لکه هغه چي سپکه او پای ته ورسېدل، حضرت عبّاس ؓ د رسول الله ﷺ اکا و حضرت علي ؓ ته ورغلی او ویل: یا علي! وینم دي چي خلکو ته وایې: رسول الله ﷺ جوړ سو، حضرت علي ؓ ویل: دا هغه شئ دی چي زه یې وینم، حضرت عبّاس ؓ ورته و ویل: یا ابا الحسن! رسول الله ﷺ ته ورسه او زموږ دپاره د خیر طلب څني وکړه (مقصد یې خلافت ؤ) چي ورسه زموږ دپاره خلافت څني وغواړه، زه د عبدالمطلب د اولادې په مخانو کي په مرګ پوهېږم او زه د رسول الله ﷺ په مخ کي مرګ وینم، یعني: د عبدالمطلب په اولاده کي چي کومي د مرګ علامې ما ته را معلومي دي هغه په رسول الله ﷺ کي موجودي دي.

نو اول هغه څوک چي د رسول الله ﷺ د وفات احساس یې وکړی هغه حضرت عبّاس ؓ ؤ نو یې غوښتل چي د بني عبدالمطلب دپاره خلافت وغواړي، ځکه د ده په فکر نور نو موضوع پای ته رسېدلې وه.

خرنګه چي حضرت علي ؓ هوښیار او حکیم ؤ، ویل: اې اکا! که ما د رسول الله ﷺ څخه خلافت طلب کړی او موږ ته یې را نه کړی نو بیا په ټول عمر بني عبدالمطلب ته نه ورکول کیږي، ځکه چي رسول الله ﷺ څني محرومه کړل،

نو ورسم خلافت ځني و غواړم؟ حضرت عبّاس رضي الله عنه و ویل: یا، ته پوه او هوښیار یې، رشتیا هم که موږ د رسول الله ﷺ څخه د خلافت طلب وکړی او رسول الله ﷺ زموږ طلب نه کړي قبول بیا نو همېشه و بني عبدالمطلب ته خلافت نه ورکول کیږي. نو خبره پر دغه حال پرېږده او دغسي هم پاته سوه.

د ځانبت په وخت کي رسول الله ﷺ حضرت فاطمه رضي الله عنها ور وغوښتل او پټ په غوږ کي یې یو څه ورته و ویل هغې و ژړل، رسول الله ﷺ بیا ور وغوښتل بیا یې په غوږ کي یو څه ورته و ویل، هغې وخندل، حضرت عائشه رضي الله عنها وایي: په وروسته کي بیا موږ پوښتنه ځني وکړه چي رسول الله ﷺ څه درته و ویل؟ چي یو وار دي و ژړل او بیا دي وخندل، حضرت فاطمې رضي الله عنها و ویل: په اول وار کي یې په غوږ کي را ته و ویل: چي ذئ ﷺ په دغه ناروغي کي رحلت کوي، نو خود ما و ژړل او دوهم وار یې راته و ویل: چي زما د کورنۍ څخه اول هغه څوک چي په ما پسي راځي هغه ته یې، نو ما وخندل او رسول الله ﷺ حضرت فاطمې رضي الله عنها ته دا زېری هم ورکړی چي دا سیّدةُ نساءِ العالمین ده، حضرت فاطمې رضي الله عنها چي به د خپل پلار رسول الله ﷺ دغه ضُعف او شدید دردونه لیدل په ژړا او افسوس سره به یې ویل: وا کربَ أباه! اې د پلار درد او غمه!

رسول الله ﷺ و فرمایل: ترنن ورځي وروسته ستا پر پلار درد او تکلیف نسته، رسول الله ﷺ حسن او حسین رضي الله عنهما ور وغوښتل او مچ یې کړه، د دوی په باره کي یې د ښې ګذارې او ښه ژوند سپارښت وکړی، بیا یې ازواج مطهرات ور وغوښتې هغو ته یې وعظ او نصیحت وکړی، د رسول الله ﷺ درد نور هم زیاتېدی او د هغو زهرو اثر ښکاره سو چي په خیبرکي یې خوړلي وه پخوا به رسول الله ﷺ عائشې رضي الله عنها ته ویل: یا عائشه! تر اوسه د هغه خوړو درد حسوم چي په خیبر کي مي خوړلي وه او نن یې و فرمایل: اوس هغه وخت راغلی چي د زړه رګونه مي د هغه زهرو په واسطه پرې سوه.

په هغه حدیث شریف کي چي امام بخاري یې د حضرت عائشې رضي الله عنها څخه روایتوي چي رسول الله ﷺ د رحلت یا وفات په ناروغي کي و فرمایل:

« مَا أَزَالُ أَجِدُ أَلَمَ الطَّعَامِ الَّذِي أَكَلْتُ بِخَيْبَرَ فَهَذَا أَوَانُ وَجَدْتُ انْقِطَاعَ أَبْهَرِي مِنْ ذَلِكَ السُّمِّ » [رواه: البخاري]

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: همېشه د هغو خوړو درد حسوم چې ما په خیبر کې وخوړل نو دا هغه وخت دی چې له هغو زهرو څخه ما ته زما د أبهر پرې کېدل پېښ سوه. (أبهر مي پرې سو)

أبهر هغه رګ یا شریان دی چې د زړه وینه پکښې تېرېږي.

نو د رسول الله ﷺ د رحلت په وخت کې د ده ﷺ د زړه رګ د هغو زهرو د خوړلو په سبب پرې یا قطعه سو چې په خیبر کې یې خوړلي وه.

ډېر علماء کرام وايي: دا د رسول الله ﷺ شهادت دی، دئ ﷺ هغه د خیبر د زهرو په واسطه شهید وفات سو، رسول الله ﷺ لره ټول صفتونه پوره وه حتّی شهید هم دی.

# د إحتضار یا زکندن وخت

اوس د ځانبت وخت دی او رسول الله ﷺ د حضرت عائشې رضي الله عنها سره د دې په کور کې ناست دی چې بیا ډېر شدید درد پر راغلی، رسول الله ﷺ خپله شا د حضرت عائشې رضي الله عنها پر ځیګر تکیه کړې وه، په دغه وخت کې عبدالرّحمٰن بن ابوبکرالصدّیق رضي الله عنه چې د حضرت عائشې رضي الله عنها ورور ؤ راغلی، رسول الله ﷺ د ډېر درد په سبب خبري هم نه سوای کولای، د عبدالرّحمٰن رضي الله عنه سره مسواک ور سره ؤ چې هغه یې واهه او رسول الله ﷺ ورته کتل، حضرت عائشه رضي الله عنها پوهېدل چې د رسول الله ﷺ مسواک خوښ دی نو یې رسول الله ﷺ ته و ویل: یا رسولَ الله! مسواک غواړې؟ رسول الله ﷺ په سر اشاره ورته وکړه چې هو، حضرت عائشې رضي الله عنها د خپل ورور عبدالرّحمٰن رضي الله عنه څخه هغه مسواک وغوښتی هغه هم ورکړی او دې رضي الله عنها و رسول الله ﷺ ته ورکړی، څرنګه چې مسواک سخت ؤ او رسول الله ﷺ نه سوای ژوولای او پسته ولای، نو حضرت عائشې رضي الله عنها ورته و ویل: آیا زه یې در نرم کړم؟ یا رسولَ الله! رسول الله ﷺ په سر اشاره ورته وکړه چې هو، حضرت عائشې رضي الله عنها د مسواک هغه بل طرف و ژووی نرم یې کړی او رسول الله ﷺ ته یې ورکړی، حضرت عائشه رضي الله عنها وايي: رسول الله ﷺ داسي سخت او شدید مسواک و واهه چې د ده ﷺ په ټوله ژوند مي تر دغه سخت مسواک وهل نه وه لیدلي، عبدالرّحمٰن رضي الله عنه هم اجازه وغوښتل او ولاړی.

د رسول الله ﷺ سره بېله عائشې رضي الله عنها بل څوک نه وه ور سره چې بیا پر

(c) ketabton.com: The Digital Library


رسول الله ﷺ درد زیاتېدی، د درد له شدته يې له سر او تندي مبارکه خولې را تويېدې، حضرت عائشه رضی الله عنها وايي: پر رسول الله ﷺ داسي خولې بهېدلې چي هيڅ وخت مي دومره ډېري خولې نه دي ليدلي، وايي: د رسول الله ﷺ مخ ته د اوبو يو لوښی پروت ؤ په هغه اوبو به يې لاس لنداوه او پر مخ به يې تېراوه او ويل به يې:

«لا إله إلا الله إنّ للموت لسكرات» يعني: مرګ سختی او تکاليف لري.

ورونو! که مرګ پر چا رحم کولای پر رسول الله ﷺ به دغه دردونه او تکليفونه نه تېرېدلای، مرګ رحم نه لري او نه د هغه څخه تېښته او چاره سته. الله جل جلاله فرمايي:

﴿إِنَّكَ مَيِّتٌ وَإِنَّهُم مَّيِّتُونَ﴾ [الزمر: ۳۰]

ژباړه: بېشکه چي ته مرې او دوی هم مړه کيږي.

بېله الله جل جلاله بل هيڅوک نه پاته کيږي، نو مرګ نه پر چا رحم لري او نه څوک ځني خلاصېدلای سي حتّی رسول الله ﷺ د ټول بشريت سردار، او د ټولو کائناتو سرور ﷺ د مرګ او زکندن تکاليف حس کړه، الله جل جلاله دي پر موږ او تاسي د مرګ پر وخت رحم، کرم او احسان وکړي. «إنّ للموت لسكرات»

پسله هغه چي رسول الله ﷺ د مسواک وهلو څخه فارغه سو لاس يا ګوته يې د آسمان و طرف ته پورته کړه او سترګي يې هم د خوني د چت و طرف ته نيولي وې او مبارک شنډان يې ښورېدل، حضرت عائشه رضی الله عنها وايي: ما غوږ ورته ونيوی چي دیٔ ﷺ څه وايي؟ رسول الله ﷺ د ځانه سره ويل:

«مَعَ الَّذِينَ أَنعَمتَ عَلَيهِم مِنَ النَّبِيِّينَ وَالصِّدِّيقِينَ وَالشُّهَدَاءِ وَالصَّالِحِينَ.
اللَّهُم اغفِرلِي وَارحَمنِي وَالحِقنِي بِالرَّفِيقِ الأَعلَى، بَلِ الرَّفِيقِ الأَعلَى، بَلِ الرَّفِيقِ الأَعلَى، بَلِ الرَّفِيقِ الأَعلَى».

دا لکه بيا چي د آخري وار دپاره وحي ورته راغلې چي ابدي ژوند غواړې او که د الله جل جلاله ملاقات اختياروې؟ خو رسول الله ﷺ دغه جمله په تکرار سره ويل:

بَلِ الرَّفِيقِ الأَعلَى، بَلِ الرَّفِيقِ الأَعلَى. د الله جل جلاله ملاقات يې اختياراوه.

حضرت عائشه رضی الله عنها وايي: رسول الله ﷺ دغه جمله په تکرار سره ويل چي لاس

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې را کښته سو او مبارک سر يې زما پر اوږه ولوېدی.

صلواةُ الله عليه و سلامُهُ، رسول الله ﷺ د رفيق اعلی سره ملاقي سو.

﴿إِنَّا لِلَّهِ وَإِنَّآ إِلَيۡهِ رَٰجِعُونَ﴾ [البقره: ١٥٦]

رسول الله ﷺ د دارالفناء څخه دارالبقاء او دارالقرار ته د څاښت په وخت کي رحلت وکړی او د رسول الله ﷺ سترګي لوړي د آسمان طرف ته پاته سوې.

دا د هجرت د يوولسم کال د ربيع الأول د مياشتي دوولسمه د دوشنبې ورځ او د څاښت وخت ؤ، په دغه ورځ د رسول الله ﷺ د عمر (٦٣) کاله او څلور ورځي پوره سوې.

ورونو! د سيرة النبي ﷺ د دغه ځای يا د رسول الله ﷺ د ژوند د دغي لحظې په بيانولو سره موږ ته د کون او وجود هغه لوی حقيقت او واقعيت را معلوميږي.

دا هغه حقيقت دی چي د هغه په مقابل کي د جبابره وو جبروت، د ملحدينو عناد، د طاغيانو او باغيانو سرکښي ماتيږي، دا هغه حقيقت دی چي د کون او وجود ټول سرکښه موجونه او څپې د انتهاء او فناء په پرده پټوي، دا هغه حقيقت دی چي د سرکښه بشر ژوندکه خوښ وي که نا خوښ د قهّارُ السّماواتِ والأرض و بندګی او عبوديت ته ور اړوي، دا داسي حقيقت دی چي فرمانبرداره او نا فرمانه، رئيسان او هغه د خدايي دعوه کوونکي، رسُولان او انبياء، اغنياء او فقراء، د علم او اختراع خاوندان او ناپوهان، ټول ورته تسليم دي، دا داسي حقيقت دی چي په ټوله زمانه او هر ځای کي د هر اورېدونکي په غوږ کي او د هر عاقل په دماغ کي دا اعلان کوي چي بېله يوه الله د بل چا دپاره اُلوهيت او بقاء نسته او بېله هغه ذاته چي يوازي دئ جَلَّ جَلَالُهُ پاته کېدونکی دی بل چا لره حاکميت نسته، الله جَلَّ جَلَالُهُ هغه ذات دی چي امر يې نه ګرځول کيږي او د ده جَلَّ جَلَالُهُ د اوامرو دپاره حد او اندازه نسته، نه څوک د ده له حکمه وتلای سي او نه يې منعه کولای سي.

کوم حقيقت به د مرګ تر هغه ترخه حقيقت واضح او صريح وي چي الله جَلَّ جَلَالُهُ په دغه مرګ سره د ټوله دنيا اوسېدونکي د وجود د شروع څخه بيا د قيامت تر ورځي مغلوبه او مقهوره کړي دي؟ د دې دنيا پر پلَه او په کوڅه کي ډير داسي کسان تېر سوي دي چي په خپل ناچيزه قدرت يا موقتي حاکميت، يا په لږ څه علم يا په يوه

اختراع، یا په څه مال او جایداد سره مغروره وه، مګر ډېر ژر دغه د مرګ لوی حقیقت د غفلت له خوبه را ویښ کړه او د قیّومُ السّماوات والأرض، مالکُ الملک! الله جل جلاله په حضور کې د ذلیله او ضعیفه بندګانو په شکل سره یې ودرول.

﴿كُلُّ نَفْسٍ ذَآئِقَةُ ٱلْمَوْتِ﴾ [آل عمران: ۱۸۵] هر نفس د مرګ څکوونکی دی.

دا داسې یوه عامه جمله ده چې هیڅ خاصوالی پکښې نسته او هیڅوک نه دی ځني وتلی، دا داسې شامله جمله ده چې په ټوله دنیا کې هیڅوک د هغه دپاره حد او اندازه نه سي ایښوولای، او نه شاذ او نادر پکښې سته.

د نوو علومو دعوه کوونکي دي راسي، د نوي طب پوهان دي سره را ټول سي، د فضاء مسخره کوونکي دي سره جمعه سي، خپله ټوله پوهې او طاقت، مختلف امکانیات او وسائل دي سره یو ځای کړي، خپلې ټولې مصنوعي سپوږمیاني دي په کار واچوي، خو فقط له یوه نفره دي دغه د مرګ حقیقت چې دوی یې ذلیله کړي او مقهوره کړي دي ایسته کړي، په دغو ټولو سره دي مرسته وغواړي، خو د دغه الٰهي تحدّي یا چلنجه ځخه دي چې فرمایي:

﴿كُلُّ نَفْسٍ ذَآئِقَةُ ٱلْمَوْتِ﴾. یو جُزء باطل یا یو نفر خلاص کړي.

په خپلو ټولو علومو او امکانیاتو سره دي فقط یو انسان له مرګه را وګرځوي، که یې دا کار وکړی بیا نو د دوی حق دی چې دغه طغیان او جبروت، د خدایي دعوې او د نعمتو کُفران یا پټوالی وکړي، که دا کار نه سي کولای نو دي د هغه قبر په تنګیو او تاریکیو کي فکر وکړي چې دوی د هغه په نس کي غائبېږي او ورکیږي، هغه خاوري دي ور په یاد کړي چې دوی تر هغه لاندي ایښوول کیږي او هغه د روح قبضېدل دي ور په یاد کړي چې دوی ځان نه سي ځني خلاصولای، د قبر هغه چنجیان دي ور په یاد کړي چه د دوی په خولو، سترګو، پزو، غوږو او ټول بدن کي به ګرځي.

هو، الله جل جلاله ته دا آسانه وه چې دُ رسول الله ﷺ درجه د مرګ او د هغه د دردو تر سویې او مستوی لوړه کړي، د مرګ او د هغه له دردو ځخه یې خلاص کړي، مګر د الٰهي حکمت دا خوښه وه چې د الله جل جلاله په امر دغه د مرګ تر خه کاسه د خپلو سختیو ·

(c) ketabton.com: The Digital Library


او دردو سره عامه کړي، هر څوک او هر څومره چې يې د الله جل جلاله په حضور درجه هم لوړه وي دغه د مرګ د ترخې کاسې څکه باید وکړي، دا د دې دپاره چې ټول موجود انسانان د توحید او الهي وحدانیت په حقیقت کې ژوند وکړي.

او ټول په دې سره اقرار وکړي چې بقاء يوازې او يوازې الله جل جلاله لره ده او ټول باید په دې پوره پوه سي: هر هغه څوک چې په مځکه او آسمانو کې دي، هغه ټول د الله جل جلاله عباد، بندګان او مخلوق دي، هیڅوک نه سي کولای چې خپل ځان د الله جل جلاله له بندګیه خلاص کړي یا يې د بندګۍ تر درجې او سويې لوړ کړي.

پسله هغه چې رسول الله ﷺ د خپل رب په اطاعت او فرمانبرداري کې خپل ژوند تېر کړی او بیا د خپل رب قضاء ورته راغله او د دغه حقیقت سکرات او دردونه يې وڅکل، نو هیچا ته دا نه ښايي چې مرګ او د هغه دردونه هېر کړي. یوازې دا نه چې هېرېږي نه کړي بلکه باید همېشه مرګ او د هغه دردونه ډېر ډېر ورپه یاد کړي.

الله جل جلاله فرمايي: ﴿كُلُّ مَنْ عَلَيْهَا فَانٍ ﴿٢٦﴾﴾ [الرّحمٰن: ٢٦]

ټول هغه څوک چې پر دغه مځکه دي هغه ټول فاني کېدونکي دي.

او بیا الله جل جلاله فرمايي: ﴿إِنَّكَ مَيِّتٌ وَإِنَّهُم مَّيِّتُونَ ﴿٣٠﴾﴾ [الزُمَر: ٣٠]

بېشکه چې ته مرې او بېشکه دوی هم ټوله مړه کیږي.

او بیا رب عزوجل فرمايي: ﴿كُلُّ نَفْسٍ ذَآئِقَةُ ٱلْمَوْتِ﴾ [آل عمران: ١٨٥]

هر ژوندئ نَفس د مرګ څکونکی دی.

نو موږ ته د سیرة النبي ﷺ د دغه ځای په ويلو او اورېدلو سره دوه حقیقته را معلوم سوه چې دغه دوه حقیقته یوازې دا نه چې د ایمان اساس او ريښې دي، بلکه د کون حقیقت هم دغه دوه شیه دي چې یو يې د الله جل جلاله وحدانیت دی او بل دغه الله جل جلاله لره د ټول کون او کائناتو عبودیت او بندګي ده، هیڅوک د ځان اختیار نه لري.

*(اوس به بیرته خپلې قصې ته ولاړسو)*

حضرت عائشه رضي الله عنها وايي: ما زما د ناپوهۍ په سبب د رسول الله ﷺ سر چې زما پر ځیګر پروت وُ پر بالښت کېښاوه او ما په چغو، نارو او د ځان په وهلو شروع وکړه،

(c) ketabton.com: The Digital Library

که څه هم چغې او د ځان وهل حرام دي خو ما پر دغه لوی غم او مصيبت صبر نه سوای کولای، هر څه را څخه هېر او را څخه ورک وه.

ورونو او خويندو! کوم غم او کوم مصيبت به د رسول الله ﷺ تر وفات لوی او عظيم وي؟ د رسول الله ﷺ په وفات آسماني او الهي وحې قطعه سوې. د رسول الله ﷺ په رحلت د ځمکي او آسمان هغه تعلق چې د (إقرأ) د نزول په ورځ په غار حراء کي راغلی ؤ قطعه سو، که يو چا ته غم او مصيبت پېښ سي هغه د اسلام او مسلمانانو غم او مصيبت دې ورپه ياد کړي چې د رسول الله ﷺ په رحلت سره ورته پېښ ؤ، د آسمان د خَبَر او وحيو قطعه کېدل دي ورپه يادکړي، تر دې به لوی غم څه شي؟ څنګه؟ او چيري وي؟

کله چې حضرت عائشې ﷺ ژړل ازواج مطهرات او نوري ښځي هم را ټولي سوې، هغو هم چغې، ناري او ژړاوي شروع کړې، حضرت فاطمې ﷺ به ويل:

{يا أبتاه! أجابَ ربًا دعاه، يا أبتاه! مِن جنّة الفردوس مأواه، يا أبتاه! إلى جبريل ننعاه}

دغه د ښځو آوازونه دباندي مسجد ته ورسېدل او خلک سره را ټول سوه، په خلکو کي د رسول الله ﷺ د رحلت خبر نشرېدی، څوک يې مني او څوک يې نه مني، د رسول الله ﷺ اکا حضرت عبّاس ﷺ خبرسو او خلکو ته يې دغه درد ناکه خبر وايه چې رسول الله ﷺ رحلت وکړی، ټول خلک په غم او پرېشاني سره داسي ژړې چې چا يې مثل نه دی ليدلی، ځيني خلک په ګوښه ځای پسي ګرځي چې هلته کښيني او په زوره زوره وژاړي، څوک په مسجد کي ناست دي سر په چپلاخو وهي او ژاړي، خلک په داسي غمجن او پرېشانه حال کي دي چې تعبير يې نه سي کېدلای.

هلته حضرت عمر فاروق ﷺ ته خبر ورسېدی او په تلوار راغلی، اجازه يې وغوښتل او د رسول الله ﷺ کور ته ورغلی، رسول الله ﷺ يې پر دغه حال وليدی او وې ويل: مړ نه دی بلکه بېهوښه دی، لکه څرنګه چې موسى عليه السلام هغه وخت بېهوښه سو چې د الله جل جلاله تجلّى پر هغه غره ښکاره سوه او بيا بيرته پر هوښ راغلی.

حضرت عمر ﷺ د رسول الله ﷺ له کوره را ووتی او په داسي حال کي مسجد ته ورغلی چې عقل او حواس يې بايللي وه، منبر ته وختی د خلکو په تهديد او بېرولو

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې شروع وکړه، ويل: ځيني منافقان دا ګمان کوي چې رسول الله ﷺ وفات سو. حال دا چې رسول الله ﷺ نه دی وفات سوی بلکه خپل رب ته ولاړی. لکه موسٰی بن عِمران چې تللی ؤ او څلوېښت شپې له خپله قومه غائب ؤ او پسله هغه خپل قوم ته په داسي حال کي راغلی چې هغو به ويل: موسٰی ﷺ وفات سوی دی.

په والله رسول الله ﷺ به راسي او د هغو کسانو پښې او لاسونه به ور پرې کړي چې وايي: رسول الله ﷺ وفات سو، نوکه چا و ويل: چې رسول الله ﷺ وفات سو غاړه به يې ور پرې کړم او هغه سړئ منافق دی، بلکه رسول الله ﷺ بېهوښه سوی دی او د خپل رب ملاقات ته تللی دی، هغه کسان چې هغو هم له دغه لويه مصيبته انکار کاوه پر راټول دي او دغه د ده ﷺ خبري ور تائيدوی، خلک دوو ډلو ته وېشل سوي دي: څوک د دغه لوی مصيبت خبر مني او څوک يې نه مني.

ابوبکر الصدِّيق ﷺ ته چې د رسول الله ﷺ په اجازه سُنح ته تللی ؤ نفر ولېږل سو، هغه هم په ډېر تلوار پر يوه غاتره سپور راغلی او مسجد ته ور ننوتی، خلک يې وليدل چې هر طرف ته سره پاشلي دي او ژاړي، حضرت عمر ﷺ په لوړ آواز خبري کوي او خلک په داسي حال کي دي چې نه پوهيږي چې څه پېښه ده، آيا واقعاً رسول الله ﷺ وفات سوی دی؟ آيا واقعاً وحيِ قطعه سوې؟ آيا د مسلمانانو د خپل حبيب او محبوب سره دغه آخري ملاقات ؤ؟ ټول خلک په غم او پرېشاني کي دي.

ابوبکر الصدِّيق ﷺ دغو خلکو او هغه د دوی پرېشانه حال ته نه سو متوجه سمدستي د خپلي لور حضرت عائشې ﷺ کورته ورغلی، وې ليدل چې رسول الله ﷺ پر بستر پروت دی او مخ يې پټ دی، مستقيمًا د رسول الله ﷺ طرف ته ورغلی او مخ يې ور لڅ کړی، پوه سو چې سردار کونين، رحمةٌ للعالمين، د الله او بندګانو په منځ کي واسطه، د دې دنيا څخه رحلت کړی دی، نو يې د دوو سترګو په منځ کي مچ کړی او وې ويل: { طِبتَ حَيّاً وَ مَيِّتاً يا رَسولَ الله! } او ويل: زما مور او پلار دي تر تا قربان وي يا رسولَ الله! هغه مرګ چې الله ﷻ تا ته ليکلی ؤ د هغه څکه دي وکړه او پسله دغه بيا همېشه ژوندی يې. بيا يې د دوهم وار دپاره رسول الله ﷺ د دوو سترګو په منځ کي مچ کړی او مخ يې ور پټ کړی، ابوبکر الصدِّيق ﷺ مسجد او

(c) ketabton.com: The Digital Library

خلکو ته را ووتی د منبر طرف ته ورغلی، حضرت عمر رضي الله عنه پر منبر ولاړ دی او په لوړ آواز خبري کوي، ابوبکر الصدیق رضي الله عنه ورته وویل: علی رسلک یا عمر!

عمر رضي الله عنه خپلو خبرو ته دوام ورکړی دی او ده رضي الله عنه ته یې جواب ور نه کړی، ابوبکرالصدیق رضي الله عنه بیا ورته و ویل: علی رسلک یا عمر! عمر رضي الله عنه د هغه لوی او شدید مصیبت په سبب په ځان نه پوهیږي، نه څه ویني نه څه اوري، بیا یې هم ده رضي الله عنه ته جواب ورنه کړی، دلته نو ابوبکر الصدیق رضي الله عنه په خبرو شروع وکړه او خلک پر ابوبکر الصدیق رضي الله عنه را ټول سوه، ابوبکر رضي الله عنه پسله حمد او ثناء پسله درووده پر خیرالبشر ﷺ و ویل: اې خلکو! که چا د محمد ﷺ عبادت کاوه د هغه معبود وفات سو او که چا د الله جل جلاله عبادت کاوه الله جل جلاله حَی دی لا یموت، بقاء یوازي او یوازي الله جل جلاله لره ده.

او بیا یې د الله جل جلاله هغه قول تلاوت کړی چي فرمایي:

﴿وَمَا مُحَمَّدٌ إِلَّا رَسُولٌ قَدْ خَلَتْ مِن قَبْلِهِ ٱلرُّسُلُ ۚ أَفَإِيْن مَّاتَ أَوْ قُتِلَ ٱنقَلَبْتُمْ عَلَىٰٓ أَعْقَٰبِكُمْ ۚ وَمَن يَنقَلِبْ عَلَىٰ عَقِبَيْهِ فَلَن يَضُرَّ ٱللَّهَ شَيْـًٔا ۗ وَسَيَجْزِى ٱللَّهُ ٱلشَّٰكِرِينَ﴾ (١٤٤)

[آل عمران: ۱۴۴]

ژباړه: نه دی محمد ﷺ مګر د الله جل جلاله یو رسول دی، په تحقیق تر ده د مخه ډیر رسولان تېر سوي دي، آیا که محمد ﷺ وفات سي یا شهید کړل سي نو تاسي به بیرته خپل کفر ته ورګرځی؟ او هرڅوک چي بیرته خپل کفر ته ور وګرځي نو الله جل جلاله ته به د هیڅ شي تاوان و نه رسوي او قریبه ده چي الله جل جلاله به و شکر کوونکو بندګانو ته د خیر بدله او جزاء ورکړي.

عمر رضي الله عنه ولاړ ؤ، کله چي یې دغه آیات شریف واورېدی ځنګنونه یې کت سوه او پر پښو ولوېدی او ویل: أهذه في كتاب الله؟

آیا دغه آیات شریف په کتابُ الله قرآن مجید کي دی؟ د حضرت عمر رضي الله عنه قرآن مجید په یاد ؤ مګر له ډیره غمه ځني هېر ؤ او ویل: أهذه في كتاب الله؟

عبدالله بن عبّاس رضي الله عنه وایي: په والله تر دغه وخته چي ابوبکر الصدیق رضي الله عنه دغه آیات تلاوتاوه لکه خلک چي په دې نه وه خبر چي الله جل جلاله دغه آیات نازل کړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی، لکه خلکو چې د ده ﷺ څخه زده کړی او په خلکو کې چې هر چا دغه آیات واورېدی هغو به د ځانه سره وایه. سعید بن المسیب رضی الله عنه وایي: چې عمر رضی الله عنه به ویل: په والله کله چې ما دغه آیات د ابوبکر رضی الله عنه څخه واورېدی، ولوېدم زما پښو زه نه سواې تکیه کولای او پوه سوم چې رسول الله ﷺ وفات سو، نو حضرت عمر رضی الله عنه خلکو ته مخ ور واړاوه او ویل: اې خلکو! هو، رسول الله ﷺ وفات سو او غوښتل ېې چې له مسجده ووزي، مګر حضرت ابوبکرالصدّیق رضی الله عنه پسي رغ کړه: یا عمر! رسالت؟

یعني: ته پوهېږې چي اوس زموږ په غاړه کي د رسالت امانت را ولوېدی، هو، رسول الله ﷺ رحلت وکړی، خو د دغه دین ساتنه زموږ پر غاړه ده، تر دې وروسته د دین ساتل او نشرول زموږ وظیفه او مسئولیت دی.

*ورونو! نن ورځ هم دغه مسئولیت زموږ او ستاسي پر غاړه او ذمه پروت دی.*

پر خلکو دغه حال ډېر سخت ؤ هرچیري او هرځای ژړاوي شروع دي، هر یو جلا جلا ژاړي، ځیني صحابهٔ کرام وایي: په داسي ګوښه ځای پسي به ګرځېدو چي هلته کښېنو او ځوک مو نه ویني، چي د خپل حبیب سید الکونین رسول الله ﷺ پر فراق او جدایي د خلکو څخه لیري ځنګه چي مو زړه غواړي په لوړ آواز او فارغه زړه وژاړو.

علي، زبیر، طلحه رضی الله عنهم اجمعین د حضرت فاطمة الزهراء رضی الله عنها په کور کي سره یو ځای سوه چي د رسول الله ﷺ یواځېنۍ او ګراني لور فاطمة الزهراء رضی الله عنها ته په دغه لوی مصیبت او عظیم درد کي د زړه ډاډ او دلاساینه ورکړي، په مدینه منوره کي غم او مصیبت عام دی، ټول خلک که نارینه دي که ښځي، که لویان دي که کوچنیان ټول ژاړي، ټوله مدینه ژاړي، خپل ګران محبوب او رسول الله ﷺ ځني جلا سو. خاصتاً د اصحاب کرامو مشران نه پوهېږي چي څه وکړي؟

د رسول الله ﷺ د رحلت خبر په ټوله مدینه منوره کي نشر دی او ټول اهلِ مدینه په داسي غم اخته دي چي څوک نه پوهېږي چي څه وکړي؟ چیري ولاړ سي؟ او چا ته ورسي؟ هر څه ځني هېر دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د رسول الله ﷺ
## د خليفه د انتخابولو دپاره مشوره

اول هغه څوک چې د دغه غم او مصيبت له بېهوښيه پر هوښ راغله او په ځان پوه سوه دا ور معلومه سوه چې اوس د دوی پرغاړه د رسالت لوی او درووند مسئوليت ور ولوېدی هغه انصار وه، نو يې د بني ساعده په سقيفه کې د اجتماع او مشورې اعلان وکړی چې دغه سقيفه د عمومي مجلسو ځای ؤ، رسول الله ﷺ تر اوسه په خپل کور کې دی نه غسل ورکول سوی دی نه کفن او نه ښخ سوی دی، انصار سره را ټول سوه مشوره کوي چې بايد څه وکړو؟ د رسول الله ﷺ تر رحلت وروسته حل څه دی؟ انصار دلته په سقيفه کې سره يو ځای دي.

خو د انصارو څخه دوه نفره چې يو يې عُوَين بن ساعده رضي الله عنه ؤ او بل يې مَعن بن عَدي رضي الله عنه ؤ سقيفه پرېښوول او مهاجرينو ته ور رهي سول، دوی پر دې وېرېدل چې يوازي انصار بېله حضوره د مهاجرينو کومه فيصله و نه کړي.

ابوبکرالصدّيق رضي الله عنه ته د مخه لا خبر ور رسېدلی ؤ چې انصار د ماځيګر تر لمانځه وروسته د بني ساعده په سقيفه کي د مشورې دپاره سره يو ځای سوي دي، نو هغه څوک چې د ده سره موجود وه چې هغه ابو عبيده عامر بن الجراح او عمر فاروق رضي الله عنهما وه هغوته يې و ويل: راځئ چې خپلو ورونو انصارو ته ورسو.

دغه درې نفره مهاجرين د سقيفه و طرف ته ور رهي سول او د سقيفه له طرفه هغه دوه نفره انصار: عُوَين او مَعن رضي الله عنهما د مهاجرينو طرف ته را رهي دي چې په لار کي سره يو ځای او مخامخ سول.

عُوَين بن ساعده څوک دی؟ کله چې دغه آيات شريف نازل سو.

﴿ فِيهِ رِجَالٌ يُحِبُّونَ أَن يَتَطَهَّرُوا وَاللَّهُ يُحِبُّ الْمُطَّهِّرِينَ ﴿١٠٨﴾ ﴾ [التوبه: ١٠٨]

يعني: په دغه مسجد قُباء کي داسي خلک دی چي دا يې خوښه ده چي خپل ځانونه د ګنهو او نجاستو څخه پاک وساتي او الله جل جلاله پاکي کوونکي خوښ لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



رسول الله ﷺ و فرمایل: چې د هغو خلکو څخه یو هم عُویم بن ساعده دی.

او مَعن بن عدي بیا هغه څوک دی: کله چې دا خبر نشر سو چې رسول الله ﷺ وفات سو ځیني خلکو به ویل: یا رسول الله! کشکي موږ تر تا د مخه وفات سوي وای، مګر مَعن رضي الله عنه ولاړ سو او ویل: زه د ځان دپاره دا نه خوښوم چې تر رسول الله ﷺ دمخه مړ سوی وای، دا د دې دپاره چې پسله رحلته یې هم داسي تصدیق وکړم لکه تر رحلت د مخه چې مي یې تصدیق کاوه او د دغه رسالت دپاره تر رسول الله ﷺ وروسته کار وکړم، دا د دغو دوو نفرو مقام او درجه وه.

نو د انصارو دغه دوه نفره د مهاجرینو د هغو درو نفرو مشرانو سره په لار کي یو ځای سول او ورته وې ویل: تاسي مهاجرین د رسول الله ﷺ وزیران یاست نو هغو کارو ته مه ګورئ چې انصار یې کوي، د کارو فیصله په تاسي پوري تعلق لري او کارونه تاسي فیصله کړئ، دغه دوه نفره انصار، مهاجرین هغه کار ته وربولي او تشویقوي چې هغه کار واقعاً هم د مهاجرینو حق ؤ، که څه هم دغه خبري د دوی د قوم د انصارو پر ضد وې، خو دا هغه د زړه صافوالی، صدق او امانت او حق ته تسلیمېدل وه.

یو انسان که د خپل قوم او اقرباوو څخه جلا کیږي او یوازي یو کار کوي دا صحي ده، خو دا هغه وخت او په هغه ځای کي کېدلای سي چې د ده یقین او عقیده وي چې دغه زما کار حق او صحي لار ده او واقعاً هم هغه کار حق او صحي وي.

ابوبکر الصدّیق رضي الله عنه دغه د دوی خبره نه ومنل او ویل: یا، موږ زموږ د خپلو ورونو انصارو سره یو ځای کیږو غواړو چې خبره مو یوه وي تفرقه او جلا والی نه غواړو، بیا هم د مهاجرینو دغه درې نفره مشران د انصارو د اجتماع ځای ته ورغله.

هلته سعد بن عُباده رضي الله عنه ولاړ سو او په خبرو یې شروع وکړه، د الله جل جلاله تر حمد او ثناء ویلو وروسته یې پر رسول الله ﷺ درود وو وایه او بیا یې وویل:

"یا معشرَ الأنصار! تاسي په دین کي سابقه لرئ او په اسلام کي داسي فضیلت لرئ چې د عربو بله قبیله یې نه لري، رسول الله ﷺ دیارلس کاله په خپل قوم کي و اوسېدئ، چې هغه یې د رحمان جل جلاله عبادت ته را بلل او د بتانو په پرېښوولو یې امر کول مګر د ده له قومه بېله لږو نفرو بل چا ایمان نه راوړئ او دغه لږو نفرو د دې

(c) ketabton.com: The Digital Library

قدرت نه درلودی چي د رسول الله ﷺ څخه آزارونه منعه کړي او نه يې د ده ﷺ دين ته عزت او لوړ والی ورکولای سوای او نه يې د خپلو ځانو دفاع کولای سوای ترڅو چي الله جل جلاله ستاسي د فضيلت إراده وکړه او تاسي ته يې عزت او کرامت را وستی او تاسي يې د اسلام په نعمت خاص کړاست، پر الله جل جلاله او پر رسول الله ﷺ يې ايمان را وړل ستاسي نصيب وګرځاوه، د رسول الله ﷺ او د ده د اصحابو څخه دفاع ستاسي برخه سوه، د رسول الله ﷺ او د ده د دين عزت او د رسول الله ﷺ د دښمنانو سره جهاد ستاسي نصيب سو، تاسي واست چي تر بل چا د ده ﷺ پر دښمنانو شديد واست، ترڅو چي عرب که خوښ وه که ناخوښ د الله جل جلاله د امر تابع سوه او الله جل جلاله ستاسي په واسطه خپل رسول ﷺ ته مځکه تابع کړه، ستاسي په توړو ټول عرب و رسول الله ﷺ ته کښته او تابع سوه او بيا الله جل جلاله خپل رسول ﷺ په داسي حال کي وفات کړی چي دئ ﷺ ستاسي څخه راضي ؤ، په تاسي يې سترګي يخي او روښانه وې، نو د رسول الله ﷺ خلافت بېله ګډون او اشتراکه د نورو خلکو ځان د پاره واخلی، دغه خلافت يوازي ستاسي حق دی".

حضرت عمر فاروق رضي الله عنه وايي: کله چي سعد بن عباده رضي الله عنه خبري کولې ما هم د خپل ځان سره خبري جوړي کړې او دا مي إراده وه چي کله د سعد بن عباده رضي الله عنه خبري خلاصي سي بيا به زه د ده د خبرو په جواب کي خبري وکړم.

کله چي سعد بن عباده رضي الله عنه د خبرو کولو څخه فارغ سو عمر رضي الله عنه ولاړ سو غوښتل يې چي خبري وکړي، ابوبکر الصدّيق رضي الله عنه تر لاس ونيوی او ويل: علىٰ رَسلک يا عمر! يعني: ته تلوار مه کوه، عمر رضي الله عنه وايي: زه کښېنستم او ابوبکر الصدّيق رضي الله عنه ولاړ سو او وې ويل: اې خلکو موږ مهاجرين يو او تر ټولو خلکو په اسلام کي د مخه يو، حسب او نسب مو تر ټولو عزتمن دی، ژوند مو ميانه دی او په خلکو کي مو درجه لوړه ده، نسل مو تر هرچا زيات او په رِحَم کي تر هر چا و رسول الله ﷺ ته نژدې يو، تر تاسي د مخه مسلمانان سوي يو او په قرآن کريم کي تر تاسي د مخه ذکر سوي يو، الله تبارک وتعالىٰ فرمايي:

﴿وَٱلسَّٰبِقُونَ ٱلْأَوَّلُونَ مِنَ ٱلْمُهَٰجِرِينَ وَٱلْأَنصَارِ﴾ [التوبه: ١٠٠]

(c) ketabton.com: The Digital Library



مورږ مهاجرین یو تاسي انصار یاست، په دین کي زموږ ورونه یاست، په فئ او نیمتو کي زموږ شریکان یاست، پر دښمن زموږ مرسته کوونکي یاست. ځای مو را کړی. زموږ غم شریکي مو وکړه، الله جل جلاله دي یې ښه بدله درکړي، موږ آمران یو او تاسي مو وزیران یاست، عرب نه تابع کېږي مګر د قریشو و قبیلې ته. تاسي د خپلو ورونو سره په هغه شي کي چي الله جل جلاله د خپله فضله دوی ته ورکړی دی رقابت او منافسه مه کوی.

حضرت عمر رضي الله عنه وایي: هغه چي زما په نیت کي وه چي زه یې و وایم د هغه څخه داسي شئ نه سو پاته چي ابوبکر رضي الله عنه یې و نه وایي او بیا ابوبکر الصدّیق رضي الله عنه حضرت عمر او ابو عبیده رضي الله عنهما تر لاس ونیول او ویل: ما دغه دوه نفره انتخاب کړي دي هر یو چي ستاسي خوښ وي د هغه سره بیعت وکړی، حضرت عمر رضي الله عنه وایي: د ده په ټولو خبرو کي زما دغه خبره نه سوه خوښه، زه څنګه پر داسي قوم آمریت وکړم چي په هغه قوم کي دي ابوبکر الصدّیق رضي الله عنه موجود وي؟

سعد بن عُباده رضي الله عنه چي خبري کولې په دغه ورځ ناروغه ؤ او پسله خبرو کولو یې په پټو کي ځان وپېچی او دالته په سقیفه کي یې د یوه دېواله و بغل ته څنګ واچاوه.

د ابوبکر الصدّیق رضي الله عنه تر خبرو کولو وروسته حُباب بن منذر رضي الله عنه چي د انصارو څخه ؤ ولاړ سو، پسله حمد او ثناء او درووده یې و ویل: د مسئلې حَل زما سره دی هغه دا چي یو وار دي امیر زموږ له طرفه وي او بل وار ستاسي، یعني: خلافت به په نوبت کړو.

خو دلته غالمغال شروع سو هر یو خپل فکر او نظر بیانوي، خبري ګډي وډي سوې او له هره طرفه آوازونه را پورته سوه، یو د بل خبري نه سره اوري او نه پوهېږي چي څه وکړي، په دغه وخت کي حضرت عمر رضي الله عنه ودرېدی او په لوړ آواز یې و ویل: اې خلکو! دا ابوبکر الصدّیق دی، د رسول الله ﷺ هغه ملګری دی چي دوی په غار کي وه، الله جل جلاله په قران کریم کي ذکر کړی دی او رسول الله ﷺ په ده راضي ؤ چي ستاسي د لمانځه امام وي، ستاسي څخه یو څوک په دې راضي دی چي په لمانځه کي دي د ابوبکر الصدّیق امام سي؟ یعني: هر څوک چي ځان د دغه کار لائق بولي را د مخه دي سي، هیڅوک نه سو ولاړ او نه چا څه و ویل، ټول چپ دي او ګوري، نو حضرت عمر رضي الله عنه و ویل: یا ابا بکر! لاس دي راکړه چي بیعت درسره وکړم،

ابوبکر الصدّیق رضی الله عنه هم لاس ور اوږد کړی.

دا ولې؟ آیا حضرت ابوبکرالصدیق رضی الله عنه د خلافت په شوق ؤ چې لاس یې ور کړی؟ یا، څرنګه چې ده رضی الله عنه د قوم اختلاف ولیدی، د دغه اختلاف د لیرې کولو او له منځه وړلو دپاره یې دا کار وکړی، په دغسې نازکو او باریکو وختو کې بېله فورې او قطعې فیصلې بله چاره نسته.

کله چې ابوبکرالصدّیق رضی الله عنه د بیعت کولو دپاره لاس ور وغځاوه، د مخه تردې چې حضرت عمر رضی الله عنه بیعت ورسره وکړي، د انصارو څخه یو نفر چې بشیر بن سعد رضی الله عنه نومېدی ور وغورځېدی د ابوبکر الصدّیق رضی الله عنه لاس یې ونیوی او بیعت یې وکړی، دغه سړئ که څه هم د انصارو څخه ؤ خو دا یې غوښتل چې اول هغه څوک سي چې بیعت کوي او په بیعت کولو کې اول نفر هم سو.

بیا عمر رضی الله عنه بیعت وکړی او خلکو په بیعت کولو شروع وکړه، سعد بن عُباده رضی الله عنه چې مریض او پروت ؤ د خلکو د ډېر والي او ازدحام په سبب تر پښو لاندې کېدی او خلک پر ختل، نو د بني ساعده د سقیفې د مشورو او بحثو انتهاء او فیصله د ابوبکر الصدّیق رضی الله عنه سره پر بیعت کولو وسوه، دغه بیعت د رسول الله ﷺ د رحلت په ورځ چې د دوشنبې ورځ وه وسوا و رسول الله ﷺ تر اوسه په کور کې دی.

سبا ورځ چې د سه شنبې ورځ وه او خلک د ماپښین د لمانځه دپاره سره یو ځای سوه، ابوبکر الصدّیق رضی الله عنه إراده وکړه چې منبر ته وخېژي، حضرت عمر رضی الله عنه و ویل: لږ انتظار وکړه یا ابا بکر! او په خپله عمر رضی الله عنه منبر ته وختی او وې ویل: هغه خبره چې ما پرون کول چې رسول الله ﷺ نه دی وفات سوی هغه د شیطان له طرفه ښوېدل وه (یعني: زه هغه خپله خبره بیرته اخلم هغه خطاء وه) او بل ستاسي د شورا خلکو ستاسي د نبي د خلافت دپاره د هغه پر هغه صاحب او ملګري اتفاق وکړی چې د ده ﷺ سره په غار کې ملګری ؤ، نو ولاړ سی او بیعت ورسره وکړی، خلک هم ور ولاړ سوه او د ابوبکرالصدّیق رضی الله عنه سره پر بیعت کولو ازدحام، ګڼه ګونه او رش جوړ سو، هر یو غواړي چې تر هغه بل د مخه بیعت وکړي، کله چې بیعت پای ته ورسېدی او ټولو خلکو بیعت ورسره وکړی، ابوبکرالصدّیق رضی الله عنه منبر ته وختی د الله جل جلاله حمد او ثناء یې

(c) ketabton.com: The Digital Library


و ویل او پسله درووده پر رسول الله ﷺ یې و ویل: امابعد: اې خلکو! زه پر تاسي آمر وګرځول سوم او تر تاسي بهتر نه یم (اصلاً دغه جمله د ده ﷺ له طرفه تواضع وه) که نه دئ ﷺ د رسول الله ﷺ په شاهدي پسله انبیاء علیهم السلام څخه تر ټولو انسانانو ښه او بهتر دی، رسول الله ﷺ فرمایي: پسله انبیاوو تر ابوبکر ښه او بهتر پر مځکه نه دی ګرځېدلی، نو د کومه وخته څخه چي الله جل جلاله بشر پیدا کړی دی بیا د قیامت تر ورځي پوري بېله انبیاء علیهم السلام څخه تر ابوبکر الصدّیق ﷺ بل د لوړي درجې خاوند نسته.

اوس ابوبکر الصدّیق ﷺ خپله (خط مشیه) یا د خپل حکم طرز او طریقه بیانوي چي زما حکم به څنګه او څه ډول وي، نو یې و ویل: ښه متوجه سی!

ویل: که مې ښه کول مرسته مې کوی او که مې مخالف یا کوږ کار کاوه تاسي مې پر لار برابروی. (د دې څخه دا معلومه سوه چي آمر ته باید نصیحت وسي).

رشتیا ویل امانت دی او درواغ ویل خیانت دی، یعني: هیڅ وخت به د یوې موضوع په باره کي خلاف درته و نه وایم، بلکه صادق او صریح به یم، په معلوماتو او اخبارو کي به اړول او مخالفت نه وي، نو ځکه یې و ویل:

{اَلصِّدقُ أمانةٌ والکِذبُ خیانةٌ}

ورونو! د حکم کولو قانون هم دغه دی، هر حاکم باید د خپل ملت سره صادق وي، نه لکه د نن ورځي ځیني حاکمان چي د ملت سره سراسر په درواغو او خطایستلو ژوند کوي، هر آمر چي خپل ملت ته درواغ وایي هغه خائن دی.

او ویل: ستاسي ضعیف زما په حضور کي قوي دی ترڅو چي حق یې ور اخلم إن شاء الله او ستاسي قوي زما په حضور کي ضعیفه دی ترڅو چي د ده څخه حق اخلم ان شاء الله. او هر قوم چي في سبیل الله جهاد پرېږدي هغه قوم ته الله جل جلاله ذلت او خواري را ولي، یعني: جهاد ته دوام ورکوم او نه یې پرېږدم.

او په هیڅ قوم کي فواحش نه دي نشر سوي مګر الله جل جلاله پر هغه قوم عام آفت نازل کړی دی، یعني: فحشاء ته به هیڅکله اجازه ور نه کړم، د فحشاء په باره کي به هیڅ نرمي و نه کړم.

او ویل: ترڅو چي د الله او رسول الله اطاعت کوم زما اطاعت کوی او که ما د الله

(c) ketabton.com: The Digital Library

او رسول الله ﷺ نا فرماني وکړه، بيا نو زما اطاعت پر تاسي نه دی لازم او په آخر کي يې وويل، خپل لمانځه ته موولاړ سی يَرحَمُکُمُ الله.

*دا د ابوبکر الصدّيق رضي الله عنه د خلافت د دورې اولنی مختصره او جامعه خطبه ود. او خلکو د ماپښين لمونځ آداء کړی.*

## د رسول الله ﷺ
## د مبارک جسد تجهيز

دغه ورځ چي د هجرت د يوولسم کال د ربيع الأول د مياشتي ديارلسمه او د سه شنبې ورځ وه، رسول الله ﷺ د پرون څخه په خپل کور کي دی او خلک نه پوهيږي چي د هغه په باره کي څه وکړي؟

خو په دغه ورځ د رسول الله ﷺ اهل بيت د ده ﷺ د غسل او ښخولو نيت او إراده وکړه، نو علي بن أبي طالب، عبّاس بن عبدالمطلب، فضل بن عبّاس، قُثم بن عبّاس، اسامه بن زيد، شقران مولى رسولِ الله ﷺ، سره يو ځای سوه چي رسول الله ﷺ ته غسل ورکړي.

دا خبر د رسول الله ﷺ د اصحابو څخه يوه نفر ته ورسېدی چي د انصارو او اهل بدره څخه ؤ او أوس بن خُولي نومېدی، دغه أوس رضي الله عنه ورغلی او اجازه يې وغوښتل، علي رضي الله عنه ورته را ووتی، أوس رضي الله عنه وويل: يا علي! د الله دپاره او په هغه صحبت چي زه يې د رسول الله ﷺ سره لرم او په سبب د هغه حصې چي موږ انصار يې د رسول الله ﷺ څخه لرو اجازه راکړه چي د رسول الله ﷺ په غسل کي مرسته در سره وکړم، نو أوس بن خولي چي د انصارو څخه ؤ هغه هم د رسول الله ﷺ په غسل ورکولو کي حصه واخيستل، اوس دوی غواړي چي رسول الله ﷺ ته غسل ورکړي مګر نه پوهيږي چي ځنګه وکړي؟ آيا کالي ځني وکاږي؟ لکه د نورو خلکو سره چي دا کار کيږي، او که د خپلو کالو سره غسل ورکړي؟ چي دا کار بيا هغه د غسل له عادته څخه مخالف ؤ، ډير متحير او په فکر کي سوه، دوی کښېنستل نه پوهيږي چي څه وکړي؟ په دغه وخت کي پر ټولو د خوب يوه پرېشاني يا هېنمه راغله او ټول بيده سوه، دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خوب په وخت کې يې د کور له طرفه يو آواز واورېدی چې ويل: رسول الله ﷺ ته د خپلو کالو سره غسل ورکړی، دوی را وېښ سوه او هر يو هغه بل ته وايي: دغه آواز دي واورېدی؟ ويل: هو.

دا د الله جل جلاله له طرفه هاتفي آواز ؤ چې دوی ته يې دغه د حيرت په حال کې لار ښوونه وکړه، نو يې رسول الله ﷺ ته د خپلو کالو سره غسل ورکړی.

عبّاس رضي الله عنه او د ده دوو زامنو فضل او قُثم د رسول الله ﷺ مبارک جسد پرله اړاوه، اُسامه او شقران اوبه ور تويولې، علي رضي الله عنه پرېولی، أوس بن خولي رضي الله عنه خپل ځيګر ته تکيه کړی ؤ، رسول الله ﷺ ته غسل ورکول سو، بيا په درو سپينو ټوکرانو کفن ورکړه سو، پسله غسله او کفن ورکولو خلکو ته د جنازې د لمانځه د آداء کولو اجازه ورکړل سوه چې پر رسول الله ﷺ د جنازې لمونځ آداء کړي.

لس لس نفره مبارکي حجرې ته ور داخلېدل او لمونځ يې آداء کاوه، دغه لمونځ په جَمعَه يا د يو چا په امامت نه ؤ بلکه هر يوه جلا جلا لمونځ کاوه، اول د رسول الله ﷺ اهل بيت يا کورنۍ لمونځ آداء کړی، بيا مهاجرينو او بيا انصارو لمونځ آداء کړی، تر نارينه وو وروسته ښځو په دغه طريقه سره يعني: بېله امامه او بېله جماعته په انفرادي شکل سره لمونځ آداء کړی او بيا هلکانو لمونځ آداء کړی، دغه د جنازې د لمانځه په آداء کولو کي د سه شنبې ورځ ټوله تېره سوه او د چارشنبې شپه داخله سوه.

*(مورږ او تاسي چې دغه د جنازې لمونځ نه دی آداء کړی نو به درود ووايو)*

## د رسول الله ﷺ دپاره د قبر کَندل

اوس بيا د رسول الله ﷺ اهل بيت په فکر کي سوه چې جسد مبارک چيري ښخ کړي؟ آيا په مسجد کي يې ښخ کړي؟ د حضرت عائشې رضي الله عنها په کور کي پر هغه ځای يې ښخ کړي چې هلته وفات سوی دی؟ او که يې په بُقيع کي چې د مسلمانانو عامه هديره ده ښخ کړي؟ دلته هم په حيرت او فکر کي سوه، نو يې حضرت ابوبکر الصدّيق رضي الله عنه ته نفر ولېږی چې مشوره ور سره وکړي چې څه وکو؟ ابوبکر الصدّيق رضي الله عنه وويل: ما د رسول الله ﷺ څخه اورېدلي دي چې موږ انبياء هلته ښخيږو چيري چې

(c) Ketabton.com: The Digital Library

مو روح قبض کړل سي، يعني: د ښخېدلو ځای مو هغه د روح د قبض کېدلو ځای دی، د ابوبکرالصدّيق رضی الله عنه له طرفه دغه امر او مشوره ورته راغله، دوی هم د دې آمادګي ونيول چې د حضرت عائشې رضی الله عنها په خونه او پر هغه ځای چې د رسول الله ﷺ بستر آوار ؤ قبر وکني.

مګر اوس بيا نه پوهېږي چې قبر څنګه وکني؟ ځکه هلته په مدينه منوره کې قبرونه پر دوه قسمه کندل کېدل، مهاجرينو به لحده قبرونه کِندل او انصارو بيا قبر ته لحد ورکاوه. (لَحَد) څه شي دی؟

لحد: هغه په قبر کې کښته د قبلې و طرف ته هغه بل کِندل سوي ځای ته لحد ويل کېږي، چې د مړي جسد په هغه لحد کې ايښوول کېږي او بيا خښتې ورته درول کېږي، اوس اهل بيت کرام نه پوهېږي چې د رسول الله ﷺ دپاره بې لحده قبر وکني او که د لحد قبر جوړ کړي؟

د مهاجرينو د قبرو دکندلو مسئول ابو عبيده رضی الله عنه ؤ او د انصارو د قبرو د کندلو مسئول ابو طلحه رضی الله عنه ؤ، عبّاس رضی الله عنه يو نفر ابو عبيده رضی الله عنه ته ولېږی او يو نفر يې ابو طلحه رضی الله عنه ته ولېږی او ويل: الٰهي ته يې ستا د نبي دپاره اختيار کړه، هر يو چې د مخه را غلی د هغه پر ډول به قبر وکِنو، خو اول ابو طلحه رضی الله عنه را ورسېدی د قبر په کِندلو يې شروع وکړه او د لحد قبر يې جوړ کړی، دا کار د چارشنبې په شپه کې وسو، حضرت عائشه رضی الله عنها وايي: موږ د رسول الله ﷺ په ښخېدلو نه سوو خبر مګر د کُلنګانو په آوازو، د چارشنبې په شپه مو په نيمه شپه کې د کِندلو آوازونه واورېدل، نو د سه شنبې ورځ تېره سوه او د چارشنبې په شپه، په شپه کې کندل شروع سوه او قبر جوړ سو، بيا نو علي، فضل، قُثَم، شقران رضی الله عنهم اجمعين قبر ته ورکښته سول او رسول الله ﷺ يې قبر ته ور داخل کړی، مغيره بن شعبه رضی الله عنه د رسول الله ﷺ محافظ هم دغه د دفن يا ښخولو په کار کې ګډون او اشتراک ور سره کړی ؤ، کله چې خلک له قبره را پورته سوه غوارې چې اوس خاورې ور واچوي، مغيره رضی الله عنه خپله انګشتری کښلې وه او قصداً يې په قبر کې پرې ايښې وه، نو ويل: لږ صبر وکړی زما انګشتری په قبر کې لوېدلې ده غواړم چې را وايې خلم، ويل: ورکښته سه، مغيره رضی الله عنه قبر ته ورکښته سو، اول يې د رسول الله ﷺ

(c) ketabton.com: The Digital Library



مبارک جسد په غیږ کې ونیوی او مخ یې کړی، بیا یې خپله انګشتری را واخیستل.
مغیرهﷺ وایي: له دې کاره زما مقصد دا ؤ چې زه هغه آخري څوک سم چې د رسول اللهﷺ مبارک جسد مې مسحه کړی ږي او آخري نفر سم چې د رسول اللهﷺ سره مې وداع کړې وي، دا د اصحاب کرامو هغه ډیر حُب او محبت ؤ چې د خپل حبیب او محبوب رسولُ الله صلواتُ الله علیه وسلامه سره یې درلودی.

اوس چې د ښخېدلو وخت سو ټول اصحاب کرام وایي: پر رسول اللهﷺ څنګه خاوري واچوو؟ موږ دا کار نه سو کولای دا کار ډیر سخت او مشکل دی چې موږ دې پر رسول اللهﷺ خاوري ور واړوو، خو د رسول اللهﷺ هغه حدیث شریف یې ور په یاد سو چې دوی ته یې فرمایلي وه: زما ژوند ستاسي دپاره خیر دی او زما وفات ستاسي دپاره خیر دی، ژوند مې په دې سبب ستاسي دپاره خیر دی چې سمه لار درښیم او وفات مې په دې سبب ستاسي دپاره خیر دی چې هره پنجشنبې ستاسي عملونه ما ته وړاندي کیږي، که مو په عملو کي خیر او ښه کارونه وه د اللهﷻ حمد ووایم او که شر یا بد کارونه وه ستاسي دپاره د اللهﷻ څخه بخښنه غواړم، صحابهٔ کرامو وویل: یا رسولَ الله! آیا پسله هغه چې ته وفات سې موږ پیژنې؟ رسول اللهﷺ و فرمایل: زه تاسي ستاسي په نومو او نسب سره پیژنم، د قیامت تر ورځې تاسي هر یو جلا جلا پیژنم، صحابهٔ کرامو وویل: ته څنګه موږ ته دعاء کوې ستا جسم به خاوري سوی وي، رسول اللهﷺ و فرمایل: اللهﷻ د انبیاءعلیهم السلام جسد پر مځکه حرام کړی دی، یعني مځکه یې نه خرابوي، نو یې د دغه حدیث شریف په یادولو سره د رسول اللهﷺ پر مبارک جسد خاوري واچولې، رسول اللهﷺ د شپې د حضرت عائشېرضی الله عنها په کور او خونه کي د هغه خپل بستر پر ځای ښخ کړل سو.

حضرت علي﷛ خپل کور ته ولاړی چې هلته فاطمة الزهراءرضی الله عنها د رسول اللهﷺ یواځنۍ لور او اولاد ډیر شدید ژړل او ویل یې: یا علي! ستاسي زړو څنګه قبلول چې پر رسول اللهﷺ خاوري واچوی؟ دا مو څنګه په وسه پوره سوه چې پر رسول اللهﷺ خاوري ور واړوی؟

انس بن مالک﷛ وایي: د دوشنبې په ورځ رسول اللهﷺ مدینې منورې ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

راغلی او هر شئ په روښانه سو او د دوشنبې په ورځ رسول الله ﷺ په مدینه منوره کې رحلت وکړی او هر شئ تاریک سو، اوس نو په مدینه منوره کې حالات څنګه وه؟

صحابهٔ کرامو یو د بل سره خبري نه کولې او وایي: موږ خپلو کورو ته په داسې حال کې ولاړو چې مځکې تغیر کړی ؤ، د خپلو ښځو سره مو خبري نه کولې، هر یو په خپل بستر کې ناست یو او ژاړو، خوب او خوړل نسته، موږ یو او ژړا، د ځانو سره وایو زموږ محبوب رسول الله ﷺ چیري دی؟

*مګر مرګ حق دی ټول انسانان نه بلکه ټول موجودات به دغه پیاله نوشوي.*

**دغه شپه تېره سوه د سپېدو د چاودلو سره د سهار د آذان وخت سو، حضرت بلال ﷺ راغلی غواړي چې آذان وکړي خو په آذان کې چې دغي جملې ته ورسېدی: أشهد أنّ محمّداً رسولُ الله، د ډیري ژړا څخه یې نه سي پوره کولای، هرڅه کوښښ یې وکړی چې دغه د شهادت کلمه و وایي، خو ژړا د دغي کلمې د پوره کولو وخت نه ورکوي، دا هغه کلمه وه چې د رسول الله ﷺ په حضور او وجود کې به یې ویل او اوس یې هغه محبوب نسته، نو ابوبکر الصدّیق ﷺ ته ورغلی او د هغه څخه یې د آذان کولو یا مؤذنی معافي وغوښتل چې زه اوس دغه کار نه سم کولای.**

ورونو! د رسول الله ﷺ د رحلت او وفات، غم او مصیبت داسې لوی او عظیم مصیبت دی چې بل هیڅ غم نه سي ور سره برابرېدلای، په دغه رحلت آسماني وحي قطعه سوې، رسول الله ﷺ هغه مبارک ذات ؤ چې د مځکې او آسمانو د مالک او خالق، الله ﷻ حال یې را ته وایه، رسول الله ﷺ هغه ذات ؤ چې د الله ﷻ اوامر یې د الله ﷻ تر بندګانو پوري رسول، دا کوچنۍ مسئله نه ده، لږ ژور او عمیق فکر غواړي، هغه اوامر چې رسول الله ﷺ راته بیانول د یوه حاکم یا پاچا امرونه نه وه، بلکه د الله ﷻ خالق الکون والکائنات زموږ د رب ﷻ اوامر وه.

د رسول الله ﷺ سره د ده د اصحاب کرامو حب او محبت فقط په دغه مکان او په دغه زمان پوري نه ؤ خاص، بلکه دغه حب او محبت ابدي او دائمي ؤ، پسله ډیرو کلو د هغه نه هېرېدونکي حبیب ﷺ سره د دوی حُب او محبت پر هغه حال پاته او باقي ؤ، د مثال پر قسم دغي یوې قصې ته متوجه سی:

(c) ketabton.com: The Digital Library



څرنګه چې د رسول الله ﷺ تر رحلت وروسته بیا هم جهاد دوام درلودی او ډیري فتحې وسوې، مسلمانانو د حضرت عمر فاروق رضی الله عنه په خلافت کي شام او بیت المقدس فتحه کړه او هلته د مسلمانانو هغه څلور لوی لښکري سره یو ځای سوې، کومي چې حضرت عمر رضی الله عنه د شام د فتحه کولو دپاره لېږلي وې، قصه داسي وه:

د شام ټولي منطقې فتحه سوې مګر د بیت المقدس نصاراوو و ویل: موږ قدس شریف بېله آمره د مسلمانانو بل چاته نه تسلیموو، نو حضرت عمر رضی الله عنه د بیت المقدس د تسلیمېدلو دپاره د مدینې منورې څخه بیت المقدس ته ورغلی او هغه یې فتحه کړی او بیا یې امر وکړی چې د مسلمانانو هغه لښکري چې شا وخوا په شام کي نشر سوي دي ټولي دي سره یو ځای سي او زه به هم هلته ورسم، نو د مسلمانانو ټولي لښکري: د خالد بن ولید رضی الله عنه لښکر چې په وروسته کي یې آمریت ابو عبیده رضی الله عنه ته ورکړل سو، د شرحبیل رضی الله عنه لښکر، د عَمرو بن العاص رضی الله عنه لښکر او نوري ټولي لښکري د جولان په منطقه کي په الجادیه کي سره یو ځای سوې، دا هغه وخت ؤ چې الله جل جلاله د کفارو شان او شوکت، دبدبه او هیبت ور مات کړي وه، مسلمانان پر فارس او روم کامیابه سوي وه، د هغه وخت د دنیا لوی لوی قوتو د مسلمانانو په مقابل کي شکست خوړلی ؤ، د کفارو ډیر ښارونه مسلمانانو فتحه کړي وه، نو دغه د الجادیې یا جولان اجتماع یا ټولنه د اسلام او مسلمانانو د عزت علامه وه، د اصحاب کرامو مشران پسله هغه چې څو کاله د جهاد دپاره سره پاشلي او یو له بله لیري وه، د اول وار دپاره په دغه اجتماع کي سره یو ځای سوه، نو اصحاب کرامو وویل: یا امیرَ المؤمنین! دا ورځ ډیره لویه ورځ ده، د اسلام د فتحې او کامیابۍ ورځ ده، د حضرت بلال رضی الله عنه څخه وغواړه چې آذان وکړي، حضرت بلال رضی الله عنه د رسول الله ﷺ تر رحلت وروسته بیا آذان نه ؤ کړی، نو صحابهٔ کرامو و ویل: دغه ورځ لویه او شانداره ورځ ده غواړو چې بلال رضی الله عنه آذان وکړي، داهم د الله جل جلاله د عزت د اظهار دپاره چې موږ مسلمانان یې پر دغه مځکه کامیابه کړو، حضرت عمر فاروق رضی الله عنه هم حضرت بلال رضی الله عنه ته ورغلی او ویل: یَا بلال! نَاشَدتُکَ اللهَ اَن تُأَذِّنَ فِي هذا الیوم. {ناشدتُکَ الله} په عربي کي داسي جمله ده لکه موږ چي په پښتو کي وایو: د خدای روی مي در وړی دی، نو حضرت عمر رضی الله عنه ورته

(c) ketabton.com: The Digital Library

وويل: يا بلال! د الله په روی نن په دغه لويه او شانداره ورځ کي آذان وکړه. حضرت بلال رضي الله عنه هم موافق سو ويل: هو، نو د رسول الله ﷺ تر رحلت وروسته دا اول وار دی چي حضرت بلال رضي الله عنه آذان کوي، بلال رضي الله عنه و درېدی او په آذان يې شروع وکړه:
الله اکبر الله اکبر، الله اکبر الله اکبر، أشهد أن لا إله إلاّ الله، أشهد أن لا إله إلاّ الله.
کله چي دې کلمې ته ورسېدی (أشهد أنّ محمّداً رسول الله) بلال رضي الله عنه و ژړل او ټولو خلکو ورسره ژړل، د دې ژړا سبب د رسول الله ﷺ يادېدل وه، د هغه ﷺ هغه پاک سيرة او خويونه وه، د رسول الله ﷺ جهاد او اخلاقو و ژړول، هغه عظمت او هغه محبت چي د أعظم البشر او خير البشر ﷺ په اخلاقو کي پروت ؤ هغه و ژړول، ټولو خلکو ژړل او د رسول الله ﷺ مؤذن، بلال رضي الله عنه خو داسي شديد ژړل چي آذان يې نه سوای پوره کولای او پوره يې هم نه کړی، دا د هغه حُب او محبت په سبب وه چي بلال رضي الله عنه او اصحاب کرامو د خپل محبوب رسول الله ﷺ سره درلودی.

وروڼو! که تاسي غواړی چي د رسول الله ﷺ سره په جنت کي يو ځای سی؟ که يې د مجلس او ملاقات شوق لری؟ نو يوه اندازه د دنيا شوق پرېږدی او د رسول الله ﷺ محبت اختيار کړی، د هغه ﷺ د رسالت د رسولو په فکر کي سی، موږ او تاسي دغه پاک سيرت د دې دپاره ولوستی چي حقه لار پيدا کړو او پر هغه رهي سو، د مځکي د اصلاح لار او حقه لار دغه ده چي د رسول الله ﷺ متابعت وکړی، که څه هم په ډير ګران قيمت درته تماميږي، ته بايد و وايې: دنيا څه شي ده، زه جنت غواړم، زه د رسول الله ﷺ ملاقات او مجلس غواړم، موږ بايد د رسول الله ﷺ سره محبت ولرو، د الله جل جلاله څخه سوال او غوښتنه کوم چي د سرور کائنات سيد الکونين رسول الله ﷺ متابعت زموږ په نصيب کړي، د رسول الله ﷺ حُب او محبت ته زموږ په زړو کي ځای ورکړي او د الله جل جلاله څخه غواړم چي د خپل محبوب رسول الله ﷺ سره مو پر حوض کوثر او په فردوس اعلیٰ کي يو ځای کړي او الله جل جلاله دا توفيق راکړي چي د رسول الله ﷺ د رسالت د رسولو محترمه وظيفه پر غاړه واخلو.

وروڼو! د رسول الله ﷺ سيرة تاريخي معلومات نه دي، قصه نه ده، د زړه تسلّي او د وخت تېرېدل نه دي، بلکه د رسول الله ﷺ سيرة پند او نصيحت دی، دين او

(c) ketabton.com: The Digital Library


شریعت دی، وعظ او عبرت دی. زموږ مسلمانانو دپاره درس او لار ښوونه ده چې موږ باید په خپل پېشوا پسې اقتداء وکړو، او د هغه ﷺ متابعت وکړو الله جل جلاله فرمايي:

﴿لَّقَدْ كَانَ لَكُمْ فِى رَسُولِ ٱللَّهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ لِّمَن كَانَ يَرْجُوا۟ ٱللَّهَ وَٱلْيَوْمَ ٱلْـَٔاخِرَ وَذَكَرَ ٱللَّهَ كَثِيرًا ﴿٢١﴾﴾ [الأحزاب: ٢١]

ژباړه: هغه خلک چې د الله جل جلاله د رضاء او لقاء اميدوار دي او د آخرت د ثواب اميد لري او په کثرت سره د الله جل جلاله په ذکر او ياد مشغول دي، د هغو دپاره د رسول الله ﷺ مبارک ذات ډېره ښه اُسوه او نمونه ده، هغه مبارک ذات ښه قائد او پېشوا دی، ښه لار ښوونکی او رهنما دی، دغه کسان بايد په عباداتو او معاملاتو، په افعالو او اقوالو، په خوړلو او څښلو، اغوستلو، حرکاتو او سکناتو، جُود او سخا، صبر او تحمل، په ناسته او ولاړه بلکه په هر حرکت کې، د دغه جامع الصفات ذات محمّد مصطفٰی رسول الله ﷺ پر طريقه تګ او حرکت وکړي او په ټول حيات کې د ده ﷺ متابعت وکړي او د ده ﷺ دين او لار ښوونې په ښه ډول سره زده او عملي کړي.

د رسول الله ﷺ واقعي محبت په خطبو او نصيحتو، درسو او قصو، اشعارو او نعتو، حتّٰی د مولد په مجالسو کې نه دی، بلکه د محمّد مصطفٰی ﷺ واقعي او حقيقي محبت د هغه ﷺ په متابعت کې دی، د رسول الله ﷺ په لار ښوونه پسې اقتداء کول او د ده ﷺ د اوامرو عملي کول، د رسول الله ﷺ متابعت دی، الله جل جلاله فرمايي:

﴿قُلْ إِن كُنتُمْ تُحِبُّونَ ٱللَّهَ فَٱتَّبِعُونِى يُحْبِبْكُمُ ٱللَّهُ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ ۗ وَٱللَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٣١﴾﴾ [آل عمران: ٣١]

يعني: اې محمّده! ﷺ دوی ته و وايه که چېرې تاسې د الله جل جلاله سره محبت لرئ يا محبت کوئ نو زما متابعت وکړئ چې الله جل جلاله به هم تاسې خوښ ولري او تاسې ته به ستاسې ګنهونه درو بخښي.

خو محترمه وروره! متابعت ښله واقعي او صادقه محبته څخه په وجود نه سي راتلای، د رسول الله ﷺ سره واقعي محبت درلودل تا د هغه ﷺ متابعت ته ور جذبوي او ور بولي، نو د متابعت دپاره لازمي شرط محبت دی، که چېرې په تا کې

(c) ketabton.com: The Digital Library


د رسول اللهﷺ د محبت شوق موجود وي او ته د هغهﷺ محبت غواړې؟ نو څلور شيه دي چي ستا سره د رسول اللهﷺ په محبت درلودلو کي مرسته کوي، يعني: د غو څلورو شيانو په عملي کولو سره د رسول اللهﷺ سره ستا محبت پيدا کيږي او زياتيږي او دغه محبت په تا کي د متابعت شوق زياتوي، چي هغه څلور شيه دادي:

**اول**: پر رسول اللهﷺ ډير درود ويل.

**دوهم**: څو ځلي او په تکرار سره د رسول اللهﷺ د سيرة ويل يا اورېدل، او په هغه سره پوره ځان خبرول او پوهول.

**دريم**: د رسول اللهﷺ د طريقې متابعت کول، که ته غواړې چي رسول اللهﷺ خوښ ولرې او محبت دي ورسره زيات سي متابعت يې کوه.

**څلورم**: د رسول اللهﷺ د مبارک ښار مدينې منورې زيارت، خاصتاً د روضې مبارکې، مګر هو د پوره ادب او عبادته سره.

الله جل جلاله دي ما او تاسي د هغو کسانو څخه وګرځوي چي د رسول اللهﷺ سره محبت لري، او د هغهﷺ متاعت کوي او د هغهﷺ د رسالت د رسولو او دين د نشرولو دپاره ژوند کوي. الله جل جلاله دي موږ او تاسي ټولو ته دا توفيق راکړي چي د رسول اللهﷺ متابعت تر هغه وخته وکړو چي د الله جل جلاله په حضور کي دريږو.

آمين، ثم آمين، ثم آمين.

سُبۡحَـٰنَ رَبِّكَ رَبِّ ٱلۡعِزَّةِ عَمَّا يَصِفُونَ ﴿١٨٠﴾ وَسَلَـٰمٌ عَلَى ٱلۡمُرۡسَلِينَ ﴿١٨١﴾ وَٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلۡعَـٰلَمِينَ ﴿١٨٢﴾

اللّهمّ صلِ و سلِم و بارک علی عبدِکَ و رسولِکَ سيّدنا و حبيبنا محمّد وآله وأصحابه واهل بيته اجمعين.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## د سيرة النبي ﷺ خلاصه

د رسول الله ﷺ د ژوند ټول حالات مو په دغه درې جلده کتاب کي مطالعه کړل. حال دا چي د رسول الله ﷺ سيرة يوه داسي موضوع ده چي په کتابو او فيتو سره پای ته نه سي رسېدلای، څومره چي ما وکولای سوای چي دغه سيرة بيان کړم او پر هغه تبصره وکړم خو ترما وروسته به داسي خلک راسي چي تر دغه هم ښو ځله زياتي فايدې او حکمتونه ځني را وباسي، لکه تر ما د مخه چي ډېر داسي علماء تېر سوي دي چي په دې باره کي يې ډېر ګټور او فايده من مضمونونه بيان کړي او ليکلي دي. حتّی په اوسنيو خلکو کي هم داسي کسان سته چي دغه زما تر بيان ښه او ښايسته، ګټور او مفيد بيان کولای سي، مګر دا چي زه غواړم چي د دغه ټول مبارک سيرة خلاصه په څو جملو کي درته بيان کړم دا ډېر سخت او مشکل کار دی، خو بيا هم زه غواړم چي د ضرورت په لحاظ زما د فکر پر اندازه د ټول سيرة خلاصه او نتيجه چي موږ په خپل ژوند کي ضرورت ورته لرو په پنځلسو مادو يا نقطو کي درته بيان کړم.

دغه پنځلس مادې د بشريت د اصلاح دپاره د رسول الله ﷺ د سيرة هغه اساسي نقطې دي او دغه پنځلس مادې به زموږ د ټوله بيان سوي بحث خلاصه او نتيجه وي او خامخا بايد د دغه مبارک سيرة څخه د خپل ژوند د کاميابۍ دپاره يوه خلاصه او نتيجه را وباسو، چي دغه نتيجه ډېره مهمه ده او بايد په خپله حافظه کي يې په ښه ډول سره وساتو.

ورونو! رسول الله ﷺ درويشت کاله د نبوت او رسالت ژوند کړی دی، موږ د دغه درويشت کلني ژوند دپاره کوم نوم او کوم عُنوان انتخابولای سو؟

ممکن دوه نومه ورته کښېږدو.

**اول:** (د مځکي د اصلاح دپاره رسالت)

**دوهم:** (پر باطلو او شخصي ګټو د حق د کاميابه کېدلو قصه)

متوجه اوسه: زه اوته د رسول الله ﷺ امت نه يو؟ او نه غواړو چي د هغه پر لار ولاړ سو؟ بلکه هم يې امت يو او هم غواړو چي متابعت يې وکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو باید زما او ستا ژوند هم دغه دوه عنوانه ولري، زه او ته هم باید په خپل ژوند کي د دغه هدف او مقصد دپاره کوښښ وکړو،

یا (د محکمې د اصلاح دپاره)

یا (پر باطلو او شخصي گټو د حق د کامیابه کولو دپاره)

ځکه د رسول الله ﷺ رسالت د ټول بشر دپاره دی.

او د ده ﷺ ژوند یوه انساني تجربه ده، ما او تا ته یې د کامیابۍ لار را وښوول، تا ولیدل چي د رسول الله ﷺ د رسالت ژوند په څومره ضعف او تنهایي سره شروع سو؟ او په څومره کامیابي سره پای ته ورسېدی، دا ټوله د بشر په کوښښ سره وه او ته هم بشریې.

ته به وایي: د رسول الله ﷺ په ژوند کي وحيِ وې او زما په ژوند کي وحيِ نسته.

خو زه وایم: وحيِ تخطیط او عملي کول نه دي.

(تخطیط یعني: د یوه کار د عملي کولو دپاره د پلان او نقشې جوړول) وحيِ یو قانون دی چي نازلېدی او هغه قانون نن ورځ ما او تا ته پروت او موجود دی، چي هغه قرآن مجید دی، د ټولو مسلمانانو حتّی د رسول الله ﷺ قانون قرآن مجید دی.

ته به وایې: د رسول الله ﷺ په ژوند کي معجزې پرتې وې.

خو زه وایم: معجزې و أحداثو ته تغیر نه سي ورکولای، معجزې فقط روحي معنویات لوړ وي، مگر هغه څه چي په أحداثو کي تغیر را ولي هغه صحي پلان او په صدق سره جِدي عمل دي.

دا یوه داسي ثابته تجربه ده چي د قیامت تر ورځي د قبلېدو قابله ده،

(چي پلان او عمل په احداثو او واقعاتو کي تغیر را ولي) لکه څرنگه چي الله جل جلاله فرمایي:

﴿ لَّقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ ٱللَّهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ لِّمَن كَانَ يَرْجُوا۟ ٱللَّهَ وَٱلْيَوْمَ ٱلْـَٔاخِرَ وَذَكَرَ ٱللَّهَ كَثِيرًا ﴿٢١﴾ ﴾ [الاحزاب: ۲۱]

اوس نو ویلای سم: ترڅو چي زموږ په ژوند کي دغه پنځلس مادې چي د سیرة النبي ﷺ خلاصه او نتیجه ده نه سي پیدا، موږ په خپل ژوند کي تمدن او نهضت،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترقي او کاميابي نه سورا وستلای.

هغه پنځلس مادې څه شي دي؟

زه به يې په تفصيل سره درته بيان کړم او ته ښه متوجه اوسه!

**اول:** فعال او مناسب پلان يا تخطيط.

(پلان او تخطيط) يعني: د يوه شي يا يوه کار دپاره صحي نقشه جوړول او بيا د هغې نقشې جدي عملي کول، نوکه ته اوس د دوهم وار دپاره سيرة النبيﷺ ووايې يا واورې ته به و وينې چې هلته څنګه پلان او نقشه جوړېدل او هغه پلان او نقشه بيا څنګه په جدي ډول سره عملي کېدل، نو پلان او تخطيط، د نهضت او ترقۍ مقصد ته د رسېدلو دپاره د مهمو شرطو څخه دي، بېله پلان او تخطيطه هيڅکله نهضت، ترقي او کاميابي په وجود نه سي را تلای.

ورونو! زمونږ او ستاسي څخه هر يو په خپل ژوند او د خپل مسئوليت پر اندازه بايد خامخا پلان او نقشه و لري او دا يې بايد عقيده وي چې زه د دغه پلان او تخطيط د عملي کولو مسئوله يم، يو وزير بايد دا عقيده ولري چې پسله لسو کلو زه د دغه وزارت مسئوله يم او زما څخه پوښتنه کيږي چې ما په دغو لسوکلو کي د خپل وزارت په متعلق ملک او وطن ته څه ترقي ورکړې ده، يو والي د خپل ولايت مسئوله دی، يو تاجر د خپلي تجارت خانې مسئوله دی، يو باغوان د خپل باغ او زراعت مسئوله دی، د يوې فابريکې خاوند د خپلي فابريکې مسئوله دی، يو مسلمان د اسلامي رسالت مسئوله دی، نو هر سړئ بايد د کار په شروع کي يوه صحي نقشه او پلان ولري، ځکه بېله پلان او تخطيطه نهضت او ترقي په وجود نه سي را تلای او بيا د هغه سنجول سوي پلان دپاره صحي او جدي کار او عمل وکړي، يوازي د خولې په خبرو يې هم سر نه سره ورځي.

**دوهمه ماده:** صبر او قرباني، د ترقۍ دپاره به دي قرباني د وينې او روح تر حده پوري وي، سُميهؓ دي په ياد ده؟ حمزهؓ دي په ياد دی؟ د رسول اللهﷺ د مبارک مخ څخه دي د وينو بهېدل په ياد دي؟ ترقي او نهضت بېله وينو نسته، هر هغه څوک چې د روح او وينو قربانۍ ته آمادګي نه لري هغه دي په کور کي کښيني د ترقۍ او کاميابۍ نوم دي نه يادوي.

(c) kitabton.com: The Digital Library

**درېيمه ماده:** چې مونږ يې د رسول الله ﷺ د سيرة څخه را ايستلاى سو هغه (تدريب او تعليم) دى، ستاسې په ياد دي؟ چې رسول الله ﷺ د أرقم بن أبي الأرقم رضي الله عنه په کور کې خپلو اصحابو ته فکري، روحاني، اخلاقي، سياسي، ايماني، تدريب او تعليم ورکاوه؟ او له هغه ځايه دغه عالي او متميز جېل را و وتى چې دنيا يې په نور ډکه کړه، که نن ورځ مونږ خپلو ځوانانو ته فکري، سياسي، روحي، ايماني او اخلاقي تعليم ور نه کړو، نو د نهضت او ترقۍ اميد هيڅکله مه کوئ.

اې ځوانانو! که څوک تاسې ته ايماني او اخلاقي تعليم نه درکوي تاسې په خپله بايد په تعليم پسې سئ، ځکه تعليم د ترقۍ لار ده، لهو او لعب، عبث ژوند، د وخت ضائع کول او بېځايه غوښتني يا خواهشات پرېږدئ.

**د رسول الله ﷺ د ژوند او سيرة څخه څلرمه نقطه:**

د مخالفينو سره په ښه نيت او پراخه زړه ژوند کول دي، ستاسې په ياد دي چې رسول الله ﷺ د مدينې منورې مختلفو طائفو او مختلفو قبيلو ته چې د مختلفو ديانتو تابع وې يو قانون جوړ کړئ؟

ستاسې په ياد دي چې رسول الله ﷺ د مځکې پاچهانو ته ليکونه لېږل؟

ستاسې په ياد دي چې د حديبيې صلحه يې وليکل؟

دا ټوله د مخالفينو سره ژوند کول وه، خو دا دا معنٰى نه لري چې زه به ترخپل حق تېرېږم، هو، د مخالفينو سره ژوند کوم خو خپل حق هم حتماً غواړم او په خپل دين سره قوي او محترم يم.

اې هغو مسلمانانو! چې په غرب يا کفري ملکو کې اوسېږئ هلته و اوسېږئ، مګر دا هم په ياد ولرئ چې په خپل دين سره و نه شرمېږئ، پام کوئ چې هغه عزت چې تاسې يې په خپل دين سره لرئ د لاسه ورنه کړئ، په خپل دين معزز اوسئ، په خپل دين سره فخر کوئ او خپل لاسونه په خپل حق پورې ټينګ ونيسئ، تا وليدل چې رسول الله ﷺ که په زور ؤ که په رضاء خپل حق خامخا اخيستى، قريشو ته يې ويل: ما او خلک سره پرېږدئ، د دعوت له کاره يې په هيڅ طريقه سره لاس نه اخيستى، مګر په حلف الفضول کې هم ورسره داخل ؤ.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**د رسول الله ﷺ د ژوند څخه پنځمه ماده:**

اصل په اسلام کې صلحه ده نه جنګ، جنګ هغه وخت منځ ته راتلای سي چي مسلمانان ور ته مجبوره سي، مثلاً غدر او خیانت ور سره وسي، یا د رسالت د رسولو څخه چي دعوت، امر بالمعروف او نهي عن المنکر دي منعه کړل سي، رسول الله ﷺ په همېشه ویل: ما او خلک سره پرېږدی.

ستاسي د بدر، اُحُد، خندق، غزاوي په یاد دي؟ د ټولو سبب دا ؤ چي قریشو مسلمانان تبلیغ او دعوت ته نه پرېښوول، خو چي بیا قریشو په حدیبیه کي صلحه وغوښتل صلحه ور سره وسوه، د خیبر جنګ هم د صلحي دپاره ؤ، نو اصل په اسلام کي صلحه او امان دي نه د وینو د تویولو شوق، که د رسول الله ﷺ د وینو بهولو اراده وای، د مکې مکرمې په فتحه کي به یې د وینو ولې بهولي وای او دا کارېې و نه کړی، ځکه صلحه او أمان یې غوښتل.

**شپږمه ماده:** د وطن داری فکر، موږ ټوله که اوزبک یو که تاجک، که پښتون یو که ازاره، د یوه وطن اوسېدونکي یو، ستاسي په یاد دي چي رسول الله ﷺ په مدینه منوره کي څنګه قانون جوړ کړی؟ او دا یې کوښښ ؤ چي موږ ټوله په یوه وطن کي د وطندارانو په صفت سره و اوسیږو، که څه هم په دین او دیانت کي فرق او اختلاف سره ولرو.

ورونو! که څه هم نن ورځ په موږ کي سُني او شیعه موجود وي، اُزبک او ازاره موجود وي، فارسي ژُبان او پښتون موجود وي، خو د وطنداری فکر باید له دماغه و نه باسو، ستاسي په یاد دي چي رسول الله ﷺ نه غوښتل چي د مکې مکرمې مسلمانان په هغه جنګ کي ګډون وکړي چي د مکې مکرمې د کفارو پر ضد کېدی؟ دا ولي؟ ځکه دوی په مکه مکرمه کي مواطنین وه او دا نه وه صحي چي دوی د خپلي هغي ټولني پر ضد جنګیږي یا و دریږي چي دوی هلته اوسیږي.

**اوومه ماده:** د رسول الله ﷺ په ژوندکي د مسلمانو ښځو طبقه: سیاسي، اجتماعي، اُسَري، فعاله قوه بلل کېدل، خو نن ورځ د ځینو مسلمانانو له طرفه د ښځو پر طبقه بد بختانه ډېر ظلم کیږي او متأسفانه دغه ظلم هم د اسلام په نامه پر کیږي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

حال دا چې اسلام د دغسې ظلمه څخه بري او بېزاره دی، ترڅو چې د ښځو د طبقې څخه دغه ظلم پورته نه سي، په علم او پوهه مصلحه نه سي، نهضت او ترقی ته لار نسته، ښځه د نوي نسل مربي ده، مربي باید پوه او د علم خاوند وي، د استاد او مربي سره ظلم کول پستي او نامردي ده.

خو هو، ښځي مو هم باید د الله او رسول الله د اوامرو تابع وي، د اسلامي رسالت بیرغ یې په لاس کي وي، هره هغه ښځه چي په اسلامي محیط کي د اسلام تر قانون دباندي غربي رواجونه غواړي هغه د کفارو د لاس شیطاني آله ده.

**اتمه ماده:** فن او ثقافت، فن او ثقافت د نهضت او ترقی د بیرغو څخه یو بیرغ دی. که تاسي د رسول اللهﷺ پر سیرة یو دقیق نظر واچوی و به وینی چي ټول عالَم و دغه مبارک سیرة ته اړ او محتاجه دی، د رسول اللهﷺ د سیرة څخه زده کړه د هري زماني او هر ځای ضرورت دی، دغه سیرة یوازي په هغه وخت او هغه زمانه پوري تعلق نه درلودی، بلکه د هر وخت او هر ځای د واقعاتو او حادثاتو دپاره درس ځني اخیستل کېدلای سي، نوفن او ثقافت هغه شئ دی چي رسول اللهﷺ د خپلو اصحابو د معنویاتو د لوړولو دپاره استعمالاوه، ستاسي په یاد دي: کله چي رسول اللهﷺ مدیني منورې ته داخلېدی نجونو او ماشومانو ترانې ویلې، د مسجد قُباء او مسجد نبوي د جوړولو په وخت کي شعرونه ویل کېدل، د خندق دکندلو په وخت کي اصحاب کرامو اشعار ویل، رسول اللهﷺ خطیب او شاعر درلودی، نو د نهضت او ترقی دپاره فن او ثقافت مهم دي.

**نهمه ماده:** د رسول اللهﷺ سیاست د خلکو جمعه کول، یو ځای کول او متفق کول وه، نه د خلکو پاشل او متفرق کیدل، خو بد بختانه موږ اوس خلک د مذهب پر اساس سره پاشو، د فقهي اختلافاتو پر اساس یې سره ویشو، د ژبي او منطقې پر اساس یې سره جلا کوو، حتّی د حزبو په نامه مو خلک سره وپاشل، نو ځکه امت مو ټوک ټوک او پاشلی دی، مګر د رسول اللهﷺ منهج او طریقه تجمیع وه نه تفریق، یو ځای کول وه نه پاشل، نو هر څومره چي مو په وسه پوره وي خلک سره متفق کوی، تاسي په ټول سیرة کي وګوری چي رسول اللهﷺ خلک څنګه سره متفق او یو ځای

(c) ketabton.com: The Digital Library


کول، حبشي او رومي، عربي او فارسي ټولو د يوه هدف دپاره ژوند کاوه.

**لسمه ماده**: د رسول الله ﷺ ديني خطاب: رسول الله ﷺ د هر وخت سره مناسبي ديني بيانيې ايرادولې، کله چې د مسلمانانو په منځ کي ورور ګلوي او محبت ته ضرورت ؤ، هلته د اُخوة آياتونه او احاديث نازلېدل، د جهاد په وخت کي د جهاد آياتونه او احاديث ويل کېدل او بيا چې به جهاد نه ؤ، نه د جهاد آياتونه وه او نه احاديث، نو زموږ په ټولنه کي بايد ديني خطاب د هغو حالاتو سره موافق او مناسب وي چې موږ ژوند پکښې کوو، د منبرو وعظونه او نصيحتونه مو بايد داسي نه وي لکه سل کاله د مخه چې وه، بايد د وعظ او ديني لارښوونو طريقه مو د اوسني وخت او هغو حالاتو سره موافقه وي چې موږ ژوند پکښي کوو او ضرورت ورته لرو، نو نُهضت او ترقي بېله دې څخه نسته چې ديني خطاب به مو د وخت د حالاتو سره داسي موافق او برابر وي چې د ژوند نوي او کاميابه مرحلې ته مو ور داخل کړي.

**يوولسمه ماده**: پنځه اساسي يا بنسټي اخلاق دي، چې موږ په ټول سيرة کي وليدل، د نُهضت او ترقۍ دپاره موږ هم بايد هغه اخلاق په خپلو ځانو او خپل ژوندکي پيدا کړو، هغه اخلاق څه شي وه؟

**الف**: صدق، يا رشتيا ويل، په ټولو کارو کي بايد صادقه و اوسو.

**باء**: امانت، په هرکار کي بايد امانت کاره يو، د رسول الله ﷺ لقب صادق الأمين ؤ. (رشتيا ويونکی او امانت کاره)

**جيم**: وفاء، تا وليدل چې د رسول الله ﷺ سره په ټول ژوند کي وفاء ملګرې وه.

**دال**: اتقان، يعني: هرکار په صحي ډول سره کول او پای ته رسول، تا وليدل چې د رسول الله ﷺ ټول تخطيط يا پلان جوړول او عمل، په سل کي سل صحي او پر ځای ؤ.

**هاء**: أمل يا اميد، دغه خوی هم بايد حتماً په موږ مسلمانانو کي موجود وي، د خپل صحي عمل د نتيجې څخه بايد نا اميده نه سو، تاسي وليدل چې رسول الله ﷺ څنګه او څه ډول د خپلو اصحابو معنويات د اُميد په خوی سره ور لوړول، مسلمانان هيڅ وخت د خپل کار او عمل د نتيجې څخه نه نا اميده کېدل.

دریمم توک
(c) ketabton.com: The Digital Library

پسله هغه شخه چي کفارو خُبیبؓ ته په اور او سرو سوو ډبرو آزارونه ورکړه.
رسول اللهﷺ څه ورته و ویل؟
عدي بن حاتم الطایيؓ ته یې د هغه د مسلمانېدلو په وخت کي څه و ویل؟
ټول د کامیابۍ امیدونه اوزیري وه، د رسول اللهﷺ په ټول ژوند کي نا امیدي نه وه.
اوس هم په ځوانانو کي هغه څوک و رسول اللهﷺ ته حبیب دی چي نه ناامیده کیږي او نور خلک هم نه ناامیده کوي او هغه څوک کښته او ناکامه دی چي وایي: پرېږده یې فایده نه کوي، ناامیدي په خلکو کي مه پیدا کوی، په هر وخت او هر حالت کي امید د کامیابۍ لار ده.
**دوولسمه ماده:** د ملت او رعیت د رأیي او نظر احترام، د خلکو د رأیي قبلول، خلک په آزاده سره خبرو ته پرېښوول، دا هغه منهج او طریقه ده چي رسول اللهﷺ په خپل ژوندکي عملي کول، تاسي نه ولیدل؟ چي رسول اللهﷺ په بدر کي د یوه سړي د رأیي په سبب خپلي نقشې ته تغیر ورکړی، د خندق په غزاء کي یې د سلمان فارسيؓ په رأیه سره په جنګ کي یوه نوې طریقه اختیار کړه، که څه هم سلمان فارسيؓ یو آزاد سوی مریئ بلل کېدی، د خیبر په غزاء کي حُباب بن المنذرؓ ورته و ویل: یا رسولَ الله! دغه ځای د اړولو دپاره مناسب نه دی، رسول اللهﷺ و فرمایل: حاضِر یا حُباب او هغه ځای ته یې تغیر ورکړی، ځکه د هغه خبره صحي وه، نو د ملت او خلکو د فکر او نظر احترام کول، او د هغو خبرو ته غوږ نیول په خلکو کي نژدې والی را ولي او که چیري قائد یا حکومت دا فکر کوي چي موږ قوي یو، ځکه خلک او د خلکو رأیي زموږ سره دي، د معارضې یا منافس یا په اوسنۍ اصطلاح د حزب اختلاف په مخ کي د رأیو په اکثریت درېدلای سو.
دلته نو نُهضت او ترقي په وجود نه سي راتلای، تر څو چي د خلکو د رأیي احترام و نه سي، د نهضت او ترقي فکر کول بې معنٰی دي.
که د خلکو رأیه او نظر واورېدل سي په هغو کي دغه حس پیدا کیږي چي موږ د دغه وطن یو او زموږ رأیه قابل د اعتبار ده او بېله دې څخه چي د خلکو یا ملت و رأیي ته اعتبار ورنه کړل سي، که موږ هرڅومره د ترقۍ نارې هم و وهو فایده نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**دیارلسمه ماده**: په خبرو او بیان کې د خلکو او ملت حریت او آزادي.

بخښنه غواړم چې زه په پوره صراحت سره دغه خبري کوم او هم یې باید خامخا وکړم، ځکه دا د رسول اللهﷺ سیرة دی او دا یو لوی امانت دی. ځوک دي زما څخه په واضحه او صریحه خبرو نه ناراضه کیږي، ځکه زه نه سم کولای چې د سیرة النبيﷺ په بیانولو کې د بل چا مراعت وکړم او دغه حق خبري په دې سبب سره کوم، چې د قیامت په ورځ د خپل ربﷻ په حضور کې د دغه حق ویلو سره و دریږم او ورته و وایم: یارب! ما خلکو ته حق و ویل، هغه چې پرما وه د هغه تبلیغ مي وکړی.

نو ترڅو چې خلکو ته په خبرو او بیان کې پوره حریت او آزادي ور نه کړل سي دغه د عُنف او شدت کار نور هم زیاتیږي، ځکه که د ملت د افرادو څخه یو ځوک و نه کولای سي چې د خپل وطن په باره کې و رغیږي، د ده خبري او نظریات سانسور سي، د هغه د خپل وطن او د وطن د آمرانو څخه بښه نه راځي، حتّی دا احساس هم نه کوي چې زه د دغه وطن د افرادو څخه یو فرد یم.

**څوارلسمه ماده**: د نهضت او ترقۍ دپاره یوه داسي مشر او قائد ته ضرورت سته چې خلک د هغه پر شا وخوا را وګرځي او را ټول سي، تا د رسول اللهﷺ په سیرت کې ولیدل چې خلکو د رسول اللهﷺ سره څومره شدید محبت او څومره ټینګ ارتباط یا اړیکي درلودل، حتّی غربیان په تعجب کې دي چې رسول اللهﷺ سیاستدان که عسکري قومندان ؤ؟ رهبر که قائد ؤ؟ حاکم که نبي ؤ؟ پلار که مربّي ؤ؟ څو موږ وایو: هغه دغه ټوله ؤ، هغه د مځکي د اصلاح د رسالت خاوند ؤ.

نن ورځ هم موږ دغسي مومن قائد ته ضرورت لرو چې خلک پر را ټول سي او محبت ور سره ولري، د خلکو غمخور وي او په ایمان و نه شرمیږي، یوازي په مناسباتو کې د ایمان خبري نه کوي، بلکه په هره لحظه او هر کار کې د ایمان حس او احساس پکښي موجود وي، نُهضت او ترقي بېله دغسي قائده په وجود نه سي را تلای.

**پنځلسمه او آخیره ماده**: ایمان د کامیابۍ سبب دی، که ایمان نه وای صحابهٔ کرامو ولي خندق کِندی؟ که ایمان نه وای ولي یې په خندق کې قربانۍ ورکولې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

که ایمان نه وای ولي یې په اُحُد کي ځانونه مرګ ته سپارل؟ که ایمان نه وای ولي یې د حدیبیې صلحه قبلول؟ که ایمان نه وای سُمیه رضي الله عنها ولي وژل کېدل؟ که ایمان نه وای داسي نور ډیر کارونه دي چي هغه به نه کېدلای.

هر هغه څوک چي په اسلامي ملکو کي نُهضت او ترقي غواړي او دا یې عقیده وي چي دین او ایمان خپل ځان ته جلا ځای لري، په دنیوي امورو کي د دین او ایمان خبري پرېږده، هغه څوک د دغو منطقو د افرادو یا د خپل ملت په حقیقت نه پوهیږي.

د اسلامي ملکو افراد یا امت مسلمه بېله یوې ژبې په بل څه نه پوهیږي، چي هغه د دین او ایمان ژبه ده، هغه مهم او یواځنۍ شئ چي د اسلامي ملکو د افرادو که نارینه دي که ښځي، که لویان دي که ماشومان په وجدان او ضمیر کي ښخ او پروت دی د هغه نوم ایمان دی.

که ته غواړې چي ترقي را ولې او ملت ته په خطاب کي و وایې: موږ مو د دین سره کار نه لرو، هر یو او د ده دین سره پوهیږي، خو د وطن د ترقۍ دپاره کار وکړی، دا د خولې خبري دي، هیڅ مثبت تاثیر نه لري، ځکه د دغه کار دپاره کوم عقیدوي او وجداني باعث نسته.

او که په خطاب یا بیانیه کي ورته و وایې: بېسوادي ورکه کړی چي اجر او ثواب حاصل کړی، ځکه په زراعت سره آباده کړی: الله به اجر او جنتونه درکړي، کوچنۍ کوچنۍ فابریکې راوړی له خپل وطنه بېکاري او غریبي لیري کړی، پر غریبانو ورحمېږی، الله جل جلاله به پر تاسي ورحمیږي.

د دغه خطاب نتیجه مثبته او ایجابي ده، که دي ایمان له ترقیه څخه جلا کړی، پوه سه چي کامیابي لاس ته نه.سې را وړلای او دا شئ په کلو کلو تجربه سوی دی.

موږ داسي یو قوم یو چي الله جل جلاله په ایمان سره معززه کړي یو، که موږ نُهضت او ترقي بېله اسلامه او ایمانه په بل شي کي و غواړو الله جل جلاله به مو ذلیله کړي، دا زما قول نه دی دا د حضرت عمر فاروق رضي الله عنه قول دی، که څوک د هغه له نظره څخه مخالف نظر لري هغه سهوه او خطاء دی. دین زموږ د رب عزوجل له طرفه زموږ ساتونکی او زموږ کامیابه کوونکی دی، الهي دین الله جل جلاله د دې دپاره نه دی نازل کړی چي موږ ځني

(c) ketabton.com: The Digital Library



وبيرېږو. يا دي موږ بد بخته کړي، نو څکه موږ وايو: چې ديني خطاب او بيانيو ته بايد ترقي ورکول سي.

دا هغه پنځلس مادې يا نقطې وې چې موږ يې د سيرة النبيﷺ څخه په اختصار سره را ايستلاى سو.

محترمه وروره! د دغه سيرة تر اورېدلو يا لوستلو وروسته ستا څخه څه شي غوښتل کيږي؟ فقط دوه شيه بايد عملي او په ځان کي موجود کړې.

**اول**: د رسول اللهﷺ سره ډېر زيات او شديد محبت، داسي محبت چې ستا زړه او وجود ټول په ډک وي، داسي محبت چې ستا د وينو په رګو کي بهيږي، تا چې دغه درې ټوکه کتاب ولوستی آيا ستا زړه ته يې لار ونه کړه؟

آيا د رسول اللهﷺ محبت دي په زړه کي ځاى ونه نيوى؟

که ستا زړه ډېره نه وي خامخا دي په زړه کي د رسول اللهﷺ محبت احساس پيدا سوى دى او رسول اللهﷺ ډېر خوښ لرې، رسول اللهﷺ فرمايي:

«لَايُؤمِنُ اَحَدُکُم حتّی أکُونَ أحَبَّ إلَيه مِن أهلِه و وَلَدِهِ وَمَالِه وَنفسه الّتي بَينَ جَنبَيه»

ژباړه: تر هغو پوري د يو چا ايمان پوره او کامل نه دى، تر څو چې زه د ده تر کورنۍ، د ده تر اولادو، د ده تر مال او د ده تر ځان و ده ته خوښ نه سم.

نو موږ مسلمانان بايد خامخا رسول اللهﷺ په دغه اندازه سره خوښ و لرو چې تر دغو ټولو شيانو راتېر وي او د دغه محبت دپاره ستا مرسته کوونکې په دقت سره د رسول اللهﷺ د سيرة اورېدل دي.

**دوهم**: د دغه اوسه څخه ته بايد په دې فکر کي سې چې زه بايد په مځکه کي اصلاحات را ولم، ځکه ته د رسالت خاوند يې، ته د رسول اللهﷺ امت يې او دغه رسالت ستا په غاړه کي امانت دى، وګوره! په هر شي کي چې ته مهارت لرې په هغه شي کي د مځکي او انسانانو په اصلاح پسې سه، زما مقصد دا نه دى چې ټول خلک دي شرعي او ديني تعليم وکړي بلکه دا د ځينو متخصصو علماوو کار دى، که هر يو په شرعي علومو مشغوله سي دغه نور کارونه به چا ته پاته وي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مسلمانانو ځخه هر یو باید په خپل قدرت او خپل مهارت کي جدي عمل وکړي، هو له دینه باید دومره زده کړه وسي چي خپل دین و پیژني او خپل اعمال د شرعي احکامو سره موافق اجراء کړي، حق او باطل سره وپیژني، خو تعلیم، صحت، زراعت، تخنیک او داسي نور علوم هم باید ولرو چي امت مسلمه پر خپلو پښو و دروو او د مځکي په اصلاح کولو سره مو د خپل رب ﷻ عبادت کړی وي، که ته د رسالت د رسولو په نیت سره ژوند وکړې، إن شاء الله په جنت کي به د رسول الله ﷺ ملګری یې، هو، هغه ځوک چي د رسالت د رسولو دپاره ژوند کوي یقیناً به هغه کسان په جنت کي د رسول الله ﷺ ملګري وي.

دا معلومه ده چي ټول امت لمنځونه کوي، ټول امت روژې نیسي، ټول امت حج کوي، ټول امت د قرآن مجید تلاوت کوي، ټول امت ژړلي دي او دعاوي یې کړي دي، خو په جنت الفردوس کي به ځوک د رسول الله ﷺ ملګری وي؟

هغه ځوک چي د رسول الله ﷺ سره ډیر محبت لري او هغه ځوک چي د رسالت په رسولو کي ډیر زیار او زحمت باسي.

د رسول الله ﷺ تر رحلت وروسته د رسالت رسَول او تبلیغول، امر بالمعروف او نهيِ عن المنکر، د ده ﷺ د امت پر غاړه امانت دی.

ما خو د رسول الله ﷺ د سیرة ځخه دغه پنځلس ذکر سوي مادې په اختصار سره را وایستلې، نو په نتیجه کي ته باید رسول الله ﷺ په داسي اندازه سره خوښ ولرې چي په هر قیمت او هره ممکنه وسیله سره چي وي د مځکي د اصلاح دپاره حرکت دریکښي موجود کړې، ځان د رسول الله ﷺ امت و بوله او د هغه پر لار رهي سه.

ألا هل بلغت؟ اللّهم فاشهد. ألا هل بلغت؟ اللّهم فاشهد.

خویندو او ورونو! د لیکلو او ویلو دپاره ډیرځه لرم خو تر دغه زیات اوږد والی لازم نه بولم او دغه بحث به په شکر او منته سره پای ته ورسوم، شکر او منته د هر هغه چا: چي د دغه سیرة د لیکلو، پوره کولو، کامیابه کولو، نشرولو او چاپولو دپاره یې زما سره مرسته او مساعده کړي دي، الله جل جلاله دي د خیر جزاء او بدله په دنیا او آخرت کي ورکړي، خو اول او تر ټولو لوی شکر د هغه الله سبحانه و تعالی شکر دی چي موږ ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې دا رابنوولي دي چي د خلکو شکر آداء کړو، مګر موږ نه سو کولای چي د رب عزوجل الملک العظيم جل جلاله تر شکر څوک د مخه کړو، زموږ رب: هغه الله سبحانه و تعالى دی چي قِسم قِسم نعمتونه يې راکړي دي، زموږ رب: هغه عزوجل دی چي د دغه سيرة د ليکلو او بيانولو قدرت يې را کړی، دا دومره لوی نعمت دی که زه ټول عمر خپل رب ته سر پر سجده کښېږدم بيا يې هم شکر نه سم آداء کولای او دا مي خوښه ده چي زه په دغه عمل د خپل رب عزوجل سره ملاقي سم او د قيامت په ورځ ور ته و وايم: يا رب! زه عنايت الله خو دغه دی د ډېرو ډېرو ګنهو سره درته راغلم مګر څرنګه چي تا رب ﷻ د دغه پاک سيرت د راټولولو، بيانولو، ليکلو او نشرولو توفيق راکړی نو دا اميد هم درڅخه لرم چي دغه عمل را څخه قبول کړې او زما په نېکيو کي يې راحساب کړې.

او تاسي لوستونکي او اورېدونکي هم د خپل رب عزوجل شکر او حمد آداء کړی چي د دغه پاک سيرة د لوستلو يا اورېدلو توان او قدرت يې درکړی، په والله په دغه سيرة پوهېدل او د هغه زده کول الٰهي لوی نعمت دی چي د هر چا نه دی نصيب سوی.

او دوهم شکر! شکر د محبوب سرور کائنات رسول الله ﷺ دی.

ورونو! په والله دا ممکنه وه چي رسول الله ﷺ هغو کسانو ته ښرا وکړي چي پر ده ﷺ يې ظلم کاوه، بنديزونه يې پر لګول، تکليفونه او آزارونه يې ورکول، د ده ﷺ سره يې جنګونه کول، د ده ﷺ مبارک اصحاب او دوستان يې وژل او د ده ﷺ په ښرا سره دي هغه قومونه او ملتونه نېست او نابود سوي وای، مګر نبيّ الرّحمه، رؤف او مهربانه رسول، رحمةٌ للعالمين رسول الله ﷺ ښرا نه ورته کول، دا ولې؟

ځکه چي زه او ته مومنان او مسلمانان را ووزو، الله جل جلاله دي زموږ له طرفه د خير بدله او جزاء درکړي يا رسولَ الله، تا صبر کاوه، هغه آزارونه او تکليفونه، مقاطعې او بنديزونه، جنګونه او زخمونه دي د دې دپاره قبلول چي موږ مسلمانان را ووزو او بيا ستا مبارک سيرة بيان کړو يا يې واورو، ستا په مبارک حرم او روضه کي لمنځونه وکړو، د قرآن مجيد تلاوت وکړو او بيا د الله جل جلاله په رحمت سره جنت ته ولاړ سو.

(جزاکَ اللهُ عنّا خيراً يا رسولَ الله، خير ما جازَ نبياً عن أمّته و رسولاً عن قومه)

يوازي دا نه چي موږ مسلمانان درته و وايو (جزاکَ اللهُ خيراً) بلکه پر ټول بشريت

(c) ketabton.com: The Digital Library


دا لازمه ده چې درته و وايي (جزاکَ اللّٰهُ خيراً) ځکه ته وې چې ټول بشريت ته دې د نهضت، ترقۍ، کاميابۍ او خوشاله ژوندلاري چارې وروښوولې.

تاسې پوهېږئ؟ چې ټول عالَم او بشريت چې په هرځای او هر ديانت سره وي دې ته اړ او محتاجه دي چې د رسول الله ﷺ څخه زده کړه او تعليم وکړي. د رسول الله ﷺ څخه د بشريت او انسانيت قوانين زده کړي، د رسول الله ﷺ څخه اداره، پلان جوړول، سياست، حلم، صبر، جنګ، صلحه او د ژوند ټول اخلاق زده کړي.

تاسې پوهېږئ چې د امريکا او اروپا د قانون ډېرې مادې د اسلامي دين او د رسول الله ﷺ د لار ښووونو څخه اخيستل سوي دي، خو متأسفانه څرنګه چې موږ مسلمانان د اسلام په اساساتو او د رسول الله ﷺ په لار ښووونو پوره نه يو خبر، نو د پرديو د قانون صفت کوو او ښه يې وايو، حال دا چې د هغو د قانون د صفت وړ مادې، هغه مادې چې د انسانيت او بشريت په نفعه دي او ته يې خوښې لړې، هغه د مسلمانانو د دين او د رسول الله ﷺ د لار ښووونو څخه اخيستل سوي دي.

د ويلو او ليکلو دپاره ډېر څه لرم خو اوږدول هم نه دي په کار، الله جل جلاله ته مو سپارم

سُبْحَـٰنَ رَبِّكَ رَبِّ ٱلْعِزَّةِ عَمَّا يَصِفُونَ ﴿١٨٠﴾ وَسَلَـٰمٌ عَلَى ٱلْمُرْسَلِينَ ﴿١٨١﴾

وَٱلْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلْعَـٰلَمِينَ ﴿١٨٢﴾

اللّهمّ صلِّ و سلِّم و بارک علی عبدِکَ و رسُولِکَ سيّدنا وحبيبنا محمّدٍ وآله وأصحابه وأهل بيته أجمعين.

د هر ويونکي او اورېدونکي څخه دا اميد لرم چې ما او زما والدينو ته، د الله جل جلاله له درباره زموږ د بخښنې او مغفرت دپاره د زړه د اخلاصه خاصه دعاء وکړي.

والسلام عليکم ورحمة الله وبرکاته.

عنايت الله "عِلمي"

پای

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د دغه كتاب مصادر او مراجع:


١ - قرآن مجيد.

٢ - صحيح البخاري.

٣ - صحيح مسلم.

۴ - د احاديثو نور كتابونه او مسند امام احمد.

۵ - بدايه والنهايه، تأليف عماد الدين اسماعيل بن كثير.

٦ - الرحيق المختوم، تأليف شيخ صفيّ الرّحمٰن مبارک پوري.

٧ - سيرة النبي ﷺ، تأليف: ډاکټر طارق سويدان. معاصر،

٨ - على خُطى الحبيب ﷺ، تأليف: استاد عَمرو خالد. معاصر،

٩ - عظمة الرسول ﷺ، تأليف: استاد محمّد عطيه الإبراشي.

١٠ - النور الخالد محمّد ﷺ، تأليف محمّد فتح الله كولن. معاصر،

١١ - فقه السيرة، تأليف: ډاکټر محمّد سعيد رمضان البوطي.

١٢ - تاريخ ابن الوردي، تأليف: زين الدين عمر بن مظفر متوفى ٧۴٩.


پر دغه كتابو سربېره د سيرة هيڅ داسي كتاب نسته چي په هغه كي دي د سيرة ابن اسحاق او سيرة ابن هشام څخه اخيستنه نه وي سوې. نو په دغه ليكل سوي كتاب كي هم ځيني مضمونونه د دغو دووكتابو څخه را نقل سوي دي.

ربّنا تقبّل منا إنّک أنت السّميع العليم، والحمد لله رب العٰلمين

وصَلواتُ الله و سَلامُه على سيّد الخلق و المرسلين، وآله وأصحابه، و أهل بيته و ذرّيته أجمعين،

د جمعې ورځ د (۱۴۲٧) هجري قمري كال د ذوالقعدې د مياشتي (۲۴) تاريخ،

د (۱۳۸۵) هجري شمسي كال د قوس د مياشتي (۲۴) تاريخ،

د (۲۰۰٦) ميلادي كال د ډسمبر د مياشتي (۱۵) تاريخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د مؤلف له طرفه نشر سوي او چاپ سوي کتابونه

| | |
|---|---|
| ۱ – د سرورکائنات ﷺ ژوند | : په دري ټوکه کښي. |
| ۲ – خُلفاءُ الرّاشدین | : په یوه ټوک کښي. |
| ۳ – دیني او اخلاقي لاربنووني | : په یوه ټوک کښي. |
| ۴ – شیطان د انسان دښمن دی | : وړوکې رساله. |
| ۵ – د ساحر له شره خلاصون | : په یوه ټوک کښي. |
| ۶ – آخري سفر | : په یوه ټوک کښي. |
| ۷ – نصیحتونه | : په یوه ټوک کښي. |

که ژوند او صحت باقي وه تر لاس لاندي کتاب د قصص الأنبياء علیهم السلام په نامه سره یادیږي إن شاء الله تعالیٰ په راتلونکي وخت کي به ترتیب او چاپ سي.

و مَاتوفیقي إلاّ بِا للهِ علیه توکّلتُ و إلیه أنیب

د کتاب د ټولو لوستونکو څخه دا هیله او غوښتنه لرم چي د رب عزوجل له درباره ما، زما مور او زما هغه پلار ته چي زما مُرَبّي او زما استاد دی د مغفرت او بخښني خاصه دعاء وکړي او رب عزوجل ما ته نور توان او توفیق راکړي چي د عامو مسلمانانو دیني خدمت وکړم، او الله جل جلاله دي هغه چا ته د خیر بدله او د خیر جزاء ورکړي چي زما سره يې د دغه کتاب په چاپولو او نشرولو کي مرسته او کومک کړی دی.

عنایت الله "علمي"

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د دریم ټوک فهرست


| شمېر | سرلیک | مخ |
|---|---|---|
| ۱ | د خیبر د دوهمې حصې فتحه کېدل | ۹۲۱ |
| ۲ | د ابي الحُقیق یهودي د دوو زامنو وژل | ۹۲۷ |
| ۳ | په زهرو لړل سوی پُسه | ۹۲۸ |
| ۴ | د فدک د یهودو سره صلحه | ۹۳۱ |
| ۵ | د واديُ القرٰی فتحه کېدل | ۹۳۲ |
| ٦ | د تیماء د یهودو سره پر جزیه صلحه | ۹۳۳ |
| ۷ | د جزیرةُ العرب څخه د یهودو ایستل | ۹۳۴ |
| ۸ | د هجرت په اووم کال کي د ځینو تولیو لېږل | ۹۳۸ |
| ۹ | عمرة القضاء | ۹۴۸ |
| ۱۰ | پاچهانو او آمرانو ته د رسول الله ﷺ رسالې | ۹۵٦ |
| ۱۱ | د روم پاچا قیصر ته لیک | ۹۵۷ |
| ۱۲ | د دمشق آمر حارث بن ابي شمر ته لیک | ۹۷۲ |
| ۱۳ | د بُصرٰی آمر ته لیک | ۹۷۳ |
| ۱۴ | د مصر پاچا مقوقس ته لیک | ۹۷۳ |
| ۱۵ | د حبشې پاچا نجاشي ته لیک | ۹۷٦ |
| ۱٦ | د فارس پاچا کسرٰی ته لیک | ۹۸۰ |
| ۱۷ | د بحرین پاچا (منذر بن ساوي) ته لیک | ۹۸۳ |
| ۱۸ | د یمن پاچا حارث الحَمیَري ته لیک | ۹۸۴ |
| ۱۹ | د یمامې رئیس هوذه بن علي ته لیک | ۹۸۵ |
| ۲۰ | د عُمان پاچا ته لیک | ۹۸٦ |
| ۲۱ | د ځینو سریو لېږل | ۹۹۱ |

(c) ketabton.com: The Digital Library


| | | |
|---|---|---|
| ۲۲ | د مؤته جنګ | ۹۹۳ |
| ۲۳ | د مؤته د جنګ انتهاء | ۱۰۰۸ |
| ۲۴ | د مؤته د جنګ اثر او نتیجه | ۱۰۱۴ |
| ۲۵ | د ذاتُ السلاسل سریه | ۱۰۱۷ |
| ۲۶ | د خبَط سریه | ۱۰۲۴ |
| ۲۷ | د مکې مکرمې د فتحې غزاء | ۱۰۲۷ |
| ۲۸ | اسلامي لښکر د مکې مکرمې پر طرف حرکت کوي | ۱۰۴۹ |
| ۲۹ | د ابو قحافه رضي الله عنه مسلمانېدل | ۱۰۶۶ |
| ۳۰ | رسول الله صلی الله علیه وسلم مسجد الحرام ته داخلېږي | ۱۰۷۱ |
| ۳۱ | حضرت بلال رضي الله عنه پر کعبه شریفه آذان کوي | ۱۰۷۶ |
| ۳۲ | د بتانو ماتول | ۱۰۷۷ |
| ۳۳ | د بیعت اخیستل | ۱۰۸۴ |
| ۳۴ | د عبد الله بن سعد بن ابي سرح اسلام | ۱۰۸۷ |
| ۳۵ | د عِکرمه بن ابي جهل اسلام | ۱۰۸۹ |
| ۳۶ | د صفوان بن امیه اسلام | ۱۰۹۱ |
| ۳۷ | د مکې مکرمې څخه د سریو یا ټولیانو لېږل | ۱۰۹۳ |
| ۳۸ | د مدینې منورې د ژوند درېیمه مرحله | ۱۱۰۶ |
| ۳۹ | د حُنین غزاء | ۱۱۰۷ |
| ۴۰ | دُرید بن الصِمّه | ۱۱۰۹ |
| ۴۱ | د مکې مکرمې څخه د حُنین پر طرف حرکت | ۱۱۱۲ |
| ۴۲ | د حنین د غزاء غنیمتونه | ۱۱۲۸ |
| ۴۳ | د رسول الله صلی الله علیه وسلم رضعي خور شیما بنت الحارث | ۱۱۲۹ |
| ۴۴ | سُراقه بن مالک | ۱۱۳۰ |
| ۴۵ | د طائف محاصره | ۱۱۳۱ |
| ۴۶ | په جُعرانه کې د غنیمتو وېشل | ۱۱۴۰ |
| ۴۷ | د انصارو په زړو کې نا اُمیدي | ۱۱۴۴ |

(c) ketabton.com: The Digital Library




| | | |
|---|---|---|
| ۴۸ | د هوازن یوه ډله............................ | ۱۱۴۷ |
| ۴۹ | د مالک بن عوف اسلام........................... | ۱۱۵۱ |
| ۵۰ | د جُعرانې څخه عمره............................ | ۱۱۵۲ |
| ۵۱ | د عُروه بن مسعود الثقفي اسلام........................ | ۱۱۵۹ |
| ۵۲ | اهلِ طائف و اسلام ته داخلیږي........................ | ۱۱۶۱ |
| ۵۳ | د هجرت نهم کال.............................. | ۱۱۶۵ |
| ۵۴ | د تبوک د غزاء سبب............................. | ۱۱۶۹ |
| ۵۵ | ابو عامر الفاسق............................... | ۱۱۷۳ |
| ۵۶ | د مسجد ضِرار نړول.............................. | ۱۱۷۷ |
| ۵۷ | مسلمانان د روم د غزاء دپاره ځانونه تیاروي............ | ۱۱۸۰ |
| ۵۸ | په تبوک کي د اسلامي لښکر اړول...................... | ۱۲۰۱ |
| ۵۹ | د دومة الجندل فتحه کېدل......................... | ۱۲۰۳ |
| ۶۰ | د هرقل له طرفه قاصد............................ | ۱۲۰۶ |
| ۶۱ | د تبوک څخه مدینې منورې ته رجوع.................... | ۱۲۱۰ |
| ۶۲ | د تبوک د غزاء اثر او نتیجه........................ | ۱۲۲۹ |
| ۶۳ | د مدینې منورې د منافقانو سره ښکاره مقابله............. | ۱۲۴۱ |
| ۶۴ | د رسول الله ﷺ د لور اُم کلثوم وفات................. | ۱۲۴۷ |
| ۶۵ | د ابو بکر الصدیق رضي الله عنه حج.......................... | ۱۲۴۸ |
| ۶۶ | خلق د الله جل جلاله دین ته په ډلو ډلو داخلیږي............. | ۱۲۵۴ |
| ۶۷ | د بنو تمیم وفد یا ډله............................ | ۱۲۵۴ |
| ۶۸ | د بني عامر وفد یا ډله............................ | ۱۲۵۷ |
| ۶۹ | د بني عبد القیس وفد یا ډله........................ | ۱۲۶۳ |
| ۷۰ | د بنو حنیفه وفد یا ډله........................... | ۱۲۶۴ |

(c) ketabton.com: The Digital Library


| | | |
|---|---|---|
| ۷۱ | د طَی د قبیلې وفد یا ډله | ۱۲۷۰ |
| ۷۲ | د بنو سعد بنو بکر وفد یا ډله | ۱۲۷۷ |
| ۷۳ | د دوو کوځیو خاوند | ۱۲۷۸ |
| ۷۴ | د نجران وفد یا ډله | ۱۲۷۹ |
| ۷۵ | د فَروه بن عمرو الجُذامي قاصد | ۱۲۸۴ |
| ۷٦ | د حَمیَر وفد یا ډله | ۱۲۸۵ |
| ۷۷ | د بنو بُجیله وفد یا ډله | ۱۲۸۵ |
| ۷۸ | د بنو حارث بن کعب وفد یا ډله | ۱۲۸۷ |
| ۷۹ | هغه کسان چې د اسلام بنوولو د پاره لیږل سوي دي | ۱۲۹۰ |
| ۸۰ | تبصره او خلاصه | ۱۲۹۳ |
| ۸۱ | د مسلمانانو د شمېر او عدد محاسبه | ۱۲۹۵ |
| ۸۲ | حجة الوداع | ۱۲۹۷ |
| ۸۳ | د رسول الله ﷺ آخرنۍ سریه | ۱۳۲۲ |
| ۸۴ | رفیق اعلیٰ ته رحلت | ۱۳۲۵ |
| ۸۵ | د رسول الله ﷺ د ناروغۍ شروع | ۱۳۲۷ |
| ۸٦ | د رسول الله ﷺ د ناروغۍ آخره هفته | ۱۳۳۰ |
| ۸۷ | د چارشنبې ورځ تر رحلت پنځه ورځې د مخه | ۱۳۳۱ |
| ۸۸ | تر رحلت څلور ورځې د مخه | ۱۳۳٦ |
| ۸۹ | تر رحلت یوه یا دوې ورځې د مخه | ۱۳۴۱ |
| ۹۰ | تر رحلت یوه ورځ د مخه | ۱۳۴۱ |
| ۹۱ | د رسول الله ﷺ د ژوند آخرنۍ ورځ | ۱۳۴۲ |
| ۹۲ | د احتضار یا زکندن وخت | ۱۳۴۹ |
| ۹۳ | د رسول الله ﷺ د خلیفه د انتخابولو د پاره بحث | ۱۳۵۸ |
| ۹۴ | د رسول الله ﷺ د مبارک جسد تجهیز | ۱۳٦۴ |
| ۹۵ | د رسول الله ﷺ د پاره قبر کندل | ۱۳٦۵ |
| ۹٦ | د سیرة النبي ﷺ خلاصه | ۱۳۷۳ |

(c) ketabton.com: The Digital Library




| | | |
|---|---|---|
| ۹۷ | د کتاب آخرنی صفحه................................ | ۱۳۸۶ |
| ۹۸ | د کتاب مراجع او مأخذونه............................ | ۱۳۸۷ |


پای

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**